احسن الفتاوی

پښتو ترجمه

مکتبه فریدیه

محله جنگی پشاور

د طبعې ټول حقوق له ناشر سره محفوظ دی

د کتاب نوم احسن الفتاوی (اووم جلد) (له مسائل شتی څخه تر آخر د باب صدقة الفطر پورې)
د مؤلف نوم فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی
پښتو ترجمه او کمپوز حضرت مولانا جواد صاحب
ډیزاین، اصلاح او نظر ثانی حافظ محمد ولی (بغلانی)
د چاپ کال ۲۰۱۲
د چاپ شمیر ۱۰۰۰ ټوکه
ناشرین مولوی محمد ظفر ((حقانی)) مولوی امیر الله ((شیرانی))
د ملاویدو پته مکتبه فریدیه محله جنگی قصه خوانی پېښور
د مکتبې مسؤل مولوی محمد ظفر ((حقانی)) صاحب

بسم الله الرحمن الرحیم

د احسن الفتاوی دنهم جلد ((اُردو)) د ترتیب کوونکی وړاندیز

د احسن الفتاوی اته جلدونه د حضرت رحمه الله په ژوند کښې شائع شوی وو. په نهم جلد کښې د شملو رسائلو کتابت له پخوا نه مکمل شوي وو او د مسائلو مسوده د حضرت د وصال نه تقریبا یو کال مخکښې مکمله شوې وه. مګر د احسن الفتاوی کاتب ((منشی فاروق صاحب)) د ضعف له وجې نه د نور کتابت نه معذور وو . د حضرت رحمه الله په معیار باندې یو نوې کاتب تلاش کول هم یو ډیر مشکل کار وو لیکن د حضرت رحمه الله په نیزد د ښکلې والی نه زیات اهمیت د املاء او د ترقیم وو او د دې د صحیح والی داسې اهتمام وو چه په دې کښې معمولی غوندې تسامح هم نشوه برداشت کیدلې. څو څو کاتبانو خپل کتابت وښودلو لیکن خوښ یې نشو . آخر د یو کاتب صاحب په کتابت باندې یې څه قدرې اطمینان وشو نو مسوده هغهٔ ته ورکړې شوه. د نیمې یا د لږ زیاتې حصې د کتابت نه وروسته حضرت رحمه الله په دې باندې نظرثانی شروع کړو نو د املاء او د کتابت د زیاتو غلطیو د وجې نه ئې ټول کتابت مسترد اوفرمائیلو . بیا یو نوې کاتب مولوی عیسی صاحب سربازی سره ئې رابطه وکړه چه دوئ دې نه مخکښې هم د حضرت د بعضو رسالو او مواعظو کتابت کړې وو او مسوده ئې د هغهٔ په حواله کړه. هغهٔ لا دریمه حصه کتابت کړې وو چې په شپږمه ذی الحجه ۱۴۲۲ھ باندې د حضرت رحمه الله له دنیا نه رخصت وشو . رحمه الله تعالی رحمة واسعة ورفع درجاته ونزله المقعد المقرب عنده.

د علم او عمل د آفتاب او ماهتاب د دې جهان فانی نه په رخصتې دو باندې داسې بوازې والی او محرومی محسوس کیدله چه د څه مودې پورې د دې کار د پاره یواځې والې او دلجمعی په لاس رانغله. بل طرف ته د کاتب صاحب مصروفیت هم د تاخیر باعث جوړیدلو دغه شان د دې جلد په اشاعت کښې د حضرت د جدائې نه پس هم د یو نیم کال نه زیات وروستـه والې راغې

د دې یو څو کرښو لیکلو مقصد دا دې چه د دې جلد ټول رسائل او مسائل د حضرت رحمه الله لخوا لیکلې شوې دی یا د بنده لخوا لیکلې شوې دی چه هغه حضرت رحمه الله د تصحیح او تصویب نه پس د احسن الفتاوی د پاره منتخب فرمائیلې وو

د دې جلد په اول چاپ کښې دا وضاحت نه وو شوې . حضرت استاذ صاحب دامت براکاتهم خه دې طرف ته توجو اوفرمائیله . له هم دې کبله په دویم چاپ کښې دا څو کرښې شملې ری

محمد عفاالله عنه

مرتب احسن الفتاوی دارالافتاء والارشاد ناظم آباد کراچی

۱۰ ذی القعده سنه ۱۴۲۴ھ

مسائل شتی

حضرت حسین رضی الله عنه ولې له یزید نه بغاوت وکړو

د دې مسئلې تفصیل په کتاب الجهاد په رساله . ذب الجهول عن سبط الرسول رضی الله عنه کښې تیر شوې دې هلته دې وکتل شی .

آیا درې واره سورت اخلاص لوستلو سره د قرآن ثواب ملاویږی ؟

سوال آیا دا خبره صحیح ده چه درې واره سورت اخلاص لوستلو سره د پوره قرآن کریم برابر ثواب ملاویږی ؟ بینوا توجروا .

الجواب و منه الصدق و الصواب د سورت اخلاص د فضیلت په باره کښې په صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې دا لاندې روایات نقل کړې شوې دی .

عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان رجلا سمع رجلا یقرء قل هو الله احد یرددها . فلما اصبح جاء الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر ذالك له و کان الرجل یتقالها . فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذی نفسی بیده انها تعدل ثلث القرآن (صحیح البخاری .ص۷۵۰.ج۲)

عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال قال النبی صلی الله علیه وسلم لاصحابه . ایعجز احدکم ان یقرء ثلث القرآن فی لیلة فشق ذالك علیهم وقالوا اینا یطیق ذالك یارسول الله فقال الواحد الصمد ثلث القرآن (حواله بالا)-

عن ابی هریرة رضی الله عنه خرج الینا رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال اقرء علیکم ثلث القرآن فقرء قل هو الله احد الله الصمد حتی ختمها (مسلم .ص۲۷۱ .ج۱)

په دې احادیثو کښې سورت اخلاص ته د ثلث قرآن برابر وه ویلې شو چه محدثینو رحمهم الله د دې مختلف توجیهات بیان کړی دی چه یو څو مشهور وجوهات له هغې څخه دا دی

(۱) په قرآن کریم کښې درې قسمه مضمونونه بیان شوې دی یو د الله تعالی صفات . دوم احکام او دریم قصې . سورت اخلاص پوره په پوره د الله تعالی په صفاتو باندې مشتمل دې په دې اعتبار سره دا ثلث د قرآن دې

(۲) د دې ثواب د ثلث قرآن برابر دې

(۳) چا چه د دې په مضمونونو یعنی توحید او اذعان بالخالق باندې عمل وکړو یعنی ایمان ئې پرې ولرلو (په حاصلولو دمقصد کښې) نو هغه د هغه چا په شان دې چه چا ثلث قرآن ولوستلو

(۴) همدا ثواب ترې مراد دې لیکن دا ترصاحب د واقعې پورې خاص دې

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ په بیان شوی فضیلت باندي يقين لرل پکار دی او په خپله رای باندي هيڅ قسمه توجيه بيانول ندی پکار چه سورت اخلاص د ثلث قرآن برابر څنګه او ولې دي؟۔

قال الحافظ العيني رحمه الله : قوله (انها) ان قراة قل هو الله احد تعدل ثلث القرآن. واختلف في معناه فقال المازري: القرآن ثلاثة انحاء قصص واحكام وصفات الله عز وجل. وهذه السورة متمحضة للصفات وهي ثلث وجزء من الثلاثة. وقيل ثوابها يضاعف بقدر ثواب ثلث القرآن بغير تضعيف. وقيل القرآن لا يتجاوز ثلاثة اقسام: الارشاد الى معرفة ذات الله تعالى ومعرفة اسمائه وصفاته ومعرفة افعاله وسننه ولما اشتملت هذه السورة على التقديس و ازنها رسول الله ﷺ بثلث القرآن. و قيل ان من عمل بما تضمنته من الاقرار بالتوحيد والاذعان بالخالق كمن قرء ثلث القرآن. وقيل قال ذالك لشخص بعينه قصده رسول الله ﷺ. و قال ابو عمر: لقول بما ثبت عن النبي ﷺ ولا نعده ونكل ما جهلناه من معناه. فلرده اليه ﷺ ولا ندري لم تعدل هذه ثلث القرآن (عمدة القاري ص۳ ج۲۰) والله سبحانه وتعالى اعلم

د سورت اخلاص فضيلت او د يوې غلط فهمۍ ازاله

سوال عام طور سره د سورت اخلاص دا فضيلت بيانيږی چه په دري واره سورت اخلاص لوستلو سره د پوره قرآن ثواب ملاويږی او په دي د حديث حواله هم ورکولي کيږی، دلته دا خبره د غور کولو قابله ده چه هر کله د قرآن د لوستلو نه مراد هم د ثواب حاصلول دی او هر سړي روزانه خو واره سورت اخلاص لولی او د قرآن د لوستلو ثواب حاصلولي شي نو هغه ته روزانه په ترتيب سره د پوره قرآن کريم لوستلو څه ضرورت دي؟ که چيري څوک ئي ونه لولی نو څه نقصان دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب ۱۔ په حديث شريف کښې سورت اخلاص ته ثلث قرآن فرمائيلي شوی دي. ليکن دا بيان پکښې نشته چه دا د ثواب په اعتبار سره ثلث قرآن دي. او که په کوم يل اعتبار سره ثلث قرآن دي؟ د دي په باره کښي محدثينو رحمهم الله مختلف توجيهات بيان فرمائيلي دی چه په هغی کښي يوه توجيه د ثواب والا هم ده. نو دا معلومه شوه چه په سورت اخلاص ونيلو سره د پوره قرآن ثواب ملاويدل حديث نه دي. بلکه د حديث د مختلفو توجيهاتو نه دا يوه توجيه ده. لهذا دا فضيلت د حديث په طور سره بيانول جائز نه دي بلکه دا په رسول الله ﷺ باندي د بهتان په زمره کښي داخليږی او دا سي شخص د دي وعيد ((من كذب على متعمدا فليتبوء مقعده من النار)) مستحق دي

بهر حال د قرآن کریم ټیه په ترتیب سره تلاوت نه کول او صرف د سورت اخلاص په تو ستلو بسی کـف ، کول شرعا او عقلا په هیڅ شان صحیح نه دی . وجوهات ئی دا لاندې دی

۱ د سورت اخلاص د فضیلت د حدیث څه تشریح پخپله د رسول الله ﷺ نه نقل کړې شوی نه ده چه د سورت اخلاص د ثلث قرآن د برابریدو نه څه مراد دی ؟ او دا په څه اعتبار سره ثلث قرآن دې ؟ د دې وجې نه محدثینو حضراتو ﷺ د دې حدیث څه توجیه کول خوښ کړې نه دی او دا ئی رسول الله ﷺ ته ورسپارلې دی

۲ ، که چیرې د توجیه لاره هم اختیار کړې شی نو بیا هم دا توجیه خاص نه ده چه د سورت اخلاص ثواب د ثلث قرآن برابر دې ځکه چه د دې مختلف توجیهات شوی دی چه په هغې کښې د یونو نه راجحه توجیه دا ده چه دا سورت د قرآن د مضمونونو یعنی . اسماءالله تعالی و صفاته . حکم او قصصو په اعتبار سره ثلث دقرآن دې . لهذا په یقین سره دا نشی وئیلې کیدې چه آیا د سورت اخلاص ثواب د ثلث قرآن برابر دې او که نه ؟

۳، او که چیرې د ثواب والا توجیه اختیار کړې شی نو بیا په دې کښې مختلف احتمالات دی

الف اجر بلا تضعیف مراد دې ، یعنی د ثلث قرآن حقیقی اجر خو به ملاؤ شی خو چه د ثلث قرآن په تلاوت کولو باندې کوم زیات ثواب ملاویږی هغه به ورته نه ورکول کیږی

ب دا فضیلت د واقعي والا سره خاص دې

ج د تولونه بـه مطلب هغه دې کوم چه شیخ الاسلام حضرت ابن تیمیه ﷫ بیان کړې دې چه د اجر او ثواب قسمونه مختلف دی. په سورت اخلاص لوستلو سره به یو قسم ثواب له هغې ځخه ملاویږی . هغه به اگر چې د ثلث قرآن برابر وی لیکن که د باقی قرآن تلاوت ونکړې شی نو د نورو قسمونو اجر او ثواب نه به محرومی راشی او حال دا چه انسان د هر قسمه ثواب محتاج دې

شیخ الاسلام ﷫ دزیاتې پوهې د پاره په محسوساتو کښې د دې مثال بیان فرمائیلې دې چه حاصل ئی دا دې چه مثلا د یو سړی سره د اوسیدو ځای . خوراک . جامه او څه نغدې روپئ وی او د هغی مالیت د یو لاکه روپو برابر وی او دویم سړې داسې وی چه هغه سره دا هیڅ نه وی البته یو لاکه روپئ نغدې ورسره موجود وی، اوس دا دویم سړی سره د اول شخص د ټول سامان په اندازه نغدې روپئ موجودې دی لیکن دې د هغې څیزونو ضرورت مند محتاج دی کوم چه اول سړی سره دی . او اول سړی سره د ضرورت هر سامان موجود دې نو هغه د دویم محتاج نه دی

همدغه شان د سورت اخلاص درې واره لوستلو والا ته دټولو قسمونو د ثواب نه صرف یو قسم ثواب حاصل دې نو د باقی قرآن په تلاوت چه کوم مختلف قسمه ثوابونه ملاویږی هغې ته دی محتاج دې او کوم سړې چه ټیه په ترتیب سره د پوره قرآن کریم تلاوت کوی نو هغه ته پوره قسمه ثوابونه حاصل دی. هغه هیڅ قسم ته محتاج نه دی

حاصل دا شو چه اول خو دريٰ واره سورت اخلاص لوستلو سره د پوره قرآن ثواب ملاویدل معین نه دی. صرف احتمال دي او صرف د احتمال په بنا باندې د باقی قرآن نه صرف نظر کول او په ترتیب سره نه لوستل څه معقوله خبره نه ده

دویم دا چې که چیرې د ثواب ملاویدل یقینی هم ومنلې شی نو په دې سره به ورته د ثلث قرآن حقیقی اجر ورکول کیږی د زیات اجر نه به محروم وی یا به ورته د اجر یو قسم ورکول کیږی که په سوؤنو واره سورت اخلاص ولی. د نورو قسمونو د ثواب یعنی لکه د تلاوت برکات او په دې کښې غور او فکر کولو نه به محرومه وی . د رسول الله ﷺ د فضیلت د بیانولو مقصد د دې سورت مهتم بالشان کیدل بیانول دی. د دې بیان مقصد دا ندې چه گویا د سورت اخلاص درې واره لوستل د پوره قرآن قائمقام دی او د پوره قرآن د تلاوت کولو ضروت پاتې نه شو . مثلا د مور اوپلار دخدمت د فضیلت دبیانولو دپاره چه په حدیث شریف کښې پرې د جهاد اطلاق وشو نو د دې به دا مطلب نه وی چه گویا د مور پلار خدمت دې د جهاد قائمقام وگرځولې شی او د فرض جهاد ادا کولو ضرورت به نه وی . په دې بنا باندې رسول الله ﷺ . صحابه کرام رضی الله عنهم او علماؤ او د صلحاء امت عمل داسې جاری راروان دې چه دې حضراتو به د پوره قرآن کریم بنه په ترتیب سره تلاوت فرمائیلو او په دې خبره باندې به ئې بنه زور هم ورکولو. چا هم صرف د سورت اخلاص په تلاوت باندې کافی والې ندې کړې. یعنی په ترتیب سره قرآن کریم لوستل ئې ندی پریښې

قال الحافظ العینی رحمه الله وقیل ثوابها یضاعف بقدر ثواب ثلث القرآن بغیر تضعیف (الی ان قال) وقال ابو عمر نقول بما ثبت عن النبی ﷺ ولا نعده ونکل ما جهلناه من معناه فلرده الیه ﷺ ولا ندری لم تعدل هذه ثلث القرآن وقال ابن راهویه لیس معناه ان لو قرا القرآن کله کانت قرءة قل هو الله احد تعدل ذالك اذا قرءها ثلث مراة لا ولو قرءها اکثر من مائی مرة (عمدة القاری ص ۳۰ ج ۲۰) وقال العلامة الجنجوهی رحمه الله ان المراد بذالك الاجر المعین للقرآءة لیس مع ما یؤتی له بعد ذالك منة منه تعالی وفضلا . وفی القرآن لم یردهما الا ما هو له معین من الاجر . (الکوکب الدری . ص ۳۰ . ج ۲)

وقال شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله : فاذا قرء الانسان (قل هو الله احد) حصل له ثواب بقدر ثواب ثلث القران. لکن لا یجب ان یکون الثواب من جنس الثواب الحاصل ببقیة القرآن . بل قد یحتاج الی جنس الثواب الحاصل بالامر والنهی والقصص ، فلا تسد (قل هو الله احد) مسد ذالك ولا یقوم مقامه فلهذا لو قراء (قل هو الله احد) فانه وان حصل له اجر عظیم لکن جنس الاجر الذی یحصل بقرآءة غیرها لا یحصل له بقراءتها . بل یبقی فقیرا محتاجا الی ما یتم به ایمانه من معرفة الامر والنهی والوعد والوعید و لو قام بالواجب علیه . فالمعارف التی تحصل بقرآءة سائر القران لا تحصل بمجرد قرآءة هذه السورة . فیکون من قراء القرآن کله افضل ممن قرءها ثلاث مرات من هذه الجهة

لتنوع الثواب. وان كان قارء (قل هو الله احد) ثلاثا يحصل له ثواب بقدر ذالك الثواب. لكنه جلس واحد ليس فيه الانواع التي يحتاج اليها العبد، كمن معه ثلاثة آلاف دينا وآخر معه طعام ولباس ومساكن وتقد يعدل ثلاثة آلاف دينار فان هذا معه ما ينتفع به في جميع اموره. وذاك محتاج الى ما مع هذا. وان كان ما معه يعدل ما مع هذا وكذالك لو كان معه طعام من اشرف الطعام يساوي ثلاثة آلاف دينار فانه محتاج الى لباس ومساكن. وما يدفع به الضرر من السلاح والادوية وغير ذالك مما لا يحصل بمجرد الطعام - (مجموعة فتوى ابن تيميه. ص۳۰. ج۲۴) والله سبحانه وتعالى اعلم -

د موسی علیه السلام ملک الموت لره څپیړه ورکول

سوال آیا موسی علیه السلام ملک الموت ته د مرګ په وخت کښې څپیړه ورکړې وه ؟ - آیا دا خبره صحیح ده اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب و منه الصدق والصواب دا واقعه صحیح ده. ملک الموت د انسان په شکل کښې راغلي وو او موسی علیه السلام ته ئې د مرګ اختیار هم ور نکړو حالانکه انبیاء کرام علیهم السلام ته اول اختیار ورکولي کیږي نو ځکه موسی علیه السلام ملک الموت و نه پیژندلو او په هغهٔ ئې د یو انسان خیال وکړو او څپیړه یې ورکړه بیا وروسته چه کله موسی علیه السلام ته د مرګ اختیار ورکړې شو نو د موسی علیه السلام مرګ خوښ کړو کما في رواية البخاري وغيره . ځکه چه په دغه وقت کښې موسی علیه السلام ته د الله د طرفه مامور کیدل معلوم شوی وو - والله سبحانه وتعالی اعلم -

یو ژوندی انسان ته هم ایصال ثواب کیدې شی

سوال آیا یو ژوندی انسان ته د نیکو اعمالو او صدقاتو ایصال ثواب کیدې شی لکه چه بعض عقیدت مند یې خپلو شیخانو او علماء کرامو د پاره کوی . او آیا ایصال ثواب صرف د نوافلو کیدې شی که د فرائضو هم کیدې شی ؟ بینوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب : ژوندی ته ایصال ثواب کیدې شی او په فرض او نفل کښې څه فرق نشته . د دواړو ایصال ثواب کیدې شی

قال العلامه ابن عابدين رحمه الله : وفي البحر من صام او صلى او تصدق و جعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جاز ويصل ثوابها اليهم عند اهل السنة والجماعة كذا في البدائع ثم قال وبهذا اعلم انه لا فرق بين ان يكون المجعول له ميتا او حيا والظاهر انه لا فرق بين ان ينوي به عند الفعل للغير او يفعله لنفسه ثم بعد ذالك يجعل ثوابه لغيره لاطلاق كلامهم وانه لا فرق بين الفرض والنفل اه (رد المحتار. ص۱۰. ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم -

د فرائضو هم ایصال ثواب کیدې شی

سوال آیا ایصال ثواب صرف د نوافلو کیدې شی که د فرائضو هم کیدې شی؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د فرضو او نفلو دواړو ایصال ثواب کیدې شی ، رد المختار ص ۲۰۵ ج ۱ ، والله سبحانه وتعالی

د بدل شوی سامان حکم

سوال کله کله دوبی (جامې وینزونکی) سره کپړې بدلې شی . که چیرې دغه کپړې واپس کړی نو دغه کپړې هم لاړې شی او خپلې کپړې هم نۀ ملاویږی او دغه شان کله کله په جماتونو کښې پیزار بدل شی او کله غل نوې پیزار یوسی او زوړ پریږدی . آیا ددې کپړو یا د دې پیزار استعمالول جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې د دغې کپړو یا د پیزار د مالک پته لګول ممکن نوی نو د استعمال د جائزوالی صورت ئې دا کیدې شی چه په خپل بالغ اولاد یا په بل رشته دار باندې ئې صدقه وکړی خو په دې شرط چه هغه فقیر وی بیا ئې هغه په خپله رضا سره صدقه کولو والا ته واپس کړی. او که چیرې دا سړې په خپله فقیر وی نو بیا خو پکښې دې حیلې ته هم ضرورت نشته له دې وجې نه د دې استعمال جائز دې .

قال العلامه طاهربن عبدالرشید البخاری رحمه الله : امرة وضعت ملاء تها لجاءت امرة اخری ووضعت ملاءتها ثم جاءت الاولی و اخذت ملاءت الثانیة و ذهبت لا یسع للثانیة ان تنتفع علاء ة الاولی والحیلة ان تتصدق الثانیة بهذه الملاءة علی بنتها ان کانت فقیرة علی نیة ان یکون الثواب لصاحبتها ان رضیت ثم تهب البنت الملاء منها فیسعها الانتفاع بها کاللقطة (خلاصة الفتوی ص۲۰۰ ج۲)

که چیرې د دۀ یقین په څه طریقه باندې دا وشی چه دا څیز د فلانی سړی دې کوم سړی چه د دۀ هغه څیز وړې دې . او دا ئې هم یقین وی چه هغه به دې خپل څیز پسې دلته نۀ راځی او نۀ ورته د هغه څه ځای مسکن وغیره معلوم وی نو بیا دغه څیز خان سره ساتلې شی لیکن که چیرې د دغې څیز قیمت زیات وی نو بیا به د زیاتوالی په حساب سره صدقه ورکړی. والله سبحانه و تعالی اعلم

سلام کول سنت مؤکد دی

سوال آیا هر عام او خاص شخص چې په لاره کښې مخې ته راځی په هغه باندې سلام اچول سنت مؤکد دی او که غیر مؤکد ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب بعضې کسانو د سلام د وجوب قول کړې دې ،مګر صحیح د دۀ

چه به سلام کښې ړومبې والي سنت مؤکد دې . او د سلام جواب ورکول واجب دی . البته فاسق ته سلام کول مکروه دې . ګیره خریېل یا کټ کول فسق دې لیکن کومو فاسقانو سره چه پېزند ګلو وی که په هغوئ باندې سلام ونکړې شی نو په دې کښې د کبر تهمت او د دین او اهل دین نه د نفرت کولو خطره ده نو په دوئ باندې سلام کول جائز دی

قال علام ابن عابدین رحمه الله : (قوله فلو اصم یریه تحریك شفتیه) قال فی شرح الشرعة واعلم انهم قالوا ان السلام سنة واسماعه مستحب وجوابه ای رده فرض کفایة واسماعه رده واجب بحیث لولم یسمعه لایسقط هذا الفرض عن السامع حتی قیل لو کان المسلم اصم یجب علی الراد ان یحرك شفتیه ویریه بحیث لولم یکن اصم لسمعه (ردالمحتار ص٣٠ ج٥) والله سبحانه وتعالی اعلم ـ

د لاؤډ سپیکر د سلام جواب ورکول

سوال د لاؤډسپیکر نه په سلام آوریدو باندې د هغې جواب ورکول ضروری دی اوکه نه؟ حضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله په آلات جدیده ،ص ١١٢ کښې لیکلې دی چې که چیرې څوک د رادیو نه سلام واوری نو جواب واجب نهٔ دې ځکه چه په سلام آورولو باندې سامع قادر نهٔ دې او دا علت په لاؤډسپیکر کښې هم موجود دې. نو آیا د دې هم هغه حکم دې ؟ بینوا توجروا ـ

الجواب باسم ملهم الصواب د رادیو او د لاوډسپیکر د دواړو یو حکم دې چه د سلام جواب ئې واجب نهٔ دې . دې وجې نه چه دا سلام بې موقعې دې . د وعظ او خطبې او بغیر د دې دواړو نه مخکښې سلام شرعا معهود نهٔ دې

ورد ان رجلا عطس فسلم علی رسول الله ﷺ فقال ﷺ و علی امك السلام فعدل ﷺ عن الجواب المسلون الی الاسلوب الغریب تنبیها له علی ان موقع السلام هو عند اللقاء لا بعد العطاس. رواه الترمذی وابو داؤد (مشکوة،ص٤٠٠)

په آورولو باندې قدرت ، قادریدل ، د جواب د واجبیدو د پاره شرط نهٔ دې چنانچه چه د یو خط د جواب ورکولو اراده نهٔ وی نو د خط په ذریعه د سلام جواب رسول اګر چه حقیقة قدرت دې لیکن حکما قدرت نهٔ دې ځکه چه د خط جواب ورکول ضروری نهٔ دی او په دې صورت کښې د سلام لیکلو نه واجب قرار ورکول کښې حرج دې . **وهومدفوع** . د دې وجې نه دا قدرت د نهٔ قدرت به حکم کښې دې سره د دې په ژبه سره د دې جواب ورکول واجب دی

قال العلامة ابن العابدین رحمه الله تعالی : (قوله و یجب رد جواب کتاب التحیة) لان الکتاب من الغائب بمنزلة الخطاب من الحاضر مجتبی والناس عنه غافلون ط المتبادر من هذا ان المراد رد سلام الکتاب لا رد

الکتاب (و بعد اسطر) و قال النووی رحمه الله و لو اتاه شخص بسلام من شخص ای فی ورقة وجب الرد فورا (ردالمختار، ص۲۲۱، ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د سلام جواب آؤرول

سول آیا د سلام جواب په داسې تیز آواز سره ورکول ضروری دی چه سلام اچولو والا ئې واؤری یا صرف جواب کافی دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې د سلام په آؤرولو باندې قدرت وی نو ضروری دی اوکه نه نو ندی ضروری. لکه د خط د سلام جواب ورکول .که چیرې د خط جواب ئې ورته ولیکلو نو د سلام جواب لیکل واجب دی. او دا ابلاغ بمنزله اسماع دې. او که چیرې د خط جواب ئې ورته و نهٔ لیکلو نو په ژبه سره جواب ورکول واجب دی. تفصیل ئې په احسن الفتاوی کتاب الحظر والاباحة کښې د عنوان «خط کے سلام کا جواب» لاندې لیکلې دی. والله سبحانه و تعالی اعلم

که دوه کسانو په یو وخت کښې سلام وکړو

سوال که چیرې دوؤ کسانو یو بل ته په یو خل سلام وکړو نو آیا په دواړو باندې به د سلام جواب ورکول واجب وی یا بل څه حکم ئې دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب په دواړو باندې جواب ورکول واجب دی.

قال العلامة ابن العابدین رحمه الله عن التتارخانیة: فان سلما معا یرد کل واحد (ردالمختار، ص۲۶۰، ج۵) والله سبحانه وتعالی.

په اشارې سره د سلام جواب ورکول

سوال په لاس سره سلام کولو والا ته جواب ورکول واجب دی اوکه نهٔ دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې د آواز رسولو طاقت لرلو سره ئې په اشاره سلام وکړو نو د دې جواب ورکول واجب نهٔ دی والله سبحانه وتعالی اعلم

خالی کور یا جمات ته د داخلیدو په وخت کښې سلام کول

سوال که چیرې یو سړې خپل کور یا جمات ته لاړ شی او هلته هیڅ څوک نهٔ وی او یا د داسې خالی ځائ نه بهر وځی. نو دهٔ لره سلام اچول پکار دی اوکه نه. او که اچول پکار وی نو په کومو الفاظو سره اچول پکار دی؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب خالی کور ته د داخلیدو په وخت د سلام کولو فقهاؤ رحمهم الله تصریح

فرض شوي نه وي چه کور او په جمات کښې به ظاهره څه فرق نشته . بلکه په جمات کښې د فرښتو موجودګي خو یقیني دي دا حکم به هغه وخت کښې دي چه په جمات کښې څوک نه وي که چرې په جمات کښې څوک موجود وي نو بیا خو سلام کول جائز نه دي ځکه چه د عبادت کونکو په عبادت کښې به خلل راشي . په داسې موقع باندې به دې الفاظو سره سلام کول پکار دي . السلام علینا و علی عباد الله الصلحين

قال العلامة ابن العابدين رحمه الله تحت (قوله و اذا الى دار السائل الخ) و ان دخل ليس فيه احد يقول السلام علينا و على عباد الله الصلحين فان الملائكة ترد عليه السلام (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم

په نا بالغ باندې د سلام جواب واجب نهٔ دې

سوال که یو بالغ بل نابالغ ته سلام وکړي نو آیا په نابالغ باندې جواب واجب دې او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نابالغ غیر مکلف دې په دې وجه په دهٔ باندې جواب واجب نهٔ دې . والله سبحانه وتعالى اعلم

د نابالغ د سلام جواب ورکول واجب نهٔ دی

سوال که نابالغه شخص. بالغ ته سلام وکړي نو آیا په بالغ باندې د دې جواب ورکول واجب دی او که نهٔ ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نه ، واجب ندی . خو په دې شرط که دغه ماشوم عاقل نه وو او د هغه د زړه ماتولو ویره نهٔ وی اوکه نه نو د سلام جواب ورکول خو واجب معلومیږی

اوسلم الطفل اوالسکران اوشابة يخشي بها الفتان (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم

د سلام د رسولو حکم

سوال که چیرې یو شخص بل ته وه وئیل چه فلاني شخص ته زما سلام اووایه او هغه خاموش وو نو د سلام رسول پرې واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب سکوت ، چپ والې ، په عرف کښې او دلالة رضا ده له همدې وجې نه په دې صورت کښې سلام رسول واجب دی البته که صراحة واضحه یا دلالة څه التزام لازم والي نې ونه کړو . مثلا د سلام رسولو نه ئې عذر بیان کړو . یا ئې انشاء الله وه وئیله نو بیا رسول واجب نهٔ دی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله ولو قال لاخر اقرء فلانا السلام يجب عليه ذالك. وقال العلامة ابن العابدين

رحمہ اللہ (قوله يجب عليه ذالك) لانه من ايصال الامانة لمستحقها والظاهر ان هذا اذا رضيستعملها تامل ثم رأيت في شرح المنار عن ابن حجر التحقيق ان الرسول ان التزمه اشبه الامانة والا فوديعة اه اى فلا يجب عليه الذهاب لتبليغه كما في الوديعة .(ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله والوديعة ما تترك عند الامين وهي اخص من الامانة كما حققه المصنف وغيره وركنها الايجاب صريحا كاودعتك او كناية كقوله لرجل اعطني الف درهم او اعطني هذا الثوب مثلا فقال اعطيتك كان وديعة بحر لان الاعطاء يحتمل الهبة لكن الوديعة ادنى وهو متيقن فصار كناية .او فعلا كما لو وضع ثوبه بين يدى رجل ولم يقل شيئا فهو ايداع .والقبول من المودع صريحا كقبلت او دلالة كما لو سكت عند وضعه فانه قبول دلالة كوضع ثيابه في حمام بمرأى من الثياب وكقوله لرب الخان اين اربطها فقال هناك كان ايداعا خانية وهذا في حق وجوب الحفظ واما في حق الامانة فتتم بالايجاب وحده حتى لو قال للغاصب اودعتك المغصوب برئ عن الضمان وان لم يقبل اختيار -

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (وقوله شيئا) فلو قال لا اقبل لا يكون مودعا لان الدلالة لم توجد بحر وفيه عن الخلاصة لو وضع كتابه عند قوم فذهبوا وتركوه ضمنوا اذا ضاع وان قاموا واحدا بعد واحد ضمن الاخير لانه تعين للحفظ فتعين للضمان اه فكل من الايجاب والقبول فيه غير صريح (ردالمحتار ص۳۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم -

د نجونو ختنه (سُنت) کول مستحب دی

سوال په دې زمانه کښې د نجونو سنتول (ختنه) سنت ده که نه ؟ او حدیث نه ئې ثبوت شته او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د نجونو سنتول (ختنه) د حدیث نه ثابته ده . او د هلکانو سنتول سنت مؤکد دی او د نجونو ختنة د آلذ فی الجماع کیدو د وجې نه مستحب ده او په نه کولو کښې ئې څه ګناه نشته

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله الختان) : لان الختان سنة للرجال من جملة الفطرة لا يمكن تركها وهي مكرمة في حق النساء كما في الكفالة (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)-

وقال رحمه الله ايضا (قوله وختان المرأة) الصواب خفاض لانه لا يقال في حق المرأة ختان وانما يقال خفاض حموى (قوله مكرمة للرجال) لانه الذ في الجماع زيلعي (قوله وقيل سنة) جزم به البزازى معللا بانه نص على ان

الخنثى تختن ولو كان ختانها مكرمة لم تختن الخنثى لاحتمال ان تكون امرءة ولكن لا كالسنه فى حق الرجال اه
الول ختان الخنثى لاحتمال كونه رجلا و ختان الرجل لا يترك فلذا كان سنة احتياطا ولا يفهم ذالك سليحه
للمرئة تامل وفى كتاب الطهارة من السراج اواها ج اعلم ان الختان سنة عندنا للرجال مستحب للنساء لقوله
عليه الصلاة والسلام ختان الرجل سنة وختان النساء مكرمة (ردالمحتار ص... ج) والله سبحانه وتعالى اعلم -

د تیر شوي سوال په شان يو بل سوال

سوال د ښځو ختنه يعنې سنتول سنت دي كه مستحب ؟ او دا حكم د ټولو علاقو د پاره يو شان دي كه څه تفصيل لري ؟ - بينوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب د احنافو مذهب ختنه د سړو په حق كښې سنت مؤكده ده او د ښځو په حق كښې مستحب ده

د مالكيانو مذهب د دواړو په حق كښې سنت ده

د شوافعو مذهب د سړو او ښځو دواړو په حق كښې واجب ده او همدا مذهب امام نووي رحمه الله هم غوره كړې دې او دويم قول ئې د ښځو په حق كښې د نه واجب والي دې

دحنبليانو مذهب د سړو په حق كښې واجب ده او د ښځو په حق كښې مستحب ده

د لاندې احاديثو مباركو نه معلوميږي چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې د ښځو سنتول (ختنه) عام رواج وو

عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ اذا جاوز الختان الختان وجب الغسل فعلته انا ورسول الله ﷺ فاغتسلنا رواه الترمذى وابن ماجه (مشكوة ص... ج) -

عن ام عطية الانصارية ان امرءة كانت تختن بالمدينة فقال لها النبى ﷺ لا تنهكى فان ذالك احظى للمرئة واحب الى البعل (ابوداؤد ص... ج) خرج سباع فقال هل من مبارز ؟ قال فخرج اليه حمزة بن عبد المطلب رضي الله عنه فقال يا سباع يا ابن ام انمار مقطعة البظور الحديث (بخارى مع فتح البارى ص... ج) -

بعضې حضراتو د ښځو د ختنې په باره كښې دا تفصيل بيان كړې دې چه په بعضې ملكونو كښې مستحب ده او په بعضو كښې نده مستحب . او د طب په بعضو كتابونو كښې همدا وجه د نظره تيره شوې ده چه په ګرمو ملكونو كښې بظر (د كټ كولو ځائ) لږ زيات اوږد وي د دې وجې نه هلته ختنه ضروري ده

قال العلامة السهارنفورى رحمه الله : واختلف فى وجوب الختان فروى عن الشافعى رحمه الله و كثير من المشائخ رحمهم الله انه واجب فى حق الرجال والنساء و عند مالك و ابى حنيفة رحمه الله قال النووى و هو قول اكثر العلماء انه

سنة فيهما قاله الشوكاني وقال الحافظ في الفتح: قد ذهب الى وجوب الختان دون باقي الخصال المذكورة في الباب الشافعي رحمه الله وجمهور اصحابه وقال به من القدماء عطاء رحمه الله حتى لو اسلم الكبير لم يتم اسلامه حتى يختتن وعن احمد وبعض المالكية لا يجب وعن ابي حنيفة رحمه الله واجب وليس بفرض وعنه سنة يأثم بتركه وفي وجه للشافعية لا يجب في حق النساء انتهى (بذل المجهود ص۳۱ ج۱)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله والاصل ان الختان سنة كما جاء في الخبر وهو من شعائر الاسلام وخصائصه فلو اجتمع اهل بلدة على تركه حاربهم الامام فلا يترك الا لعذر وعذر شيخ لا يطيقه ظاهر (الى قوله) وختان المرءة ليس سنة بل مكرمة للرجال وقيل سنة۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله (قوله بل مكرمة للرجال) لانه الذ في الجماع زيلعي (قوله وقيل سنة) جزم به البزازي معللا بانه نص على ان الخنثى تختن ولو كان ختانها مكرمة لم تختن الخنثى لاحتمال ان تكون امرءة ولكن لا كالسنة في حق الرجال اه اقول ختان الخنثى لاحتمال كونه رجلا وختان الرجل لا يترك فلذا كان سنة احتياطا ولا يفيد ذالك سنيته للمرءة تأمل وفي كتاب السراج الوهاج اعلم ان الختان سنة عندنا للرجال والنساء وقال الشافعي رحمه الله واجب وقال بعضهم سنة للرجال مستحب للنساء لقوله عليه الصلاة والسلام ختان الرجل سنة وختان النساء مكرمة (رد المحتار ص۱۱ج۵)۔

قال العلامة ابن قدامة رحمه الله فاما الختان فواجب على الرجال ومكرمة في حق النساء وليس بواجب عليهن هذا قول كثير من اهل العلم (المغني ص۷ ج۱)

قال الامام النووي رحمه الله فالختان واجب عند الشافعي رحمه الله و كثير من العلماء وسنة عند مالك رحمه الله و اكثر العلماء وهو عند الشافعي رحمه الله واجب على الرجال والنساء جميعا (شرح النووي على مسلم ص۱۲۸ ج۱)

وفي عون المعبود شرح سنن ابي داؤد: اختلف في النساء هل يخفضن عموما او يفرق بين نساء المشرق فيخفضن ونساء المغرب فلا يخفضن لعدم الفضلة المشروع قطعها منهن بخلاف نساء المشرق (عون المعبود ص۳ ج۴) والله سبحانه وتعالى۔

د هندو د پرېښودل شوي کور نه سرۀ زر لاسته راتلل

سوال زينب چه کله د هندوستان نه پاکستان ته راغلې وه نو هغې ته د يو هندو د کور نه يو درېش، ۳۱ تولې سرۀ زر ملاؤ شوي وو چه هغې ترې نه کالي، ګاڼه، جوړ کړلو اوس سوښتنه داده چه آيا هغه د دې مالکه جوړه شوې ده او که نه؟ او د دې په ذمه باندې د دې زکوة ورکول فرض دي

اوکه نه؟ بینوا توجرو

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې دا واقعه د پاکستان د قیام په شروع کښې شوې وی نو په هغې ورځو کښې د دواړو حکومتونو د معاهدې د لاندې د دې سرو زرو ملکیت د هندوانو دې . د مالک پلټنه کول او هغه ته رسول فرض دی او که چیرې د انتهائی کوشش نه پس هم مالک پیدا نهٔ شو نو بیا دا سرهٔ زر واجب التصدق دی اوس که چیرې زینب په خپله مسکینه او غریبه وی نو هغه ئې هم استعمالولې شی . او که چیرې د دواړو حکومتونو د معاهدې د ختمیدو نه پس شوی وی نو بیا دا سرهٔ زر په حکم د فئ (مال غنیمت) کښې دی چه د حکومت پاکستان د اجازت نه بغیر پرې قبضه کول صحیح نهٔ دی . او که چیرې زینب په خپله مسکینه وه نو د اجازت نه بغیر ئې هم اخیستې شی او مالکه به ئې شی .

چه په کومو صورتونو کښې د زینب ملکیت ته صحیح اووئیلې شو په هغې صورتونو کښې په زینب باندې د هغې زکوة هم واجب دې ، او په نورو صورتونو کښې به پرې زکوة واجب نهٔ وی ځکه چه دا به د غصب مال وی . والله سبحانه وتعالی اعلم .

په ښځو باندې د کور کار واجب دې

سوال : آیا په ښځو باندې د کور کار وغیره کول لکه د خپل خاوند او بچو خوراک څښاک تیارول واجب دی او که نه ؟ او په صورت د وجوب کښې که ښځې څه دینی یا دنیوی اعزاز او شرف لری نو آیا په هغې باندې هم واجب دې ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : ښځې که هرڅومره لوئ اعزاز او شرف هم ولری نو دکورکار پرې دیانةً واجب دې . البته که چیرې له پخلی نه انکار وکړی نو قضاءً په هغې باندې واجب نهٔ دې . له همدې کبله هغه به نه مجبوره کولې کیږی ، په دې صورت کښې که چیرې ښځه د داسې یوخاندان څخه وی چه دهغوئ ښځې په خپله کارنهٔ کوی یا ورته څه داسې بیماری وی چه پخلې نهٔ شی کولې نو بیا یې په خاوند باندې تیارخوراک څښاک ورکول واجب دی اوکه نه نو په نورو صورتونو کښې واجب نهٔ دی .

قال العلامة الحصکفی رحمه الله : استأجر امرأته لتخبز له خبزا للاکل لم یجز وللبیع جاز صیرفیة ـ

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله : (قوله لم یجز) لان هذا العمل من الواجب علیها دیانة لان النبی صلی الله علیه وسلم قسم الاعمال بین فاطمة و علی رضی الله عنهما فجعل عمل الداخل علی فاطمة و عمل الخارج علی علی رضی الله عنه و افاد المصنف آخر الباب ان استئجار المرءة للطبخ والخبز وسائر اعمال البیت لا تنعقد ونقله عن المضمرات ط قلت کانه لانه واجب علیها دیانة ثم راجعت باب النفقة فرأیته علل به وزاد ولو شریفة لانه علیه السلام قسم الاعمال

الخ (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله امتنعت المرءة عن الطحن والخبز ان كانت ممن لا تخدم او كان بها علة فعليه ان يأتيها بطعام مهيئا والا بأن كانت ممن تخدم نفسها و تقدر على ذالك لا يجب عليه ولا يجوز لها اخذ الاجرة على ذالك لوجوبه عليها ديانة ولو شريفة لانه عليه الصلوة والسلام قسم الاعمال بين على و فاطمة رضي الله تعالى عنهما فجعل اعمال الخارج على على رضي الله عنه والداخل على فاطمة رضي الله عنها مع انها سيدة نساء العالمين بحر - (قوله لوجوبه عليها ديانة) فتفتى به ولكنها لا تجبر عليه ان ابت بدائع - (ردالمحتار ص۷۸۰ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم

په ښځه باندې د خاوند د كومو احكامو فرمانبرداري ضروري ده ؟

سوال په ښځه باندې د خاوند د كومو احكامو منل ضروري دي . كه خاوند د اوامرو د امتثال او د نواهيو نه د اجتناب او يا د مباحاتو حكم وركړي نو آيا ښځه به د دې احكامو د تعميل د نه كولو په صورت كښې نافرمانه ګڼلې شي او كنه ؟ بينوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب په ښځه باندې د خاوند هر جائز حكم منل فرض دى ،او د شريعت د اوامرو او نواهيو په باره كښې خو په طريقه اولى سره د خاوند حكم منل فرض دى - والله سبحانه وتعالى اعلم .

امهات المؤمنين رضى الله تعالى عنهن ولې پرده كوله؟

سوال امهات المؤمنين رضى الله عنهن د صحابه كرامو رضىالله عنهم نه پرده ولې كوله . د دې څه وجه ده ؟ پرده خو د هغه چانه فرض وى چه د چا سره نكاح كول جائز وى او د امهات المؤمنين رضى الله تعالى عنهن خو د چا سره هم نكاح نۀ شى كيدې ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د امهات المؤمنين رضى الله عنهن حرمت ، حرام والې ، تكريما ، دعزت دوجې نه ، دې او په پرده كښې هم تكريم دې. همدارنګه حضرات انبياء كرام عليهم السلام د وفات نه پس هم په بعضې احكامو كښې د ژوندو په شان دى . د دې وجې نه د امهات المؤمنين رضى الله عنهن حرمت لدې كبله دې چې دوئ د انبياؤ عليهم السلام د وفات نه وروسته هم دهغوئ په نكاح كښې دى نودوئ خاوند والا دى چه دا خبره د پردې منافى نده. او د دې نه علاوه په دې كښې حكمت دا دې چه امت ته د پردې اهميت واضحه شى - والله سبحانه وتعالى .

د والدينو د ګناه د معاف كيدلو طريقه

سوال چه د كوم شحص والدينو د ګناه ژوند تير كړې وى او دا ورته معلومه نۀ وى چه توبه او

استغفار نې کړې دې او کنه نو په داسې حالا تو کښې د بچو لپاره څه کول پکار دی ؟ نو آیا داسې څه عمل شته چه په هغې سره د هغوئ د گناهونو معافی یا کم نه کم څه سپکوالې پکښې راشی ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب د والدینو د وفات نه بعد په بچو باندې دهغوئ دا حقونه دی

(۱) د والدینو د پاره به دعاء او استغفار کوی

(۲) که چیرې والدینو چا سره څه وعده کړې وه او د هغې دپو ره کولو نه وړاندې هغه وفات شوی وؤ نو د هغې پوره کول په بچو باندې ضروری دی .

(۳) د والدینو د رشته دارو سره صله رحمی کول . او د هغوئ دوستانو سره نېه سلوک کول

(۴) بغیر د څه قیودو او شرائطو نه په هغوئ پسې د بدنی او مالی عبادت کولو ایصال ثواب کول بهتره خبره ده . په اعمالو سره به انشاء الله تعالی د هغوئ گناهونه معاف شی او د هغوئ په عذاب کښې به سپکوالې کیږی .

عن ابی اسید الساعدی رضی اللہ عنہ قال بینما نحن عند رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم اذ جاءه رجل من بنی سلمة فقال یا رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم هل بقی من بر ابوی شیء ابرهما به بعد موتهما قال نعم الصلوة علیهما والاستغفار لهما وانفاذ عهدهما من بعدهما وصلة الرحم التی لا توصل الا بهما واکرام صدیقهما . رواه ابوداؤد وابن ماجه (مشکوة ص۳۰) ولله سبحانه وتعالی اعلم

د شیخ د تصور حکم

سوال کوم شخص چه د شیخ د تصور نه یا د اولیاؤ د فیض د قبلولو نه انکار کوی نو آیا په دې سره هغه د اهل سنت نه خارجیږی او که نه ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب د شیخ تصور او قبلول د استفادې د اولیاؤ نه له دې قسمُ خبرو نه عوام منع کول پکار دی د دې لپاره چې له شرک او بت پرستئ نه بچ شی . اگر چه په خپله دا دواړه امور جائز دی. لهذا که یو شخص د فتنې نه د بچ کیدو په وجه انکار وکړی نو د هغه انکار صحیح دې او که حقیقةً منکروی نو دا بیا د ناخبرئ او جهل په وجه باندې دی. له همدې کبله داسې شخص ته بدعتی یا داهل سنت نه خارج ونیل صحیح نهٔ دی . او په داسې مسئلو کښې زیات بحث مباحثه کول او په عوامو کښې ئلې جوړول او هغوئ دین ته د نزدیوالی په ځائ له دین نه لرې کول دا جائز نهٔ دی . خپل ټول کوششونه خپل ځان او نورو خلقو لره د حرامو او منکرات قطعیه وو نه د بچ کولو او په دنیا او آخرت کښې د کامیابئ موندلو د پاره لگول پکار دی. والله سبحانه وتعالی اعلم –

د قیامت په ورځ به د پلار طرفته په نسبت کولو سره آواز کیږی

سوال آیا د قیامت په ورځ به خلقو ته د پلار په نوم سره آواز کیږی او که د مور په نوم سره ؟ ی بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب چونکه نسب د پلار له طرف نه ثابت وی نوځکه به د پلار طرفته منسوب کیدو سره آواز رته کیږی . البته د حضرت عیسی علیہ السلام والد نشته الله تعالی هغه په خپل کامل قدرت سره د حضرت مریم رضی اللہ عنہا نه پیدا کړي وو نو له همدې کبله حضرت عیسی علیہ السلام ته به د مور په نسب سره یعنی په عیسی ابن مریم سره به ورته آواز کولې شي .

امام بخاری رحمہ اللہ په دې باندې ترجمة الباب قائم فرمائیلي دي «باب یدعی الناس بآبائهم» او په دې کښې ئې دا روایت ذکر کړې دي

عن ابن عمر رضی اللہ عنہما عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال ان الغادر یرفع له لواء یوم القیامة یقال هذه غدرة فلان بن فلان (صحیح البخاری ص۹۱۱ ج۲)

قال الحافظ العینی رحمہ اللہ قال ابن بطال الدعاء بالآباء اشد فی التعریف و ابلغ فی التمیز (بعد اسطر) وفی حدیث الباب رد لقول من یزعم انه لایدعی الناس یوم القیامة الا بامهاتهم لان فی ذالك سترا علی آباءهم و فیه جواز الحکم بظاهر الامور (عمدة القاری ص۲۰۰ ج۲۲)

وعن ابی الدرداء رضی اللہ عنہ قال قال رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم تدعون یوم القیامة باسماء کم و اسماء آبائکم فاحسنوا اسماء کم. رواه ابوداؤد (مشکوة ص۴۰۸)

قال العلامة عبدالحق المحدث رحمہ اللہ فاحسنوا اسماء کم پس نیک بنهید نامهای خودرا . این خطاب است مرجمیع بنی آدم را. پس پدران نیز داخل باشد و دربعضي روایات آمده که روز قیامت مردم را بنام مادران خوانند و گفته اند که حکمت درین آن است که تا اولاد زنا شرمنده و رسوا نشوند بجهت رعایت حال عیسی ابن مریم علیہ السلام که پدرندارد وازبرای اظهارفضل وشرف حضرت امام حسن وحسین رضی الله تعالی عنهما باظهار نسبت آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم واگر این روایت ثابت شود آباءکم راحمل برتغلیب میتوان کرد چنان که ابوین میگویند و شاید که گاهی به آباءخوانند وگاهی به اُمهات یا بعضی را بنسبت پدران و بعضی راه بنسبت مادران یا دربعضی مواطن چنان و در بعضی چنین والله اعلم (اشعة اللمعات . ص ٥٤ ج ٤)

د حضرت عمر رضی الله عنه په خپل خوئ باندې د زنا د حد جاري کولو قصه موضوعي ده

سوال دا خبره مشهوره ده چه حضرت عمر رضی الله عنه خپل يو خوئ باندې د زنا د وجې نه حد جاري کړې وو او کوړې درې یې ورکړې وې. او د حد د پوره کیدو نه مخکې هغه وفات شوې وو نو سـ نې باقي کوړې د هغه ډانچې ته ورکړې . نو آيا دا قصه صحيح ده ؟ او که صحيح وی نو د هغه د دغه خوئ نوم څه وو او د هغه خومره عمر وو ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا قصه په واعظينو کښې مشهوره ده چه دروغ او باطله قصه ده.
چنانچه اللالی المصنوعه کښې دا روايت د شيرويه بن شهريار په سند سره نقل دې او د دې نه بعد ئې اوفرمائيل موضوع فيه مجاهيل قال الدار قطني حديث مجاهد عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما في حديث ابي شحمة ليس بصحيح وقد روي من طريق عبد القدوس بن حجاج عن صفوان عن عمر رضی الله عنه و عبد القدوس يضع وصفوان بينه وبين عمر رضی الله عنه رجال-

صحيح قصه د حضرت عمر رضی الله عنه د خوئ عبد الرحمن الاوسط ابوشحمة د نبيذو د سکلو ده چه د هغې نه بعد هغوئ په خپله خپل ځان د مصر گورنر حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه ته د حد د جاري کولو د پاره پيش کړو . نو هغوئ د عامو خلقو په مخامخ دوئ ته حد ورنکړو بلکه په کور کښې ئې ورته دننه حد ورکړو. حضرت عمر رضی الله عنه هغوئ ته تنبيه اوفرمائيله او مدينې منورې ته په واپس کيدو سره ئې هغوئ باندې دوباره حد جاري کړو، لکه چې په اللالی المصنوعه کښې ليکلي دی

والذي ورد في هذا ما ذكره الزبير بن بكار و ابن سعد في الطبقات وغيرهما ان عبد الرحمن الاوسط من اولاد عمر ويكنى ابا شحمة كان بمصر غازيا فشرب ليلة نبيذا فخرج الى السكة فجاء الى عمر بن العاص رضی الله عنه فقال اقم على الحد فمتنع فقال الى اخبر ابي اذا قدمت عليه فضربه الحد في داره ولم يخرجه فكتب الى عمر يلوم ويقول الا فعلت به ما تفعل بجميع المسلمين فلما قدم الى عمر ضربه واتفق انه مرض فمات -والله سبحانه وتعالى اعلم -

په لاهور کښې د شاهي مسجد د تبرکاتو حکم

سوال په لاهور کښې د شاهي مسجد د تبرکاتو يعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پنکي مبارک، عصـ ،کونتئ، او د حضرت علي رضی الله عنه توپئ او د حضرت حسين رضی الله عنه دستاويزات د لاس ليکل ايـودی شوی دی. نوآيا دا ټول څيزونه د دې حضراتو دی کومو ته چه ئې نسبت کړی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې تصديق هم لازمي ندې او انکار ترې هم مناسب ندې. د ثبوت د امکان په وجه د دې احترام کول ضروري دی او که چرې د دې د زيارت کولو په وجه د شرک او بدعت مضبوطوالي راځي نو بيا لدينه پرهيز کول ضروري دی. والله سبحانه وتعالى اعلم

په روح باندې به مرګ نهٔ راځی

سوال آیا په روح باندې به مرګ راځی اوکه نه؟ او دا مسئله اتفاقی ده او که اختلافی ؟ له حوالې سره ئې ولیکئ . بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د روحونو په فناکیدو کښې اختلاف دې. صحیح قول په کښې دا دې چه په روح باندې به مرګ نهٔ راځی. د فنا کیدو نه مراد افتراق عن البدن یعنی د روح له جسم نه جدا کیدل، دې . ناقابل انتفاع کیدل یا تبدل د صفاتو څخه په فناکیدلو سره تعبیر کولې شی او خصوصا تقیید بالزمان کما قالوا فی الجواب عن عدم فناء جهنم والجنة والعرش والکرسی۔

قال العلامة الآلوسی رحمه الله والصواب ان یقال موت الروح هو مفارقتها الجسد فان ارید بموتها هذا القدر فهی ذائقة الموت وان ارید انها تعدم وتضمحل فهی لا تموت بل تبقی مفارقة ماشاء الله ثم تعود الی الجسد وتبقی معه فی نعیم او عذاب ابد الآبدین ودهر الداهرین وهی مستثناة ممن یصعق عند النفخ فی الصور علی ان الصعق لا یلزم منه الموت والهلاك لیس مختصا بالعدم بل یتحقق بخروج الشیء عن حد الانتفاع به ونحو ذالك وماذکر فی تفسیر الاماتتین غیر مسلم (روح المعانی ص ۱۰۰ ج ۱۰)۔

وقال الشاه عبد العزیز المحدث الدهلوی رحمه الله: زیرا که مضمونیکه باین قسم تاکید فرموده اند آنست که جان آدمی هر چند درشداند و مصائب گرفتار شود بحفظ الهی محفوظ است شکسته شدن و فنا پذیرفتن از محالات است و لهذا درحدیث شریف وارد است (انما خلقتم للابد) یعنی جان آدمی که در حقیقت آدمی عبارت از آنست ابدی است هرگیز فنا پذیر نیست و آنچه در عرف مشهور است موت هلاک جان میکند محض مجاز است نهایت کار موت آنست که جان از بدن جدا شود و بسبب نایافت مربی ومحافظ ازهم پاشد و الا جان رافنا متصور نیست و اثبات عالم برزخ و امکان حشر ونشر مبنی برهمین مسئله است (تفسیر عزیزی ص ۱۳۳ .) و الله سبحانه وتعالی اعلم –

د معاهدې یا د وعدې خلاف ورزی کول

سوال آیا د معاهدې یا د وعدې څخه مخالفت کول ګناه کبیره ده که صغیره ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب معاهده د دواړو طرفونو نه وی او د دې خلاف ورزی کول ګناه کبیره ده. او وعده له یو طرف نه وی نو د دې په خلاف کولو کښې دا تفصیل دی که چیرې د وعدې کولو په وخت کښې ئې د دې د پوره کولو اراده نهٔ وه نو بیا ګناه کبیره ده او که چیرې دغه وخت ئې د پوره کولو نیت وو لیکن وروسته بدل شو نو بغیر د عذر نه خلاف کول مکروه تنزیهی دی او که د عذر د وجې نه وی نو مباح دی خو په دې شرط چه په دې سره بل چا ته څه نقصان ونهٔ رسیږی او تکلیف رسول په هر حال کښې حرام دی – والله سبحانه وتعالی اعلم –

د کافر حق په څنګه ادا کولې شي

د مسئله په احسن الفتاوی کتاب اللقطه کښې تيره شوې ده

غيبت او دروغ فسق دي

سوال د فاسق جامع او مانع تعريف څه دې ؟ آيا غيبت کول او دروغ وئيل د فسق په تعريف کښې داخل دی او که نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د شريعت په اصطلاح کښې فاسق داسې شخص ته وئيلې شی چه د هغهٔ په اعمالو کښې کمې او نقصان وی يعنی په شريعت کښې چه د کومو احکامو د کولو حکم وی نو هغه پريږدی او چه د کومو اعمالو د پريښودو حکم وی نو هغه کوی . نو غيبت کول او دروغ وئيل د کبائرو نه دی له همدې کبله دا په اولی درجه په فسق کښې داخل دی

قال العلامة الالوسی رحمه الله فی تفسير قوله تعالی یاایها الذین امنوا ان جاء کم فاسق بنباء فتبینوا . الایه، والفاسق الخارج عن حجر الشرع من قولهم فسق الرطب اذا خرج عن قشره . قال الراغب : والفسق اعم من الکفر ويقع بالقليل من الذنوب والکثير لکن تعورف فيما کانت کثيرة . واکثر مايقال الفاسق لمن التزم حکم الشرع واقربه ثم اخل بجميع احکامه او ببعضها واذا قيل للکافر الاصلی فاسق فلانه اخل بحکم ما الزمه العقل واقتضته الفطرة (روح المعانی ص۳۰۰ ج۲۶) والله سبحانه وتعالی اعلم .

په جلد سازئ کښې د کټ شوو پاڼو احترام کول پکار دی

سوال د قرآن مجيد په جلد بندئ کښې چه کومې پاڼې سپينې اوبغير له ليکلو وی د هغې هم احترام کول ضروری دی او که نه دی ضروری ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کوم کاغذ چه د ليکلو په ارادې سره تيار شوی وی د هغې احترام کول ضروری دی . اګر که هغه وروسته د څه وجې نه د ليکلو قابل نهٔ وی جوړشوې. د دې وجې نه د کاغذ قدر کول ضروری دی . اوخصوصا چه کله کوم کاغذ دقرآن وی – والله سبحانه وتعالی اعلم

د قرآن کريم له لاس نه د غور ځيدو کفاره

سوال که چيرې د چا نه قرآن مجيد وغورزيږی نو آيا د دې تدارک ضروری دې ؟ مثلا چه څه صدقه ورکړی يا توبه او استغفار وکړی . او که بغير د ارادې نه وغورزيږی نو ګناه خو به نهٔ وی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب شرعا صدقه کول ضروری ندی خو په نفس باندې جرمانه او ادعی الی قبول التوبه د وجې نه کول بهتر دی . او بغير د ارادې نه غورزيدل ګناه نده ليکن بيا هم د ګناه

د صورت د جوړيدو د وجې نه او د بې احتياطئ د وجې نه توبه کول پکار دی . والله سبحانه وتعالی اعلم

د ځناورو د روحونو مقام

سوال د ځناورو د روحونو مقام کوم ځائ کښې دې ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د حيواناتو د ارواحو په مقام کښې د علماؤ مختلف قولونه دی . بعضې وائی چه د ځناورو روحونه به په هوا کښې معلق (زوړند) وی او د بعضو خيال دا دې چه دا روحونه به ختم شی او بعضو د دې مذکوره اختلاف بناء دا ذکر کړې ده چه کوم حضرات د ځناورو د حشر قائل دی لکه څنګه چه مشهور مذهب دې د هغوئ په نيزد د دوی ارواح په هوا کښې يا کوم ځائ کښې چه الله تعالی غواړی هلته به معلق وی . او کوم حضرات چه د ځناورو د عدم حشر قائل دی لکه چه د امام غزالی او د اهل ظاهرو مذهب دې. د دوئ مذهب دا دې چه د ځناورو روحونه ختميږی. اول قول صحيح دې .

قال العلامة الالوسی رحمه الله فی تفسير قوله تعالی يسئلونك عن الروح فی المبحث السادس فی مستقر الارواح بعد مفارقة الابدان : ثم ان ارواح سائر الحيوانات من البهائم و نحوها قيل تكون بعد المفارقة فی الهواء ولا اتصال لها بالابدان و قيل تعدم و لا يعجز الله تعالی شیء و من الناس من قال ان کان للحيوانات حشر يوم القيامة کما هو المشهور الذی تقتضيه ظواهر الايات و الاخبار فالاولی ان يقال ببقاء ارواحها فی الهواء او حيث شاء الله تعالی وان لم يکن لها حشر کما ذهب اليه الغزالی واهل الظواهر فالاولی ان يقال بانعدامها هذا وبقية ابحاث کثيرة ترکناها لضيق النفس والساع دائر الغصص ولعل فيما ذکرناه هنا مع ما ذکرناه فيما قبل کفاية لاهل البداية والهداية لمن ساعدته العناية والله عز وجل ولی الکرم والجود وعنده سبحانه بدا کل شیء واليه جل وعلا يعود ـ والله سبحانه وتعالی

د امير اطاعت

سوال تبليغ والا د خپل امير ډيرزيات اطاعت (فرمانبرداری) کوی . نو آيا مامور لره د امير دامې اطاعت پکار دې لکه چه ښځه د خپل خاوند يا غلام د خپل آقا اطاعت کوی او د هغوئ تابع اوسيږی ؟ بينوا توجروا ـ

الجواب باسم ملهم الصواب لکه څنګه چه تبليغ والا د خپل امير اطاعت کوی . هر يو دينی جماعت والا ته په هر هغه حکم کښې چه ګناه نۀ وی دغسې اطاعت کول پکار دی . په دې کښې دينی ښکلې انتظام دې او تشتت او افتراق نه پرهيز دې چه شريعت د دې خبرې ډير تاکيد کړی دی .

والله سبحانه و تعالی اعلم

د «علیه الصلوة والسلام، رضی الله تعالی عنه، او رحمة الله علیه»
استعمالول

سوال د «علیه الصلوٰة والسلام، رضی الله تعالی عنه او رحمة الله علیه» د الفاظو استعمالول د چا په شان کښې مسنون دی او د چا په شان کښې مکروه اویا ناجائز دی؟ آیا د امام ابو حنیفه رحمه الله لپاره «رضی الله عنه»، او د حضرت حسین رضی الله تعالی عنه لپاره «علیه الصلوٰة والسلام» ویل جائز دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د علیه الصلوٰة والسلام لفظ د انبیاؤ کرامو او د ملائکو د پاره خاص دي بغیر د انبیاؤ نه د دي استعمالول جائز نه دی. لهذا حسین علیه السلام یا علی علیه السلام ونیل جائز ندی. البته د اتباع له وجې استعمالول جائز دی. یعنی که د یو نبی د نوم نه پس د آل نبی یا د نیکو بندګانو ذکر راشی نو د ټولو د پاره علیهم السلام ونیل جائز دی. او مستحبه خبره دا ده چه صحابه کرامو سره رضی الله عنهم او امامانو او نیکو بندګانو سره رحمه الله استعمال شی. البته د دي بالعکس یعنی د صحابه کرامو سره د ترحم او امامانو او نیکو بندګانو سره د ترضی استعمالول هم جائز دی. د دي وجې نه د امام ابو حنیفة سره د رضی الله عنه لیکل جائز دی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: و لا یصلی علی غیرالانبیاء ولا علی غیر الملائکة الا بطریق التبع و هل یجوز الترحم علی النبی قولان زیلعی قلت وفی الزخیرة انه یکره وجوزه السیوطی رحمه الله تبعا لا استقلالا فلیکن التوفیق و بالله التوفیق و یستحب الترضی للصحابة و کذا من اختلف فی نبوته کذی القرنین و لقمان و قیل یقال صلی الله علیه وسلم علی الانبیاء وعلیه وسلم کما فی شرح المقدمة للقرمانی والترحم للتابعین ومن بعدهم من العلماء والعباد وسائر الاخیار و کذا یجوز عکسه وهو الترحم للصحابة والترضی للتابعین ومن بعدهم علی الراجح ذکره القرمانی وقال الزیلعی الاولی ان یدعو للصحابة بالترضی وللتابعین بالرحمة ولمن بعدهم بالمغفرة والتجاوز۔

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله (قوله ولا یصلی علی غیر الانبیاء الخ) لان فی الصلاة من التعظیم ما لیس فی غیرها من الدعوات وهی لزیادة الرحمة والقرب من الله تعالی ولا یلیق ذالک بمن یتصور منه الخطایا والذنوب الا تبعا بان یقول اللهم صل علی محمد و اله وصحبه وسلم لان فیه تعظیم النبی صلی الله علیه وسلم زیلعی واختلف هل تکره تحریما او تنزیها او خلاف الاولی و صحح النووی رحمه الله فی الاذکار الثانی لکن فی خطبة شرح الاشباه للبیری من صلی علی غیرهم اثم و کره وهو الصحیح وفی المستصفی وحدیث صلی الله علیه وسلم علی ال ابی اوفی الصلوة حقه فله ان یصلی علی غیره ابتداء اما الغیر فلا اه و اما السلام فنقل اللقانی فی شرح جوهرة التوحید عن الامام الجوینی انه فی

معنی الصلاة فلا یستعمل فی الغائب ولا یفرد به غیر الانبیاء فلا یقال علی علیه السلام وسواء فی هذا الاحیاء و الاموات الا فی الحاضر فیقال السلام او سلام علیك او علیکم وهذا مجمع علیه آه (ردالمحتار ص... ج ه) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

ښځې به د کور له نامحرمو کسانو څخه څنګه پرده کوي ؟

سوال یو څو ورونه په یو کور کښې اوسیږي د هر یو خان له دکور جوړولو قدرت او طاقت نشته نو په داسې صورت کښې به ښځې د پردې لپاره څه طریقه اختیاروي . سره د دې نه چه هغه په کور کښې مختلف کارونه کوي او د نا محرم سره د خبرو کولو موقع هم راځي ۔ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب شرعی پرده د الله تعالی قطعی حکم د ې که چیرې د چا په زړه کښې د آخرت فکر وی نو هغهٔ ته په دې باندې عمل کول ګران ندی. د دې د پاره د خان له کور ضرورت نشته. پرده کول او بې ضرورته خبرې نهٔ کول په یو کور کښې هم ممکن دی . د سخت ضرورت د خبرو ګنجائش شته . او د دې ګنجائش نه ناجائزه فائده اخستل او بغیر ضرورته خبرې اترې کول او یا پرده بالکل پریښودل د دې قطعًا ګنجائش نشته . ښځې د پردې کولو سره سره د کور ټول کار کولې شی .د دې خبرې تفصیل په وعظ « شرعی پرده» کښې دې – والله سبحانه وتعالی اعلم

پیوند شوې کپړې اغوستل

سوال آیا پیوند شوې کپړې یا لنګ سنت دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب پیوندشوې لباس د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت دې او رسول الله ﷺ حضرت عائشې رضی الله عنها ته د دې ترغیب ورکړې وو نو د دې وجې نه پیوند شوې کپړې د اتباع په نیت سره اچولو کښې د ثواب امید دې . البته د خپلې زمانې د علماؤ او نیکو بندګانو خلاف صورت جوړول د ریا. عجب او د تکبر او نورو خلقو لره د سپک ګڼلو باعث جوړیدې شی . له همدې وجې نه داسې امتیازی شان اختیارول ندی پکار.

عن عائشة رضی الله عنها قالت قال لی رسول الله ﷺ یا عائشة اذا اردت اللحوق بی فلیکفك من الدنیا کزادالراکب وایاك ومجالسة الاغنیاء ولا تستخلقی ثوبا حتی ترقعیه (رواه الترمذی (مشکوة ص ...) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

سپوږمۍ ته رسیدل د شریعت خلاف نهٔ دی

سوال په قرآن مجید کښې له ﴿ تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا

مُبرکه ﷺ ته د ظاهري جهت نسبت سموګانو ته کښې دي او دغه شان به خو تفاسيرو کښې هم د حديث تشريح شوي ده او د حضور صلي الله عليه وسلم د دغه شان زهره ته هم وختل او همه پو سپېن د ونو څخه هم جوړ کړي دي او د خلو د سمونو د تل نه دي او د دې خبرې تسل د او تو جې چه جدي سمې د د موږ ته هغې ته څه ممنعت وو د هسو مهرباني وکړئ وسه مسئلې حل جو ب کړئ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سماء لغوي معنى اوچت والى دي. لهذا كه په تيرشوي آيت كښې د دې لغوي معنى مراد و خستې شي كومه چه په كثرت سره راځي لكه په دې قول د الله تعالى كښې **وانزلنا من السماء ماء** نو هيڅ اشكال نه پاتې شي پاتې كيدي. لكه په **كل في فلك يسبحون** كښې چه د فلك لغوي معنى معنى نه ونيولو احتو سره اعتراض ختميږي. او په دوارو خبرو كښې د هم تسلي كيږي شي چه د في حرف د ظاهر ږوست په اعتبار سره راوړلې شوي دي معنى په ظاهره د اسمان كښې ده ښه ښکاري اګر چه حقيقةً ښکته دي. چنانچه عام خور سره د پلو كښې چه ته سم كښې د فلاني خبر ونيولو شو. با دا چه په سمان باندې ورېځ ده حالانكه د ورېځې د سمان نه ډېر ښکته دي. لهذا د آيت مذكوره نه دا نه ثابتيږي چه كوم ستوري په سمان كښې نښه دي ځكه چه د نږدې حيزونو اشياء مجاوره د پاره هم في استعماليږي كه څنګه چه د الله تعالى **له ما في السموات ومافي الارض** نو د قرب لي السماء د وجې نه يا منتل الى المحيط كيدو د وجې نه د في السماء اطلاق پرې صحيح دي او ملكه د يسبحون، نه همدا مراد دی والله سبحانه وتعالى اعلم

عجله چالاكي د شيطان طرف ته منسوب كول

سوال دا خبره مشهوره ده چه د عجلې چالاكي والا كار د شيطان د طرف نه وي نو آيا دا صحيح ده؟ او د دې وجه څه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا خبره صحيح ده او د دې وجه دا ده چه چالاكي او تيزوالي بد خراب خبر دي او هر خراب كار د شيطان طرف ته منسوب كولې شي

عن سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال الاناة من الله والعجلة من الشيطان (راواه الترمذی مشكوٰة ص—)

د رسول الله ﷺ د پيدائش تاريخ

دا مسئله د احسن الفتوي «د محسن اعظم ﷺ د پيدائش تاريخ» ترعنوان لاندې په تفصيل سره تيره شوي ده

د ((۱۲ منه)) مطلب

سوال د عبارت په آخر کښې چه ((۱۲ منه)) لیکلې شوې وی د دې څه مطلب دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د ابجدو په حساب سره د ((حد)) د لفظ عدد ((۱۲)) راوځی. نو د دې مطلب دا وی چه عبارت ختم شو. او د ((منه)) مطلب دا دې چه دا حاشیه د ماتن د طرفه ده.
والله سبحانه و تعالی اعلم.

د مالیت د سقوط نه پس د نوټونو په بدل کښې بیعه

سوال نوټ مال دې او که د مال سند دې؟ یو څو میاشتې وړاندې حکومت د سلو او د پنځوسوو روپو د نوټونو د مالیت د ختمیدو اعلان وکړو نو د دې اعلان نه بعد شرعا د غه نوټونه د مال په حکم کښې دی او که نهٔ؟ او که د دغې ختم شوی نوټونو په بدل کښې څه بیع اوشراء یا څه عقد وکړی شی نو هغه صحیح دی او که نهٔ؟- بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب: نوټ مال نهٔ دې بلکه د مال سند دې او کله چه حکومت د دغې سند د ختمیدو اعلان وکړو نو دا اوس د مال په حکم کښې پاتې نشو نو له دې وجې نه د دې په بدل کښې بیع او شراء وغیره صحیح ندی د نوټونو په باره کښې مفصل تحقیق په رسال ((کاغذی نوٹ اور کرنسی کاحکم)) کښې. په احسن الفتوی کښې تیر شوې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم

د حرام کسب حکم

سوال خما یو دوست ماته څه پیسې راکړې چه زهٔ پرې کاروبار وکړم د نفعې او نقصان خما د پاره د دوو ثلثو او د هغهٔ د یو ثلث فیصله وشوه او ما کارو بار شروع کړو نو څو ورځې پس معلومه شوه چه رب المال دا پیسې په ناجائزه طریقې سره گټلې وې نو ما هغهٔ سره تعلق ختم کړو او پیسې مې ورته واپس ورکولې نو هغهٔ واپس نهٔ اخستې. او هغه اوس پاکستان کښې نشته او هغه پیسې ئې ماسره د امانت په طور ایښې دی څه پیسې ترې خرچ شوې هم دی او که آئنده ئې زهٔ جمع کړم او یوځای ئې کړم نو بیاهم د ضائع کیدو خطره ده او که په بانک کښې ئې کیږدم نو هلته ترې هم کټ کیږی. نو اوس پوښتنه دا ده چه دا پیسې زهٔ په تجارت کښې ولگوم او د هغې نه څه واخلم یا کومه بله طریقه وکړم؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا پیسې ئې چه د کومو خلقو نه په ناجائزه طریقه اخستې دی که چرې هغوئ معلوم وی نو هغوئ نه واپس کول واجب دی. اوکه نه نو واجب الصدقه دی. د معاملې مالک په خیله د دې مالک ندې نو لهذا د هغهٔ په اجازت سره هم تاسو په دې کښې تصرف

ئسو کولی او نه صاحب د معاملی نه واپس کول جائز دی ... اصل مال سره منافع هم به ... کسو ... صدقه کول واجب دی . والله سبحانه وتعالی اعلم

لنګ سنت دئ او که پرتوګ ؟

سوال آیا ازار لنګ ته وایی؟ او آیا لنګ سنت دئ او که پرتوګ؟ او په دې دواړو کښې کوم یو افضل دئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ازار لنګ ته وائی . او لنګ او پرتوګ دواړه سنت عادیه دی په هغه زمانه کښې د لنګ عام رواج وو نو د دې وجې نه د رسول الله ﷺ عام عادت د لنګ تړلو وو لیکن پرتوګ ئې هم خوښ کړې وو او اخستې ئې هم وو چه د دې نه د اچولو ثبوت کیږی او په بعضې روایتونو کښې د اغوستو تصریح هم شوې ده او د بعضې روایاتو نه د دې فضیلت هم ثابت دې او د دې نه علاوه په شریعت کښې د تستر ډیر زیات اهمیت دې او دا خبره ظاهره ده چه په پرتوګ کښې تستر (پرده) زیاته ده له همدې کبله پرتوګ اغوستل افضل دی .

قال الحافظ العسقلانی رحمه الله : وصح انه ﷺ اشتری سراویل من سوید بن قیس اخرجه الاربعه واحمد و صححه ابن حبان من حدیثه واخرجه احمد ایضا من حدیث مالک بن عمیرة الاسدی قال قدمت قبل مهاجرة رسول الله ﷺ فاشتری منی سراویل فارجح لی وما کان لیشتریه عبثا وان کان غالب للبسه ازارا واخرج ابو یعلی والطبرانی فی الاوسط من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه دخلت یوم السوق مع رسول الله ﷺ وسلم فجلس الی البزاز فاشتر السراویل باربعة دراهم الحدیث وفیه قلت یا رسول الله وانك لتلبس السراویل قال اجل فی السفر والحضر واللیل والنهار فانی امرت بالتستر وفیه یونس بن زیاد البصری وهو ضعیف قال ابن القیم فی الهدی اشتری ﷺ السراویل والظاهر انما اشتراه لیلبسه ثم قال وروی فی حدیث انه لبس السراویل وکانو یلبسونه فی زمانه وباذنه قلت ویوخذ ادلة ذالك کله مما ذکرته ووقع فی الاحیاء للغزالی ان الثمن ثلاثة دراهم والذی تقدم انه اربعة دراهم اولی (فتح الباری ص۳۳ . ج۱۰)۔

وقال الحافظ العینی رحمه الله : وقال زین الدین رحمه الله رویناه من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه مرفوعا ان اول من لبس السراویل ابراهیم علیه السلام رواه ابو نعیم الاصبهانی وقیل هذا هو السبب فی کون اول من یکسی یوم القیمة کما ثبت فی الصحیحین من حدیث ابن عباس رضی الله عنه فلما کان اول من اتخذ هذا النوع من اللباس الذی هو استر للعورة من سائر الملابس جوزی بان یکون اول من یکسی یوم القیامة وفیه استحباب لبس السراویل (وبعد سطر) ورواه ابو یعلی فی مسنده من حدیث ابی هریرة رضی الله عنه مطولا وفیه اقباله ﷺ عن نفسه انه یلبس

السراویل وروی الترمذی ایضا من حدیث ابن مسعود رضی اللہ عنہ عن النبی صلی اللہ علیہ وسلم قال کان علی موسی علیہ السلام یوم کلمه ربه کساء صوف و کمة صوف وجبة صوف وسراویل صوف وکانت نعلاه من جلد حمار میت والکمة القلنسوة الصغیرة (عمدة القاری ص۳۰۰ ج۲) - والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳۰ شوال سنه ۹۱ھ

د صله رحمۍ حقدار کوم قسم خپلوان دی ؟

سوال د صله رحمۍ حقدار کوم قسم خپلوان دی ؟ د خپلو اصولو او فروعو نه علاوه ، تره ، ماما ، خاله ، ترور ، او د دوئ اولاد او د خسرګنۍ په رشته دارو باندې د دې اطلاق هم کیږی او که نه ؟ بینوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب په صله رحمۍ کښې د اصولو اوفروعو نه علاوه نزدې او لرې خپل خپلوان ټول شامل دی. البته په درجو کښې ئې فرق شته کوم چه زیات نزدې وی د هغوئ حق مقدم وی او د خسرګنۍ په رشته دارو باندې د دې اطلاق نه کیږی . مګر د هغوئ هم حقوق شته

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله : (قوله وصلة الرحم واجبة) نقل القرطبی فی تفسیرہ اتفاق الامة علی وجوب صلتها وحرمة قطعها للادلة القطعیة من الکتاب والسنة علی ذالک قال فی تبیین المحارم واختلفوا فی الرحم التی یجب صلتها قال قوم هی قرابة کل رحم محرم وقال آخرون کل قریب محرما کان او غیرہ والثانی ظاهر اطلاق المتن قال النووی فی شرح مسلم و هو الصواب و استدل علیه بالاحادیث نعم تتفاوت درجاتهم ففی الوالدین اشد من المحارم وفیهم اشد من بقیة الارحام وفی الاحادیث اشارة الی ذالک کما بینه فی تبیین المحارم (ردالمحتار ص۳۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم -

د نا فرمانه ښځې د پاره وعید

سوال د ښځې د پاره د خپل خاوند وهل او یا په غابنونو باندې زخمی کول یا د هغه ګستاخی او بی عزتی کول څنګه دی ؟ او د داسې ښځې شرعا څه حکم دی ؟ او آیا دې قسم ښځې سره خاوند خبرې نه کړی ؟ او د دې د لاس خوراک څښاک کول څنګه دی ؟ بینوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب ”الرجال قوامون علی النساء“ یعنی الله تعالی سړی په ښځو باندې حکمان جوړ کړی دی. لهذا د ښځو د پاره د شریعت په دائره کښې د دنه اوسېدل او د سړیو اطاعت کول واجب دی . رسول الله ﷺ فرمائی . که چرې ما د الله تعالی نه سوا بل چا ته د سجدې کولو حکم کولې نو ښځې ته به مې حکم کړی وې چه خپل خاوند ته دې سجده وکړی ... لو ... دی نه ... او د رحم ... کړی

او داسې ښځې چه کومه خپل خاوند وهي یا نوره څه بې عزتي یې کوي نو هغه سخته ګنهګاره .ه . او خاوند ته تکلیف رسولو والا ښځو د پاره په قرآن او حدیث کښې سخت و عیدونه ذکر شوې دي تر دې پورې چې د هغې عبادات نه قبلیږي تر کومې پورې چه ترې خاوند راضي شوې نوي دغه قسم ښځې اول پوهول پکار دي که چیرې پوهه نشي نو بیا د هغې نه بستره جدا کول پکار دي او که بیا هم پوهه نشي نو خاوند ئې په وهلو سره هم سمولې شي . لیکن په مخ باندې به ئې نهٔ وهي . او د هغې د لاس خوراک وغیره جائز دي .

قال الله تعالى: ﴿ وَالّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ﴾ (٤ - ٣٤) والله سبحانه وتعالى اعلم۔

د یوې ښځې چې څو میړونه وي هغه به په جنت کښې کوم یو ته ورکول کیږي ؟

سوال که یوې ښځې پرله پسې د خاوندانو د مرګ په وجه باندې څو نکاحونه کړې وي نو هغه ښځه به په جنت کښې له کوم خاوند سره وي ؟ بیّنوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د بعضو روایاتونه ثابتیږي چه آخري خاوند ته به ملاویږي . او د بعضو نه معلومیږي چه دغې ښځې ته به اختیار ورکړې شي او کوم سره چه ئې زیات موافقت وي نو هغه به اختیار کړي او بعضو حضراتو دا تطبیق کړې دې چې که چیرې ټول خاوندان په حسن خلق کښې برابر وو نو آخري خاوند ته به ملاویږي اوکه نه نو اختیار به ورکول کیږي .

عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال المرءة لاخر ازواجها (احكام النساء ص۳۰)

و عن عروة بن رويم اللخمي قال لما احتضر موسى عليه السلام قالت له امرءته سل الله ان يزوجنيك فكانت تتبرقع بعده للقاط فاذا راها الحصادون لم يخالطوها فاذا احست بذلك تركته وفى رواية اخرى فان المرءة لاخر ازواجها (حواله بالا) عن ام سلمة رضي الله عنها قالت يارسول الله صلى الله عليه وسلم المرءة تزوج الزوجين والثلاثة والاربعة ثم تموت فتدخل الجنة و يدخلون معها من يكون زوجها منهم قال انها تخير فتختار احسنهم خلقا فتقول يارب ان هذا كان احسنهم خلقا فى دار الدنيا فزوجنيه يا ام سلمة ذهب حسن الخلق بخير الدنيا والاخرة (معجم طبرانى ص ۳۰ ج ۳) والله سبحانه وتعالى اعلم۔

باکرې او مُطلقې ښځې به په آخرت کښې چا ته ورکول کیږي ؟

سوال سړیو ته به په جنت کښې حورې ورکول کیږي . ناوادهٔ شوو نجونو او طلاق شوسو ښځو ته به څه ورکول کیږي؟ او غلمان څوك دي ؟ بیّنوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ناوادهٔ شورنجونو او طلاق شوو ښځوته به په جنت کښې احسن ورکړې شي چه کوم نارینه غواړی نو خوښ دې کړی. که چیرې څوک هم خوښ نکړی نو الله تعالی به د هغوئ د پاره مذکر حور پیدا کړی. او غلمان هغه کم عمره هلکانو ته وئیل کیږی کوم چه الله تعالی د اهل جنت د خدمت د پاره پیدا کړی دی

ولو ماتت قبل ان تتزوج تخیر ایضا ان رضیت بادمی زوجت منه وان لم ترض فالله یخلق ذکرا من الحور العین فیزوجها منه (مجموعة الفتوی بحواله غرائب) قال العلامة الالوسی رحمه الله: (غلمان لهم) ممالیك مختصون بهم (روح المعانی ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم.

د شیطانانو او جناتو د تصرف حقیقت

سوال آیا په یو شخص باندې د جناتو یا د شیاطینو تصرف کیدې شي او که نه؟ په قرآن او حدیث کښې د دې څه ثبوت شته او که نه؟ او آیا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې داسې څه قصه راپیښه شوې ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په چا باندې د پیریانو د تسلط څه صراحةً واقعه مې د نظره نده تیره شوې البته د قرآن او حدیث نه د دې امکان ثابت دې

(۱) ﴿ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ﴾ یعنی د قیامت په ورځ به د سود خورو حالت د هغه سړی په شان وی کوم چه شیطان بدحواسه کړې وی

(۲) ﴿كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ﴾

قال العلامة الالوسی رحمه الله: ای کالذی ذهبت به مردة الجن فی المهامه والقفار (روح المعانی ص ج)

(۳) له معقبات من بین یدیه و من خلفه یحفظونه من امر الله - قال الالوسی رحمه الله: اخرج ابن ابی الدنیا والطبرانی والصابونی عن ابی امامة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ وکل بالمؤمن ثلثمائة وستون ملکا یدفعون عنه مالم یقدر علیه من ذالك (الی قوله) وما لو وکل العبد فیه الی نفسه طرفة عین لا ختطفه الشیاطین (روح المعانی ص ج)

(۴) په سورت الناس کښې دی چه شیطان د خلقو په زړونو کښې وسوسه اچوی نو د دې نه معلومه شوه چه شیطان د انسان په جسم کښې تصرف کوی. او دا تصرف د تکلیف په صورت کښې هم کیدې شي

(۵) د قرآنی آیتونو او احادیثو نه دا خبره ثابته ده چه شیطان انسانانو ته د گناه دعوت ورکوی او دا خبره هم ظاهره ده چه پیریان د انسان غوندې مخامخ نشي راتلې چه ... نه د گناهونو

ترغیب ورکړی . بلکه د هغوی ترغیب او تلقین به زړه باندې وی ... د هغه په زړه باندې هم ... دی نو په سر او په نورو اعضاؤ باندې تصرف کول هم ممکن دی

۶ ان الشیطان یجری من الانسان مجری الدم .

(۷) ماشوم د پیدا ئش په وخت کښې د شیطان د مسه کیدو د وجې نه ژاړی

(۸) حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ به بعضې وخت د لوګې د لاسه راپرېوتم . نو صحابه کرامو به په ماباندې د آسیب (پیریانی) په ګمان څما علاج کولو

نو د دې نه هم ثابته شوه چه پیریان راتلل په هغه زمانه کښې هم معروف وو او د هغې به علاج هم کیدلو

(۹) حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته شیطان دا تعلیم ورکړو چه د آیت الکرسی په برکت څما د شر نه بچ کیدل کیدې شی . نو د دې مفصلې واقعې نه هم دا معلومیږی چه شیطان د انسانانو څیزونه پټوی او د آیة الکرسی په ذریعې سره د دې نه حفاظت کیدې شی .

(۱۰) د جناتو نه د سعدبن عباده رضی الله عنه قتل ثابت دې .

قال العلامة ابن عبد البر رحمه الله : ولم یختلفوا انه وجد میتا فی مغتسله وقد اخضر جسده ولم یشعروا بموته حتی سمعوا قائلا یقول ولا یرون احدا —

قتلنا سید الخزرج سعد بن عبادة　　　رمیناه بسهم فلم یخط فؤاده

و یقال ان الجن قتلته و روی ابن جریج عن عطاء قال سمعت الجن قالت فی سعد بن عبادة فذکر البیت (الاستیعاب.ص۳۷ ج۲)

(۱۱) ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لاصحابه وهو بمکة من احب منکم ان ینظر اللیلة اثر الجن فلیفعل قال (ابن مسعود رضی الله عنه) فلم یحضر احد منهم غیری فلما کنا باعلی مکة خط لی برجله خطا ثم امرنی ان اجلس فیه (فتح الباری.ص۳۴ ج۱۲)

نو له دې نه د پیریانو له طرفه د تکلیف رسیدلو او د هغوئ د شر نه د حفاظت د پاره دائره راښکل ثابت شو .

(۱۲) اذا کان جنح اللیل او امسیتم فکفوا صبیانکم فان الشیطان ینتشر حینئذ فاذا ذهب ساعة من اللیل فخلوهم وغلقوا الابواب واذکروا اسم الله فان الشیطان لا یفتح بابا مغلقا متفق علیه (مشکوة ص ۳۷)

(۱۳) اعوذ بکلمات الله التامة من شر کل شیطان وهامة (جامع الترمذی.ص ۳ ج۲)-

په دې کلماتو باندې ماشومان د مول ثابت دی

(۱۴) قال ابن القیم رحمه الله: قلت الصرع صرعان صرع من الارواح الخبیثة الارضیه و صرع من الاخلاط الردیه والثانی هو الذی یتکلم فیه الاطباء فی سببه وعلاجه واما صرع الارواح فائمتهم و عقلاؤهم یعترفون به ولا یدفعونه ویعترفونه بان علاجه بمقابلة الارواح الشریفة الخیرة العلویة لتلك الارواح الشریرة الخبیثة فتدافع آثارها وتعارض افعالها وتبطلها وقد نص علی ذالك بقراط فی بعض کتبه (زاد المعاد ص ۲ ج ۳)

(۱۵) سحر هم د پیری اثر دي او د سحر ثبوت او د دې مؤثر کیدل په قرآن مجید کښې ذکر شوي دی ﴿وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ ...... فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ ۚ﴾

تنبیه: د دلائلو . شواهدو . او د عامو تجربو نه دا حقیقت واضح کیږی چه د پیریانو دا قسمه تصرف عموما په فاسقانو او فاجرانو باندې کیږی، دالله تعالی د نیکو بندګانو نه پیریان ډیر ویریږی

هرکه ترسید از حق و تقوی گزید — ترسد ازوے جن و انس و هر که دید
تو هم گردن از حکم داور مپیچ — که گردن نه پیچد زحکم تو هیچ
هیبت حق است این از خلق نیست — هیبت این مرد صاحب دلق نیست

هذا فانه ظاهر جدا علی من طالع احوال الرجال وصاحب ارباب الکمال.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او د سعدبن عبادة رضی الله عنه په واقعاتو کښې د تاویل مجال او د استدلال ابطال د انشاء د احتمال سره دا باب ډیر وسیع دي

کما لا یخفی علی من اوتی الحکمة و من شاء الاطلاع علی القصص فراد الجن من هذا العبد الضعیف فلیراجع الجزء الثانی من انوار الرشید فی باب نسبة موسویه. والله هو الحفیظ ولا حول ولا قوة الا به

۲۱ / ربیع الاول سنه ۹۳ هـ

د حضرت حسین رضی الله عنه فضیلت

سوال: د حضرت حسین رضی الله عنه په علم تصوف کښې څه مقام شته او که نه؟ او د دوئ احدیث او فقهی مسائیل خومره دی؟ زید وائی چه د حضرت حسین رضی الله عنه مرتبه صرف د حضور ﷺ د نمسی کیدو د وجې څخه ده نو آیا دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په علم تصوف او علم حدیث کښې د مهارت د پاره دا خبره ضروری نه ده چه نورو خلقو نه دي دا حدیث یا د تصوف سلسله ورسیږی . چنانچه په صحابه کرام کښې ډیر صحابه کرام داسې دی چه د هغوئ روایات ډیر زیات که دی مثلا حضرت ابو بکر رضی الله عنه .

د حضرت حسین رضی الله عنه په مناقبو کښې بنه په کثرت سره احادیث موجود دی نو آیا دا د فضیلت د پاره کافی ندی ؟ او باقی پاتې شو علمی مقام. نو هغه د دې حدیث نه ثابتیږی :

عن الحسن بن علی رضی الله عنهما قال سالت خالی هند بن ابی هالة وکان وصافا عن حلیة النبی صلی الله علیه وسلم وانا اشتهی ان یصف لی منها شیئا (الی قوله) قال الحسن فکتمها الحسین زمانا ثم حدثته فوجدته قد سبقنی الیه فسأله عما سألته ووجدته قد سأل اباه عن مدخله وعن مخرجه وشکله فلم یدع منه شیئا (شمائل الترمذی ص۲)۔

د ذکر شوی حدیث نه ثابته شوه چه حضرت حسین رضی الله عنه د وړوکوالی باوجود د حلیه مبارکه او د سیرت مبارک متعلق په علم حاصلولو کښې د خپل مشر ورور نه په دوؤ اعتبارونو سره وړاندې والې کړې وو (۱) د سیرت طیبه په معلومولو کښې ړومبې والې . (۲) د زیاتو امورو د علم په حاصلولو کښې وړومبې والې .

هر کله چه حضرت حسین رضی الله عنه په علومو غیر مقصودی کښې دومره مخکښې والې حاصل کړې وو نو بیا به هغهٔ په علومو مقصودی کښې ولې غفلت کولو؟ والله سبحانه وتعالی اعلم .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اولاد صحیح تعداد

سوال . د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اولاد تعداد څومره دې ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب د حضور صلی الله علیه وسلم لونړه مبارکې څلور وې ، حضرت زینب رضی الله عنها ، حضرت رقیه رضی الله عنها . حضرت ام کلثوم رضی الله عنها . او حضرت فاطمه رضی الله عنها

او د دوئ د خامنو په تعداد کښې اختلاف دې. د بعضو مؤرخینو په نزد د دوئ تعداد پنځهٔ دې ، حضرت قاسم رضی الله عنه ، حضرت عبدالله رضی الله عنه ، حضرت طیب رضی الله عنه . حضرت طاهر رضی الله عنه . او حضرت ابراهیم رضی الله عنه . او د بعضو د قول مطابق طیب او طاهر ته عبدالله وئیلې شی نو د دې قول مطابق تعداد درې (۳) راځی .

په دې ټولو کښې صرف حضرت ابراهیم رضی الله عنه د حضرت ماریې قبطیې رضی الله عنها څخه وو . او باقی ټول د حضرت خدیجې رضی الله عنها څخه پیدا شوی وو .

قال الحافظ بن کثیر رحمه الله قال ابن اسحاق فولدت (خدیجة) لرسول الله صلی الله علیه وسلم ولده کلهم الا ابراهیم . القاسم وکان به یکنی والطیب والطاهر وزینب ورقیه وام کلثوم وفاطمة (البدایة والنهایة ص ۳۰ ج ۲) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د خوراک په وخت کښې پرنجې کول

سوال که چیرې د خوراک په دوران کښې پرنجې راشی نو الحمدلله وئیل پکار دی او که نه ؟

سره برخوره

الجواب باسم ملهم الصواب که چرې په خله کښې ئې نوړي، کوله وي نو د عذر د وجې په سبب استحباب ساقط دې اوکه نه نو ندې ساقط - والله سبحانه وتعالى اعلم -

د خوراک د پاره د کیناستو صورت (هیئت)

سوال د خوراک د پاره د ناستې سنت طریقه څه ده؟ او آیا د ښځو او سړیو په ناسته کښې څه فرق شته اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د خوراک د پاره د ناستې بهتره طریقه هغه ده چه په کومې سره سمه سنتي لوړه ختمیږي. چنانچه په دې بنا باندې دوه طریقې بهترې ګڼلې شوي دي

(۱) چه ښي پنډۍ ودروي او چپه پنډۍ خوره کړي او پرې کیني (۲) د دواړو پښو په سر ناسته د ښځو او سړیو په ناسته کښې هیڅ فرق نقل شوي ندي

قال العلامة ابن العابدین رحمه الله معزیا الی شرح الجامع الصغیر للعلقمی: واحسن الجلسات للاكل الاقعاء على الوركين ونصب الركبتين ثم الجثي على الركبتين وظهور القدمين ثم نصب الرجل اليمنى والجلوس على اليسرى (ردالمحتار ص ج ۵)

د علقمي د ذکر شوې عبارت دریمې صورت شاید د دې عبارت نه ماخوذ وي

قال انس بن مالك رضي الله عنه رأيت النبي صلى الله عليه وسلم مقعيا ياكل تمرا وفي رواية يقسمه وهو محتفز ياكل منه اكلا ذريعا۔ (صحيح مسلم مع شرح النووي ص ج ۲)

د دې روایت د پوره مضمون نه معلومیږي چه دا د اکل التمر و غیره سره خاص دې نو د دې وجې نه دا حافظ العینی رحمه الله ذکر نه کړو . دوه صورتونه ئې بیان کړي دي . ونصه:

فالمستحب في صفة الجلوس للاكل ان يكون جاثيا على ركبتيه وظهور قدميه او ينصب رجله اليمنى و يجلس على اليسرى (عمدة القاري ص ج ۲) والله سبحانه وتعالى۔

د دوؤ شملو ثبوت

سوال آیا د لاندې او پورته والا دواړه قسمه شمله ثابته ده او که پورته شمله بدعت دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه شملې د سنتو نه ثابتې دي

قال الحافظ ابن الهمام رحمه الله: عن عمرو بن حريث قال رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم على المنبر و عليه عمامة سوداء

قدار عى طرفيها بين كتفيها (زادالمعاد ص۳۰، ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم.

د سفر په وخت د ښځي او د بچو په څله کښې لاړې اچول

سوال د بعضې خلقو عادت دې چه چرته په سفر ځي نو د خپلې ښځې او بچو په څله کښې د خپلي خلي لاړې اچوي او هغوئ هغه تيرې کړي او د هغوئ عقيده دا وی چه په ې سره دوئ ته صبر ملاويږي نو آيا دا صحيح دی اوکه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې خبرې هيڅ اصل نشته او داسې عقيده ساتل بالکل غلط دی. والله سبحانه وتعالى اعلم

د رسول الله ﷺ تور خادر اچول

سوال : رسول الله ﷺ ته «تور خادر والا» ونيلې کيږی نو حضور ﷺ چه کوم تور خادر استعمال کړې دې نو آيا دا هغه څادر دې کوم ئې چه د سورت مزمل د نازليدو په وخت اچولې وو اوکه په بله کومه موقعه کښې ئې اچولې وو ؟ - بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د رسول الله ﷺ د تورو وينښتو والا څادر استعمالول ثابت دی ليکن په دې باندې هميشه والې ندې ثابت . او د سورت مزمل په وخت دتور څادر اچول ندی ثابت

قالت عائشة رضي الله عنها خرج النبي ﷺ غداة وعليه مرط مرحل من شعر اسود فجاء الحسن بن علي فادخله ثم جاء الحسين فدخل معه ثم جاءت فاطمة فادخلها ثم جاء علي فادخله ثم قال انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرا (صحيح مسلم، ص۲۸۳، ج۲)

د دې آيت تفسير په رساله . عمدة التفسير لاية التطهير . کښې په احسن الفتاوی دې – والله سبحانه وتعالى اعلم

تور پټکې

سوال تور پټکې مې د ډيرو خلقو په سر ليدلې دې نو آيا دا سنت دې ؟ او که چيرې سنت وی نو د اهل تشيع والا سره د تشابه باوجود هم د دې استعمالول جائز دی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د تور پټکی استعمالول اګر چه فی نفسه ثابت او جائز دی مګر رسول الله ﷺ ته سپين لباس او پټکې زيات خوښ وو او په عامو حالا تو کښې به ئې سپين پټکې او لباس استعمالولو نو له همدې کبله سپين پټکې استعمالول افضل دی او د اهل تشيع سره د تشبيه د وجې نه هم د تور پټکی پرينښودل بهتر دی

د رسول الله ﷺ د پټکی درنګ متعلق پوره تحقيق په رساله «المقالة البيضاء في العمامة

سودا، کښې دي . والله سبحانه وتعالى اعلم

د مور او پلار د نافرمانئ حکم

سوال که څوک د والدينو نافرماني وکړي . او بلکه هغوئ وهي نو شريعت د داسې خلقو د پاره څه سزا مقرر کړې ده ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اسلام کښې د والدينو اطاعت او د هغوئ خدمت ته ډير اهميت ورکړې شوې دی . چنانچه په قرآن کريم کښې ارشاد مبارک دې

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ ﴾

يعنی د والدينو په مخکښې دې داسې څه خبره ونۀ کړې شی چه په هغې سره هغوئ ته څه پريشاني محسوسه شی او دهغوئ په وړاندې دې هميشه عاجزی اختيار کړې شی او د الله تعالى نه داسې دعا کول پکار دی چه يا الله په دوئ باندې داسې رحم وکړې لکه چه دوئ په ما باندې په وړوکوالی کښې کړې وو او څما پرورش ئې کړې وو

الله تعالى په قرآن کريم کښې د والدينو سره په ورين تندې د مخامخ کيدو حکم د خپل توحيد او عبادت د حکم سره يو ځاۓ بيان کړې دې . لکه چه ارشاد مبارک دې . ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ﴾

او حکم ئې فرمائيلې دې چه څما د درکړې شوې نعمتونو د شکر سره سره د والدينو شکر ادا کول هم پکار دی . چنانچه ارشاد مبارک دې . ﴿أَنِ ٱشْكُرْ لِى وَلِوَٰلِدَيْكَ ﴾ .

د دې نه علاوه په دې باره کښې په ډير تعداد سره نور احاديث هم منقول دی چه د هغې نه يو څو دا لاندې هم دی

(۱) عن ابی امامة رضی الله عنه ان رجلا قال يارسول الله ما حق الوالدين علی ولدهما قال هما جنتك ونارك رواه ابن ماجه۔

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اصبح مطيعا لله فی والديه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة ان كان واحدا فواحدا ومن اصبح عاصيا لله فی والديه اصبح له بابان مفتوحان من النار ان كان واحدا فواحدا قال رجل وان ظلماه قال وان ظلماه وان ظلماه وان ظلماه رواه البيهقی۔

(۳) عن ابن عباس رضی الله تعالى عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما من ولد بار ينظر الی والديه نظر رحمة الا

کتب الله له بکل نظرة حجة مبرورة قالوا وان نظر کل یوم مائة مرة قال نعم الله اکبر واطیب. رواه البخاری-

(٤) عن ابی بکرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ کل الذنوب یغفر الله منها ما شاء الا عقوق الوالدین فانه یعجل لصاحبه فی الحیوة قبل الممات رواه البیهقی (مشکوة ص۳۲۱)

غرض دا چه په قرآن او حدیث کښې د والدینو ډیر لوئ مقام ذکر شوې دې مګر شریعت د والدینو د نافرمانئ کولو په دنیا کښې څه حد ندې مقرر کړې . بلکه په ناګاهانی آفاتو او بلیاتو کښې د مبتلا کیدو و عید یې آؤرولې دې . او ظاهری سزا ئې د حاکم حکم ته ورسپارلې ده حکومت له پکار دی چه داسې انسان ته سخته سزا ورکړی . والله سبحانه وتعالی اعلم .

په مور اوپلار کښې د پلار اطاعت مخکښې دې

سوال په والدینو کښې په اولاد باندې د چا حق زیات دې که په دې کښې څه تفصیل وی نو هغه هم بیان کړئ ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : په احسان او حسن معاشرت کښې د مور حق مخکښې دې او په هغه کارونو کښې چه د کومو تعلق د تعظیم . ادب او رائ سره وی نو په هغې کښې د پلار حق مخکښې دې

قال علی القاری رحمه الله : و قال الخطابی لم یخص الامهات بالعقوق فان عقوق الاباء محرم ایضا ولکن نبه باحدهما علی الاخر فان بر الام مقدم علی بر الاب الا ان عقوق لعقوق الامهات مزیة فی القبح، و حق الاب مقدم فی الطاعة وحسن المتابعة لرئیه، والنفوذ لامره، وقبول الادب منه (المرقات ص۱۷، ج۸) والله سبحانه وتعالی اعلم.

د تیرشوی سوال په شان یوبل سوال

سوال چه د یو جائز کارنه یو سړې پلار منع کوی او مور ورته د کولو حکم کوی یا د دې په عکس وی نو دا سړې به د کوم یوه دحکم تعمیل کوی ؟ بینوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب : چونکه ښځه په خپله د خاوند محکومه ده د هغې د پاره د خاوند نه خلاف حکم ورکول په خپله ګناه ده او په معصیت کښې اطاعت کول جائز ندی لهذا د مور به نۀ منی . والله سبحانه وتعالی اعلم

د يوې لويشتې نه زياته ګيره کټ کول افضل دی

سوال که د یو سړی ګیره د یوې لویشتې نه زیاته اوږده وی نو د هغې کټ کول بهتر دی او که

پرېښودل يې بهتر دی اګر که هرڅومره اوږده شي . همدارنګه د اتګو نه وېښتة لرې کول څنګه دی؟
بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د يوې لويشتې نه زيات وېښتة کټ کول افضل دی . او د دواړو ژامو د حد فاصل نه په بره وېښتة کټ کول جائز دی اوضروری نهٔ دی.

قال العلامة ابن النجيم رحمه الله وقد صرح في النهاية بوجوب قطع مازاد على القبضة بالضم ومقتضاه الاثم بتركه۔

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله :(قوله وقد صرح في النهاية بوجوب قطع مازاد الخ) قال في النهر وسمعت من بعض اعزاء الموالي ان قول النهاية يجب بالحاء المهملة ولا باس به اه قال الشيخ اسماعيل ولكنه خلاف الظاهر واستعمالهم في مثله يستحب اه وكانه لهذا والله تعالى لم يعول عليه الشيخ علاء الدين مع شدة متابعته للنهر وقال مقتضاه الاثم بتركه الا ان يحمل الوجوب على الثبوت اه قلت وظاهر قول الهدية ولا يفعل لتطويل اللحية الخ يفيد الكراهة تامل (البحر،ص ۲۸۰ ج ۲)والله سبحانه وتعالى اعلم۔

د دعوت په نيت سره په خاروی اخستلو باندې وفاء نه لازميږی

سوال زيد يو ګډ (پسه) په دې نيت واخسته چه ماشومان مې ختم وکړی نو خپلوانو او دوستانو ته به دعوت ورکړم او دا پسه به پکښې ذبحه کړم او په هغوئ به يې وخورم. ليکن د زيد سره د مصالحې و غيره او د نورو مصارفو پيسې نوې نو هغهٔ دغه پسه خرڅ کړو او د هغې پيسې ئې د مسجد په تعمير کښې يا په يوې مدرسې کښې ورکول وغوستل . نو آيا دا کار صحيح دې او که نهٔ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د ماشومانو په ختم قرآن يا د حفظ په مکمل کولو باندې چې خلق کومې طريقې سره رواجی دعوتونه کوی په هغې کښې ډير قباحتونه دی نو د دې وجې نه دغه خاروې خرڅول او د هغې پيسې په مدرسه يا مسجد کښې ورکول زيات بهتر دی او په دې کښې صدقه جاريه او د اشاعت علم ثواب هم ملاويږی . که چيرې په دعوت کښې کوم قباحت نهٔ وی نو بيا هم په دې نيت سره داخستې شوې خاروی ذبح کول ضروری ندی . والله سبحانه وتعالى اعلم

د انبياء کرامو په عصمت باندې د ټول امت اجماع ده

سوال بعضې خلق د انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام د عصمت نه منکر دی او د عصمت په قائلينو باندې طعن کوی او په خپل استدلال کښې دا دلائل پيش کوی

(۱) ﴿وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ﴾

(۲) حضرت ابراهيم عليه السلام په دريو ځايونو کښې دروغ ويلي دی . ﴿بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا﴾

﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ هغه احس

٣ ﴿قَالَ هَذَا رَبِّي هَذَا أَكْبَرُ﴾ ... شرک دی

٤ حضرت موسى عليه السلام قبطي وژلی وو ﴿فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ﴾

٥ د حضرت موسى عليه السلام د ... تعالى د ... ته ... د خپل قوم ته مغرور شو

- ... د دې شبهو په ... استدلال کول صحيح دي او که چېرې صحيح نوي نو د دې څه ... ښه توجيه ...

الجواب باسم ملهم الصواب په عصمت د انبياؤ باندې د ټول امت مسلمه اجماع ده . څوک ... ده د عصمت ... کوي . چه کوم يو شخص داسې قسمه خبره کوي هغه لېونی دی ... د مسلمانانو په ډله کښې ... اسلام ... دی . په عصمت د انبياؤ باندې دلائل پيش کول ... د ... ضرورت دی ... داسې خبره کول دي لکه چه يو احمق سړي د ... وجود په دلائلو ... غواړي

په ... کښې ... ضرورت دی او فهم د پوهه کسانو ... کښې ... کړی

په کومو ... کښې چه ... د ... معصيت او کذب ... سوي دي نو د هغې ظاهري معنى مراد نه ده او ... خلاف ... باندې محمول دي چه هغه کبارو مفسرينو رحمهم الله مفصل بيان کړي دي

قال الملا علي قاري رحمة الله عليه تحت قوله (والانبياء عليهم السلام كلهم منزهون عن الكبائر والصغائر والكفر والقبائح) اي جميعهم الشامل لرسلهم ومشاهيرهم وغيرهم اولهم آدم عليهم السلام على ما ثبت بالكتاب والسنة واجماع الامة (منزهون) اى معصومون (شرح كتاب الفقه الاكبر. ص-)۔

وقال العلامة ظفر احمد العثماني رحمة الله عليه تعالى تحت قوله تعالى (قال اني جاعلك للناس اماما. قال: ومن ذريتي. قال: لا ينال عهدي الظالمين) وفيه دلالة على عصمة الانبياء عليهم الصلاة والسلام عن الكبائر قبل البعثة لان كل ذنب ظلم. لانه تجاوز عن الحق وتعد عليه. وكثير من الذنوب يسمى ظلما في الشرع فدلت الاية على ان نيل النبوة لا يجامع الظلم السابق. فاذا تحقق النيل كما في الانبياء علم عدم اتصافهم حال النيل بالظلم السابق (وبعد اسطر) فالحق ان المراد بالظلم خلاف العدل. فكل نبي معصوم عن الكبائر من الذنوب فما نقل عن الانبياء عليهم الصلاة والسلام مما يشعر بكذب او معصية فما كان منقولا بطريق الاحاد فمردود. وما

كان منقولا بطريق التواتر فمصرف عن ظاهره ان امكن والا فمحمول عن ترك الاولى (احكام القرآن. ص ۱۰. ج ۱)

قال العلامة الشيخ رجب بن احمد رحمة الله تعالى عليه في الطريقة المحمدية (وهم) اى الرسل (مبرؤن) اى مطهرون وملزهون (عن الكفر والكذب مطلقا وعن الكبائر) بجميع انواعها وعن كل فرد من افرادها اجماعا (و) عن (الصغائر المنفرة) بصيغة الفاعل من التنفير التبعيد ممن قامت به (البريقة المحمودية. ص ۲۰۰. ج ۱).

شارح ابوسعيد الخادمی رحمة الله تعالى عليه په دې باندې مفصل بحث كړې دې او د ټولو شبهاتو ازاله ئې كړې ده او د بحث په آخر كښې فرمائي والحاصل ان الانبياء عليهم السلام معصومون عن الجهل فيما يتعلق بالذات والصفات بعد النبوة عقلا واجماعا وقبلها سمعا ونقلا عن الجهل في الامور التبليغية قطعا وشرعا وعقلا وعن الكذب وخلف القول بعد النبوة قصدا وغير قصد شرعا او اجماعا نظرا وبرهانا وقبل النبوة قطعا وعن الكبائر اجماعا وعن الصغائر تحقيقا وعن استدامة السهو والغفلة تدقيقا واستمرار الغلط والنسيان في الامور الشرعية حال غضب ورضا وجد ومزح (البريقة المحمودية. ص ۲۰۰. ج ۱) والله سبحانه وتعالى اعلم.

په استشاره او استخاره كښې تعارض نشته

سوال په قرآن كښې د استشارې حكم دې ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ﴾ - ﴿ وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾.

او په حديث شريف كښې د تردد په وخت د استخارې ترغيب دې او په عدم استخارې باندې ترهيب هم دې . نو پوښتنه دا ده كه چيرته د مشورې وركولو والا د مشورې خلاف په استخاره كښې رجحان پيدا شو نو ترجيح به څه شي لره وي. د مشورې وركونكي مشورې لره او كه د استخارې نه پيدا شوي د زړه رجحان لره

الجواب باسم ملهم الصواب استشاره او استخاره دواړه مامور به دي . ليكن د اول استشارې امر زيات مؤكد دې . لهذا د دې دواړو نه د يوې په ثمره باندې هم عمل كول ضروري ندي . همدارنګه د استخارې نه بعد چه كوم څيز راجح شي نو د هغې نافع كيدل ضروري ندي . بلكه د استخارې حاصل دا سې دې لكه څومره چه د دعاء ماثوره نه مفهوم دې . يعنې چه كوم امر مفيد وي نو الله تعالى به د هغې اسباب پيدا كړي او د دويم امر اسباب به ختم كړي او موانع به پيدا كړي او بس. همدې عقيدې لرلو سره استخاره كول پكار دي . او كه چرې د استخارې نه پس هم د دواړو كارونو اسباب موجود وو نو سائل چه كوم كار وكړو نو به هغې كښې به خير وي

ان شاء الله تعالى

د دې تشريح نه وروستنه دا معلومه شوه چه په استشاره او استخاره کښې تعارض نشى کيدې . ځکه که چيرې د زړه د ترجيح نه خلاف هم عمل وکړې شى نو دا د استخارې خلاف نشو بلکه دا هم د استخارې په مدد سره وکړې شو . والله سبحانه وتعالى اعلم

په اسماء حسنى کښې کوم نومونه د الله تعالى سره خاص دى

سوال : نن صبا دا عام رواج دې چه د اسماء حسنى نه د يو نوم اضافت (عبد) ته وکړې شى او نومونه پرې اېښودلې شى او بيا د غفلت د وجې نه مسمى ته بغير د عبد د اضافت نه آواز کولې کيږى حالانکه بعضې نومونه د الله تعالى پورې خاص دى مثلا رزاق . رحمن . وغيره

په دې باره کښې زهٔ د خپل کوشش مطابق د فيض البارى . ص ۴۲۳ . ج ۴ . حواله ليکم نو تحقيق اوفرمايئ چه کوم کوم نومونهد الله تعالى سره خاص دى چه په هغې سره مسمى ته بغير د عبد د نسبت نه آواز کول ګناه کبيره ده . او که د دې نه علاوه نور اسماء حسنى وى نو هغه هم د تحقيق سره اوفرمايئ . همدارنګه د دې اسماؤ په آخر کښې يا په اول کښې محمد يا احمد ليکل څنګه دى؟ بينوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب : په هره ژبه کښې اسماء په درې قسمه باندې استعماليږى -

(۱) مختص باالله مفردا و مضافا - (۲) غير مختص مفردا و مضافا - (۳) مختص مفردا لا مضافا

مثلا په فارسئ کښې (خدا) لفظ مفردا مختص باالله تعالى دې مګر مضافا مختص ندې. بلکه په غير باندې ئې هم اطلاق کيدې شى او دا په اردو کښې په هر حال کښې مختص په الله تعالى سره دې . نو د دې نه معلومه شوه چه په دې کښې د اهل لسانو عرف معتبر دې .البته چه د کومو نومونو اشتقاق په غير کښې نهٔ موندې کيږى لکه خالق او رازق، نو د دې متعلق د عرف معلومولو ته ضرورت نشته . داسې قسمه اسما په هيڅ عرف کښې هم غير الله ته نهٔ شى وئيلې کيدې . چه د کومو اسماؤ مبداء د اشتقاق په غير الله کښې موندې شى نو د هغې د استعمالولو د جواز د پاره به مفردا او مضافا عرف ته کتلې شى او چونکه يو کم سل اسماء حسنى د عربئ ژبې دى نو له همدې کبله د دې نه هغه اسماء چه دکومو د اشتقاق مبداء په غير عربې کښې موندې کيږى نو د هغې د غير د استعمال د پاره به د عربو عرف ته کتلې شى

دا تفصيل د اسماؤ د اطلاق په باره کښې دې . د چا د نوم اېښودلو په صورت کښې حذف د مضاف په هر حال کښې جائز دې . او دا د دې وجې نه چه د متکلم په مراد کښې داخل دې . خو سره د دې نه هم له کراهت نه خالى ندې

د ناسنته امامت کول صحیح دی

سوال که چیرې یو سنت شوې مولوی صاحب فی الحال د څه وجې نه ناسنته شی نو هغه مولوی صاحب د جمات پیش امام جوړیدلې شی او که نهٔ ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د داسې انسان امامت صحیح دې - والله سبحانه وتعالی اعلم -

د بالغ او نوې مسلمان د سنت حکم

سوال : د مذهب حنفی مطابق د څومره عمر د ماشوم سنت کول پکار دی ، که چیرې والدینو په سنتولو کښې سستی وکړه او ماشوم د نهو یا لسو کالو شو نو آیا دا ماشوم به سنتولې شی او که نه ؟ او په دې عمر کښې د ستر پټول فرض دی او که نهٔ ؟ همدارنګه د بالغ او نوې مسلمان حکم هم اوفرمایئ ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : امام ابو حنیفة رحمه الله د سنت د پاره څه خاص موده نده ښودلې ، کله چه هم اصحاب رائ د ماشوم د سنت فیصله وکړه نو هغه ئې بهتر وخت دې . او په نن صبا زمانه کښې خو د سنت طریقه ډیره آسانه او بې ضرره شوې ده او په نوې نوې دوایانو سره زخم هم زر جوړیږی نو له همدې کبله دا چه څومره په تندئ سره وشی نو بهتره خبره ده . او که چیرې والدینو په سنت کښې غفلت وکړو او ماشوم د نهو لسو کالو شو نو بیا هم د دې ماشوم سنت کول پکار دی اګرچه بغیر له ضرورت نه د خلورو کلونو د ماشوم ستر کتل جائز ندی لیکن د دوایئ د پاره ورته کتل جائز دی او سنت کول خو د شعائرو د اسلام څخه دی نو د دې د پاره خو ستر ښکاره کول په طریق اولی سره جائز دی . د بالغ او نوی مسلمان هم همدغه حکم دې .

البته که په خپله ئې کولې شی یا ئې په خپله ښځه یا په وینځه کولې شی نو د نورو خلقو په مخامخ بیا ستر ښکاره کول جائز ندی .

او که د څه وجې نه د سنت کولو تحمل ئې نوی نو بیا به ترې دا حکم ساقط شی

قال الامام الکاسانی رحمة الله تعالی علیه : فلاباس ان ینظر الرجل من الرجل الی موضع الختان لیختنه و یداویه بعد الختن و کذا اذا کان بموضع العورة من الرجل قرح اوجرح او وقعت الحاجة الی مداواة الرجل - (بدائع الصنائع ص ... ج ...)

وقال الامام قاضیخان رحمة الله تعالی علیه : و کذا للحجام ان ینظر الی فرج البالغ عند الختان (وبعد سطرین) وینبغی ان یختن الصبی اذا بلغ تسع سنین فان ختنوه وهو اصغر من ذالک لحسن وان کان فوق ذالک قلیلا قالوا لا باس به وابو حنیفة رحمة الله تعالی علیه لم یقدر وقت الختان وقال الشمس الائمة الحلوانی رحمة الله تعالی

وقت الختان من حين يحتمل الصبي ذالك الى ان يبلغ (الخانية بهامش الهندية ص ،، ج ٣)

وقال ايضا: وكذا المجوسي اذا اسلم وهو شيخ ضعيف اخبر اهل البصر انه لا يطيق الختان يترك (حوالہ بالا)

وقال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى عليه: عن ابي حنيفة رحمة الله تعالى عليه لصاحب الحمام ان ينظر الى العورة وحجته الختان وقيل في ختان الكبير اذا امكنه ان يختن نفسه فعل وان لم يفعل الا ان لا يمكنه النكاح اوشراء الجارية والظاهر في الكبير ان يختن ويكفي قطع الاكثر-

وقال العلامة ابن عابدين رحمة الله عليه: (قوله عن ابي حنيفة) هذا غير المعتمد لما في شرح الوهبانية و ينبغي ان يتولى طلي عورته بيده دون الخادم هو الصحيح لان ما لا يجوز النظر اليه لا يجوز مسه الا فوق الثياب و عن ابن مقاتل لا باس ان يطلي عورة غيره بالنورة كالختان ويغض بصره اه-

قلت: وفي التتارخانية قال الفقيه ابو الليث هذا في حالة الضرورة لا غير (قوله وقيل الخ) مقابل لقوله و حجته الختان فانه مطلق يشمل ختان الكبير والصغير وكذا اطلقه في النهاية واقره الشراح والظاهر ترجيحه و لذا عبر عن التفصيل بقيل (قوله الا ان لا يمكنه النكاح) كذا رؤيته في المجتبى والصواب اسقاط لا بعد ان كما وجدته في بعض النسخ موافقا لما في التتارخانية وغيرها والمراد ان لا يمكنه ان يتزوج امرءة تختنه اويشترى امة كذالك (قوله والظاهر في الكبير انه يختن) الظاهر ان يختن مبني للمجهول اي يختنه غيره فيوافق اطلاق الهداية تامل (ردالمختار ص ،،، ج ۵)

وقال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى عليه: صبي حشفته ظاهرة بحيث لوراٰه انسان ظنه مختونا ولا تقطع جلدة ذكره الا بتشديد الميه ترك على حاله كشيخ اسلم وقال اهل النظر لا يطيق الختان ترك ايضا (ردالمختار ص ،،، ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم

د تللو په وخت اول قدم نيغ اوچتول

سوال آيا د تللو په وخت اول قدم نيغ اوچتول سنت دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . څماد نظرنه خو په كتاب كښې نلدې تير شوي . خو د بعضې بزرګانو نه منقول دی او د قواعد كليه نه همدا خبره راووځي. والله سبحانه وتعالى اعلم

د خوراک آداب

سوال د خوراک متعلق د الله تعالى څه حكم دي او د رسول الله ﷺ څه طريقه ده؟ چه د هغې

د خوراک په سلو سره زمونږه خوراک د دین یوه حصه جوړه شي . بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د خوراک آداب دا دی

۱. د خوراک نه مخکښې لاسونه وینځل خو چه وچ نه شی او نه به څه سره لاس ولګوی

۲. د خوراک نه پس لاسونه وینځل او وچول

۳. د خوراک نه مخکښې بسم الله وئیل . او که په ډله کښې وی نو بیا په زوره وئیل بهتر دی

۴. او د خوراک نه پس دعاء ماثوره وئیل - **الحمد لله حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه غیر مکفی ولا مودع ولا مستغنی عنه ربنا (بخاری)**

الحمد لله الذی کفانا وأروانا غیر مکفی ولا مکفور (بخاری)

الحمد لله الذی اطعمنا وسقانا وجعلنا مسلمین (ابوداؤد والترمذی)

۵. د خوراک په وخت پرلت وهل یا ډډه وهل ندی پکار . بلکه یو پښه به خوره کړی او په هغی به کینی او دویمه پښه به ودروی . یا به د پښو په سر کینی . او که څه عذر وی ورته نو چه څنګه ئې خوښوی هغه شان دې کینی -

۶. خوراک کولو ته دې لاندې کینی او یا دې ورته په چوکۍ و غیره باندې کینی . په میز یا کرسۍ باندې خوراک اویا په خپله لاندې کیناستل او خوراک په چوکۍ باندې اینودل . او یا په خپله په کټکی او یا په خر باندې کیناستل او خوراک لاندې اینودل دا ټول صورتونه د خوراک د آدابو خلاف دی . د خوراک کولو والا ځائ او د خوراک د اینودلو ځائ دواړه اوچت او برابر پکار دی

۷. د خوراک د پاسه پیالۍ وغیره څه څیز اینودل نه دی پکار

۸. په دسترخوان باندې پښې اینودل ندی پکار

۹. په دسترخوان باندې بغیر د څه لوښی نه روټۍ اینودل ندی پکار

۱۰. خوراک د خپلې مخې نه کول پکار دی . البته که چیری په دسترخوان باندې ډیر څیزونه پراته وی نو بیا د بل مخې ته لاس کول او ځان له څه څیز راغستل صحیح دی

۱۱. د ګوتو څټل او یا په روټۍ باندې . یا په دسترخوان باندې یا په رومال باندې ګوتې پاکول بې ادبی ده - البته که د ګوتو د څټلو نه پس که د ګوتو وچولو ضرورت وی نو په بیا رومال باندې بې وچولو کښې څه باک نشته

۱۲. په خوراک کښې عیب نه راویستل . که چیري شوق ئې کیږی نو ودې خوری اوکه نه نو چپ دې دی

۱۳. که چیري د لاس نه نوړۍ ګوله وغورزیږی نو صفا دې کړی او ودې خوری

۱۴. په ښی لاس باندې خوراک کول

۱۵، په مړه خیټه باندې خوراک نه کول
۱۶، زیات ګرم خوراک نه کول
۱۷، خوراک نه بویه ول
۱۸، خوراک له به پوکې نه ورکوی

قال العلامة الحصکفی رحمة الله تعالی علیه: (قوله وغسل الیدین قبله) لنفی الفقر ولا یمسح یدیها بالمندیل لیبقی اثر الغسل وبعده لنفی اللمم ویمسحه (الی قوله) ویکره وضع المملحة والقصعة علی الخبز ومسح الید او السکین به ولا یلعقه بالخوان ولا بأس بالاکل متکئا او مکشوف الراس فی المختار (الی ان قال) وان لا یترك لقمة سقطت من یده فانه اسراف بل ینبغی ان یبتدیء بها ومن السنة ان لا یأکل من وسط القصعة فان البرکة تنزل فی وسطها وان یأکل من موضع واحد لانه طعام واحد بخلاف طبق فیه الوان الثمار فانه یأکل من حیث شاء لانه الوان بکل ذالك ورد الاثار ویبسط رجله الیسری وینصب الیمنی ولا یاکل الطعام حارا ولا یشمه وعن الثانی انه لا یکره النفخ فی الطعام الا بما له صوت نحو اف وهو محمل النهی ویکره السکوت حالة الاکل لانه تشبه بالمجوس ویتکلم بالمعروف (الی ان قال) ولعق القصعة وکذا الاصابع قبل مسحها بالمندیل وتمامه فی الدار المنتقی والبزازیة وغیرها (ردالمحتار ص۲۲، ج۵)

عن وهب بن کیسان عن عمر بن ابی سلمة رضی الله تعالی عنه قال کنت فی حجر رسول الله صلی الله علیه وسلم وکانت یدی تطیش فی الصحفة فقال لی یا غلام سم الله وکل بیمینك وکل مما یلیك- (مسلم ص۱۷۲، ج۲)

عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ما عاب رسول الله صلی الله علیه وسلم طعاما قط کان اذا اشتهی شیئا اکله وان کرهه ترکه (مسلم، ص۱۸۷، ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم-

د څښاک آداب

سوال د څښاک آداب څه دی ؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب دا لاندې د خوراك آدبونه دی:
(۱) د اوبو څکلو نه مخکښې بسم الله و ئیل
(۲) په ښی لاس باندې څښل
(۳) کم نه کم په درې ساګانو باندې څښل
(۴) په څښلو کښې د لوښی نه بهر سا اغستل
(۵) د خوراک او څښاک په څیزونو کښې داسې پوکې وهل چه آواز پکښې پیدا شی دا هم

صحیح ندی. البته د یخولو د پاره بغیر آوازه ډیوکی ورکول بعضي فقهاؤ ﷭ څه ګنجائش فرمائيلي دي مګر بیاهم د کراهت طبعیه څخه خالی ندي

عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اذا اکل احدکم فلیاکل بیمینه واذا شرب فلیشرب بیمینه فان الشیطان یاکل بشماله ویشرب بشماله (مسلم ص۱۷۲ ج۲)

وعن انس رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یتنفس فی الاناء ثلاثا و فی روایة فی الشراب ثلاثا (مسلم ص۱۷۳ ج۲)

وعن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی ان یتنفس فی الاناء او ینفخ فیه هذا حدیث حسن صحیح (ترمذی ص۱۱ ج۲)

وترجم الامام النووی رحمة الله تعالی علیه لمثل هذه الاحادیث. باب کراهة التنفس فی نفس الاناء واستحباب التنفس ثلاثا خارجا الاناء. ثم قال هذان الحدیثان محمولان علی ما ترجمناه لهما فالاول محمول علی اول الترجمة والثانی علی آخرها۔

وقال ایضا: (قوله فی الحدیث الثانی کان یتنفس فی الاناء او فی الشراب) معناه فی اثناء شربه من الاناء او فی اثناء شربه الشراب۔ والله اعلم۔ (شرح مسلم للنووی ص۱۷۳ ج۲)

قال العلامة ابن عابدین رحمة الله تعالی علیه: وعن الثانی انه لا یکره النفخ فی الطعام الا مما له صوت نحو اف وهو محمل النهی (ردالمحتار ص۲۲۱ ج۵)

قال فی الهندیة: وفی النوادر قال فضل بن غانم سألت ابا یوسف رحمة الله تعالی علیه عن النفخ فی الطعام هل یکره قال لا الا ماله صوت مثل اف وهو تفسیر النهی ولا یؤکل طعام حار ولا یشم ولا ینفخ فی الطعام والشراب (عالمگیریة ص۳۴۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د امام صاحب رحمه الله د دي قول مطلب چه: (اذا صح الحدیث فهو مذهبی)

سوال د غیر مقلدینو د اعتراضاتو نه یو دا اعتراض هم دي چه د امام ابو حنیفه ﷫ قول دي چه زما کوم یو قول د صحیح حدیث نه خلاف وی نو هغه پریږدئ «**اذا صح الحدیث فهو مذهبی**». یعنی کله چه صحیح حدیث موجود وی نو هغه زما مذهب دي. نو چه امام صاحب په خپله دا فرمانی نو بیا حنفیان ولي د هغوئ په خلاف الحدیث قول باندي عمل کوی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د حضرت اماما صاحب دا قول په دوؤ شرطونو باندي مشروط دي

یعنی چه هغه عقلا او نقلا ثابت وی

(۱) دا ارشاد د مجتهد د پاره دې ځکه چه ناسخ او منسوخ او د حدیث صحت او سقم معلومول او په ادلو متعارضه کښې تطبیق یا ترجیح صرف د مجتهد کار دې

(۲) کله چه ظن غالب وی چه دا حدیث امام صاحب ته ندې رسیدلې او که چیرې امام صاحب ته د رسیدلو باوجود هغه دا نوی قبول کړې نو بیا دا حدیث د امام صاحب په نزد صحیح ندې . او یا به هغه سره د دې نه څه قوی دلیل موجود وی ، نو بیا په داسې صورت کښې د امام صاحب رحمه الله مذهب بدیهی البطلان دې .

قال العلامة ابن عابدین رحمة الله تعالی علیه: قلت ولا یخفی ان ذالك لمن کان اهلا للنظر فی النصوص و معرفة محکمها من منسوخها (رسائل ابن عابدین ص۳) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د ښځو د پاره نکریزی لګول مستحب دی

سوال آیا نکریزې لګول سنت دی . بعضې خلق وائی چه د ښځو لاس بغیر د نکریزو نه د سړو سره مشابهت دې نو آیا دا خبره ئې صحیح ده ؟ بینوا توجرو .

الجواب باسم ملهم الصواب : د ښځو د پاره په لاس نکریزی لګول سنت دی . او د نکریزو نه لګول د سړو سره مشابهت دې د دې وجې د ښځو لاس بغیر د نکریزو نه پاتې کیدل مکروه دی

عن عائشة رضی الله تعالی عنها ان هند بنت عتبة قالت یا نبی الله بایعنی فقال لا ابایعك حتی تغیری کفیك لکانهما کفا سبع (رواه ابوداؤد)

وعنها قالت اومت امرءة من وراء ستر بیدها کتاب الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقبض النبی صلی الله علیه وسلم یده فقال ما ادری اید رجل ام ید امراءة قالت بل ید امرءة قال لو کنت امراة لغیرت اظفارك یعنی بالحناء راواه ابوداؤد والنسائی (مشکوة ص۳۸۳)

عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال لعن النبی صلی الله علیه وسلم المخنثین من الرجال والمترجلات من النساء وقال واخرجوهم من بیوتکم (رواه البخاری)

قال العلامة علی قاری رحمة الله تعالی علیه: (اخرجوهم من بیوتکم) ای من مساکنکم او من بلدکم قال فی شرح السنة: روی عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم اتی بمخنث قد خضب یدیه ورجلیه بالحناء فامر به فنفی الی النقیع. قلت فی شرعة الاسلام: الحناء سنة للنساء ویکره لغیرهن من الرجال الا ان یکون لعذر لانه تشبه بهن. مفهومه ان تخلیة النساء عن الحناء مطلقا مکروه ایضا لتشبههن بالرجال وهو مکروه

المرقاة ص۲۰ ج۸) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د قرآن تلاوت د استماع نه افضل دې

سوال د قرآن کریم په تلاوت کولو کښې زیات ثواب دې او که دغې په استماع (آوریدلو) کښې؟ په بهار شریعت کښې دی چه د قرآن مجید آوریدلو کښې د تلاوت او نفلو نه زیات ثواب دې (غنیه، بهار شریعت ص ۴۹۷ ج ۳) پدې هکله تحقیق څه دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال فی الغنیة و استماع قرآن افضل من تلاوته و کذا من الاشتغال بالتطوع لانه یقع فرضا والفرض افضل من النفل (کبیری ص۴۹۷) د دې عبارت نه ثابته شوه چه د استماع د افضلیت قول د دې په فرضیت باندې مبنی دې او راجع دا ده چه په خارج د لمونځ کښې استماع فرض نده نو لهذا افضلیت هم پاتې نهٔ شو

همدارنګه د «الفرض افضل من النفل» قاعده هم قاعده کلیه نده، مثلا د سلام جواب واجب دې خو ابتداء د سلام سنت ده، خوسره د دې د سلام په ابتداء کښې باالاتفاق ثواب زیات دې، نو څنګه چه د جواب فضیلت په ابتداء د سلام باندې موقوف دې دغه شان د استماع فضیلت په تلاوت باندې موقوف دې نو په دې لحاظ هم په تلاوت کښې دوه ثوابونه شو یو د تلاوت کولو او دویم د استماع د سبب د جوړیدلو په جمع الفوائد کښې د مسنداحمد رحمة الله تعالی علیه روایت نقل کوی چه: **من استمع الی آیة من کتاب الله کتبت له حسنة مضاعفة ومن تلاها کانت له نورا یوم القیامة (جمع الفوائد ص۱۳۰ ج۲)**

د دې حدیث نه هم د تلاوت فضیلت په سماع باندې ثابت شو. د قرآن په سماع باندې صرف د حسنه مضاعفه وعده ده او په تلاوت باندې حسنه مضاعفه سره د نور هم وعده ده۔

په (احیاء) کښې د حضرت علی رضی الله عنه نه منقول دی چه کوم شخص په لمونځ کښې په ولاړه باندې د قرآن تلاوت کوی نو هغه ته به هر حرف باندې سل نیکئ ملاویږی او کوم شخص چه په ناسته باندې په مانځه کښې تلاوت کوی نو د هغهٔ د پاره پنځوس نیکئ دی. او کوم شخص چه بغیر د مانځه نه صرف په اودس کښې تلاوت کوی نو د هغهٔ د پاره پنځه ویشت (۲۵) نیکئ دی. او چا چه بغیر د اودس نه تلاوت وکړو نو هغه ته لس نیکئ ورکول کیږی او کوم شخص چه تلاوت نه کوی او صرف په توجه سره ئې آوری نو هغهٔ ته به یو یو حرف باندې یوه نیکی ورکول کیږی (احیاء ص ۲۷۵ ج ۱)

په دې کښې تصریح د ده چه د تلاوت ثواب د استماع نه زیات دې – والله سبحانه وتعالی اعلم

د ښځې د پاره بېل کور

سوال که چیرې ښځه د خاوند نه د جدا کور او جدا اوسیدو مطالبه کوی . او د خاوند والدین به دې باندې نوی خوشحاله او هغهٔ ته د دې خبرې هم اندازه وی چه په داسې کیدو «یعنی په خان ته کور» کښې په والدینو باندې په خرچ کولو کښې به کمی راشی نو په داسې صورت کښې دې سره ته څه کول پکار دی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ښځې ته د مستقل کور دمطالبې حق شته مگر د مستقل کور حق ورته نشته بلکه داسې یوه کمره هم کافی ده چه په هغې کښې د بل چا څه دخل نوی او ښځې ته په خان له کمره ورکولو کښې د ډیرو مفاسدو نه حفاظت راځی . نو په دې وجه هم د دې دا مطالبه پوره کول ضروری دی . او والدینو سره ښه سلوک کول او د خپل وس مطابق هغوئ سره تعاون کول پکار دی

قال العلامة التمرتاشي رحمة الله تعالى عليه: وبيت منفرد من دار له غلق. وقال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى عليه: وبيت منفرد اي يبات فيه وهو محل منفرد معين قهستاني والظاهر ان المراد بالمنفرد ما كان مختصا ليس فيه ما يشاركها به احد من اهل الدار (ردالمحتار، ص ۳، ج ۲) والله سبحانه وتعالى اعلم-

د مختلفو نفلونو ثواب په اختلاف د مواقعو سره مختلف کیږی

سوال چه نفلی حج وکړې شی یا دهغې د مصرف په اندازه پیسې په مسکینانو باندې خرچ کړې شی نو آیا د دې دواړو ثواب برابر دې او که فرق شته پکښې شته ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د متصدیقینو په احوالو سره او د ضرورت او د موقعې په اعتبار سره ثواب مختلف کیږی

قال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى عليه: حج الغني افضل من حج الفقير، حج الفرض اولى من طاعة الوالدين بخلاف النفل بناء الرباط افضل من حج النفل واختلف في الصدقة ورجح في البزازية افضلية الحج-

وقال العلامة ابن عابدين رحمة الله تعالى عليه: (قوله ورجح في البزازية افضلية الحج) حيث قال الصدقة افضل من الحج تطوعا كذا روى عن الامام لكنه لما حج وعرف المشقة افتى بأن الحج افضل ومراده انه لو حج نفلا وانفق الفا فلو تصدق بهذه الالف على المحاويج فهو افضل لا ان يكون صدقة فليس افضل من انفاق الف في سبيل الله والمشقة في الحج لما كانت عائدة الى المال والبدن جميعا فضل في المختار على الصدقة اه قال الرحمتي والحق التفصيل فما كانت الحاجة فيه اكثر والمنفعة فيه اشمل فهو الافضل كما ورد حجة افضل من عشر غزوات

وورد عکسه فیحمل علی ما کان انفع فاذا کان اشجع وانفع فی الحرب فبهادته افضل من حجه او بالعکس فحجه افضل و کذا بناء الرباط ان کان محتاجا الیه کان افضل من الصدقة و حج النفل و اذا کان الفقیر مضطرا او من اهل الصلاح او من آل بیت النبی صلی الله علیه وسلم فقد یکون اکرامه افضل من حجات و عمر وبناء ربط کما حکی فی المسامرات عن رجل اراد الحج فحمل الف دینار یتأهب بها فجاءته امرأة فی الطریق و قالت له انی من آل بیت النبی صلی الله علیه وسلم وبی ضرورة فافرغ لها ما معه فلما رجع حجاج بلدته صار کلما لقی رجلا منهم یقول له تقبل الله منك فتعجب من قولهم فرأی النبی صلی الله علیه وسلم فی نومه وقال له تعجبت من قولهم تقبل الله منك قال نعم یارسول الله قال ان الله خلق ملکا علی صورتك حج عنك وهو یحج عنك الی یوم القیامة باکرامك لامرأة مضطرة من آل بیتی فانظر الی هذا الاکرام الذی ناله لم ینله بحجات ولا ببناء ربط (ردالمحتار ص ۳۰، ج۲)

والله سبحانه وتعالی اعلم۔

میلمه سره په خوراک کښې شرکت کول

سوال: آیا د کوربه له میلمه سره یوځای دوډۍ خوړل مستحب دي او که بغیر د شرکت نه د هغۀ خدمت کول؟ او په دې دواړو کښې بهتر صورت کوم یو دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اصل د میلمه خدمت کول دی. که چیرې میلمانۀ زیات نوی او د هغوئ سره په ناسته کښې د هغوئ په خدمت کښې څه خلل نۀ راځی نو بیا ورسره په ناسته کښې څه حرج نشته یعنی مستحب پکښې خدمت دې، کیناستل ورسره مستحب ندی.

قال فی الهندیة: ینبغی ان یخدم المضیف بنفسه اقتداء بابراهیم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام کذا فی خزانة المفتین واذا دعوت قوما الی طعامك فان کان القوم قلیلا فاجلس معهم فلا بأس لان خدمتك ایاه علی المائدة من المروءة و ان کان القوم کثیرا فلا تقعد معهم و اخدمهم بنفسك ولا تغضب علی الخادم عند الاضیاف ولا ینبغی ان تجلس معهم من یثقل علیهم فاذا فرغوا من الطعام واستأذنوا ینبغی ان لا یمنعهم (عالمگیریة ص ۳۰۰، ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د مالی حقوقو ادا کولو طریقه

سوال عبدالله په تیره زمانه کښې ډیرې غلا گانې کړې دی چه په هغې کښې د وقف او لقطې مال هم شامل دې او اوس هغۀ توبه کړې ده او د کومو خلقو نه چه ئې غلا کړیده په هغوئ کښې د اکثرو خلقو تعلق د تبلیغی جماعت سره دې نو د هغوئ نه خو پوره امید دا دې چه هغوئ به معاف

کړي وي . او د نورو خلقو په باره کښي دوا ړه احتماله دي . ډېر خلق داسي دي چه د هغوئ بالکل معلومات نه کېږي چه څرنه دي . او عبد الله مسکين دي او د غلا نه ئې مکمله توبه کړي ده . نو پوښتنه داده آيا صرف توبه کافي ده او که اموالو ادا کول او د هغې رسول هم ضروري دي؟ او که څيري ضروري وي نو د هغې څه طريقه کول پکار دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب چه کوم مالکان معلوم دي د هغوئ نه دې معافي وغواړي . او که څېرې معاف يې نکړو نو د خپلې کښې نه دې څه نا څه حصه د قرض خلاصولو د پاره خاص کړي اګر که کمه وي نو په دې طريقې سره به تدريجًا ټول قرضونه خلاص شي . او که بالفرض د لږې حصې جمع کولو ئې هم قدرت نه وي نو دا نيت دې وکړي چه کله هم زما وس وشو نو دا به ادا کوم
او د کوم مال چه ورته معلومات نوي نو د هغې په برابر نه به مذکوره طريقې سره په مسکينانو باندې صدقه وکړي
او د وقف مال حکم . ا دي که چيرې دهٔ د سي وقف نه غلا کړي وي چه د هغې دې به خپله هم حقدار وي نو په دهٔ باندې به اګر څه ضمان نهٔ وي خو دا سخته ګناه ده . او د دې مثال د غنيمت مال دې چه د دې مصرف هم مجاهدين دي مګر د تقسيم نه مخکښې د دې نه په غلا کولو باندې سخت وعيدونه راغلي دي . نو د دې وجې نه دې به نه دې بدترينه ګناه باندې استغفار او توبه کوي او که چيرې دې به خپله مصرف نهٔ وي نو ددې واپس کول هم واجب دي، والله سبحانه وتعالى اعلم

په توبې سره حقوق العباد نهٔ معاف کېږي

سوال آيا په توبې سره د حقوق العباد او حقوق الله نه ګناه کبيره ټول معاف کېږي؟ د حقوق العبادو تفصيل او چه د کومو څيزونو ضايع کول ګناه کبيره ده نو دهغې تفصيل هم بيان کړئ، بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په توبې سره حقوق الله معاف کېږي اګر که کبيره وي . او حقوق العباد بغير د آداء يا د اسقاط څخه نهٔ معاف کېږي ، د چا د ځان . عزت او يا د مال نقصان کول د حقوق العباد به تضيع کښې داخل دي او به دې دري واړو کښې هريوه په ګناه کبيره کښې شامله ده . والله سبحانه وتعالى اعلم

پردئ ښځې ته د خور ويلو حکم

سوال ... يوه ښځه خپله خور جوړه کړې ده ، و ... ورته باجي وايم . نو په دې باره کښې شريعت څه فرمائي؟ اوس زهٔ په غم کښې ځکه يم چه ما به تاريخ اسلام کښې د زيدبن حارثه رضي الله عنه واقعه لوستلې ده چه هغهٔ ته به زيدبن محمد ونيلې کېدو او بيا حضور ﷺ د دې نه منع

اوفرمانیله نو د دې څه وجه وه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د چا په خُلې ونيلو سره خوک د چا په ریښتیا خور نه جوړیږی . شرعا د دې احکام بالکل د نا آشنا او غیرمحرم غوندې دی . او د زیدبن حارثه رضی الله عنه واقعه هم همداسې وه نو د دې وجې نه بیا ممانعت نازل شو . والله سبحانه وتعالی اعلم

په تجارتی کتابونو کښې د صدقې په طور د پیسو لګولو صورت

سوال بنده یو تاجر دې . او یو دینی کتاب چاپ کول غواړی یو سړی راته څه پیسې راکړی دی چه زه ئې د صدقه جاریه په طور د طباعت په مصارفو کښې شاملې کړم . دې د پاره چه هغه ته هم د دې صدقې جاریې ثواب ورسیږی . نو د شریعت په اصولو سره د دې شرکت نوعیت او صورت څنګه کیدل پکار دی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د دې دوه صورتونه کیدې شی :

(۱) چه د هغې صاحب خیر د پیسو برابر کتابونه په اهل صلاح خلقو باندې مفت تقسیم کړې شی

(۲) د کتاب له مصارفو نه دې د هغې په مقدار پیسې کمې کړی او په باقی مصارفو باندې دې منفعت (فائده) واچوی، نو په دې طریقې سره به اخستو والا ته کتاب هم ارزان ملاؤ شی . والله سبحانه و تعال اعلم .

د رنجو لګولو طریقه

سوال رانجۀ څه وخت لګول پکار دی او د لګولو طریق یې څه ده ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب د دې څه مقرر وخت نشته ، البته د ویده کېدو نه مخکښې لګول زیات مفید دی . او طریقه ئې دا ده چه په هره سترګه کښې درې درې سلایانې ولګولی شی . او د ښۍ سترګې نه به ابتداء کوی .

عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال اکتحلوا بالاثمد فانه یجلو البصر وینبت الشعر وزعم ان النبی صلی الله علیه وسلم کانت له مکحلة یکتحل منها کل لیلة ثلاثة فی هذه وثلاثة فی هذه (الترمذی ص ۳۰۰ ج ۱)

عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال کان النبی صلی الله علیه وسلم یکتحل قبل ان ینام بالاثمد ثلاثا فی کل عین (شمائل الترمذی ص ۴) والله سبحانه وتعالی اعلم .

له رسول الله ﷺ سره د مصافحې دعوی

سوال یو سړې دا دعوی کوی چه فلانکی سړی چه د رسول الله ﷺ روضې ته حاضر شو نو

حضور ﷺ هغه سره مصافحه وکړه، نو آیا دا دعوی رښتیا ده او داسې کیدی شي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب چه دغه شخص په خپله دعوی نکوی د دغه د بل چا متعلق دا دعوی قبوله نده او که چیرې هغه دا دعوی په خپله کوی نو د هغې د پاره بیا درې شرطونه دی

(۱) دا سړې به مکمل طور سره دیندار مشهور وی . یعنی ټول اوامر به کوی او د منکراتو نه به پرهیز کوی

(۲) چه د مصافحې په وخت روضې مبارکې سره نور کوم زیارت کونکی موجود وو هغوی د دې واقعې گواهی ورکړی والله سبحانه وتعالی اعلم.

د دعا درې ځله تکرار

سوال ما دا خبره آورېدلې ده چه د دعا په وخت هره یوه دعا درې درې واره لوستل پکار دی . پدې هکله سنت طریقه څه ده ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب درې درې واره لوستل افضل او اقرب الی القبول دی او یوه پیره وئیل خلاف سنت ندی.

عن عبدالله رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یعجبه ان یدعو ثلاثا ویستغفر ثلاثا (ابوداؤد ص۲۰ ج۱)

عن عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه قال کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا دعا دعا ثلاثا و اذا سال سال ثلاثا (حلیة الاولیاء ص۳۰ ج۲)

عن حفصة رضی الله تعالی ان رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم کان اذا اراد ان یرقد وضع یده الیمنی تحت خده ثم یقول اللهم قنی عذابك یوم تبعث عبادك ثلاث مرات (رواه ابوداؤد (مشکوٰة ص۲۱۰)

عن عبدالرحمن بن ابی بکرة قال قلت لابی یا ابی اسمعك تقول کل غداة اللهم عافنی فی بدنی اللهم عافنی فی سمعی اللهم عافنی فی بصری لا اله الا انت تکررها ثلاثا حین تصبح وثلاثا حین تمسی فقال یا بنی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یدعو بهن فانا احب ان استن بسنته رواه ابوداؤد (ومشکوٰة ص۲۱۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

د حرامې غوښې د خرڅولو والا حکم

سوال یو سړې په خپل دوکان کښې حرامه او د مردارو څاروو غوښه خرڅوی او څه حلاله غوښه هم بڼدی . چه کومو خلقو ته معلومه ده نو هغوئ بی ترې نه اخلی مگر اکثرو خلقو ته معلومه نوی او غوښه ترې اخلی . څو واره د پوهولو نه پس هم هغه دا کار نه پرېږدی . نو پوښتنې داده چه

د دې سرې څه حکم دې؟ او همدارنګه د داسې سرې ګټه حلاله ده او که حرامه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې دا سړې دا شنیع عمل کول حلال ګڼی نو مرتد شو او ښځه پرې هم طلاقه شوه . حکومت له پکار دی چه دهٔ ته د توبې تلقین وکړی او د دهٔ تجدید اسلام او تجدید نکاح دې وکړی ، او که چیرې دا سړې ئې حرام ګڼی او کوی ئې نو فاسق دې . په مسلمانانو او په حکومت باندې فرض دی چه د دې سړی د دې ګناه کبیره نه د منع کولو د پاره هر ممکن تدبیر وکړی او که نه نو دا ټول به په ګناه کښې شامل ګڼلې شی .

ترکومې پورې چه دهٔ دا ګناه نوی پرینبنی نو د دهٔ نه غوښه اخستل ناجائز دی . او د دهٔ د حرامې غوښې ګټه هم حرامه ده او د حلالې غوښې ګټه ئې حلاله ده، البته د خلط نه پس تر کومې پورې چه حرامه ګټه ئې جدا کړې نهٔ وی او مالکانو ته ئې رسولې نهٔ وی یا ئې مالکانو ته د متعذر کیدو په صورت کښې صدقه نکړی نو تر هغې پورې دهٔ لره د دې ټول مال نه هر قسمه نفع اخستل حرام دی ،

والله سبحانه وتعالی اعلم .

په معانقه کښې تکرار

سوال : ستاسو فتوی راته ملاؤ شوه تاسو ارشاد فرمائیلې وو چه درې واره غاړه ملاؤول خلاف سنت دی ، او یوه پیره سنت دی ، یو مولوی صاحب فرمائی چه د دې تعامل درې واره دې ، که چیرې په حدیث مبارک کښې د دې د حد څه ذکر وای نو بیا د هغې خلاف کول به خلاف سنت وؤ . مګر داسې نشته نو څکه دې مروجه غاړې ملاوولو ته خلاف سنت وئیل صحیح ندی، لکه چه د رسول الله ﷺ نه دفرضو نه پس صرف دا دعا ثابته ده ، **اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت یاذا الجلال والاکرام** . لیکن نن صبا ډیرې اوږدې اوږدې دعاګانې کولې شی ، اګرچه د دې اوږدو دعاګانو سره ټول علماء متفق ندی مګر دې ته څوک هم بدعت نهٔ وائې نو مروجه غاړه به څنګه خلاف سنت شی ؟ - بینوا توجرو .

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې په غاړه ملاوولو کښې تکرار ثواب وګڼلې شی نو خلاف سنت نه بلکه دا به بدعت وګرځی اوکه نه نو محض رسم به وی چه د سنت نه ثابت ندی . چونکه د دې رواج جوړیدل دې لره د سنت ګڼلو پیش خیمه ده نو څکه د دې نه ځان ساتل پکار دی

د معانقې مفصل او مدلل تحقیق په ، مصافحه او معانقه ، رساله کښې دې چه دا د احسن الفتوی په مسائل شتی کښې مخکښې تیر شوې دې .

او د فرائضو نه پس د اوږدې دعا کولو معمول جوړول بدعت دې . او کله کله د څه خاص حاجت د پاره اوږده دعا غوښتل جائز دی . د دې تفصیل په «زبدة الکلمات فی حکم الدعاء بعد المکتوبات» کښې تیر شوې دې . والله سبحانه وتعالی اعلم

د قضاء حاجت د پاره د ناستې کیفیت

سوال بیت الخلاء کښې د تقاضې په وخت کښاسل حکه پکار دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په چپه پښه باندې زیات زور ورکول پکار دی او د ښي کولاؤ او خلاصي سل پکار دی

عن سراقة بن مالك رضی الله تعالی عنه قال علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخلاء ان نقعد علی الیسری وننصب الیمنی رواه البیهقی بسند ضعیف۔

قال الشیخ الامام محمد بن اسماعیل الصنعانی رحمة الله تعالی علیه : واخرجه الطبرانی قال الحازمی : فی سنده من لانعرف ولانعلم فی الباب غیره قیل: والحکمة فی ذالك انه یکون اعون علی خروج الخارج لان المعدة فی الجانب الایسر .وقیل : لیکون معتمدا علی الیسری ویقل مع ذالك استعمال الیمنی لشرفها (سبل السلام شرح بلوغ المرام ص۳۰ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د حلق عانه نه د عاجز سړی حکم

سوال یو سړې ډیر ضعیف دې او د هغهٔ بی بی هم ژوندئ نده د صحت په وخت کښې خو هغه زیر ناف ویختهٔ کټ کولې شی لیکن د بیمارئ په حالت کښې یی نشی کولې ، نو په دې حالت کښې به دې څه کوی ؟ - بینوا توجروا ۔

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې په پوډرو لګولو باندې قادر وی نو په دې باندې دې صفائی کوی . او که نوی قادر نو بیا دې بل شخص لاس ته دستانه واچوی او صفائی دې ورله وکړی خو حتی الامکان دې د هغهٔ په شرمګاه باندې نظر نکوی

لاباس بان یتولی صاحب الحمام عورة انسان بیده عند التنویر اذا کان یغض بصره وقال الفقیه ابو اللیث هذا فی حالة الضرورة لافی غیرها (عالمگیریة ص۳۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی

ویښتهٔ او نوکونه دفن کول

سوال بعضې بزرګان می لیدلې دی چه هغوئ نوکونه او ویښته کټ کړی نو خان سره ئی په سیلئ یا جیب کښې اچوی او بیا ئې بنه په اهتمام سره دفن کوی – پدې هکله تاسو خپل تحقیق اوفرمایئ - ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دفن کول ئې بهتر دی . که په دفن کولو کښې ښه سهولت وی نو دفن کول ئې پکار دی اوکه نه نو په تکلف سره دفن کول تعمق او غلو ده او دا مذموم دی

مستحب کار اُل ا اعتقاداً او عملا ممنوع دي او په داسې حالت کښې امر مندوب واجب الترک شی . او د دې نه علاوه دا خبره هم معلومیږي چه دا کار کول تشریعی ندې بلکه د سحرنه د بچ کیدو د پاره دې

قال العلامة الطحاوي رحمة الله تعالى عليه معزيا الى الخانية: وروى ان النبي صلى الله عليه وسلم امر بدفن الشعر والظفر وقال لا تتغلب به سحرة بني آدم (طحاوي على المراقي ص٢٠٠) والله سبحانه وتعالى اعلم۔

په عشره د ذی الحجې کښې حجامت نهٔ کول

دا مسئله په احسن الفتوی کښې په ((کتاب الاضحية والعقيقة)) کښې د ((عشره ذی الحجه میں ناخن و غیره نهٔ کاتنې کی حیثیت)) تر عنوان لاندې لیکلې شوې ده

د خوراک نه مخکښې لاس وینځل مستحب دی

سوال د غسل اليدين قبل الطعام متعلق ملا علی قاری رحمه الله په مرقاة کښې په . ص ۳۲۷ ج ۱ کښې لیکلې دی چه هذا مستحب واختلف العلماء في استحباب غسل اليدين والاظهر استحبابه الا ان يتيقن نظافة اليدين من النجاسة والوسخ واستحبابه بعد الفراغ الا ان يبقى على اليد اثر الطعام

او په مرقاة کښې په .ص ۱۸۴ ، ج ۸ . کښې یی لیکلې دی : كان سفيان الثوري رحمة الله تعالى عليه يكره غسل اليدين قبل الطعام۔

علامه ابن عابدين رحمه الله دې ته سنت وئيلې دی . او د امت عمل هم په دې باندې جاری دې . بدې هکله اصل تحقیق څه دې او آیا دا سنت موکده دې او که مستحب ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ر حـ دا معلومیږی چه که د خوراک نه مخکښې د لاسونو د پاک والی یقین هم وی نو بیا هم لا س وینځل مستحب دی . سنت موکده نهٔ دی .

او د علامه ابن عابدين رحمه الله په عبارت کښې : سنت نه مراد سنت شرعیه ندی بلکه مراد سنت عادیه دی چه هغه د مستحب په درجه کښې دی . او بله دا چه علامه ابن عابدين رحمه الله د تیقن نظافت او عدم تیقن څه تفصیل ندې فرمائیلې . له همدې وجې نه د خوراک نه مخکښې لاسونه وینځل مطلقا مستحب دی

قال العلامة ابن عابدين رحمة الله تعالى عليه . (قوله و غسل اليدين قبله) لنفى الفقر ولا يمسح يده بالمنديل ليبقى اثر الغسل و بعده لنفى اللمم و يمسحها ليزول اثر الطعام و جاء انه بركة الطعام ولا بأس به بالدقيق وهل غسل الفم لاكل سنة كغسل يده الجواب لا (رد المحتار ص٢٠٢ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم ۔

که چیرې د یو سړي زمکه د بل سړي له زکې سره یو ځای شي

سوال نه من نه بعرب شپږ ،۲، یا اووه ،۷، کاله مخکښې خما زمکه د ډیر باران د وجې نه د بل سړي د زمکې د پاسه سره د ونو ... ونو غورځیدلې ده او اوس زه په هغې باندې کرونده هم کوم او خما هغه ونې برې هم موجودې دي . او چه زمکه د کوم سړي ده نو هغه تر ننه پورې ماته پوښتنه هم نده کړې . لهذا ماته شرعي مسئله سره د کتابونو د حوالې ولیکئ، چه دا زمکه خما ده او که د هغه بل سړي ده . او آیا خه خپلې ونې اوبوتې او ملبه لرې کړم او زمکه د هغه په حواله کړم ؟ که تاسو ماته صریحه جزئیه ولیکله نو ډیره مهرباني به مو وي، بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا کار غیر اختیاري شوې دې نو لهذا د نقصان په صورت کښې په هیڅ یو سړي باندې څه ضمان نه لا زمیږي

قال في الهندية : لان هذا نقصان حصل لا بفعل احد فليس احدهما بايجاب الضمان عليه اولى من الاخر كذا في فتوى قاضيخان (عالمگيريه ص۳۰، ج۵)

د بره زمکې والا دمالک انتفاع په تاویل د ملک وه نو په هغه باندې به څه ضمان هم نه راځي او خصوصا چه کله د لاندې زمکې مالک څه اعتراض هم نوی کړې

قال العلامة محمد خالد الاتاسي رحمة الله تعالى عليه : ولا يلزمه شئ من اجرة المثل او حصة من الزرع وان كانت معدة للاستغلال او المزارعة لانه استعمالها بتاويل ملك (شرح المجله ص۰، ج۲)-

که چیرې د دوارو زمکو قیمت برابر وي نو په دې زمکه کښې بیا دواړه مالکان یو شان شریک دي . او که چیرې د یوې زمکې قیمت زیات وي نو د زیاتې قیمتي زمکې مالک به د کم قیمت د زمکې مالک له دهغه د حصې برابر قیمت ورکړي او پوره مالک به جوړ شي .

نقل في الهندية عن الخانية : شجرة القرع اذا تمتد في ملك رجل فصار يتعلق في حب رجل آخر وعظم القرع فتعذر اخراجه من غير كسر الحب فهي بمنزلة اللؤلؤة اذا ابتلعتها دجاجة ينظر الى اكثر المالين يقال لصاحبا لاكثر ان شئت اعطيت الآخر قيمة ماله فيصير لك وان ابى بيع الحب عليهما ويكون الثمن بينهما -

وبعد اسطر : ولو ادخلت دابة رجل راسها في قدر اخر ولا يمكن الاخراج الا بالكسر كان لصاحب الدابة ان يتملك الآخر بقيمته و نظائرها كثيرة لصاحب اكثر المالين ان يتملك الاخر بقيمته فان كانت قيمتهما على السواء يباع عليهما ويقتسمان الثمن (عالمگيرية ص۳۰، ج۵)

و قال العلامة محمد الاتاسي رحمة الله تعالى عليه : لوسقط جبل بما عليه من الروضة على الروضة التي تحته يتبع الاقل في القيمة الاكثر يعني صاحب الارض التي قيمتها اكثر يضمن لصاحب الاقل ويتملك تلك الارض

مثلا لو کان قبل الانهدام قیمة الروضة الفوقانیة خمس مائة و قیمة التحتانیة الفا یضمن صاحب الفانیة لصاحب الاولی قیمتها و یتملکها (شرح المجلة ص ج ش) والله سبحانه وتعالی اعلم ـ

په نوکونو کټکولو کښې د ترتیب څه ثبوت نشته

سوال د نوکونو په کټکولو کښې چه کومه طریقه مشهوره ده یعنی چه د ښی لاس او ښی پښې نه شروع کړې شی ، او د ښی لا س د شهادت د ګوتې نه شروع شی او په ابهامه باندې ختم کړې شی او دغه شان د ښې پښې د وړې ګوتې نه شروع کول او د چپې پښې په وړه ګوته باندې ختمول ، نو آیا دا طریقه سنت ده او که مستحب ؟ او آیا د دې څه ثبوت شته ؟ بینوا توجروا ۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د ترتیب څه ثبوت نشته ، او په دې باره کښې چه څومره روایا ت هم منقول دی هغه ټول بې اصله دی ۔

قال العلامة الحصکفی رحمة الله تعالی علیه : قلت وفی المواهب اللدانیة قال الحافظ ابن حجر رحمة الله تعالی علیه انه یستحب کیف ما احتاج الیه ولم یثبت فی کیفیة شیء ولا فی تعیین یوم له عن النبی صلی الله علیه وسلم وما یعزی من النظم فی ذالک للامام علی ثم لابن حجر قال شیخنا انه باطل ـ

وقال العلامة ابن عابدین رحمة الله تعالی علیه : (قوله قلت الخ) و کذا قال السیوطی رحمة الله تعالی علیه و قد انکر الامام ابن دقیق العید جمیع هذه الابیات وقال لا تعتبر هیئة مخصوصة وهذا لا اصل له فی الشریعة ولا یجوز اعتقاد استحبابه لان الاستحباب حکم شرعی لا بد له من دلیل ولیس استسهال ذالک بصواب اه (ردالمحتار ص ج ه)

وقال العلامة ابو السعود رحمة الله تعالی علیه : وقال ابن حجر رحمة الله تعالی علیه فی شرح الشمائل : ولم یثبت فی کیفیته ولا فی تعیین یوم له شیء وما یعزی من النظم فی ذالک لعلی او غیره باطل انتهی (فتح المعین ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم ـ

د داسې ونې حکم چه د کومې نه ګاونډی ته تکلیف وی

سوال زمونږه علاقه ښه آباده اوشنه ده چه پکښې باغونه هم ډیر دی ، د یو بل د املاکو د زیات نزدیوالی د وجې نه څو سواله پیدا کیږی ۔

(۱) د یوې ونې څانګې د بل ملکیت ته واوړی چه د هغې د وجې نه ګاونډی ته په یوه (قلبه) چلولو کښې تکلیف وی

(۲) د ونې څانګې څو کله کله اوچتې وی چه د ... وی (قلبې) چلولو کښې تکلیف څو نه وی لیکن

د گاونډي په زمکه باندې بالکل د پاسه شي نو اکثر هغه واني چه د ... خپلې ونې څانګې ونه ... هم ... څکه چه د دي د وجې نه څما زمکه فصل صحیح نکوي

نو اب په مذکوره صورتونو کښې د ونو مالکانو له د خپلو ونو څانګې کټ کول ضروري دي او که ... بینوا بالتفصیل توجروا عند الله الجلیل فجزاکم الله خیر الجزاء

الجواب باسم ملهم الصواب (۱) د ونو مالکانو له پکار دي چه دونو څانګې وترې یا ئې ترې کټ کړي چه د بل چا ملک ته نه آوري او صاحب بستان (باغ والا) یا د زمکې مالک ونو والا په څانګو کټ کولو باندې مجبوره کولې شي خو په دې شرط که څه بل څه صورت ممکن نه وو

(۲) که چیرې د ونو څانګې په خپل حد کښې وي مګر د هغې دسیوري په وجه فصل ته نقصان وي نو بیا د څانګو کټ کول لازم ندي او که چیرې ضرر بین او فاحش وو چه د هغې د وجې نه بالکل فصل نه کیدلو نو بیا استحسانا د هغې د کټ کولو حکم شته

قال العلامة محمد خالد الاتاسی رحمة الله تعالی علیه: اذا تدلت اغصان شجرة انسان لدار جاره او بستانه فللجار ان یکلفه تفریغ هوائه بالربط او القطع سواء تضرر الجار بذالك ام لا. لانه تصرف فی ملك الغیر بلا اذنه-

وقال ایضا: ان لا تتدلی اغصان شجرته علی هواء دار الجار او ارضه وانما ارتفعت فی هواء بستانه حتی منعت الشمس عن ارض الجار فلا تقطع تلك الشجرة وان تضرر زرع الجار لما سیاتی فی المادة الاتیة من انه لا یمنع احد من التصرف فی ملکه الا اذا کان ضرره لغیره فاحشا وسیاتی فی المادة ... ان الضرر الفاحش ما یمنع من الحوائج الاصلیة ومنع الشمس والریح لیس منها بل من الحوائج الزائدة کما فی جامع الفصولین عن الذخیرة قال: لصار کرجل له شجرة یستظل بها جاره اراد قطعها لا یمنع منه ولو تضرر به جاره اذ رب الشجرة بالقطع یمنعه عن الانتفاع بملکه اه اقول: ان المنفعة الاصلیة من ارض الزراعة او البستان هی الزراعة فکان ما یمنع منها نظیر ما یمنع من السکنی فی البناء علی ما سیاتی فی المادة المذکورة وما بعدها الا ان یجاب بالفرق بین ما یمنع من الانتفاع بها اصلا وبین ما یقللها بان ینتفع بزراعتها مع نوع ضرر تأمل اه-(شرح المجلة ص ... ج ...)

وهکذا حرر الشیخ علی حیدر رحمه الله تعالی (درر الحکام ص ... ج ...) والله سبحانه وتعالی اعلم-

د رسول الله ﷺ د وفات تاریخ

سوال تاسو په (ارشاد العابد) کښې لیکلي دي چه د رسول الله ﷺ د پیدائش تاریخ ۸ ربیع الاول دې او د وفات تاریخ ئې ۲ ربیع الاول دې. په ۱۲ ربیع الاول باندې د پیدائش او د وفات تاریخ ګڼل غلط دي. د دې تاریخ حساب په هیڅ صورت کښې هم نه صحیح کیږي

حالانکه حافظ ابن کثیر رحمه الله د مطالعو د اختلاف په بنا د وفات تاریخ د ۱۲ ربیع الاول

ناول فرمىلي دي ولقد اشتهر هذا الایراد علی هذا القول وقد حاول جماعة الجواب عنه ولا یمکن الجواب عنه الا بمسلك واحد وهو اختلاف المطالع بان یکون اهل مکة راه واهلال ذی الحجة لیلة الخمیس واما اهل المدینة فلم یروه الا لیلة الجمعة ویؤیدهذا قول عائشة رضی الله تعالی عنها وغیرها خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم لخمس بقین من ذی القعدة یعنی من المدینة الی حجة الوداع ویتعین ما ذکرنا انه خرج یوم السبت ولیس کما زعم ابن حزم انه خرج یوم الخمیس لانه قدبقی اکثر من خمس بلاشك ولا جائز ان یکون خرج یوم الجمعة لان انسا رضی الله تعالی عنه قال صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم الظهر بالمدینة اربعا والعصر بذی الحلیفة رکعتین فتعین انه خرج یوم السبت لخمس بقین فعلی هذا انما رای اهل المدینة الجمعة و حسبت الشهور بعدة کوامل یکون اول ربیع الاول یوم الخمیس فیکون ثانی عشر یوم الاثنین. والله اعلم (الهدایة والنهایة ص۰۰ ج۰) بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د اختلاف د مطالعو اعتبار کول په هیڅ صورت کښې هم ممکن نهٔ دی . شرعا ، عقلا ، او دفلکیاتو په یو لحاظ سره هم د دې څه امکان نشته ، د دې تفصیل خما په رساله «الطوالع لتنویر المطالع» کښې دې - که چیرې دا باطل خیال په طریقه د فرض محال سره تسلیم هم کړې شی نو بیا هم د مکې او مدینې په درمیان کښې د دې احتمال ډیر زیات کم دې بلکه دنشت برابرا دې . ځکه چه په بلاد مختلفو کښې د سپوږمۍ د لیدلو قابل کیدلو کښې د اختلاف څلور اسباب دی .

(۱) د ټولو نه زیات مؤثر اختلاف طول البلد .

(۲) په دویمه مرتبه کښې اختلاف عرض البلد۔

(۳) په دریمه مرتبه کښې زیاتوالې د میل شمس.

(۴) د ټولو نه آخری مرتبه کښې زیاتوالې د میل قمر.

مکه او مدینه دواړه په یو طول البلد باندې دی . او د دواړو په عرض البلد کښې فرق صرف ۲ - ۳ دې او د تقویم په حساب سره غرهٔ ذی الحجه ۱۰ ه بیوم خمیس – ۲ مارچ ۶۳۲ ء دې چه په دې کښې میل شمس جنوبی صرف ۷.۱ دې ، نو په دومره معمولی فرق سره د رؤیت اختلاف تصور کول نو خاه خیال دې . او د ټولو نه آخری مؤثر یعنی میل قمر . نو د دې ډیر زیاتیدو په صورت کښې اختلاف رؤیت کیدې شی مګر د مؤثراتو ثلاثو قویو دنیشت والی په صورت کښې صرف د یو مؤثر ضعیف د وجې نه د اختلاف رؤیت امکان ډیر بعید دی او دا امکان بعید بیاهم په همې صورت کښې دې چه میل ډیر زیات وی . او د میل د کمیدو په صورت کښې بیا امکان بعید هم نهٔ وی . د امکان بعید داسې بعید کیدل چه کالعدم یا معدوم وی او په تاریخ معهود کښې د

میل قمر تخریج طول عمل . د دې حساب ما څکه ونکړو چه د دې ضرورت هم نۀ وو او بل دا چه دا بحث محض په فرض محال باندې مبنی دې ، که د مکې او مدینې د درمیان امکان اختلاف رؤیت تسلیم هم کړې شی نو بیا هم حقیقت دا دې چه د اختلاف د مطالعو معتبر کولو یو صورت هم ممکن نۀ دې

د اختلاف دمطالعو د اعتبار نه قطع نظر په بلاد مختلفو کښې د اختلاف رؤیت په صورت کښې متفقه قاعده دا ده چه دیو ښار د رؤیت خبر په بل ښار کښې سره د شرائطو معهوده ورسیږی نو هغه د هغوئ د پاره موجب د عمل دې . د حجة الوداع په موقعه باندې رسول الله ﷺ په خپله وو او حضور ﷺ سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم هم یو جم غفیر هم وه ، لیکن رؤیت مکه د اهل مدینې والو د پاره موجب عمل نۀ شو

په مدینه منوره کښې د غرۀ ذی الحجه بیوم جمعه باندې په دې لاندې وجوهو سره خیال کول بالکل غلط دې

(۱) اعتبار د اختلاف د مطالعو خیال کول بالکل بدیهی البطلان دی

(۲) د مکان او زمان په لحاظ سره د اختلاف د مطالعو اثر له قیاس څخه بعید دې .

(۳) رؤیت هلال د اصول مسلمه څخه خلاف دی

(۴) په ټوله د نیا کښې د مسلم تقویم قمری کښې د دې څه امکان نشته .

(۵) په دې صورت کښې خلورمیاشتې مسلسل د دیرشو ورځو جوړیږی او دا خبره ډیره بعیده ده

(۶) د دې خیال د صحیح والی صرف دا صورت کیدې شی چه اختلاف د مطالعو معتبر کړې شی چه هغه د شرذمه قلیلو نه علاوه د پوره امت مسلمه په اجماع سره غیر معتبر دې . د دې دوارو د یوځائ کولو نه دا نتیجه راووځی چه معاذالله ټول امت په دې سلسله کښې د رسول الله ﷺ یو واضحه فیصله غورځولې ده ، او دا خبره محال ده والامر المستلزم للمحال محال.نو د دې نه بل غټ دلیل څه کیدې شی ؟ **فبأي حديث بعده يؤمنون**

(۷) هغه شرذمۀ قلیله کومه چه د اعتبار اختلاف مطالعو غوندې د بین البطلان وهم او د ناممکن ممتنع او محال خیال کښې گرفتاره ده . د دوئ نه یو سړی هم په خپل زعم باطل باندې د رسول الله ﷺ د داسې صریح فیصلې نه او د دومره غټ دلیل بین نه استدلال ونکړو .

نو د دې نه ثابته شوه چه هغوئ هم د غره بیوم جمعه خیال لره باطل گنی

د عائشې رضی الله تعالی عنها حدیث

د ورځو په شمارلو کښې بعضې وختونه اوله ورځ هم مستقله ورځ شمار کولې شی ، د حدیث او سیرتونو په مباحثو کښې د دې څو مثالونه موندلې شی ، د دې مطابق د شنبې (هفتې) نه تر د

چهارشنبې پورې پنځه ورځې جوړيږي
په دې حديث کښې د حساب دا کثيرالوقوع طريقه اختيار کول محض تاويل د احتمال په صورت کښې نده . بلکه د مفاسدو او ممتنعاتو مذکورؤ د لاندې دا امر لا زم او حقيقت بديهه دې چه د هغې نه د خلاصی ځای نشته .
حاصل دا شو چه په مکې او مدينې دواړو کښې خميس غرهٔ ذی الحجه د تسليم کولو نه سوا څه بلکه چاره ممکنه نده . والله سبحانه وتعالی اعلم

د مصافحې په وخت کښې ګوته نيول

سوال علامه ابن عابدين رحمه الله ليکلي دی چه د مصافحې په وخت ګوته نيول پکار دی . دا محبت پيدا کوی او فرمائيلي يی دی چه دا په حديث کښې راغلې دی . نو آيا داسې څه حديث شته او که نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د علامه ابن عابدين رحمه الله عبارت داسې دې **والسنة ان تكون بكلتا يديه وان يأخذ الابهام فان فيه عرقا ينبت المحبة كذا جاء في الحديث ذكره القهستاني و غيره (ردالمحتار ص۳،ج۵)**
د حديث د يو کتاب حواله هم نشته بلکه د قهستانی حواله ده ، او قهستانی مونږ وکتلو نو په هغې کښې هم د حديث د څه کتاب حواله په لاس رانغله، بيا د حديثو کتابونه وکتلې شو ليکن د دې څه معلومات ونشو - که چير د دې څه ثبوت وای نو د مصافحې غوندې د کثير الوقوع عمل د متعلق کيدو د وجې نه د دې ذکر په ګڼو روايتونو کښې پکار وو ليکن متداول او د حديثو معروف کتابونه د دې د ذکر نه خالی دی. والله سبحانه وتعالی اعلم .

د ويډيو د تصوير حکم

سوال د ويډيو کيمرې په ذريعه باندې د پروګرام او د محفل پوره کارروائی محفوظ کيدې شی . او بيا روستو په وی سی آر باندې د هغې تول مناظر کتلې شی . نو سوال دا دې چه آيا دا په تصوير کښې داخل دی ؟ بعضې علماء کرام دا تصوير نه ګڼی او هغوئ وائی چه دا د قرار او باقی والی صفت نلری ، بلکه دا څه برقی ذرات وی چه هغه يوځائ شی او فورا ختم شی . او بعضې علماء دې ته عکس وائی . د دې اصل تحقيق څه دې ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې باره کښې دا لاندې د فکر کولو قابل دی
(۱) د ويډيو کيمرې په ذريعه باندې د يو محفل منظر کشئ عمل د تصوير سازئ يو ترقی يافته صورت دې . لکه څنګه چه په پخوا زمانه کښې تصويرونه په لاسونو باندې جوړيدل سا د

کمري ایجاد د هغې پخوانئ طریقې نه ترقی وکړه او تصویرونه د لاسونو په ځای په ماشینونو باندې جوړیدل شروع شول چه دا ډیر په آسانئ سره وی . اوس دا عمل نوي نوي سائنسي ایجادونو په نوره ترقئ سره وکړو او د ولاړ تصویر غوندې ئې روان . د منډې د صورت . وغیره صورتونه محفوظ کړل

دا ونیل صحیح ندی چه دې لره بقا او قرار ندې حاصل . که چیرې د دې بقا نوی نو د تې وی په سکرین باندې د چمک. دمک . اوچتیدو او ښکته کیدو والا څیز چه په نظر راځی نو دا څه دی؟

ظاهره خبره ده چه دا هغه تصویر دې کوم چه څه موده مخکښې محفوظ کړې شوې وو . صرف دومره خبره ده چه د کیسټ په پټه کښې داسې کاریګری شوې ده چه په ظاهره باندې پټه خالی ښکاری لیکن ظاهره ده چه دغه تصویر نه ختمیږی . اوکه نه نو د تې وی په سکرین باندې به څنګه ظاهر کیدلو

(۲) که چیرې دا هم تسلیم کړې شی چه دا ختمیږی او دوباره جوړیږی ، او دا عمل په هره لحظه کښې دغه شان جاری وی نو بیا خو په دې کښې نور هم زیات قباحت پیدا شو ځکه چه بیا بیا د تصویر جوړولو ګناه کیږی .

(۳) دې ته عکس ونیل هم صحیح ندی . ځکه چه عکس د اصل تابع وی ، او دې ځای کښې داصل د ختمیدو نه پس هم د هغې تصویر بیا هم باقی وی

(۴) که چیرې د دې عدم بقا او عکس کیدل تسلیم کړې شی نو عوام دقیق فرق نه پیژنی . د دې د ګنجائش ورکولو نه په دې کښې د تصویر سازئ لعنت د جائز والی اشاعت او تبلیغ دی . او د دې نه به د اصل او متفق علیه تصویرونو د جائز والی مفسده هم پیدا شی .

(۵) د تصویر ګڼلو او نه ګڼلو مدار په عرف باندې پکار دی ، په څه سائنسي او فنی تدقیقاتو باندې ندی پکار . او په عرف عام کښې دا تصویر ګڼلې شی . لکه څنګه چه شریعت د صبح صادق او د طلوع او غروب علم په څه دقیق علم او فن باندې ندې موقوف کړې بلکه په ظاهری او آسانو علاماتو باندې ئې موقوف کړې دې .

(۶) که چیرې دا خبره تسلیم کړې شی چه عوام په بیابیا د فرق په اعلان کولو سره پوهه شوی دی او یا به پوهه شی نو بیا هم د عام تصویر نه په دې کښې په څو چنده زیات مفاسد موندې شی . چه د هغې نه یو څو پورته لیکلې شوی دی . ظاهره خبره ده چه د یو شی د جواز یا د عدم جواز فیصله کول د هغه څیز د عام استعمال او ابتلاء د کتو نه بعد کیدې شی د هغې د قلیل او کالعدم استعمال په باندې نشی کیدې

په تیره زمانه کښې بعضې ملحد او ګمراه مفکرینو د سینما کتل په دې وجه جائز ګرځولی ؤ چه دا خو په سینماهال کښې په سکرین باندې ظاهریدو والا د تصویر صورت ندی بلکه عکس دی

نو د دې نه چه نوجوان نسل ته د کومو خرابو او فحش فلمونو کتو ترغیب او زرورتیا ورکړې شوه نو هغه له چا نه هم پټ ندی هغوئ یو حرام او ناجائز فعل جائز وګڼلو . اوس دا حال د بعضې علماؤ په دې نوی تحقیق کښې هم دې چه ویډیو لره چونکه بقا او قرار نشته نو دا تصویر ندې . نو د دې نه هغه خلقو ته کومو چه ټی وی حرام ګڼلو او خان ئې ترې ساتلو نو هغوئ ته په دې ګنجائش ورکولو سره لاره آزاده شوه . او هغوئ د فحاشئ او عریانئ نه د پاکو مناظرو د کتو په بهانه په مزه مزه دخرابو او فحش مناظرو په کتو کښې مبتلا شول . دا محض امکان ندې بلکه وقوع هم ده ځکه چه بعضې دیندارو خلقو د مسلمانانو د مظلو میت او د جهاد د مناظرو د ښودلو او کتلو په بهانه ټی وی او وی سی آر واخستل او بیاد فحش ډرامو او فلمونو کتلو عادت شو . او دغه شان نوجوان نسل هم د دنیا او آخرت د تباهئ قابل جوړیږی . او بعضې مخلص او جهادی تنظیمونو سره منسلک نوجوانان په خپل خان کښې د دین او د جهاد دجذبې پیدا کولو په ځائ په غلطو لارو چارو باندې روان شوی دی چه د هغوئ د وجې نه دین او جهاد ته سخت نقصان رسیږی – **اللهم انا نعوذبك من شرور الفتن ما ظهر منها و ما بطن، انت العاصم ولا ملجا و لا منجاء منك الا اليك. والله سبحانه و تعالى اعلم.**

د خوراک نه مخکښې مالګه څکل

سوال : د خوراک په ابتداء او انتهاء کښې مالګه څکل سنت دی او که نه ؟ که چیرې مسنون یا مستحب نوی نو په شامیه، احیاء العلوم او په نورو معتبرو کتابونو کښې د خوراک په آدابو کښې یې ولې لیکلې دی ؟ د دې څه جواب دې ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د خوراک په ابتداء یا انتهاء کښې د مالګې څکلو په باره کښې چه کوم اقوال په کتب متداوله کښې ذکر کړې شوی دی هغه د صحیح حدیث نه ندې ثابت . په دې باره کښې چه څومره احادیث راغلې دی هغه ټول موضوعی دی . لهذا ابتداء او انتهاء الطعام بالملح ته سنت ونیل تسامح او بې پرواهی ده .

فی حاشیة فردوس الاخبار سید ادامکم الملح وفی اسناده عیسی بن ابی عیسی متروک کما فی التقریب بلا من مجر رحمة الله تعالى عليه وقال الذهبي في ترجمة عيسى ضعفه احمد وغيره وقال الفلاس والنسائي متروك (فردوس الاخبار ص ۳ ج ۲)

وقال العلامة سيوطي رحمة الله تعالى عليه: يا على عليك بالملح فانه شفاء من سبعين داء الجذام والبرص والجنون لا يصح والمتهم به عبد الله بن احمد بن عامر او ابوه فانهما يرويان نسخة عن اهل البيت كلها باطلة (

اللآلی المصنوعة ص ۳۰۰ ج ۱)

وقال الملا علی قاری رحمة الله تعالی علیه : ومنها وصایا علی کلها موضوعة سوی الحدیث الاول وهو یا علی انت منی بمنزلة هارون من موسی غیر انه لانبی بعدی قال الصغانی ومنها وصایا علی کلها التی اولها یا علی لفلان ثلاث علامات (الاسرار المرفوعة ص ۳۸۴)

وقال العلامة الشوکانی رحمة الله تعالی علیه : حدیث یا علی علیك بالملح فانه شفاء من سبعین داء هو موضوع (الفوائد المجموعة ص ۳)

وفی التعلیقات علی الکشف الالهی : علیکم بالملح فانه شفاء من سبعین داء منه الجنون والجذام والبرص قال العجلونی ولعله موضوع ونص ابن القیم علی انه موضوع (الکشف الالهی ص ۳۰ ج ۱) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د مشغولو خلقو سره نزدي د قرآن تلاوت کول

سوال چه یو سړي له مانځه څخه بهر تلاوت کوي نو د هغه تلاوت آوریدل فرض عین دی که فرض کفایه دی ؟ او بعضې وخت د تلاوت په وخت خلق په کار کښې مشغول وی که چیرې هغوئ د تلاوت آوریدو د پاره کار پریږدی نو په کار کښې کمې واقع کیږی . نو په دا سې صورت کښې څه کول پکار دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې باره کښې د حضراتو فقهاؤ رحمهم الله تعالی مختلف قولونه دی . وجوب ارجح او احوط دې او عدم وجوب اوسع او ایسر دې . د ضرورت په وخت په دې عمل کول جائز دی

قال العلامة ابن عابدین رحمة الله تعالی علیه : فی شرح المنیة والاصل ان الاستماع للقرآن فرض کفایة لانه لاقامة حقه بان یکون ملتفتا الیه غیر مضیع فلذلك یحصل بانصات البعض کما فی رد السلام حین کان لرعایة حق المسلم کفی فیه البعض عن الکل (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۱)

قال القاضی ثناء الله القانی فتی رحمة الله تعالی علیه : اختلف العلماء فی وجوب الاستماع والانصات علی من هو خارج الصلوة یبلغه صوت من یقرء القرآن فی الصلوة او خارجها قال البیضاوی : عامة العلماء علی استحبابها خارج الصلوة . وقال ابن الهمام : وفی کلام اصحابنا مایدل علی وجوب الاستماع فی الجهر بالقراءة مطلقا قال فی الخلاصة : رجل یکتب الفقه وبجنبه یقرء القرآن فلا یمکنه استماع القرآن فالاثم علی القاری و علی هذا لو قرء علی السطح فی اللیل جهرا والناس نیام یاثم . وهذا صریح فی اطلاق الوجوب ولان العبرة لعموم

اللفظ دون خصوص السبب. قلت. وقد ثبت عنه صلی الله علیه وسلم انه کان یقرء القرآن بالیل جهرا بحیث یسمع من وراء حجرته وربما یسمعه الجیران۔ روی الترمذی والنسائی وابن ماجه عن ام هانی قالت کنت اسمع قرءة النبی صلی الله علیه وسلم بالیل وانا علی عریشی۔

وروی ابو داؤد والترمذی عن ابن عباس قال کان قراءة النبی صلی الله علیه وسلم علی قدر ما یسمعه من فی الحجرة وهو فی البیت ... وروی البخاری فی الصحیح عن عائشة قالت کنت انام بین یدی النبی صلی الله علیه وسلم ورجلای فی قبلته فاذا سجد غمزنی فقبضت رجلی فاذا قام بسطتها قالت والبیوت یومئذ لیس فیها مصابیح۔ وکان اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم یقرؤن القرآن بالیل والنهار رافعی اصواتهم من غیر نکیر۔ وروی مسلم عن ابی موسی الاشعری ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لقد رأیتنی وانا اسمع لقراءتك البارحة وفی الصحیحین عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انی لاعرف اصوات رفقة الاشعریین حین یرحلون واعرف منازلهم من اصواتهم بالقرآن باللیل وان کنت لم ار منازلهم حین نزلو بالنهار. ولا شك ان بعض الناس فی العسکر کانو نیاما وقت قراءة الاشعریین ــ فهذه الاحادیث تدل علی فساد ما افتی به صاحب الخلاصة واخرج ابن مردویه فی تفسیره قال ثنا ابو اسامة عن سفیان عن ابی المقدام هشام بن زیاد عن معاویة ابن قرة قال سألت بعض مشایخنا من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم احسبه قال عبد الله بن مغفل: کل من سمع القرآن وجب علیه الاستماع والانصات قال انما نزلت هذه الایة اذا قرء القرآن فاستمعوله وانصتوا فی القراءة خلف الامام۔

قلت: واللام فی قوله تعالی اذا قرء القرآن للعهد دون الجنس والمراد به القرآن المقرو لاستماعکم کالامام یقراء حتی یسمع من خلفه والخطیب یقرء للتخاطب والمقری یقرء علی التلمیذ والله اعلم۔ (التفسیر المظهری ص۳۰۰ ج۳) والله سبحانه وتعالی اعلم

د قرآن مجید د ختم مدت

سوال د قرآن مجید تلاوت کول مستحب دی او که واجب؟ همدا رنګه په خومره ورځو کښې د قرآن ختم کول واجب یا مستحب دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د قرآن مجید تلاوت کول مستحب دی. د ختم په موده خاص کولو کښې ئې مختلف اقوال دی. معتمد او راجح قول د یوې میاشتې دې

قال العلامة الحلبی رحمة الله تعالی علیه: قیل الاولی ان یختم القرآن فی کل اربعین یوما وقیل ینبغی ان یختمه فی

السنةمرتين روى عن ابي حنيفة رحمه الله تعالى انه قال من قراء القرآن في السنةمرتين فقد قضى حقه وقيل اذا اراد ان يقضي حقه فليختم في كل اسبوع وقيل في كل شهر مرةوبه افتى ابو عصمة رحمه الله تعالى (حلبی کبیر ص ~)

وقال العلامة الانصاري رحمه الله تعالى: وينبغي لحامل القرآن ان يختم في كل اربعين يوما. وفي السراجية: ينبغي له ان يكون في كل سنة ختمان، وفي اليتيمة: سئل عمر الحافظ عن المروى عن ابي حنيفة رحمه الله تعالى ان من قراء القرآن في السنة مرتين فقد قضى حقه ان المراد به في سنة في عمره ام في كل سنة؟ فقال بل في كل سنة۔ واختلف مشايخنا رحمهم الله تعالى في قارء القرآن اذا اراد ان يقضيه حقه الواجب بقراءته، قال بعضهم: يختم كل اسبوع. وقال الحسن بن زياد رحمه الله تعالى: في كل سنة مرتين. والاحسن فيه ان يقال: الختم في كل شهر مرة، وبه افتى ابو عصمة رحمه الله تعالى (الفتاوى التتارخانية. ص~ ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۸ / جمادی الثانیہ ، سنہ : ۱۴۱۸ ھ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ﴾

د تبليغ شرعی حيثيت او حدود

د دينی تبليغ د فريضې په اداء کولو کښې دافراط اوتفريط تر مينځه د اعتدال د لارې او صراط مستقيم وضاحت



د تبليغ شرعی حيثيت او حدود

دا رساله په حقيقت کښې د دې زمانې په يو ډير اهم ضرورت باندې د فقيه العصر حضرت اقدس دامت براکاتهم د يو ډير مؤثر وعظ خلاصه ده ، چه دا د ډير وخت نه د مستقلې رسالې په صورت کښې شائع کيږی او په اسلام کښې د افراط او تفريط د دې دور د صراط مستقيم د غوښتونکو د پاره د يوې روښانه لارې او هدی للمتقين کار ورکوی ، چونکه دا د فتوې په حيثيت سره هم ډير اهميت لری او خصوصا د علماؤ او طلباؤ د پاره ډير مضبوط او نهايت قوی سند هم دې نو د دې وجې نه مو دا د احسن الفتوې جزء جوړ کړو .

د بحث خلاصه

- د تبليغ اقسام
- د يوې غلطی فهمی ازاله
- د نهی عن المنکر وضاحت او دهغې په ترك كولو باندې وعيد .
- د اوسنی دور دعلماؤ او ديندارو خلقو مداهنت پرستی اودګناهونو په مقابل کښې سستی
- له بې دينه خلقو سره دمحبت په درلودلو سره عذاب .
- له ګناهونو نه د ځان ساتلو په وجه په راتلونکو مصيبتونو باندې د صبر حکم .
- دنهی عن المنکر صحيح او مؤثره طريقه .
- د دينی تبليغ مختلفې شعبې
- د اخلاص نښې نښانې .
- دنيکو اعمالو غلا .
- د الله تعالی په نعمتونو کښې خيانت .
- د ايمان نښې .
- له نيکی کولو نه وروسته هم ويره پکار ده .
- د اهل الله خلقو دآخرت ويره .
- د دينی کارکولو والا خلقو دپاره د شريعت قوانين .
- د تبليغ والا يوه غلطه نظريه .
- له تبليغ والا سره درې خبرې .
- د تبليغ په خاطر په ګناهونو کښې دشريك کيدونکو خلقو مثال .
- د اهل مدارس غلطه نظريه
- د اهل سياست غلطه نظريه .
- يو غلط استدلال اودهغې جواب .
- د تبليغ په وجه دقتال فی سبيل الله په پريښودلو باندې وعيدونه

د فرض تبلیغ دوه قسمونه

کوم تبلیغ چه فرض دې د هغې دوه قسمونه دی (۱) فرض عین. (۲) فرض کفایه
(۱) **فرض عین** کوم تبلیغ چه په هر مسلمان نارینه او زنانه باندې داسې فرض دې لکه د مونځ، روژې او زکوة. که د هغه سرې تعلق د تبلیغ له کوم جماعت سره وی او که نهٔ وی. نو د هغې حکم حضور ﷺ صفا صفا د هر چا د پاره فرمائیلې دې. **من رای منکم منکرا فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه فان لم یستطع فبقلبه وذالك اضعف الایمان-**
(یعنی تاسو نه چه کوم سړې څه ګناه اووینی نو په هغهٔ لازم دی چه هغه په لاس بند کړی که چیرې د لاس طاقت ئې نوی نو په ژبه دې منع کړی او که چیرې د دې طاقت ئې هم نوی نو په زړه سره دې منع کړی، یعنی د استطاعت په وخت دې د دې د ختمولو مکمله اراده وکړی، او دا د ایمان د ټولو نه کمزورې درجه ده).
که چیرې څوک په فرض ادا کولو کښې کوتاهی کوی نو لکه چې په دهٔ کښې ایمان نشته. په دې حدیث کښې د استطاعت د ترتیب ذکر شوې دې، کله چه د ګناه نه د منع کولو طاقت وی نو د هغې په استعمالولو کښې دا ترتیب دې چه ګناه کولو والا دې اول په ژبهٔ سره منع کړې شی، او بیا په ژبه باندې منع کولو کښې هم دا تفصیل دې چه اول دې ښه په نرمئ سره پوهه کړې شی که چیرې په نرمئ سره دا ګناه پریږدی نو بیا غصه او سختی کول جائز ندی که په نرمئ سره کار نهٔ کیږی نو بیا غصه کول پکار دی، او که چیرې په غصه سره هم نهٔ منع کیږی نو بیا دې لاس استعمال کړی. خو په دې کښې هم دا تفصیل دې چه د ضرورت په قدر دې لاس استعمال کړی. مثلا که په یو پړق سره کار کیږی نو دویم پړق ورکول جائز ندی، غرض دا چه په هر صورت چه ممکن وی نو ګناه ختمول پکار دی.
دا خبره د مسلمان د شان نه خلاف ده چه هغه دې یوه ګناه ته ګوری او په هغې دې صبر کوی که چیرې د ګناه په ختمولو کښې یې لږ هم غفلت وکړونو هغه د حدیث په اعتبار سره مسلمان ندې
که چیرې د لاس یا د ژبې په منع کولو کښې د څه غټې فتنې شبه وی نو بیا د لاس او د ژبې استعمالول جائز ندی

د یوې غلط فهمی ازاله

لیکن د دې باوجود به هم دا استحضار لری چه که د دې په منع کولو باندې خما طاقت وای نو ما به دا ضرور ختمه کړې وه او دا به ښه مضبوط اراده لری که آئنده می قدرت پیدا شو نو دا به ختموم. او د (فان لم یستطع فبقلبه) هم همدا مطلب دې. د حدیث شریف د دې جملې په مطلب

کښي ډیر علماء هم په غلط فهمئ کښې مبتلاء دی . هغوئ د دې حدیث شریف مطلب دا کړ . بیان ئې هم کوی چه «په زړه کښې ئې بد ګڼل» په زړه کښې خو بد ګڼل ډیره آسانه خبره ده . د حدیث شریف په الفاظو کښې غور کول پکار دی خکه چه په حدیث کښې د «فقلبه» تعلق د «فليغيره» سره دې یعنی په زړه سره دې ئې ختم کړی او په زړه سره ختمول هغه وخت کیدې شی چه کله ډ اراده وکړې شی چه کله هم طاقت ملاؤ شو نو دا به ختمه وی .

په یو بل حدیث سره هم د دې مطلب تائید کیږی چه زهٔ ئې اوس بیانوم

چه کوم سړې یوه ګناه وه وینی او په لاس یا په ژبه ئې د بندولو قدرت نوی نو که چیرې دې په زړه کښې بیابیا د دې د بندولو اراده د قدرت موندلو په وخت ونکړی نو دې به ډیر غټ مجرم او ګنهګار وی ، او د الله تعالی د عذاب نه به نشی بچ کیدې ، دا نهی عن المنکر ده او دا هغه تبلیغ دې کوم چه فرض عین دې ، نن صبا خو خلقو اسلام یو ډیر خوږ خیز ګرځولې دې . خلقو ته خوږې خوږې خبرې وکړی او په دې سره د ټولې دنیا مبلغ ګڼلې شی .

د ګناهونو نه د منعه کولو د پاره یو انسان لره سزا ورکول هر چا د پاره جائز ندی

په دې حدیث کښې چه کومه مسئله بیان شوې ده هغې ته «تغیر منکر» وئیلې شی چه دا په هر مسلمان باندې د خپل طاقت مطابق فرض دې .

بله یوه مسئله دا ده که چیرې یو انسان د یوې ګناه ارتکاب وکړی مثلا که څوک ډیره وخوړي یا ئې لنډه کړی ، یا یوه ښځه د کور نه بې پردګئ سره بهر ووځی نو داسې کسانو ته داسې قسم سزا ورکول پکار دی چه آئنده څوک د دې ګناه کولو همت ونشی کولې ، دشریعت په اصطلاح کښې دې ته «تعزیر» وئیل کیږی ، لیکن داسې سزا ورکول د هر مسلمان د پاره جائز ندی بلکه دا کار د حکومت دې ، البته د دې زمانې حکومت خو داسې قسم ګنهګار ته سزا نهٔ ورکوی بلکه د داسې ګناه نهٔ کوونکی ته سزا ورکوی ، دغه شان تا یو انسان په یوې ګناه باندې ولیدلو او ستا په منع کولو سره هغهٔ دا ګناه پریښودله او تاته د دې خبرې یقین وی چه دې به څما د تلو نه وروستو بیا ګناه کوی ، نو اوس تاته دا اختیار نشته چه ته آئینده دهٔ لره د دې ګناه نه د بچ کیدو د پاره سزا ورکړې د دې وجې نه چه په تا باندې «تغیر منکر» واجب وو او هغه په دې سره حاصل شو

البته والدین خپل نابالغ اولاد ته ، نارینه خپلې ښځې ته ، یا استاذ خپلو شاګردانو ته ، یا پیر خپلو مریدانو ته د شریعت د حدودو سره سره سزا ورکولې شی خو په دې کښې نیت صحیح ساتل ضروری دی چه د الله تعالی رضا په کښې مقصود وی ، داسې ندی کول پکار چه غصه دې خپل ذاتی غرض باندې راشی او د شریعت په بهانه باندې ترې خپل انتقام واخستې شی

د دې خلقونه علاوه یعنی والدین ، استاذ ، پیر ، بل هیچا ته هم د دې اجازت نشته چه بل چا ته سزا ورکړی . د شریعت حکم دا دې چه داسې کسانو ته دې حکومت سزا ورکړی ، البته که حکومت خپل فرض نهٔ پوره کوی نو بیا نور خلق هم تعزیر ورکولې شی خو په دې شرط چه د څه غټې فتنې شبه نهٔ وی

د نهی عن المنکر اهمیت او د دې په ترک باندې وعیدونه

چونکه نهی عن المنکر ډیر سخت کار هم دې او اهم هم دې نو له همدې کبله د دې په پریښودلو باندې ډیر وعیدونه راغلې دی ، د دې متعلق یو څو حدیثونه او آیتونه وګورئ :

(۱) ﴿وَالْعَصْرِ ۝١ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝٢ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣﴾ .

ترجمه : زمانه ګواه ده چه بیشکه انسان په خساره کښې دې مګر هغه خوک چه ایمان ئې راوړو . نیک اعمال ئې وکړل ، حقه خبره ئې وکړه او یو بل ته وصیت کوی او یو بل ته د صبر تلقین کوی .

د الله تعالی د عذاب او د خسارې نه د بچ کیدو د پاره انسان لره څلور کارونه کول پکار دی :

(۱) خپل عقائد صحیح ساتل ، (۲) نیک اعمال اختیار کول ، (۳) یو بل ته د حق وصیت کول ، (۴) یو بل ته د صبر وصیت کول .

(۱) **عقائد صحیح ساتل** : چه ټول عقائد ئې د رسول الله ﷺ د ارشاداتو مطابق وی که په دې کښې ئې یوه عقیده هم صحیح نوی نو د الله تعالی د عذاب نه نشی بچ کیدې .

(۲) **نیک اعمال اختیار کول** : د نیکو اعمالو دا مطلب ندې چه تسبیحات دې ډیر وی ، اوږده اوږده مونځونه دې وی ، تهجد ، اشراق ، او د چاشت وغیره نفل مونځونو او د نفل روژو د نفل حج ، عمرې ، او صدقات اوخیرات و غیره پابندی دې وی ، بلکه د نیکئ بنیاد او روح (اصل) د ګناهونو پریښودل دی ، د دې بیان په تفصیل سره په د (ترک ګناه) ، او (ترک منکرات) کښې چاپ شوې دې .

(۳) **یو بل ته د حق وصیت کول** د عقائدو صحیحو یو بل ته تبلیغ کول

(۴) **یو بل ته د صبر تلقین کول** یو بل ته د نیکو عمالو یعنی د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نفسانی تقاضو په وخت د صبر تلقین کول - چه نظر د بد نظرئ تقاضا کوی ، او ژبه د غیبت یا د فضول ګوئ او د بې مطلبه خبرو تقاضا کوی نو په داسې حالا تو کښې یو بل ته د صبر تلقین کول

په دې ذکر شوې څلورو کارونو کښې که په یو کښې هم سستی او غفلت وشو نو انسان د دنیا او آخرت د خسارې نه نشی بچ کیدې

۲ ﴿ لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا۟ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ ﴾ . (٥ _ ٧٨، ٧٩)

ترجمه په بنی اسرائیلو کښې چه کوم خلق کافران وو په هغوئ باندې لعنت شوې دې د حضرت داؤد او حضرت عیسی ابن مریم علیهما السلام په ژبه سره . دا لعنت په دې سبب سره وشو چه هغوئ د حکم مخالفت وکړو او د حد نه بهر شول . کوم خراب کارونه چه هغوئ کول نو هغه هغوئ نه پرېښودل ، بیشکه چه د هغوئ دا کار ډېر خراب وو .

د دې آیت په شان نزول کښې حضور ﷺ اوفرمائیل . چه د بنی اسرائیلو علماؤ به خلق په شروع شروع کښې د ګناهونو نه منع کول . تبلغ به ئې ورته کولو ، د الله تعالی نه به ئې ویرول ، لیکن چه هغې خلقو د دوئ خبره ونهٔ منله نو دې علماؤ د هغې خلقو سره خوراک ، څښاک . کیناستل . پاڅېدل ، شروع کړل او د ګناهونو نه ئې ویزاری اختیار نکړه ، نو د دې علماؤ په دې حرکت سره د الله تعالی د طرفه په دوئ باندې لعنت راؤلیږلې شو .

د نن صبا علماؤ او دیندارو خلقو مداهنت پرستی اودګناهونو په مقابل کښې سستی

د نن صبا په علماؤ ، مشائخو او ظاهراً دیندارو کښې دا وبا ډېره په تېزئ سره خوریږی هغوئ د خلقو په وړاندې دین داسې ګرځولې دې چه د دوئ دا دینداری د اسلام د خاطره نده بلکه دا د مختلفو طبعیتونو او مزاجونو له وجې څخه ده لکه چه دا مقوله مشهوره ده ((پسند اپنی اپنی)) یعنی د هرچا خپله خپله خوښه ده، لکه یو سړی ږیره پرېښې ده ، لباس ئې د شرعی حکم مطابق دې ، او وضع رفع او خوراک څښاک ئې هم د شریعت مطابق دې لیکن چه کوم خلق ږیره خره وی یا ئې لنډوی او لباس ئې کوټ پتلون وی او خوراک په میز او کرسئ باندې کوی ، نو د دهٔ هغوئ سره دوستی وی او د هغوئ سره ښې خندګانې او د زړه خبرې هم کوی او د هغوئ سره ئې تلل او راتلل جاری وی د هغوئ په دعوتونو کښې هم شریک کیږی ، دغه رنګه دآسې دخلقو په زړونو کښې دا خبره ثابتوی چه

((دده د ژون داطریقه د اسلام دخاطره نده بلکه دادهٔ دطبعیت د خوښې د وجې نه ده . څنګه چه ددهٔ ږیره خوښه ده نودغه شان د نورو کلین شیوخوښ دې تول په خپل خپل ځایٔ باندې صحیح دی))

د دې نتیجه دا راؤځی چه یو شخص په یو وخت کښې ږیره پریږدی . لباس هم د اسلام مطابق آغوندی . او بیا په بل وخت کښې ږیره خریی او کوټ پتلون اچوی نو د دهٔ د دې عمل نه نورو خلقو

ته او آینده نسل ته د دې خبرې یقین راځي چه اسلام د مسلمانانو د یو خاص قسم طرز زند ګۍ مطابق د زندګۍ تیرولو آزادي ورکوي

که چیرې تاسو د خلقو ګناهونو ته ګورئ او هغوئ سره بنه په محبت او سیرئ او دغه شان د خپل عمل نه دا خبره ثابتوئ چه زمونږه ستاسو د دې بد عمل نه څه نفرت نشته نو بیا ستاسو دا دینداري د الله تعالی د پاره نشوه ، که چیرې د الله تعالی د پاره وای نو د خلقو د ګناهونو په کتلو سره به مو ویزاري ظاهره کړې وه او د ګناهونو کتو سره سره د ویزارئ اظهار نهٔ کولو والا باندې هم د الله تعالی عذاب داسې راځي لکه څنګه چه د بني اسرائیلو په علماؤ باندې راغلې وو

د دې مطلب دا ندې چه تاسو د ګناه کولو والا سره بداخلاقي کوئ او هغوئ سپک او ذلیل وګنئ . د دین طرف ته د راغب کولو او د دین تبلیغ ورکولو د پاره هغوئ سره خوش اخلاقي کول پکار دي او دا مطلب هم ندې چه کومو خلقوسره د مختلفو ضرورتونو د وجې نه خلط ملط کیږي هغوئ سره دې دا ختم کړې شي . مقصد دا دې چه تاسو د داسې خلقو ګناه ته وګورئ او د هغوئ په مخامخ د خپلې ویزارئ اظهار نشئ کولې نو د الله تعالی د عذاب نه د بچ کیدو د پاره خو دومره کولې شئ چه په داسې شخص د نظر غورځیدو سره فورا د هغه د پاره دعا وکړئ او کم از کم په شلویرشت ساعته کښې دې یو داسې وخت مقررکړی چه په هغې کښې د ټولو ګنهګارو د پاره دعا وکړی نو په داسې کولوسره به د الله تعالی د عذاب نه د بچ کیدو سره سره دا فائدې هم اوشي چه :

(۱) چه د یو مسلمان ورور حق به ادا شي ، څوک په تکلیف کښې مبتلاء لیدلو والا د پاره دعا کول د هغهٔ حق دې ، او چه یو مسلمان په ګناه کښې مبتلاء وی نو د هغې نه بل کوم غټ تکلیف کیدې شي ؟.

(۲) په تاسو کښې به عجب او تکبر نهٔ پیدا کیږي چه ګویا زهٔ خو داسې متقي یم او دې ګنهګار دې نو د دعا سره سره د عجب علاج هم وشو .

(۳) په زړه کښې به د ګناهونو نه نفرت او هغې تحقیر نهٔ پیدا کیږي .

(۴) د ګناهونو د خراب والي استحضار او د هغې نه د بچ کیدو په اهتمام کښې به اضافه وشي او کله چه د بل شخص د بچ کیدو د پاره دعا کوو نو لا زما به د خپل ځان د بچ کیدو د پاره زیاته دعا او زیات اهتمام کوو.

د بې دینه خلقو سره د محبت ساتلو عذاب

ډیر خلق داسې دي چې هغوئ د فساقو . فجارو سره د نفرت په ځای د هغوئ ډیرې خبرې ورته خوښې وي . یو سړی وه ونیل چه انګریزان ډیر نرم او ښکلې مزاج والا وي او دا علماء او بزګان خلق ډیر خشک مزاجه وي . نو دې نه معلومیږی دا چې د انګریزانو خوش مزاجی د هغوئ د زړې

ار دی . داسې خبرې اکثر ډېر خلق کوی نو د دې جوبات واوري

(۱) مسلمان به هر يو كار كښې د الله تعالى د حكم پابند وى هغوئ هيڅ يو كار هم د قانون نه خلاف نشي كولې يعنى داسې نكوى چه څنگه ئې زړهٔ غواړى نو هغه شان دې وكړى . په هر وخت كښې بربړى چه چرته رانه داسې كار و نشى چه په هغې باندې رانه خپل مالک ناراضه شى

او انگريزان خلق بالكل آزاد دى چه څه ئې خوښه وى هغه كوى نو د دې وجې نه خلق وائى چه دا خلق ډېر خوش مزاجه دى . كوم شخص چه د قانون پابند وى هغه هيڅ كله هم خوش مزاجه نشى جوړيدې . او كه چيرې د خوش مزاجئ څه خبره كوى هم نو ډېر د قانون په دائره كښې په ښه سوچ او فكر سره به كوى. د موقعې اومحل په مناسبت سره او خالص د الله تعالى د رضا د پاره به ئې كوى . د آزادئ نه به باالكل خالى وى او بې موقعې او بې محله بغير د سوچ نه به نهٔ وى او نهٔ بهٔ دمخلوق د رضا دپاره وى .

(۲) د الله تعالى حكم دې چه : د الله تعالى نه دباغيانو او د مجرمانو په مخكښې د هغوئ د گناهونو نه د ويزارئ اظهار كوئ ، الله والا د الله تعالى د قانون پابندى كوى، نو څكه د الله تعالى د باغيانو او د مجرمانو سره ډيره خوش مزاجى نهٔ كوى .

او انگريزان خو په خپله د الله تعالى نه باغيان دى نو هغوئ به دالله تعالى د باغيانو نه څه نفرت وكړى بلكه د هغوئ سره به محبت ساتى ، نو څكه هغوئ د هر چا سره خوش مزاجى كوى .

د دې دوؤ وجهو نه دامعلومه شوه چه د انگريزانو دا خوش مزاجى د اسلامى تعليماتو خلاف ده. البته بعضې خبرې په غير قومونو كښې داسې دى چه هغه حقيقتا ښه صفات وى لكه د وخت ترتيب ، د وخت پابندى كول ، او سليقه مندى وغيره ، د دې خبرو په باره كښې دا عقيده ساتل پكار دى چه دا خبر په اصل كښې د اسلام تعليمات دى، مسلمانانو به دې عمل كول پريښې دى او غيرمسلمو په دې باندې عمل كول شروع كړې دې چه د دنيا ترقي ئې پرې حاصله كړه ، د داسې صفتونو د حاصلولو كوشش په دې نيت پكار دې چه داخو هم زمونږه وضع شوې اصول دى او په نورو خلقو كښې په كتو سره مونږ ته ياد راغلل او هم زمونږه د كور اصول دى .

په غير قومونو كښې بعضې داسې خبرې وى چه هغه خو عقلا او شرعا صحيح نهٔ وى خو بعضې خلقو ته خوښې شى ، نو د داسې خبرو طرف ته مائل كيدل ډير د خطرنه ډک دى ، او كله كله انسان كفر ته ورسوى . بعضې خبرې په غير قومونو كښې غير اختيارى وى لكه جسمانى ډول ښكلې والې ، اوږد قد ، قوت او شجاعت و غيره ، اگر چه د دې صفاتو د وجې نه دوئ ته طبعيت مائله كېږى او د هغوئ محبت په زړه كښې پيدا كيږى ليكن دا هم د خطرې نه خالى نهٔ دى څكه چه دا خبره د ټولو په نزد ملسمه ده چه چا سره عداوت او دشمنى وى نو د هغوئ صفات هم به ... باندې ناخوښه لگى او چه چا سره محبت وى نو د هغوئ ناخوښه خبرې هم په دهٔ ښې لگى ...

چیرې ستا وراندې ستا د دشمن صفات بیانول شروع کړی نو په تا به خومره بد لګی . تهٔ به د هغه نوم آوریدل هم خوښ نهٔ ګنې ، نو بیا که چیرې تهٔ د الله تعالی د دې دومره غټ دشمن په کتو سره متاثره کیږې نو دا د دې دلیل دې چه ستا د الله تعالی د دشمنانو سره محبت دې او ظاهره خبره ده

چه بیا به انجام هم د هغوئ سره وی ((المرء مع من احب)) یعنی د انسان حشر به د هغه چا سره وی چه چا سره ئې په دنیا کښې محبت کړې وی ، که چیرې په چا کښې هم څه ښه صفت په نظر راشی نو دا کتل پکار دی چه آیا دا انسان مسلمان او دیندار دې او که نه . که چیرې مسلمان او دیندار وی نو بیاخو صحیح درسته خبره ده.

د دې مذکوره درې خبرو نه د بچ کیدو کوشش کول پکار دی اوکه نه نو ایمان به ئې په خطره کښې وی.

خپله اصلاح څنګه کول پکار دی ؟

اول : خو دا فکر پکار دې چې د الله تعالی د چا سره محبت دې نو زمونږه هم ورسره محبت دې او چه الله تعالی ته څوک مبغوض دی نو مونږ ته هم مبغوض دی .

دویم علاج : دا که چیرې غیر اختیاری طور سره د غیرو څه صفت زمونږ مخې ته راشی او یا ئې ستاسو وراندې څوک بیان کړی نو هغې طرف ته د مائل کیدو په ځائ په تکلف سره هغه رد کول پکار دی .

کوم خلق چه د الله تعالی نه باغیان دی نو په هغوئ کښې هیڅ کما ل نشی کیدې د چا د ظاهری ښه والی نه دا ضروری نده چه ګویا د دهٔ دې باطن هم همداسې ښه وی د مار ظاهری جسم خومره ښکلې وی لیکن دننه ټول د زهرو نه ډک وی ، چه تاسو د کفر څومره هم بدی بیانوئ نو دومره به مو نفرت زیاتیږی او څومره چه مو د کفرنه نفرت زیاتیږی نو دغه شان به مو اسلام سره محبت زیاتیږی که چیرې په تکلف سره د هغې د بدوالی د بیانولو او سوچ کولو په ځائ د هغې صفات بیانوې او فکر ئې کوې او یا ئې آورې نو محبت به مو ورسره زیاتیږی چه د هغې آخر انجام کفر ته رسیدل دی

خلاصه دا ده چه د فساقو او فجارو سره خوش مزاجی کول او یا هغوئ سره محبت کول یا ورسره دوستانه تعلق جوړول خو لا پریږده چه د هغوئ د کفر او فسق نه نفرت ظاهرول فرض دی

او د هغوئ د فسق او کفر د ختمولو د پاره د ادنی کوشش نه هم غافله کیدل . یعنی په زړهٔ کښې د دې د ختمولو مضبوطه اراده نهٔ کول هم ډیر لوئ جرم او د الله تعالی عذاب ته دعوت ورکول دی . په بنی اسرائیلو باندې د نهی عن المنکر د پرېښودلو په وجه دا عذاب راغلې وو چه د هغوئ نه ئې بیزوګان او خنزیران جوړکړل . او دغه شان حضور ﷺ اوفرمائیل :((والذی نفس محمد بیده

نیخرجن عن امتی اناس من قبورهم فی صورت القردة والخنازیر داهنوا اهل المعاصی سکتو عن نهیهم و هم یستطیعون)). یعنی په هغې ذات مې دې قسم وی چه د چا په قبضه کښې خما روح دې ، چه خما د امت ډیر خلق به د بیزوګانو او خنزیرانو په شکل د خپلو قبرونو نه رابهرشی دا په دې وجه چه هغوئ د ګناه کولو والا سره مداهنت ((تساهل)) کولو او د قدرت باوجود ئې هغوئ د ګناه نه نۀ منع کول

(٢) ﴿ وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ﴾(٨:٢٥)

ترجمه : دالله تعالی د عذاب نه وه ویریږئ چه هغه په دنیا کښې خوریدو والا دې .

که چیرې څوک اووائې : (باهلها فقال یارب ان فیهم عبدك فلانالم یعصك طرفة عین قال فقال قلب علیه وعلیهم فان وجهه لم یتمعر فی ساعة قط (بیهقی شعب الایمان). الله تعالی حضرت جبرئیل علیه السلام ته حکم ورکړو چه فلانکې او فلانکې ښار په هغوئ باندې سرچپه کړه ، نوهغوئ اوفرمائیل : ای خما ربه ! په هغې خلقو کښې ستا داسې یو بنده دې چه هغۀ د سترګې د رپ برابر هم ستا نافرمانی نده کړې . ارشاد وشو : چه په هغۀ او په هغې ښار والو باندې دغه ښار سرچپه کړه . ځکه چه دې د خلقو ګناهونو ته ګوری او چرته ئې هم خما د خاطره په مخ باندې څه د خفګان اثر ندې شوې

دومره لوئ عابد او زاهد چه هغه به هر وخت د الله تعالی په عبادت کښې مشغول وو او لوئې هم د الله تعالی نافرمانی نۀ وه کړې . لیکن هغۀ به خلق په ګناه لیدل او لږ غم ئې هم په زړه کښې نۀ وو پیدا شوې او نۀ هغۀ د ګناهونو د ختمولو آخری کوشش کړې وو چه هغه په زړه سره مکمله اراده کول دی ، چه د هغې ظاهریدل د ګناهونو نه د ویزارئ اختیارولو سره کیږی .

نو ځکه هغه د عبادت په وجه د الله تعالی د عذاب نه بچ نۀ شول .

(٣) حضور ﷺ فرمائیلې دی : مامن رجل یکون فی قوم یعمل فیهم بالمعاصی یقدرون علی ان یغیروا علیه ولا یغیرون الا اصابهم الله بعقاب قبل ان یموتوا (ابوداؤد). که چیرې دیو قوم یو شخص ګناه کوئ او د هغې قوم خلق دۀ لره دمنع کولو قدرت هم لری لیکن دهغې باوجود هم هغه د ګناهونو څخه نۀ منع کوی نو الله تعالی به د هغۀ د مرګ نه مخکښې مخکښې په هغوئ باندې عذاب رالیږی

په نهی عن المنکر کښې حفظ دحدود الله

د نهی عن المنکر په اهمیت کښې الله تعالی اوفرمائیل ﴿الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ ﴾(٩ : ١١٢)د نیکو خبرو حکم کولو والا او بدو خبرو نه منع کولو والا او د الله تعالی د حدودو حفاظت کولو والا

کوم خلق چه نهی عن المنکر کوی نو هغه د حدود الله حفاظت هم کوی . د حدود الله حفاظت څنګه دي ؟

اول خو دا چه د نهی عن المنکر فریضه ئې ادا کړه نو دحدود الله حفاظت ئې وکړو څکه چه کوم کسان ګناهونو ته ګوری او د هغې د ختمولو کوشش نۀ کوی نو هغه حدود الله لره ماته وی

او دویم صورت د حدود الله د حفاظت دادې چه د ګناهونو نه ئې منع وکړه خو په زړۀ کښې ئې دا نوی چه ما خو ډیر غټ کار وکړو او زۀ خو ډیر غټ مجاهد یم ، بلکه نظر ئې په الله باندې وی چه الله تعالی خمانه کار اخلی ، که چیرې نظر ئې په خپل کمال باندې پریوتلو نو ټول کوششونه ئې بې ضایه لاړل ، او داسې کار د الله تعالی دپاره نۀ وئی بلکه د خان د پاره وی .

که چیرې څوک چالره د ګناه نه منع کوی او په درمیان کښې ورته د خپل غټ والی خیال راغې نو خپل کار دې نۀ پریږدی بلکه که په هغه وخت سره تنبیه وشی نو استغفار کول پکار دی او نیت دې خالص کړی او که چیرې په وخت تنبیه و نکړې شی او ورسته وشی نو بیا وروسته دې استغفار وکړی او د نفس سره دې محاسبه شروع کړی .

دریم صورت د حفظِ حدود الله دا دې ، چه د څه ګناه نه دمنع کولو په وخت غصه دومره زیاته کول ندی پکار چه د حد نه پکښې تجاوز وکړې شی مثلا د یوې ګناه د منع کولو د پاره صرف په ژبې سره ویل اومعمولی غوندې زورنه ورکول کافی وی نو هغۀ ته بدرد وئیل یا هغۀ وهل جائز ندی او دومره غصه کول پکار دی چه په هغې سره صرف د الله تعالی د حکم تعمیل وکړې شی . او نورو خلقو لره د ګناهونو څخه منع کړی .

د دې پوهیدل به داسې وی لکه چه یو بنګی ته یو ډیر غټ بادشاه په خپل مخکښې دا حکم ورکړی چه څما خوی ته سزا ورکړه . نو په هغه به څه تیریږی ؟ که چیرې د حکم تعمیل نۀ کوی نو هم خطره ده او که کوی ئې نو هم د بادشاه د طرفه ویره ده چه چرته په سزا کښې زیاتوالې اونۀ شی او یا د شهزاده تحقیر و نشی .

نو دغه شان چه څوک چالره د ګناه نه منع کوی نو دا خیال دې کوی چه دا د الله تعالی بنده دې او د الله تعالی د خپلو ټولو بندګانو سره محبت دې . چا سره زیات او چا سره کم . او الله تعالی ماته حکم وکړو چه زۀ دوئ د ګناهونو نه منع کړم . نو که اوس چیرې مانه د حکم په تعمیل کولو کښې د حد نه تجاوز وشی نو څما به څه انجام وی ؟

د ګناهونو نه په منع کولو باندې راتلونکې مصیبتونه

په قرآن کریم کښې په هر ځای کښې نورو خلقو ته د نیکو کارونو کولو د تبلیغ سره سره د ګناهونو نه د منع کولو حکم هم دې د تبلیغ فریضه به هغه وخت ادا کړی چه کله دواړه کاره کړی .

. د نیکو کارونو تبلیغ کول آسان کار دي لیکن د گناهونو نه منع کول ډېر مشکل کار دي . نه چیرې یو سړي خلقو ته د مونځ کولو تبلیغ وکړی نو که خلق د هغهٔ په تبلیغ کولو سره مونځ کوي ، که یې نه کوی نو په هر حال به دا خلق د دهٔ د تبلیغ په وجه د دهٔ دشمنان نهٔ جوړیږی بلکه د دهٔ نه تعریف او صفت کوی او دهٔ لره به شاباش هم ورکوی . لیکن که دا ئې ورته او ویل چه نوی وی مه گورئ . سندرې مهٔ آورئ ، د تصویر د لعنت نه ځان بچ کړئ . ږیرې خرول او کټ کول پرېږدئ . د گټې د ټولو حرامو ذریعونه ځان بچ کړئ ، او د شریعت مطابق پرده کوئ

نو بیا دې وکتلې شی چه ټول کور والا ، رشته دار ، او ټول محلې والا د دهٔ څنګه دشمنان جوړیږی . نو څکه خو حضرت لقمان علیه السلام خپل خوئ ته نصیحت کړې وو ، چه الله تعالی په قرآن کریم کښې هم نقل فرمائیلې دې : وامر بالمعروف وانه عن المنکر واصبر علی ما اصابك (۳۱ ۱۷) او د نیکو کارونو نصیحت کوه او د گناه د کارونو نه منع کوه او چه په تا کوم مصیبت راشی نو په هغې صبر کوه

په نهی عن المنکر کښې چه کوم مصیبتونه په تا راځی په هغې به صبر کوې څکه چې دا هم د الله تعالی حکم دې لکه چه کفارو سره جهاد کول اگر چه سخت کار دې لیکن دالله تعالی د حکم کیدو په وجه فرض دې او په جهاد کښې هم د هغې په مصیبتونو او مشقتونو باندې صبر کول ضروری دی . دغه شان د گناهونو په منع کولو کښې به تکالیف راځی کله به کم وی او کله زیات کم از کم خلق خو به ضرور دا وائې چه ددهٔ دماغ خراب شوی دی ، پاگل . پخوانو سوچونو والا . او تنگ نظرې دې . په دنیا کښې د اوسیدلو طریقه نهٔ ورځی ، معلومه نده چه دې دنیا ته د کوم ځائ نه راغلې دې . په خپله خو خراب دې لیکن اوس زمونږ ماشومان هم خرابوی

نو دا هم یو قسم اذیت او تکلیف دې ، بلکه که چیرې تهٔ د خلقو د تکلیفونو د رسیدلو د وجې یو اړخې والې اختیار کړې او صرف خپل ځان د گناهونو نه بچ کول غواړې نو بیاهم دا خلق به دې په آرام سره نهٔ پرېږدی بلکه تا به ځان سره په گناهونو کولو کښې په شرکت کولو باندې مجبوره کوی . دا طریقه د نن صبا خلقو نهٔ بلکه دا د حضور ﷺ د زمانې نه وړاندې خلقو نه را روانه ده مفسرینو د رهبانیت په تاریخ کښې لیکلی دی د دې ابتداء په دې طریقې سره وشوه چه خلق که به گناهونو کښې مبتلاء شول نو د هغوئ علماؤ ، صلحاؤ هغوئ د دې گناهونو کولو نه منع کړې مگر چه هغوئ کله د دې نه منع نهٔ شول نو هغوئ فکر وکړو چه اوس خو معامله زمونږ د وس د طاقت نه بهر ده مونږه خو دوئ ډیر منع کړل مونږ خو بریٔ الذمه شو ، نو اوس به مونږه خپل حد ته وکړو . مگر هغې خلقو ورته اوویل چه مونږه خو تاسو نهٔ پرېږدو بلکه تاسو به هم مونږ سره په دې گناهونو کښې شریک کیږئ . او بادشاه ته ئې شکایت وکړو چه دا پاگلان بوهه کړئ او مجبور ئې کړئ چه مونږ سره په گناهونو کښې شریک شی

رقیبوں نے رپٹ جا جا کر لکھوائی ہے تھانے میں

کہ اکبر نام لیتا ہے خدا کا اس زمانے میں

بادشاه د خلقو د شکایت آؤریدو نه پس علماؤ ته اوویل چه بهتره خبره خو دا ده چه تاسو دې خلقو سره په ې گناهونو کښې شریک شئ او که شریکیدل نهٔ غواړئ نو بیا دا ښار پریږدئ او چیرته ځنګل ته لاړ شئ تاسو ته باقی په ښار کښې د اوسیدو حق نشته په ښار کښې هغه کسان اوسیدې شی کوم چه په ګناهونو کښې شریکیدې شی . نو هغې بزرگانو د خپل دین د خاطره ښار پریښودلو او په ځنګل کښې دیره شول . او نن صبا هم ډیر داسې واقعات پیدا کیږی . چیرته اولاد خپل خان نیک جوړیدل غواړی نو مور پلار هغوئ نیک جوړیدو ته نهٔ پریږدی . یو نوجوان ډیره پریښوده نو کور والا ورته اوویل که چیرې د مسلمانانو غوندې اوسیږې خو په کور کښې اوسه او که مولوی جوړیدل غواړې نو بیا د کور نه بهر شه. چونکه خلقوته د ګناهونو نه د منعې کولو جهاد ډیر مشکل دې نو دې وجې نه ملایانو او مقررینو دا فیصله وکړه : چه په تقریرونو کښې صرف خوږې خوږې خبرې کول پکار دی څکه چه بیا بهٔ خلق خفه شی او لاړ به شی .

د نهی عن المنکر صحیح او مؤثره طریقه

کوم خلق چه ستاسو د تسلط د لاندې دې لکه بچی ، ښځه ، او ملازمین (نوکران) وغیره نو دوئ لره د ګناهونو نه بچ کولو د پاره په حدود الله کښې د ننه دننه هر کوشش کول فرض دی لیکن کوم خلق چه ستاسو ماتحت ندی نو هغوئ لره د ګناهونو نه منع کول په هر چا فرض نهٔ دی بلکه فرض کفایه دی . او دا سې خلقو لره د ګناه نه دبچ کیدو دوه طریقې دی : (۱) خطاب خاص (۲) خطاب عام .

(۱) **خطاب خاص** که چیرې یو شخص داسې وی چه هغهٔ سره ستا داسې بې تکلفی وی که چیرې تهٔ هغه په څه ګناه او وینې او بیا هغهٔ لره څه تنبیه ورکړې نو په هغهٔ باندې بد نهٔ لګی بلکه هغه پرې خوشحاله شی او ستا احسان مند شی نو داسې شخص لره په ګناه لیدلو سره هغه په خصوصی خطاب منع کول په تا فرض دی . لیکن چه یو شخص سره دې داسې بې تکلفی نهٔ وی او ستا آشنا وی نو داسې شخص لره په خصوصی خطاب سره بالکل منع کول ندی پکار که چیرې داسې شخص په ظاهره باندې دیندار وی نو ستا تبلیغ کول به پرې بد لګی او د هغهٔ په زړه کښې به ستا نه بغض او کینه پیدا شی او د خپلو ګناهونو به غلط تاویل شروع کړی او که چیرې دغه شخص دیندار نوی لیکن په زړهٔ کښې ئې د دیندارو څه عظمت او وقعت وی نو ستا تبلیغ کول به هم په هغهٔ بد اولګی او د هغهٔ په زړه کښې چه کوم څه لږ ډیر عظمت دې د هغې په وجه خو بهٔ هغه په ژبهٔ څه ونهٔ وائی خو لیکن د زړه نه بهٔ ئې د دیندارو خلقو هغه معمولی وقعت

هم وحي ... په ... وخت كښې ... د ... او حلقو ... كرځي . د ... حلق ... په ... سره ... كړي

او كه چيرې يو شخص داسې ... چه د هغه په زړه كښې د ... او ... شكل ... وقعت نه وي نو هغه ... د تبليغ په آوريدو سره څه كفريه كلمه د خلې نه اوباسي

مثلا ... ته د ... پريښودلو دعوت وركړو او هغه ... په جواب كښې داسې اووايي چه دا خو دملايانو كار دي . او يا داسې اووائي چه په ږيره كښې خو شكل د چيلۍ غوندې ښكاري . نو فورا كافر شو او د هغه د كفر سبب ته جوړ شوې. داسې قسم خلقو ته صرف داسې تبليغ كول پكار دی چه مونږه مسلمانان يو . او د مسلمان د الله او د الله درسول ﷺ سره محبت وي . او د محبت تقاضا دا ده چه د الله تعالى د نا فرمانۍ او د بغاوت نه توبه وكړو . او خپله ټوله ژندگی د الله تعالى د مرضۍ مطابق تيره كړو . خصوصا د هغې گناهونو نه د بچ كيدو زيات كوشش وكړو چه كومې خمونږ په معاشره كښې د كينسر غوندې داخليږي او هغه خلق گناه هم نه گڼي او د گناهونو د فهرست نه ئې بهر كړی دی .

(۲) د نهي عن المنكر دويمه طريقه دا ده چه د خلقو په عامه مجمع كښې د معاشرې د خوره شوو گناهونو نقصانات او د هغې فساد او خرابيانې ذكر كړې شی. البته په خطاب عام كښې هم د دې خبرې خيال ساتل پكار دی چه د بيان انداز كښې داسې زشت كلامي او تيزی نه وی چه په هغې سره آوريدلو والا ته ويره پيدا شي او هغه خپل توهين محسوس كړی بلكه خطاب به په محبت او شفقت او د زړه درد سره پكار دې . څكه چه د زړه نه وتلو والا خبره كښې زيات اثر وی

دل سے جوبات نکلتی ہے اثر رکھتی ہے پر نہیں طاقت پرواز مگر رکھتی ہے

((ازدل خیزد بر دل ریزد)) (د زړه وتلو والا خبره هم په زړه باندې غورځيږي)

فرض كفايه تبليغ

د تبليغ دويم قسم فرض كفايه دې د دې مطلب دا دې چه كه په دنيا كښې داسې څه ځاي وی چه د هغې د اوسيدونكو په باره كښې دا معلومه شي چه هغوی ته د اسلام په باره كښې څه علم نشته . نو په دې صورت كښې په ټولو مسلمانانو باندې دا فرض دی چه هغوی ته څه خلق ولږی چه هغوی ته د اسلام دعوت وركړی او مسلمانان ئې كړی او هغوی ته د اسلام حكم ... وښائي . كه په مسلمانانو كښې هيڅ چا هم دا فريضه ادا نه كړه نو ټول به گنهگار وی و كه ... مسلمان هم دا فرض ادا كړل نو ټول مسلمانان بری الذمه شو

په دې زمانه كښې ... ملک هم داسې نشته اونه داسې ... شته چه هغې ... دعوت نوی رسيدلی او په مسلمانانو باندې كفايي فريضه پاتې وی . څكه چه په دې ... ته ...

اسلام شهرت په خپله دعوت جوړ شوي دي او په ټول عالم کښې خور شوي دي په دنیا کښې هر چا ته دا معلومه ده چه اسلام هم په دنیا کښې یو مذهب دي . دې وجې نه اوس دا فریضه او ذمه داری په خپله په هغه کسانو باندې لا زمه ده چه د مختلفو مذاهبو تحقیق وکړی او حق او باطل وپیژنی او چه کوم مذهب حق وی د هغې اتباع اختیار کړی . الله تعالی په هر انسان کښې د غور او فکر کولو صلاحیت پیدا کړې دې . دې د پاره مسئله دا ده چه : که چیرې یو انسان په داسې ځائ کښې پیدا شوې وی چه هلته بل انسان نهٔ وی نو د بالغ کیدو نه پس په دهٔ باندې په کائناتو کښې غور اوفکر کول او د هغې نه د الله تعالی وجود پیژندل او په الله باندې ایمان راوړل فرض دی

او کوم خلق چه پیدائشی مسلمانان دی . او د مسلمانانو په کور کښې غټ شو او ځوانان شو نو دا فرض او ذمه داری په هغوئ باندې لا زمیږی چه هغوئ داسلا م احکام او اوامر او نواهی معلوم کړی . په نورو مسلمانانو باندې دا فرض او ذمه داری نشته چه هغوئ پسې ورشی او د اسلام احکام ورته وښائی . د یو شخص د مسلمانیدو دا مطلب وی : چه هغهٔ د اسلام حکومت تسلیم کړې دې نو ځکه به دې یو کار هم د اسلام خلاف نهٔ کوی .

د اسلام چه کوم قوانین دی دا به معلوم کړی او په دې عمل کول په هغهٔ باندې فرض دی په بل چا فرض ندی. ، د دې وجې نه که دې د یو قانون خلاف ورزی وکړی نو بیا د هغې جرم د سزا نه نشی بچ کیدې (چه ماته د دې قانون اومسئلې علم نهٔ وو) .

په دنیا کښې چه یو شخص یو حکومت تسلیم کړی نو که بیا هغه په غرونو . غارونو کښې د اوسیدو په وجه او یا د غفلت دوجې د حکومت قوانین معلوم نهٔ کړی او د حکومت دیو قانون خلاف وکړی او دې بیا په عدالت کښې پیش کړې شی او هلته دا عذر بیان کړی چه ماته خو دا قانون معلوم نه وو. نو آیا د دنیا په یو عدالت کښې به د چا دا عذر قبول شی ؟ او یا به دې د جرم د سزا نه بری کړې شی؟ نه هیڅ کله نه. هرکله چه د دنیا د عدالت دا دستور دې نو آیا د الله تعالی عدالت د دنیا د حکومت نه کم دې ؟ الله تعالی خو صفا اعلان فرمائی : **ایحسب الانسان ان یترک سدی** (۷۵ : ۳۶)

یعنی آیا انسان دا سوچ کوی چه دې به همداسې مهمل پریښودې شی ؟

ځکه چه د دنیا یو حکومت د قانون نه د لا علمئ عذر نهٔ قبلوی او د ځېلو قوانینو د رسولو د پاره خیل کسان نهٔ خوروی بلکه خلق پخپله د قوانینو معلومولو د پاره د حکومت کسانو ته رجوع کوی نو د غه شان اسلام هم په مسلمانانو باندې دا فرض ندی لا زم کړې چه تاسو دې ناخبره خلقو ته لاړ شئ او هغوئ ته د اسلام احکام بیان کړئ که چیرې د چا په زړه کښې داسې همدردی وی چه هغه د غفلت په خوب ویدو خلقو ته اسلام رسوی نو د دهٔ دې عمل ته به مستحب او د موجب ثواب

کار ونیلي خو نبي لیکن فرض به ورته نشي ونیلې . که څوک د غلط فهمۍ او د که علمۍ په وجه د دي د فرضیت عقیده لري نو دا په دین کښې تحریف دې او بالکل ناجائز دی

... په هره علاقه کښې د دین د حفاظت او د بقا د پاره د بعضې خلقو داسې کیدل ضروري دي چه : هغوئ نه خلق د اسلام احکام معلومه وي . او چه هغوئ دین د اسلام د دشمنانو نه په حفاظت کښې ساتي او د راتلونکې وخت د پاره د دین حاملین او د دین دمحافظینو په پیدا کولو کښې کوشش کوی

د دین د تبلیغ مختلفې شعبې

څنګه چه د نیوی حکومتونو خپل ملکی او انتظامی امور په مختلفو شعبو کښې تقسیم کړی دی. بعضې شعبې د صنعت او تجارت وی . بعضې د وزارت او عدالت وی . څه پکښې د مواصلاتو وی . او څه د معالجاتو . بیا په دې هره شعبه کښې نورې جدا جدا شعبې وی

نو دغه شان د دین اسلام د حفاظت او بقا د پاره دینی امور په مختلفو شعبو کښې تقسیمول ضروری دی . څه شعبې پکښې د تعلیم او تدریس دی ، څه د افتاء او د تخریج د مسائیلو او د افتاء د تمرین دی . څه د اصلاح او د تلقین دی او څه پکښې د عوامو دپاره د وعظ او تبلیغ دی . او څه شعبې پکښې په اسلحې سره د جهاد کولو دی ، څه د قلمی جهاد دی . او دغه شان د تصنیف او تالیف په ذریعې سره تبلیغ او د دین دفاع کول دی ، او دغه شان بیا په دې کښې هم مختلفې نورې شعبې هم دی .

نو څنګه چه د دنیا د شعبو متعلق دا مشوره ورکول چه ګویا نورې ټولې شعبې دې ختمې کړې شی او صرف د تجارت او صنعت شعبه دې باقی پاتې شی او د ټولو شعبو خلق دې په همدې کښې مصروف شی نو دا خبره خلاف عقل او د جهالت مشوره ده .

نو دغه شان د دین د شعبو متعلق هم دا مشوره ورکول چه ګویا نورې ټولې د دین شعبې دې ختمې کړې شی او صرف په عوامو کښې دې د تبلیغ او د وعظ شعبه پاتې کړې شی او د ټولو شعبو خلق دې په دې یوه شعبه کښې مصروف کړې شی نو دا هم سراسر جهالت او د دین ناواقیفیت نه علاوه یو خلاف عقل مشوره ده

بلکه حقیقت دا دې چه دا ټولې د تبلیغ شعبې دی . فرق صرف دومره دې چه دا په عوامو کښې د تبلیغ یوه شعبه ده او نورې د تبلیغ شعبې د خواصو دی ، د خواصو د تبلیغ دا څو شعبې مثلا تدریس . تصنیف . افتاء او د باطن د اصلاح شعبه . د عوامو د تبلیغ نه په څو وجوهاتو سره غوره او زیاتې اهمې دی او هغه وجوهات دا دی

(۱) د دې تبلیغ په ذریعو سره د دین د بنیاد خدمات کیږی . مثلا د قرآن او حدیث د صحیح

مفهوم تعیین او تشریح کول . د الله تعالی او د رسول الله ﷺ د فرمانیلي شوو هواسو احکامو وضاحت او حدونه . او د دشمنان اسلام د طرفه د اسلام خلاف پیدا کیدو والا نظریاتی فتنو نه د اسلام حفاظت او استحکام

(۲) په دې کښې هغې خلقو ته تبلیغ کولې شی کوم چه د لرې لرې نه د طلب کولو لپاره راغلي وی . او څه به انشاءالله تعالی په دې بیان کښې په تفصیل سره وه وایم چه طلب کونکو لره په نورو خلقو باندې وړاندې کول ضروری دی . او د دوئ نه بغیر نورو له زیاته توجه ورکول او په هغوئ باندې محنت کول ناجائز دی

(۳) په دې طلب کونکو کښې د دین د بنیاد د خدماتو کولو صلاحیت او ستعداد وی . د بنیادی خدماتو د تفصیل او اهمیت بیان می په اوله وجه کښې بیان کړې دې

د دې نه دا ثابته شوه چه الله تعالی کومو علماؤ ته د اسلام د داسې اهم او د ضروری بنیادی تبلیغ د خدماتو انجام ورکولو صلاحیت ورکړې دې نو د هغوئ د پاره د عوامو په تبلیغ کښې وتل ناجائز دی . او دغه شان د داسې طلباؤ د پاره هم تلل جائز نهٔ دی چه په کومو کښې د داسې استعداد پیدا کیدو توقع کیدې شی . البته چه د کومو کسانو نه دا توقع نهٔ وی نو د هغوئ په عوامی تبلیغ کښې وتل ضروری دی . په مدرسو کښې بیکاره اوسیدل او وخت ضائع کول ناجائز دی . دا ذمه داری د مدارسو په مهتممینو حضراتو باندې لازمی ده او په هغوئ باندې فرض دی چه داسې بیکاره طلباؤ لره په مدرسه کښې د داخلیدو په ځائ په عوامی تبلیغ کښې ولیګی

دینی کارکوونکو ته پیښیدونکې خطرې

د دین په دې مختلفو شعبو کښې په اخلاص سره د دین د حفاظت او د بقا د پاره محنت او کوشش کول ډیر د ثواب کار دې لیکن د دین خدمت کولو والا ته خصوصا د نفس او شیطان د طرفه داسې خطرات او حملې کول پیښیږی که چیرې د هغې حملو او خطراتو نه د حفاظت کولو اهتمام ونشی نو بیا د هغې خدماتو نه اخلاص خارجیږی . او بیا دا خدمات د الله تعالیٰ په نزد هم نوی قبول او د الله تعالی د رضا او د جنت د سامان د تیاریدو په ځائ د الله تعالی د ناراضګئ او د جهنم سامان تری جوړ شی

دومره خبره خو ظاهره ده چه په کوم عبادتو او دینی خدماتو کښې اخلاص نوی نو په هغې سره خومره وبال وی . لیکن د هر عبادت او د دینی خدمت کولو په وخت دا معلومول چه آیا په دې کښې اخلاص شته او که نشته؟ دا ډیر مشکل کار دې . په ظاهره خو به اخلاص نیکری او هر یو شخص هم د اخلاص دعوی کوی لیکن ترڅوپورې چه د اخلاص ظاهری او باطنی علامات او معیار ونه موندې شی نو د اخلاص فیصله کول صحیح نه دې . حقیقت خو دا دې چه تر څو پورې د

نو اهل دل سره سه به قانوني طور اصلاحي تعلق قائم نه كړي نو تر هغې وخته پورې به ورته اصلي د اخلاص د پیدا كولو كوشش كول خو لا لرې خبره ده چه د اخلاص د فقدان احساس كېدل هم نشي كېدي . نو دې وجې نه د دې دولت د حاصلولو فكر او د دې طرف ته توجو او رغبت پیدا كېدل نشي كېدي . ځكه خو د الله تعالى ارشاد دي «**الرحمن فسئل به خبیرا**» (۲۵ ۵۹) . يعنى د رحمان د لارې پوښتنه له يو پوهه شخص نه وكړئ

نو د دې وجې نه چیرته د يو مصلح كامل او معالج باطن سره ښه باضابطه طور سره اصلاحي تعلق قائمول پكار دي . د شيخ كامل علامات د بهشتي زيور په اوومه حصه كښې وګورئ . د اخلاص پیدا كېدو اصلي طريقه خو همدغه ده . او اوس د اخلاص علامات بيانول مقصود دي

د اخلاص علامات

د اخلاص يو څو لوئ لوئ علامات بيانوم . د هر قسم عبادت او خصوصا د ديني خدماتو كولو په وخت په دې علاماتو نظركول ډیر ضروري دي . كه چیرې ستاسو عبادات او خدمات په دې معيار پوره وي نو قبول دي او كه نه نو قبول ندي اود ثواب په ځائ به موجب دعذاب وګرځي

د اخلاص او قبوليت اوله علامه

د استدراج فكر اوسوچ : انسان چه كوم عبادت يا ديني خدمت كوي د هغې درې حالات وي

(۱) د هغهٔ عبادت او خدمت به الله تعالى ته مقبول وي او د دې ثمره په دنيا كښې هم ظاهرېږي

(۲) د دهٔ عبادت د اخلاص د نيشت والي د وجې يا د څه بل څه نالا نقئ د وجې نه قبول نشي د په دنيا كښې ورته الله تعالى دا سزا وركړي چه هغه د هغې عبادت كولو نه محروم كړي

(۳) كله كله خو په دنيا كښې محروم نشي بلكه په هغې كښې ئې نوره هم ترقي وشي . به عبادت كښې ئې شوق او رغبت زيات شي او د ديني خدماتو ثمره هم ظاهرېدل شروع شي ليكن هغهٔ په عملنامه كښې د حسناتو او نيكو په ځائ سيئات او ګناهونه ليكلي شي . او دې دريم صورت ته استدراج وئيلې شي . كه چیرې يو سړې خپلو ذاتي عباداتو يا ديني خدماتو كښې ترقي اووينې او د هغې د استدراج خيال ئې راشي او فكر او ويره ورسره وي چه چرته خما دا حالت هم به «استدراج» نوي نو دا د اخلاص او د للهيت علامه دې او كه چیرې دا خيال ورته كله هم نه راځي بلكه هميشه د پاره په خپل كمال باندې خوشحاله وي نو دا د دې علامه ده چه په دې كښې اخلاص نشته . او د دهٔ خدمات او عبادات الله تعالى ته مقبول ندي

په كومو خلقو كښې چه اخلاص وي نو هغوئ په ديني خدماتو كولو كښې د نفس ... اوخوند اومزې نه پاك وي

د نفس بندګان د څه لږ دینی خدمت نه پس دا ګنی چه مونږه خو د دین ډیر لوئ خدمت وکړو . او بعضې خلق کوم چه بهر ممالکو ته په تبلیغ کښې ځی راځی . ماته هم خطونه رالیږی او خپل فتوحات پکښې ډیر په فخر سره لیکی چه مونږه دا کار وکړو . دا کار مو وکړو . بس صرف خپلې کړنې لیکی نو د داسې خلقو د پاره مې د زړه نه دعا وځی چه یا الله دوئ ته اخلاص نصیب کړې . او د خپلې مرضئ مطابق ترې نه کار واخلې او په خپل رحمت سره ئې قبول کړې

د نورو خلقو د همت زیاتولو د پاره او هغوئ ته د ترغیب ورکول د پاره کله کله داسې حالات بیانول هم پکاردی خودا نۀ چه په هر وخت کښې بس خپل کمالات شماری . بلکه دا هم د الله تعالی حکم ګڼل او په قدر د ضرورت بیانولو باندې اکتفاء کول پکار دی او خاص د بیانولو په وخت هم د نفس او شیطان نه غافله کیدل ندی پکار . که د الله تعالی د مهربانئ نه څه لږ غفلت هم راغې او په خپلو کمالا تو باندې نظر راغې نو نیغ جهنم ته تګ دې . دومره محنتونه او مشقتونه هم بردا شت کړې شو او بیا هم د جهنم سامان تیار کړې شو . الله تعالی دې مونږ په خپله پناه کښې وساتی

او که چیرې بیا د داسې شخص لږ تعریف هم وکړې شی نو بس بیا خو سبحان الله . هغه احمق هم ځان یوڅۀ وګڼی . چه زۀ خو په حقیقت کښې هم داسې یم .

د خلقو واه واه انسان تباه کوی . د خپلو پټو حالا تو ورته ښه پته هم وی خو که د هغې باوجود هم څوک ددۀ تعریف وکړی نو د نفس او شیطان د فریب د وجې نه ځان یو څه ګڼی .

یو شخص دلال ته د خپل آس د خرڅولو خبره وکړه نو دلال د خریدار په وړاندې د آس تعریف شروع کړو . نو مالک ورته اوویل که دا آس دومره ښه وی نو بس نۀ ئې خرڅوم . .

یوه نائې ګنه د خپل مالک کره لاړه . د هغه ښځې خپله نتکئ (ګانه) د وینځلو د پاره ویستې وه نو نائې ګنې دا وګڼله چه ګویا دا کنډه شوې ده چه خپله ګانه یې لرې کړې ده، نو هغه لاړه او نائې ته نې دا خبره وکړه «د دوئ مالک چرته لرې ښار ته تلې وو» نائې ورپسې هلته ورسیدلو او مالک ته نې اوویل چه ستا ښځه کنډه شوې ده . نو هغه په ژړا شو خلقو ترې تپوس وکړو چه ولې ژاړې؟ هغۀ ورته وه ویل چه خما ښځه کونډه شوې ده . خلق ورته د دعا کولو د پاره راټلل . یو عقلمند هلته تیریدو نو هغه ورته اوویل چه تۀ ژوندې یې نو ستا ښځه څنګه کونډه شوه دا خو عقل نۀ منی

هغۀ ورله جواب ورکړو چه خما عقل خو ئې هم نۀ منی خو زمونږ نائی ډیر معتبر دې هغه دروغ نشی وئیلې . نو د احمق انسان همدا حال وی چه د خپل حال نه ښه خبر وی لیکن بیا هم د تعریف کولو والا په خبرو باندې اعتماد وکړی او ځان ډیر اوچت وګڼی

گرگندے کے کان میں کہہ دو کہ عاشق تجھ پہ ہوں

ہے یقین کامل کہ وہ بھی گھاس کھانا چھوڑ دے

الله تعالی دې مونږ ته عقل او پوهه نصیب کړی
غرض دا چه الله تعالی د کوم انسان نه د دین کار ډیر اخلی نو خلقو ته د هغهٔ نه ډیره دینی نفع رسوی . او د دین د حاصلولو د پاره د خلقو هغهٔ طرف ته ډیره توجو وی نو په داسې وخت کښې هغهٔ لره غافله کیدل ندی پکار بلکه په هر وخت کښې بیدار او سیدل ورته پکار دی چه الله تعالی دا کوم د دین کار له ما نه اخلی هسې نه چیرته دا استدراج نوی . چیرته داسې نوی چه الله تعالی ته دا کار مقبول نوی خو ماته ئې وخت راکړې وی . داسوچ کول پکار دی او ویریدل پکار دی . استغفار او دعاګانې کول پکار دی.

یوه عبرتناکه واقعه

په داسې موقعه باندې د یو شخص په دې واقعه باندې سوچ او فکر کول ډیر مفید دی. ماته خو د سوچ کولو ضرورت نهٔ راځی . خما ذهن ته پخپله دا واقعه راځی . یو شخص ډیر زیات چالاک وو . خلقو ته د دهوکې ورکولو د پاره ئې د بزرګانو صورت جوړ کړو او کیناستلو . نن صبا خو خلقو له دهوکه ورکول ډیر آسان دی ځکه چه د ګونګیانو او دخرو اکثریت دې . که چا کښې دننه هیڅ نهٔ وی خو چه څوک څه صورت جوړکړی او چیرته کینی . نو بیا دې وکتلې شی چه خلق څنګه ګیریږی . په دې زمانه کښې دا دهوکه ورکول آسان دی په پخوا زمانه کښې به خلق ډیر بیدار وو . په دین باندې پوهیدل ، خلق به زر نهٔ دهوکه کیدل ، ځکه چه په هغې زمانه کښې به یو مکار ته د دهوکې ورکولو د پاره هم د هغې فن د اصطلاحاتو او د پیچیده مسائیلو علم حاصلول ضروری وو
نو هغه شخص هم فن تصوف حاصل کړو او د ځان نه ئې شیخ جوړ کړو اوکیناستلو . او خلقو ته ئې د اورادو . اذکارو ، اشغالو او مراقباتو تلقین ورکولو ، د خلقو ورته ډیره زیاته رجوع جوړه شوه او ډیر خلق توبه کونکی شول او اولیاء الله ترې جوړ شو .
یوه ورځ دې اولیاء الله ته خیال راغې چه نن د خپل حضرت صاحب مقام په مکاشفې سره معلومول پکاردی . تولو په یوځائ باندې مراقبه شروع کړه خو د خپل حضرت صاحب مقام ئې چرته هم په نظر رانغلو . دوئ ډیرزیات حیران شول او وې وئیل چه په خپله د حضرت صاحب نه د هغهٔ د مقام پوښتنه کول پکار دی، تول حاضر شول او پوښتنه ئې وکړه چه مونږه په مراقبې سره د حضرت صاحب مقام تلاش کولو کوشش وکړو خو مونږ ته مقام په نظر رانغلو . تاسو پخپله مونږ ته خپل مقام اوښایئ
د دې جواب خو ډیر آسان وو بس داسې به ئې ورته وئیلې وو چه ،،چه تاسو خو اوس اوس پیدا شوئ او بیا خما مقام تلاش کولو پسې لګیدلې یئ خما مقام خو ډیر اوچت دې . تاسو خو نه

شل کاله مجاهدې کولو نه پس چرته خما مقام وه وینئ . دا تاسو په کوم کار کښې لګیدلې یئ لا شئ خپل کار کوئ»

مګر د اهل الله د صورت جوړولو او د ذکرالله په برکت سره د الله تعالی رحمت د هغهٔ طرف ته متوجه شو . نو صفا وینا ئې ورته وکړه چه : «رشتیا خبره دا ده چه په ماکښې هیڅ هم نشته . زه یو مکار یم . د مال او جاه د مینې د وجې نه مې د اولیاء الله شکل اختیار کړې دې»

نو اوس د هغې اولیاء الله عقلمندئ ته وګورئ چه هغوئ ته کله حقیقت معلوم شو نو دائې ونهٔ ویل چه راځئ چه څو دامونږه کوم ځائ کښې راډیر شوې یو ؟ راځئ چه څو . او یا ئې هغه وهلې اوټکولې وې او د خلقو په وړاندې ئې ذلیل کړې وې. بلکه د هغهٔ د تذلیل او تحقیر په ځائې ئې اووئیل چه مونږه ټول به دعا وکړو چه یا الله . چه د دهٔ په مونږه باندې ډیر احسان دې د دهٔ په نیودلې شوې نسخو باندې زمونږه ګناهونه معاف شو ، ستا محبت او تعلق راته نصیب شو یا الله دې هم د اولیاء الله په فهرست کښې شامل اوفرمایه .

الله تعالی د هغوئ دعا قبوله کړه او هغه ئې اولیاء الله جوړ کړو او خپل قرب تعلق او محبت ئې ورته نصیب کړو .

هغهٔ ته د الله تعالی مدد ولې حاصل شو ؟ ځکه چه هغهٔ د الله والو او د الله د محبوبو بندګانو صورت اختیار کړې وو ، اګر چه هغهٔ د دنیا د حاصلولو د پاره اختیار کړې وو مګر الله تعالی ته د هغهٔ دا عمل دومره خوښ راغې چه هغه ئې هم په خپلو محبوبو او مقربو بندګانو کښې شمار کړو .

هرکله چه الله تعالی داسې یو سړې خپل محبوب جوړ کړو چه هغهٔ د دنیا د حاصلولو د پاره د اولیاء الله شکل اختیار کړې وو او هغهٔ سره یې خپل مدد اوفرمائیلو . نو هغه څوک چه خالص د الله تعالی د رضا دپاره د اولیاء الله شکل اختیار کړی نو آیا الله تعالی به هغوئ محروم پرېږدی . او خپل محبوب به ئې نهٔ جوړوی او دهغهٔ سره به د الله تعالی مدد نهٔ وی ؟

الغرض کله چه همداسې یوه اطلاع یا یو داسې خط راشی چه په هغې کښې دا ذکر شوی وی چه ټول ګناهونه مې پرېښودل او د ټولو ګناهونو نفرت مې په زړه کښې پیدا شو نو په هغه وخت کښې فورا دې واقعې طرف ته مې ذهن لاړ شی او دا سوچ کوم چه چیرته د مکار هغه قصه خو به نهٔ وی چه د نورو حالات ښه کیږی او خپل حالت یې خرابیږی . او ورسره ورسره دا دعا هم غوښتلې شی

رب لا تخزني يوم يبعثون. یعنی چه یا الله مونږه د محشر په ورځ مهٔ رسوا کوه

پدې قصې باندې په فکر کولو سره ډیره فائده رسیږی . هر انسان لره د خپل حالت محاسبه کول پکار دی

د آخرت رسوائي د دنيا د رسوايئ نه زياته ده

- محشر په ورځ د رسوايئ څه مطلب دې؟ د کومو خلقو نه الله تعالى د دين کار اخلى . کوم ملئ د نورو خلقو د پاره مقتدا دى . خلق د هغوئ معتقد وى . دهغوئ لاسونه ښکلوى . ډير لوئ ولى الله ګڼلې شى . د داسې خلقو دپاره د محشر په ورځ رسوائې داده چه د دوئ معتقدين او مريدان جنت ته ځى او په خپله دوئ جهنم ته روان وى . څومره لويه رسوائى ده ؟ د جهنم د تلو د رسوائې نه علاوه غټه رسوائى دا ده چه کوم خلق په دنيا کښې د دوئ مريدان وو او د لرې لرې نه به د هدايت موندلو د پاره دوئ ته راتلل او مسائل او دين به ئې زده کولو . د خط او کتابت په ذريعه به ئې ترې هم استفاده حاصلوله . نو هغوئ خو دې جنت ته روان وى او پير صاحب دې په جهنم کښې سرچپه اويزان وى . د دې دعا کولو په وخت د دې حالت سوچ کول پکار دى .

زۀ چه کله هم د دې صورت حال سوچ کوم نو مانه هغه مثال راوړاندې شى کوم چه مولانا رومى رحمه الله په مثنوى کښې ذکر کړې دې .

په پخوا زمانه کښې به د طوطيانو د ښکار دا طريقه وه چه يو نل به ئې په تار وغيره کښې واچولو په يوې ونې پورې به ئې اويزان کړو . چه طوطى به په هغې کيناستلو نو هغه نل به تاو شو نو طوطى به سرچپه اويزان شو . نو ښکارى به په دغې غفلت کښې ونيولو . دا صورت راته مخې ته شى که چيرې الله دې نکړى خمونږ دا عبادت قبول نۀ وى . اخلاص نۀ وى بلکه ريا اونمود وى نو د قيامت په ورځ به مو څه حال وى . مريدان او معتقدين به ګورى چه پير صاحب سرچپ اويزان (زوړند) دې . الله تعالى دې زمونږ د ټولو په حالاتو باندې رحم اوکړى – د الله تعالى د عذاب نه ويره پکار ده او د خپلو اعمالو هم محاسبه کول پکار دى.

په خپلو نيکو اعمالو باندې د ناز کونکى مثال

حضرت رومى رحمه الله دوه مثالونه بيان کړى دى :

يو ځل يو غل د شپې د چا کور ته داخل شو د مالک سترګې خلاصې شوې. هغۀ د ليدلو د پاره اور ولګولو. په پخوا زمانه کښې به د اور لګولو دا طريقه وه چه دوه بکرئ (دوه سپين کاڼرى) به يې يو بل سره اووهل نو د هغې نه چه بۀ کومه د اور شغله پيدا شوه نو د هغې نه به په مالوچو باندې اور ولګيدلو او رڼا به شوه . نو دکور مالک په دغه طريقه د رڼا کولو کوشش وکړو ليکن غل د هغۀ د کټ د لاندې کيناستلو او چه د بکرو د وهلو نه به کومه شغله مالوچو ته ورتله نو هغه به ئې به خپلو لاسونو کښې ختموله چه د دې وجې نه په مالوچو باندې اور ونۀ لګيدلو . په مالک باندې د خوب غلبه وه د يو څو کوشيشونو نه پس دوباره ويدۀ شو . نو غل د دې چالا کئ په وجه باندې دټول کور صفائې وکړه اوهرڅه يې له ځان سره يو ړل

حضرت رومی رحمه الله دا مثال د هغه کسانو د پاره بیان کړي دي چه هغوئ دا فکر کوي . چه مونږ سره دیني نعمتونه ډیر زیات دي ټول ګناهونه ختم شو . عبادا ت ډیر دي او متعدی خدمات هم ډیر کیږي . د جنت تیاری هم شوي دي او کوټې بالکل ډکې دي .
په خپل خیال کښې ډیر خوشحاله هم وي لیکن خدای دې نکړي که چیرې غل ټول مال یوسی او دې خبر نهٔ وي نو آخرت کښې بهٔ څه کیږي ؟

د اعمال صالحه غل

هغه غل څوک دې ؟ نفس او شیطان . چه کله هم د دوئ د طرفه په زړه کښې دا خبره پیدا شوه چه مونږه ډیر متقیان یو . پرهیزګار او کامل یو . نو په یو خل به هرڅه ضائع لاړ شي. چه د الله تعالی د مدد نه نظر لرې شي او په خپل خان باندې یې نظر شي نو د جنت د سامان په ځائ د جهنم سامان تیار شو . ټول عمر د ګناه نه د بچ کیدو مشقت هم برداشت کړې شي ، په عبادا تو کښې هم وخت ولګی او بیا هم جنت په لاس رانشی . بلکه د دې په ځائ د جهنم هغه اور ملاؤشی . نو څومره لویه محرومی ده ؟

په نیکو اعمالو باندې د فخر کوونکو دویم مثال

دویم مثال حضرت رومی رحمه الله داسې بیان کړې دې چه یو شخص خپل ګودامونه د میوو نه ډک کړل او هغه یې محفوظ کړل کړل . او له ځان سره یې دا فکر وکړو چه کله د میوو قلت شی نو بیابه ئې رواخلم . او په خپل خیال کښې ډیر زیات خوشحال وو چه ماسره څو ګودامونه ډک پراته دی . لیکن چه کله د میوو ضرورت شو او ګودامونه ئې وکتل نو یوه دانه پکښې هم په نظر رانغله . ټوله میوه مږو خوړلې وه . په داسې موقعه باندې به دا سړې څومره خفه وی ؟
دا مثال هم حضرت رومی رحمه الله د هغه خلقو د پاره بیان کړې دې چه هغوئ دا ګنی چه مونږ سره څو نیک اعمال ډیر زیات دی . کوټې ډکې پرتې دی . ذاتی عبادات هم ډیر زیات دی او نورو خلقو ته د دین رسولو خدمات هم ډیر دی . د دین ډیر خدمت کیږی . په خپله هم ګناهونه کم دی او نوړ خلق هم د ګناهونو نه منع کوؤ . په خیالونو کښې ډیر زیات خوشحالیږی چه بس مونږه څو بالکل د جنت مستحق جوړشوې یو . مونږ سره څو بې شمیره خزانې دی .
لیکن چه د خزانې د خلاصولو وخت کله راغې ؟ سبا چه د قیامت په ورځ د خزانې د خلاصولو وخت راشی . کله چه ټول اعمال پیش کیږی . د حساب کتاب وخت راشی . نو الله دې نکړی که په هغه وخت بیا په خزانه کښې څه نوی او د نفس اوشیطان مږو د ټولو خزانو صفائی کړې وی نو څه به کیږی ؟ څومره پریشانئ به مخې ته راشی ؟

د نفس او شیطان مړي په خزانو باندې څنګه حمله کوي ؟ چه په زړه کښې کله هم دا خیال راشي چه دا ټول خما کمال دی او خما په اختیار کښې دی . د الله تعالی دمدد نه ئې نظر واوړی او په خپل ځان باندې ئې نظر راشي . نو د نفس او شیطان مړو د ټولو خزانو صفائی وکړه

دمولانا شبیر علي صاحب رحمه الله واقعه

مولانا شبیر احمد صاحب رحمه الله خپله یوه قصه بیان کړیده چه هغوئ د خپلې زمکې د پیداوار ټوله چیني (بوره) په ګودام کښې بنده کړه، د دې لپاره چه کله قلت شي نو استعمال به ئې کړو . لیکن چه کله د راویستو وخت راغې ، ګودام ئې کولاؤ کړو او هغه منظر ئې وکتلو نو حیران شو د چینو بالکل نوم او نشان ختم شوې وو . لاندې په زمکه صرف توروالې په نظر راتلو چه غور سره وکتلې شو نو هغه میږی وو . هغه میږو د ټولې چیني (بورې) صفایی کړې وه

دغه شان کوم شخص چه په خپلو اعمالو باندې خوشحال وی چه ماسره خو د جنت خزانې ډکې پرتې دی او د قیامت په ورځ کله چه د حساب کتاب وخت راشي نو بیا ورسره هیڅ نوی نو څومره د رسوایئ خبره ده ؟ ویریدل پکار دی او د الله تعالی د عذاب نه پناه غوښتل پکار دی

د الله تعالی په نعمتونو کښې خیانت

کوم شخص چه د الله تعالی ورکړې شوې نعمتونه خپل کمال ګڼی د هغه مثال داسې دې لکه چه بادشاه د خپلې خزانې خازن یو بنګی جوړکړې وی او هغه دغه خزانه خپله وګڼی نو داسې شخص ته به بادشاه د مرګ سزا ورکوی چه بادشاه دۀ لره امین وګڼلو او خازن ئې جوړ کړو او په دغه بنګی باندې یې لوئ احسان وکړو لیکن دې دومره نالائق او غټ خائن جوړ شو چه دغه خزانه ئې خپله وګڼله او بادشاه که چیرې داسې نالائق انسان ته د مرګ سزا ورنکړی نو کم نه کم معطل کوی خو به ئې ضرور

دا مثال مخې ته کول پکار دی او سوچ کول پکار دی چه الله تعالی مونږ له په دنیا کښې کوم نعمتونه راکړې دی که دنیوی نعمتونه دی او که دیني .بیا په دیني نعمتونو کښې که علمی نعمتونه وی او که عملی . که په خپل ذات کښې وی او که نورو ته د علم او عمل رسولو وی . او که نورو خلقو لره د نیک جوړیدو کوشش وی . د دې ټولو نعمتونو متعلق که د چا دا ذهن وی چه دا ټول خما کمال دې نو دا د الله تعالی په نعمتونو کښې خیانت کول دی . دا ټول نعمتونه د الله تعالی د طرفه امانت دې . په دنیا کښې چه الله تعالی د چا نه یو کار اخلی نو هغه دالله تعالی د نعمتونو خازن دې . خزانه د الله تعالی ده . دهغهٔ معرفت په نورو خلقو کښې تقسم کوی . او د بادشاه په خزانه کښې چه څوک خیانت کوی او هغه خپله ګڼی نو د دنیا په بادشاهانو کښې خو دا

ممکنه ده چه هغهٔ ته دې معلومه نشی چه د هغهٔ خازن په خزانه دعوی کړې ده او یا ترې نه په پټه باندې غلا وکړی یا هغه خزانه غصب کړی او بادشاه مړ کړی . لیکن د الله تعالی په علم کښې هیڅ نقص نشته . او نهٔ د هغه په قدرت کښې څه نقص شته . هغهٔ ته د زړونو هم علم دې . که چیرې د چا په زړه کښې دا خیال راشی چه دا ټول زما کمال دې نو دا د الله تعالی د علم او قدرت نه خارج ندی . د دې وبال په هغهٔ دا غورځیږی چه الله تعالی به هغه معطل کړی او د ټولو نعمتونه به ئې محروم کړی ځکه چه الله تعالی دې د خپلو خزانو خازن جوړ کړې وو او دهٔ هغه خپلې وګڼلې . څومره لوې خیانت کونکې دې ؟ . په دنیا کښې به هم ورته رسوائی وی او په آخرت کښې هم .

د کومو دعاګانو وئیلو چه ځما معمول دې په هغې کښې د دې درې مثالونو په مناسبت سره هم یوه دعا شته .

یا الله د مړې ، غل ، او په امانت کښې د خیانت کولو نه مو حفاظت او فرمایه . هر وخت ستا طرف ته توجو ده او ستا په مدد مو نظر دې .

د اخلاص او د قبول دویمه علامه کثرت دعا او استغفار

د انفرادی عباداتو او د دینی خدماتو د قبلیدو دویمه علامه دا ده چه همیشه دې دغه لاندې . دعا خپل معمول جوړ کړی :

((لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم)) د دې حاصل دا دې چه د نیکئ توفیق کیدل او د ګناهونو نه خلاصیدل که خپل خان کښې وی او که په نورو خلقو کښې د نیکئ تلقین او د ګناه نه د خلاصیدو کوشش کول او په کوشش کښې کامیابی حاصلیدل . د خلقو دنیکئ طرف ته راتلل . د ګناهونو پریښودل . یا الله . دا ټول هر څه ستا په مدد سره کیږی . نورو خلقو لره خو د ګناهونو نه بچ کول خو لا لرې خبره ده چه خپل ځان هم د ګناه نه محفوظ کیدل بلکه د دې نه د بچ کیدو خیال په زړهٔ کښې راتلل او د آخرت فکر پیدا کیدل که ستا مدد نهٔ وی نو هیڅ نشی کیدې .

ځکه حضور ﷺ فرمائیلی دی : ((لاحول ولاقوة الا بالله کنز من کنوز الجنة)) یعنی (لاحول ولاقوة الا بالله).د جنت د خزانو نه یوه غټه خزانه ده . دا جمله په درې سکینده کښې ادا کیږی . په دومره مختصر وخت کښې دومره غټه خزانه څنګهٔ حاصلیږی ؟ ځکه چه په دې سره په نفس او شیطان باندې اره چلیږی . نفس او شیطان دواړه ټولو نیکو لره تباه کونکی دی . اول خو د نیکئ طرف نه خوک نه پریږدی .په هر وخت کښې ئې په ګناهونو کښې دمست کیدو کوشش کوی او که چیرې خوک د ګناه نه بچ شی او د نیکئ طرف ته مائیله شی نو بیا د هغهٔ د نیکو د بربادولو کوشش کوی د هغهٔ په زړهٔ کښې د کبر او عجب خیالات پیدا کړی چه مونږ خو ډیر نیکان او رسیدلې خلق یو مقصد داچه سوچ کول پکار دی چه د نیکئ توفیق او خلقو ته د تبلیغ کولو توفیق . او په دې

سمع کښې د اثر پیدا کېدل او خلق دینداږ جوړېدل دا ټول د الله تعالی په رحمت سره کېږي. د هغه غواړي نو زمونږ په تبلیغ کښې به اثر وي او که ونه غواړي نو اثر به نه وي

د ((لاحول ولاقوة الابا الله)) د حقیقت اړولو تهرماميتر

د ((لاحول ولا قوة الا باالله)) نه چه کوم مقصد دی او په دې کښې چې د کومې خبرې تعلیم ورکړې شوي دې نو که وکتلې شي نو په لکونو انسانانو کښې به شاید چیرته په یو انسان باندې د دې تعلیم اثر شوې وی . داسې خو د ټولې دنیا دانسانانو . مسلمانانو او کافرانو د ټولو دا عقیده ده چه په دنیا کښې ذوئ سره څومره نعمتونه دی که مالی او جسمانی نعمتونه وی او که د خپلې عقیدې مطابق دینی نعمتونه وی . نو ټول د الله تعالی د طرفه دی که د لوئ نه لوئ متکبر او پندار والا نه پوښتنه وکړې شی چه ستا دا مال . منصب .صحت . او اولاد وغیره د چا د طرفه دی نو هغوئ به هم دا وائي . ټول هرڅه د الله تعالی د طرفه دی . البته که څوک د الله تعالی د وجود نه منکر وی نو هغه به دا وائی چه دا ټوله خما ګټه ده. لکه چه قارون د الله تعالی نه منکر وو . هغهٔ ونیلي وو چه دا ټول مال او دولت خما ګټه ده. بل څوک ورکولو والا نشته . د دې نتیجه دا شوه چه هغه سره د خپل مال او دلت نه په زمکه کښې دننه کړې شو . قارون خو په ژبه ونیلي وو چه دا ټول هرڅه خما دی. که چیرې د چا په زړهٔ کښې دا خیال پیدا شی چه د دین دا ټول نعمتونه خما کمال دې نو دهغه هم له قارون سره مشابهت پیدا شو . اصل مرض خو د زړهٔ دې . د قارون د ژبې نه خو هم ظاهر شو. ویرېدل پکار دی چه چرته د هغه غوندې حشر مو ونشی چه الله تعالی ترې ټول نعمتونه سلب کړل

غرض دا چه عقیده خو دمسلمان او کافر د ټولو همدا ده چه څه هم دی نو د الله تعالی د طرفه دی . او هرڅه دالله تعالی په قبضه کښې دی په ژبه هم ټول دا خبره کوی مګر د **(لاحولاولاقوةالا باالله)**حقیقت هم د چا په زړه کښې شته او کنه؟ د دې د معلومولو د پاره یو تهر ماميتر دې . دهغې معیار دې چه د چا په زړهٔ کښې بغیر د توجه نه دا خیال بیا بیا راځی چه ما سره د دین څومره نعمتونه هم دی په هغې کښې خدا نخواسته څه خبره یا څه عمل الله تعالی ته ناخوښه وی . ب په خپل کمال باندې یې نظر راشی . نو بیا به د هغې وبال دا وی چه الله تعالی دا ټول نعمتونه خمانه واخلی . چه دا خیال هر وخت په زړهٔ او دماغو مسلط وی . خصوصا کله چه دیو نیک عمل توفیق ملاؤ شی . یا د ګناه نه د بچ کیدو توفیق ملاؤشی . نورو خلقو ته د تبلغ کولو توفیق ملاؤشی او چه د هغې تبلیغ اثر هم ظاهریږی .

که چرې د چا د زړه حالت او کیفیت د دې تهر ماميتر مطابق وی نو د **(لاحول ولا قوة الا باالله)**

حقیقت نې زړه به کوزشوي دي . اوکه نوی نو د دې مطابق جوړولو کوشش کول پکار دی .
ورسره ورسره زړه لره د عجب او کبر نه د بچ کیدو د پاره دا دعا هم کول پکار دی

یاحي یاقیوم برحمتك استغیث اصلح لي شاني كله ولا تكلني الى نفسي طرفة عين . ای همیشه ژوندی ذاته . او نورو له قائم کیدو والا . د غلطی کولو او غورځیدو والا لره سنبالولو والا دې . ستا په دربار کښې درخواست پیش کوو چه زما د ټولو حالا تو اصلاح اوفرمایې ، چه عقیده مې هم صحیح وی او چیرته په زړه کښې مې دا خیال هم رانشی چه دا خما کمال دې ، او ما دسترګې درپ برابر هم خپل نفس ته مه حواله کوه ،

«**إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي**» یعنی نفس ډیر زیات د ګناه حکم ورکولو والا دې مګر هغه چه الله پرې رحم اوفرمایی .

که چیرې د الله تعالی مدد شامل حال نوې نو نفس او شیطان به انسان لره تباه او برباد کړی کله کله د «والله المستعان» دعاء پکار ده ، او کله د «اللهم انا نستعينك على طاعتك» دعاء کول پکار دی . کله د «لا حول ولا قوة الا بالله » دعاء کول پکار دی .

بس هر وخت ویریدل پکار دی چه چیرته داسې نوی چه دالله تعالی د مدد نه مو نظر لرې شی او خپل کمال ته مو نظر شی چرته رانه الله تعالی ټول نعمتونه سلب نکړی .

د ایمان علامات

حضور ﷺ فرمائیلي دی : **ماخافه الامؤمن ولاآمنه الامنافق(بخاری)** د الله تعالی نه صرف مؤمن ویریږی . یعنی هغه سره هر وخت دا خطره وی چه خما دا علم او عمل او دا ټول کمالات هر څۀ د الله تعالی دقدرت په قبضه کښې دی خما په اختیار کښې هیڅ هم نشته . که معمولی د هغۀ نظر او کرم لرې شو نو بس خما بربادی شوه او د منافق په زړۀ کښې کله هم دا ویره نۀ وی . هغۀ همیشه مطمئن اوسیږی

د خپل خان اندازه لګول پکاری که چیرې زړۀ مطمئين وی او کله هم څه خطره نۀ راځی . هر وخت دا خوشحالی وی چه زۀ خو ډیر نیک جوړ شوم . نورو خلقو ته هم تبلیغ کوم . دومره دومره خلق مي دیندار جوړ کړل . او خمونږ دا کمال دې او هغه کمال دې او هر وخت به مستی کښې وی . نو دا د نفاق علامه ده .او له دې حالت نه ویریدل پکار دی

انسان دې ویریږی هم اوامید دې هم ساتی . خوشحاله دې هم اوسی .لیکن خوشحالی به په څه وی ؟ په دې به خوشحالی نکوی چه ګویا زۀ کار کوم بلکه په دې خبره چه خما مالک خما نه کار خلی لیکن صرف په ژبه او عقیده پورې دا خیال کول کافي ندی . بلکه چه دا خبر به زړۀ کښې

ذمه سو . د ډېره به دې خبرې سره بالکل رنګ شی . بیا بیا ئې چه به ډېره کسې دا حال راځی چه خه منتک خما نه کار اخلی هرکله چه به دې خبره خوشحالی وی نو ورسره به ویره لازمی وی چه کوم منک خما نه کار اخلی هغه چېرته ناراضه نشی . لکه چه یو شخص په سرکاری عهده رندې وی نو هغه به خوشحالی هم وی چه زهٔ خو سرکاری سړې یم خوورسره دا ویره هم وی چه چېرته حکومت نه خما څه خبره ناخوښه رانشی او د هغې د وجې نه خما عهده ختمه نشی . غرض دا چه خوشحالی به هم وی او ویره به هم وی، دواړه یوځائ کول پکار دی

غافل مرو که مرکبِ مردانِ مرد را — در سنګلاخ بادیه پیما بریده اند

نومیدهم مباش که رندان باده نوش — ناګه بی خروش بمنزل رسیده اند

غافل مهٔ چلیږه ، ځکه چه څو څو مشهور شهسواران په لاره کښې پاتې شوی دی . او نا اُمیدی هم مهٔ کوه . ځکه ډېر شراب څښلو والا ناګاهانه خپل منزل مقصود ته رسیدلې دی

د حضور ﷺ سره د الله تعالی معامله

الله تعالی حضور ﷺ ته فرمائی .. ﴿ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ ﴾ ، (۱۷ : ۸۶ ، ۸۷)

یعنی که چیرې مونږ وغواړو نو ستاسو ټول علوم به ختم کړو «د حضور ﷺ علم د ټولې دنیا د علم نه زیات دې . د دې باوجود هم تنبیه ورکړې کیږی چه دا هرڅه خما په قبضه دقدرت کښې دی او کوم څه چه حضور ﷺ سره دی دا ټول خما رحمت دې او خما کرم دې»

بیا یوځل الله تعالی د دې تجربه هم ظاهره کړه . یو وارې حضرت جبرائیل ﷺ د نا آشنا سړی په صورت کښې تشریف راوړو او د اسلام د عقائدو او د اعمالو په باره کښې ئې د حضور ﷺ نه څهٔ سوالونه وکړل . چه په دې سره صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم ته تعلیم ورکول مقصود وو . چونکه صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم به د حضور ﷺ نه په پوښتنو کولو باندې ویریدل چه چیرته بیکاره سوال ونکړو او خصوصاً کله چه په قرآن کریم کښې د دې ممانعت نازل شو نو صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم نور زیات هم په ویره کښې شول، نو د دې وجې نه حضرت جبرئیل ﷺ سوالونه وکړل او حضور ﷺ ورته جوابات ورکړل چه په دې سره صحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم ته فائده حاصله شوه

په دې موقع باندې په ابتداء کښې حضور ﷺ حضرت جبرئیل ﷺ نهٔ وو پیژندلې . نو هغه چه کله تشریف یوړو نو حضور ﷺ حاضرینو ته اوفرمائیل چه تاسو دې تلاش کړئ . هرکله چه هغه ونهٔ موندل شو نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه دا حضرت جبرئیل ﷺ وو

چه درویښت کاله ئې چا سره دوستي وه نو په آخرعمر کښې حضور ﷺ هغه ونه پیژندلې شو . د الله تعالی د طرفه دا د خپل قدرت اظهار وو چه هرڅه خما په قبضه دقدرت کښې دی مونږچه کله څه هم وغواړو نو اخستې ئې شو . دا تنبیه خو دعلم په باره کښې وه . د عمل په باره کښې فرمائې

﴿ وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ ﴾ (۱۷: ۷۴)

حضور ﷺ سره زمونږ مدد دې ، مونږ په حق باندې مضبوطیا ورکړې ده . دا ټول هر څه خما رحمت سره دی ، مونږه ټینګ کړې دې ، که چیرې مونږه نوې ټینګ کړې نو حضور ﷺ به که ټول نوې نو څه نا څه خو به ضرور د کفارو طرف ته مائل شوې وې .

یا الله : مونږه هم په حق باندې داسې مضبوط کړې چه خراب ماحول ، خرابه معاشره، نفس او شیطان ، د ویښتهٔ برابر مو هم لړې نه کړی ، زمونږهٔ زړونه هم دغه رنګه مضبوط کړې په خپل دین . خپل محبت . او د آخرت په فکر باندې چه په دې کښې معمولی غوند خوزیدل هم رانشی او په مونږ د غیر تعلق او محبت غالب رانشی .

د حضور ﷺ په باره کښې الله تعالی په بل ځائ کښې فرمائی : ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ ﴾ (۴: ۱۱۳)

که چیرې حضور ﷺ سره زمونږ فضل نوی نو د کفارو یو داسې جماعت په حضور ﷺ پسې په دې نیت لګیدلې دې چه حضور ﷺ د حق دلارې نه خطا کړی .

دا زمونږه مدد دې چه حضور ﷺ د دوئ د حملو نه محفوظ دې او په حق باندې قائم دې .

دا درې واړه آیتونه د حضور ﷺ په باره کښې دی ، نور خلق په دې باندې قیاس کول پکار دی که معمولی کبر او عجب په زړه کښې پیدا شو نو ټول کړې شوی اعمال به ضایع شی . هرکله چه د سید دوعالم محبوب رب العالمین ﷺ دا حال دې نو بیا د نورو به څه مجال وی .

په ګناه پرېښودونکو باندې د الله تعالی فضل

د عامو مؤمنینو په باره کښې ئې فرمائیلې دی ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ ﴾ . (۲۴: ۲۱)

که چیرې په تاسو باندې د الله تعالی فضل او د هغهٔ کرم نهٔ وای نو ستاسو نه به یو شخص هم کله د ګناه څخه نه وو پاك شوې . لیکن الله تعالی چه څوک وغواړی د ګناهونو نه یې پاکوی

دلته الله تعالی ګناه پرېښودلو ته پاکیدل اوفرمائیل . الله تعالی دې مونږه ټول په خپل رحمت سره د ګناهونو نه پاك کړی

معنوعه .ا سو .حه د سه تعالى : طرفه مدد هغه وخت وي چه كله په هغه باندې غذ و ي كوښښ همت د گڼهونو بريښودو تدابير او علاج . دا ټول د خپل طرف نه وي ځكه چه د سه تعالى حكم دي ليكن نظر به په خپل كمال باندې نه وي په الله تعالى باندې به وي چه په دې اسبابو كښي اثر اچول د هغه په قبضه كښي دي . كه دهغه مدد وي نو گناهونه به پريښودې شو او د هغه د مدد نه بغير هيڅ نشي كيدې

الله تعالى د خپلو بندگانو قول نقل كوي او فرمائي ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى هَدَىٰنَا لِهَـٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِىَ لَوْلَآ أَنْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ ﴾ . (۷: ۴۳)

د الله تعالى بې شميره احسان دې چه مونږ ئې دې مقام ته راورسولو . كه چيرې الله تعالى زمونږ لپاره هدايت نه غوښتلې نو مونږه به ئې دې مقام ته نه رسولو

په غزوهٔ خندق كښي حضور ﷺ په خپل ذات مبارک سره هم خندق كنستې وو د حضور ﷺ حيته مباركه په خاوروباندې لت پت وه او هغوئ ﷺ خپل مولى سره داسې په نياز او عجز سره خبرې كولې والله لولا الله ما اهتدينا ـ ولا تصدقنا ولا صلينا : يعنې په الله مې دې قسم وي كه چيرې دالله تعالى مدد نهٔ واى نو مونږه به د دين هيڅ كار نشو كولې . د جهاد غوندې عبادت او د خندق كنستلو د ډير سخت محنت باوجود په خپل عمل باندې دناز كولو په ځائ نياز كول دي

د نيكئ نه پس هم ويريدل پكار دي

حضرت ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام د بيت الله تعمير كولو . او تعمير داسې چه صرف په مال سره نه. بلكه خپل ځان يې پكښې هم لگولې دې . خته به ئې په خپله جوړوله . ښختې به ئې هم په خپله راوړې او لگولې به ئې . او تعمير هم په خپله خوښه نهٔ دې بلكه په وحي سره دالله تعالى په حكم باندې ئې جوړوي ليكن د زړه ئې دا حال وو چه هر وخت به ئې په زړهٔ كښې ويره وه چه هيڅ معلومه نده چه زمونږ دا عمل مقبول دې او كنه؟ ځكه به يې هروخت دا دعاء په خوله جاري وه چه . ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم (۲: ۱۲۷)

اى زمونږ الله ! زمونږ كوششونه قبول كړه . بيشكه ته آوريدو او پوهيدلو والا يې

د الله تعالى د خپلوبندگانو سره معامله وگورئ چه د وحي په ذريعه ئې دا وئه فرمائيل . چه ... سو مطمئن شئ مونږه قبول كړو . الله تعالى خو خپل بنده په داسې حالت كښې لېدل غواړي چه ويريږي او توبه اوباسي . مگر نن صبا شيطانان او يا د نوم مسلمانان چه خلق ئې صوفيان او بزرگان گڼي نو هغوئ څه وائي ؟ چه ...كوئ او ويريږئ ... د دې مطلب دا دې چه گناه كوئ د ... په گناه كولو كولو باندې د خلقو عقلونه مسخ شوي دي . خو دا خبره به عمل كښو ...

راخي چه څوک ویریږی نو هغوئ به څنګه ګناه کوی؟ ددې پوهه په دې مثال سره کیدې شی . که یو سړی ته د مار په سوړه کښې د ګوتې ورکولو او ونیلې شی نو آیا څوک به دا همت وکړی چه ګوته وردننه کړی ؟ اګرچه په ګوته داخلولو کښې نقصان یقینی ندې خکه چه نورهم ډیر احتمالات کیدې شی مثلا (۱) کیدشی چه هغه د مار سوړه نهٔ وی بلکه د بل ځناور وی .

(۲) که چیرې د مار سوړه هم وی نو دا ضروری نده چه مار دې پکښې د ننه وی، کیدې شی چه بهر تلې وی .

(۳) که چیرې دننه مار هم وی نو ضروری نده چه هغه دې د تک ورکولو د پاره دې تیار وی . دا هم ممکنه ده چه آرام کوی .

(۴) که چیرې بیدار هم وی نو ضروری نده چه خامخا دې تک ورکړی

(۵) که چیرې تک هم ورکړی نو دا ضروری نده چه په دې سره دې دغه انسان مړ شی . کله کله د هغې زهر بالعکس اثر هم کوی او د صحت د پاره مفید ثابت شی . چه د دوسره احتمالا تو باوجود یو انسان د مار په سوړه کښې د ګوتې ورکولو همت نکوی . خکه چه د هغهٔ په زړهٔ کښې ویره موجوده ده . نو دغه شان څوک چه د جهنم د عذاب نه ویریږی او د هغه په زړه کښې د الله تعالی ویره موجوده وی نو هغه به ګناه څنګه کوی ؟

د الله تعالی نه د ویریدونکو خلقو حالات

د کولو او ویریدلو .. پوښتنه د حضور ﷺ نه وکړئ: کله چه دا آیت نازل شو .

﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ۝﴾ . (۲۳: ۶۰) ،کوم خلق چه عمل کوی او څه هم کوی لیکن د هغوئ زړه په دې ویره کښې وی چه هغوئ خپل رب ته تلو والا دی .

الله تعالی د حضرت عائشې رضی الله عنها په زړه کښې یو سوال پیدا کړو . که چیرې دالله تعالی دا رحمت نوې نو د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په زړه کښې به نې د ا سوال نهٔ پیدا کولو . اوکه نه نو نن صبا صوفیانو ته بهٔ یو دلیل پیدا شوې وو او هغوئ به دا ونیلې چه د دې آیت مطلب دا دې چه ګناه کوئ او ویریږئ

حضرت عائشې رضی الله عنها د حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه چه آیا د دې آیت نه هغه خلق مراد دی چه کوم خلق ګناه کوی او ویریږی ؟ - حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو . چه نه . بلکه د دې نه هغه خلق مراد دی چه نیک اعمال کوی او ویریږی هم ، مونځ ، روژه ، صدقات ، خیراتونه کوی او ویریږی چه معلومه نده چه زمونږ دا اعمال او نیکئ به قبولې وی او کنه ؟

نیاں یا رب مری بدکاریوں سے بد ہوئیں

وہ بھی رسوا کن ترے دربار میں بے حد ہوئیں

وي فرمائيل ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ۝ ﴾ (١١٠ : ٣) د خپل رب تسبيح بيانوه اوله ډير ذكر سره سره استغفار كوه . ذكرالله سره هم د استغفار كولو حكم دي. كيدې شي چه زمونږ دا تسبيح قبول وي يا نه وي. داسې نوى چه د اجر او ثواب په خاى گرفت وشى . د قبول او اجر لائق خو نهٔ يو مگر يا الله . ستا كرم ډير وسيع دې . د هغې كرم په صدقې سره درنه سوال كوو چه يا الله تهٔ مو قبول كړې . ليكن د نن صبا صوفى دا وائې چې د گناه نه پس هم استغفار منهٔ كوه او ويريږه

او بيا يى فرمائيلې دى : ﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ۝ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ۝ ﴾ (٥١ : ١٧ : ١٨)

د الله بندگان په شپه كښې ډير نهٔ ويده كيږى . اول په «قليلا» كښې قلت بيا په تنوين كښې قلت . په «من» كښې قلت . په «ما» كښې قلت . د څلورو تاكيدونو سره الله تعالى فرمائى چه زمونږه بندگان په شپه كښې ډير كم ويدهٔ كيږى .توله شپه په عبادت كولو كښې تيروى . ليكن كله چه سبا شى نو په خپل عبادت باندې ناز نكوى چه مونږه توله شپه د الله تعالى په ياد كښې تيره كړه بلكه ويريږى چه معلومه نده چه الله تعالى ته بهٔ زمونږ عبادت قبول وى او كنه ؟

او فرمائى ﴿ الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ ۝ ﴾ (٣ : ١٧) په داسې اوصافو كښې كمال او اوچت مقام ته د رسيدو باوجود د شپې په آخر كښې استغفار كوى . او په دغه حالت كښې د دې بندگانو زندگى تيريږى . په خپلو نيكو باندې هم استغفار كوى او هر وخت په دې ويره كښې وى چه خما اعمال به قبول وى او كنه ؟ د الله تعالى كرم ته كتل پكار دى چه د هر طرف نه څنگه مدد فرمائې كه چيرې ناز او عجب پيدا كيږى نو تنبيه فرمائى چه دا ستا څه كمال ندې بلكه هر څه خما په قبضه دقدرت كښې دى . او كه زياته مايوسى او ويره پيدا كيږى نو بيا داسې تسلى فرمائې ﴿ اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ (٥٧ : ١٧)

الله تعالى د باران په ذريعې سره مړه زمكه ژوندئ كوى او په دې كښې ميوې او گلونه پيدا كوى نو دهغهٔ قدرت ته دا څه مشكله ده چه د خپل رحمت د باران په ذريعه سره ستاسو مړه زړونه ژوندى كړى او د خپل محبت او اطاعت باغونه پكښې جوړ كړى

نو دا فكر كول پكار دى چه كوم ذات د عمل دا ظاهرى صورت او د زړهٔ توفيق راكړې دې ...

هغه د دې قبلولو والا هم دې که چیرې د دې قبلول ئې مقصود نهٔ وای نو د عمل د ظاهری صورت توفیق ئې ولې راکولو

دا دعا کول پکار دی چه : یا الله تا چه کوم ظاهری صورت د عمل راکړې دې . نو مونږه تانه د دې په واسطه دا دعا کوو چه په خپل فضل سره په دې کښې روح پیدا کړه. او دا قبول کړه. کله چه د قرب مقام اوچتې درجې ته ورسیږی نو بیا کله کله د خوف حالت غالب کیږی

په یو بزرګ باندې دا حالت غالب شوې وو او ډیر پریشانه وو نو جواب ورته ورکړې شو چه :

گفت این الله تو لبیک ماست — این فغان وآه زاری پیک ماست

وې فرمائیل : تاته چه زمونږ د نوم اخستو کوم توفیق درکول کیږی نو دغه زمونږ د طرفه د قبولیت پیغام دې . د یو وارې «الله » وئیلو نه پس دویم وارې د «الله» وئیلو توفیق کیدل . د یو وارې مونځ کولو نه پس دویم وارې د مونځ کولو توفیق . د الله تعالی د طرفه د قبولیت علامت دې . ځکه خو ئې د دوباره نوم اخستو او دوباره خپل دربار ته د غوښتلو توفیق در نصیب کړو

ع : **این فغان و آه زاری پیک ماست**

که زمونږ د ویرې او محبت د وجې ژړا درزی . او ژارې ، چغې وهې ، آوازونه کوې . نو دا د دې خبرې پیغام دې چه تهٔ زمونږ په دربار کښې حاضر یې .نواوس مطمئین اوسه . زیات مهٔ ویریږه .

امید هم پکار دې او ویره هم (**الایمان بین الخوف والرجاء**) ایمان د ویرې او د امید په مینځ کښې دې

الله تعالی د خپلو بندګانو حال بیانوی او فرمائی : ﴿ **تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا** ﴾ (۳۲: ۱٦)

یعنی د هغوئ اړخونه د بسترو نه لرې وی . او خپل رب ته د ویرې او امید سره سره آواز کوی .

د استغفار حقیقت

غرض دا دې چه اهل الله ته په خپل عبادت باندې ناز نوی بلکه هغوئ د عبادتونو سره سره ډیر استغفار هم کوی .ډیر خلق استغفار صرف د وظیفې په طور سره وائی . چا د ورځې د سلو وارو معمول جوړ کړې دې . چا د سحر او ماښام معمول جوړ کړې دې . لیکن صرف په وئیلوسره کار نهٔ کیږی بلکه ترکومې پورې چه د استغفار حقیقت زړه ته نوی کوز شوې نو ترهغې پورې کار نه کیږی. د استغفار حقیقت دا دې چه انسان خپل ځان حقیقةً ګنهګار وګنی او خپل ځان ملامت کړی او داسې اووائې چه یا الله ځه اعتراف کونکې مجرم یم . په خپلو ګناهونو ګواهی کوم . یاالله تهٔ ما معاف کړې . او آینده د پاره د ګناهونو نه ځما حفاظت وکړې . یا الله ځه ډیر زیات عاجز یم . نفس اوشیطان او خراب ماحول ډیر غالب دې . د دې په مقابله کښې تهٔ ځما مدد اوفرمایه . که

... وي نو به ما باندې د چا هيڅ زور نشي چليدې . دا دعا او استغفار دې معمول جوړ کړی د ... ژبه اکسيره نسخه ده . د دې قدر کول پکار دی . الله تعالی دې توفيق راکړی

د اهل الله ويره

الله تعالی د خپلو مقبولو بندګانو اوصاف بيانوی او فرمائی ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ ﴾ (٢٤: ٣٧)

د الله تعالی بندګان هغه خلق وی چه هغوئ د الله تعالی د ياد نه د دنيا د لويو نه لويه ګټه نشي غافله کولې . په هر کار کښې د الله تعالی ياد ورته مقدم وی . د الله تعالی نه د غافله کيدو مطلب دا ندې چه هغه دې هر وخت الله الله کوی بلکه مطلب د خبرې دا دې چه د هغهٔ نه د الله تعالی نافرمانی نشی کيدې

د الله تعالی ياد د هغهٔ د ژبې نه علاوه د هغه په زړه کښې داسې مضبوط کړې شوې وی که چيرې د لويې نه لويه ګټه د هغهٔ مخې ته راشی نو هغه لره د الله تعالی د اطاعت او فرمانبردارئ نه نشی غافله کولې . هغه د الله تعالی تعلق نهٔ هيروی . هغه ته هر وخت دا خيال وی چه خما مالک ما ته ګوری . هر وخت ورته دا فکر وی چه هسې نه خما مالک خما نه خفه شی . خهٔ ټوله دنيا غورځولې شم ليکن خپل مالک نهٔ شم ناراضه کولې

ليکن د دې دومره لوئ مقام باوجود په هغه کښې عجب او کبر نهٔ پيدا کيږی . چه ګويا مونږه دومره لوئ خلق يو بلکه د عاجزئ او انکسارئ دا کيفيت وی چه ﴿ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴾ .

يعنی د قيامت د ويرې نه د هغوئ زړونه رپيږی چه د هغې ورځې د ويرې نه به زړونه ګډود شی د زياتې ويرې نه د قيامت نقشه د هغوئ مخې ته وی

د يوې شبهې ازاله

چا ته دا شبه کيدې شی چه حضور ﷺ د يوې دعا تلقين فرمايلې دې ((اللهم اجعلنی من الذين اذا احسنوا استبشروا واذا اساءوا استغفروا)) يا الله ! ما د هغې خلقو نه جوړ کړې چه کله د هغوئ نه څه نيک کار وشی نو خوشحاليږی او که د ګناه کار ترې وشی نو فورا استغفار کوی .

په دې دعا کښې دا هم دی چه په نيک کار خوشحاله کيدل پکار دی حالانکه د دې نه مخکښې چه کوم آياتونه بيان شوی دی په هغې کښې دا دی چه د الله تعالی نيک بندګان د نيک کا

کولو نه پس نۀ خوشحالیږی بلکه ویریږی چه معلومه نده چه خما عبادات قبول دی او که نه؟

د دې اشکال جواب مې وړاندې ذکر کړې دې چه په زړه کښې دواړه حالتونه پیدا کیدل پکار دی . خوشحالی هم او خوف او ندامت هم . لکه چه د یوې ښځې بچې دپیدا کیدو په حال کښې وی نو هغه په عین موقعه باندې ویریږی چه معلومه نده چه څه حالات به وی . چیرته مره نۀ شم . او خوشحاله هم وی چه د الله تعالی د طرفه به یوڅه راکول کیږی، چاته چه د بچی پیدا کیدو خوشحالی وی نو هغې سره ویره هم وی . دغه شان د الله تعالی سره چه د چا تعلق پیدا شی . په زړه کښې ئې د هغۀ سره محبت پیدا شی . د نیکو اعمالو توفیق ورته ورکړل شی . گناهونه پریږدی ، نو په داسې حالت کښې به دهغه زړه د خوشحالئ نه ډک وی مگر ورسره به دا ویره هم وی چه الله تعالی راباندې دومره لوئ نعمت کړې دې دا خالص د هغه فضل او کرم دې . هسې نه چیرته مانه غلطی وشی او خما په څه حالت هغه خفه شی او دا ټول نعمتونه رانه واخلی نو بیا به خما څه حال وی . نو له همدې وجې نه هغه ویریږی دغه شان په زړه کښې ئې دواړه حالات وی .

د دې حالت داسې تعبیر هم کیدې شی چه اهل الله د عبادت په ظاهری صورت باندې خوشحالیږی ځکه چه ډیر خلق داسې وی چه هغوئ د عبادت ظاهر صورت هم نشی جوړولې . مگر هر کله چه هغه دا فکروکړی چه د هغۀ په عبادت کښې روح هم شته اوکه نه؟ نو ورته ښکاره شی چه هغه خو نشته نو په دې باندې هغه ژاړی . چغې وهی . او استغفار کوی .

یو بل تعبیر داسې هم کیدې شی چه د عبادت توفیق د الله تعالی د طرفه ورکړل ، دا دهغۀ انعام دې . د هغۀ کرم دې .نو بیا دا فکر کوی چه یو طرف ته د الله تعالی داکرم او بل طرف ته دا حالت چه ما دا په صحیح طریقې سره ادا نۀ کړو. د عبادت حق ادا نشو ، څه ډیر ناقص یم . د عبادت شکل نشی جوړیدې نو کیفیت به ئې څنگه شی . چه دالله تعالی طرف ته نسبت وی نو خوشحاله وی او چه خپل طرف ته متوجه شی نو ملامته شی . په دې باندې استغفار وائی .

د عبادت د قبلیدو کوم علامات چه ما وښودل چه انسان به یې کوی هم او ویریږی به هم ، دا علامات او معیار عام دې برابره خبره ده که څه متعدی خدمت کوی او یا صرف ذاتی عبادا تو کښې مشغول وی . په دواړو صورتونو کښې دا حالت پکار دې .

د اخلاص او قبول دریمه علامه

خلقو ته د تبلیغ کولو په ځائ په خلوت کښې زیات زړه لگول

کوم سړې چه نورو خلقوته دین رسوی که چیرې د هغۀ طبعیت او اصل مذاق داوی چه په خلوت کښې د الله تعالی یادولو ته ئې زړه بې قراره وی . نه ئې زړه چا سره ملاویدل غواړی او نۀ چا سره خبرې کول غواړی . گویا چه دا حال ئې جوړ شوې وی

مجھے دوست چھوڑدیں سب کوئی مہرباں نہ رہے
مجھے میرا رب ہے کافی مجھے کُل جہاں نہ رہے

شب وروز میں ہوں مجذوب اور یاد اپنے رب کی
مجھے کوئی ھاں نہ رہے مجھے کوئی نا نہ رہے

خلقو ته په تبليغ کولو کښې ئې په زړه باندې ډیر بوج وی لیکن د مالک د حکم د تعمیل د وجې نه مجبورا خلقو ته تبلیغ کوی نو دا د دې خبرې علامه ده چه د هغهٔ تبلیغ او د دین خدمت الله تعالی ته مقبول دې.

او که په خلوت کښې ئې زړه ویریږی. هروخت ئې په زړه کښې خلقو ته د تبلیغ او بیان کولو شوق وی نو دا د دې علامه ده چه د دهٔ دینی خدمات قبول ندی ځکه چه هغه دا خدمات د الله تعالی دپاره نکوی د الله د قانون خلاف ورزی کوی او د خپل نفس دپاره ئې کوی.

د حضور ﷺ طبعیت او اصل مقصد دا وو چه «**حبب الیه الخلاء**» الله تعالی د هغه د پاره خلوت خوښ گرځولې وو ، د تبلیغ د پاره په خلقو کښې کیناستل هغوئ ته ډیر مشکل وو . ځکه د الله تعالی ارشادوشو چه ﴿وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ﴾ (۱۸: ۲۸)

او تاسو ځان سره خپل هغه کسان مقید وساتئ کوم چه شپه او ورځ د خپل رب عبادت د هغهٔ رضا کولو د پاره کوی.

یعنی مونږه پوهیږو چه خلقو کښې ناسته تاسو ته گرانه ده ځکه تاسو ته حکم کولې شی چه: تبلیغ د خاطره په خپل طبعیت باندې زور وکړئ او د خلقو سره کینئ.

زړهٔ خو په هر وخت کښې بغیر د څه واسطې نه د دیدار د پاره ناقراره دې لیکن د هغهٔ حکم دی چه ځما پیغمام نورو خلقو ته ورسوه ، ځکه خو د محبوب د حکم په تعمیل کولو کښې خپله خواهش فنا کوی

اریدوصاله ویریدهجری فاترك ما ارید لما یرید

زهٔ خو د محبوب وصال غواړم او محبوب ځما فراق غواړی پس زهٔ خپل خواهش د محبوب په خواهش باندې قربانوم

نہ دیکھا جائے گا خون تمنا اپنی آنکھوں سے مگر تیرے لئے جان تمنا یہ بھی دیکھی گے

د اخلاص او قبول خلورمه علامه
دینی خدمتونه دې د شریعت د قوانینو مطابق وی

په دنیا کښې چه انسان کوم کار هم کوی که د دنیا کار وی او که د دین . چه د الله تعالی کوم عبادت کوی یا د شریعت د کوم حکم تعمیل کوی . د دې ټولو کارونو ، عباداتو . احکامو کولو د پاره څه قوانین مقرر کړې شوی دی . الله تعالی انسان له د دغې قوانینو پابند جوړ کړې دې . د دهٔ دمرضئ او طبیعت ته یې حواله کړې ندی چه څنګه ئې په زړه کښې راځی هغه شان دې کوی .

فرمائیلې ئې دی : ﴿أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾﴾ ، (۷۵ : ۳٦).
آیا انسان دا ګمان کوی چه دې به همداسې مهمل پریښودې شی ؟

د هر کار کولو په وخت دې انسان دا سوچ کوی چه زهٔ د قانون بنده یم . د الله تعالی د جوړ شوو قوانینو نه زه لږ غوندې هم اخوا دیخوا نشم تلې ، که چیرې د هغه قوانینو مطابق می کار وکړو نو دالله تعالی مدد به راسره شامل حال وی ، د هغهٔ رضابه حاصله شی ،په مقصد کښې به کامیابی حاصله شی .او که چیرې د قانون مطابق کار کولو باندې کار ونشو بلکه کار خراب شو . که چیرې بالکل هم ونشو نو بیا هم زهٔ کامیاب یم . ځکه چه څما کامیابی په دې کښې ده چه د مالک د قوانینو خلاف ونکړم ، که چیرې د قوانینو خلاف په کولو کښې زهٔ ټوله دنیا هم فتح کړم نو په آخرت کښې به په جهنم کښې غورځولې شم ، هلته دا پوښتنه نشی کولې چه کار دې څومره کړې وو ؟ هلته خو به دا پوښتنه وی چه زمونږ په قوانینو چلیدلې وی او که نه ؟

لهذا کوم خلق چه د الله تعالی د دین په خدمت کښې مشغول دی که هغوئ د قوانینو مطابق د دین خدمت کوی نو د هغوئ دغه خدمات به قبول وی او که د خپل زړهٔ مطابق ئې وکړو ، د قوانینو پروا نکوی . نو هغه د خپل نفس بندیان دی . د الله تعالی بندیان ندی ، د هغوئ دینی خدمات د خپل ځان د پاره دی، د الله تعالی د پاره ندی ، د هغوئ تبلیغ قبول ندې . که هغه تبلیغ د مدرسو والا وی . که د اهل سیاست والا وی، یا د اهل خانقاه والا وی ،یا کومو خلقو ته چه تبلیغیان وئیلې شی د هغوئ وی . د چا هغه هم قبول ندې ، هلته بهٔ د چا هم رعایت نوی د ټولو د پاره د الله تعالی یو قانون دې

اوس د الله تعالی قوانین په نمبر نمبر بیانوم کوم خلق چه د دین په کارونو کښې مشغول دی . هغوئ دې دا قوانین مخې ته کیږدی او خپله اندازه دې ولګوی . او فکر دې کوی چه د هغوئ دینی خدمات د الله تعالی دپاره دی او که د خپل خان دپاره

د دینی کار کولو دپاره د شریعت قوانین

اول قانون د څه مصلحت د وجې نه یوه وړه گناه کول هم جائزه نده

د نه تعالی اول قانون دا دې چه تاسو خما ددین خدمت وکړئ لیکن د دین د خدمت کولو د سره زمونږ به قوانینو کښې چیرته هم تاسو ته د ترمیم کولو اجازت نشته . مونږه دین د قیامته پورې مکمل کړې دې . د قیامته پورې راتلونکی واقعات . مصلحتونه . حکمتونه . ټول زمونږ په نظر کښې دی

به یوه موقعه هم چاته اختیار نشته چه هغه دې د څه مصلحت د پاره د الله تعالی په قانون کښې تبدیلی وکړی یا د څه مصلحت د وجې نه دې یو قانون پریږدی یا دې څه گناه وکړی یا بل چا سره په گناه کښې شریک شی . د دې بالکل گنجائش نشته . خواه که هغه مصلحت خلقو له په دین کښې د شاملولو د پاره وی . د اهل سیاست سیاسی مصلحت وی . د اهل مدرسې د مدرسې د بچ کیدو د پاره وی . د هیڅ مصلحت د وجې نه د الله تعالی نافرمانی کول جائز ندی

د تبلیغیانو یوه غلطه نظریه

ډیر تبلیغیان دا وایی چه خلقو له دین ته د راښللو د پاره د مصلحت په بنیاد گناه کول جائز دی . د مصلحت د وجې نه د گناه په مجلس کښې داخل شئ . په بدعاتو کښې شریک شئ . د بانک والو دعوتونه قبول کړئ . د هغوئ په گاډو کښې کینئ . دا ټول گناهونه د مصلحت په وجه جائز دی بلکه په داسې کولو کښې ثواب دې

د څه مصلحت د وجې ن د گناه په جائز والی کښې درې قسمه نظریې کیدې شی

(۱) د چا دا نظریه کیدې شی چه خلقو له د اسلام د دعوت ورکولو د پاره دې ټول گناهونه جائز وی . کفر . شرک . بدعت .زنا . غلا . شوکه . شراب څښل .خنزیر خوړل . په ناحقه قتل کول . دا ټول گناهونه حلال دی

خما په خیال دا نظریه خو د چا هم نشی کیدې . لیکن د گناهونو د حلال والی چه کومه بهانه چلیږی د هغې خطره ضرور ده . چه چرته د آئنده خلقو دا نظریه جوړه نشی . الله تعالی دې مونږه ټول له دې نظریې نه محفوظ وساتی . آمین

(۲) دویمه نظریه دا ده چه د دین د څه مصلحت د خاطره د وړې گناه کول هم جائز ندی

دا هغه حقیقت دې کوم چه زۀ همیشه بیانوم چه په هیڅ حال کښې د څه مصلحت په و چه یوه گناه هم نشی جائز کیدې . د دعوت هغه طریقه هم ناجائزه ده چه په هغې کښې دگناه په ذریعه خلقو نه د اسلام دعوت ورکولې شی. داسې قسمه دعوت پخپله هم گناه ده (مخکښې دا مضمون په تفصیل سره راروان دې (...مرتب)

(۳) دریمه نظریه دا کیدې شی چه د مصلحت د وجې خو بعضې گناه جائزه شی او بعضې نه جائز کیږی

د کومو خلقو چه دا نظریه ده هغوئ دې دا وښائي چه هغوئ سره د دې څه معیار موجود دې او که نه ؟ چه کوم گناهونه جائز کیږی او کوم ناجائز کیږی؟ . بانک . انشورنس . او د کستم غونډې حرامې گټې والا په نیزد خوراك کول خو هغې خلقو حلال کړل نو زنا . شراب . خنزیر او مرداره خوړل ولې حلال ندی ؟ دا دې وښودلې شی چه آیا په هغې او دې کښې څه فرق شته ؟ هغه هم حرام دی او دا هم حرام دی . بلکه د سود حرمت خو د نورو حرامو نه زیات حرام دې . چه د چا د دین دعوت دوئ ورکوی د هغهٔ ارشاد واورئ : حضور ﷺ فرمائلې دی چه د سود یو درهم د شپږ دیرش (۳۲) زناگانو نه زیات دې. (مسند احمد)

دویم ارشاد :- سود دری اویا درجې دی . او په هغې کښې له ټولو نه کمه گناه د خپلې مور سره دزنا کولو برابره ده - (حاکم علی شرط الشیخین)

دریم ارشاد . په شب معراج کښې زه داسې یو قوم ته راوستې شوم چه د هغوئ خیټې دومره غټې وې لکه کوټې او په هغې کښې غټ غټ ماران وو چه د بهر نه ښکښې ښکاریدل . ما اوو ئیل ای جبرائیله ! دا کوم خلق دی . هغهٔ اوفرمائیل چه دا سود خورونکی دی . (مسند احمد)

د بدعت مجالس . میلاد . قرآن خوانی . تیجه . او څلویښتی کښې شریک کیدل ئې هم جائز کړل . دبدعت په شان غټه گناه په دنیا کښې نشی کیدې . که چیرې د دین د تبلیغ دپاره په بدعاتو کښې شریك کیدل جائز شی نو هره لویه گناه جائزه شوه . بیا دا تبلغ د دین نشو بلکه د گناه تبلیغ شو . پکار خو دا وه چه خلق د الله تعالی سره جوړ کړې شی مگر دوئ پخپله د هغې خلقو سره شو کوم چه د الله تعالی نه لرې شوی دی . او دا سوچ هم پکار دې چه ستا د دې عمل د وجې به په هغه خلقو د دې تبلیغ څه اثر وشی ؟ ته پخپله گناه نشی پریښودې نو هغوئ به څنگه گناه پریږدی ؟

تبلیغیانو ته درې خبرې

داسې تبلیغیانو ته زه درې خبرې کوم . په دې باندې دې هغوئ ښه غور وکړی
ع کیدې شی ځما خبره د چا په زړه کښې کوزه شی

هغه درې خبرې دا دی

(۱) آیا د تبلیغ په غرض د جوړ پیدا کولو د پاره هرقسم گناه جائزه ده ؟ کفر . شرک . بدعت . زنا . شراب . قمار . سود . رشوت . بې پردگی . بې حیایی . تصویر او د ټی وی لعنت . علا . نرکه .وغیره هرقسم بدمعاشی او فحاشی . آیا د تایغ په غرض دا ټول هرڅه جائز کیږی ؟ که چرې نه جائز کیږی نو بیا خو یو معیار ښودل پکار دی چه فلانکئ . فلانکئ گناه کول ناجائز دی

او ناسو جائز دي

(۲) تاسو چه کله د فساقو او فجارو سره په گناهونو کښې شریك کیږئ نو تاسو هغوئ له د رحمان سره نه جوړوئ بلکه تاسو پخپله دهغوئ په ملاویدو کښې د شیطان سره یوځائ کیږئ . هغوئ د ځان سره یوځائ کول او جنت ته تلو والا نه بلکه پخپله هغوئ سره په یوځائ کیدو کښې جهنم ته روان یئ

(۳) هرکله چه تاسو د خپل مقدس صورت سره په گناهونو کښې شاملیږئ نو ستاسو د دې رویئ د وجې به هغه خلق له دوو خرابیانو نه په یوه کښې ضرور مبتلا کیږی

(۱) اول خو به هغوئ دا اثر اخلی چه په تولو د نیا کښې د تبلیغ کار کولوولا حضرات د بدعاتو . منکراتو . فواحشو نه ځان نه بچ کوی نو دا د دې خیزونو د جائز کیدو دلیل دې . اول خو به دغې خلقو دې محرماتو لره حرام گڼل او د دې ارتکاب به ئې کولو . شائد چه کله ورته د توبې توفیق ملاؤ شوې وې . کم از کم پښیمانتیا خو به ورته محسوس کیدله . مگر تاسو سره د ملاویدو نه پس خو تول حرام ورته حلال شو . نو په داسې حالا تو کښې بیا د فواحشو نه بچ کیدل او ندامت او یا د توبې او استغفار ضرورت پاتې نشو

(۲) که چیرې هغوئ د محرماتو د حلال گڼلو سبق ستاسو نه وانخلی نو بیا هم کم از کم دغه محرمات به واړه گناهونه خو ضرور گڼی . او دا عقیده به لری چه انسان د تولو گناهونو د ارتکاب باوجود هم یو دیندار او کامل مسلمان څه چه د اسلام داعی جوړیدې شی . بیا به هغه هم په جماعت کښې شامل شی . تاسو خو د اول نه د هغوئ د جوړولو د خاطره بنه گناهونه کول . لیکن اوس هغه هم د گناهونو نه د توبې کولو نه بغیر تاسو سره شامل شو . بلکه د نورو د جوړولو د پاره به نور گناهونه هم کوی . نو په داسې کولو سره به د دین تبلیغی جماعت د فساقو او فجارو یو جماعت جوړ شی

د خدائ د پاره لږ فکر وکړئ چه بیا به دا د دین تبلیغ وی که د فسق او فجور د بدعاتو او منکراتو تبلیغ به وی ؟

د تبلیغ د خاطره په گناهونو کښې دشریکیدونکو مثال

کوم کسان چه دتبلیغ د خاطره په گناهونو کښې شریك کیږی د هغوئ مثال داسې دې لکه یو سړی په سمندر کښې ډوبیږی . او د هغه بچ کولو والا خو یا څوک ماهر لامبوزن وی یا د هغه سره کښې وی نو هله به هغه د ډوبیدو نه بچ کړی اوکه نه نو دهغه د بچ کیدو په کوشش کښې به د هغه د بچ کیدو به ځائ به خپله ډوب شی . نو دغه شان چه یو انسان بل شخص په گناه کښې او ویني نو هغه لره د گناهونو نه د بچ کیدو به ځائ بخپله په گناه کښې شریك کیږی . نو دې هغه لره د جهنم نه

د بچ کیدو به ځای خپل ځان جهنم ته غورځوی

د یو پیر صاحب واقعه

د پنجاب نه یو مشهور پیر صاحب کراچۍ ته راغلې وو چه هغه په تبلیغ کښې هم ډیرې چلې نکولې وې . چه په کوم کور کښې هغه اوسیدلو نو هغې کور والو سره چا یو ځائ په ټی وی کتلو بندې ولیدلو .نو هغهٔ ورته وویل چه تاسو له خو پکار دی چه تاسو دوئ منع کړئ . نو تاسو پخپله دوئ سره په ګناه کښې شریک یئ ؟ نو پیر صاحب ورته اوویل که چیرې خه دې خلقو سره شریک نشم نو ددوئ اصلاح به څنګه کیږی؟ د نن زمانې پیران خلقو سره په ګناه کښې شریک کیدل د هغوئ د اصلاح ذریعه ګنې نورو خلقو لره د جهنم نه د بچ کولو په ځائ په خپله د جهنم خشک جوړیږی

د اهل مدارسو غلطه نظریه

اهل مدارس هم ډیر ناجائز کارونه د مصلحت د خاطره کوی . چه هغوئ ته اووئیلې شی چه دا کار خو ناجائز دې نو د هغې په جواب کښې وائی چه په دې کښې د مدرسې مصلحت دې .

مدارس خو د دین د حفاظت د پاره جوړ شوې دی ، د دین د یوې مسئلې د خاطره په زرګونو مدارس بلکه د ټولې دنیا مدارس قربان شه. لیکن په دې ځائ کښې د مدرسې د حفاظت او مصلحت د خاطره دین قربانیږی نومعلومه دا شوه چه د الله تعالی د پاره کار نکوی د خپل نفس پرستئ او تن پرستئ د پاره کار کوی

کوم خلق چه د الله تعالی د پاره د دین کار کوی دهغوئ اعمال او نظریې څنګه وی ؟

د الله تعالی د پاره د کارکونکو حالات

د دارالعلوم دیوبند واقعه ده. د دیوبند په علاقه کښې یو سړې صاحب ثروت او با آثر وو لیکن هغه صالح اونیک نه وو . هغهٔ یو وارې دا مطالبه وکړه چه زه دې د دارالعلوم د مجلس دشوری رکن جوړ کړې شم

حضرت ګنګوهی رحمه الله په هغه وخت کښې د دارالعلوم سرپرست وو . دې د هغهٔ په رکنیت باندې راضی نشو . د مدرسې رکن خو نیک خلق جوړول پکاروی . حضرت حکیم الامت قدس سره فرمائیل چه ما د حضرت ګنګوهی رحمه الله په خدمت کښې دا ولیکل چه حضرت خه دا رایه ده چه دغه سړې دې رکن جوړ کړې شی . د دهٔ په رکن جوړلو کښې څه نقصان نشته . څکه چه فیصله خو په کثرت د رائې سره کیږی او اکثریت زمونږه دې .او د دهٔ په رکن نه جوړولو کښې مدرسې ته د نقصان رسیدلو خطره ده څکه چه دې ډیر شریر او مال اودولت والا دې او اثر او

رسوخ والا هم دي . دارالعلوم ته به نقصان ورسوی . نو مصلحت په دي کښې دې چه دغه سړې دې رکن جوړ کړې شی. د حضرت گنگوهی رحمه الله جواب واورئ او په زړه کښې ورته ځائ ورکړئ .
الله دې وکړی چه زړونو ته مو کوز شی . اوخبره مو په پوهه کښې راشی . نووې فرمائیل زه ده لره هیڅ کله رکن نهٔ جوړومه . ځکه چه د دهٔ د رکن جوړولو په صورت کښې چه کله الله تعالی ته پیش کیږم ، که چیرې الله تعالی پوښتنه وکړی چه نالائق دې ولې رکن جوړ کړې وو ؟ نو ما سره د دې هیڅ جواب نشته ، او که ما دغه سړې د مدرسې رکن جوړ نکړو نو اول خو یقین دې چه د الله تعالی د قانون مطابق دکار کولو د وجې به د الله تعالی مدد وی ، د دارالعلوم ترقی به وشی نقصان به ورته نهٔ رسیږی . چا سره چه الله تعالی وی نو هغهٔ ته څوک هم نقصان نشی رسولې . د الله ملګرو ته د دنیا هیڅ یو انسان بلکه تمامه دنیا که یوځائ شی نقصان نشی رسولې .او که چیرې څه نقصان هم راشی نو زیات نه زیات دا کیدې شی چه دارالعلوم به بند شی، که چیرې د دهٔ د رکن نهٔ جوړولو د وجې دارالعلوم بند شو نو چه د قیامت په ورځ کله د الله تعالی په وړاندې پیش کیږم او سوال راځخه وشی چه داسې ولې وشو ؟ نو زهٔ به جواب کښې داسې وئیلې شم چه : یاالله . ما ستا د قانون مطابق کار وکړو . یو غیر صالح مې رکن جوړ نکړو . دارالعلوم خما نهٔ وو بلکه ستا وو د هغې چلول او بندول ستا په قبضه دقدرت کښې وو . نو چه تا چلول نهٔ غوښتل نو مونږه به څنګه چلولې وو ؟ »

کوم خلق چه د الله تعالی د پاره د دین کار کوی . د چا په زړه کښې چه اخلاص . د آخرت فکر او د حساب او کتاب ویره وی نو هغه د دین په معمولی مسئله باندې ډیر لوئ لوئ مصلحتونه قربانوی. د حضرت گنگوهی قدس سره د استقامت دا ثمره ښکاره شوه چه هغه سړی چغې او سورې وهلې او د دارالعلوم ئې هیڅ ونکړې شو بلکه دارالعلوم مخ په وړاندې روان وو

د اهل مدارسو د بد گمانو په باره کښې د حضرت یو مستقل وعظ هم دې . نوم ئې «مدارس کی ترقی کاازاله» دې

د سیاست والا غلطه نظریه

سیاست والا هم په خپل خیال کښې د دین تبلیغ او خدمت کوی . مگر د خپل سیاسی مصلحت په وجه د ډیرو ناجائزو اوحرامو کارونو ارتکاب کوی . کله چه هغوئ ته اووئیلې شی چه تاسو د ناجائزکار ولې کوئ ؟ نو هغوئ همدا وائی چه په دې کښې زمونږهٔ سیاسی مصلحت دې . کله چه زمونږ حکومت راشی نو مونږه به په پوره ملک کښې مکمل اسلام نافذ کړو . د خپلو عمل نظرئی د باره دوی د یو حدیث نه غلط استدلال هم کوی

غلط استدلال او دهغې جواب

بعضې سیاسی خلق د دې واقعې نه استدلال کوی

حضور ﷺ د بیت الله شریف د نوی عمارت جوړولو خیال کړې وو . په داسې طریقه چه د لاندې نه به اوچت ځائ (دوکانچه) ختمه کړې شی او د مشرق غوندې به د مغرب طرف ته دروازه خلاصه کړې شی او حطیم به هم په بیت الله کښې داخل کړې شی . مگر چونکه ډیر خلق نوی نوی مسلمانان شوی وو . د هغوئ د خپل آباؤ او د اجدادو پخوانی تعمیر سره محبت وو . نو د دې وجې نه د نوی تعمیر نه دا خطره وه چه ډیر خلق به اسلام پریږدی او کومو خلقو چه تر اوسه اسلام ندې قبول کړې د هغوئ به د اسلام نه نفرت پیدا شی . چه مسلمانانو خو زمونږ د آباؤ اواجدادو هغه پخوانې تعمیر ختم کړو . نو د دې وجې نه حضور ﷺ خپله دا اراده ترک کړه

د دې وقعې نه اهل سیاست دا استدلال کوی چه حضور ﷺ د مصلحت او حکمت په وجه د دین خومره لوئ کار ترک کړو .

داهل سیاست دا استدلال بالکل غلط دې . ځکه په پخوانی عمارت غورځولو او نوی تعمیر جوړولو کښې د شریعت د یوې مسئلې سره هم تعلق نشته . بلکه دا د امور انتظامیه نه وو . د بیت الله د نوی تعمیر مقصد صرف د هغې وسیع کول او خلقو ته سهولت پیدا کول وو د شریعت هیڅ مسئله په دې پورې متعلق نه وه .

حضور اکرم ﷺ د الله تعالی د حکم وړاندې ټول مصلحتونه قربان کړې وو

البته کوم ځائ کښې چه د شریعت یوه مسئله یا د الله تعالی یو حکم مخې ته راغلې دې نو حضور ﷺ په هغه کښې ټول مصلحتونه قربان کړې دی . د دې یو څو مثالونه واورئ

(۱) حضرت زیدرضی الله عنه د حضور ﷺ متبنی وو . ((یعنی نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ته خوئ ویلی وو)) حضور ﷺ دهٔ لره خپل خوئ جوړ کړې وو . دهٔ خپلې بی بی حضرت زینب رضی الله تعالی عنها ته طلاق ورکړو حضور ﷺ ته دا خیال راغې چه دې سره نکاح وکړې شی . لیکن ډیر لوئ دینی مصلحت مخې ته راغې چه په هغې زمانه کښې خلقو د خپلو دمتبنی خامنو ښځې د خپلو حقیقی خامنو دښځو غوندې حرامې گڼلې . که چیرې حضور ﷺ د حضرت زینب رضی الله تعالی عنها سره نکاح وکړی نو خلق به بد اعتقاده او بد گمانه شی .چه دا څنگه نبی دې چه د خپل خوئ له ښځې سره نکاح کوی . ممکنه ده چه کوم خلق نوی مسلمانان شوې دی او دهغوئ ایمان لا مضبوط شوې نه وو نو هغوئ اسلام پریږدی او چاچه اسلام قبول کړې ندې هغوئ اسلام ته د راتلو نه منع شی نو د اسلام به ډیر کار بند شی

مگر چونکه به دې نکاح نه کولو سره د کفارو د غلطې عقیدې تائید وو چه هغه د [illegible]

د دستور خلاف وو چه الله تعالی د متبنی خامنو له ښځو سره نکاح کول حلال کړي دي او د هغې منفي نظر حرام کړي وو . نو ځکه د الله تعالی د طرفه تنبيه نازله شوه چه زما د دې حکم د پاره به ټول مصلحتونه قربان کول وي . او دا نکاح دې ضرور وشي خواه که څوک اسلام راوړي او که نه راوړي او خدانخواسته ټول مسلمانان که دوباره اسلام هم پريږدي . الله تعالی ښه صفا طور سره په قرآن کريم کښې حکم اوفرمائيلو چه دا نکاح به لازمی کول وي او د نه کولو په مصلحت باندې ئې د ډير سخت نقصان تنبيه اوفرمائيله . دلته دا خبره هم ياد ساتل پکار دي چه د متبنی خوئ ښځې سره نکاح کول څه فرض يا واجب نه دي . صرف جائز دي . د دې باوجود الله تعالی حضور ﷺ ته څومره په سختئ سره د دې حکم اوفرمائيلو لکه څنګه چه د ډير اهم فرض حکم ورکولې شي

په دې سره د دې خبرې واضحه کول او د دې اعلان کول مقصود وو چه چيرته د لوئ نه لوئ مصلحت د خاطره به هم د الله تعالی يو قانون نشي ماتولې . اهل سياست . اهل مدارس . او ټول تبليغ کولو والا دې د دې واقعې نه سبق حاصل کړي . چه هغوئ د خپل جماعت . د خپل تنظيم . د خپلو ادارو د ورو ورو مصلحتونو د خاطره د الله تعالی څومره قوانين ماتوی . کوم خلق چه اهل بصيرت او اهل معرفت وي نو هغوئ دا فرمائي . «د دين د يوې ورې مسئلې وړاندې د دنيا ټول مصالح د مصالحې غوندې ريزه ريزه کړئ . مصالحه چه څومره هم زياته ميده کړې شي نو ترکاری زياته لذيذه او خوندوره راځی» .

(۲) **دويمه قصه** حضور ﷺ د مشرکينو د رؤساو سره مخاطب وو او يو نابينا صحابی حضرت عبدالله ابن ام مکتوم حاضر شو او د څه مسئلې پوښتنه کول ئې غوښتل . حضور ﷺ د هغه طرف ته څه توجه ونه فرمائيله . او حضور ﷺ ته په داسې وخت کښې د ده دا سوال کول خوښ نشو . د حضور ﷺ په ذهن مبارک کښې دامصلحت وو چه دا خو خپل ملګري دې دوئ ته خو د استفادې کولو نور وختونه هم ملاويدې شي . د دې رؤساء مشرکينو د پوهه کولو دپاره دا موقع غنيمت دې . ممکنه ده چه دا خلق ايمان راوړي . نو دې نه به اسلام ته ډيره ترقی حاصله شي

ليکن د الله تعالی دا دستور او قانون دې چه د کومو خلقو په زړه کښې طلب وي نو د هغوئ دې زيات رعايت وکړې شي او طلب والا دې په بې طلبه باندې مقدم کړې شي . ځکه الله تعالی به د حضور ﷺ دا عمل خوښ نشو او په سورت عبس کښې ئې په دې سخته تنبيه اوفرمائيله

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ① أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ② وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ③ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ④ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ⑤ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ⑥ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ⑦ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ⑧ وَهُوَ يَخْشَىٰ ⑨ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ⑩ ﴾

(۸۰ : ۱ - ۱۰)

پيغمبر ... تندي تريو کړو او متوجه نشو . په دې وجه چه ده له يو ړوند راغلي ... او ... ته

معلومه ده کیدي شی دي پاک شوي وی او نصیحت ئي قبول کړي وي نو د دۀ نصیحت قبلولو به فائده رسولي وه . چه کوم سړي بي پرواهی کوی ستا نه نو تۀ د هغوئ په فکر کښي يې حالانکه په تا هيڅ الزام نشته که دوئ پاک نشی .او کوم سړي چه تاله په منډه راځی او ويرېږی نو تاسو د هغۀ نه بي رغبتی کوئ»

کوم خلق چه په عربئ پوهیږی او په چا کښي چه د قرآن د پوهې څه صلاحیت وی نو هغوئ پوهیږی چه الله تعالی په دي آيتونو کښي حضور ﷺ ته څومره سخته تنبیه فرمائیلي ده . د دي آيتونو د نازلیدو په وخت به د حضور ﷺ په زړه څه تیر شوي وی ، دومره سخته تنبیه ئي ولي اوفرمائیله؟ څکه چه د الله تعالی د قانون په مقابله کښي د دنیا مصلحت لره ترجیح ورکول کیدله

د دي واقعي نه هم د دین کار کولو والا ته سبق او عبرت حاصلولو پکار دی چه د الله تعالی په قانون باندي د دنیا مصلحت لره په ترجیح ورکولو باندي حضور ﷺ ته دومره سخته تنبیه ورکولي شی نو نن سبا خو خلق د معمولی معمولی مصلحتونو د وجې نه د الله تعالی د قوانینو خلاف ورزی ښکاره کوی نو آیا دوئ به په آخرت کښي د الله تعالی د عذاب نه بچ شی ؟ او په دنیا کښي به دوئ سره د الله تعالی مدد او نصرت وشی ؟ هيڅ کله هم نشی کيدي .

دویم قانون : چه يوه ګناه اووينې نو دهغې بندول فرض دی

اوس دویم قانون واورئ : ما خو اول قانون دا بیان کړي وو چه د لوئ نه لوئ مصلحت د خاطره د ورې نه ورې ګناه کول هم جائز ندی ، دا دویم قانون د هغې نه هم لوئ دي ، پخپله خو ګناه نۀ کول لا څه چه نور خلق د ګناه نه منع کول فرض دی ، که چیري تاسو د دین څه متعدد خدمتونه کوئ او یا د تبلیغ د څه شعبې سره تعلق لرونکې لرئ نو د امر بالمعروف او د نیکو د تبلیغ کولو سره سره نهی عن المنکر او د ګناهونو نه منع کولو تبلیغ هم فرض دې ، که چیرې صرف امر بالمعروف کولي شی او د ګناهونو نه د بچ کولو تبلیغ ونکړي شی نو تاسو خو یوفرض ادا کړو لیکن د دویم فرض پرېښودنکی جوړشوئ . بیاستاسو دا تبلیغ او خدمت نامکمل دې ، او الله تعالی ته مقبول ندي . الله تعالی چه په قرآن کریم کښي په کوم ځائ کښي د امربالمعروف حکم فرمائیلي دې نو ورسره ئې د نهی عن المنکر حکم هم فرمائیلي دې ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ﴾ (۳: ۱۱۰).

یعنی د نیکو خبرو کولو حکم ورکولو والا او د بدو خبرو نه منع کولو والا او د الله تعالی د حدودو حفاظت کولو والا

البته د نهی عن المنکر مختلف درجات او مختلفي طریقي دی چه د هغې بیان په تفصیل سره

تبر شوي دي -

د یو غلط خیال اصلاح

بعضي خلق دا خبره کوي چه فساق او فجار نیکو مجالسو او نیک صحبت کښي کینول هم د نهي عن المنکر یوه طریقه ده . د نیک صحبت د اثر د وجي نه بغیر د څه نصیحت وغیره نه گناه پرېښودي کیږي . په دي طریقه کښي خو دومره خبره صحیح او مسلمه ده چه د نیک صحبت نه اثر وی . مگر صرف په دې باندي اکتفا کول او د گناه تفصیل او په هغې باندې د وعیدونو نه بیانولو دا مداهنت دې

په دې کښي ډیر فسادونه دی : (۱) که چیرې د منکراتو د منع کولو دپاره دا تدبیر کافي وگڼلي شي نو د دې دا مطلب شو چه (معاذالله) د دې حکمت عملی الله تعالی او رسول الله ﷺ . صحابه کرامو رضی الله عنهم او د هغوئ نه پس څوارلس سوو کالو پورې ټول امت ته د دې علم نهٔ وو . (معاذالله) په قرآن او حدیثو او د فقهې په ذخائرو کښي د امر بالمعروف سره دنهي عن المنکر ذکر او په دې کښي د مداهنت په کولو باندې وعیدونه ټول بیکاره دی او د حکمت عملي بالکل خلاف دی . جهاد . تعزیرات . او حدود او قصاص ټول احکام بالکل بې معنی او ظلم دي

(۲) د انبیاء کرامو علیهم السلام د صحبت او نصیحت نه هیڅ څیز زیات مؤثر نشی کیدې . لیکن د دې باوجود هم هغه د خلقو د هدایت دپاره کافي نشو او اکثرو قبول نکړو

(۳) په نیک صحبت کښي د کیناستو باوجود هم د بعضي گناهونو د گناه کیدو علم نوی نو د هغې نه به توبه څنگه اوویستلې شی ؟ لکه څنگه چه وړاندې ونیلې شوې دی چه ډیرو کسانو ته په تبلیغ کښي د عمرونو صرف کولو باوجود هم دا پته نهٔ وه چه د شریعت مطابق پرده نه کول یا زیره خرول یا کټ کول گناه ده . هغوئ دومره غټو گناهونو ته او د الله تعالی او درسول الله ﷺ علانیه بغاوت ته گناه ونیل خو لا څه چه صغیره گناه ئې هم نهٔ گڼله

(۴) که څوک د نیک صحبت دوجې نه داسې گناهونه پرېږدی نو هغه دې لږه صرف یو نیه حالت گڼی څکه چه دهٔ دې نه وړاندې د کومو کبائرو او علانیه بغاوتونو ارتکاب کولو نو د هغې نه ئې د توبې کولو ضرورت نهٔ محسوس کولو . حتی چه دهٔ نه په دې کبیره گناهونو او د الله او رسول الله ﷺ په ښکاره بغاوت کښي مخکښې د توبې کولو نه مرگ راشی

(۵) که چیرې په نیک صحبت کښي د رسیدو سره د محبت . نرمئ . او دل سوزئ سره د منکراتو د پرېښودو تبلیغ هم په خطاب عام سره جاری کړې شی نو کیدې شی چه آورېدو والا به اوله ورځ به حو ورځی پس توبه وکړی او که نه نو کم از کم په زړهٔ کښي خو به ئې ندامت سره سره حمل خو نهٔ اوارۍ مجرم وگڼی . دا د زړه ندامت هم ډیر لوئ دولت دی

د ترک منکرات د تبلیغ نه کولو په صورت کښې که چیرې چاته صرف د اثر صحبت د وحې خه مونږه پس د توبې توفیق هم وشی نو چه د توبې نه مخکښې نې څومره وخت په ګناهونو کښې تیرېږي نو د هغې وبال او عذاب به هم هغې مداهنو خلقو باندې وی کوم چه د دې تبلیغ نکوی او که د توبې د توفیق نه وړاندې ورته مرګ راغې . نو د دیو مسلمان جهنم ته د تلو ذمه داري هم په هغې مداهنو خلقو باندې ده کومو چه ورته د ترک منکراتو تبلیغ نه وو کړې

دریم قانون تبلیغ د قتال په صورت کښې هم فرض دې

د تبلیغ مختلفې طریقې او شعبې دی د قرآن کریم دالفاظو تعلیم . د قرآن کریم د احکامو تبلیغ . چه د دې مختلف صورتونه دی . درس اوتدریس . تصنیف اوتالیف . افتاء اوارشاد . خلقو ته تلل او وعظ نصیحت کول . مګر دا ټولې طریقې په هغه حالت کښې دی چه کله د اسلام دشمنان د اسلام په لاره کښې حائل نوی او په یوه طریقه هم د اسلام په تبلیغ کولو کښې مانع نهٔ جوړیږی. که چیرې د کفارو طاقت زیات شی او هغوئ د اسلام او دمسلمانانو د دنیا نه ختمیدل غواړی او یا د اسلام په تبلیغ کښې مانع جوړ کړی . کله ورته صراحة ممنوع واثی . او کله خو ورته ظاهری اجازت ورکړی لیکن سیاست او منصوبه دا وی چه چیرته دې هم اسلامی حکومت قائم نکړې شی او ټول کفار دې په اسلام کښې داخل نشی . نو په داسې حالاتو کښې بیا د مسلمانانو طرف ته یوبل حکم متوجه کیږی چه اوس د تبلیغ یو بل قسم اختیارول پکار دی . یعنی په توره سره د دې خبر واخلی او دومره پورې قتال وکړئ چه د کفارو شان او شوکت ختم شی او هغوئ د اسلام په لاره کښې مانع جوړ نشی . دا هم د تبلیغ یو شعبه ده چه بغیر د دې نه د اسلام خوروَل ممکن ندی . خکه خو په هغه تبلیغ چه د قتال فی سبیل الله په صورت کښې دې د هغه په پرښودو دومره وعیدونه وارد شوې دی

د قتال فی سبیل الله په صورت کښې د تبلیغ په پرښودو باندې وعیدونه

(۱) ﴿وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾﴾ (۲ - ۱۹۵)

او تاسو خرچ کوئ د الله په لاره (جهاد) کښې او خپل ځانونه په خپله په هلاکت کښې مهٔ غورځوئ او ښه کار کوئ او بې شکه الله تعالی ښه کار کولو والا خوښوی

(۲) ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾﴾ (۹ - ۳۸)

اې مؤمنانو په تاسو څه وشو چه کله تاسو ته او وئیلې شی چه د الله په لاره جهاد کښې لاړ شو

نو تاسو د ځمکې طرف ته درانده شئ آيا تاسو د آخرت په بدله کښې د دنيا ژوندګۍ باندې قناعت
کړې دې؟ د دنيا د ژوندګۍ فائده هيڅ نده ډيره لږه ده

(٣) ﴿إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾﴾ (٩- ٣٩)

که چيرې تاسو د جهاد د پاره نه وځئ نو الله تعالى به تاسو ته سخته سزا درکړي او ستاسو په ځئ به بل قوم پيدا کړي او تاسو به الله تعالى ته هيڅ ضرر ونه شئ رسولې او الله تعالى په هرڅيز قدرت لرونکې دې

(٤) ﴿فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنفِرُوا فِي الْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾﴾ . (٩-٨١)

وروسته پاتې کيدو والا خوشحاله شو د رسول الله ﷺ نه پس په خپلو کيناستو باندې او هغوئ ته په خپل مال او ځان سره د الله په لاره کښې جهاد کول خوښ ونه ګڼل او وايي چه تاسو په ګرمۍ کښې مه وځئ . ته ورته اوفرمايه چه د جهنم اور د دې نه ډير ګرم دې، څه ښه به وو که دوئ پوهيدلې .

(٥) ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾﴾ . (٨- ٢٥)

او تاسو د هغې وبال نه ځان بچ کړئ چه هغه به خاص په هغه کسانو باندې نه واقع کيږي چه هغوئ په تاسو کښې د دې ګناهونو مرتکب شوی دی او په دې پوهه شئ چه الله تعالى سختې سزا ورکول والا دې . يعنى د جهاد په ذريعې سره د ګناهونو نه منع کولو والا به هم په دې عذاب کښې شريک وی

(٦) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم
من مات ولم يغز ولم يحدث به نفسه مات على شعبة من النفاق. رواه مسلم وابوداؤد والنسائي۔

يعنى کوم سړی چه نه جهاد وکړو او نه ئې د دې په باره کښې څه فکر وکړو نو هغه د نفاق په يوه شعبه باندې مړ شو

(٧) عن ابي امامة رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من لم يغز او يجهز غازيا او يخلف
غازيا في اهله بخير اصابه الله تعالى بقارعة قبل يوم القيمة (رواه ابن ماجه)

چا چه په خپله هم جهاد ونکړواونهٔ ئې یو مجاهد تیار کړو او نهٔ ئې د یو مجاهد دکور پالنه وکړه نو الله تعالی به دا سړي د قیامت نه مخکښې په یو هلاکتونکی مصبت کښې گرفتار کړی

(۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه: قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من لقی الله بغیر اثر من جهاد لقی الله وفیه ثلمة (رواه الترمذی وابن ماجه)

څوک چه الله تعالی سره په داسې حال کښې مخامخ شی چه په هغه د جهاد څه نشان نهٔ وی نو په داسې حالت کښې به ورسره مخامخ کیږی چه په دهٔ کښې بهٔ غټ نقصان وی.

(۹) عن ابی بکر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ماترك قوم الجهاد الاعمهم الله بالعذاب رواه الطبرانی.

کوم قوم چه جهاد پریښې دي الله تعالی په هغوئ عمومی عذاب مسلط کړې دې.

قانون: د دین په نورو شعبو کښې کار کولو والا سپک گڼل جائز ندی

دا مضمون په تفصیل سره بیان شوې دې چه الله تعالی د دین کار په مختلفو شعبو کښې تقسیم کړې دې او د تقسیم دا کار د دنیا عام اجتماعی قانون هم دې او د عقل مطابق هم دې. د دې خلاف کول د دین او دعقل دواړو خلاف کول دی، د دین په یوه شعبه کښې کار کولو والا د پاره د بلې شعبې کار کولو والا حقیر گڼل جائز ندی که چیرې څوک داسې وکړی نو الله تعالی ته د دهٔ کار قبول ندې

اوس اندازه لگول پکار دی چه د دنیا څومره جاعتونه د دې قانون پابندی کوی؟

اهل سیاست وائی چه د اسلام فریضه خو صرف مونږه ادا کوو.

اهل تبلیغ وائی چه د تبلیغ حق خو صرف مونږه ادا کوو.

اهل مدارس وائی چه د دین حفاظت خو صرف مونږه کوو.

نو داسې ونیلو والا ټول د الله تعالی قانون ماتوی داسې خلق د دین کار د الله تعالی دپاره نهٔ بلکه د خپل خان د پاره کوی. که چیرې په یوه مدرسه کښې یو استاذ ماشومانو ته «ا. ب. ت» ښائی او یو استاذ صحیح بخاری درس کوی. نو که چیرې د بخاری ښودلو والا استاذ خپل خان د ماشومانو د استاذ نه افضل وگڼلو او دا فکر وکړی چه د دین د خدمت صحیح حق خو زهٔ ادا کوم. هغه خو یو بیکاره انسان دې. نو دې استاذ ته به نفس پرست ونیلې شی. په دهٔ کښې اخلاص نشته. ځکه چه ټول دیو ماشین پرزې دی. که چیرې د «ا. ب. ت» والا د پرزه نهٔ وې نو دهٔ به بخاری څنګه ښودلو. کیدې شی چه دا «ا. ب. ت» والا استاذ د الله تعالی په نزد د شیخ الحدیث نه د هغهٔ د اخلاص او محنت د وجی زیات غوره وی

الله تعالی چه چاته هم د دین په کومه شعبه او په کوم منصب ناندې د دین د خدمت د
توفیق ورکړې وی نو دا محض د هغهٔ کرم دې . که چیرې یوې شعبې او منصب والا بلې شعبې ،
منصب والا ته حقیر او سپك گوری نو د هغهٔ دپاره خو د آخرت عذاب هم دې او لرې خدمت به د دین
کښې یرې دا وبال راشی چه الله تعالی هغهٔ لره د دغې دین د خدمت نه محروم کړی . د دین په د
کښې چه څوک مصروف شی نو هغه د الله تعالی سرکاری مامور جوړ شی . که سرکاری مامور
بنگی هم وی خو بیا هم سرکاری مامور دې او که یو وزیر وی نو هغه هم سرکار مامور دې د مرتبو
فرق ئې خامخا وی لیکن دواړه سرکاری دی . او سرکاری مامور که د یو ادنی درجې والا هم وی نو
د هغهٔ دتحقیر کولو اجازت نوی . بلکه چه کوم سړې څومره په اوچته مرتبه وی نو هغه شان هغه د
سرکار نه زیات ویریږی . د هغه گرفت هم زیات وی نو هر کله چه د دین په ټولو شعبو کښې کار
کولو والا سرکار مامورین شول . نو بیا پکښې چاته هم دا حق نشته چه خپل ځان افضل او بل
سړې حقیر وگنی

هر کله چه دالله تعالی د عامو بندگانو حقیر گنل جائز ندی نو چه کوم خلق د دین په خدمت کښې
مصروف وی او سرکاری مامورین وی نو د هغوئ حقیر گنل به څنگه جائز وی ؟ د دنیا په حکومت
کښې خو دا ظلم کیدې شی لیکن الله تعالی خو د زړونو د رازنو نه هم خبردار دې . هلته داظلم
نشی کیدې . که چاته په دنیا کښې څه سزا ورنکړې شی نو اصل درالجزاء خو آخرت دې . دې خو
خپل خدمتونه ډیر زیات او غټ خدمت او د جنت سامان گنی .لیکن هلته دې د جنت په ځائ جهنم
ته غورځیږی

حاصل دا شو چه د دین ټولو شعبو والا دې یو بل لره د حقیر گنلو په ځائ یو بل سره مینه او
محبت او یو بل سره دې د مدد او تعاون تعلق جوړ کړی ، نورو خلق دې له خپل ځان نه بهتر گنی
د هغوئ د کار دې تعریف کوی . که چیرې داسې ونکړې شی نو دا خدمت د الله تعالی د قانون
خلاف دې . او د دین داسې خدمت کول الله تعالی ته مقبول ندی

د یوې ډیرې اهمې دعا معمول

خما هم د دې دعا معمول دې یا الله ستا کوم بنده چه د دنیا په هر گوټ کښې ستا د دین
خدمت کوی نو تهٔ هغوئ ته اخلاص ورنصیب کړې . او د خپلې رضامطابق د کار کولو توفیق
ورنصیب کړې . او د هغوئ خدمت قبول کړې او برکت پکښې واچوې

د برکت مطلب دا چه په کم وخت کښې په کم محنت کولو سره ترې ډیر کار واخلې
او دغه خدمت د هغوئ دپاره ، دحضور ﷺ نه د هغوئ د ټولو اکابرو د ټولې سلسلې د پاره
قیامته پورې صدقه جاریه وگرځوې

یا الله په ټوله دنیا کښې د دین کار کولو والا لره . که په دنیا کښې به کوم ځائ کمزورې

دين څه خدمت کوي . نو د ټولو په خپل منځ کښې تحابب . توادد . تعاون او د تناصر نعمت او سعادت ورنصيب کړي او په خپلو کښې ئې د تباغض .تنافر. تحاسد . د عذاب نه حفاظت ورکړي نـور حضرات هم دا دعا غواړي . د دې معمول جوړ کړي . الله تعالى دې توفيق ورکړي

پنځم قانون

خپله او د خپلې ښځې او بچو د اصلاح فکر د نورو نه زيات اهم دې

د امر بالمعروف تبليغ کول . خلقو لره ديندار جوړولو او د آخرت فکر پيدا کولو چه څومره فکر او کوشش د نورو خلقو دپاره کولې شي . نو د دې نه زيات فکر او کوشش د خپل خان او د رشته دارو د ديندار جوړولو د پاره پکار دې او د دې نه زيات ضروري دې . خلقو ته خو امربالمعروف او نهي عن المنكر ډير کوي مگر آيا په خپله يې په دې خبرو عمل شته ؟ د معمولي معمولي مصلحتونه د وجې نه د گناهونو په مجلسونو کښې شامليږي

يهوديانو به نورو ته ښه تبليغ کولو ليکن پخپله به ئې پرې عمل نۀ کولو الله تعالى ورته په دې گنه داسې تنبيه اوفرمائيله ﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾ . (۲: ۴۴)

څه غضب دې چه نورو خلقو ته د نيکو وائې او خپل خبر نۀ اخلې حالانکه تاسو د کتاب تلاوت کوئ نو بيا ولې تاسو دومره هم نۀ پوهيږئ

په بل ځائ کښې اهل ايمان والو ته تنبيه فرمائي - ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴿٢﴾ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴿٣﴾ ﴾ . (۶۱: ۲)

اى مؤمنانو داسې خبره ولې کوئ په کومه چه عمل نۀ کوئ . د الله په نيزد دا خبره ډيره د ناراضه کيدو ده . چه تاسو داسې خبره کوئ چه هغه کار نۀ کوئ

دا آيت اگر چه د دعوت او تبليغ په باره کښې ندې بلکه د دعوى کونکو په باره کښې دې مگر چونکه د دعوت او تبليغ کار کولو والا هم په ژبه خو نۀ وائي خو په حال سره مدعى د عمل وي نو ځکه هغوئ هم په دې تنبيه او وعيد کښې داخل دي

الله تعالى چه کله حضور ﷺ ته نبوت ورکړو نو د ټولو نه وړاندې ئې ورته د خپل خاندان د تبليغ حکم اوفرمائيلو . ﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ ﴾ . (۲۶ ۲۱۴) او تاسو خپل نزدې خاندان وه ويروئ

نو د دې وجې نه په خپلو قريبي رشته دارانو او په خپله ښځه او په بچو د نورو نه زيات محنت

وکړئ . او خپل ځان خو د ټولو نه زيات نزدې دې په دې د ټولو نه زيات محنت وکړئ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ﴾ (٦٦: ٦)

اى مؤمنانو : خپل ځان او خپل کوروالا د جهنم د اور نه بچ کړئ

د دې خبرې نه دې څوک دا مطلب نهٔ ګڼى چه ترکومې پورې پخپله ځان او خپله ښځه او بچى جوړ نکړى نو تر هغې دې نورو ته تبليغ نهٔ کوى -

دا غلطه خبره ده د تقدم او تاخر دوه قسمونه دى (۱) زمانى (۲) مکانى .

دلته خپل ځان مقدم کول او نورو خلقو لره مؤخر کول زمانى ندى چه اول دې څه موده په خپل ځان محنت وکړې او د هغې نه پس دې نورو ته تبليغ کوى . دا صحيح ندى ځکه چه خپل ځان لره مقدم کول او نورو لره مؤخر کولو کښې تقدم او تاخر زمانى ندې بلکه رتبى دې .

يعنى ستا په زړه کښې چه د جهنم نه او د الله تعالى د عذاب نه د بچ کيدو د پاره څومره فکر د نورو د پاره دې نو د خپل ځان د پاره دې نسبةً دا فکر بايد زيات وى . په خپله دې هم بايد جوړ شى او نور خلق دې هم جوړ کړى . دواړه کارونه دې په يوه زمانه کښې وکړى مګر د خپل ځان فکر بايد زيات وى .

چه دخپل ځان فکر زيات دې او کنه ؟ دا به څنګه معلوميږى ؟ د دې دوه معياره دى :

(۱) **فکر استدراج** : چه د دين کار کولو نه پس هم خپل ځان ګنهګار . عاجز او ناقص ګڼى . دينى خدمات خپل کمال نهٔ ګڼى بلکه دالله تعالى فضل اونعمت ئې ګڼى . بيا استغفار هم کوى او د قبوليت دعا هم کوى . او ورسره ورسره دا ويره هم وى چه معلومه نده چه زما دا خدمات به قبول وى او که نه . او که چيرې په ما کښې د کبر او عجب خيال راغې . او مونږ دا خدمات خپل کمال وګڼو او الله تعالى په غيرت کښې راغې . نو چيرته مونږه د دې خدماتو نه محروم نکړى . دا مضمون په اول کښې په تفصيل سره بيان شوې دې (مرتب) .

(۲) **محاسبه اعمال** : دينى خبرې چه څومره د نورو خلقو وړاندې بيان کړى . نو د هغې نه زيات دې ځان سره په خلوت کښې سوچ کوى چه مونږه کوم تبليغ خلقو ته کوو نو په هغې زمونږ پخپله عمل شته او کنه ؟ په خپلو نقصانونو به سوچ کوى . استغفار او د الله تعالى نه به دعا هم کوى

د الله تعالى ارشاد دې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝١٨ ﴾ (٥٩: ١٨)

اى مؤمنانو د الله نه وه ويريږئ او هرڅوک دې دا سوچ کوى چه ده د قيامت د پاره څه تيار کړى دى . او دالله نه ويريږئ يقينا الله تعالى ستاسو د ټولو اعمالو نه خبر دې

حضور ﷺ او فرمائیل : حقیق بالمرء ان یکون له مجالس یخلو فیها ویذکر ذنوبه فیستغفر الله منها (ه.ن)
یعنی د انسان دپاره څه د خلوت مجالس ضروری دی چه په هغې کښې دې خپل ګناهونه یادکړی او د الله تعالی نه دې مغفرت طلب کړی.
په صحیح بخاری کښې امام بخار رحمه الله د ابراهیم واعظ رحمه الله قول نقل کړې دې
ماعرضت قولی علی عملی الا وجدتنی منافقاً
ما چه کله هم خپل قول په خپل عمل باندې پیش کړې دې نو خپل ځان می منافق موندلې دې
د حضرت ابراهیم رحمه الله د دې قول نه دوه خبرې ثابتې شوې:
(۱) چه څوك نورو خلقو ته وعظ او تبلیغ کوی نو د هغهٔ د پاره لا زم دی چه روزانه د خپلو اعمالو محاسبه کوی، که هغه دا نهٔ کوی نو د هغهٔ دغه وعظ او تبلیغ مقبول ندې. د دهٔ دا خدمات د الله تعالی د پاره ندی بلکه د خپل ځان دپاره دی.
(۲) څوك چه په تبلیغ کښې مخلص وی نو هغه چه کله هم د خپلو اعمالو محاسبه کوی نو هغهٔ ته به دا محسوسیږی چه هغه څومره تبلیغ نورو ته کوی نو د دهٔ عمل د دې نه ډیر کم دې. خپل عبادات به ناقص ګنی، خپل ځان به ګنهګار ګنی، او استغفاربه کوی. او په خپله اصلاح کښې به ترقی کوی.

شپږم قانون : طلب کونکی په نورو مقدم کول

د الله تعالی د دین خبر طالبینو او غیر طالبینو ټولوته رسول پکار دی. لیکن که په دواړو کښې معارضه راشی نو که چیرې په طالبینو وخت صرف کوی نو د غیر طالبینو د پاره وخت نهٔ ملاویږی او که چیرې په غیر طالبینو وخت صرف کوی نو د طالبینو د پاره وخت نهٔ ملاویږی نو په داسې موقعه باندې د الله تعالی قانون دا دې چه : چه طالبین دې پاتې شی او په غیر طالبینو وخت صرف کړې شی نو دا ناجائز دی، د اهل طلب والا حق مقدم دې. که چیرې د طالبینو نه وخت باقی پاتې شی نو بیا په نورو باندې محنت کول پکار دی، اوکه نه نو ندی پکار.
که چیرې دا فکر وکړې شی چه طالبین خو خپل خلق دی هغوئ ته خو همیشه موقع پیدا کیږی په نورو به وخت صرف کړو نو دا د الله تعالی د قانون خلاف ورزی ده نو داسې خدمات الله تعالی نه ندی قبول
د حضرعبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه واقعه په تفصیل سره تیره شوې ده. چه حضور ﷺ دې پرینودلو او مشرکینو طرف ته متوجې شو نو په هغې باندې الله تعالی په سورت عبس کښې خنګه تنبیه اوفرمائیله
دغه شان یو وارې د مکې مشرکانو د حضور ﷺ نه د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه بغیر

محسن کول معذلته وکړه نو په هغې د الله تعالی د طرفه دا ارشاد نازل شو ﴿وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ﴾ (۱۸ ۲۸)

او خپل ځان هغې خلقو سره مقید وساته چه هغوئ د ورځې او د شپې د خپل رب عبادت صرف د هغه د رضا دپاره کوی او ستانظر دې د هغوئ نه بغیر د بل چا طرف ته و نه ګرځی

یعنی تاسو طالبین مه پریږدئ او غیر طالبینو طرف ته توجو او په هغوئ محنت مه کوئ

اووم قانون: د کثرت ذکر او فکر پابندی کول

کوم سړې چه د خپلې اصلاح فکر د نورو نه زیات کوی او چا ته چه خلوت ډیر خوښ وی نو هغه به لازما . محاسبه . مراقبه . کثرت د نوافلو . اذکار. تسبیحات او د نورو خپلو ذاتی عبادتونو پابندی د نورو د تبلیغ او د نورو متعدی خدماتو نه زیات کوی او دا پابندی د دې وجې نه هم زیاته ضروری ده چه په تبلیغ او په نورو متعدی خدماتو باندې ثمره هلته مرتب کیږی کله چه انسان د خپلو ذاتی عبادتونو زیاته پابندی کوی

د حضور اکرم ﷺ نه زیات د امت د اصلاح درد د چا په زړه کښې کیدې شی؟ لیکن د دې باوجود به حضور ﷺ قیام لیل تر دې حده پورې فرمائیلو . چه په پښو مبارکوکښې به ئې پړسوب پیدا شو او په کثرت سره به ئې نفلی روژې نیولې او هر وخت به د الله په ذکر کښې مشغول وو . هغوئ دا خیال نهٔ وو کړې چه د کثرت نوافلو په ځائ دغه وخت هم ددین تبلیغ اه ورکول پکاردی

په دې مضمون سره متعلق یو مستقل وعظ «تعلیم و تبلیغ کے لیے کثرت ذکرکی ضرورت» په نوم سره شائع شوې دې . که چیرې څوک د حضور ﷺ د طریقې مطابق تبلیغ کول غواړی نو هغهٔ له پکار دی چه د کثرت ذکر او کثرت نوافلو پابندی شروع کړی داسې ندی کول پکار چه کله هم په تبلیغ دین کښې مشغول شی نو هرڅه . نفل عبادات . اذکار . تسبیحات . او ذاتی معمولات پریږدی . داسې کول د الله تعالی د نبودلې شوی قانون هم خلاف دی او د حضور ﷺ د سنتو هم

د بیان خلاصه

دنن د مجلس خلاصه د تبلیغ دوه قسمونه دی (۱) فرض عین (۲) فرض کفایی

۱ فرض عین خلقولره د ګناه نه منع کول د خپل وس مطابق په هر مسلمان باندې فرض دې

۲ فرض کفایه خلقو ته د شریعت احکام رسول یعنی د دین تبلیغ کول

ـ د دې تبلیغ متعدد صورتونه دی افتاء . اصلاح باطن . درس اوتدریس . تصنیف او تالیف وعظ او تبلیغ جهاد او قتال فی سبیل الله

ـ په دې ټولو خدماتو کښې اخلاص اوکه نه وی؟ د دې دری علامات دی

۱. خوف استدراج
۲. کثرت سره کثرت دعا او استغفار کول
۳. د شریعت د قوانینو پابندی -

د شریعت قوانین

۱. د څه مصلحت د وجې وړه ګناه کول هم جائز نۀ ده
۲. د ګناه په لیدلو دهغې نه منع کول فرض دی
۳. د تبلیغ په صورت د قتال اهتمام کول
۴. د دین په نورو شعبو کښې کار کولو والا حقیر ګڼل جائز ندی
۵. د خپل ځان او دخپلې ښځې او بچو د اصلاح فکر د نورو نه زیات کول اهم دی
۶. اهل طلب په نورو مقدم دی
۷. دکثرت فکر او ذکر پابندی

دعاء

یا الله ! تۀ زمونږ ټول دینی خدمتونه قبول کړې . او دې خدمتونو لره د خپلې مرضۍ مطابق کرخولو توفیق راکړې . خپله ویره او خپل تعلق رانصیب کړې . خپل دائمي تعلق او دائمي محبت رانصیب کړی چه هیڅ کار مو ستا د مرضۍ نه خلاف نوی .چه ستا په معمولی نافرمانۍ باندې شرم راشی . په دینی خدماتو کښې اخلاص راکړې او قبول ئې کړې . د مخلوق نه د نظرلرې کولو او په خپل ذات د نظر کول توفیق راکړې د نفس او شیطان د مکایدو نه حفاظت رانصیب کړې. آمین

وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه اجمعین

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ ﴾

تبلیغی جماعت او یو کم پنځوس کروړه ثوابونه

> د بعضې روایاتو تنقیح او تحقیق
> د فی سبیل الله تفسیر او تشریح

* * * * * * * * *
* * * * * * *

تبلیغی جماعت او یو کم پنځوس کروړه ثوابونه

الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د تبلیغی جماعت نه په ټوله دنیا کښې د اشاعت اسلام او تبلیغ دین کار اخلی. د جماعت د کار د غیر معمولی وسعت د وجې نه په دې کښې د علم دین نه د ناواقفه عوامو اکثریت دې چه په بعضو کښې د لاعلمۍ سره سره د تبلیغ دین جذبات هم زیاتیږی، نو هغوئ په عقائدو او اعمالو دواړو کښې د شریعت د حدودو نه تجاوز کوی.

ـــــ په دې رساله کښې ـــــ

هغوئ صرف د بعضې نظریاتو د غلطیانو طرف ته متوجه کولې شی. پوره تفصیل په ،،تبلیغ کی شرعی حیثیت اور حدود،، کښې دې. الله تعالی دې د ټول امت نه د خپلې مرضۍ مطابق زیات نه زیات کار واخلی. او دټولو خدمات دې الله تعالی په خپل رحمت سره قبول کړی. د دینی خدمتونو چه څومره شعبې دی الله تعالی دې ټولو ته په خپل منځ کښې تحابب، توادد، تعاون، او د تناصر دولت نصیب کړی

تبلیغي جماعت او یو کم پنځوس کروړه ثوابونه

استفتاء څه فرماني علماء کرام او مفتیان د دین مبین د لاندې مسائلو په باره کښې د قرآن او سنت څه حکم دې چه ماشاء الله زمونږ په ملک کښې د تبلیغ کار ډیر په تیزه سره روان دې مگر په دې کښې بعضې کسان داسې هم دی چه هغوئ د دې حدیث . کفی بالمرء کذبا ان یحدث بکل ما سمع. مصداق جوړیږی دوئ د خلقو په وړاندې داسې خبرې کوی چه په هغې سره خلق په خپل منځ کښې په جګړه کولو سره تیزیږی . د دې حضراتو په باره کښې د یو څو سوالونو جوابونه د قرآن او حدیث په رڼا کښې مطلوب دی . کوم چه لاندې ذکر کیږی:

(۱) دا حضرات وائي چه د الله په لاره کښې یو مونځ د یو کم پنځوس کروړه برابر دې . او په دې کښې خپل خان سره نورو خلقو لره نه شاملوی آیا د شریعت مطابق دغه یو کم پنځوس کروړه ثواب ثابت دې ؟ که چیرې ثابت وی نو په دې کښې مجاهدین او طلباء د دینی مدارسو هم شاملیدې شی او کنه ؟ ځکه چه هغوئ هم د اعلاء کلمة الله د پاره کوشش کوی .

(۲) په دې کښې بعضې حضرات داسې هم دی چه هغوئ د خپلې محلې جمات پریږدی او بل جمات ته لاړشی او دا وائی چه په داسې کولو سره یو کم پنځوس کروړه ثوابونه ملاویږی ، اگر که د دې دواړو جماتونو په درمیان کښې د لسو یا پنځو منټو فاصله هم نوی - نو آیا د شریعت مطابق دومره په آسانئ سره دا مذکوره ثواب ملاویدې شی ؟

په دې کښې بعضې کسان داسې هم دی چه هغوئ ته بغیر د شپږو نمبرونه نور هیڅ نه ورځی او په هغې دومره په سختئ سره عمل کوی چه هغه روزانه دوه وارې آوروی او د آورولو په وخت بل سړې د قرآن تلاوت یا نور ذکر او اذکارو ته بالکل نه پریږدی او دا هم وائی چه د دې نمبرو دبیانولو په وخت نور اعمال قابل دقبول ندی که د قرآن تلاوت وی او یا نور څه نیک عمل وی او څوک چه دا نمبرې نه آوری نو په هغوئ قسم قسم فتواګانې لګوی او بعضې خو د مسلمانئ نه هم اوباسی .

(۳) بعضې حضرات داهم وائي چه په بیت الله شریف باندې درائ وند فضیلت زیات دې ځکه چه په رائ وند کښې یو مونځ په یو کم پنځوس کروړه باندې دې ، او په بیت الله کښې په یو لاکهـ دې دویمه خبره دا ده چه رائ وند کښې د تبلیغ کار کیږی او په بیت الله کښې نه کیږی

دغه شان دا حضرات د پوره د دین انحصار په دې یوه لاره کښې کوی ، او وائي که چیرې په دنیا کښې دین خوروول غواړئ او د خپل ایمان جوړول غواړئ نو د دې لارې نه علاوه بله لاره نشته نو آیا داسې وئیل صحیح دی او که نه د مدارسو په ذریعه او د جهاد په ذریعه هم دین خوریدلې شی د دې حضراتو دا کوشش وی چه طلباء . علماء او مجاهدین خپل خان سره په دې لاره کښې روان کړی نو آیا په داسې کولو سره به مدارس بند کړې شی او کنه . او جهاد به ختم شی او کنه ؟

مهربانی وکړئ دذکر شوی مسائلو په باره کښې د قرآن او حدیث حکم بیانولو سره زموږ حوصله افزائی اوفرمایئ او ثواب دارین حاصل کړئ .واجرکم علی الله

المستفتی بنده فضل وهاب کوهستانی صوبه سرحد

مورخه ۸ اکتوبر ۱۹۸۹ء

جواب د دارالعلوم کراچۍ د جامعې له طرفه

الجواب حامداً ومصلیاً

(۱) د دین په اشاعت اوتبلیغ یا د علم په حاصلولو یا په جهاد فی سبیل الله وغیره کښې تلل یا د تلونکو .مونځ . روژه . او د ذکر وغیره په باره کښې داسې صریح حدیث مخې ته رانغې چه دهغې د الفاظ نه صفا صفا دا ثابته شی چه د یو مونځ یا د یوې تسبیح و غیره ثواب یو کم پنځوس کروړه کیږی. البته په یو حدیث شریف کښې دی چه د الله تعالی په لاره کښې څو لاړشی او په خپل ځان باندې یو درهم خرج کړی نو د هغې په بدله کښې ورته د اوه لکو دراهمو خرج کولو ثواب ورکول کیږی . او په دویم حدیث کښې دی چه د الله تعالی په لاره کښې څوك لاړشی نو د مونځ . روژې .ذکر ثواب یې د الله په لاره کښې دیوې روپئ لګولو سره اوه سوه چنده ورکول کیږی

نو دغه شان اوه لکوته چه په اوه سوه کښې ضرب ورکړې شی نو یوکم پنځوس کروړه ترې جوړیږی . په دې حساب سره د الله په لاره کښې (تعلیم دین .جهاد . او تبلیغ) کښې د وتلو والا د مونځ .روژې او ذکر او تسبیح ثواب یوکم پنځوس کروړه کیږی

لیکن اول خو دا دواړه حدیثونه سنداً ضعیف دی ځکه چه د دې نه استدلال او د دې په ضعف د تنبیه نه بغیر د دې شهرت عام طور باندې جائز ندې . دا دواړه حدیثونه لاندې د سند او جرح سره وراندې کولې شی حدثنا هارون بن عبدالله الحمال ثنا ابن ابی فدیك عن الخلیل بن عبدالله عن الحسن عن علی و ابی الدرداء و ابی هریرة و ابی امامة و عبدالله بن عمر و عبدالله بن عمرو و جابر بن عبدالله و عمران بن حصین رضی الله تعالی عنهم اجمعین کلهم یحدث عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال من ارسل بنفقة فی سبیل الله واقام فی بیته فله بکل درهم سبعمائة درهم ومن غزا بنفسه فی سبیل الله وانفق فی وجهه ذلك فله بکل درهم سبعمائة الف درهم ثم تلا هذه الایة والله یضاعف لمن یشاء- (ابن ماجة .ص۲۰۰ الترغیب ص ۲۰۰ ج۲)

ددې حدیث په سند کښې راوی. خلیل بن عبدالله. مجهول دی (لسان المیزان . ص ۴۱۰. ج ۲ او تهذیب التهذیب . ص ۱۲۷ . ج ۳ کښې حافظ ابن حجر العسقلانی رحمه الله فرمائی

قرأت بخط ابن الهادی الخلیل بن عبدالله المذکور روی عن الحسن عن هؤلاء هذا الحدیث وهو حدیث منکر والخلیل بن عبدالله لا یعرف وکذا قال الذهبی فی الخلیل هذا-

او امام منذری رحمه الله په ، الترغیب والترهیب . کښې فرمائیلي دی . لااعرفه بعدالة ولاجرح

او امام دار قطنی رحمه الله په . غرائب مالک کښې. یو حدیث د ابن ابی ذئب عن الخلیل بن عبدالله

عن اخیه عن علی په طریقه سره د نقل کولو نه پس فرمائیلي دی الخلیل واخوه مجهولان.

(۲) حدثنا احمد بن عمرو بن سرح نا ابن وهب عن یحیی بن ایوب وسعید بن ابی ایوب عن زبان بن فائد عن سهل بن معاذ عن ابیه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الصلوة والصیام والذکر ویدخل فیه التسبیح والتهلیل والتکبیر والتصلیة وقراءة القرآن بالتدبر و غیر ذالک من انواع الذکر یضاعف ای یزاد باعتبار الاجر والثواب علی النفقة فی سبیل الله عزوجل بسبعمائة ضعف ولفظ احمد فی مسنده قال ان ذکر فی سبیل الله تعالی یضعف فوق النفقة بسبعمائة ضعف قول یحی فی حدیثه بسبعمائة الف ضعف والحدیث ضعیف لان فی سنده زبان بن فائد وسهل بن معاذ. (بذل المجهود ص ۰۰ ج ۰ الترغیب ص ۰۰ ج ۲)-

دي حدیث ته ددوؤ راویانو دوجې نه ضعیف وئیلي شوې دې : (۱) زبان بن فائد (۲) سهل بن معاذ د زبان بن فائد په باره کښې حافظ ابن حجر العسقلانی رحمه الله په (تهذیب التهذیب) ص ۳۰۸ . ج ۳ . کښې فرمائی : امام احمد رحمه الله فرمائیلي دی احادیثه مناکیر.

او ابن معین رحمه الله فرمائی شیخ ضعیف . اوابن حبان رحمه الله فرمائیلي دی منکر الحدیث جدا یتفرد عن سهل بن معاذ بنسخة کانها موضوعة لایحتج به.

او الساجی رحمه الله فرمائیلي دی عنده مناکیر.

دویم راوی د سهل بن معاذ بن انس الجهنی متعلق په . تهذیب التهذیب . ص ۲۵۸ . ج ۴ .

کښې فرمائیلي دی نزل مصر روی عن ابیه وعنه یزید بن ابی حبیب و ابو مرحوم عبد الرحیم ابن میمون و فروة بن مجاهد و اسماعیل بن یحی المعافری و زبان بن فائد واللیث بن سعد و یحی بن ایوب و غیرهم قال ابوبکر بن ابی خیثمة عن ابن معین ضعیف و ذکره ابن حبان فی الثقات _ قلت لکن لایعتبر حدیثه ماکان من روایة زبان بن فائد عنه وذکره فی الضعفاء فقال منکر الحدیث جدا فلست ادری اوقع التخلیط فی حدیثه منه او من زبان فان کان من احدهما فالاخبار التی رواها ساقطة.

دویمه خبره دا ده که چیرې دا دواړه صحیح هم تسلیم کړې شی نو د «فی سبیل الله» په مفهوم کښې درس اوتدریس . تحصیل دعلم دین . وعظ او نصیحت ، اصلاح دباطن . دعوت اوتبلیغ که هغه د تبلیغی جماعت په ذریعه سره وی یا په څه بل څه ذریعې سره وی . د الله تعالی په لاره کښې په جهاد کښې وتل او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر و غیره ټولي شعبې شاملې دی

دي مولو د پاره به دا ثواب ثابت وي دا ثواب صرف د تبلیغي جماعت پورې خاص ندي . د جماعت سره په وتلو کښې د دې ثواب خاص کول لکه څنګه چه په سوال کښې ذکر کړې شوې دی محض د جهالت او د کم علمۍ خبره ده (ترغیب والترهیب . ص ۲۵۷ . ج ۲)

ذكرت فيه ثمانية انواع الجهاد في سبيل الله وعدت فيها محاربة الكفار لاجل نصر دين الله ودعوة الناس الى الحق وحثهم على العمل بكتاب الله تعالى وسنة نبيه صلى الله عليه وسلم ومجاهدة النفس بالتحلي بالمكارم والتخلي عن الرذائل وتعلم امور الدين والسير على منهج خير المرسلين ثم العمل باحكام الشريعة الغراء حتى يلمع ثمرها في دوحته ومجاهدة الشيطان بدفع ما ياتي به من الشبهات وما يزينه من الشهوات ونصب العالم كله للارشاد والوعظ والهداية والنصيحة وتفهيم الناس لايات القرآنية والاحاديث النبوية والاحكام الفقهية والسيرة النبوية وتاريخ ابطال الاسلام وحماته وصحبة الصالحين وزيارة المتقين ومودة العاملين والاستضاءة بانوارهم والاقتداء بافعالهم هذا ما الخصته من الترغيب والترهيب ان شئت التفصيل فارجع اليهم۔

(۲) اصل بنیاد د دې ثواب د حاصلولو د پاره په اخلاص نیت سره د الله تعالی په لاره کښې وتل یا د دې په کار کښې لګیدل دی، لهذا چه کله هم د الله تعالی د پاره دعلم دین حاصلول یا درس او تدریس اختیارول یا جهاد کول یا دعوت او تبلیغ او وعظ او نصیحت و غیره د پاره وتل یا په دې کار کښې مصروفه کیدل وموندې شی نو دا ذکر شوې ثواب به ورته ملاویږی اګر که په دې نیت سره وځو او د خپلې محلې په جمات کښې مونځ وکړی او که په بل جمات کښې مونځ وکړی . د جمات لرې والی او نزدې والې هیڅ فرق نه پیدا کوی ، د الله تعالی رحمت ډیر وسیع دې . د خپلې محلې په جمات کښې مونځ کول بهتر دی .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: انما الاعمال بالنيات وانما لامرء ما نوى الخ (بخاری)

د کومو شپږو نمبرو چه په تبلیغي جماعت کښې رواج دې نو دا بزرګانو اوعالمانو دین سره د مناسبت پیدا کولو لپاره منتخب کړې دی . دا پوره دین ګڼل صحیح ندی ، بلکه دا خو اکثریت د عباداتو سره متعلق دی د دې نه علاوه هم د دین ډیرې شعبې دی چه هغه د انسان اجتماعی . انفرادی . معاشی زندګۍ سره متعلق دی ، د هغې زده کول هم ضروری دی

د شپږونمبر وزانه یا سحر او ماښام تذکره کول او په دې د عمل کولو تلقین کول صحیح دی او د ثواب باعث هم دی لیکن د دې تذکره کول فرض یا واجب ګڼل او چه څوک دا نه آوری په هغه طعن لګول او یا نورې قسماقسم فتوې ګانې لګول بلکه د دې نه آوریدو والا مسلمان نه ګڼل د سراسر ناجائز او ښکاره ګمراهی ده . او دغه شان د شپږو نمبرو د بیانولو په وخت څوک د قرآن تلاوت . ذکر . تسبیحاتو او د نورو عباداتو نه منع کول یا دا وئیل چه د دې دبیان په وخت کسر

بل عمل قابل قبول ندي ، دا بدترینه گمراهي او سخته غلو او د جهالت خبره ده . د دې نه توبه کول واجب دی او آینده د داسې طرز عمل نه پرهیز لازمی دي - (بردالمعارص ۳۰ ج).

اجمع العلماء سلفا وخلفا على استحباب ذكر الجماعة فى المسجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل اوقارء - وفى خلاصة الفتاوى ص ۱۰۴ ج ۱)

رجل يكتب الفقه وبجنبه يقرء القرآن ولا يمكنه استماع القرآن فالاثم على القارء وعلى هذا لو قرء على السطح فى الليل جهرا والناس نيام تأثم -

(۳) رائې ونډ لره په بیت الله فضیلت ورکول بدترینه غلو او گمراهي ده ، د دې وجه دا ده چه تبلیغی جماعت سره وتل یا د رائې ونډ په اجتماع کښې شاملیدو یا چه د دنیا په هر ځائ کښې وی د تبلیغی جماعت سره د شریکیدلو په صورت کښې که د یوکم پنځوس کروړه ثواب تسلیم هم کړې شی نو دا د تبلیغ په دې خاص صورت کښې منحصر ندې بلکه کوم شخص چه دالله تعالی په لاره کښې وځی او د دین په څه خدمت کښې هم مشغولیږی نو هغهٔ ته به په هر خپل عمل یو کم پنځوس کروړه ثواب ملاویږی ، خو په دې شرط چه دا دواړه حدیثونه د استدلال قابل تسلیم کړې شی

د الله تعالی په لاره کښې وتل عام دی که دعلم دین د حاصلولو د پاره وځی او که د جهاد کولو دپاره وځی او که د مسلمان د مدد او نصرت د پاره یا د نورڅه کار خیر د پاره وځی ، نو دا ټول صورتونه په فی سبیل الله کښې داخل دی . لهذا کوم شخص چه بیت الله شریف ته د تبلیغ د پاره یا د علم د حاصلولو دپاره یا د حج او عمرې دپاره لاړ شی . نو هغهٔ ته به دالله تعالی په لاره کښې دوتلو ثواب هم ملاویږی او خاص د بیت الله شریف فضیلت یعنی یو لاکهه درجې زیات ثواب به ورته هم حاصل شی . دغه شان به دهغهٔ ثواب د یوکم پنځوس کروړو نه هم بې شمیره زیات شی . (انشاء الله تعالی) او رائې ونډ تلو والا ته به په بیت الله شریف تلو والا باندې فضیلت حاصل نشی .

نو په دې لحاظ رائې ونډ ته په بیت الله شریف فضیلت ندې حاصل ، او دا خبره کول چه په رائې ونډ کښې د تبلیغ کار کیږی او په بیت الله شریف کښې نهٔ کیږی . دا هم محض غلطه ، تعصب او د جهالت خبره ده . په خانه کعبه کښې دننه هم د تبلیغ کار او په مختلفو طریقو سره د دین خدمت کیږی . خیر دې که دتبلیغی جماعت ماتحت نهٔ کیږی

چه اشاعت دین او تبلیغ دین په کومه جائزه طریقې سره هم وی نو هغه صحیح او معتبر دې . د تبلیغی جماعت سره ساړ تبلیغی جماعت په اصولو او قواعدو سره تبلیغ کول شرعا څه فرض یا واجب نهٔ دی . همدارنګه تبلیغ خدمت کول د تبلیغی جماعت سره کولو کښې شرعا منحصر نهٔ دې خوک چه دا خبره ضروری گڼی نو دا دهغهٔ جهالت او گمراهي ده

(فی کنز العمال ص ۳، ج ۳) ان الله تعالی ینزل علی هذا المسجد مسجد مکة فی کل یوم ولیلة عشرین و مائة رحمة ستین للطائفین واربعین للمصلین وعشرین للناظرین ـ وفی سنن ابن ماجه، ص ۳:

عن انس بن مالك رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الرجل فی بیته بصلوة وصلوته فی مسجد القبائل بخمس و عشرین صلوة و صلوته فی المسجد الاقصی بخمسین الف صلوة و صلوته فی مسجدی بخمسین الف صلوته فی المسجد الحرام بمائة الف صلوة۔

تنبیه دا دې واضحه وی چه په سوال کښې د کومو کسانو حال لیکلې شوې دې د هغوئ دا انفرادی حال او انفرادی طرز عمل دې چه دا د هغې کسانو نادانی . جهالت . او د تبلیغ شرعی حقیقت نه په ناواقفئ باندې مبنی دې د هغوئ د دې نادانئ او جهالت د وجې نه ټول تبلیغی جماعت غلط ګڼل یا ئې د دغې خلقو غوندې ګڼل صحیح نهٔ دی ، تبلیغی جماعت په اجتماعی طور سره صحیح جماعت دې او خیر پرې غالب دې . د دې په ذریعې سره د الله تعالی مخلوق ته دینی نفع رسیږی چه د قدر قابله ده .

د اعتدال سره سره د دې جماعت تعاون او شرکت بلاشبه نافع او مفید دې . د بعضې کسانو د وجې نه ټول جماعت غلط ګڼل او د دې د نافعیت نه انکار کول غلط او جهالت دې - والله تعالی اعلم بالصواب


کتبه ، بنده محمد یٰسین محراب پوری عفی عنه
دارالافتاء دارالعلوم، کراچی

الجواب صحیح
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

الجواب صحیح
دارالافتاء دارالعلوم کراچی
۱۱-۶-۱۴۱۰ھ
نائب مفتی دارالعلوم کراچی


الجواب صحیح











۱۴۱۰ . ۸ . ۱۴

وروسته چه بيا د مهاجرينو او انصارو خپل منځ کښې توارث ((واولوا الارحام بعضهم اولى ببعض في كتاب الله. الخ)) ختم کړو نو دا حکم هم باقی پاتې نشو چه مسلمان مهاجر دې د مسلمان غير مهاجر وارث نوی. بلکه آيت د مواريثو د عموم مطابق توارث جاری کړلو.

حاصل دا شو چه بعضو مفسرينو ﷺ د مذکوره آيت نه صرف موالاة مراد اخستې دې او ميراث ئې په دې کښې ندې داخل کړې او بعضو خو ميراث داخل کړې دې مگر د سورة انفال په آيت ((والوالارحام بعضهم اولى ببعض)) سره ئې منسوخ گرځولې دې. او د حضرت ابن عباس رضی الله تعالى عنه هم همدا قول دې.

مودودی صاحب ليکلی دی چه د اختلاف دارينو سره ولايت منقطع کيږی، هغه ته دا معلومه نده چه د ((ولا تمسكوا بعصم الكوافر واسئلوا ما انفقتم وليسئلوا ما انفقوا)) تر نزوله پورې کافرې زنانه دمسلمانانو په نکاح کښې وې. د آيت د نزول نه پس حضرت عمر رضى الله تعالى عنه او نورو صحبه کرامو طلاق ورکړو. دا زنانه په مکه کښې وې چه دارالحرب وو او د هغې ځائ اوسيدو والا ټول حربيان وو. که چيرې د اختلاف دارينو سره ولايت منقطع کيدلې نو دمدينې اوسيدونکو صحابه کرامو نکاح به په مکه کښې د اوسيدونکو کافرو ښځو سره څنګه باقی وه؟ نکاح هم د ولايت يو فرد دې د کافرو ښځو سره نکاح خو د سورت بقره دآيت ((ولا تنكحوا المشركت حتى يؤمن -ولا تنكحوا المشركين حتى يؤمنوا)) نه ډيره وړاندې ممنوع شوې وه. البته د نکاح بقاء جائزه وه. چه دهغې ممانعت په ((ولا تمسكوا بعصم الكوافر)) سره وکړې شو

غرض دا چه د ((ولا تمسكوا بعصم الكوافر)) تر نزول پورې هرکله چه د کافرې ښځې سره تعلق د اختلاف دارينو باوجود باقی وو نو د مسلم ولايت على المسلم د باره به اختلاف دارين ولې قاطع وی

مودودی صاحب ته د قرآن کریم نه د مسائلو مستنبط کولو شوق وو . حال دا چه د دې د پاره په خوارلسو علومو کښې مهارت حاصلول ضروری دی چه د هغې نه مودودی صاحب واقف نهٔ وو ، لهذا د دهٔ د پاره د قرآن نه استباط دمسائلو جائز ندی او که چیرې هغه دا کار ضرور کول غوارې نو مونږ به ورته دا مشوره ضرور ورکوو چه د استنباط من القرآن سره سره دې د فقهائ امت ﷺ اقوال هم ضرور وګوری چه د اجماع د خلاف نه محفوظ پاتې شی، والله سبحانه وتعالی اعلم .

۲۹ / شعبان ، سنه ۷۳ هـ .

د یو شخص د مرګ نه شپږ میاشتې پس د هغهٔ د مور ماشوم پیدا شو چه هغه د یونیم کال نه مطلقه رجعیه وه نو آیا دا ماشوم به وارث وی ؟

سوال : یو سړې وفات شو ، د اوؤ یا اتو میاشتو د تیریدو نه پس د هغهٔ ورور پیدا شو حالانکه د هغهٔ والد د هغهٔ والدې لره یونیم کال مخکښې طلاق رجعیه ورکړې وو . نو آیا دا ورور به یې شرعا وارث وی او که نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې د هغهٔ والدې د عدت تیرولو اقرار ونهٔ کړو نو دا به ګڼلې کیږی چه د هغې ماشوم علوق د مورث د مرګ په وخت موجود وو . ځکه چه د مرګ د وخت نه تر دوؤ کالو پورې د ماشوم د پیدا کیدو نه دا ظاهریږی چه زوج رجوع نده کړې او دا علوق د طلاق نه مخکښې دې . لهذا دا ورور به وارث وی .

قال الامام المرغینانی رحمه الله : بخلاف ما اذا اعتقت المعتدة عن موت او طلاق فجاءت بولد لاقل من سنتین من وقت الموت او الطلاق حیث یکون الولد مولی لمولی الام وان اعتق الاب لتعذر اضافة العلوق الی مابعد الموت والطلاق البائن لحرمة الوطء وبعد الطلاق الرجعی لما انه یصیر مراجعا بالشك فاستند الی حالة النکاح فکان الولد موجودا عند الاعتاق فعتق مقصودا (هدایة کتاب الولاء ص ۳۳ ج ۳)

وفی بحث الحمل من الشامیة : وان کان من غیرہ فانما یرث لوولد لستة اشهر او اقل الا اذا کانت معتدة ولم تقر بانقضائها الخ

او که چیرې د هغهٔ والدې د عدت تیریدو اقرار کړې وی نو دا ورور به ئې په دې شرط سره وارث وی چه د اقرار د وخت نه تر شپږو میاشتو پورې دننه پیدا شوې وی . والا فلا . والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۲ رجب . سنه ۷۵ هـ

د حمل غیر مورث د وراثت د پاره د مورث د مرګ نه تر شپږو میاشتو پورې پیدا کیدل شرط دی

سوال که حمل د غیر مورث وی نو آیا د هغهٔ د وارث کیدو د پاره شرط ولادت لاقل من سته

اشهر دي او که لتمام ستة اشهر دي ؟ په شامی کښې یې «لستة اشهر او اقل» او په بحر کښې یې صرف «لاقل من ستة اشهر» لیکلي دي . بینوا توجروا

الجواب ومنه الصدق والصواب شامی د سراجیه موافقت کړي دي او په بحر کښې د مبسوط موافقت دي لیکن مبسوط کښې په نورو بعضې مسائلو کښې «ستة اشهر» لره ئې د اقل سره لاحق کړي دي او په طحاوی کښې په دې مسئله کښې ستة اشهر د اکثر سره لاحق کیدل صریح دی .

((وان جاءت به لستة اشهر او اكثر فانه لا يرث. اه)). په ظاهره دا راجح معلومیږی. شامی پخپله دا لاندې مسئله د ستة اشهر سره لاحقه کړې ده . **والمتوفى عنها اذا ادعت انقضاء ها ثم جاءت بولد لتمام ستة اشهر لا يثبت نسبه ولاقل يثبت اه (رد المحتار ص ۳۳ ج ۲) والله سبحانه وتعالى اعلم .**

۱۳ / رجب ، سنه : ۷۵ هـ

حمل غیر مورث د مورث د مرګ نه شپږ میاشتې پس پیدا شو مګر وارثان د مرګ په وخت د حمل اقرارکونکی دی نو آیا دا حمل به وارث وی اوکه نه ؟

سوال : په شامی بحث الحمل کښې راغلی دی چه : **وان كان من غيره فانما يرث لو ولد لستة اشهر او اقل الا اذا كانت معتدة ولم تقر بانقضائها او اقر الورثة بوجوده** - آیا په دې کښې د ټولو وارثانو اقرار ضروری دې او که د بعضو کافی دې ؟ بینوا توجروا .

الجواب ومنه الصدق والصواب : چونکه اقرار حجت قاصره دې نو له همدې کبله صرف د مقرینو په حق کښې به د دوئ اقرار معتبر وی . البته که چیرې د مورث د مرګ په وخت ظهور د حمل په عام طور باندې معلوم وو او یا د هغې په ظهور ګواه موجود وو نو د ټولو وارثانو په حق کښې به د دهٔ ارث جاری کیږی . د حمل د ظهور اعتبار د دې لاندې جزئی نه ثابت دې : **يثبت نسب ولد المعتدة بموت او طلاق ان جحدت ولادتها بحجة تامة او حبل ظاهر الخ (رد المحتار ص ۳۳ ج ۲)** د حمل د ولادت نه وړاندې د هغهٔ د پاره سهم موقوف کول هم د ظهور حمل د اعتبار دلیل دې . والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۴ / رجب . سنه : ۷۵ هـ

د ترکې نه یو وارث فائده اخستله

سوال د یو سړی د مرګ نه پس په ترکه باندې صرف یو وارث متصرف وو . هغهٔ د دې نه د دیرې مودې پورې منافع واخستله او کافی جائیداد ئې پیدا کړو . اوس نور وارثان د تقسیم مطالبه کوی نو په دې حالت کښې به صرف اصل ترکه تقسم کیږی او که د دې نه د حاصلې شوې منافع او په دې سره اخستې شوې جائیداد به هم تقسیم کیږی ؟ بینوا توجروا

الجواب ومنه الصدق والصواب صرف اصل ترکه به تقسیم کیږی او د منافع مالک هغه سړی دي کوم چه متصرف وو . مګر که د هغهٔ تصرف د نورو وارثانو د رضا نه بغیر وو نو دا ارباح فاسده دی. د دې حکم دا دې چه مالک ته دې واپس کړې شی . که د مالک یې معلوم نوی نو په فقیرانو دې صدقه کړې شی . حاصل دا چه دیانةً ټولو وارثانو ته ورکول واجب دی نهٔ قضاءً . البته که په وارثانو کښې یو نابالغ وی او د یو وارث تصرف په یو داسې څیز وی چه هغه پیداوار والا وی مثلا زرعی زمکه وی نو په داسې حالت کښې قضاءً هم نابالغ ته منافع ورکولې شی

قال فی الهندیة: لوتصرف احد الورثة فی الترکة المشترکة وربح فالربح للمتصرف وحده.

وفی الذخیرة: رجل مات وترک الورثة فتصرف احد الورثة فی المال بالتجارة فکثر ایں المال فالقاضی یقسم اصل المال علی فرائض الله تعالیٰ لافرعه.

وفی التتارخانیة : مات رجل و ترک اولادا صغارا او کبارا فحرث الکبائر وزرعوا فی ارض مشترکة اوفی الارض الغیر فان زرعوا من بذر انفسهم اوبذر مشترک بلا اذن فالغلة للمزارعین-

وفی تنقیح الحامدیة: ونقل المؤلف عن الفتاوی الرحیمیة سئل عن مال مشترک بین ایتام وام واسترىحه الوصی للایتام هل تستحق الام ربح نصیبها اولا اجاب لا تستحق الام شیئا مما استربحه الوصی بوجه شرعی لغیرها کاحد الشریکین اذا استربح من مال مشترک لنفسه فقط ویکون ربح نصیبها کسبا خبیثا ومثله سبیله التصدق علی الفقراء اه اقول ایضا ویظهر من هذا وما قبله حکم مالو کان المباشر للعمل والسعی بعض الورثة بلاوصیة اووکالة من الباقین (تنقیح الحامد ص ج)

وفی الخیریة: سئل فی دار معدة للاستغلال بین بالغ ویتیم وامر اسکنها الشریک البالغ بلا استیجار حصة الیتیم سنة هل یلزم البالغ اجرة مثل حصة الیتیم ام لا .اجاب قد افتی کثیر من المتاخرین بوجوب اجرة المثل فی ذلک صیانة لمال الیتیم .والله اعلم -(الفتاوی الخیریة ص ج)

قال الامام المرغینانی رحمه الله تعالیٰ : فیکون سبیله التصدق فی روایة ویرده علیه فی روایة لان الخبث لحقه وهذا اصح (هدایه کتاب الکفالة ص ج)

قال الحافظ العینی رحمه الله : یردعلیهای علی الاصیل فی روایة اخری عن ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ .فان رده علی الاصیل فان کان الاصیل فقیرا طاب له وان کان غنیا ففیه روایتان فی کتاب الغصب .قال فخر الاسلام فی شرح الجامع الصغیر والاشبه ان یطیب له .لانه انما یرده علیه علی انه حقه لان الخبث لحقه ای لحق الاصیل لا لحق

الربح وهذا اصح ای الرد لان یرد علی المکفول عنه اصح من القول بالتصدق لکنه استحباب ای لکن الرد علیه مستحب. لا الملك للکفیل لاجبرلان الحق له ای لایجبر علی دفعه الا انه لما تمکن الخبث یستحب الدفع الیه بخلاف الربح فی الغصب حیث یجبر الغاصب علی الدفع لانه لاحق للغاصب فی الربح (الهدایه ص ۱۱۲ ج ۳)

۱۰ / ذی القعده ، سنه : ۷۶ هـ

د ډیرې مودې تیریدو با وجود د وراثت حق نهٔ ساقطیږی

سوال یو سړې وفات شو ، یو خو ورځې پس دهغهٔ یوه لور پیدا شوه . د مړی د ترهٔ خوی په زمکه قبضه وکړه . ماشومې ته ئې هیڅ ورنکړل ، حتی چه دغه ماشومه وادهٔ شوه . د هغې اولاد ځوان شو نو هغوئ د ډیر اصرار نه پس د هغهٔ نه لړه زمکه واخسته . لیکن هغه ډیره کمه وه چه په هغې دغه نجلۍ راضی نهٔ وه. څه موده پس د مړی نوسیانو د خپلې والدې د حق اخستلو کوشش وکړو نو د ترهٔ یو ځوی ورته وه وئیل چه په دې وخت کښې والد صاحب بیمار دې کیدې شی چه تاله دزمکې په درکولو د هغه مرض نور هم زیات شی، نو هغهٔ قسم وکړو چه زهٔ به د والد صاحب د مرګ نه پس تاته فلانکئ زمکه ۳حواله کوم لړه موده پس دهغه والد وفات شو ، اوس هغه د زمکې ورکولو نه انکار کوی.

نو اوس پوښتنه داده چه :

(۱) د مړی لور ته دا حق حاصل دې چه هغه د خپلې حصې مطالبه وکړی ؟

(۲) آیا په شریعت کښې د دې څه تحدید شته چه د څومره مودې پورې د حق مطالبه کولې شی او بیا له هغې نه وروسته مطالبه نشی کولې ؟

(۳) لور ته به څومره حصه ورکول کیږی کله چه د مړی ښځه هم وفات شوې وی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د ترهٔ د ځوی د مړی د لور په حصه قبضه کول ناجائز او حرام وو .

د مړی لور د خپلې حصې د غوښتلو حقداره ده خواه که هرڅومره موده تیره شی

د مړی د ترهٔ د ځوی په بچو فرض دی چه د مړی یعنی د والد او والدې د ټول جائیداد نصف دغې نجلۍ ته ورکړی . په دغه جائیداد کښې که د نجلۍ د حصې آمدنی شوې وی نو هغه دې هم نجلۍ ته ورکړی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت قوله باع عقارا : وفی جامع الفتاوی وقال المتاخرون من اهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعد ست وثلاثین سنة الا ان یکون المدعی غائبا او صبیا او مجنونا ولیس لهما ولی اولمدعی علیه امیرا جائرا یخاف منه. کذا فی الفتوی العتابیة اه والظاهر ان عدم سماعها بعدهذه المدة اعم من کونه مع الاطلاع علی التصرف اوبدونه لان عدم سماعها مع الاطلاع علی التصرف لم یقیدوه هما بمدة

فلامنافاة بين كلامهم تأمل. ثم اعلم ان عدم سماعها ليس مبنيا على بطلان الحق حتى يرد ان هذا قول مهجور لانه ليس ذلك حكم ببطلان الحق وانما هو امتناع من القضاء عن سماعها خوفا من التزوير ولدلالة الحال كما دل عليه التعليل والا فقد قالوا ان الحق لا يسقط بالتقادم كما في قضاء الاشباه فلا تسمع الدعوى في هذه المسائل مع بقاء الحق للآخر ولذا لو اقر به الخصم يلزمه كما في مسالة عدم سماع الدعوى بعد مضي خمس عشر سنة اذا نهى السلطان عن سماعها كما تقدم قبيل باب التحكيم فاغتنم هذا التحرير المفرد (ردالمحتار ص ج)

وقال الحافظ العيني رحمه الله في كتاب الكفالة تحت قوله فيكون سبيله التصدق في رواية ويرده عليه في رواية لان الخبث لحقه وهذا اصح:

بخلاف الربح في الغصب حيث يجبر الغاصب على الدفع (اي الدفع الى المالك) لانه لا حق للغاصب في الربح (البناية ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم - ۲۶ / محرم، سنه: ۱۴۱۹ هـ

د لور په موجودگئ کښې اخيافي خور محرومه ده

سوال کله چه د مړی په وارثانو کښې لور او اخيافي خور دواړه موجودې وی نو آيا اخيافي خور به محرومه وی او که حصه به ئې رسيږی ؟ په مجموعة الفتاوی کښې په دې صورت کښې خيافي خور ته سدس ورکړې شوې دې. بينوا تو جروا

الجواب ومنه الصدق والصواب اخيافي خور د لور د وجې نه محرومه وی . په مجموعة الفتوی کښې تسامح شوې ده

قال في التنوير: ويسقط بنو الاخياف بالولد وولد الابن (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم -

سلخ ذی القعده، سنه: ۷۶ هـ

د مرتد د پاره وصيت باطل دې

سوال د يو سړی جائيداد په هندوستان کښې دې . د هغهٔ خور هم هغهٔ سره په دې جائيداد کښې شريکه ده . د جائيداد دوئ ته د والد په ترکه کښې ملاؤ شوې وو . تر دې وخته پورې هغوئ تقسيم کړې نه وو چه خور ئې مرتده شوه يعنې هغې شيعه مذهب اختيار کړو او څه موده پس هغه په هندغه حالت کښې وفات شوه . کله چه د ورور د مرګ وخت راغې نو هغهٔ خپل اولاد ته د وصيت وکړو چه تاسو د دې جائيداد نه د ترور بچو ته حصه ورکړئ اوکه نه نو به آخرت کښې به ستاسو غاړه بنده وی . اوس آيا اولاد د خپل والد دا وصيت نافذ کولې شی او کنه ؟ د عدم

تعمیل په صورت کښې به د اولاد مواخذه کیږي او که نه؟ حالانکه د چا په باره کښې چه نې وصیت کړي هغوئ ټول شیعه او مرتد دی ؟ بینوا توجزوا

الجواب باسم ملهم الصواب : مرتده خور د ارتداد په حالت کښې نۀ د چا وارثه کیدې شی او نۀ به د هغې د کسب ارتداد څوک وارث وی. البته د کسب اسلام وارثان به د هغې مسلمانان ورثه وی د غیرمسلم وارث په دې کښې هیڅ حصه نشته . لهذا هغوئ ته د حصې ورکولو وصیت باطل دې. د عدم تعمیل په صورت کښې به اولاد ماخوذ نۀ وی .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله والارث) فلا يرث احدا ولا يرثه احد مما اكتسبه فى ردته بخلاف كسب اسلامه فانه يرث ورثته كما مر الاستناده الى ما قبلها فهو ارث مسلم من مثله والكلام فى ارث المرتد فافهم (ردالمحتار ص٣٠٠ ج) والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ١٣ /صفر ، سنه :٨٨ هـ

د ((وسهم الدور ساقط)) مطلب

سوال : د تعلیم المتعلم په (فصل فى بداية السبق وقدره وترتيبه) کښې راغلی دی چه :(وسهم الدورساقط) . د دې څه مطلب دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : قال العلامة ابن عابدين رحمه الله فى فروع الهبة تحت باب الرجوع فى الهبة:

ورايت فى مجموعة منلا على الصغيرة بخطه عن جواهر الفتاوى كان ابو حنيفة + حاجا فوقعت مسالة الدور بالكوفة فتكلم كل فريق بنوع فذكروا له ذلك حين استقبلوه فقال من غير فكر ولا روية اسقطوا السهم الدائر تصح المسالة مثاله مريض وهب عبدا له من مريض وسلمه اليه ثم وهبه من الواهب الاول وسلمه اليه ثم ماتا جميعا ولا مال لهما غيره فانه وقع فيه الدور حتى (اذا) رجع اليه شئ منه زاد فى ماله واذا زاد فى ماله زاد فى ثلثه واذا زاد فى ثلثه زاد فيما يرجع اليه واذا زاد فيما يرجع اليه زاد فى ثلثه ثم لا يزال كذلك فاحتيج الى تصحيح الحساب وطريقه ان تطلب حسابا له ثلث (ولثلثه ثلث) واقله تسعة ثم تقول صحت الهبة فى ثلاثة منها ورجع من الثلاثة سهم الى الواهب الاول فهذا السهم هو سهم الدور فاسقطه من الاصل بقى ثمانية ومنها تصح وهذا معنى قول ابى حنيفة + اسقطوا السهم الدائر وتصح الهبة فى ثلاثة من ثمانية والهبة الثانية فى سهم فيحصل للواهب الاول ستة ضعف ما صححناه فى هبته وصححنا الهبة الثانية فى ثلث ما اعطينا (الاول) فثبت ان تصحيحه باسقاط سهم الدور وقيل دع الدور يدور فى الهواء اه ملخصا وفيه حكاية عن محمد + فلتراجع (ردالمحتار ص٥٠٠) والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ١١ / ٤ ج الاولى ، سنه : ٨٤ هـ

حکم الوصیة بالسکنی

سوال که یو سړي د یو مسکین دپاره د ټول ژوند وصیت بالسکنی وکړی نو آیا دا وصیت به نافذ وی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د وصیت بالسکنی د صحیح والی د پاره ضروری دی چه موصی له معین وی . که چیرې مطلقا ئې د سکنی وصیت وکړو او دموصی له تعیین ئې ونکړو نو وصیت به صحیح نه وی . البته د هغه خلقو په قول به قیاس وکړو څوک چه وقف د غیرمعین د پاره جائز وانی . نو د جواز قول کولې شی . مګر ابن عابدین رحمه الله په قیل سره تعبیر وکړو او د دې ضعف ته ئې اشاره کړې ده . او د عدم صحت قول ئې مدلل او راجح کړې دې .

قال الحصکفی رحمه الله تعالی : صحت الوصیة بخدمة عبده وسکنی داره مدة معلومة وابدا ویکون محبوسا علی ملك المیت فی حق المنفعة کما فی الوقف - قال ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله صحت الوصیة بخدمة عبده وسکنی داره) ای لمعین قال المقدسی ولو اوصی بغلة داره او عبده فی المساکین جاز وبسکنی والخدمة لایجوز الا لمعلوم لان الغلة عین مال یتصدق به والخدمة والسکنی لایتصدق بها بل تعار العین لاجلها والاعارة لاتکون الا لمعلوم وقیل ینبغی ان یجوز علی قیاس من یجیز الوقف وتمام الفرق فی البدائع اه سائحانی (قوله مدة معلومة وابدا) وان اطلق فعلی الابد وان اوصی بسنین فعلی ثلث وکذا الوصیة بغلة العبد والدار اه مسکین (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم .　　　۲۳ / ذی القعده ، سنه : ۸۸ هـ

د قضا مونځ او روژې د فدیې وصیت

سوال که د یو سړی په ذمه د څه مونځونو یا روژو قضا باقی وی لیکن د هغې صحیح مقدار معلوم نوی نو په داسې صورت کښې هغه لره د مرګ په وخت وصیت کول واجب دی او که نه؟ او آیا په وصی باندې د دې وصیت په ثلث کښې جاری کول واجب دی او که نه؟ د دې صحیح مصرف څه دې؟ آیا یو هاشمی یا مالدار ته د دې ورکول جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب وصیت کول واجب دی مګر د ظن غالب مطابق دې د مونځونو تعداد معین کړی او وصیت دې وکړی که دتعیین نه بغیر ئې وصیت وکړو نو وارثان دې د ظن غالب سره تعداد معین کړی او حساب دې وکړی . که ثلث مال دفدیې دمقدار مساوی یا کم وو نو وصیت نافذ کول واجب دی او که زیات وی نو وصیت باطل دې . د دې مصرف هغه دې کوم چه د زکوة دی . هاشمی او صاحب نصاب ته ورکول جائز ندی .

قال الحصکفی رحمه الله تعالی : ولو مات وعلیه صلوات فائتة واوصی بالکفارة یعطی لکل صلوة نصف صاع

من بر کالفطر قو کذا حکم الوتر والصوم. وانما یعطی من ثلث ماله۔

قال ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وانما یعطی من ثلث ماله) ای فلو زادت الوصیة علی الثلث لا یلزم الولی اخراج الزائد الا باجازة الورثة (و بعد سطر) اوصی بصلوات عمره وعمره لا یدری فالوصیة باطلة ثم رمزان کان الثلث لا یفی بالصلوات جاز وان کان اکثر منها لم یجز اه والظاهر ان المراد لا یفی بغلبة الظن لان المفروض ان عمره لا یدری وذلک کان یفی الثلث بنحو عشر سنین مثلا وعمره نحو الثلاثین ووجه هذا القول الثانی ظاهر لان الثلث اذا کان لا یفی بصلوات عمره تکون الوصیة بجمیع الثلث یقینا ویلغو الزائدة علیه بخلاف ما اذا کان یفی بها ویزید علیها فان الوصیة تبطل لجهالة قدرها بسبب جهالة قدر الصلوات فتدبر:

(ردالمحتار ص۳۰ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم۔ ۴ / محرم ، سنه :۹۵ هـ

په وصیت کښې د ترکې دریمې حصې لره اعتبار دې

سوال : یو صاحب چه هغه د ډیر عمر خاوند وو هغهٔ په دې خیال چه ځما د مرګ نه پس ځما وارثان څه جنګ جګړه ونکړی په خپله زندګئ کښې ئې خپل ټول میراث په وارثانو د شرعی حصې مطابق تقسیم کړو او یوه دریمه حصه کومه چه دهغهٔ د وصیت حق وو هغه یې له خان سره حصاره کړه او دا ئې وه ویل چه دا پیسې ځما د مونځونو او روژو فدیه ده . اوس هغه وفات شو او هغه پیسې د فدیې دپاره پرتې دی ، نو پوښتنه دا ده چه آیا دا ټولې پیسې به په فدیه کښې ورکول کیږی او که د دې دوه دریمې حصې به د وارثانو وی او یوه دریمه کښې به یې وصیت جاری کیږی؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : که وارثانو د مورث په زندګئ کښې په خپلو حصو قبضه کړې وی نو هغه د مورث په زندګئ کښې دمورث د ملکیت نه بهر شوې . ټوله ترکه هغه ده کومه چه هغهٔ د وصیت د پاره اینښې وه. لهذا د دې نه به دوه ثلثه په وارثانو کښې د خپلو حصو په قدر تقسیمیږی او په یو ثلث کښې به یې وصیت جاری کیږی . البته که ټول وارثان عاقلان او بالغان وی او هغوئ ټول په طیب خاطر سره په وصیت خرچ کولو راضی وی نو بیا ټولې پیسې د وصیت مطابق خرچ کیدې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۸ جمادی الاخره . سنه ۹۵ھ

د اقاربو د پاره وصیت

سوال : که یو سړې د خپلو اقاربو د پاره وصیت وکړی نو په دې کښې به څوک د[illegible] وی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې کښې به هغه ذی رحم محرم داخل وی کوم چه د موصی د

مرگ په وخت وارثان نهٔ وي

قال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى : وان اوصى لاقاربه اوللذى قرابعه اولارحامه اولانسابه فهى للاقرب فالاقرب من كل ذي رحم محرم منه ولايدخل الوالدان والوالد والوارث ويكون للاثنين فصاعدا (ردالمحتار ص٣٣ ج٥)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى بيان شرائط صحة الوصية : وكونه غيروارث وقت الموت۔

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله وقت الموت) اى لاوقت الوصية حتى لواوصى لاخيه وهو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصية للاخ ولو اوصى لاخيه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصي بطلت الوصية۔ (ردالمحتار ص٣٣ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ۴ / ذى الحجه ، سنه : ۹۵ هـ

وصيت تر يو ثلث پورې كيدې شي

سوال : يوه ښځه وفات شوه چه اولاد ئې نهٔ وو ، د هغې په وارثانو كښې د هغې خاوند او يو ورور دې . د مرگ نه وړاندې هغې چاسره پنځلس زره روپې امانت اينښودې وې چه دا به خما د مرگ نه پس په يو كار خير كښې ولگوې . هغې سره د هغې مال نه علاوه نوره هم اثاثه شته نو آيا شرعًا به د هغه امانت وصيت صحيح وي اوكه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : كه چيرې دا پيسې د ټولې تركې د ثلث نه زياتې نوې نو دا وصيت صحيح دې اوكه نه نو تر يوې دريمې پورې به د وصيت مطابق خرچ كولې شي او باقى به به وارثانو كښې تقسيم كړې شي. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۵ / صفر ، سنه ۹۶ هـ

يو په بل پسې كه دوه وصيان مقرر كړې شي نو دواړه به په اتفاق رائ سره كار كوي

سوال : يو سړى د خپل مال د حفاظت او تقسيم د پاره يو بل سړې وصى مقرر كړو . څه موده پس ئې داول وصى د معزول كولو نه بغير دويم سړې وصى جوړكړو . نو اوس پوښتنه دا ده چه آيا اول وصى به معزول گڼلې شي او كه دواړه به وصيان وي ؟ كه چيرې دواړه وصيان وي نو د دواړو نه به هر يو ته انفرادًا د تصرف كولو اجازه وي او كه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دواړه كسان به وصيان گڼلې شي . البته هريو ته خپل له د تصرف اجازه نهٔ وي. بلكه دواړه به يوځاى تصرف كوى

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : (وبطل فعل احدالوصيين كالمتوليين) فانهما فى الحكم كالوصيين

ایضا وهو الاشبہ ومفادہ انہ لو آجر احدھما ارض الوقف لم یجز بلا رای الآخر وقد صارت واقعۃ الفتوی (ولو ایضا) وصلیۃ (کان ایصاء الکل منہما علی الانفراد) وقیل ینفرد قال ابو اللیث وهو الاصح وبه ناخذ لکن الاول صححه فی المبسوط وجزم به فی الدرر، وفی القہستانی انہ اقرب الی الصواب-

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمہ اللہ تعالی : (قولہ وقیل ینفرد) قائلہ ابو یوسف رحمہ اللہ تعالی کما سیصرح به الشارح ولاول قولہما ثم قیل الخلاف فیما لو اوصی الیہما متعاقبا فلو معا بعقد واحد لا ینفرد احدھما بالتصرف بالاجماع وقیل الخلاف فی العقد الواحد اما فی العقدین فینفرد احدھما بالاجماع . قال ابو اللیث وهو الاصح وبه ناخذ وقیل الخلاف فی الفصلین جمیعا . قال فی المبسوط وهو الاصح وبه جزم منلا خسرو ومنح ملخصا وذکر مثلہ الزیلعی وغیرہ (قولہ لکن الاول صححه فی المبسوط الخ) اقول یوھم انہ صحح القول بالانفراد مع انک علمت ان الکلام فی محل الخلاف وان الذی صححه فی المبسوط ان الخلاف فی الموضوعین . ولیس فیہ تصحیح القول بالانفراد ولا لعدمہ نعم ما صححه ابو اللیث یتضمن تصحیح الانفراد ولو بعقدین لانہ ادعی فیہ الاجماع فتنبہ- ویمکن ان یقال ان ما فی المبسوط متضمن ایضا لتصحیح عدم الانفراد فانہ لما صحح ان الخلاف فی الفصلین اثبت ان قول ابی حنیفۃ ومحمد رحمہما اللہ تعالی عدم الانفراد فیہما والعمل فی الغالب علی قول الامام وھو ظاهر اطلاق المتون وصریح عبارۃ المصنف تامل-

(وقولہ انہ اقرب الی الصواب) لان وجوب الوصیۃ عند الموت فثبت لہما معا بخلاف الوکالۃ المتعاقبۃ فاذن ثبت ان الخلاف فیہما زیلعی ای فی صورتی الایصاء لہما معا او متعاقبا (ردالمحتار ص-- ج٥) واللہ سبحانہ وتعالی اعلم

۲۵ شوال ، سنہ : ۹۸ ھـ

د وارث د پاره وصیت جائز ندي

سوال یو سړي په خپل حیات کښې یوه وصیت نامه ولیکله . چه په هغې کښې هغه خپل دوه ورونه د خپلې ترکې د حفاظت او تقسیم د پاره وصیان مقرر کړل . څه موده پس ئې بیا یوه وصیت نامه ولیکله چه په هغې کښې هغه خپله ښځه او لور وصي ولیکله . د ورونو په باره کښې ئې هیڅ ونه لیکل . همدارنګه په اوله وصیت نامه کښې ئې خپل یو وراره چه [illegible] . دهغه د باره ئې ولیکل چه [illegible] ورونو سره به حصه کښې برابر وي [illegible] دویمه وصیت نامه کښې ئې د هغه د باره هیڅ ونه لیکل . اوس پوښتنه دا ده چه دویمه وصیت نامه به د اولې [illegible] صحیح وي [illegible] ترکې وصي څوک دی [illegible] صحیح [illegible] وصي [illegible] صحیح [illegible] همدارنګه [illegible]

كنه؟ كچيرې وركول كيږي نو څومره به وركول كيږي؟ او د تقسيم به څه طريقه وي؟ -

الجواب باسم ملهم الصواب. په دويمه وصيت نامه كښې د اولې د منسوخ كيدو څه ذكر نشته . ځكه به دواړه وصيت نامې معتبر وي او د دواړ د ليكلو مطابق به دوه ورونه . ښځه . او لور څلور واړه وصيان وي. كه د موصى تر وفات پورې يو ورور هم ژوندې وو نو ورارهٔ ته به د ورور د حصې برابر حصه وركول كيږي خو په دې شرط چه د كل تركې د يو ثلث نه زياته نهٔ وي كه د ثلث نه زياته وه نو د ثلث په قدر به وركول كيږي باقي به په وارثانو تقسيم كيږي او كه چيرې دواړه ورونه د موصى نه وړاندې وفات شول نو په دې صورت كښې چونكه ورارهٔ وارث دې او د وارث د پاره وصيت جائز نهٔ دې . له همدې كبله هغه ته به بطور وصيت هيڅ نهٔ وركول كيږي.

ورارهٔ ته بطور وصيت د حصې وركولو په صورت كښې د تقسيم صحيح طريق دا ده چه اول دې صرف د وارثانو د حصو تخريج وكړې شي . بيا دې د يو ورور د حصې برابر موصى له ورارهٔ د پاره حصه ولګولې شي . په دې عمل سره به راس المال د حصو نه كم شي، نو ځكه به په طريقې دعول سره د هر وارث حصه د تناسب په لحاظ كمه كړې شي.

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في بيان شرائط صحة الوصية:وكونه غير وارث وقت الموت-

وقال العلامة ابن عابدين+ (قوله وقت الموت) اى لا وقت الوصية حتى لو اوصى لاخيه وهو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصية للاخ ولو اوصى لاخيه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصى بطلت الوصية زيلعي (رد المحتار ص۳۰۰ ج۶) والله سبحانه وتعالى اعلم- ۲۵ / شوال ، سنه : ۹۸ھ

د وصيت نه رجوع جائز ده

سوال. زيد په حالت دمرض كښې خپل كور جمات د پاره وركړو او په سركاري كاغذونو كښې ئې هم وليكل چه ما خپل كور جمات د پاره وركړې دې ليكن د جمات د پاره لا قبضه نده شوې نو آيا زيد دا وصيت شرعا باطل كولې شي اوكه نهٔ ، او آيا په باطل كولو سره خو به يې څه ګناه نوي؟ - بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د وصيت نه رجوع جائزه ده :

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى:وله اى للموصى الرجوع عنها بقول صريح او فعل يقطع حق المالك عن الغصب بان يزيل اسمه واعظم منافعه كما عرف في الغصب-

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت قول (وله الرجوع عنها) واعلم ان الرجوع في الوصية على انواع ما يحتمل الفسخ بالقو والفعل كالوصية بعين ومالا يحتمله الا بالقول كلوصية بالثلث اوالربع فانه لوباع او

وهب لم تبطل وتنفذ الوصية من ثلث الباقي وما لا يحتمله الا بالفعل كالتدبير المقيد فلو باعه ثم لكن لو اشتراه عاد لحاله الاول وما لا يحتمله بهما كالتدبير المطلق اه ملخصا من الاتقاني والقهستاني (قوله اوفعل الخ) هذا رجوع دلالة والاول صريح وقد يثبت ضرورة بان يتغير الموصى به ويتغير اسمه (ردالمحتار ص ۳ ج ۵)

والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ۱۵ / رجب ، سنه : ۹۹ هـ

د وصیت د صحت د پاره د وارثانو بلوغ شرط ندي

سوال : یوه ښځه وفات شوه د هغې په ترکه کښې شپږ تولې سره زر دی ، په وارثانو کښې یی والد ، خاوند ، او دری بچی دی، د مرګ په وخت کښې هغې دا وصیت وکړو چه د ترکې نه دې ځما د قضا مونځونو فدیه د یو عالم په رائ سره ورکړې شی ، د هغې په ذمه تقریبا دوه ویشت «۲۲» مونځونه دی، اوس پوښتنه داده چه د هغې په وارثانو کښې نابالغه بچی هم دی نو آیا د هغې دغه سره زر دې خرڅ کړې شی او دتولو مونځونو فدیه دې ترې ورکړې شی اوکه دبعضو؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د تولې ترکې د یوې دریمې نه فدیه ادا کول واجب دی ، که په هغې کښې دومره ګنجائش نوی نو د هغې نه زیاته فدیه ادا کول واجب ندی ، که یو بالغ وارث وغواړی نو د خپلې حصې نه یی ورکولې شی ، د نابالغ د حصې نه ورکول جائز ندی - والله سبحانه وتعالی اعلم ۳ / ذی الحجه ، سنه ۹۹ هـ

د کرایې وصیت

سوال : د یو سړی د وفات په وخت کښې د هغهٔ په ترکه کښې صرف یو دکان وو او په وارثان کښې یی یو خوئ او یوه لور ده. د دکان د کرائ په باره کښې هغهٔ دا وصیت وکړو چه دا ځما وریرونو ته ورکوئ. آیا دا وصیت د شریعت مطابق صحیح دې اوکه نه ؟ بینوا توجروا ۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا وصیت صحیح دې ، د کرایه یوه دریمه به په وریرونو باندې تر ژونده پورې په هغوئ پوره پوره تقسیم کیږی او دوه دریمې به هلک او نجلی ته ورکول کیږی . د وریرونو نه که د څوک وفات شول نو د هغه حصه به بیا هم هلک او نجلی ته ورکول کیږی . او که هلک د وریرونو نه وړاندې وفات شو نو په دې صورت کښې به وریرونه وارثان جوړ شی او د وارثانو د پاره وصیت جائز ندې نو له همدې کبله به وصیت باطل شی او وریرونو ته به د وصیت په ځائ د میراث حصه ورکړل شی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله فلا تقسم) ای الدار نفسها اما الغلة فتقسم قال الاتقاني اذا اوصی بغلة عبده او داره سنة ولامال له غيره فله ثلث غلة تلك السنة لانها عين مايحتمل القسمة اه

(ردالمحتار ص ج)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في بيان شرائط صحة الوصية: وكونه غير وارث وقت الموت۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وقت الموت) اى لا وقت الوصية حتى لو اوصى لاخيه وهو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصية للاخ ولو اوصى لاخيه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصي بطلت الوصية۔ زيلعي (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم۔ غرة جمادى الأخرة ، سنه : ۱۴۰۰ هـ

د يو لوى ظلم اصلاح

سوال : يو مړى يوه ښځه او څلور خامن وارثان پرېښودل ، پنځم خوى د مړى په ژوند كښې وفات شوې وو ، مړى د هغه خوى د وارثانو د پاره داسې وصيت وكړ چه ځما په خامنوكښې چې هريو ته څومره حصه وركول كيږى نو اول دې د وفات شوى خوى وارثانو ته هغومره حصه وركړې شى ، نو اوس پوښتنه داده چه په دې صورت كښې به د تركې د تقسيم شرعى څه طريقه وى ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د داسې قسم د وصيت مواقع ډيرې په كثرت سره راځى ، په دې كښې عوام او خواص ټول دا طريقه كوى چه اول هغه مړې ژوندې فرض كړى او د ښځې حصه ترې وباسى ، باقى تركه په ټول اولاد باندې په للذكر مثل حظ الانثيين سره تقسيم كړى .

دا طريقه له دې وجې نه غلطه ده چه د وصيت د وجې نه د ښځې حصه كمه نشوه ، حالانكه شرعا وصيت د تركې په تقسيم باندې مقدم دې ، ځكه خو د وصيت د وجې نه د نورو وارثانو غوندې د ښځې حصه هم كمول پكار دى ، او كه چيرې اول د ټول اولاد د حصو حساب ولګولې شى ، دموصى لهم حصه ترې وباسى او له باقى څخه يې ښځې ته وركړى نو د ژوندى اولاد حصه به د موصى لهم د حصې نه كم پاتې شى چه هغه دموصى د مراد خلاف دې

صحيح طريقه دا ده چه اول صرف د وارثانو د حصو تخريج وكړې شى بيا د يو هلک د حصې برابر حصه موصى لهم د پاره ولګولې شى ، په دې عمل سره به راس المال د حصو نه كم شى ، نو دې وجې نه به د عول په طريقې سره د هر وارث حصه د تناسب په لحاظ كمه كړې شى .

د ذكر شوې طريقې مطابق به د سوال په صورت كښې د حصو تفصيل د فيصدى په حساب سره داسې وى

ښځې د پاره $\frac{۱۰}{۳۹}$ ۱۰ د هرخوئ لپاره $\frac{۳۷}{۳۹}$ ۱۷ او د موصى لهم لپاره $\frac{۳۷}{۳۹}$ ۱۷

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۷ / ربيع الاول ، سنه ۱۴۰۵ هـ

په مرض الموت کښې د وارث د پاره هبه جائزه نده

سوال: يو سړی کله صحت مند شی، کله په بيمارئ مبتلاء شی ، د هغهٔ عمر يوسل او ديرش ۱۳۰ کاله دې ، د هغهٔ دوه لونه وې ، يوه وفات شوې ده ، د وفات شوې لور نې دوه لونه وې ، يوه ژوندئ ده ، او دوه ځامن ئې وو چه هغوئ هم وفات شوی دی ، البته د هغې دواړو ځامنو اولاد ژوندي دې ، والد خپل جائيداد صرف د خپلو ځامنو په نوم کړې دې ، دهغې هلکانو خوريانو لره او خپله صلبی لور ئې محرومه کړې ده ، نو آيا د شريعت مطابق دا جائز دی ؟ که جائز نوی نو شرعی تقسيم به څنګه وی چه کله داسې تقسيم د صلبی نجلۍ او د صلبی هلکانو د هلکانو او نجونو په منځ کښې وی ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې هغه سړی د مرض په حالت کښې د نمسو په نوم هبه وکړه او په دغه مرض کښې د هغهٔ وفات وشو نو دا هبه صحيح نده ، بلکه ټولو وارثانو ته به په قدر دحصو د ميراث حصه ورکول کيږی، ځکه چه په مرض الموت کښې هبه د وصيت په حکم کښې ده او د وارث د پاره وصيت جائز ندې

البته که هغه په دې مينځ کښې صحت بيامونده او يا د تندرستئ په حالت کښې يې هبه وکړه او قبضه ئې هم ورکړه نو دا هبه صحيح شوه ، مګر که بعضو ته په هبه کولو کښې نورو وارثانو ته ضرر مقصود وو نو دا مکروه تحريمی دی ، که اضرار مقصود نوی او د ترجيح هم څه وجه نوی نو بيا مکروه تنزيهی دی ، په ذکورو او اناثو کښې تسويه بهتره ده ، که دينداری ، خدمت ګزاری ، د خدمات دينيه شغل وغيره ترجيح وی نو مکروه تنزيهی هم ندی، بلکه تفاضل مستحب دې ، بې دينه اولاد محروم کول او زيات مال په امور دينيه کښې صرف کول مستحب دی .

د هبې د نهٔ صحيح کيدو په صورت کښې به د ترکې تقسيم داسې وی :

لورته نصف او باقی به نارينه نمسو او ښځينه نمسو کښې په للذکر مثل حظ الانثيين تقسيم کړې شی .

تنبيه: مسئله خو فی نفسه هغسې ده څنګه چه بره وليکلې شوه : مګر زيات دستور دا دې چه لونه او نمسئ د مورث د مرګ نه پس د ميراث او په ژوند کښې د هبې نه محروم کولې شی او د دې عظيم ظلم عذر دا پيش کولې شی چه لونه او نمسئ په خپله حصه پرينښودلو راضی دی ، حالانکه هغوئ د جاهليت د دستور په بناء د شرم د وجې نه خاموشې وی ، په طيب خاطر سره ئې خپله حصه نوی پرينښې ، له همدې کبله داسې کول جائزندی ، بلکه د طيب خاطر ديقين په صورت کښې هم چونکه په دې سره د جاهليت د رسم او دظلم عظيم تائيد کيږی نو ځکه جائز ندی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی : (قوله مريض مديون الخ) (الفروع) وهب فی مرضه ولم يسلم حتی

مات بطلت الهبة لانه وان کان وصیة حتی اعتبر فیه الثلث فهو هبة حقیقیة فیحتاج الی القبض. (ردالمحتار ص۳ ج۲). وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی بیان شرائط صحة الوصیة: و کونه غیر وارث وقت الموت۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله وقت الموت) ای لاوقت الوصیة حتی لو اوصی لاخیه وهووارث ثم ولدله ابن صحت الوصیة للاخ ولو اوصی لاخیه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصی بطلت الوصیة زیلعی. (ردالمحتار ص۴۱۳ ج۵)

وقال الامام طاهربن عبدالرشید البخاری رحمه الله تعالی: وفی الفتاوی رجل له ابن وبنت اراد ان یهب لهما شیئا فالافضل ان یجعل للذکر مثل حظ الانثیین عند محمد رحمه الله تعالی وعند ابی یوسف رحمه الله تعالی بینهما سواء هوالمختار لورود الاثار ولو وهب جمیع ماله لابنه جاز فی القضاء وهو آثم ثم نص عن محمد رحمه الله تعالی هکذا فی العیون، ولواعطی بعض ولده شیئا دون البعض لزیادة رشده لاباس به وان کاناسواء لاینبغی ان یفضل، ولو کان ولده فاسقا فاراد ان یصرف ماله الی وجوه الخیر ویحرمه من المیراث هذا خیر من ترکه لان فیه اعانة علی المعصیة ولو کان ولده فاسقا لایعطی له اکثر من قوته (خلاصة الفتاوی ص۴۰۰ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم۔ ۴ / ذی القعده، سنه: ۸۸ هـ

تر وضع دحمل پورې د ترکې تقسیم وروسته کول بهتر دی

سوال: که چیرې د ښځې د حامله کیدو احتمال وو نو آیا تر وضع حمل پورې انتظار کول پکار دی چه د نجلۍ یا هلک کیدو په صورت کښې هغه هم په وارثانو کښې شریک شی او که نه په دې حال کښې تقسیم پکار دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د ترکې په تقسیم کښې خو بهتره دا ده چه دحمل دپیدائش انتظار وکړې شی چه د حمل د وارث کیدو یا غیر وارث کیدو او د نجلۍ یا هلک کیدل ظاهر شی. لیکن که چیرې انتظار ونکړی اوترکه تقسیم کول اوغواړی نو د حمل د پاره دې د ذکورة او انوثة جدا جدا دوه مسئلې راوباسی د حمل نه سوا نورو وارثانو ته چه په کوم صورت کښې کمه حصه ورکول کیږی هغه دې هغوئ ته ورکړی. د مسئلې نه چه څه پاتې شی هغې دې د حمل د پاره امانت کیږدی. چونکه د یو حمل نه د زیاتو بچو پیدا کیدو هم احتمال کیدې شی نوله همدې کبله بهتره دا ده چه د وارثانو نه ضامن واخستې شی. د پیدائش نه پس که ټول امانت هغهٔ ته ورکړې شو نو ښهٔ ده اوکه نه نو چه د دهٔ د وجې نه کومو وارثانو ته کمه حصه ورکړې شوې وه. د دې نه نه د هغوئ حصه پوره کړې شی

قال فی الهندیة عن الاختیار شرح المختار : وان کان لایجیزهم ولکن یشارکهم بأن ترک بلفظ وبدانت وهذا روی الخصاف رحمه الله تعالی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی وهو قوله انه یوقف نصیب ابن واحد وعلیه الفتوی(عالمگیریه ص ۱۰۰ ج ۶)

د حصو د تخریج طریقه په «تسهیل المیراث» کښې ده ، دا رساله د احسن الفتوې د همدې جلد په آخر کښې ده» (مرتب) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۹ صفر . سنه : ۸۹هـ

د پراویډنټ په فنډ کښې به وراثت جاري کيږي

سوال آیا د پراویډنټ په فنډ کښې به میراث جاري کیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د پراویډنټ فنډ په اصل کښې د تنخواه یوه حصه وی ، لهذا په دې کښې به هم وراثت جاري کیږي

د پراویډنټ فنډ د احکامو مکمل تفصیل په رساله ، پراویډنټ فنډ پر زکوة او سود کا حکم . په مندرجه احسن الفتاوی ، ج ۷ ، باب الربا والقمار کښې دې - والله سبحانه وتعالی اعلم .

۱۲ / جمادی الاولی . سنه : ۹۳هـ

د فنشن د پیسو حکم

سوال یو سړی وصیت ولیکلو یا ئې حکومت ته لیکل ورکړل چه څما د مرګ نه پس دې څما فنشن څما ښځې ته ورکړې شی نو د دې څه حکم دې ، آیا ټولې پیسې به ښځې ته ورکول کیږی او که نور وارثان به هم پکښې شریک وی ؟ بینو ا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : فنشن د تنخواه جز ندې بلکه د حکومت د طرفه یو انعام او تبرع ده له همدې کبله په دې کښې دا تفصیل دې چه کومې پیسې چه دهغهٔ په ژوند د هغهٔ په قبضه کښې راغلې یا د هغهٔ په نوم جمع کړې شوې نو دغه سړې د دې مالک شو . لهذا په دې کښې به وراثت جاري وی او په ټولو وارثانو کښې به د حصو په مقدار تقسیم کیږی . ښځه چونکه وارثه ده او د وارث د پاره وصیت جائز ندې . نو د دې وجې نه د هغې د پاره به هغه شوی وصیت ته اعتبار نوی او کومې پیسې چه نهٔ د هغهٔ په قبضه کښې راغلې دې او نهٔ د هغهٔ په نوم جمع شوې وی نو دې د هغې مالک نشو . لهذا په دې کښې به میراث نهٔ جاري کیږی . بلکه هغه د حکومت اختیار دې چه چاته یې ورکوی نو ور دې کړی . د نورو وارثانو په دې کښې هیڅ حق نشته

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی شرائط صحة الوصیة: وکونه غیر وارث وقت الموت.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وقت الموت) لاوقت الوصیة حتی لو اوصی لاخیه وهو

وارث لم ولذلك ابن صحت الوصية للاخ ولواوصى لاخيه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصي بطلت الوصية زيلعي-(ردالمحتار ص۳ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم- ۱۹ / ذى الحجه، سنه : ۱۴۱۸ هـ

د ښځې په دويمې نكاح سره د ميراث حق نه ساقطيږي

سوال : زيد وفات شو ، د هغهٔ ښځې د عدت نه پس دويمه نكاح وكړه نو آيا دا ښځه اوس د زيد نه ميراث وړى شي او كنه ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : دا ښځه به هم د نورو وارثانو غوندې د زيد وارثه وى ، په دويمې نكاح سره د ميراث حق نهٔ ختميږى ، والله سبحانه وتعالى اعلم . ۲۵ / رجب ، سنه : ۹۳ هـ .

په ژوند كښې بعضې وارثانو لره د وراثت حصه وركول

سوال : علم خان په خپل ژوند كښې د قبيلې د معتبرو كسانو په وړاندې خپل خوئ محمد شريف ته د خپلې زمكې نه څه محدوده حصه وركړه او علم خان محمد شريف ته ليكل هم وركړل چه دا حصه ستا ده، زهٔ به په دې كښې هيڅ دخل نهٔ كوم او په باقى حصه كښې تهٔ مداخلت مهٔ كوه . څو ورځې پس علم خان وفات شو او اوس محمد شريف په باقى حصه كښې هم مطالبه كوى ليكن نور ورونه ورته وائى چه دا حصه زمونږه ده په دې كښې بهٔ تاته هيڅ نهٔ دركول كيږى ، ستا حصه صرف هغه ده كومه چه تاته علم خان دركړې وه ، نو اوس د دې لاندې امورو جواب مطلوب دې :

(۱) آيا د محمد شريف د پاره په باقى جائيداد كښې څه حق شته او كنه ؟

(۲) علم خان چه كومه حصه محمد شريف ته وركړې وه نو آيا محمد شريف د هغې مالک دې ؟ او كه هغه به په ټولو وارثانو كښې تقسيم كيږى ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : (۱) دباقى جائيداد نه به محمد شريف ته پوره حصه وركول كيږى

(۲) علم خان چه محمد شريف ته په خپل ژوند كښې كومه حصه وركړې وه د هغې په باره كښې دا تفصيل دې

كه علم خان په خپل ژوند كښې دمرض الموت نه وړاندې محمد شريف د دې زمكې مالک كړې وى او محمد شريف د علم خان په ژوند په دې قبضه كړې وى نو په دې صورت كښې به د علم خان د وفات نه پس محمد شريف د دې حصې واحد مالک وى ، نور ورونه به په دې كښې شريک نوى

كه چيرې محمد شريف دعلم خان په ژوند كښې په دې حصه قبضه نوى كړې نو دا هبه صحيح نهٔ شوه . او كه علم خان دا هبه په مرض الموت كښې كړې وى نو دا د وصيت په حكم كښې ده او د وارث د پاره وصيت جائز ندې. لهذا په دې دواړو آخرى صورتونو كښې به محمد شريف يواځې مالک نوى بلكه ټول وارثان به ورسره شريک وى

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وشرائط صحتها في الموهوب ان يكون مقبوضا غير مشاع مميزا غير مشغول (ردالمحتار ص ج)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله مريض مديون الخ) (فروع) وهب في مرضه ولم يسلم حتى مات بطلت الهبة لانه وان كان وصية حتى اعتبر فيه الثلث فهو هبة حقيقة فيحتاج الى القبض (رد المحتار ص ج). قال العلامة الحصكفي في شرائط صحة الوصية: وكونه غير وارث وقت الموت۔

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وقت الموت) اى لا وقت الوصية حتى لو اوصى لاخيه وهو وارث ثم ولد له ابن صحت الوصية للاخ ولو اوصى لاخيه وله ابن ثم مات الابن قبل موت الموصي بطلت الوصية زيلعي (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۸ / ربيع الاول ، سنه : ۹۴ هـ

د لا وارثه د امانت حکم

سوال: زيد دري زره روپې د بکر سره امانت کېښودې ، زيد وفات شو ، د هغه شرعي وارث نشته ، نو اوس دا پيسې په جمات يا مدرسه کښې ولګولې شي که يو فقير ته ورکړې شي ، بهتر مصرف شرعا کوم يو دې ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې پيسو صحيح مصرف بيت المال دې ، په دې زمانه کښې چونکه د بيت المال انتظام نشته لهذا د دې مصرف مساکين دی ، په جمات يا مدرسه کښې لګول جائز ندی ، د مسکين په ملک کښې ورکول لا زمی دی . طلباؤ او مجاهدينو ته ورکول زيات باعث د اجر دی .

قال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى: ثم المقرله بنسب لم يثبت ثم الموصى له بما زاد على الثلث في بيت المال (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۸ / ذی القعده ، سنه : ۹۵ هـ .

اولاد محروم کول

سوال: د يو سړی دوه ځامن او يوه ښځه ده ، د هغه په ملک کښې څه جائيداد دې ، ځامنو خپل پلار په ناحقه د کور نه ويستي دې ، اوس د هغوئ والد دا غواړی چه خپل جائيداد په دې غرض سره خرڅ کړی چه ځامنو ته په ميراث کښې هيڅ پاتې نشی . آيا په شريعت کښې د والد د پاره داسې کار کول جائز دی ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: بې دينه اولاد ته د قوت نه زياته ورکړه خلاف اولی ده.لهذا د خپلو مصارفو د پاره يا په يو کارخير کښې د لګولو په نيت سره جائيداد خرڅول جائز بلکه مستحب دی

قالامام طاهربن عبدالرشيد البخاري رحمه الله تعالى :ولوكان ولده فاسقا فاراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه لان فيه اعانة على المعصية .ولو كان ولده فاسقا لايعطى له اكثر من قوته (خلاصة الفتوى ص--ج٢) ۱۴ / ذى الحجه ، سنه ۹۲ هـ.

په نكاح فاسده او باطله كښې ميراث

سوال زيد يوې كونډې ښځې سره چه هنده ده د عدت په ورځو كښې نكاح وكړه . د هغې نكاح نه يوه نجلۍ «مريم» هم پيدا شوه . آيا دا نكاح جائزه ده ؟ او آيا هندې او مريم ته به د زيد دمال نه ميراث وركول كيږي او كه نه ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د معتدالغير سره نكاح ، نكاح فاسده ده او په نكاح فاسده كښې ښځه وارثه نشي جوړيدې .

قالعلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ويستحق الارث برحم ونكاح صحيح فلاتوارث بفاسد ولا باطل اجماعا

(ردالمختار ص٧٨٦ ج٥)

البته په نكاح فاسده سره نسب ثابتيږي لهذا مريم به وارثه وي. په نكاح فاسده او باطله كښې د فرق تفصيل په د احسن الفتاى په رساله «القول بين النكاح الفاسدوالباطل» كښې دې. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۴ / ذى الحجه ، سنه ۹۲ هـ.

د نكانح نه وروسته په شپږو مياشتو كښې پيدا شوې اولاد به وارث نوى

سوال : عمرو يوې كونډې ښځې سره نكاح وكړه ،د نكاح نه يوه مياشت پس د هغې ښځې يوه لور پيدا شوه . د اول خاوند د وفات نې درې كاله تيرشوى دى . اوس به د دې نجلۍ نسبت چا ته كولې شى ؟ او ښځې او دغې نجلۍ ته به د عمرو نه ميراث وركول كيږي او كه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دغه نجلۍ به وارثه نوى ځكه چه د حمل اقله موده شپږ مياشتې ده . او اكثره موده ئې دوه كاله ده. لهذا دا نجلۍ به نهٔ د اول خاوند وى او نهٔ به د عمرو وى . البته دغې ښځې ته به ميراث وركول كيږي .

قال في الهندية : الحمل يرث ويوقف نصيبه باجماع الصحابة رضي الله تعالى عنهم فان ولد الى ستين حيا ورث وهذا اذا كان الحمل من الميت فاما اذا كان من غير الميت كما اذا مات وامه حامل من غير ابيه بزوج اخرى فان جاءت به لاكثر من ستة اشهر لايرث لاحتمال حدوثه بعد الموت فلايرث بالشك الا ان يقر الورثة بحملها يوم الموت فان جاءت به لاقل من ستة اشهر فانه يرث (عالگيرية ص--ج٦) والله سبحانه وتعالى اعلم -

۱۲ ذى الحجه ، سنه ۹۲ هـ

په عاق کولو سره به د میراث څخه نه محرومیږی

سوال یو سړی خپل یو ځوئ ته وائی چه ما تهٔ عاق کړې ئې . خصوصا دا رواج په کراچئ او د سرحد په کلیوالو علاقو کښې ډیر زیات دې ، بیا هغه ځوئ ته د وراثت نه هیڅ حصه نهٔ ورکوی . کله چه والد وفات شی نو عاق کړې شوې ځوې چه کله د نورو ورونو نه د میراث مطالبه وکړی . نو ورونه ورته وائی چه تهٔ خو والد صاحب عاق کړې وې څکه ستا مونږه سره هیڅ حصه نشته . نو آیا د دوئ دا خبره کول صحیح ده او آیا واقعةً به دا ځوئ د میراث نه محروم وی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : عاق په دوؤ معنو کښې مستعمل دې . یوه معنی شرعی ، دویمه معنی عرفی . شرعی معنی خو دا ده چه اولاد د والدینو نافرمانی وکړی نو د دې معنې په تحقق کښې د والد د عاق کولو یا د نهٔ کولو څه دخل نشته . څوک چه د والدینو نافرمان وی هغه عند الله عاق وی ، یعنی عاصی او د کبیره ګناه مرتکب به وی . او حرمان میراث په دې نهٔ مرتب کیږی .

معنی عرفی دا ده چې یو سړې خپل اولا د د نافرمانئ د وجې نه محروم الارث کړی، شرعاد دې هیڅ اعتبار نشته . په دې سره د اولاد د میراث حق نشی باطل کیدې . څکه چه وراثت ملک اضطراری اوحق شرعی دې، ددې ثبوت بغیر د مورث او وارث د قصد څخه وی - د الله تعالی ارشاد دې : ((یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین))لام د استحقاق د پاره دې . هرکله چه الله تعالی د وراثت حق مقرر کړو نو څوک دا باطل کولې نشی .

حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها حضرت بریره رضی الله تعالی عنها واخستله او د هغې د آزادولو اراده ئې اوفرمائیله نو د هغوئ مولی شرط ولګولو چه ولاء به زمونږ وی . په دې سره رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د دوئ شرط باطل دې او ولاء د معتق د پاره ده .

ولاء ضعیف حق دې . لکه چه په حدیث ((الولاء لحمة کلحمة النسب)) کښې د کاف تشبیهی نه ظاهریږی . هر کله چه یو ضعیف حق په نفی کولو سره نهٔ منتفی کیږی نو د نسب حق خو اقوی دې نو دا څنګه نفی قبلولې شی ؟

همدارنګه فقهاؤ ﷺ چه کوم موانع د ارث بیان کړی دی . په هغې کښې د عاق ذکر نشته البته که په اولاد کښې واقعةً څوک بې دینه او د والدینو نافرمان وی او والدین هغهٔ لره د میراث نه محروم کول غواړی نو د هغې دا طریقه ده چه په خپل ژوند کښې د مرض الموت نه وړاندې دې خپل جائیداد چاته هبه کړی یا دې په مصرف خیر کښې وقف کړی او د خپل ملک نه دې خارج کړی

عن عائشة رضی الله تعالی عنها انها ارادت ان تشتری بریرة للعتق وانهم اشترطوا ولاءها فذکرت ذالك لرسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ اشتریها واعتقیها فان الولاء لمن اعتق (النسائی)

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی : وموانعه الرق والقتل واختلاف فی الدارین حقیقة اوحکما

(ردالمحتار ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۔ ۲۳ / محرم ، سنه ۹۸ هـ

د مامور د وفات نه وروسته دحکومت لخوا ورکړې شوې پیسې

سوال زید حکومتی فوجی یا غیر فوجی مامور دې ، په جنګ کښې یا بغیر د جنګ نه د ماموریت دوران کښې وفات شو نو د زید جمع شوې پیسې یا فوری امداد یا د کفن دفن د پاره د والد ، والدې یا ښځې یا دخوی په نوم حکومت څه پیسې رالیږی ، د هغې نه پس د زید د ښځې ، ، والد او د خوی په نوم حکومت امدادی پیسې یا فنشن مقرر کوی ، اوس پوښتنه دا ده چه ټولې جمع شوې پیسې ، فوری امدادی فنډ ، چه د چا په نوم راځی نو په دې کښې به ټول وارثان د میراث په حیثیت سره شریک وی اوکه د چا په نوم چه راځی خاص د هغه به وی ؟ اویا که جمع شوې پیسې او فوری امداد کښې ټول وارثان شریک دی او د امدادی فنډ او فنشن ځانته حکم دې ؟ چه د چا په نوم د حکومت لخوانه راځی هغهٔ ته به ورکول کیږی او باقی وارثان به محروم وی ؟ په دلائلو سره زمونږ تسلی وکړئ، بینوا توجروا ۔

الجواباسم ملهم الصواب : په سوال کښې درې قسمه پیسې لیکلې شوې دې ، د درې وارو حکم جدا جدا دې چه تفصیل ئې په لاندې ډول دې :

(۱) د زید په ژوند کښې د هغهٔ جمع شوې پیسې یا د مرګ نه پس اخستلې شوې تنخواه ، دا پیسې د زید ملک دې له همدې کبله پدې کښې د زید ټول وارثان د خپلو حصو په برابر شریک دې

(۲) دکفن دفن په نوم پیسې: داپیسې د حکومت ملک دې،د کفن دفن کولو نه پس چه څه پاتې شی د دې اصل حکم دا دې چه دا دې حکومت ته واپس کړې شی مګر عرفا د داسې پیسو د واپس اخستو دستور نشته . بلکه چه کوم شخص د کفن دفن متولی وی هغهٔ ته ورکول کیږی ، که چیرې ټول وارثان په کفن دفن کښې شریک وو نو چاته چه حکومت ورکړې دې هغهٔ ته به ورکول کیږی

(۳) د وفات نه پس فنشن - دا پیسې د زید ملک ندې بلکه د حکومت د طرفه د زید په وارثانو یوه تبرع ده . لهذا په دې کښې حکومت مختار دې چه چاته یې غواړی ورډ ې کړی، والله سبحانه وتعالی اعلم ۔ ۱۹ / ربیع الاول ، سنه ۹۸ هـ

د مفقود میراث

سوال یوه ښځه وفات شوه د دې په وارثانو کښې صرف یو ترهٔ (محمد اسماعیل) پاتې شوې دې چه هغه د ډیرشو کالونه وروک دې هیڅ معلومات یې نشته چه هغه مر دې او که ژوندې دې د مرحومې نه اولاد شته او نهٔ یې والدین وغیره . البته یو سړې دې چه د هغهٔ نوم (سائین محمد) دې چه د مرحومې د ښکهٔ د ورور نمسې ګڼلې شی . هغه ژوندې دې. آیا د دې د میراث حقدار به د

هغې ورک شوي ترۀ وی اوکه د هغې د نیکۀ د ورور نمسي ؟

اود سراجي په شرح شریفیه کښې د دې عبارت څۀ مطلب دې ؟ - **المفقود حی فی ماله حتی لایرث منه احدو میت فی مال غیرہ حتی لایرث من احدلثبوت حیاته باستصحاب الحال وهو معتبر فی ابقاء ماکان علی ماکان دون اثبات مالم یکن الخ(ص۱۱۰)بینوا توجروا.**

الجواب باسم ملهم الصواب : هرکله چه د مفقود عمر لس کم سلو کالو (۹۹) ته ورسیږی نو په خپل مال کښې به مړ ګڼلې شي او د هغۀ مال به په موجوده وارثانو باندې تقسیم کیږی ، د لس کم سلو کالو عمر پورې په خپل مال کښې ژوندې دې لهذا په دې زمانه کښې د هغۀ په مال کښې څوک دخیل نشی کیدې او د غیر په مال کښې چه د کله نه مفقود شو نو هم د هغې وخت نه به مړ ګڼلې شی یعنی که یو سړې د هغۀ د مفقود کیدو نه پس مړ شو نو دا مفقود به د هغۀ وارث نوی اګر که د مفقود عمر لس کم سل کاله نه وی شوې مګر چونکه د غیر په مال کښې به هم د مرۀ حکم د لس کم سلو کالو نه پس ظاهریږی ، د دې نه وړاندې د واپس راتلو او وارث جوړیدو احتمال شته دې له همدې کبله د میت د مال نه د مفقود حصه امانت اینبودل پکار دی ، که واپس راغې نو خپله حصه به ورته ورکړل شی اوکه نه نو د لس کم سلو کالو د تیریدو نه پس چه د کوم مړی د مال نه دا حصه امانت اینبودې شوې وی نو واپس به دهغۀ په وارثانو تقسیم کړې شی کوم چه د میت د وفات په وخت ژوندی وو. د وموجوده وارثانو اعتبار به نوی او نۀ د مفقود د وارثانو په دې کښې څه حق شته .

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی :هو(ای المفقود) غائب لم یدر احی هو فیتوقع ام میت اودع اللحد البلقع وهو فی حق نفسه حی فلا ینکح عرسه غیرہ ولا یقسم ماله (الی قوله) ومیت فی حق غیرہ فلا یرث من غیرہ ولا یستحق مال اوصی له اذا مات الموصی بل یوقف قسطه الی موت اقرانه فی بلده علی المذهب فان ظهر قبله حیا فله ذلک وبعده یحکم بموته فی حق ماله یوم علم ذلک فتعتد عرسه للموت ویقسم ماله بین من یرثه الان ولی مال غیرہ من حین فقد فیرد الموقوف له الی من یرث مورثه عند موته.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله وهو فی حق نفسه حی) مقابله قوله الاتی ومیت فی حق غیرہ وحاصله انه یعتبر حیا فی حق الاحکام التی تضرہ وهی المتوقفة علی ثبوت موته ویعتبر میتا فیما ینفعه ویضر غیرہ وهو ما یتوقف علی حیاته لان الاصل انه حی وانه الی الان کذلک استصحابا بالحال السابق ولاستصحاب حجة ضعیفة تصلح للدفع لا للاثبات ای تصلح لدفع ما لیس بثابت لا لاثباته (ردالمحتار ص۳۳۰ ج۳)

وقال ایضا : (قوله علی المذهب) وقیل یقدر بتسعین سنة بتقدیم التاء من حین ولادته واختارہ فی الکنز

وهوالارفق هداية وعليه الفتوى (ردالمحتار ص۳۰ ج۲)

د حصو د تخريج طريقه په رساله «تسهيل الميراث» كښې ده «دا رساله د احسن الفتوې د همدې جلد په آخر كښې ده» (مرتب) . والله سبحانه وتعالى اعلم . ۱۲/صفر. سنه ۹۹هـ

په ميراث كښې د حرام مال د ګډيدلو حكم

سوال زيد په حرام كسب سره يوڅه حرام مال حاصل كړې وو . آيا د هغه د مرګ نه پس د هغهٔ د وارثانو د پاره دا مال حلال دې او كه حرام ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : څنګه چه دا مال د زيد د پاره حرام وو، دغه شان د هغهٔ د وارثانو د پاره هم حرام دې . كه چيرې د دې مال مالک معلوم وى نو هغهٔ ته واپس كول واجب دى . اوكه نه نو په فقراؤ باندې يې صدقه كول واجب دى .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه وان كان مالا مختلطا مجتمعا من الحرام ولا يعلم اربابه ولا شيئا منه بعينه حل له حكما، والاحسن ديانة التنزه عن (وبعد اسطر) لكن في المجتبى مات وكسبه حرام فالميراث حلال، ثم رمز وقال لا ناخذ بهذه الرواية وهو حرام مطلقا على الورثة فتنبه اه ح

ومفاده الحرمة وان لم يعلم اربابه وينبغي تقييده بما اذا كان عين الحرام ليوافق ما نقلناه اذ لو اختلط بحيث لا يتميز يملكه ملكا خبيثا لكن لا يحل له التصرف فيه ما لم يؤد بدله كما حققناه قبيل باب زكوة المال فتأمل -ردالمحتار ص۳۰ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم- ۱۰ / ربيع الاول ، سنه : ۹۹ هـ

په ژوند كښې د ميراث تقسيم

سوال زيد په خپل ژوند كښې ټول مال اوجائيداد په خپل اولاد كښې د شرعى حصو مطابق تقسيم كړو نو د زيد د ښځې د پاره به څه حكم وى . دا به په كوم مكان (كور) كښې اوسيږى كله چه ئې كور د اولاد په حصه كښې ورسيږى ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب كه چيرې ښځې ته ئې هيڅ هم ورنكړل نو ګنهګار به وى . همدارنګه په ژوند كښې د ميراث تقسيم نهٔ كيږى بلكه دا هبه ده او اولاد ته په كم او زياته هبه كولو كښې دا لاندې تفصيل دې

(۱) كه چيرې د نورو اضرار مقصود وى نو داه هبه مكروه تحريمى ده

(۲) كه چيرې اضرار هم مقصود نهٔ وو او د ترجيح څه وجه هم نهٔ وه نو مكروه تنزيهى ده . په ذكورو او اناثو كښې مساوات مستحب دې

وهو الارفق هداية وعليه الفتوى (ردالمحتار ص۳۰ ج۶)

د حصو د تخريج طريقه په رساله «تسهيل الميراث» كښې ده «دا رساله د احسن الفتوى د همدې جلد په آخر كښې ده» (مرتب) . والله سبحانه وتعالى اعلم . ۱۳ / صفر . سنه ۹۹ھ

په ميراث كښې د حرام مال د گډيدلو حكم

سوال زيد په حرام كسب سره يوڅه حرام مال حاصل كړې وو . آيا د هغه د مرگ نه پس د هغهٔ د وارثانو د پاره دا مال حلال دې او كه حرام ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : څنګه چه دا مال د زيد د پاره حرام وو . دغه شان د هغهٔ د وارثانو د پاره هم حرام دې . كه چيرې د دې مال مالك معلوم وى نو هغهٔ ته واپس كول واجب دى . او كه نه نو په فقراؤ باندې يې صدقه كول واجب دى .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه وان كان مالا مختلطا مجتمعا من الحرام ولا يعلم اربابه ولا شيئا منه بعينه حل له حكماء . والاحسن ديانة التنزه عن (وبعد اسطر) لكن في المجتبى مات وكسبه حرام فالميراث حلال . ثم رمز وقال لا ناخذ بهذه الرواية وهو حرام مطلقا على الورثة فتنبه اه ح۔

ومفاده الحرمة وان لم يعلم اربابه وينبغي تقييده بما اذا كان عين الحرام ليوافق مانقلناه اذ لو اختلط بحيث لا يتميز يملكه ملكا خبيثا لكن لا يحل له التصرف فيه مالم يؤدبدله كما حققناه قبيل باب زكوة المال فتامل ۔ ردالمحتار ص۳۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم ۔ ۱۰ / ربيع الاول ، سنه : ۹۹ ھ

په ژوند كښې د ميراث تقسيم

سوال زيد په خپل ژوند كښې ټول مال اوجائيداد په خپل اولاد كښې د شرعى حصو مطابق تقسيم كړو نو د زيد د ښځې د پاره به څه حكم وى . دا به په كوم مكان (كور) كښې اوسيږى كله چه نې كور د اولاد په حصه كښې ورسيږى ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب كه چيرې ښځې ته نې هيڅ هم ورنكړل نو گنهګار به وى . همدارنګه په ژوند كښې د ميراث تقسيم نه كيږى بلكه دا هبه ده او اولاد ته په كم او زياته هبه كولو كښې دا لاندې تفصيل دې

(۱) كه چيرې د نورو اضرار مقصود وى نو داهبه مكروه تحريمى ده .

(۲) كه چيرې اضرار هم مقصود نه وو او د ترجيح څه وجه هم نه وه نو مكروه تنزيهى ده . په ذكورو او اناثو كښې مساوات مستحب دې

(۳) د دینداری ، خدمت گزاری ،د دینی خدمتونو شغل یا د احتیاج وغیره وجوهو په بناء تفاضل مستحب دې

(۴) بې دینه اولاد ته د قدرت نه زیات ندی ورکول پکار ، هغوئ محروم کول او زیات مال په دینی امورو کښې صرف کول مستحب دی

که چیرې متعدد مکانات او کورونه یې وارثانو ته په مشترکه طور هبه کړې وی او دا مکانات اوکورونه قابل تقسیم وی یا ئې د دې قبضه اولاد ته نهٔ وی ورکړې نو دا هبه صحیح نشوه . او که مکان قابل تقسیم نهٔ وی او قبضه ئې هم ورکړې وی یعنی دهغوئ تصرف او اختیار ته ئې سپارلی وی نو هبه صحیح ده ، که چیرې هغوئ په خپله رضا سره د هغهٔ ښخه په دغې مکان کښې پرېږدی نو څه حرج نشته

قال الامام طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله :وفي الفتاوى رجل له ابن وبنت اراد ان يهب لهما شيئا فالافضل ان يجعل للذكر مثل حظ الانثيين عند محمد رحمه الله تعالى وعند ابي يوسف رحمه الله تعالى بينهما سواء هو المختار لورود الآثار ،ولو وهب جميع ماله لابنه جاز في القضاء وهو آثم ثم نص عن محمد رحمه الله تعالى هكذا في العيون، ولو اعطى بعض ولده شيئا دون البعض لزيادة رشده لا بأس به وان كانا سواء لا ينبغي ان يفضل، ولو كان ولده فاسقا فاراد ان يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه لان فيه اعانة على المعصية ،ولو كان ولده فاسقا لا يعطى له اكثر من قوته خلاصة الفتاوى ص-- ج-) والله سبحانه وتعالى اعلم -

۲۶ / جمادی الاولی ، سنه : ۹۹ هـ

د بعضې وارثانو په مړی باندې د دین اقرار

سوال یو سړې وفات شو ، د هغهٔ والدین وائی چه په دهٔ باندې قرض دې ، لهذا اول دې هغه قرض ادا کړې شی بیا دې میراث تقسیم کړې شی حالانکه واقعه د دې خلاف ده ، په داسې حالا تو کښې څه صورت اختیارکول پکار دی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په کوم قرض باندې چه دوه معتبر گواهان وی هغه به په هر صورت ادا کولې شی او په کوم چه گواه نوی نو هغه به صرف د هغه وارثانو د حصې نه ورکولې شی کوم چه د هغې اقرار کوی . اوکوم چه اقرار نکوی د هغوئ په حصه به د دې هیڅ اثر نهٔ کیږی ، په قرض کښې به د کوندې مهر هم شمارل کولې شی والله سبحانه وتعالی اعلم

۸ جمادی الثانیه سنه ۹۹ هـ

د مسلمان او ذکری په مینځ کښې به میراث نه جاری کیږ ی

سوال یو سړې دې چه عثمان نوم ئې دې د هغهٔ تعلق د ذکری مذهب سره دې . د دهٔ بل سو ورو ر

محمد موسی هغه هم مخکښې ذکری وو ، اوس هغهٔ د ذکری مذهب نه توبه کړې ده ، د هغهٔ ورور عثمان وفات شو د هغوئ نور تول وارثان ذکری مذهب والا دی ، صرف یو ورور ئې مسلمان دې . آیا محمد موسی ته د خپل ورور نه میراث ورکول کیدې شی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : ذکری غیر مسلم او زیندیقان دی او مسلمان او کافر د یو بل وارثان نشی جوړیدې ،لهذا محمد موسی ته به میراث نه ورکول کیږی .

قال الحصکفی رحمه الله تعالی: وموانعه الرق والقتل واختلاف الدين اسلاما وكفرا (ردالمحتار ص ج)

والله سبحانه وتعالی اعلم۔　　　　۲۹ / رجب ، سنه : ۹۹ هـ .

د ترکې د تقسیم نه وړاندې صدقه او خیرات کول

سوال : څما یو دوست وفات شوې دې ، هغهٔ یوه کونده ښځه او څه سامان پریښې دې ، معمولی کپړې اوجامې د هغهٔ ښځې خیرات کړی دی ، اویوڅه د استعمال قیمتی کپړې پاتې دی . د هغهٔ ښځه دا پوښتنه کول غواړی چه هغه کپړې هم خیرات کړو او کنه د هغهٔ نور خپلوان دې هغه کپړې اوجامې استعمالوی ؟ بینوا توجروا –

الجواب باسم ملهم الصواب : د ترکې د تقسیم نه وړاندې د مړی د یو څیز خیرات کول هم جائز ندی ، د ترکې په هر څیز کښې د هر وارث حق دې ، د تقسیم نه پس چه کوم وارث څومره غواړی نو خیرات دې کړی ، البته که دهغهٔ په وارثانو کښې د دغې کونډې نه علاوه څوک قریب یا بعید وارث نوی نو کونډې ته د هرقسم تصرف حق حاصل دې، والله سبحانه وتعالی اعلم .

۱۹ / شوال ، سنه : ۹۹هـ

په کلاله باندې د یو اشکال جواب

سوال : د ولد الام (اخیافی ورو ، خور) د استحقاق شرط دا دې چه مړې دې کلاله وی ، کله چه مور یا لور موجود وی نو مړې کلاله ندې ، اوس پوښتنه داده چه د لور سره ولدالام (اخیافی ورور ، خور) محروم دې او له مور سره ولدالام وارث دې ، دا معامله ولې او څنګه وشوه ؟ د دې نه معلومه شوه چه د مور په موجودګئ کښې مړې کلاله ندې (بیان القرآن ، تنویرالایمان سندهی ، تفسیرات احمدیه ، روح البیان وغیره) بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د کلاله ماثور او مشهور تفسیر دا دې : من لا ولد له ولا والد وهو ماثور عن ابي بكر و عمر و ابن عباس وعلي وابن مسعود وزيد بن ثابت رضي الله تعالى عنهم وبه يقول الشعبي والنخعي والحسن وقتادة وجابر بن زيد والحكم وبه يقول اهل المدينة واهل الكوفة والبصرة وهو قول الفقهاء

السبعة والائمة الاربعة وجمهور السلف والخلف بل جميعهم وقد حكى الاجماع عليه غير واحد وورد فيه حديث مرفوع (تفسير ابن كثير ص ج)

په دې تفسير کښې د والد د لفظ مفهوم متبادر صرف پلار دې ، مور پکښې شامله نده

(۱) په دې آيت کښې دمور دنشتوالی د صورت حکم ذکر دې او مفهوم مخالف حجت ندې له همدې کبله د مور دموجود والی د صورت نه آيت ساکت دې چه د هغې حکم له اجماع نه ثابت دې

(۲) چه د چا په نيزد مفهوم مخالف حجت دې نو هغوئ هم دلته د مفهوم مخالف له اجماع څخه دمخالفت کيدو له وجې قائل نۀ دی.

قال العلامة الالوسی رحمه الله تعالى: ولا يضر عدم من لم يقل بالمفهوم جريانه فى صورة الام اوالجدة مع ان ارثهما ليس بطريق الكلالة وكذا لا يضر عند القائل به ايضا للاجماع على ذلك (روح المعانى ص ج)

دغه شان د سورت نساء په آخر کښې د اخوات عينيه او عليه په ميراث کښې په قيد دعدم الولد باندې اشکال کيږی چه ولد بنت لره هم شامل دې حالانکه په بنت سره اخوات نۀ محرومیږی بلکه عصبه گرځی ، د دې جوابونه دا دی چه:

(۱) دا قيد د اعطاء د نصف او ثلثين د پاره دې د بنت د وجود په صورت کښې د نصف او ثلثان حکم ندې بلکه اخوات عصبه مع الغير وی.

(۲) دلته د ولد نه ابن مراد دې ، بقرينة مابعده وهو قوله تعالى: وهو يرثها ان لم يكن لها ولد - فان البنت لا تحجب الاخ، په دې تقييد باندې حديث (اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة) هم شاهد دې ، دا حديث مشهور دې څکه په دې سره تقييد دقرآن صحيح دې، دا تقييد د مفهوم کلاله خلاف نۀ دې بلکه موافق دې څکه چه د کلاله په تفسير مذکور کښې د اصولو طرف ته د ذکورو مراد کيدلو تبادر قرينه ده چه د فروعو طرف ته هم ولد ذکر مراد دې، والله سبحانه وتعالى اعلم

غرة رجب / سنه ۱۴۰۱ ھ

وصی یا وارث د کفن دفن مصارف د ترکې نه اخستې شی

سوال بکر وفات شو ، هغۀ يوه ښځه ، دوه خامن او يوه لور ورثان پريښودل . دبکر د کفن دفن انتظام د هغۀ لور د خپل طرف نه وکړو ، په دې نيت چه د ترکې نه به ئې واخلی ، اوس پوښتنه د دې خبرې ده چه دا لور ئې د کفن دفن مصارف د ترکې نه اخستې شی او که نه ؟ د خرچ کولو په وخت څوک گواه مقرر کول ضروری دی او کنه ؟ او دغه شان که وصی په کفن دفن باندې خرچ وکړی نو څه حکم بی دې ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که وصی یا وارث کفن دفن د خپل مال نه وکړی نو د ترکې نه ئې

اخستلي شي . برابره خبره ده که د رجوع په نیت خوک گواه وگرځوي او که نه . لور چونکه وارثه ده نو له همدې کبله هغه د ترکې نه د کفن دفن مصارف اخستې شي ، د رجوع علی الترکه د پاره په نیت د رجوع شاهدان ضروري ندي ، مګر د رجوع حق صرف په دومره مقدار کښې دې چه د سنت مطابق وي او د دې نه به زیات قیمتي نۀ وي ځومره چه د میت په ژوند کښې د اختر وغیره په موقعه باندې د لباس اغوستو معمول وو که چیرې په کفن کښې د سنت د مقدار نه زیات یا د میت په مواقعو مخصوصه باندې د معمول د لباس نه زیاته قیمتي کپړه خرچ کړې شوه نو په زیات کښې به په ترکه رجوع نشي کولې .

قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی: او قضی (ای الوصی) دین المیت الثابت شرع او کفنه او ادی خراج الیتیم او عشره منه مال نفسه او اشتری الوارث الکبیر طعاما او کسوة للصغیر او کفن الوارث المیت او قضی دینه من مال نفسه فانه یرجع ولا یکون متطوعا.

وقال العلامة الطحاوی رحمه الله تعالی: قوله او کفنه اطلقه (ای لم یقیده بالاشهاد) هنا وفیما یلی وجعل الوارث والوصی سواء فی الرجوع بما انفقه فی الکفن ولا بد من کون ذلك من غیر اسراف بحسب ما ذکره الائمة من کفن السنة ومراعاة حال الرجل بما یلبسه فی الاعیاد ومجامع الناس وتلبسه المراة للزیارة انتهی شرنبلالیة (حاشیة الطحاوی علی الدر ص۳۳۳ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ / محرم ، ۱۴۱۹ هـ

د زوجې د تجهیز او تکفین مصارف په زوج دي

سوال : دیوسړي ښځه وفات شوه ، د تجهیز او تکفین مصارف هغۀ د خپل جیب نه وکړل . اوس پوښتنه داده چه زوج د ترکې نه د تجهیز او تکفین مصارف اخستلي شي او که نۀ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . د اصح قول مطابق اګر که ښځه غنیه وي د هغې نفقه په زوج واجبه ده او دا قاعده ده چه نفقه د چا په ذمه وي ، تجهیز او تکفین هم د هغۀ په ذمه وي ، نو له همدې کبله که زوج د خپل مال نه د تجهیز او تکفین مصارف وکړي نو هغۀ ته د ترکې نه د اخستلو حق نشته

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله او کفن الوارث للمیت : (تنبیه) لو مات ولا شئ له ووجب کفنه علی ورثته فکفنه الحاضر من مال نفسه لیرجع علی الغائب منهم بحصته لیس له الرجوع لو انفق بلا اذن القاضی حاوی الزاهد قال الرملی فی حاشیة الفصولین یستفاد منه انه لولم یجب علیهم کتکفین الزوج الخاصرله من مال غیر الزوج بلا اذنه او اذن القاضی فهو متبرع فالاجنبی فیستدعی تکفینها بلا اذن مطلقا بناء علی المفتی به من انه علی زوجها ولو غنیة (ردالمحتار ص۳۳۳ ج۵)

وقال ایضا فی کتاب الفرائض: (قوله یبدا من ترکة المیت (الی قوله) تجهیزة) وکذا تجهیز من تلزمه نفقته کولد مات قبله ولو بلحظة وکزوجته ولو غنیة علی المعتمد در منتقی (ردالمحتار ص۰۰ ج۰) قلت المراد للولد الفقیر الذی تحل له الصدقة کما صرح الفقهاء رحمهم الله ان نفقة الصغیر الغنی فی ماله.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله وتجب لطفله الفقیر: (قول الفقیر) ای ان لم یبلغ حد الکسب فان بلغه کان للاب ان یوجره او یدفعه فی حرفة لیکتسب وینفق علیه من کسبه لو کان ذکرا بخلاف الانثی کما قدمه فی الحضانة عن المؤیدیة قال الخیر الرملی لو استغنت الانثی بنحو خیاطة وغزل یجب ان تکون نفقتها فی کسبها کما هو ظاهر (ردالمحتار ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۱۳ / محرم، سنه: ۱۴۱۹ هـ

که یو نا آشنا انسان د چا د کفن دفن انتظام وکړو نو د ترکې نه ئې نشی اخستې

سوال یو سړې په سفر کښې وفات شو، د وارثانو نه یې هیڅوک هم موجود نهٔ وو. یو نا آشنا سړی د هغهٔ د کفن دفن انتظام د خپل مال نه کړې دې، وروسته ورته د وارثانو معلومات وشو. نو اوس پوښتنه داده چه آیا دا نا آشنا سړې د کفن دفن مصارف د مړی د ترکې نه اخستې شی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: نا آشنا سړی چه کوم د کفن دفن انتظام کړې دې هغه به د هغهٔ د طرفه تبرع ګڼلې شی. هغهٔ لره د ترکې نه د اخستلو حق نشته. البته که چیرې د مړی مال موجود وو او څوک وارث یا وصی یې موجود نهٔ وو نو یو نا آشنا انسان د هغې نه د کفن دفن انتظام کولې شی

قال العلامة ابن البزاز الکردری رحمه الله تعالی: الوصی او الوارث اذا اشتری للمیت کفنا لهما الرجوع فی مال المیت والاجنبی اذا اشتری لم یرجع (البزازیة بهامش الهندیة ص۰۰ ج۰)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله وتجهیزه: قال فی التبیین لان فی التاخیر فساد المیت ولهذا یملکه الجیران ایضا فی الحضر والرفقة فی السفر اه (ردالمحتار ص۰۰ ج۰)

وقال العلامة الشلبی رحمه الله تعالی: (قوله فقال فی غیر التجهیز وشراء الکفن) قال الاتقانی وفعل شراء الکفن لانه ضروری لا یبتنی علی الولایة الا تری ان الامر تملکه ولهذا لو مات رجل فی محلة قوم ومعه مال فکفنوه ودفنوه من ماله جاز وان لم یکن لهم ولایة اه (حاشیة الشلبی بهامش التبیین ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۱۳ / محرم، سنه ۱۴۱۹ هـ

که وصی یا وارث د خپل مال نه قرض ادا کړو نو د ترکې نه ئې اخستلې شی

سوال یو سړې قرضدار وو او وفات شو . د هغهٔ قرض یو وصی یا یو وارث ادا کړو نو آیا هغهٔ ته د ترکې نه د اخستلو حق شته او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب .

.... ؟

پلار لره د ماشوم خوئ منقوله څیزونه اخستل یا خرڅول

سوال یو ماشوم ته د والدې په میراث کښې څه میز، چوکې، او بیسترې وغیره ورسیدلې . نو آیا پلار لره د دې څیزونو اخستل او خرڅول جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د ماشوم د اشیاء منقوله اخستل او خرڅول په قیمت مثل او غبن یسیر سره جائز دی . په دې شرط چه د والد صلاحیت عام معروف وی یا مستورالحال وی . که چیرې د والد فساد ظاهر وی نو په دوچند قیمت سره جائز دې . د دې نه کم جائز ندې .

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : وبیع الاب مال صغیر من نفسه جائز بمثل القیمة وبما یتغابن فیه وهو الیسیر والا لا وهذا کله فی المنقول.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (وقوله وبیع الاب الخ) مثله اذا باعه من اجنبی فثلاث صور فی حکم واحد وهی بیع الاب من نفسه او من اجنبی وبیع الوصی من اجنبی ط قلت وهذا لو الاب عدلا او مستورا فلو فاسقا ففی بیعه المنقول روایتان کما سیاتی - والشراء کالبیع وقال فی جامع الفصولین للاب شراء مال طفله لنفسه بیسیر الغبن لا بفاحشة اه (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : ولوا البائع اباً فان محمودا عند الناس او مستور الحال یجوز ابن کمال -

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله یجوز : ویجوز بیع منقوله فی روایة فیوضع ثمنه فی ید عدل وفی روایة لا . الا بضعف قیمته وبه یفتی (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی .

۱۵ / محرم ، سنه : ۱۴۱۹ هـ

د وصی لپاره د یتیمانو د منقوله څیزونو اخستل یا خرڅول

سوال زید د یو څو یتیمانو وصی دې . یتیمانو ته په وراثت کښې څه داسې څیزونه هم ملاؤ شوی دی چه د یتیمانو تر بلوغ پورې د هغې د ضائع کیدو او د ماتیدو ویره ده لکه چینی ې د ماړیلو وغیره لوښی . د زید د پاره د دې لوښو اخستل یا د بل چا په لاس خرڅول او قیمت د

يتيمانو په مصارفو کښې خرچ کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که چيرې زيد د قاضي لخوا وصي مقرر کړې شوې وي نو هغه د يتيمانو مال په خپله نشي اخيستې. په بل چه باندې ئې په منفعت ظاهره سره خرڅولې شي. که چيرې زيد د صغير د والد يا نيکهٔ د طرفه وصي وي نو د يتيم اشياء منقوله د منفعت ظاهره سره پخپله هم اخستې شي. د وصي لپار د يتيم د څه څيز د خرڅولو په حقله هم همدا حکم دې چه د منفعت ظاهره په شرط سره ئې خرڅولې شي

د يو نا آشنا سړي په لاس ئې په دې لاندې شرائطو سره خرڅولې شي

(۱) چه د هغهٔ شهادت د وصي په حق کښې قبلولې شي. يعنی دهٔ سره د وصي د اصل يا د فرعې يا د زوجيت تعلق نهٔ وی

(۲) د ميت وارث نهٔ وی

(۳) غبن فاحش نهٔ وی

قال الامام الزيلعي رحمه الله تعالى: وهذا اذا تبايع الوصي للصغير مع الاجنبي واما اذا اشترى شيئا من مال اليتيم لنفسه او باع شيئا منه من نفسه جاز عند ابي حنيفة+واحد الروايتين عن ابي يوسف رحمهما الله تعالى اذا كان لليتيم فيه منفعة ظاهرة وتفسيره ان يبيع ما يساوي خمسة عشر قيمة من الصغير او يشتري ما يساوي خمسة عشر قيمة للصغير من نفسه واما اذا لم يكن فيه منفعة ظاهرة لليتيم فلا يجوز. وعلى قول محمد رحمه الله تعالى واظهر الروايات عن ابي يوسف رحمه الله تعالى انه لا يجوز على كل حال. هذا في وصي الاب واما وصي القاضي فلا يجوز بيعه من نفسه بكل حال لانه وكيله (تبيين الحقائق ص~ ج~)

وقال العلامة الحصكفي: وصح بيعه وشراؤه من اجنبي بما يتغابن الناس لا بما لا يتغابن وهو الفاحش لان ولايته نظرية فلو باع به كان فاسدا حتى يملكه المشتري بالقبض قهستاني وهذا اذا تبايع الوصي للصغير مع الاجنبي وان باع الوصي او اشترى مال اليتيم من نفسه فان كان وصي القاضي لا يجوز ذلك مطلقا لانه وكيله وان كان وصي الاب جاز بشرط منفعة ظاهرة للصغير وهي قدر النصف زيادة او نقصا وقالا لا يجوز مطلقا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وصح بيعه وشراءه) اطلقهما فشمل النقد والنسيئة الى اجل متعارف لكن من ملئ فلو مفلس فسيأتي في الفروع آخر الوصايا قال في الخانية واذا باع شيئا من تركة الميت نسيئة فان كان يتضرر به اليتيم بان كان الاجل فاحشا لا يجوز اه رملي (قوله من اجنبي) اي عن الميت وعن الوصي فلو باع من نفسه سيأتي او باع ممن لا تقبل شهادته له او من وارث الميت فلا يجوز.

وقال ايضا : (قوله وان باع الوصي) اى ماله من اليتيم (قوله من نفسه) متعلق باشترى والضمير للوصي (قوله لانه وكيله) اى القاضي وفعل الوكيل كفعل الموكل وفعل الموكل قضاء وهو لا يقضي لنفسه ط (قوله وهى قدر النصف زيادة اونقصا) الزيادة راجعة الى الشراء والنقص الى البيع قال الزيلعي رحمه الله تعالى تفسير المنفعة الظاهرة ان يبيع ما يساوى خمسة عشرة بعشرة من الصغير او يشترى مايساوى عشرة بخمسة عشرة لنفسه من مال اليتيم اه قال فى ادب الاوصياء وفى المنتقى و به يفتى وفى الخانية وبهذا فسر الخيرية الامام السرخسي فى غير العقار وهى فى العقار عند البعض ان يشترى بضعف القيمة ويبيع بنصفها. وفى الخالطية ويجوز بيع الوصي من نفسه وشراءه ان كان فيهما نفع ظاهر كبيع ما يساوى تسعة بعشرة وشراء عشرة بتسعة. قلت واما فى العقار فلاشك ان الخيرية فى الشراء التضعيف وفى البيع التنصيف لانه لايقدر على بيعها من غيره الا بالضعف كما مر فكيف يسوغ له الشراء لنفسه باقل واري زيادة الاثنين فى العشرة ونقصه منها فيما عدا العقار كاف فى الخيرية لانه الغبن الفاحش الذى لا يحتمله الناس اه (ردالمحتار ص ۳۰۳ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم۔

۱۶ / محرم ، سنه : ۱۴۱۹ هـ

وصي يا والد لره د صغير زمكه اخستل يا خرخول

سوال خالد د وفات نه لره موده وړاندې قاسم د خپل جائيداد او د بچو د خيال ساتلو د پاره وصي مقرر كړو . د خالد په جائيداد كښې څۀ زمكه هم ده . د خالد په ځامنو كښې بعضې بالغ دى او بعضې نابالغه دى. نو اوس پوښتنه داده چه آيا د قاسم د پاره د دې زمكې څۀ حصه پخپله اخستل يا په بل چا خرخول او حاصلې شوې پيسې د هغۀ د نابالغه بچو په مصارفو كښې خرچ كول جائز دى او كه نۀ ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د والد د پاره د صغير د زمكې اخستل او خرخول جائز دى خو په دې شرط چه د والد صلاحيت عام معروف وى يا مستورالحال وى . كه چيرې په والد كښې فساد ظاهر وى نو په دوچند قيمت سره اخستل او خرخول جائز دى . د دې نه په كم جائز نۀ دى

د وصي الاب والجد د پاره په دې لاندې صورتونو كښې اخستل او خرخول جائز دى

(۱) چه د دوچند قيمت نه په كم نۀ وى.

(۲) د صغير د نفقې څه بل انتظام نۀ وى -

(۳) د ميت د دين د ادا كولو د پاره

(۴) چه د زمكې پيداوار د صغير د نفقې نه كم وى

(۵) د سيلاب وغيره د وجې نه د زمكې د تباه كيدو يا پكښې د نقصان واقع كيدو ويره وى

(٦) ځکه د چا جابر په قبضه کښي وی او وصی په دې ویره کښې وی که ځ د ا حاصله هم کړه نو دې به نې د قدیم قبضې په دلیل سره څمانه بیا واخلی

(٧) چه میت وصیت مرسله کړې وی یعنی د ثلث ، ربع وغیره د څه نسبت معینه وصیت نې نه وی کړې . مثلا چه داسې نې ونیلې وی چه څما د مال نه زر روپۍ فلانکی سړی ته ورکړه . که چیرې زر روپۍ د ټولې ترکې د ثلث یا د هغې نه کمې وی نو دا وصیت به په پوره زر روپۍ کښې نافذ کیږی او که زر روپۍ د ټولې ترکې د ثلث نه زیاتې وې نو د ثلث د مقدار پورې به نافذ کیږی

په دې پورتنی صورتونو کښې د بیع د جواز د پاره دوه شرطونه دی

(١) چه د مړی په ترکه کښې منقولات په دومره مقدار کښې نه وی چه په هغې سره په دې پورته صورتونو کښې ضرورت پوره کیدې شی .

(٢) بیع به صرف بقدر ضرورت قطعهٔ ارض وی . د ضرورت د مقدار نه زیاته خرخول جائز نه دی

قال الامام الزیلعی رحمه الله تعالی: وقال المتاخرون من اصحابنا لا یجوز للوصی بیع عقار الصغیر الا ان یکون علی المیت دین اویرغب المشتری فیه بضعف الثمن او یکون للصغیر حاجة الی الثمن. قال الصدر الشهید رحمه الله تعالی وبه یفتی (تبیین الحقائق)

وقال العلامة الشلبی رحمه الله تعالی : (قوله اویرغب المشتری فیه بضعف الثمن) المراد بالثمن القیمة اه (قوله اویکون للصغیر حاجة الی الثمن) هذا حکم الوصی واما الاب اذا باع عقار الصغیر بمثل القیمة فان کان الاب محمودا عند الناس او مستورا یجوز حتی لو بلغ الابن لم ینقض البیع وان کان الاب فاسقا لا یجوز البیع حتی لوبلغ الابن له نقض البیع۔ وهو المختار اه کاکی. (حاشیة الشلبی بهامش التبیین ص ـ ج)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : وجاز بیعه (ای الوصی) عقار صغیر من اجنبی لا من نفسه بضعف قیمته اولنفقة الصغیر او دین المیت او الوصیة مرسلة لانفاذ لها الا منه اولکون غلاته لا تزید علی مؤنته اوخوف خرابه اونقصانه او کونه فی ید متغلب. درر واشباه ملخصا. قلت وهذا لو البائع وصیا لامن قبل ام او اخ فانهما لا یملکان بیع العقار مطلقا ولا شراء غیر طعام و کسوة ولو البائع ابا فان محمودا عند الناس او مستور الحال یجوز ابن کمال.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی :(قوله وجاز بیعه عقار صغیر الخ) اطلق السلف جواز بیعه العقار. وقیده المتاخرون بالشروط المذکورة کما فی الخانیة وغیرها. قال الزیلعی + قال الصدر الشهید+ وبه یفتی ای بقول المتاخرین وما فی الاشباه من انه لا یجوز عند المتقدمین سبق قلم . فتنبه (قول لامن نفسه) قال ابن

الكمال وقولهم اجنبي يؤذن ان بيعه من نفسه لايجوز لان العقار من انفس الاموال فاذا باعها من نفسه فالتهمة ظاهرة اه وفيه انه اذا كان بضعف القيمة لايتأتى معه التهمة فلعل القيد اتفاقي يؤيده ما في الهندية لو اشترى الوصي عقارا اليتيم لنفسه جاز لو خيرا بأن يأخذه بضعف القيمة عند البعض اه افاده السائحاني وقدمنا مثله عن الاب الاوصياء وقوله عند البعض قيد لقوله بأن يأخذه الخ لا للجواز كما يعلم مما قدمناه (قوله اولنفقة) اى وان كان بمثل القيمة او بغبن يسير ط الول وكذا يقال فيما بعده فيما يظهر بدليل جعله مقابلا للاول. (قوله اودين الميت) اى دين على الميت لاوفاء له الابيبيعه ثانيه لكن يبيع بقدر الدين فقط على المفتى به كما قدمناه وكذا في الوصية (قوله مرسلة) تقدم تفسيرها بالتي لم تقيد بكسر كثلث اوربع مثلا وذلك كما اذا اوصى بمائة مثلا (قوله اوخوف خرابه) تقدم في عقار الكبير الغائب ان الاصح انه لايبيعه للملك والظاهر انه لايجري التصحيح هنا لان المنظور اليه هنا منفعة الصغير. ولذا جاز هنا في بعض هذه الصور ما لايجوز في عقار الكبير تأمل (قوله او كونه في يد متغلب) كان استرده منه الوصي ولا بينة له وخاف ان يأخذه المتغلب منه بعد ذلك تمسكا بما كان له من اليد فللوصي بيعه وان لم يكن لليتيم حاجة الى ثمنه كما في بيوع الخانية (قوله يجوز) فليس للصغير نقضه بعد بلوغه اذ للاب شفقة كاملة ولم يعارض هذا المعنى معنى آخر فكان هذا البيع نظرا للصغير وان كان الاب فاسدا لم يجز بيعه العقار فله نقضه بعد بلوغه هو المختار الا اذا باعه بضعف القيمة اذ عارض ذلك المعنى معنى آخر ويجوز بيعه منقوله في رواية ويوضع ثمنه في يد عدل وفي رواية لا الابضعف قيمته وبه يفتى جامع الفصولين وسيأتي في الفروع (تنبيه) ظاهر كلامهم هنا انه لايفتقر بيع الاب عقار ولده الى المسوغات المذكورة في الوصي ونقل الحموي في حواشي الاشباه من الوصايا ان الاب كالوصي لايجوز له بيع العقار الا في المسائل المذكورة كما افتى به الحانوتي اه ثم رأيت في مجموعة شيخ مشايخنا منلا علي التركماني قد نقل عبارة الحموي المذكورة ثم قال ما نصه وهو مخالف لاطلاق ما في الفصول وغيره ولم يستند الحانوتي في ذلك الى نقل صحيح. ولكن اذا صارت المسوغات في بيع الاب ايضا كما في الوصي صار حسنا مفيدا ايضا (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ۱۹ / محرم . سنه ۱۴۱۹ هـ

د پلار نه علاوه د نورو خپلو خپلوانو د وصيانو لپاره
د صغير په مال کښې تصرف کول

سوال هندي په مرض الموت کښې د خپل نابالغ اولاد د پاره زيد وصي مقرر کړو . دغه شان د وفات نه لږ وړاندې خالد عمرو لره دخپلو نابالغه وړونو او خويندو د پاره وصي مقرر کړو وس

پوښتنه داده چه زید او عمر د مړی د نابالغ اولاد، ورونو او خویندو منقوله او غیرمنقوله جائیداد خرڅولې شی او که نه؟ بنوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د والد، نیکهٔ او د قاضی نه علاوه د نورو رشته دارو د طرفه مقررکړې شوی وصیانو لره د صغیر دمنقوله اشیاؤ خرڅول مطلقا او غیر منقوله جائیداد خرڅول صرف په څلورو صورتونو کښې جائز دې. خو په دې شرط چه دا منقوله او غیر منقوله اشیاء صغیر ته د موصی نه په میراث کښې پاتې شوی وی، په نورو اموالو کښې تصرف جائز نهٔ دې.

د جائزو صورتونو تفصیل

۱. د مړی د دین ادا کولو د پاره اگر که دین کل جائیداد لره محیط وی نو کل جائیداد هم خرڅولې شی، اوکه نه نو صرف په قدر د دین به یې خرڅوی

۲. د تنفیذ د وصیت مرسله د پاره بقدر تنفیذ وصیت. د ټولې زمکې خوڅول جائز نهٔ دی، د وصیت مرسله نه مراد دا دې چه د څه خاص نسبت تعین ئې نوی کړې، لکه ثلث، ربع، خمس وغیره

(۳) د سیلاب د وجې نه د زمکې د تباه کیدو یا د مکان د غورځیدو ویره وی.

(۴) د یو ظالم د قبضه کولو ویره وی.

که د مذکوره صورتونو نه علاوه د صغیر د نفقې وغیره ضرورت راغې نو معامله به د قاضی عدالت یا په مجلس حکم کښې په پیش کولو سره فیصله کړې شی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله (قوله ووصی ابی الطفل احق الخ) واما وصی الاخ والام والعم وسائر ذوی الارحام ففی شرح الاسبیجابی ان لهم بیع ترکة المیت لدینه او وصیته ان لم یکن احد ممن تقدم لابیع عقار الصغیر اذ لیس لهم الا حفظ المال ولا الشراء للتجارة ولا التصرف فیما یملکه الصغیر من جهة موصیهم مطلقا لانهم بالنظر الیه اجانب نعم لهم شراء مالا بدمنه من الطعام والکسوة وبیع منقول ورثة الیتیم من جهة الموصی لکونه من الحفظ لان حفظ الثمن ایسر من حفظ العین اه من ادب الاوصیاء وغیره۔ وفی جامع الفصولین والاصل فیه ان اضعف الوصیین فی اقوی الحالین کاقوی الوصیین فی اضعف الحالین واضعف الوصیین وصی الام والاخ والعم واقوی الحالین حال صغر الورثة واقوی الوصیین وصی الاب والجد والقاضی واضعف الحالین حال کبر الورثة ثم وصی الام فی حال صغر الورثة کوصی الاب فی حال کبر الورثة عند غیبة الوارث فللوصی بیع منقوله لا عقاره کوصی الاب حال کبرهم اه (ردالمحتار ص۰۰ ج۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: قلت وهذا لو البائع وصیا لا من قبل ام او اخ فانهما لا یملکان بیع

العقار مطلقا ولاشراء غیر طعام و کسوة ۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله مطلقا) ای ولو فی هذه المستثنیات واذا احتاج الحال الی بیعه یرفع الامر الی القاضی ط (ردالمحتار ص ج ۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : وان لغیر الوصی التصرف لخوف متغلب وعلیه الفتوی وتمامه فیما علقته علی الملتقی۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله وتمامه فیما علقته علی الملتقی) حیث قال وانما لم یحصر التصرف فی الوصی اشارة الی جواز تصرف غیره کما اذا خاف من القاضی علی ماله ای مال الصغیر فانه یجوز لواحد من اهل السکة ان یتصرف فیه ضرورة استحسانا وعلیه الفتوی ذکره القهستانی۔ (ردالمختار ص ج ۵)

وقال العلامة الطحاوی رحمه الله تعالی : (قوله اوخوف هلاکه الخ) قال الحموی فی شرحه اما العقار فمحصن بنفسه حتی لو خیف هلاکه اوهلاك بنائه ملك بیعه لتعینه حفظا له کالمنقول والاصح انه لا یملك لانه نادر وفی التمر تاشی ویملك اجارة الکل لانه حفظ انتهی (قوله لانه نادر) ای خوف الهلاك وهذا التعلیل غیر ظاهر لان الکلام فیما اذا تحقق هذا النادر ۔ (حاشیة الطحاوی علی الدر ص ج ۴) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۲۳ / محرم ، سنه : ۱۴۱۹ هـ

د پلار د وصی لخوا دبالغ اوکبیر اولاد په مال کښې تصرف

سوال زید د مرګ په وخت عمرو د خپل اولاد د پاره وصی مقرر کړو . په اولاد کښې څه بالغ دی او څه نابالغ . د بالغ اولاد په مال کښې د وصی څومره پورې اختیار دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په منقول او غیر منقول جائیداد کښې په دوؤ صورتونو کښې تصرف مطلقا جائز دې . که کبار حاضر وی او که غائب وی

(۱) د مړی د دین د پاره په قدر د دین

(۲) د تنفیذ وصیت د پاره په قدر د وصیت د تنفیذ

او په دوؤ صورتونو کښې په دې شرط سره تصرف جائز دې چه کبار غائب وی

(۱) چه د سیلاب وغیره د وجې نه د زمکې یا د نورو اشیاؤ د تباهی ویره وی

(۲) د جا جابر د قبضه کولو د ویرې نه

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی : وجاز بیعه ای الوصی علی الکبیر الغائب فی غیر العقار الا لدین او خوف هلاك کما ذکره عزمی زاده معزیا الی الخانیة. قلت وفی الزیلعی والقهستانی والاصح لا لانه نادر۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وجاز بيعه الخ) بيان المسألة انه اذا لم يكن على الميت دين ولا وصية فان الورثة كبارا حضورا لا يبيع شيئا ولو غيبا له بيع العروض فقط وان كلهم صغارا يبيع العروض والعقار وان البعض صغارا والبعض كبارا فكذلك عنده وعندهما يبيع نصيب الصغار ولو من العقار دون الكبار الا اذا كانوا غيبا فيبيع العروض، وقولهما القياس وبه نأخذ وان كان على الميت دين او اوصى بدارهم ولا دراهم في التركة والورثة كبار حضور فعنده يبيع جميع التركة وعندهما لا يجوز الا بيع حصة الدين اه ملخصا من غاية البيان عن نكت الوصايا لابي الليث (قوله الا لدين) اى فله بيع العقار لكنه يوهم انه مقيد بكون الكبير غائبا وليس كذلك كما مر - وفي العناية قيد بأغيبة لانهم اذا كانوا حضورا ليس للوصي التصرف في التركة اصلا الا اذا كان على الميت دين او اوصى بوصية ولم تقض الورثة الديون ولم ينفذوا الوصية من مالهم فانه يبيع التركة كلها ان كان الدين محيطا و بمقدار الدين ان لم يحط وله بيع مازاد على الدين ايضا عند ابي حنيفة+ خلافا لهما وينفذ الوصية بمقدار الثلث. ولو باع لتنفيذها شيئا من التركة جاز بمقدارها بالاجماع - وفي الزيادات الخلاف المذكور في الدين اه قال في ادب الاوصياء وبقولهما يفتى - كذا في الحافظية والغنية وسائر الكتب اه ومثله في البزازية -

(قوله الاصح لا) راجع الى قوله اوخوف هلاكه (قوله لانه) اى الهلاك نادر - قال في المعراج وقال بعضهم لا يملك وهو الاصح لان الدار لا تهلك غالبا فيبنى الحكم عليه لا على النادر اه (ردالمحتار ص ... ج ...)

قال العلامة الطحاوى رحمه الله تعالى: (قوله لانه نادر) اى خوف الهلاك وهذا التعليل غير ظاهر لان الكلام فيما اذا تحقق هذا النادر. (حاشية الطحاوى على الدر ... ج ...)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله وتمامه فيما علقته على الملتقى) حيث قال وانما لم يحصر التصرف في الوصي اشارة الى جواز تصرف غيره كما اذا خاف من القاضي على ماله اى مال الصغير فانه يجوز لواحد من اهل السكة ان يتصرف فيه ضرورة استحسانا وعليه الفتوى ذكره القهستاني. (ردالمحتار ص ... ج ...)

قلت: فحيث يجوز التصرف عند خوف الضياع لغير الوصي فلان يجوز للوصي اولى - والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۳ / محرم، سنه: ۱۴۱۹ هـ

د پلار او وصی له صغیر نه په بیع او شراء کښې ایجاب او قبول او د ثمن د اداء کولو طریقه

سوال پلار یا وصی چه د صغیر نه څه څیز اخلی یا ئې په هغهٔ خرڅوی نو ایجاب او قبول به

دو ړه به خپله کوی او که نه څه بله طریقه اختیارول پکار دی ؟ او دغه شان د شراء په صورت کښې د ثمن د اداء او دبیع په صورت کښې د ثمن د اخستلو څه طریقه اختیارول پکار ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د پلار په بعت او اشتریت وئیلو سره بیع مکمل کیږی د قبلت وئیلو ضرورت نشته . او د وصی د پاره د قبلت وئیل هم ضروری دی. مګر د بیع په صورت کښې په مجردی بیعې سره د اب او وصی د صغیر د طرف نه په مبیعه قبضه کول معتبر ندی . بلکه دا ضروری دی چه مبیعه داسې جدا کړې شی که صغیر پرې قبضه کول وغواړی چه کولې یې شی که چیرې د داسې کولو نه وړاندې مبیعه هلاکه شوه نو پلار او وصی به ضامن وی. د تمکن من القبض نه به دا ګڼلې کیږی چه اب او وصی د صغیر د طرف نه قابض دی . له همدې وجې نه که دې نه پس مبیعه هلاکه شی نو دصغیر به هلاکه وی

د شراء په صورت کښې د پلار او وصی سابقه قبضه کافی ده . د مستقلې قبضې ضرورت نشته . دغه شان د بیعې په صورت کښې په ثمن باندې د پلار او وصی د مخکښې نه قبضه موجوده ده . نور د څه ضرورت نشته . البته د شراء په صورت کښې د اداء ثمن طریقه دا ده چه د قاضی یا د اصلاحی کمیټۍ د طرفه یو وکیل مقرر کړې شی او اول د صغیر دپاره په ثمن قبضه وکړی . بیائې پلار یا وصی ته واپس کړی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله وبيع الاب الخ) : وقال في جامع الفصولين للاب شراء مال طفله لنفسه بيسير الغبن لا بفاحشة اه وفيه لو باع ماله من ولده لا يصير قابضا لولده بمجرد البيع حتى لو هلك قبل التمكن من قبضه حقيقة هلك على الوالد ولو شراء مال ولده لنفسه لا يبرأ عن الثمن حتى ينصب القاضي وكيلا لولده يأخذ الثمن ثم يرده على الاب ويتم البيع بقوله بعت من ولدي ولا يحتاج الى قوله قبلت وكذا الشراء ولو وصيا لم يجز في الوجهين مالم يقل قبلت (رد المحتار ص ۳۰۰ ج ۰) والله سبحانه وتعالى اعلم-

۲۷ / محرم ، سنه : ۱۴۱۹ هـ

د مرض الموت تعریف

سوال د مرض الموت جامع او مانع تعریف مطلوب دې . یو ضعیف انسان چه څه مرض ورته نه وی . نو هغه به په مرض الموت سره مریض ګڼلې شی او کنه ؟ که ګڼلې شی نو په څومره عمر کښې ؟ همدارنګه دکینسر وغیره غوندې مرضونه چه عموما د مرګ سبب ګڼلې شی . په مرض الموت کښې داخل دی او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مرض الموت داسې حالت ته وائی چه په هغې کښې د هلاکت ویره وی او په داسې حالت کښې مړ هم شی . خواه که د دې د وجې وفات شی او که د بل څه د وجې نه

که د احالت د مرض د وجې نه وی او که د بل څه له وجې وی . مثلاً یو کس په کشتئ کښې د وبیږی، که چیرې د مرض مهلک کیدل معلوم نهٔ وو نو هغې ته به مرض الموت هغه وخت وایو چه په هغې کښې دومره اضافه وشی چه مریض د کورنه د بهر ضروری مصالحو نه عاجز شی . مثلا عالم د جمات د تلونه او تاجر د تجارت نه عاجز شی .

که مرض په یو حالت ودریږی یعنی په هغې کښې اضافه نهٔ کیږی او په دې یو حالت کښې د مرض په دې حالت یو کال پوره شی نو دا په مرض الموت کښې داخل ندې . بیا چه کله مرض زیات شی او د دې زیاتیدو په حالت کښې وفات هم شی نو د دغې زیاتوالی د وخت نه به مرض الموت شمیرل کیږی .

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی بعدذکرعبارة جامع الفصولین : واراد به المرض الذی اتصل به الموت لان حقها لا یتعلق بماله الا به فلوطلقها فی مرضه ثم صح ثم مات وهی فی العدة لا ترث منه کما سیاتی۔ ولوطلقها فی مرضه ثم قتل او مات من غیر ذلک المرض غیر انه لم یبرا فلها المیراث لانه قد اتصل الموت بمرضه۔ کذا فی الظهیریة (البحر ص ۔ ج ۴)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی :من غالب حاله الهلاک بمرض او غیره بان اضناه مرض عجز به عن اقامة مصالحه خارج البیت هو الاصح کعجز الفقیه عن الاتیان الی المسجد وعجز السوقی عن الاتیان الی دکانه وفی حقها ان تعجز عن مصالحها داخله کما فی البزازیة ۔ومفاده انها لو قدرت علی نحو الطبخ دون صعود السطح لم تکن مریضة.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله عجز به الخ) فلو قدر علی اقامة مصالحه فی البیت کالوضوء والقیام الی الخلاء لا یکون فارا وفسره فی الهدایة بان یکون صاحب فراش وهو ان لا یقوم بحوائجه کما یعتاده الاصحاء وهذا اضیق من الاول لان کونه ذا فراش یقتضی اعتبار العجز عن مصالحه فی البیت فلو قدر علیها فیه لا یکون فارا وصحح فی الفتح حیث قال فاما اذا امکنه القیام بها فی البیت لا فی خارجه فالصحیح انه صحیح اھ

وقال وبعد اسطر : ثم ان هذا انما یظهر ایضا فی حق من کان له قدرة علی الخروج قبل المرض اما لو کان غیر قادر علیه قبل المرض لکبر او لعلة فی رجلیه فلا یظهر فینبغی اعتبار غلبة الهلاک فی حقه وهو ما مر عن ابی اللیث وینبغی اعتماده لما علمت من انه کان یفتی به الصدر الشهید، وان کلام محمد یدل علیه ولا طراده فیمن کان عاجزا قبل المرض ویؤیده ان من الحق بالمریض کمن بارز رجلا ونحوه انما اعتبر فیه غلبة الهلاک دون العجز عن الخروج ولان بعض من یکون مطعونا او به استسقاء ! یحمل غلبة المرض علیه قد یخرج لقضاء مصالحه

مع کونه اقرب الی الهلاک من مریض ضعف عن الخروج لصالح او هزال مثلا ولذیوفق بین القولین بأنه ان علم ان به مریضا مهلکا غالبا وهو یزداد الی الموت فهو المعتبر وان لم یعلم انه مهلک یعتبر العجز عن الخروج للمصالح هذا ماظهرلی.

وقال بعد اسطر: قلت وحاصله انه ان صار قدیما بان تطاول سنة ولم یحصل فیه ازدیاد فهو صحیح اما لو مات حالة الازدیاد الواقع قبل التطاول اوبعده فهو مریض (ردالمحتار ص۳۰ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

د مریض په مرض الموت کښې د املاکو استعمال

سوال د یو سړی نیا په مرض الموت کښې مبتلاء ده . د هغې په ملکیت کښې فریج ،یخچال، او څو پکې وغیره دی . چه له هغې نه ټول کور والا استفاده کوی . د مرض نه وړاندې هم د هغې د طرفه د استفادې اختو اجازت وو . نو اوس د مرض په حالت کښې د هغې له څیزونو نه استفاده کول او د مریض د مال نه خوراک څښاک جائز دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : اهل قرابت چه د مرض الموت په وخت کښې جمع کیږی ، په هغې کښې بعضې ورثه وی او بعضې غیر ورثه . په ورثو کښې صرف د هغه کسانو د پاره بقدر معروف بغیر د اسراف نه د مریض د مال نه خوراک څښاک جائز دي کوم چه د مریض خدمت کوی او مریض د هغوئ د خدمت محتاج وی . او د غیر ورثو د پاره که چیرې مریض اجازت کړې وی نو د ثلث مال نه خوراک څښاک جائز دي . د فریج او پنکهو نه د انتفاع دا حکم دي که چیرې مریض د مرض په حالت سابقه اجازت منسوخ کړې نۀ وی یا ئې د هغې څه تحدید نوی کړې نو که د کور کسان وی نو د مریض پوښتنې ولا وی د ټولو د پاره انتفاع جائزه ده .

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (فرع) قال فی البزازیة وفی العتابی: اجتمع قرابة المریض عنده یاکلون من ماله ان کانوا ورثة لم یجز لا ان یحتاج المریض الیه لتعاهده فیاکلون مع عیاله بلا اسراف وان لم یکونوا ورثة جاز من ثلث ماله لوبأمر المریض اه (ردالمحتار ص۳۰ ج۵) . قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی :یعتبر حال العقد فی تصرف منجز فان کان فی الصحة فمن کل ماله والا فمن ثلثه.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی : (قوله والا فمن ثلثه) استثنیٰ فی الاشباه التبرع بالمنافع کسکنی الدار قال فانه نافذ من کل المال وتمامها فیها وفی حواشیها۔ (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی :وفی الفتاوی الصغری تبرعه فی مرضه انما ینفذ من الثلث عند عدم الاجازة الا فی تبرعه فی المنافع فینفذ من الکل (الی قوله) لکن فی العمادیة انها من الثلث فلعله روایتان (ردالمحتار ص۳۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

بسم الله الرحمن الرحیم

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا نُوْرِثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ (بخاری، مسلم)

الحکمة الغراء فی عدم توریث الانبیاء علیهم السلام

- دانبیاء کرامو علیهم الصلوة والسلام په اموالو کښې دمیراث دنه جاری کیدلو حکمتونه
- د عدم میراث دلائل.
- د شعیه گانو د خرافاتو جوابونه.
- د شیعه گانو له کتابونو څخه د عدم توریث ثبوت.



د انبیاء کرامو علیهم السلام په مال کښې د میراث دنه جاری کیدلو حکمتونه

سوال : د حضراتو انبیاء کرامو علیهم السلام په مال کښې د میراث نهٔ جاری کیدو حکمت او دلیل څه دې ؟ شیعه گان له دې خبرې نه منکر دی لهذا په مفصلو لیکلوسره زمونږ رهنمایی وکړئ . بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب : د حضراتو انبیاء کرامو علیهم السلام په مال کښې د میراث نهٔ جاری کیدو دا لاندې حکمتونه دی.

(۱) انسان سره چه کوم مال او دولت او سازوسامان دې د دې حقیقی مالک خالق کائنات دې . انسان سره دا مال محض د یو څوورځو امانت دې ، الله تعالی په فضل او کرم سره د د حاجاتو د رفع کولو دپاره دا څیزونه مستعار راکړی دی چه په دې کښې زمونږ هیڅ استحقاق نشته . که چیرې د انسان د مرگ نه پس د دهٔ مال پردو خلقو ته ورکړې شوې وای نو دا به هم ظلم نهٔ وو . هرکله چه انسان پخپله د دې مال مستحق ندې نو د دهٔ اقارب به څنګه مستحق وگرځی ؟

مگر انسان په خپل کوتاه نظرئ سره دا مستعار مال خپل ملک گڼلې دې او د مرگ په وخت د دې مال په پرېښودو باندې غمگین کیږی . لهذا الله تعالی محض په خپل شفقت او لطف سره د دې مال د ارث دپاره نزدې خپلوان معین کړی دی. د دې دپاره چه انسان مطمئین شی چه دا مال خو څما نه جدا کیږی خو بیا هم د خپلو خپلوانو لاس لته ورځی

د حضراتو انبیاء کروامو علیهم السلا په حقیقت شناس نظر باندې د غفلت پرده نهٔ وی . هرڅیز ئې په دنیا کښې مستعار کیدل او حقیقی مالک اومتصرف فقط د ذات باری تعالی کیدل هروخت

د هغوئ په تصور کښې وی . هرکله چه د انبیاء کرامو علیهم السلام دنظر دوربین یو خیز د پاره خپل نفس مالک او مستحق نهٔ گنی نو دهغوئ مال د هغوئ وارثانو ته ورکول او په دې هغوئ مطمئین کولو ته هیڅ حاجت پاتې نشو. حضرات انبیاء کرامو علیهم السلام ته په ژوند کښې دا تمنا نهٔ وه چه زمونږ د اقاربو ترکه دې مونږ ته راکړې شی او نهٔ د مرگ په وخت د خپل مال په پرېښودو هغوئ ته افسوس او غم وو . لهذا انبیاء علیهم السلام ته په مذکوره طریقو سره داطمینان ورکولو هیڅ ضرورت نهٔ وو.

(۲) حضرات انبیاء علیهم السلام د ټول امت روحانی پلاران دی . د نبی علاقه هرچا سره وی . او په هر اسود او احمر باندې دهغه یو شان شفقت وی . له همدې کبله د نبی مال په ټول امت باندې صدقه وی . چه هغه بغیر د لحاظ د حر او عبد . زنانه او نارینه . صالح او فاسق . قریب او بعید د عامو مسلمانانو د مصالحو د پاره خرچ کولې شی . که چیرې د نبی مال صرف د هغوئ په وارثانو تقسیم کیدلې نو د اقرباؤ سره به د علاقې او شفقت خاص ظهور وو چه دا به د نور امت د خلقو د پاره د دل شکنئ باعث وو چه د عام شفقت خلاف کار دې.

(۳) حضراتو انبیاء علیهم السلام به بغیر د څه معاوضې نه داحکامو تبلیغ کولو او اعلان به ئې کولو چه مونږ د چا نه هیڅ معاوضه نهٔ غواړو . نو که نبی د خپلو اقاربو وارث وای نو دا اعتراض کیدې شو چه دوئ د خپل امت نه مال اخستې دې او که د نبی میراث په هغوئ تقسیم کیدلې نو دشمن به اعتراض کولو چه د خپلو اقاربو د پاره ئې مال جمع کړو . لهذا د دې اعتراض بیخکنی وشوه چه نبی کښې د چا نه د څه اخستو حرص نشته او نهٔ چاته د څهٔ ورکولو یا وارثانو ته د مال جمع کولو تمنا کوی.

(۴) حضرات انبیاء کرام علیهم السلام ته د اعلی درجې برزخی حیات حاصل دې چه په هغې باندې بعضې دنیوی آثار هم مرتب کیږی . له همدې کبله د حضرتو انبیاء علهم السلام اجساد زمکه نهٔ خوری او د حضور ﷺ د وفات نه پس د هغوئ ﷺ ازواج مطهرات رضی الله تعالی عنهن په امت داسې حرامې دی لکه څنگه چه د حضور ﷺ په ژوند کښې حرامې وې . د میراث نه جاری کیدل هم د هغې برزخی ژوند اثر دې.

(۵) که چیرې د انبیاء کرامو علیهم السلام مال د هغوئ وارثانو ته ورکول کیدې نو ممکنه وه چه بشریت د تقاضا مطابق د هغې وارثانو د مال د حاصلول له خاطره کله د انبیاؤ د وفات فکر رغلې وې چه دا دهغوئ د پاره وبال وو . له همدې کبله الله تعالی په خپل فضل سره هغوئ د ترکې نه نا امیده کړل او په هغوئ ئې خفیف نقصان برداشت کړو او دیو لوئ وبال او هلاکت نه ئې بچ کړل

(۶) حضور ﷺ فرمائیلې دی انالاناکل الصدقة.(متفق علیه) -

او په مل خئ کښې ني اوفرمائيل :لانورث ماتركنا فهو صدقة (بخاري ومسلم)

د دې دواړو روايتونو د يوځئ کولو نه معلومه شوه چه د انبياء کرامو عليهم السلام ترکه د هغوئ په وارثانو حرامه ده . ځکه چه صدقه ده

په يو حديث کښې داسې ارشاد دې :لا تقتسم ورثتي دينارا ماتركت بعد نفقة نسائي ومؤنة عاملي فهو صدقة (بخاري ومسلم)

په دې روايت کښې د عامل ځو معانی کيدې شی خليفه، کفيل کار، خدم ، گورکن قبرکنيستونکي ، د وفات نه پس هم د ازواجو مطهراتو رضی الله تعالی عنهن نفقه د حضور ﷺ په مال کښې باقي پاتې کيدل هم د برزخی ژوند اثر دې

هكذا افادة العلامة السيد اصغر حسين قدس سره. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۳ / جمادی الاولی ، سنه : ۷۳ هـ

د انبياء عليهم الصلوة والسلا له ميراث سره متعلق
د شيعه گانو د دلائلو جوابونه

سوال شيعه گان وائی چه د انبياء عليهم الصلوة السلام په مال کښې د ميراث دجاري کيدو ثبوت په قرآن کريم کښې موجود دې لکه چه الله پاك فرمايی ((وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُدَ)) . نو دوئ له دې نه استدلال کوی. د دې محقق جواب اوفرمائئ . بينوا توجروا

الجواب ومنه الصدق والصواب شيعه گان عموما د ((وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُدَ)) او د حضرت زکريا عليه السلا دعاء ((رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا)) نه استدلال کوی . د دوئ دا استدلال محض تلبيس (دوکه) دې ، ځکه چه په دې ځائ کښې ارث فی المال مراد نه دې بلکه علم او حکمت او په نبوت کښې ارث مقصود دې

هم دارنګه د ارث لفظ د جانشين کيدلو او اخستلو په معنی هم استعمالېږی مگر دا جانشينی يا اخستل بطور ميراث ندی . په قرآن کريم کښې راغلی دی ((واورثناها بنی اسرائيل))، ((نورثها من عبادنا من كان تقيا))، ((كنا نحن الوارثين)) په اول آيت کښې جانشين جوړيدل کښې ورکول . په دريم کښې اخستل مراد دی

د اهل تشيع په مستدلو آياتونو کښې د ارث فی الميراث مراد نه اخستلو باندې خو قرائن

۱. داسې وارث فی المال کيدل ظاهری او بديهی امردی نو دهغوی ذکر خصوصيت سره لغوه وی

۲. د حضرت داؤد عليه السلام نور ځامن هم وو ، که په ((ورث سليمان)) کښې ارث فی المال مراد و حسنی شی نو داخبره لازميږی چه نورو ځامنو له بې وارث فی الميراث وه گرځولې و د ...

۳. په حديث کښې دي انا معشر الانبياء لانورث ما ترکت بعد مؤنة عامل ونفقة نسائي صدقة (مسند احمد ص ج) د دي نه ثابته شوه چه په آيات قرآنيه کښې ارث في المال مراد ندې

۴. د شيعه ګانو په کتابونو کښې پخپله تصريح ده چه په ((ورث سليمان داؤد)) کښې ارث في النبوة مراد دي عن ابي عبدالله رضي الله تعالى عنه قال ان سليمان عليه السلام ورث داؤد عليه السلام وان محمد ﷺ ورث سليمان عليه السلام (اصول کافي)

د بعضو علماؤ قول دي چه نۀ وارث کيدل صرف د حضور ﷺ خصوصيت دي . هغوئ ته د دي آيت د جواب ضرورت نشته .

په حديث (ماترکنا صدقة) کښې شيعه ګان وائي چه (ما) نافيه ده او صدقة منصوب دي . او بعضې وائي چه ((ماترکنا صدقة)) . د (لانورث) مفعول ثاني دي . اى لانورث الشئ الذى ترکنا صدقة.

د دي جواب دا دي چه د (صدقة) روايت بالرفع دي او (فهو صدقة) روايت هم د دي مؤيد دي

همدارنګه په دويمه توجيه کښې د حضراتو انبياء کرامو عليهم السلام څه خصوصيت دي ؟ کوم سړي چه هم خپل مال صدقه کول غواړي د هغۀ ورثه د هغۀ د مال مستحق نۀ وي .

شيعه ګان وائي چه د حضور ﷺ د والدماجد وينځه ام ايمن رضى الله تعالى عنها حضور ﷺ ته په ميراث کښې ملاؤ شوي وه – چه هغې د والدې د وفات نه پس د هغوئ ﷺ پالنه وکړه . چه د هغې نکاح حضور ﷺ د خپل متبنى ځوئ حضرت زيد رضى الله تعالى عنه سره کړې وه. همدارنګه حضور ﷺ ته د حضرت خديجې رضى الله تعالى عنها نه هم ډير مال په ميراث کښې ملاؤ شوي وو

د دي خبرو جواب دا دي چه ام ايمن رضى الله تعالى عنها د حضور ﷺ د والد ماجد د وفات نه پس د حضور ﷺ د نيکۀ او والدې مملوکه وه . دې دواړو حضراتو د شفقت په وجه حضور ﷺ ته هبه کړې وه . بيا حضور ﷺ آزاده کړه. د دي نه علاوه دا واقعه قبل البعثت ده

حضرت خديجې رضى الله تعالى عنها هم په خپل ژوند کښې خپل ټول مال او اسباب حضور ﷺ ته نذر کړي وو د دي لپاره چه خلق ورته دمفلس او فقيرئ پيغور ورنۀ کړى شي - ووجدك عائلا فاغنى کښې دې طرف ته اشاره ده .

د حضراتو انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام په مال کښې د ارث نۀ جاري کيدو روايت خپله د شيعه ګانو په کتابونو کښې هم موجود دي

عن ابي عبدالله جعفر الصادق رضي الله تعالى عنه انه قال ان العلماء ورثة الانبياء وذلك ان الانبياء لم يورثوا درهما ولا دينارا وانما ورثوا احاديثهم من احاديثهم (اصول کافي ص ... کتاب العقل جز اول ص ...) والله تعالى اعلم -

۱۳ جمادى الاولى . سنه ۷۳ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ۝١٩ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۝٢٠ ﴾

د شریعت مطابق
د میراث تقسیم او دهغې اهمیت



وړاندیز

د حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله تعالی علیه لخوا څخه.

بسم الله الرحمن الرحيم

قرآن کریم د یو اعلی بلاغت جامع کلام دې . په یو یو حرف کښې یې اشارات او نکات دی ، د اکثرو احکام شرعیۍ فقط اصول قرآن بیان کړې دی او جزئیات ئې رسول الله ﷺ ته سپارلې دی چه حضور ﷺ د دې تفصیلات په خپل قول او فعل سره مسلمانانو ته بیان کړی.

لیکن د بعضې احکامو د اهمیت د وجې نه د هغې پوره جزئیات قرآن خپله په پوره تفصیل سره بیان فرما ئیلې دی . ټول عائلی (کورنی) قوانین لکه : نکاح او طلاق او د زوجینو په تعلقاتو که غوراوفکر وکړې شی نو د دې ټولو جزئیاتو پوره تفصیل په قرآن کښې موجود دې ، دغه شان د وراثت د تقسم پوره قانون سره دهغه د جزئیاتو د تفصیل نه په قرآن کښې واضحه بیان شوې دې . د دې نه د وراثت د خاص اهمیت اندازه معلومیږی.

دغه شان اسلامی تعلیم په ټولو معاملاتو کښې د انسانی حقوقو په پوره ادا کولو زور ورکوی لیکن د وارثانو د حقوقو د ادا کولو تاکیدونه په خصوصیت سره ذکر دی . سبب یې دا دې چه د میراث نه حاصلیدونکې حصه مستقیماً د حق تعالی عطیه او ورکړه ده په دې کښې د انسان د هیڅ کسب او عمل دخل نشته . له همدې وجې نه د میراث په ذریعه اختل شوی مال ته اطیب الاموال وئیلې شوې دې . کوم سړې چه د دې په تقسیم کښې د قانون الهی مخالفت کوی هغه په خو

وجوهو سره د الله تعالی د غضب او قهر مورد وی
اول دا چه شاهی انعام لره خپل حقدار ته رسول د دهٔ ذمه وه په هغې کښې دهٔ خیانت وکړو.
دویم دا چه حقدار ئې د حق نه محروم کړو او ظلم ئې وکړو.
دریم دا چه دا ظلم کوم چه د وراثت په تقسیم کښې کیږی په نسلونو کښې چلیږی او د دې وبال په هغه سړی باندې وی چا چه په اول تقسیم کښې خیانت کړې وی. کومو کسانو ته چه الله تعالی د دین بصیرت او د آخرت فکر ورکړې دې هغوئ د دې ظلم نه ډیر په خصوصیت سره ځان لرې ساتی. خکه چه د تقسیم نه پس د هغې د وبال نه بچ کیدل ډیر مشکل دی
مګر افسوس په دې خبره دې چه په نن صبا مسلمانانو کښې په دې معامله کښې انتهائی غفلت او سخت کمې موندلې کیږی
اوس ضرورت د دې خبرې دې چه اهل علم او اهل دین دې عوامو لره په دې خبره باندې دخبرولو او پوهولو دپاره پوره پوره کوشش وکړی. په دې وخت کښې یومقدس بزرګ چه دخپل عمرپه آخری منزل کښې دې الله تعالی د هغهٔ په زړهٔ کښې د دې ضرورت او اهمیت احساس پیدا کړو او مولانا رشید احمد صاحب ئې د دې کار دپاره منتخب اوفرمائیلو. ماشاء الله موصوف ډیر په ښه انداز کښې د یوې مختصرې رسالې په صورت کښې دا علمی فریضه ادا کړه.
لیکن صرف په یو کتاب لیکلو سره دا مشکل نهٔ حل کیږی خوپورې چه د دې د اشاعت لپاره داسې څه انتظام نهٔ وی چه د مسلمانانو هرکور ته ورسیږی او هر مسلمان نارینه او زنانه د دې نه واقف او باخبر شی
نو خکه ضرورت د دې خبرې دې چه د عوت او تبلیغ کار کولو والا حضرات باید د دې اشاعت عام کړی. اهل خیر حضرات د دې نسخې په ډیر تعداد کښې واخلی یا ئې په خپله چاپ کړی او په مسلمانانو کښې ئې تقسیم کړی. الله تعالی دې دا کوشش کامیاب کړی. آمین، ثم آمین.
والله المستعان وعلیه التکلان

بنده محمد شفیع عفا الله عنه
دارالعلوم کراچی نمبر ۱۴
۲۰ رمضان، سنه ۱۳۸۷ هـ

یو ضروري وړاندیز

د حضرت مولانا شاه عبد العزیز صاحب رحمة الله تعالی علیه له طرفه:

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

وروسته له حمد او صلوة نه د مستندو علماؤ کرامو او د جماتونو ذمه دار امامانو اوهمدارنگه د دینی اومذهبی کتابونو لیکونکو مصنفینو ، مؤلفینو په بابرکته خدمت کښې عرض دي چه تاسو حضرات باید دې طرف ته زیاته توجو وکړئ.

میراث په شرعی، اسلامی. پیغمبری تعلیم کښې چه کوم اهمیت لری هغه اظهر من الشمس دي ، او اکثر د دنیا مسلمانان علمًا او عملاً بې خبره او نا واقفه موندلې شی او دا ظاهره ده چه په ټولو دینی خبرو کښې دا حق الله او حق العباد کښې د زیات نه زیات ضروری او متفق علیه دې ، څومره ښه خبره به وی چه د دې اهمې فریضې د پاره د څلورو واړو طرفونو نه آواز اوچت کړې شی.

په قول او قلم باندې د شرعی میراث په ادا کولو زور ورکړې شی ، علماء او مشایخ په خپل وقت راشی او ښې طریقې سره عرض او معروض وکړی . نوانشاء الله دا خدمت به نهٔ ضایع کیږی.

د څه مودې نه د ناچیز په زړهٔ کښې د تمنا په درجه کښې دا خبره وه چه څه ښه خبره به وی چه مونږ ټول په جمع د دې عظیم الشان کار سعادت حاصل کړو ، یوه ورځ د الله تعالی په توفیق سره په زړهٔ کښې دا یوه پخه اراده پیدا شوه او ما استاذ العلماء حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب زادالله نور ایمانه ته عرض کړه چه هغوئ د الله تعالی په فضل او کرم سره شپه او ورځ د دین په خدمت کښې مشغول دی او په قول او قلم سره د دې اشاعت په مقصد کښې هر اعتبار سره د دې اهل دې. هغوئ څما استدعا په سر سترگو سره قبوله کړه او ډیره زر ئې دا رساله ولیکله او شایع ئې کړه . دغه شان نور علماء کرام ، د دین بزرگان ، پیران عظام ، د دینی ترقئ د پاره محنت کولو والا احباب دې د دې د پاره ښه پوره پوره کوششونه وکړی.

د سید المرسلین رحمة للعالمن خاتم النبیین شافع محشر ساقی کوثر احمد مجتبی محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم روح پا ک لره دې زیات نه زیات خوشحاله کړی او د ځان د پاره دې دصدقه جاریه اوسعادت دارین ثواب حاصل کړی . او څما اود هغه مسلمانانو نارینه او زنانه د پاره کوم چه په دې مبارک اوضروری مقصد کښې حصه واخلی هغوئ ته دې دحق رضاء . عافیت دارین او قوة ایمانی او صحت جسمانی نصیب شی. آمین بالنبی الامین

هدایت

په دې اهم کار کښې کوشش کولو والا ته چه کوم فضیلت حاصلیږی صرف دومره فکر کول

کافی دی چه هرکله دحدیث په بناء په یو پرینبودي شوې سنت عمل کولو سره د سلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی نو په دې متروکه فریضه باندې په عمل کولو سره به الله تعالی څومره لوئ انعام ورکوی .

تنبیه : کومو حضراتو چه د قرآن او حدیث خلاف د مړو مال تقسیم کړې وی نو هغوئ دې راروان وخت کښې په شرعی قانون سره د مال تقسیمولو انتظار کوی بلکه د ذمه دارو علماؤ نه دې پوښتنه وکړې شی او چه د کومو کسانو حق پاتې شوې دې هغوئ ته دې خپل حق ورکړی او توبه دې وکړی ، دې د پاره چه بریٔ الذمه شی ، او که په ادا کولو کښې مجبور او معذور وی نو چه څومره کولې شی په هغې کښې دې تاخیر نکوی ، اوکوم چه نشی ادا کولې د هغوئ نه دې معافی وغواړی، دا خبره یاده ساتل پکار دی چه د نابالغ حق د هغهٔ په معاف کیدو سره نهٔ معاف کیږی .

خادم العلماء :
بنده، عزیز دُعاجو دهلوی غفرله ولوالدیه .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَكَفٰی وَسَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیۡنَ اصۡطَفٰی

اما بعد : الله تعالی چه د حضرات انبیاءکرامو علیهم السلام د میراث نه خپلو کومو بندګانو ته حصه ورکول او د خپل دین د حفاظت د پاره منتخب کول غواړی نو د هغوئ په زړونو کښې د تبلیغ او د دین د اشاعت داسې درد پیدا کوی چه هغوئ په یوخت کښې هم آرام ته نهٔ پریږدی او د ژوند تر آخری ساه پورې ئې بې قراره کړی وی ، په حضرت عمر رضی الله تعالی عنه باندې د شهادت په وخت پئ وسکول شوې چه هغه د خیټې د زخم نه بهر را وه وتلې ، په هغه زمانه کښې به دا د مرګ حتمی او یقینی علامه شمارل کیدله ، چنانچه د دې تجربې نه پس تولو حضراتو ته یقین وشو چه اوس به د دنیا نه رخصت کیږی په دې وخت کښې یو نوجوان د عیادت د پاره راغې ، کله چه هغه تلو نو واپس ئې راؤبللو او هغهٔ ته یې اوفرمائیل چه لنګ د ګیټو نه بره ساته «سبحان الله» د دین د تبلیغ او د خپل مسلمان ورور د کامیابئ او آبادئ څومره جذبه وه چه د زخم شدت اود مرګ لیدلو هم د دې نه غافله نکړې شو . د غور کولو مقام دې چه آخر دا څه څیز دې حضراتو له د ژوند او د هغې د تولو لذاتو نه مستغنی کړې وو

بسودای جانان زجان مشتغل   بذکرِ حبیب از جهان مشتغل

بذکر حق از خلق بگریخته   چنان مست ساقی که می ریخته

دا مقام د محبت درد ساتلو والا ته حاصلیږی . د هغوئ بصیرت روښانه کړې شی . او په هغوئ د اشیاؤ حقائق منکشف کړې شی

در درون خود بیفزا درد را | تابه بنی سبز وسرخ وزرد را

د چا زړونه او سترګې چه د درد محبت نه خالی دی هغوئ د دې د حقیقت نه څه خبر دی ؟

تو ندیدی گهی سلیمان را | چه شناسی زبان مرغان را

لطف نشناسی بخدا تا نچشی

لطف مے تجھ سے کیا کہوں زاہد | هائے کم بخت تونے پی ہی نہیں

اوس هم زمانه د داسې منتخب هستو نه خالی نده

هنوزآن ابررحمت درفشان است | خم وخمخانه با مهر ونشان است

کومو خلقو ته چه په دې زمانه کښې داهل الله د فقدان شکایت دې دا په حقیقت کښې دهغوئ د نظر قصور دې د هغې وجه دا ده چه په هغهٔ کښې طلب نشته

آب کم جو تشنگی آور بدست | تا بجوشد آبت از بالا وپست

که یو سړې د اوبو نهٔ پیدا کیدو شکایت کوی نو دا د دې خبرې دلیل دې چه په حقیقت کښې دې تږی ندې . د الله تعالی ذات ډیر کریم دې هغه کله هم یو تږې بنده وچې شوندې او طالب لره محروم نهٔ واپس کوی . ((والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا ___ اولئك كان سعيهم مشكورا)) . هغه ذات ډیر شکور دې . غرض دا چه دا د نفس او شیطان چال او فریب دې ، چه الله والا څوک نهٔ موندل کیږی . آیا په دنیا کښې دا چیرته آوریدلې شوې دی چه په درد او تکلیف کښې یو مبتلاء اودمرګ په پنجه کښې ګرفتار مریض دا اووایی چه ماته د علاج دپاره څوک ډاکټر یا طبیب په نظر نهٔ راځی. په داسې وخت کښې هغهٔ ته هرڅوک طبیب ښکاری. ځکه چه هغهٔ ته دنیوی ژوند محبوب دې. ددې اهمیت شته او د دې برعکس د حقیقی اودائمی ژوند اهمیت ئې په زړهٔ کښې نشته

کارها باخلق آری جمله راست | باخدا تزویروحیله کی رواست

کومې واقعې چه زهٔ متاثره کړم او دې رسالې لیکلو ته ئې اماده کړم په زړه کښې د هغې واقعې د اثر زیاتوالی د عنان قلم د قابو کولو د کوشش باوجود خلاف عادت په بره لیکلو کښې څه لږ اوږدوالې پیدا کړو. ما دا ونیل چه د دین د حفاظت درد ساتلو والا داسې حضرات اوس هم موجود دی چه د امت مسلمه ادنی دینی یا دنیوی تکلیف هغوئ لره داسې بې قراره کړی چه آرام او راحت ئې ختم شی او جسمانی تکالیف او امراض حتی چه د مرګ او ژوند کش مکش هم د هغوئ په لاره کښې د ذرې برابر مانع نشی پیدا کولې بلکه په داسې حالاتو کښې منزل حبیب نزدې ګوری

او د هغوئ مرکب دهمت نور هم زيات تيز شي . د داسې منتخب [illegible] يو چمکداره هستي د سحر چراغ د حضرت مولانا شاه عبدالعزيز صاحب دامت براكاتهم ذات دې . د سختې بيمارئ او انتهائي ضعف او کمزورئ په دوران کښې چه هر کتلو والا په دې وئيلو مجبور وو :

مریض محبت میں اب کیا دھرا ہے — جو ہیں سانس باقی وہ آجا رہے ہیں

ماله ئې پيغام راؤليګو چه يو ضروري کار دې . چه بنده حاضر شو نو وې فرمائيل :

د شريعت مطابق په ميراث تقسيم کولو کښې ډيرې غلطئ کيږی . ډيرې ښې ښې ديندارې کورنئ په دې مهلک مرض کښې مبتلاء دی ، د دنيا په محبت کښې ګيرشی نو خپل عاقبت برباد کړی. دې د پاره د شريعت مطابق د ميراث د تقسيم اهميت او چه په دې کښې کومې غلطيانې کولې شی د دې په تفصيل يوه رساله وليکه. د بنده په ذهن کښې فورا د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د ذکر شوې واقعې تصوير راغې او په فکر کښې شوم:

دا حضرات څومره اوچتې حوصلې والا دی ، الله تعالی دوئ لره څه عجيبه درد دمحبت نصيب کړې دې ، د داسې قسم تقاضو عموما بنده سره هم يو جواب وی يعنی د فرصت نشتوالې او د ليکلو د عدم اهليت صحيح او معقول عذر بيان کولو سره مې خپل ځان فارغ کو ‌ٔ شو ، مګر د دې تقاضې نوعيت راته په ژبه مهر دسکوت ولګولو د «نهٔ پای رفتن نه جای ماندن» کښې مې سوچ کولو چه د وقت تقاضا ده ، زهٔ خو بهٔ لاړ شم او په خپلو مشاغلو کښې به شروع شم او بس خبره به ختمه شی مګر شاه صاحب په خدا داد بصيرت سره غالبا ځما په دې کيفيت پوهه شو او د جيب نه ئې پيسې راکړې او ارشاد ئې اوفرمائيلو چه دا د رسالې د طباعت وغيره د مصارفو د پاره دی . الله تعالی به د باقی مصارفو د پاره هم انتظام اوفرمائی.

دا په حقيقت کښې يو ځنځير وو ، داسې ونيولې شو بلکه داسې ونښتلو چه ټول زور ئې پرې ختم کړو . د حيرانتوب انتهاء ده چه الله تعالی دې حضراتو ته څومره لوئ صيادی صلاحيت ورکړې دې . هر کله چه د فرار لاره ښکاره نشوه نو مستعينابالله ټول مشاغل مې ورروسته کړل او رساله مې مرتب کړه . که چيرې د دې په ترتيب کښې څه خامی وی نو بياهم مضامين قيمتی دی . ځکه چه ځما خپل څيز ندې د قرآن او حديث جواهر دی ، که درر منظومه وی او که منثوره بهرکيف د هغې قيمت او حسن ذاتی کښې څه فرق نهٔ پريوځی . قال البوصيري رحمه الله تعالى:

فالدر يزداد حسنا وهو منتظم — وليس ينقص قدرا غير منتظم

څو ورځې پس حضرت شاه صاحب د ټولو مصارفو پيسې راوليږلې . اوس دا رساله ستاسو په خدمت کښې ده . حضرت شاه صاحب خپل کار وکړو د هغوئ جذبه به ان شاء الله تعالی نهٔ ضائع کيږی د خپل ځان د پاره ئې د آخرت توښه او د امت مسلمه د پاره ئې يو حجت قائم اوفرمائيلو :

اوس د دې اشاعت او په دې عمل کول او نورو خلقو ته د عامل جوړولو کوشش کول ستاسو ذمه داری او ستاسو کار دې
خدانخواسته داسې نۀ وی چه بیا د قیامت په ورځ د دې حجت جواب جوړ نشی . الله تعالی دې د دې ناچیز خدمت قبول اوفرمائی او مونږ تولو ته دې د دې د تبلیغ او اشاعت او په دې د عمل کولو توفیق راکړی . آمین . ثم آمین وماذالك على الله بعزيز

رشید احمد منتصف رمضان : ۱۳۸۷ هـ

د میراث په تقسیم کښې غلطیانې

(۱) په مسلمانانو کښې ډیر تعداد د داسې خلقو دې چه هغوئ د فانی دنیا په محبت کښې ګیرشی او په شرعی اصولو د میراث د تقسیم نه ځان ساتی . بیاکه خپل ځان ګنهګار وګنی او د دې نه انحراف وکړی نو دا فسق او عظیمه ګناه ده چه په دې باندې د وعید بیان بۀ وروسته راشی انشاء الله تعالی ، او که خدانخواسته د قرآنی قانون نه انکار یا د دې نه نفرت او استخفاف راغې نو دا صریح کفر دې . د دنیا د یو څو ورځو د عیش او عشرت د خاطره د آخرت د دائمی نعمتونو نه محروم کیدل او د جهنم عذاب اختیار کول او د حال د زمانې د منافعو د وجې مستقبل برباد کول او د فانی دنیا په حاصلولو کښې د خپل خالق ، مالک ، احکم الحاکمین او محبوب حقیقی ناراضه کول او دهغۀ په قهر او عذاب او د جهنم په اور جرات کول څومره لوئ حماقت او کوتاه نظری او خراب انجامی ده . الله تعالی دې هرمسلمان د دې نه محفوظ کړی ، آمین .

خلیل آسا در ملک یقین زن — نوای لا احب الآفلین زن
عشقهای کز پئی رنګی بود — عشق نبود عاقبت ننګی بود
عشق بامرده نباشد پائیدار — عشق را باحی و باقیوم دار

ارے یہ کیا ظلم کررہا ہے کہ مرنے والو پہ مر رہا ہے
جو دم حسینوں کا بھر رہا ہے بلند ذوق نظر نہیں ہے

(۲) په بعضې ځایونو کښې دا دستور دې که یوه کونډه دویمه نکاح وکړی نو هغه د میراث نه محرومه کوی . د دې وجې نه هغه عاجزه د خپل میراث د حصې د اخستلو لپاره دویمه نکاح نۀ کوی او ټول عمر د کونډوالی د مصائبو د برداشت کولو سره سره د مرحوم خاوند د خپلوانو او اقاربو د پاره شپه او ورځ د قسمها قسم مظالمو تخته ګرځیدلې وی

(۳) په سندهـ کښې دا رواج هم دې چه کومه ښځه د خاوند د قبیلې څخه نوی هغې ته د میراث حصه نۀ ورکوی دا هم ډیر لوئ ظلم او جهالت دې . د ښځې حصه قرآن کریم په هر حال کښې فرض

کري ده که هغه د خاوند دخاندان نه وي او که د بل خاندان نه وي .

(۴) دا جرم خو اکثر د دیندارو او اهل علم خلقو په کورونو کښې هم موندې شي چه په خورگانو باندې د میراث حصه معاف کړي . مگر ښځه پوهه شئ او یاد ساتئ چه د خویندو په معاف کیدو سره تاسو بریٔ الذمه نشئ کیدې . اول خو دا چه خویندې د جاهلیت د رواج مطابق د میراث حصې لره طلب کول ډیر معیوب گڼي او د ورونو د ناراضگئ او د خلقو د طعن نه ویریږي، کافرانه رواج د ظلم عظیم سره سره د دغې مظلومو ښځو ژبې هم بندې کړې دی او هغوئ د بې وسئ په حالت کښې په زبان حال سره آواز کوي چه :

یہ دستور زباں بندی عجب ہے تیری محفل میں

یہاں تو بات کرنے کو ترستی ہے زباں میری

د هغوئ د پټ درد او صدمې دا حال وي چه :

مرا دردیست اندر دل اگر گویم زبان سوزد

وگردم درکشم ترسم که مغزاستخوان سوزد

د الله تعالی دخاطره د دغې بې ژبې مظلو ښځو د پورته رسیدونکې آه نه وه ویریږئ او په خپل حال رحم وکړئ . چیرته د هغوئ د زړهٔ درد ناکه شغله ستاسو د ژوند عیش او عشرت خاورې نکړي . د سید دوعالم او محسن اعظم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې : **اتق دعوة المظلوم فانه ليس بينها وبين الله حجاب**، د مظلوم د ښیرو نه وه ویریږئ ځکه چه د هغوئ او د الله په مینځ کښې د هیڅ قسم حجاب نوي ، یعني دهغوئ دعاء ډیره زر قبلیږي :

بترس ازآه مظلومان که هنگامه دعاکردن

اجابت ازدرحق بهر استقبال می آید

په نورو باندې ظلم کول په حقیقت کښې په خپل ځان باندې ظلم دې :

جو جلاتا ہے کسی کو خود بھی جلتا ہے ضرور　　شمع بھی جلتی رہی پروانہ جل جانے کے بعد

په خبیث او حرام مال کښې کله هم برکت نهٔ وي .

ستمگر بھی کوئی دیکھا جو پھولا اور پھلا ہوگا

په قرآن کریم کښې ارشاد دې : **(يمحق الله الربوا ويربي الصدقات)** . الله تعالی سود ختموي او صدقات زیاته وي

په دویم ځای کښې فرمائی **وما آتيتم من ربا ليربوا في اموال الناس فلا يربوا عند الله وما آتيتم من زكوة تريدون وجه الله فاولئك هم المضعفون.**

او کوم څیز چه تاسو په سود ورکوئ دې د پاره چه د خلقو په مال کښې زیات شی نو دا د الله تعالی په نیزد نهٔ زیاتیږی او کوم چه د الله تعالی د رضا د پاره زکوة ورکړئ نو داسې خلق الله تعالی سره زیاتیږی.

که چیرې داسې ظالم د دنیوی عذاب نه بچ هم شی نو د حساب او کتاب یوه معینه ورځ یقینا راتلونکې ده چه دهغې په باره کښې الله تعالی فرمائی «**ولعذاب الاخرة اكبر**» یقینا چه د آخرت عذاب ډیر لوئ دې ، الله تعالی دې ټولو مسلمانانو لره د دې عذاب اکبر نه د بچ کیدو توفیق ورنصیب کړی، آمین.

غرض دا چه اول خو دهغوئ محض په ژبې سره معاف کول شرعا معتبر ندی ، دویم دا چه که شاذ او نادر یوه ښځه په خپل شرح صدر او طیب نفس سره څه معاف هم کړی نو بیا هم دا معاف کول د گناه نه خالی ندی ، ځکه چه په دې کښې خلاف شرع دهندوانو د ظالمانه رسم ترویج او تائید دې چه هغه گناه کبیره ده.

دریم دا چه دا معاف کول د شرعی اصولو خلاف دی ، ځکه چه حق معاف کول یا پریښودل یا ساقط کول یا بریٔ کول یا بخل وغیره صرف په الفاظو سره قرض معاف کیږی . په دې الفاظو سره د متعین څیز تملیک نهٔ کیږی . د متعین څیز د تملیک د پاره هبه ، عطیه ، هدیه یا ورکول وغیره الفاظ وضع شوی دی مگر په ترکه کښې په دې الفاظو سره هم تملیک نهٔ کیږی . ځکه چه داسې یو مشترکه څیز چه هغه د تقسیم نه پس هم قابل انتفاع وی د هغې هبه کول شرعا صحیح ندی — بعضې خلق وائی چه وقتا فوقتا په اختر وغیره کښې خورگانو ته چه د کومې هدیې ورکولو دستور دې هغه د دې په بدله کښې ورونو ته خپله حصه ورکوی . دا خیال هم غلط دې . ځکه چه په دغې بیعه باندې د خویندو رضامندی نهٔ موندل کیږی بلکه هغوئ د رواج مطابق مجبوره دی . همدارنگه په مختلفو موقعو کښې د ورکولو والا هدایاؤ مقدار جنس او مالیت مجهول دې لهذا دا بیعه صحیح نده . غرض دا چه حرامو لره حلال کول او د بې ژبې مظلومانو خورگانو د میراث حصه هضم کولو د پاره چه کوم چالونه هم وچلوولې شی نو هغه ټول شرعا مردود او باطل دی

(۵) بعضې وارثان د مړی یو څیز معمولی گڼی یانې متبرک وگڼی او بغیر د نورو وارثانو درضا او د خبرولو نه په هغې قبضه وکړی . دا هم حرام او گناه کبیره ده چه د حق العبد د وجې نه په توبې سره نهٔ معاف کیږی اگر که ډیر ادنی څیز هم وی . او که په وارثانو کښې څوک نابالغه وی نو بیا خو د هغهٔ په معاف کولو سره هم نهٔ معاف کیږی خو پورې چه هغه بالغ شوی نوی نو د هغهٔ

معاف کول شرعا معتبر ندی . نو که د هغهٔ د بلوغ نه وړاندې دغه وارث دا ماشوم وفات شی نو د آخرت عذاب به ئې په سر وی ((اعاذناالله منه)) په داسې تبرک حاصلولو سره د جهنم عذاب اختیارول خومره لوئ حماقت او خراب انجام حاصلول دی . البته که ټول وارثان عاقلان بالغان وی او د ټولو په طیب خاطر سره د پوره رضامندئ یقین وی نو بیا څه باک نشته . د مجنون او د نابالغه د رضا ته څه اعتبار نشته . بهر حال دې نه احتراز کول بهتر دی . لدې وجې نه چه د ټولو وارثانو د رضا یقین مشکل دی . همدارنګه خپل ځان له په نورو ترجیح ورکول او څه طلب کول د رواج او د همدردئ د جذبې خلاف دی، لهذا د دې صحیح طریقه دا ده چه ټول هرڅهٔ په وارثانو د حصو په اندازه تقسیم کړې شی که چیرې په یو څیز کښې د ټولو وارثانو رغبت وی نو هغه څیز دې په خپل مینځ کښې نیلام کړی کوم سړې چه زیات قیمت ورکوی هغهٔ له دې ورکړې شی

په بدر په غزا کښې د حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه توره د الله او د رسول ﷺ په دښمنانو باندې د زیات استعمال په وجه په هغې کښې یو خم جوړ شو . د حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه د وفات نه پس دا توره د هغوئ خوی حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه سره وه او د دوئ د شهادت نه پس د دوئ ورور حضرت عروة ابن زبیر رضی الله تعالی عنه سره وه . دا توره ډیره متبرکه وه . ځکه چه د حضور ﷺ د معیت سره په غزوه بدر کښې د حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه غوندې جلیل القدر صحابی په لاس د الله تعالی په لاره کښې د الله تعالی په دشمنانو په دومره شدت سره استعمال شوې وه چه په هغې یو نشان د همیشه د پاره یادګار پاتې شوې وو . نو له همدې وجې نه د حضرت عروة ابن زبیر رضی الله تعالی عنه د وفات نه پس د هغهٔ په دوؤ خامنو کښې حضرت عثمان بن عروة رضی الله تعالی عنه دا مقدسه توره په درې زره واخسته. په دې سره د هغهٔ ورور هشام بن عروة رضی الله تعالی عنه فرمائی : **ولوددت انی کنت اخذته** . ځما دا خواهش وو چه دا توره ماته ملاؤ شوې وې . **رضی الله تعالی عنهم وارضاهم وجعل الجنة مثوهم وماواهم ورزقنا حبهم واتباعهم -آمین-** . الله تعالی دې دهغوئ نه راضی شی او هغوئ دې رضا کړی او د هغوئ ځائ دې په جنت کښې وګرځوی او مونږ ټولو ته دې د هغوئ دمحبت او اتباع نعمت راکړی . آمین

(۲) د کفن د بعضې کپړې نه مصلی جوړولې شی چه په هغې جنازه کولو ولا ودریږی او بیا روستو هغه د جنازې کولو والا ته یا غسل ورکولو والا ته ورکولې شی . همدارنګه په قبر کښې د اېښودو د پاره روح کیوړه (یو قسم خوشبویه اوبه) او ګرباتئ وغیره وړلې شی دا کارونه په دین کښې د زیادت او بدعت کیدو نه علاوه ځکه هم ناجائز دی چه دا د مال شرعی یعنی تجهیز او تکفین نه د زیات کیدو په وجه په ترکه کښې داخل دی چه دهغې احکام او په دې کښې د احتیاط تاکید او اهمیت پورته بیان شو

(۷) په مړی پسې د ایصال ثواب د پاره د ترکې نه مال خرج کولې شی نو په دې کښې هم هغه قباحتونه دی چه د ټولو وارثانو رضامند نهٔ حاصلیږی ، بعضې وارثان غائب وی نو د هغوئ د خبریدو او رضا نه بغیر هم مال خرج کیږی . که چیرې د ټولو د رضامندئ کوشش هم وکړې شی نو د طیب خاطر رضا بیا هم د ټولو متیقنه نده ، او که په وارثانو کښې څوک نابالغ یا مجنون وی نو د هغوئ د رضا نه بغیر هم د هغوئ مال خرج کول ناجائز دی ، د یتیم د مال په خوراک په قرآن پاک کښې ډیر وعیدونه وارد دی چه دهغې بیان بهٔ انشاء الله مخکښې راشی .

(۸) بعضې وخت یو وارث خپل ځان تر ټولو لوئ متولی ګڼی او جبرا په ټوله ترکه قابض او متصرف وی او په هغې کښې خپل اختیار کوی . د نورو وارثانو په مطالبه هم تقسیم نکوی . او د یتیم په مال کښې د تصرف کولو څخه نهٔ ویریږی . (فما اصبرهم علی النار) دا خلق د جهنم په اور څومره صابره دی ، اعاذنا الله تعالی منها -

(۹) که په وارثانو کښې څوک نابالغه یا مجنون وی نو د ترکې تقسیم او په هغې کښې تجارت، او په زمکه کښې د زراعت وغیره د تصرفاتو مختار صرف ولی یعنی والد ، بیا د هغهٔ وصی ، بیا نیکهٔ ، بیا د هغهٔ وصی او مسلمان حکمران دې ، د صغیر د زمکې خرڅولو اجازت بغیر د یو څو صورتونو نه ولی ته هم نشته، مور اوپلار ، ورور ترهٔ وغیره ته د ترکې د تقسیم او په هغې کښې د تجارت او زراعت و غیره اجازت نشته . البته د هغهٔ د مال حفاظت ، د حفاظت په غرض د منقوله څیز بیعه ، او د هغهٔ د خوراک څښاک وغیره د ضروریاتو اخستلو اجازت ورته شته ، خو په دې شرط چه صغیر د هغوئ په پرورش کښې وی .

دغه شان که یو وارث ورک وی نو د ترکې د تقسیم او د هغهٔ په حصه کښې د تصرف اختیار صرف مسلمان حاکم ته دې ، د حاکم د عدم موجودګئ په صورت کښې به د ښار دیانتدار خلق متولیان جوړیږی

د علم میراث فضیلت او اهمیت

دا بدیهی او مسلم امر دې چه کوم عمل ترکوم حده پورې اهم اومؤکد وی نو دهغې علم حاصلول هم همدومره اهمیت او فضیلت لری، لهذا لاندې د علم میراث فضیلت او اهمیت بیانولې شی دهغې نه به معلومه شی چه د دې د مطابق عمل کولو شریعت څومره تاکید فرمائیلې دې او دا نې څومره اهم ګرځولې دې

(۱) روی الجهلی والحاکم عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ تعلموا الفرائض وعلموهن الناس فانه نصف العلم وانه ينسى وهو اول ما ينزع من امتی (الدر المنثور)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو علم فرائض (علم میراث) زده کړئ او خلقو ته ئې هم وښایئ ځکه چه دا نیم علم دې او بیشکه دا به هیرکړې شی . او خما د امت نه به د ټولو نه اول دا علم اخیستل کیږی

(۲) روی الطبرانی فی الاوسط مرفوعاً تعلموا القرآن والفرائض وعلموها الناس۔
د حضور ﷺ ارشاد دې چه قرآن او فرائض زده کړئ او خلقو ته ئې هم وښایئ

(۳) روی الدارمی عن عمر رضی الله تعالیٰ عنه مرفوعاً تعلموا الفرائض کما تعلموا القرآن.
حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاسو علم فرائض داسې اهتمام سره زده کړئ ځنګه چه قرآن زده کوئ.

(٤) وفی روایة عنه رضی الله تعالیٰ عنه تعلموا الفرائض فانها من دینکم.
او په یو روایت کښې دا الفاظ دی چه تاسو فرائض زده کړه ځکه چه دا ستاسو د دین ځخه دی

(۵) روی عن ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه مرفوعاً من قرأ القرآن فلیتعلم الفرائض.
حضور ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې قرآن لولی هغه دې فرائض هم زده کړی

(٦) روی الدارمی فی باب الاقتداء بالعلماء عن ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه قال قال لی رسول الله ﷺ تعلموا العلم وعلموه الناس تعلموا الفرائض وعلموها الناس فانی امرؤ مقبوض والعلم سیقبض و یظهر الفتن حتی یختلف اثنان فی فریضة لا یجدان احدا یفصل بینهما۔
د حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دې چه ماته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپله هم علم زده کړه او خلقو ته یې هم وښایه او خپله هم علم فرائض زده کړه او خلقو ته هم وښایه ځکه چه زۀ وفات کیدو والا یم او علم نزدې معدوم کیدلو او ختم کیدلو والا دې او ډیرې فتنې به ظاهرې شی حتی چه دوه کسان به د ترکې په مسئله کښې جنګ کوی او هغوئ سره به داسې یو عالم نوی چه د هغوئ دواړو په مابین کښې فیصله وکړی

(۷) عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه مرفوعاً وان مثل العالم الذی لا یعلم الفرائض کمثل البرنس لا راس له (۱۰ الی من جمع الفوائد)
د حضور ﷺ نه روایت دې چه هغه عالم چه علم فرائض ئې نوی زده هغه داسې دې لکه بغیر د سر نه ټوپئ . یعنی بغیر د فرائضو نه علم بې رنګه او بې زینته بلکه بیکاره دې

د شریعت مطابق د میراث د تقسیم اهمیت او د دې په خلاف وعیدونه

(۱) ﴿ وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ ۖ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ۖ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا

۞ . (۴-۲)

او د یتیمانو مال هغوئ ته رسوئ ، یعنی د هغوئ په خرچه کښې ئې ولګوئ اوتاسو(د هغوئ) د بهتر څیز سره (خپل) بیکاره څیز مه بدلوئ او د هغوئ مال مه خورئ د خپل مال (دکیدو) پورې داسې کار روائی کول لویه ګناه ده ، یعنی کله چه تاسو سره څهٔ پاتې نهٔ شی نو په قدرد حق د خدمت د خپلې ګزارې کولو د پاره د هغوئ د مال نه اخستل صحیح دی .

(۲) ﴿ وَٱبْتَلُوا۟ ٱلْيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُوا۟ ٱلنِّكَاحَ فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ ۖ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُوا۟ ﴾ (۴-۶)

او تاسو یتیمان امتحان کوئ تر دې پورې چه کله هغوئ بالغ شی او بیا که تاسو په هغوئ کښې څه تمیز وغیره وګورئ نو دهغوئ اموال د هغوئ په حواله کړئ او دغه اموال د ضرورت نه زیات مهٔ اخلئ په دې خیال چه دوئ به بالغ شی نو مال په تندئ سره مهٔ خورئ .

(۳) ﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ۝ ﴾ (۴-۷)

د سړیو د پاره هم حصه شته په هغه څیز کښې چه کوم مور اوپلار او نزدې خپلوانو پریښې وی او د ښځو د پاره هم حصه شته په هغه څیز کښې چه کوم مور اوپلار او نزدې خپلوانو پریښې وی . که هغه څیز لږ وی او که ډیر ، او هغه حصه کومه چه په قطعی طور مقرره ده .

(۴) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلْيَتَٰمَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ۝ ﴾ (۴-۱۰)

بیشکه کوم خلق چه دیتیم مال په ظلم سره خوری نو نورهیڅ ندی بلکه خپله خیټه د اور نه دکوی او نزدې ده چه په تیز اور کښې به داخل شی .

(۵) ﴿ يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِىٓ أَوْلَٰدِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾.

الله تعالی تاسو ته حکم کوی ستاسو د اولاد په باره کښې چه د هلک حصه د دوؤ نجونو سره برابر ده

دمیراث د احکامو د تفصیل نه پس فرمائی

(۶) ﴿ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ۝ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدْخِلْهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾ ، (٤- ١٣، ١٤)

دا ټول ذکر شوی احکام د الله تعالی ضابطې دی او څوک چه د الله تعالی او د رسول ﷺ پوره اطاعت کوی نو الله تعالی به ئې په داسې جنت کښې داخل کړی چه د هغې دلاندې به نهرونه جاری وی همیشه د پاره به په هغې کښې وی او دا لویه کامیابی ده او څوک چه د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ فرمان نهٔ منی او بالکل د هغوئ د ضابطو نه خارج شی نو هغه به په اور کښې داخل کړی په داسې طور چه په هغې کښې به همیشه وی او هغوئ ته به داسې سزا وی چه ذلت به پکښې هم وی.

(۷) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ .(٤-١٩)

ای مؤمنانو تاسو لره دا خبره کول حلاله نده چه تاسو د ښځو دمال او جان جبرا مالکان شئ او دغه ښځې په دې غرض سره مقیدې مهٔ ساتئ چه تاسو هغوئ ته څه ورکړی دی د هغې نه حصه ترې واخلئ مګر دا چه دا ښځې څه ښکاره ناشائسته کار وکړی . یعنی چه ښځه د نارینه نافرمانه او بد اخلاقه وی نو خاوند لره جائز دی چه بغیر د مال اخستو نه ئې نهٔ پریږدی خو چه د مهر نه زیات نوی

(۸)﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾(٤-٢٩)

اې مؤمنانو ! په خپل مینځ کښې د یو بل مال په ناحقه مهٔ خورئ .

(۹) ﴿ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَٰلِىَ مِمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ ۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَـَٔاتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ ﴾ (٤-٣٣)

او هر هغه مال د پاره چه هغه والدین او رشته دار پریږدی مونږ وارثان مقرر کړې دی او کومو خلقو سره چه ستاسو عهد دې نو هغوئ ته د هغوئ حصه ورکړئ ، بیشکه الله په هر څیز خبر دې

(۱۰)﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا۟ ٱلْأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهْلِهَا ﴾ (٤-٥٨)

بیشکه الله تعالی تاسو ته د دې خبرې حکم کوی چه اهل حق ته د هغوئ حق ورسوئ

(۱۱) ﴿ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِى ٱلنِّسَآءِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِى ٱلْكِتَٰبِ فِى يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِى لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾ ﴾ . (٤- ١٢٧)

او هغه خلق ستا نه د ښځو په باره کښې د حکم پوښتنه کوی تاسو ورته او فرمایئ چه الله تعالی د دوئ په باره کښې تاسو ته حکم کوی او هغه آیتونه هم حکم کوی چه کوم تاسو په قرآن کریم

کښې لولئ او آوروئ چه هغه د هغې يتيمانو په باب کښې دی چه هغوئ ته تاسو د هغوئ حق نۀ ورکوئ او هغوئ سره د نکاح کولو نه نفرت کوئ . او کوم آيتونه چه د کمزورو بچو په باب کښې دی او کوم آيتونه په دې باب کښې دی چه د يتيمانو تولو کار گزاری انصاف سره کوئ او تاسو چه کوم نيک کار کوئ نو بيشکه الله تعالى ښه پوهيږی .

د سورت نساء په آخر کښې د ميراث داحکامو نه پس ارشاد دی :

(۱۲) ﴿يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ (۴-۱۷۷)

الله تعالى تاسو ته د دين خبرې لدې کبله بيانوی چه تاسو په گمراهئ کښې نۀ پريوځئ او الله تعال په هر څيز ډير ښه پوهيږی

(۱۳) ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ﴾ (۱۷-۳۴)

او د يتيم د مال خوا ته مۀ ورځئ مگر په داسې طريقه چه مستحسنه وی تر دې پورې چه د خپل بلوغ عمر ته ورسيږی .

(۱۴) ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ﴾ (۱۷-۳۴)

او د يتيم د مال خوا ته مۀ ورځئ مگر په داسې طريقه چه مستحسنه وی تر دې پورې چه د خپل بلوغ عمر ته ورسيږی

(۱۵) ﴿وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ۝ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۝﴾ .

او تاسو د ميراث مال تول په تولو خورئ او مال سره ډير محبت کوئ .

د دې نه پس ئې د قيامت د خطرونو ذکر فرمائيلې دې چه هغه ياد کړئ او دا جرمونه پريږدئ :

(۱۶) عن انس رضی الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه (رواه ابن ماجه ورواه البيهقى فى شعب الايمان)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کوم سړی د خپل وارث حق وخوړلو د قيامت په ورځ به الله تعالى هغۀ له د هغۀ د جنت د حصې نه محرومه کړی .

(۱۷) عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ من كانت له مظلمة لاخيه من عرضه او شئ فليتحلله منه اليوم قبل ان لا يكون دينار ولا درهم ان كان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته وان لم يكن له حسنات اخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه (رواه البخارى)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چا چه په خپل يو ورور ظلم کړې وی نو هغه دې نن په هغۀ معاف کړی د هغې ورځې نه وړاندې چه کله نۀ دينار وی او نۀ درهم . که ظالم سره څه نيک عمل وی نو د هغۀ د

ظلم برابر به هغهٔ نه واخستې شی او مظلوم ته به ورکړې شی . که ظالم سره نیکۍ نوی نو د مظلوم ګناهونه به په هغهٔ کیښودې شی

(۱۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله ﷺ قال اتدرون ما المفلس قالوا المفلس فینا من لادراهم له ولا متاع فقال ان المفلس من امتی من یاتی یوم القیمة بصلوة وصیام وزکوة ویاتی قد شتم هذا وقذف هذا واکل مال هذا وسفك دم هذا وضرب هذا فیعطی هذا من حسناته وهذا من حسناته فان فنیت حسناته قبل ان یقضی ما علیه اخذ من خطایاهم فطرحت علیه ثم طرح فی النار (رواه مسلم)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آیا تاسو پیژنئ چه مفلس څوک دې ؟ صحابه کرامو عرض وکړو چه په مونږ کښې مفلس هغه څوک دې چه هغهٔ سره نهٔ دراهم وی او نهٔ څهٔ سامان . نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه په حقیقت کښې څما د امت نه مفلس هغه څوک دې چه هغه د قیامت په ورځ مونځونه . روژې ، او زکوة وغیره عبادتونه راوړی مګر هغهٔ به چاته کنځل کړې وی په چا به ئې بهتان لګولې وی او د چا به ئې مال خوړلې وی څوک به ئې وهلې وی ، پس هغه مظلومانو ته به د هغهٔ ټولې نیکۍ ورکړې شی . که چیرې د هغهٔ نیکۍ د حقوقو د اداء نه وړاندې ختمې شوې نو د مظلومانو ګناهونه به په هغهٔ کیښودې شی او بیا به هغه د جهنم په اور کښې وغورځولې شی .

(۱۹) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ لتؤدن الحقوق الی اهلها یوم القیمة حتی یقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء (رواه مسلم)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به تاسو اهٔل حقوقو ته خپل حقوق ضرور اوخامخا ورکوئ تر دې پورې چه د ښکرومز والا چیلئ نه به د بې ښکرو د چیلئ بدل واخستې شی .

(۲۰) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ اتقوا الظلم فان الظلم ظلمات یوم القیمة واتقوا الشح فان الشح اهلك من کان قبلکم حملهم علی ان سفکوا دماءهم واستحلوا محارمهم (رواه مسلم)-

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د ظلم نه بچ شئ ځکه چه ظلم به د قیامت په ورځ د ډیرو ظلمتونو (تیارو) باعث وی . او د حرص نه بچ شئ ځکه چه حرص مخکښې امتونه هلاک کړی دی . حرص هغوئ لره په وینو بهولو او حرامو ته په حلالو وئیلو اوچت کړل

(۲۱) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه ان النبی ﷺ قال الظلم ظلمات یوم القیمة (رواه الشیخان)

حضور ﷺ اوفرمائیل چه ظلم به د قیامت په ورځ د ډیرو تیرو او آفتونو باعث وی

(۲۲) عن ابی موسی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله لیملی الظالم حتی اذا اخذه لم یفلته ثم قرء وکذلك اخذ ربك اذا اخذ القری وهی ظالمة -الایة (متفق علیه)

رسول الله ﷺ او فرمائیل چه بیشکه الله تعالی ظالم ته د څهٔ وخته پورې مهلت ورکوی حتی چه کله هغه ونیسی نو بیائې نهٔ پریږدی . دې نه پس حضور ﷺ دا آیت ولوستلو . ((وکذالك اخذ ربك اذا اخذ القری وهی ظالمة)) تر آخره پورې

ترجمه او ستا د رب نیول داسې دی چه کله هغه یو کلی والا ونیسی کله چه هغوی ظلم کوی . بیشکه د هغهٔ نیول ډیر دردناک او سخت دی

(۲۳) عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول الله ﷺ الدواوین ثلاثة دیوان لا یغفر الله الاشراك بالله یقول الله عزوجل ان الله لا یغفر ان یشرك به - ودیوان لا یترکه الله ظلم العباد فیما بینهم حتی یقتص بعضهم من بعض و دیوان لا یعباء الله به ظلم العباد فیما بینهم وبین الله فذالك الی الله ان شاء عذبه وان شاء تجاوز عنه-(رواه البیهقی فی شعب الایمان)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اعمال نامې په درې قسمه دی . (۱) هغه چه الله تعالی ئې نهٔ بښی هغه شرک دې چه د دې په باره کښې الله تعالی فرمائی : ((ان الله لا یغفر ان یشرك به)).

(۲) د بندګانو په یو بل باندې ظلمونه ، چه دا الله تعالی بغیر د قصاص نه اخستو څخه نهٔ بښی

(۳) په حقوق الله کښې کمې کول دا د الله تعالی په نیز غټه خبره نده که هغه غواړی نو عذاب به ورکړی او که غواړی نو وبه ئې بښی .

(۲٤) عن علی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ ایاك ودعوة المظلوم فانما یسئال الله تعالی حقه و ان الله لا یمنع ذا حق حقه (رواه البیهقی فی شعب الایمان) :

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د مظلوم د ښیرو نه وه ویریږئ . ځکه چه هغه د الله تعالی نه خپل حق طلب کوی او الله تعالی یو حقدار نه د هغهٔ حق نهٔ منع کوی .

(۲۵) عن سعید بن زید رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ من اخذ شبرا من الارض ظلما فانه یطوقه یوم القیمة من سبع ارضین (رواه الشیخان)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړی د څا د زمکې نه یوه لویشت ځائ په ظلم سره واخستلو نو هغهٔ ته به د قیامت په ورځ د اوو زمکو نه د هغهٔ طوق اچولې شی

(۲٦) عن ابی الحرة الرقاشی عن عمه رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه (رواه البیهقی فی شعب الایمان والدار قطنی فی المجتبی)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خبردار ظلم مهٔ کوئ . خبردار ، د هیچا مال هم د هغهٔ د طیب خاطر نه بغیر حلال ندې

(۲۷)عن عمران بن حصين رضي الله تعالى عنه عن النبي انه قال من انتهب نهبة فليس منا(رواه الترمذي)
نبي كريم ﷺ اوفرمائيل چه كوم سړى يو څيز غصب كړو هغه زمونږ څخه ندي.

(۲۸)عن سالم عن ابيه رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ من اخذ من الارض شيئا بغير حق خسف به يوم القيمة الى سبع ارضين(البخاري)
رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه چا د چا د زمكې نه په ناحقه څه واخستل هغه به د قيامت په ورځ د اوو زمكو پورې غرق كولې شي.

(۲۹)عن يعلى بن مرة رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول من اخذ ارضا بغير حقها كلف ان يحمل ترابها الى المحشر(رواه احمد)
رسول الله ﷺ اوفرمائيل كوم سړى چه د چا زمكه په ناحقه قبضه كړه نو په حشر كښې به په هغهٔ د دغې زمكې خاوره اچولې شي.

(۳۰)وعنه رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول ايما رجل ظلم شبرا من الارض كلفه الله عزوجل ان يحفره حتى يبلغ آخر سبع ارضين ثم يطوقه الى يوم القيمة حتى يقضى بين الناس(رواه احمد)
رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كوم سړ د چت دزمكې نه يوه لويشت په ظلم سره واخستله نو الله تعالى به ورته د هغې تكليف وركوى چه دې به هغه د اوو زمكو تر آخره پورې وكنى. بيا د قيامت د ورځې تر آخره پورې يعنى د خلقو په منځ كښې د فيصلې پورې بخ هغهٔ ته د هغې خمكې طوق اچولې شي.

د حلال خوراک تاكيد او په حرامو وعيد

پورته په ډيرو آيتونو او احاديثو كښې د چا حق په ظلم سره په اخستلو باندې وعيدونه تيرشوى دى ، دلته يو څو نور آيتونه او احاديث ليكل كيږى:

(۳۱)﴿كُلُوا مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ﴾ (۲-۵۷)
دهغه پاک مال نه خورئ كوم چه مونږ تاسو ته دركړې دې.

(۳۲) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ١٦٨﴾ (۲-۱۶۸)
اې خلقو، كوم څيزونه چه په زمكه كښې موجود دى د هغې نه پاک او حلال څيزونه خورئ او د شيطان په قدم مهٔ چليږئ. په واقع كښې هغه ستاسو صريح دشمن دې

(۳۳) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَـٰتِ مَا رَزَقْنَـٰكُمْ وَٱشْكُرُوا۟ لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ ﴾ (۲-۱۷۲)

اې مؤمنانو ، کوم پاک څیزونه چه مونږ تاسو ته درکړی دی له هغې نه خورئ او د الله تعالی شکر گزاری کوئ ، که چیرې خاص هغهٔ سره د غلامئ تعلق ساتئ .

(۳۴) ﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَـٰطِلِ وَتُدْلُوا۟ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا۟ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ ﴾ (۲-۱۸۸)

او په خپل مینځ کښې د یو بل مال په ناحقه مهٔ خورئ او دغه د دروغو مقدمې حاکمانو ته په دې نیت مهٔ راوړئ چه د دې په ذریعې سره د خلقو د مالونو څه حصه د گناه په طریقه یعنی په ظلم سره وخورئ او تاسو ته د خپل ظلم او د دروغو دعوی معلومه هم وی .

(۳۵) ﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰا۟ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَـٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰا۟ ۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰا۟ ۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ ﴾ (۲- ۲۷۵) .

دا خلق سود خوری (یعنی اخلی) نهٔ به شی ودریدې (په قیامت کښې د قبرونو نه) مگر څنگه چه ودریږی هغه څوك چه هغه شیطان خبطی جوړکړې وی (حیران او مدهوش) دا (سزا) به له دې وجې نه وی چه دوئ وئیلې وو چه بیع هم د سود په شان ده حالانکه الله تعالی بیعه حلاله کړې ده او سودنې حرام کړې دې . بیا چه چا ته د پروردگار نصیحت ورسیدلو او هغهٔ پریښودو نو څه څیز چه د حکم د راتلو نه وړاندې شوې دی هغه د دهٔ شو او د هغهٔ (باطنی) معامله د الله تعالی په حواله شوه او څوك چه واپس وگرځی نو دا خلق به دوزخ ته ورځی او په دې کښې به همیشه وی

(۳۶) ﴿ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَـٰتِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ ﴾ (۲-۲۷٦)

الله تعالی سود ختموی او صدقات زیاتوی او الله تعالی نهٔ خوښوی کفر کونکی او گناه کونکی

(۳۷) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَذَرُوا۟ مَا بَقِىَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ فَأْذَنُوا۟ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ ﴾ .
(۲- ۲۷۸ - ۲۷۹)

اې مؤمنانو ، د الله نه وه ویریږئ او کومه چه د سود بقایا ده هغه پریږدئ که تاسو مؤمنان یئ .

بیا که تاسو (په دې عمل) نهٔ کوئ نو دالله تعالی او د رسول سره د جنگ اعلان واورئ (یعنی تاسو سره به جهاد کولې شی) او که تاسو توبه وکړه نو تاسو ته به ستاسو اصل مال درکړل شی (او د دې قانون نه پس) نهٔ به تاسو په چا ظلم کوئ او نهٔ به په تاسو څوک ظلم کوی

(۳۸) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوا۟ ٱلرِّبَوٰٓا۟ أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ ٱلَّتِىٓ أُعِدَّتْ لِلْكَٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾ ﴾ (۳-۱۳۰-۱۳۱)

ای مؤمنانو ! سود مهٔ خورئ په څو حصو زیاتولو سره او د الله تعالی نه وه ویریږئ ، امید دې چه تاسو به کامیاب شئ ، او د هغه اور نه بچ شئ کوم چه د کافرانو د پاره تیار کړې شوې دې .

(۳۹) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴿١٠٧﴾ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾ ﴾ (۴-۱۰۷-۱۰۸)

بیشکه الله تعالی داسې شخص نهٔ خوښوی چه هغه ډیر خیانت کونکې اوکبرجن وی ، چه دا کیفیت ئې وی چه د خلقو نه ئې پټوی او د الله تعال نه نهٔ شرمیږی حالانکه هغه په دې وخت کښې دهٔ سره وی کله چه دې د الهی د مرضئ خلاف د خبرو متعلق تدبیرونه کوی او الله تعالی د دهٔ ټول اعمال په خپله احاطه کښې اخستی دی .

(۴۰) ﴿ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ﴾ (۶-۱۵۳)

تاسو ناپ او تول پوره پوره کوئ انصاف سره .

(۴۱) ﴿ فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ ﴾ (۷-۸۵)

تاسو ناپ او تول پوره کوئ او خلقو لره د هغوئ په څیزونو کښې نقصان مهٔ ورکوئ .

(۴۲) ﴿ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾ (۲-۸۷)

خورئ پاک هغه څیزونه چه مونږ تاسو له درکړې دی .

(۴۳) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾ . (۹-۳۴-۳۵)

اې مؤمنانو ؛ اکثر د يهودو او نصارى علماؤ او مشايخو د خلقو مالونه په نامشروعه طريقې سره خوري او د الله تعالى د لارې نه ئې لرې ساتي او په انتهايي حرص سره چه کوم خلق سره او سپين زر جمع کوي او دا د الله تعالى په لار کښې نۀ خرچ کوي نو تاسو هغوئ ته د يو لوئ دردناک عذاب خبر ورکړئ چه کوم به په هغه ورځ واقع کيږي چه هغه به د دوزخ په اور گرمولې شي او په هغې سره به د دغې خلقو تندي ، څټونه او خيټې داغ کولې شي . دا هغه مال دې کوم چه تاسو د ځان د پاره جمع کړې وو نو اوس د جمع کولو مزه وڅکئ .

(٤٤)﴿وَلَا تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ ۚ إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ﴾ (١١-٨٤)

او تاسو په ناپ اوتول کښې کمې مۀ کوئ . زۀ تاسو د فراغت په حالت کښې وينم او څما په تاسو د داسې ورځې د عذاب شک دې چه هغه د مصيبتونو د انواعو جامعه ده .

(٤٥) ﴿وَيَٰقَوْمِ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ﴾ (١١-٨٥)

اې قومه څما تاسو ناپ اوتول پوره کوئ او خلقو لره د هغوئ په څيزونو کښې نقصان مۀ کوئ.

(٤٦)﴿وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾﴾ (١٧-٣٥)

او که ناپ تول کوئ نو پوره ناپ کوئ او په صحيح تلې سره تول کوئ . دا بهتره خبره ده او د دې انجام هم ډير ښۀ دې .

(٤٧)﴿كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا۟ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِى ۖ وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِى فَقَدْ هَوَىٰ ﴿٨١﴾﴾ (٢٠-٨١)

مونږ چه کوم ښائسته څيزونه تاسو له درکړې دی هغه خورئ په دې کښې د حد شرعی نه مۀ تيريږئ هسې نه چه څما غضب په تاسې باندې واقع شی او چه په چا باندې څما غضب واقع شی نو هغه بالکل هلاک شو

(٤٨)﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾﴾ (٢٣-٥١)

اې پيغمبرانو ، تاسو ، اوستاسو امت ، پاک څيزونه خورئ . او نيک کارونه کوئ او زۀ ستاسو به کړې شوې کارونو ښه پوهه يم

(٤٩)﴿أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾﴾ (٢٦-١٨١)

تاسو پوره ناپ کوئ او کم والي مه کوئ

(۵۰)﴿ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿۱۸۲﴾ ﴾ . (۲٦-۱۸۲)

او په سمه اونيغه تله باندې تول کوئ.

(۵۱)﴿ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ ﴾ (۲٦-۱۸۳).

او خلقولره د هغوئ په څيزونو کښې نقصان مه ورکوئ.

(۵۲)﴿ وَمَا آتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِندَ اللَّهِ ۖ وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ ﴿۳۹﴾ ﴾ (۳۰-۳۹)

او کوم څيز چه تاسو په دې غرض ورکوئ چه د خلقو مال ته په رسيدو سره زيات شى نو دا د الله په نيزد نۀ زياتيږى او کوم چه زکوة ورکوئ چه د الله تعالى رضا پرې مقصود وى نو داسې خلق د الله سره زياتيږى.

(۵۳)﴿ وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ﴿۷﴾ أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ ﴿۸﴾ ﴾ (۵۵-۷، ۸)

او هغۀ تله ايښې ده . د دې لپاره چه تاسو په تول کولو کښې کمى اوزياتې ونۀ کړئ.

(۵٤)﴿ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴿۹﴾ ﴾ (۵۵-۹)

او انصاف سره وزن صحيح ساتئ او تول مه کموئ.

(۵۵)﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴿۱﴾ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿۲﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿۳﴾ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۵﴾ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾ ﴾ . (۸۳-۱تا ٦)

ډيره خرابى ده په ناپ تول کښې کمى کونکو دپاره چه کله دخلقو نه څه اخلى نو پوره يې اخلى او چه کله هغوئ ته څه ورکوى نو کمې پکښې کوى. آيا دې خلقو ته د دې يقين نشته چه په ډيره سخته ورځ به دوئ ژوندى پورته کړې شى چه په کومه ورځ به ټول خلق د رب العلمين په وړاندې ودريږى

د يهودو په مذمت او بدى کښې فرمائى

(۵٦)﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ﴿۱٦۰﴾ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿۱٦۱﴾ ﴾ (٤-۱٦۰، ۱٦۱)

د يهودو د داسې لويو لويو جرمونو په سبب ډير پاک څيزونه چه د هغوئ د پاره حلال وو موږ

په هغوئ حرام کړل او په دې سبب چه دوئ د ډیرو خلقو د پاره د الله تعالی په لاره کښې مانع جوړیدل او په دې سبب چه دوئ به سود کولو حالانکه هغوئ د دې نه منع شوی وو او په دې سبب چه هغوئ به د خلقو مال په ناحقه طریقې سره خوړلو اومونږ د هغې خلقو د پاره کوم چه د دوئ نه کافران دی دردناک عذاب تیار کړې دې.

(۵۷)﴿سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ﴾(۵-۴۲)

دا خلق د غلطو خبرو د آوریدو عادتی دی او ډیر حرام خورونکی دی.

(۵۸)﴿وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾﴾ (۵-۶۲)

او تاسو په دوئ کښې ډیر خلق داسې وینئ. چه هغوئ په منډه منډه د ګناه او ظلم او حرامو خوړلو باندې ورغورزیږی. واقعی چه د دوئ دا کار بد دې.

(۵۹)﴿لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾﴾(۵-۶۳)

د دوئ مشایخ او علماء دوئ لره د ګناه د خبرې او د سود خوړلو نه ولې نهٔ منع کوی ؟ واقعی چه د هغوئ دا عادت ډیر بد دې.

(۶۰)عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ ان الله طیب لایقبل الا طیبا و ان الله امر المؤمنین بما امر به المرسلین فقال یایها الرسل کلوا من الطیبات واعملوا صالحا. وقال یایها الذین آمنوا کلوا من طیبت ما رزقنکم ثم ذکر الرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمد یدیه الی السماء یارب یارب ومطعمه حرام و مشربه حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذلک(رواه مسلم)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیشکه الله تعالی پاک دې او هغه صرف هم پاک څیز قبلوی او بیشکه الله تعالی مؤمنانو ته هم د هغه څیز حکم ورکړې دې چه د څه یی رسولانو ته حکم کړې دې. پس وې فرمائیل چه ای پیغمبرانو خوراک کوئ د پاکو څیزونو نه او نیک عمل کوئ او وې فرمائیل چه ای مؤمنانو تاسو خوراک کوئ د پاکو څیزونو نه کوم چه مونږ تاسو له درکړې دی. بیا حضور ﷺ د داسې سړی ذکر وکړو چه هغه اوږد سفر وکړی. خیرن وېښتهٔ ئې وی دوړو وهلې وی او آسمان طرف ته لاس خور کړی او ای ربه ای ربه آوازونه کوی حالانکه د هغهٔ خوراک به حرام وی څښاک به ئې حرام وی. لباس به ئې حرام وی او د هغهٔ غذا به حرامه وی نو د دهٔ دعا بهٔ څنګه قبوله کړې شی؟

(۶۱) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ یاتی علی الناس زمان لایبالی المرء ما اخذ منه امن الحلال ام من الحرام (رواه البخاری) زاد رزین فاذا ذالک لا تجاب لهم دعوة (جمع الفوائد)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په خلقو به داسې زمانه راشي چه انسان به د دې خبرې هیڅ پرواه نکوی چه مال ئې د کوم ځائ څخه حاصل کړو د حلال نه او که د حرام نه . رزین دا الفاظ هم روایت کړي دی چه : «پس هغه وخت به د هغوئ دعاګانې نهٔ قبلیږی» .

(۶۲) عن نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ الحلال بین والحرام بین وبینهما مشتبهات لا یعلمهن کثیر من الناس فمن اتقی الشبهات استبرء لدینه وعرضه ومن وقع فی الشبهات وقع فی الحرام کالراعی یرعی حول الحمی یوشک ان یرتع فیه الا وان لکل ملک حمی الا وان حمی الله محارمه الا وان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله الا وهی القلب (رواه الشیخان)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه حلال ښکاره دی او حرام هم ښکاره دی او د دې دواړو په مینځ کښې څه څیزونه مشتبه دی چه دې نه ډیر خلق غافل دی پس څوک چه دې مشتبه څیزونو نه بچ شو نو هغهٔ خپل دین او خپل عزت بچ کړو او څوک چه په دې مشتبه څیزونو کښې واقع شو هغه به په حرامو کښې واقع شی لکه چه یو شپونکې د چا خاص صحراء سره نزدې خپل خاروی څروی نو دا لرې نده چه یو وخت به دا خاروی دغې صحراء ته داخل شی . خبردار ! بیشکه د هر باشاه د پاره خپله مخصوصه صحراء او ممنوعه علاقه وی. خبردار ! بیشکه د الله تعالی ممنوعه علاقه د هغهٔ حرام کړې شوې اشیاء دی. خبردار ! بیشکه په بدن کښې یوه د غوښې ټکړه ده کله چه دا صحیح شی نو ټول بدن صحیح شی او کله چه دا خرابه شی نو ټول بدن خراب شی . خبردار ! هغه ټوکره زړهٔ دې

(۶۳) عن الحسن بن علی رضی الله تعالی عنه قال حفظت من رسول الله ﷺ دع ما یریبک الی مالا یریبک (رواه احمد والترمذی والنسائی)

حضرت حسن بن علی رضی الله تعالی عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه دا هدایت حفظ کړو چه مشتبه څیزونه پریږده اوغیر مشتبه اختیار کړه .

تنبیه هر کله چه حضور ﷺ د شبهې د څیزونو نه د بچ کیدو دومره سخت تاکید فرمائیلې دې نو غور وکړئ چه له حرامو نه بچ کیدل به څومره مؤکد او اهم وی . الله تعالی دې هر مسلمان ته په دې خبره د پوهې توفیق ورکړی . آمین .

(۶۴) عن عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه عن رسول الله ﷺ قال لا یکسب عبد مالا من حرام فیتصدق منه فیقبل منه ولا ینفق منه فیبارک له فیه ولا یترکه خلف ظهره الا کان زاده الی النار ان الله لا

يمحوا السيئ بالسيئ ولكن يمحوا السيئ بالحسن ان الخبيث لا يمحوا الخبيث (رواه احمد)
رسول الله ﷺ او فرمائیل چه یو انسان حرام و گټی او د هغې نه صدقه کوی نو هغه صدقه نه قبلیږی او که د هغه حرام مال نه په خپلو ضروریاتو کښې خرچ کوی نو دهغهٔ د پاره په دې کښې برکت نهٔ اچول کیږی او چه حرام مال پریږدی او وفات شی نو هغه صرف د جهنم سامان وی . بیشکه الله تعالی گناهونه د حرام مال په صدقې سره نهٔ ختموی بلکه د حلال مال په صدقې سره گناهونه ختموی. «خبیث مال د گناهونو خبث نشی ختمولې».
تنبیه د حرام مال په صدقې کولو سره د ثواب امید لرلو ته فقهاؤکرامو ﷺ کفر ونیلې دې

(٦٥) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ لا يدخل الجنة لحم نبت من السحت وكل لحم نبت من السحت كانت النار اولى به (رواه احمد والدارمي والبيهقي)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کومه غوښه د حرامو نه پیدا شی هغه به جنت ته نهٔ ځی . او هر هغه غوښه چه د حرامو نه پیدا شی د جهنم د اور مستحقه ده .

(٦٦) عن عائشة رضی الله تعالی عنه قالت كان لابی بكر رضی الله تعالی عنه غلام يخرج له الخراج فكان ابوبكر رضی الله تعالی عنه يأكل من خراجه فجاء يوما بشئ فاكل منه ابوبكر قال له الغلام تدرى ما هذا فقال ابوبكر رضی الله تعالی عنه وما هو قال كنت تكهنت لانسان فی الجاهلية وما احسن الكهانة الا انى خدعته فلقينى فاعطانى بذالك فهذا الذى اكلت منه قالت فادخل ابوبكر رضی الله تعالی عنه يده فقاء كل شئ فی بطنه (رواه البخاری)-

د حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه یو غلام وو چه هغهٔ به دوئ ته د مال یو معین مقدار ادا کولو . حضرت ابو بکر رضی الله تعالی عنه به د هغه مال نه خوراک کولو . پس هغهٔ یوه ورځ څهٔ راوړل چه ابوبکررضی الله تعالی عنه ترې څه خوراک وکړو . بیا ترې غلام پوښتنه وکړه چه آیا تاسو ته معلومه ده چه دا څه دی ؟ نو حضرت ابو بکر رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل چه دا څه دی؟ نو غلام وه ونیل چه ما د جاهلیت په زمانه کښې دیو سړی د پاره فال راویستې وو حالانکه ما فال نه شو کتلې لیکن ما هغهٔ له دهوکه ورکړه . اوس هغه سړي له ماسره مخامخ شو نو د هغې په بدله کښې نې ماته دغه څیز راکړو. دا هغه څیز دې کوم چه تاسو وخوړلو . ابوبکر رضی الله تعالی عنه گوتې په خله کښې داخلې کړې او څه چه نې په خیټه کښې وو ټول یې قې کړل

(٦٧) عن ابی بكر رضی الله تعالی عنه ان رسول الله ﷺ قال لا يدخل الجنة جسد غذی بالحرام (رواه البيهقى فی شعب الايمان)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم جسم ته په حرامو غذا ورکړې شوې وی نو هغه به جنت کښو

نه داخليږي

(٦٨) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه قال من اشترى ثوبا بعشر قدراهم وفيه درهم حرام لم يقبل الله تعالى له صلوة ما دام عليه ثم ادخل اصبعيه في اذنيه وقال صمتان ان لم يكن النبي ﷺ سمعته يقوله (رواه احمد)

حضرت ابن عمر رضى الله تعالى عنه اوفرمائيل چه چا د لسو دراهمو په عوض كپړه واخسته او په هغې كښې يو درهم حرام وو نو څو پورې چه دغه كپړه دهغهٔ په بدن وى الله تعالى به د هغهٔ مونځونه نهٔ قبلوى بيائې په خپلو غوږونو كښې دواړه ګوتې داخلې كړې او وې فرمائيل كه چيرې ما د حضور ﷺ نه داسې نوى آوريدلې نو دا دواړه غوږونه دې كاڼه شى

(٦٩) ابوالطفيل رحمه الله رفعه من كسب مالا من حرام فاعتق ووصل منه رحمه كان ذلك اصر الكبير بضعف (جمع الفوائد)

حضور ﷺ اوفرمائيل چه چا د حرامو نه څه مال وګټلو . بيا ئې په هغې غلام آزاد كړو او په هغې ئې صله رحمى وكړه نو د ثواب په ځائ به ئې ګناه كيږى .

مخكښې تير شوى دى چه فقهاء كرامو ﷺ د ثواب په نيت په حرام مال سره صدقه كولو ته كفر وئيلى دى

(٧٠) ميمونة بنت سعد رضي الله تعالى عنها قالت افتنا يارسول الله عن السرقة قال من اكلها وهو يعلم انها سرقة فقد شرك في اثم سرقتها للكبير بخفى (جمع الفوائد)

حضرت ميمونة رضى الله تعالى عنها عرض وكړو چه يا رسول الله ﷺ مونږ ته د غله حكم اوښايئ . حضور ﷺ اوفرمائيل چه څوك پوهيږى چه دا د غله مال دې او د هغې خوراک ئې وكړو نو بيشكه چه دې د هغه په غلا كښې شريک شو .

تنبيه د دې حديث نه دې هغه خلق سبق حاصل كړى چه هغوئ قصدا اوعمدا د داسې خلقو سره خوراک څښاک كوى چه د هغوئ ګټه حرامه وى يا د وارثانو او يتيمانو مال خورى

(٧١) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ المعدة حوض البدن والعروق اليها واردة فاذا صحت المعدة صدرت العروق بالصحة واذا فسدت المعدة صدرت العروق بالسقم (رواه البيهقي في شعب الايمان)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه معده د بدن حوض دې . د بدن رګونه هلته رسيدلى وى. پس چه كله معده صحيح وى نو رګونه صحيح والې مينځ ته راوړى او كله چه معده فاسده وى نو رګونه بيمارى مينځ ته راوړى

په دې حديث كښې اګر چه دظاهرى او جسمانى صحت او مرض بيان دې مګر بيشكه چه د باطنى صحت او مرض همدا حال دې

د خيټې مثال د هغه حوض غوندې دې چه د هغې نه اخوا ديخوا پُولو کښې سبزې او ګلونه وی او د هغې حوض نه د نالو (لښتيو) په ذريعه دا پُولې خړوب کولې شی نو که د حوض اوبهٔ پاکې وی او پوره پوره قوت ناميه پکښې وی نو دا پولې (دوپچې) به ښه مزيداره سبزی او ګلونه زرغون کړی او که د حوض په اوبو کښې شوره يا کاسټک وغيره وی نو په پولو کښې کرلې شوې تخم به وسوزی .د غه شان که په خيټه کښې غذا حلاله او پاکه وی نو د هغې نه به صالحه وينه پيدا کيږی او د وريدونو او د شريانونو په ذريعه به سترګو . غوږونو وغيره ته چه کومه غذا رسی نو په دې سره به په دې اعضاؤ کښې نمو او ميوې او ګلونه راخی . يعنی د الله تعالی په عبادت او رضاکولو کښې به مشغول وی او که په خيټه کښې غذا حرامه او خبيثه وی نو دې نه به فاسده وينه پيدا کيږی چه دغه به د وريدونو او شريانونو په ذريعه اعضاؤ ته رسيږی او د هغې قدرتی صلاحيت يعنی خدا ترسی او د الله تعالی د اطاعت استعداد به وسوزوی او داسې اعضاؤ ته د حسناتو توفيق نه ورکول کيږی .

(۷۲) عن ابی هريرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ اتيت ليلة اسری بی علی قوم بطونهم کالبيوت فيها الحيات تری من خارج بطونهم فقلت من هؤلاء ياجبرائيل قال هؤلاء اکلة الربا وفی رواية من امعك (رواه احمد وابن ماجة)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د معراج په شپه په يوه داسې ډله تيرشوم چه د هغوئ خيټې دمکانونو (کوټو) غوندې (لوئ لوئ) وې او دننه پکښې ماران وو چه د خيټې نه بهر ښکاريدل . ما ووئيل چه اې جبرئيله دا خلق څوک دی ؟ هغهٔ اوفرمائيل دا سودخوارهٔ دی .

(۷۳) عن سمرة بن جندب رضی الله تعالی عنه عن النبی ﷺ قال فانطلقنا حتی اتينا علی نهر من دم فيه رجل قائم علی وسط النهر وعلی شط النهر رجل بين يديه حجارة فاقبل الرجل الذی فی النهر فاذا اراد ان يخرج رمی الرجل بحجر فی فيه فرده حيث کان فجعل کلما جاء ليخرج رمی فی فيه بحجر فيرجع کما کان فقلت ما هذا قالا والذی فی النهر آکل الربا (رواه البخاری)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه مونږ (رسول الله ﷺ او جبرائيل او ميکائيل عليهم السلام) وړاندې لاړو تر دې چه دوينې په يو نهر مونږ تير شو . د هغې نهر په مينځ کښې يو سړې ولاړ وو او په غاړه يې بل سړې وو چه هغهٔ سره کانې وو بيا د نهر والا د غاړې طرف ته راغې او کله چه د نهر نه وتلو نو هغه بهرنی سړی هغه په خوله په کانی وه ويشتلو او بيا ئې خپل ځائ ته واپس کړو . دغه شان چه کله به هم نهر والا سړې بهر راتلو نو بهر والا سړی به په کانی ويشتلو او واپس کولو بهٔ ئې . ما پوښتنه وکړه چه دا څوک دې ؟ هغوي وه وئيل چه کوم سړې په نهر کښې دې دا

سود خور دي

(٧٤) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربا ومؤکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء-(رواه البخاری ومسلم ولفظه المسلم

لعنت فرمائیلي دي رسول الله ﷺ په سود خور باندي . اونورو ته په خورولو والا باندي . او د سود معامله لیکونکی باندي او د سود د معاملي په دوارو گواهانو باندي. او وي فرمائیل چه دا ټول په گناه کښي برابر دی .

(٧٥) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله الربا سبعون جزء ایسرها ان ینکح الرجل امه (ابن ماجة والبیهقی)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د سود اویا حصي دی او په ټولو کښي کمه حصه داسي ده لکه چه څوک د خپلي مور سره زنا وکړی .

(٧٦) عن عبدالله بن حنظلة غسیل الملئکة قال قال رسول الله ﷺ درهم ربوا یاکله الرجل وهو یعلم اشد من ستة وثلثین زنیة-(رواه احمد والدر قطنی)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د سود یو درهم چه یو سړي ئي سره د پوهي خوری د شپږ دیرش زناگانو نه هم بدتر دي

وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابن عباس. وزادو قال من نبت لحمه من السحت فالنار اولی به.

او بیهقی په شعب الایمان کښي دا روایت د ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت کړي دي او په هغي کښي دا مضمون هم دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د چا غوښه د حرام مال نه پیدا وی هغه د اور مستحق دي

له دنیا نه زهد (بي رغبتی) او د آخرت ترغیب

(٧٧) ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ ۞ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾ ﴾(٣-١٤-١٥)

ښائسته معلومیږی (اکثر) خلقو ته محبت په مرغوب څیزونو کښي (مثلا) ښځي شوي . خامن شو . د سرو او سپینو زرو مهر کړي شوی انبارونه . آسونه شو یا نور څاروی شو او زراعت شو

لیکن دا بول استعمالي ځيزونه دي د دنيوي ژوند. او د آخري كار خوبي خو الله تعالى سره ده - تاسو ورته اوفرمايئ چه آيا تاسو ته داسې ځيز وښايم چه هغه په خو درجو بهتر وي د هغه ځيزونو نه ښوواوزئ، د داسې خلقو د پاره (کوم چه الله نه) ويريږي د دوئ د مالک حقيقي سره داسې باغونه دي چه د هغې لاندې نهرونه جاري دي په هغې کښې به هميشه هميشه د پاره اوسيږي او دهغوئ د پاره داسې بيبيانې دي چه صفا ستره دي او دهغوئ د پاره خوشخبري ده د الله تعالى د طرفه او الله تعالى ښهٔ کتونکې دې خپلو بندګانو لره.

(۷۸)﴿وَمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ الْغُرُورِ﴾ (۳-۱۸۵)

او د دنيا ژوند هيڅ ندې صرف د دوکې سودا ده.

(۷۹)﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَـٰدِ ﴿١٩٦﴾ مَتَـٰعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾﴾ (۳-۱۹۶-۱۹۷)

تاسو دې د دغې کافرانو په ښار کښې ګرځيدل راګرځيدل په مغالطه کښې نهٔ اچوي. ديو څو ورځو بهار دې، بيا به دهغوئ ځائ دوزخ وي، او هغه ډيره بده آرامګاه ده.

(۸۰)﴿فَلْيُقَـٰتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَوٰةَ الدُّنْيَا بِالْـَٔاخِرَةِ ۚ﴾ (٤-٧٤)

او هغه چا لره پکار دي چه دالله په لاره کښې هغه خلقوسره جنګ وکړي چه چا د آخرت په بدله کښې دنيوي ژوند اختيار کړې دې.

(۸۱)﴿قُلْ مَتَـٰعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا﴾ (٤-٧٧)

تاسو اوفرمايئ چه د دنيا تمتع محض د يو څو ورځو ده او آخرت په هراعتبار سره بهتر دې دهغه چا د پاره چه د الله تعالى دمخالفت نه بچ شي او په تاسو به د کجورې د تار برابر هم ظلم نهٔ کيږي

(۸۲)﴿تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ﴾ (٤-٩٤)

تاسو د دنيوي ژوند د سامان خواهش کوئ پس د الله تعالى سره ډير د غنيمت مال دې

(۸۳)﴿وَمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَآ إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۖ وَلَلدَّارُ الْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٣٢﴾﴾ (٦-٣٢)

او دنيوي ژوند خو هيڅ هم ندې بغير له لهو او لعب نه. او د آخرت کور د متقيانو د پاره بهتر دې. آياتاسو فکر نلرئ او نه پوهيږئ

(۸٤)﴿وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ

نَفۡسُۢ بِمَا كَسَبَتۡ لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ وَإِن تَعۡدِلۡ كُلَّ عَدۡلٖ لَّا يُؤۡخَذۡ مِنۡهَآۗ أُوْلَٰٓئِكَ

ٱلَّذِينَ أُبۡسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْۖ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٠﴾ (۶-۷۰).

او د داسې خلقو نه بالکل په يو طرف اوسيږه کومو چه خپل دين لوبې توقې گرځولې دې . او دنيوی ژوند هغوئ په دوکه کښې غورځولی دی او د قرآن په ذريعې سره نصيحت هم کوه دې د پاره چه يو سړې په خپل کردار سره داسې گير نۀ شی چه څوک غير الله. نۀ د هغۀ مددگار جوړشي او نۀ سفارش کولو والا . او (دا کيفيت دې چه) که د ټولې دنيا معاوضه هم ورکړی نو دهغۀ نه دې وانخستې شی . دې هم داسې دې چه د خپل کردار د وجې گيرشوې دې . د دوئ دپاره به ډيرې گرمې (ويشيدلې) اوبۀ د څښلو د پاره وی او دردناکه سزا به وی د خپل کفر په سبب .

(۸۵) ﴿وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾﴾ (۸-۲۸)

او تاسو دا خبره ياده ساتئ چه ستاسو مالونه او ستاسو اولاد د امتحان څيزونه دی او دا خبره هم ياد ساتئ چه د الله تعالی ډير لوئ اجر دې

(۸۶) ﴿تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ﴾ (۸-۶۷)

تاسو د دنيا مال او اسباب غواړئ او الله تعالی آخرت غواړی

(۸۷) ﴿قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾﴾ (۹-۲۴)

تاسو اوفرمايئ که چيرې ستاسو پلاران او ستاسو ځامن او ستاسو وروڼه او ستاسو بيبيانې او ستاسو کورنئ او هغه مال کوم چه تاسو گټلې دې او تجارت چه په هغې کښې د کمی نۀ کيدو تاسو ته ويره وی او هغه کور چه تاسونې خوښوئ تاسو ته د الله او د الله د رسول ﷺ نه او د هغۀ په لاره کښې د جهاد کولو نه زيات محبوب وی نو تاسو په انتظار کښې اوسئ تر دې چه الله تعالی خپل حکم راوليږی او الله تعالی نافرمانه خلقو لره د هغوئ مقصود ته نرسوی .

(۸۸) ﴿أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ - (۹-۳۸)

آيا تاسو د آخرت په عوض کښې د دنيا په ژوند قناعت وکړو ؟ د دنيوی ژوند تمتع د آخرت په مقابله کښې هيڅ نده بلکه ډيره لږه ده

(۸۹) ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾﴾ (۹-۵۵).

پس د دوئ دا اموال او اولاد دې تاسو په تعجب کښې ونهٔ غورځوی . الله تعالی ته صرف دا منظوره ده چه د دې څیزونو د وجې په دنیوی ژوند کښې دوئ لره په عذاب کښې گرفتار وساتی او د دوئ سا هم د کفر په حالت کښې ووځی

(۹۰) ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾﴾ (۹-۸۵).

او دهغوئ اموال او اولاد دې تاسو لره په تعجب کښې ونه غورځوی . الله تعالی ته صرف دا منظور دی چه د دې څیزونو د وجې نه دوئ لره په دنیا کښې په عذاب کښې گرفتار کړی او د دوئ روح په حالت د کفر کښې ووځی .

(۹۱) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَٱطْمَأَنُّوا۟ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنْ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ﴿٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨﴾﴾ (۱۰-۷، ۸)

او کومو خلقو سره چه زمونږ طرف ته د راتلو خیال او فکرنشته او په دنیوی ژوند باندې راضی شوی دی او په دې کښې ئې زړهٔ لگولې دې او کوم خلق چه زمونږ د آیتونو نه غافله دی د داسې خلقو ټکانه (داوسیدو ځای) د هغوئ د اعمالو د وجې نه دوزخ دې .

(۹۲) ﴿إِنَّمَا مَثَلُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلْأَنْعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَآ أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِٱلْأَمْسِ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾﴾ (۱۰-۲۴)

بس د دنیوی ژوند حالت داسې دې لکه مونږ چه آسمان نه باران وکړو بیا په هغې سره د زمکې ونې بوټی کوم چه خلق او ځاروی خوری ښهٔ ګڼ زرغون شی تر دې چه کله هغه زمکه د خپل رونق پوره حصه واخلی او د دې نه ښائسته والې وشی او د دې مالکان دا وګڼی چه مونږ اوس په دې بالکل دخل شوې یو نو د ورځی یا د شپې په دې باندې زمونږ د طرفه څه آفت راغې نو مونږه د سې ختم کړل چه ګوې دا پرون بالکل موجود نه وو . مونږ هم داسې آیتونه صف صف بیانوو د سې خلقو د پاره چه کوم فکر کوی

(۹۳) ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَٰلَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا۟ فِيهَا وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾ . (۱۱-۱۲، ۱٦)

خوك چه محض دنيوى ژوند او د دې رونق غواړى نو مونږ د هغه خلقو اعمال هم په دنيا كښې په پوره طور سره وركوو او د هغوئ د پاره په دنياكښې هيڅ كمې نوى دا داسې خلق دى چه دوئ دپاره په آخرت كښې د دوزخ نه بغير هيڅ نشته او دوئ چه څه كړى دى هغه ټول به په آخرت كښې بې كاره وى او كوم څه چه كوى هغه هم بې اثره دى

(۹٤) ﴿ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ وَفَرِحُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٌ ﴿٢٦﴾ ﴾ (۱۳-۲٦)

او الله تعالى چه چاته وغواړى رزق زيات وركوى . او تنګوى يى او دا خلق په دنيوى ژوند خوشحاليږى او دا دنيوى ژوند د آخرت په مقابله كښې بغير د متاع قليل نه نور هيڅ نه دې .

(۹۵) ﴿ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ ﴾ . (۱۵-۸۸)

او تاسو په خپلو ستركو اوچتولو سره هغه څيز ته مه ګورئ كوم چه مونږ مختلف قسم كافرانو ته دفائدې اخستلو د پاره وركړې دى او په دوئ باندې مه غمژن كيږئ او ښكته كړه خپل وزر مؤمنانو د پاره

(۹٦) ﴿ وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِىِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ ﴾ (۱۸-۲۸)

او خپل ځان هغه كسانو سره قيد وساتئ كوم چه د خپل رب عبادة سحر اومابنام صرف د هغهٔ د رضا دپاره كوى او د دنيوى ژوند د رونق په خيال سره ستاسو ستركې د هغوئ نه لرې نهٔ شى او د داسې چا وينا مهٔ منى چه د هغهٔ زړهٔ مونږه د خپل ياد نه غافله كړې دې او هغه د خپل نفسانى خواهش مطابق چليږى او دهغه حال د حد نه تير دې

(۹۷) ﴿ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ فَأَصْبَحَ

هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيَٰحُ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿٤٥﴾ (۱۸-٤٥)

او تاسو دغې خلقو ته د دنيوي ژوند حالت بيان كړئ ، هغه داسې دي لكه چه مونږ آسمان نه اوبۀ وه وروليې بيا د دې په ذريعې سره د زمكې ونې بوټي ښه كړې وتو كيدل بيا هغه زره زره شول چه هغه هوا وړي وي او الله تعالى په هرڅيز پوره قدرت لري .

(۹۸) ﴿ الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۖ وَالْبَٰقِيَٰتُ الصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ﴿٤٦﴾ (۱۸-٤٦)

مال او اولاد د دنيا د ژوند يو رونق دي او كوم اعمال صالحه چه باقي پاتي كيدونكې دي هغه ستاسو د رب په نيزد دثواب په اعتبار سره زرگونه درجې بهتر دي او د اميد په اعتبار سره هم په زرگونو درجې بهتر دي .

(۹۹) ﴿ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾ (۲۰-۱۳۱، ۱۳۲)

او هرگز دهغه څيزونو طرف ته سترگې مۀ اوچتوئ اومۀ گورئ چه په هغې سره مونږ د هغې (كفارو) مختلفو ډلو ته د هغوئ د امتحان د پاره وركړي دي چه هغه د دنيوي ژوندښائست دې او ستاسو د رب عطيه په څو درجو بهتره ده اوباقي پاتې كيدونكې ده او خپلو متعلقينو ته هم د مونځ حكم وركوئ او خپله هم د دې پابند اوسئ ، مونږ ستاسو نه روزى نۀ غواړو ، روزى مونږ تاسو ته دركوو او بهتر انجام خو پرهيزگارى ده .

(۱۰۰) ﴿ وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾ (۲۰-٦۰)

او څه چه تاته دركړې شوې دى هغه د دنيوي ژوند عارضى سامان دې او د دې ځائ ښائست دې او كوم چه الله سره دې نو هغه دې نه په څو درجو بهتراوهميشه پاتې كيدونكى دى آيا تاسو پدې خبره نه پوهيږئ ؟

(۱۰۱) ﴿ أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ مَتَٰعَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿٦١﴾ (۲۸-٦۱)

هغه څو چه هغۀ سره مونږه يو خوښه كړې شوې وعده كړې ده بيا هغه سرې د دغې موندونكې دې آيا دهغې سرى غوندې كيدې شى چاته چه مونږه د دنيوي ژوند د يوڅو ورځوفائدې وركړى دى

او هغه به بیا د قیامت په ورځ د هغه کسانو سره وي چه هغه به گرفتار کړي شي او بوتلې به شي

(۱۰۲) ﴿إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْأَلُ عَن ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ ۖ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ بِالْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَا أَن مَّنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٢﴾﴾ (۲۸- ۷۶ تا ۸۲)

قارون د موسی علیه السلام د قوم څخه وو نو هغهٔ (د مال د ډیر والی دوجې نه) د دوئ په مقابله کښې تکبر شروع کړو او مونږ دهٔ ته دومره خزانې ورکړې وې چه د هغې کونجیانو (کلیانې) به ډیر طاقتور طاقتور خلق درانهٔ گرځول. کله چه دهٔ ته موسی علیه السلام وه ویل چه تکبر مهٔ کوه . بیشکه الله تعالی تکبر کونکی نهٔ خوښوی او الله چه تاله څومره څه درکړې دی په هغې کښې د آخرت کوشش هم کوه او دنیا نه د آخرت حصه ورل مهٔ خرابه وه او څنگه چه الله تعالی تا سره احسان کړې دې نو تهٔ هم د بندگانو سره احسان کوه او په دنیا کښې د فساد کولو ولا مهٔ جوړیږه، بیشکه الله تعالی اهل فساد نهٔ خوښوی، قارون وه وئیل : دا هر څه ماته څما په خپل هنر ملاؤ شوی دی . آیا قارون په دې پوهه نهٔ وو چه الله تعالی د دې نه وړاندې تیرشوی امتونو کښې داسې خلق هلاک کړې دی چه هغوئ په قوت کښې هم د دوئ نه زیات وو او مجمع ئې هم د دوئ نه زیاته وه او د اهل جرم نه به د هغوئ د گناهونو د تحقیق په غرض پوښتنه نشی کولې .بیا هغه د خپل ښائست سره د خپلو خپلوانو په وړاند راؤوتلو نو چه کوم خلق د دنیا طالبان وو هغوئ وه ویل چه څه ښهٔ به وو چه هغه مال او سامان مونږ ته هم راکړل شوې وې کوم چه قارون ته ورکړل شوې دې .واقعی دې ډیر لویې حصې والا دې او کومو خلقو ته چه پوهه ورکړې شوې وه هغوئ وه ویل ای هلاکت دې وی ستا سو. د الله تعالی ثواب د دې دنیوی مال اوفکر نه په زرگونو درجه بهتر دې چه هغه داسې

سري ته ورکول کيږي چه ايمان راوړي او نيک عمل وکړي . او دغه ثواب به کامل طور هغې خلقو ته ورکول کيږي چه هغوی د دنيا د حرص او طمعې نه صبر کونکي دي . بيا مونږه قارون او د هغه محل په زمکه کښې ډوب کړو نو داسې هيڅ يوه ډله نه وه چه هغه ئې د الله تعالی دعذاب نه بچ کړې وې او په خپله ئې هم خان بچ نه کړې شو او کومو خلقو چه دهغوی غوندې کيدو آرزو کوله هغوی وه وئيل . بس داسې معلوميږي چه الله تعالی د خپلو بندګانو نه چاته وغواړي زياته روزي ورکوي او چه چاته وغواړي په تنګئ سره يې ورکوي . که مونږه سره د الله تعالی مهرباني نوې نو مونږه به ئې هم ډوب کړې وې . بس معلومه شوه چه د کافرانو کاميابي نشته .

(۱۰۳) ﴿وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ۝٦٤﴾ . (۲۹-۶۴)

او دا دنيوی ژوند د لهو او لهب نه سوا نور هيڅ ندی او اصل ژوند عالم آخرت دې کاش چه هغوی ته د دې علم وې .

(۱۰۴) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ۝٣٣﴾ (۳۱-۳۳)

اې خلقو د خپل رب نه وه ويريږئ او د هغې ورځې نه وه ويريږئ چه په هغې کښې به نه پلار د خپل خوئ د طرفه څه مطالبه ادا کولې شي او نه داسې خوئ شته چه هغه د خپل پلار د طرفه معمولي مطالبه هم ادا کړې شي . يقينا د الله تعالی وعده رښتوني ده او تاسو لره دې دنيوی ژوند په دوکه کښې ونه غورځوي .

(۱۰۵) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ۝٢٨ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا ۝٢٩﴾ (۳۳-۲۸-۲۹)

اې نبی تاسو خپلو بيبيانو ته اوفرمايئ که چيرې تاسو دنيوی ژوند او د دې خوشحالئ غواړئ نوراشئ زۀ تاسو ته څه متاع درکړم . او تاسو لره په ښۀ طريقه رخصت کړم او که تاسو الله تعالی غواړئ او د هغۀ رسول ﷺ او عالم آخرت غواړئ نو ستاسو نه د نيک اعمال کولو والا د پاره الله تعالی اجرعظيم تيار کړې دي

(۱۰۶) ﴿يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ۝٣٩﴾ . (۴۰-۳۹)

ای وررونو ' دا دنیوی ژوند د یوځو ورځو دی او دپاتې کیدو مقام خو آخرت دی

(۱۰۷) ﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا
وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾ ﴾ (۴۲-۲۰)

څوک چه دآخرت دپتی طالب وی مونږ به هغهٔ لره د هغهٔ په پټی کښې ترقی ورکوؤ او څوک چه د دنیا دپټی طالب وی نو مونږبه بعضې څه له(دنیا) نه ورکړو او په آخرت کښې د هغه هیڅ حصه نشته

(۱۰۸) ﴿ وَلَوْلَا أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن
فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا وَإِن كُلُّ
ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ ﴾ (۴۳-۳۳ تا ۳۵)

که چیرې دا خبره نوې چه ټول خلق به د یوې طریقې شی نو چه کوم خلق په رحمن باندې کافر دی، مونږ به د هغوئ د کورونو چتونه د سپینو زرو کړی وو او پوړئ هم په کومو چه خیژی او د هغوئ د کورونو دروازې هم او تخت هم په کوم چه هغوئ ډډه وهی اوکینی او دا ټول خیزونه د سروزرو هم ، او دا سامان هیڅ هم ندې، صرف د دنیوی ژوند د څو ورځو کامیابی ده او آخرت ستاسو د پروردګار سره د الله نه د ویریدو والا د پاره دې .

(۱۰۹) ﴿ إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ
﴿٣٦﴾ ﴾ (۴۷-۳۶)

دا دنیوی ژوند محض لهو او لعب دې او که تاسو ایمان او تقوی اختیار کړه نو الله تعالی به تاسو ته ستاسو اجر درکړی او ستاسو نه به ستاسو مال نهٔ طلب کوی .

(۱۱۰) ﴿ اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ
غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ
وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿٢٠﴾ ﴾ (۵۷-۲۰)

تاسو ښهٔ پوهه شئ چه دنیوی ژوند محض لعب او لهو او ښائست او خپل مینځ کښې په یو بل فخر کول او په مال او اولاد کښې د یو بل نه خپل ځان ته زیات ونیل . لکه باران دې چه د دې پیدا ګیر زمیدارو ته مزیدار معلومیږی بیا هغه وچ شی نو هغه زیړ ښکاری . بیا هغه زره زره شی او په آخرت کښې سخت عذاب دې او دالله تعالی د طرفه مغفرت او رضا ده او دنیوی ژوند صرف د دوکې اسباب دی

(۱۱۱) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾ ﴾ (۶۳-۹)

اې مؤمنانو ستاسو مال او اولاد دې تاسو لره د الله تعالى د ياد نه غافل نه کړي او څوک چه داسې کوي نو داسې خلق ناکام دی.

(۱۱۲) ﴿ إِنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ ﴾ (۶۴-۱۵)

ستاسو مال او اولاد ستاسو د پاره د ازميښت څيز دې او الله تعالى سره لوئ اجر دې.

(۱۱۳) ﴿ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ ﴾ (۷۹-۳۷ تا ۴۱)

چا چه سرکشي کړې وی او دنيوی ژوند ته ئې ترجيح ورکړې وی نو دوزخ به د هغهٔ ځائ وی، او څو چه د خپل رب د وړاندې د ودريدلونه ويريدلې وی او نفس ئې د خواهشاتونه بند ساتلې وی بس جنت به د هغهٔ ځائ وی.

(۱۱۴) ﴿ بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٧﴾ ﴾ (۸۷ - ۱۶، ۱۷)

بلکه تاسو خپل دنيوی ژوند مقدم ساتئ حالانکه آخرت په څو درجو بهتر اوفائده مند دې.

(۱۱۵) ﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾ ٱلَّذِى جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ ﴿٢﴾ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ ﴿٣﴾ كَلَّا ۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍۭ ﴿٩﴾ ﴾ (۲۰۱- ۱ تا ۹)

لويه خرابی ده هر هغه چا لره چه هغه پسې شا عيب لتولو والا او مخامخ پيغور ورکولو والا وی. چه مال جمع کوی او دغه بيابيا شماری. دې خيال کوی چه د دهٔ مال به هميشه دهٔ سره وی. قطعًا داسې نده. الله به دغه سړې داسې اور کښې واچوی چه هغې کښې څه هم وغورځيږی نو هغه خراب اوبراد کړی. او تاسوته څه معلومه ده چه دغه خراب اوبرباد کولو والا اور څنګه دې؟ هغه دالله اور دې چه بل کړې شوې دې. چه زړونو ته به رسيږی، دغه به په دوئ بند کړې شی. دغه خلق به د اور په لويو لويو برجو کښې وی

د بنی اسرائيلو په مذمت اوبدی کښې فرمائی

(۱۱۶) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ

﴾(۸۶-۲)

دا هغه خلق دی چه هغوئ دنیوی ژوند اخستې دې د آخرت په بدل کښې . پس نه به د هغوئ په سزا کښې سپکوالې کیږی او نه به څوک د هغوئ ملګرسا کوی

د کفارو په مذمت اوبدی کښې فرمائی

(۱۱۷) ﴿ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ فَٱلْيَوْمَ نَنسَىٰهُمْ كَمَا نَسُوا۟ لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هَٰذَا وَمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ (۷-۵۱)

کومو خلقو چه په دنیا کښې خپل دین لره لوبې اوبوقې ګرځولې دې او څوک چه د دنیا ژوند په دوکه کښې غورځولې وو پس نو مونږ به هم په نن ورځ د هغوئ نوم وانخلو لکه څنګه چه هغوئ د نن ورځې نوم نه اخستلو او څنګه چه دوئ زمونږ د آیتونو نه انکار کولو

(۱۱۸) عن المستورد بن شداد رضی الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله ﷺ یقول والله ما الدنیا فی الاخرة الامثل ما یجعل احدکم اصبعه فی الیم فلینظر بم یرجع (رواه مسلم)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل په الله می دې قسم وی د دنیا مثال په مقابل دآخرت کښې داسې دې لکه تاسو نه چه څوک خپله ګوته په بحرکښې کیږدی او بیا یی له هغې نه راوباسی او وګوری چه په دې پورې څومره اوبه نښتی دی ؟

(۱۱۹) وعن جابر رضی الله تعالی عنه ان رسول الله ﷺ مر بجدی اسک میت قال ایکم یحب ان هذا له بدرهم فقالوا ما نحب انه لنا بشیء قال فوالله للدنیا اهون علی الله من هذا علیکم (رواه مسلم)

حضور ﷺ د ورو غوږونو والا د چیلئ په مړ بچی تیر شو . حضور ﷺ اوفرمائیل چه ستاسو نه څوک دا د یو درهم په بدل کښې اخستل خوښوی؟ صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم عرض وکړو چه مونږ خو دا مفت هم اخستل نه خوښوو . حضور ﷺ اوفرمائیل والله . دنیا د الله تعالی په نیزد د دې نه هم زیاته ذلیله ده

(۱۲۰) وعن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ الدنیا سجن المومن وجنة الکافر (رواه مسلم)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دنیا د مؤمن د پاره قید خانه ده او د کافر د پاره جنت دې

(۱۲۱) وعن عمرو بن عوف رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ فوالله لا الفقراء اخشی علیکم ولکن اخشی علیکم ان تبسط علیکم الدنیا کما بسطت علی من کان قبلکم فتنافسوها کما تنافسوه

وتهلككم كما اهلكتهم (متفق عليه)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه والله زهٔ په تاسو په فقر نهٔ ویریږم . لیکن ماته دا ویره ده چه په تاسو به د وړاندې خلقو غوندې دنیا راخوره کړې شی نو تاسو به د هغوئ غوندې په دې کښې رغبت پیدا کړئ او هغه به تاسو د مخکښنې امتونو په شان هلاک کړی .

(۱۲۲) وعن سهل بن سعد رضی الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ لو كانت الدنيا تعدل عند الله جناح بعوضة ما سقى كافرا منها شربة (رواه احمد والترمذى وابن ماجة)

رسول الله ﷺ فرمائیلې دی که چیرې د الله په نیزد د دنیا د مچ د وزر برابر هم څه حیثیت وې نو کافر ته به ئې د دې نه یو ځاځکې اوبهٔ هم نه وې ورکړې .

(۱۲۳) وعن ابى موسى رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ من احب دنياه اضر باخرته ومن احب آخرته اضر بدنياه فآثروا ما يبقى على ما يفنى .(رواه احمد والبيهقى فى شعب الايمان)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه چا خپله دنیا جوړه کړه هغهٔ خپل آخرت خراب کړو . او چا چه خپل آخرت جوړ کړو هغهٔ خپله دنیا خرابه کړه ، نو تاسو باقی لره په فانی باندې ترجیح ورکړئ .

(۱۲٤) وعن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ اصدق كلمة قالها الشاعر كلمة لبيد الا كل شئ ما خلا الله باطل ۔(متفق عليه)

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د شعراؤ په کلام کښې د ټولو نه زیات صحیح قول د حضرت لبید دې (او هغه دادې) خبردار ! د الله تعالى نه سوا هر څیز باطل دې .

(۱۲۵) وعن عبد الله رضى الله تعالى عنه قال خط النبى ﷺ خطا مربعا وخط خطا فى الوسط خارجا منه وخط خططا صغارا الى هذا الذى فى الوسط من جانبه الذى فى الوسط فقال هذا الانسان وهذا اجله محيط به وهذا الذى هو خارج امله وهذه الخطط الصغار الاعراض فان اخطاه هذا نهشه هذا وان اخطاه هذا نهشه هذا (رواه البخارى)

حضور ﷺ یو مربع خط جوړ کړو او یو خط ئې د هغې په درمیان کښې داسې جوړ کړو چه هغه د دې مربع نه بهر وتلو او د هغې منځنی خط طرف ته ئې د هغې اړخونو ته وارهٔ وارهٔ خطونه جوړ کړل بیا ئې اوفرمائیل چه دا منځنې خط انسان دې او دا مربع د انسان مرګ دې چه په دهٔ محیط دې . او داخط کوم چه مربع نه خارج دې دا د انسان امید دې او دا وارهٔ وارهٔ خطونه حوادث دی . پس که دې د یوې حادثې نه بچ شو نو بله حادثه بهٔ پرې راځی او که دویمې نه هم بچ شو نو دریمه حادثه به د دهٔ خاتمه وکړی

(۱۳۱) ابن عمر رضی الله تعالی عنه رفعه ما ذئبان ضاویان فی حظیرة یاکلان ویفسدان باضر فیها من حب الشرف وحب المال فی دین المرء المسلم (جمع الفوائد)

حضور اکرم ﷺ اوفرمائیل چه دوه خون ریزه شرمخان د ګډو چیلیو په کندک کښې داخل شی او حمله وکړی نو د مسلمان په دین کښې د حب جان او حب مال نه زیات مضر نهٔ دی.

(۱۳۲) انس رضی الله تعالی عنه دخلت علی سلمان فرائیت بیته رثا فقلت له فی ذلک فقال ان النبی ﷺ عهد الی ان یکون زادک کزاد الراکب (جمع الفوائد)

حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائي چه زهٔ سلمان رضی الله تعالی عنه له ورغلم نو ما دهغهٔ مکان په کمزوری حالت کښې ولیدلو نو ما هغهٔ ته په دې باره کښې څه اوئیل نو هغوئ اوفرمائیل چه حضور ﷺ ما ته وصیت فرمائیلې دې چه ستا توښه د مسافرغوندې پکار ده.

(۱۳۳) عائشة رضی الله تعالی عنها رفعته ان کنت تریدین الاسراع واللحوق بی فکیف من الدنیا کزاد الراکب وایاک ومجالسة الاغنیاء ولا تستخلقی ثوبا حتی ترقعیه (جمع الفوئد)

د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل که چیرې تهٔ ځما قرب غوارې نو تا لره د دنیا نه د مسافر دتوښې په اندازه کافی ده او د اغنیاؤ په مجلس کښې د ناستې نه ځان ساته. او بغیر د پیوند د لګیدو نه یوه کپړه زړه مهٔ ګڼه او مهٔ یې اوباسه.

د ټولو مرضونو اساس او بنیاد

د حضور ﷺ ارشاد دې (حب الدنیا راس کل خطیئة). د دنیا محبت د هرې ګناه جرړه ده. انسان د دنیوی عزت او لوئې. مال او دولت او عیش او عشرت په حرص کښې د آخرت نه غافله کیږی حالانکه حقیقی عزت د آخرت عزت دې او حقیقی شرف هغه دې چه هغه د مالک په نظر کښې وی د هغهٔ وړاندې د دنیا عزت او د اهل دنیا په نظر کښې شرف هیڅ حیثیت نهٔ لری.

په حدیث کښې دی چه په بنی اسرائیلو کښې یوې ښځې خپل بچی ته شیدې ورکولې چه ناګهانه په هغه ځای یو ښائسته ځوان په آس سپور په ډیر شان او شوکت سره تیر شو. دې ښځې چه ولیدل نو دا دعا ئې وکړه چه یا الله ځما دا بچې هم د دې ځوان غوندې کړې، بچی ته الله تعالی د خبرو کولو صلاحیت ورکړو هغهٔ د سینې نه خله دیخوا کړه او هغې ځوان طرفته متوجه شو او وې وئیل یا الله ما داسې مهٔ جوړه وه. داسې ئې او وئیل او بیائې بې خوراک شروع کړو. لږ وخت پس په دغه ځای یوه تور رنګې ښځه تیرولې شوه چه ډیره په کمزورې حال کښې وه هغه وهلې ټکولې شوه. دې ښځې چه ولیده نو دا دعا ئې وکړه چه یا الله. ځما دا بچې د دې ښځې غوند نکړې. هغې ماشوم بیا د سینې خوله دیخوا کړه او وې وئیل چه یا الله. ما همدغسې جوړ کړه. د

هغې مور ډیره حیرانه شوه چه دې ماشوم ځنګه خبرې شروع کړې او بیا د یوې نیکې دعا نه انکار کوی او د خراب حالت غوښتونکې دې ، مور د بچی د دې سبب پوښتنه وکړه نو بچی ورته اوونیل چه دا ځوان ظالم وو او دا کمزوری حالت والا ښځه نیکه ده. خلق وائی چه دې غلا کړې ده او د زنا ارتکاب ئې کړې دې حالانکه دا پاکه ده

د دې واقعې نه دا ثابته شوه چه د الله تعالی په نیزد عزت والا هغه خوک دې چه څوک د هغهٔ د احکامونه غافل نهٔ وی ، په خپله الله تعالی ارشاد فرمائی ،(ان اکرمکم عند الله اتقکم).د الله تعالی په نیز په تاسو کښې د ټولو نه زیات عزت والا هغه څوک دې کوم چه د ټولو نه زیات متقی او پرهیز ګار وی ، حضرت سهل بن سعد رضی الله تعالی عنه فرمائی چه یو سړې د حضور ﷺ سره نزدې تیرشو نو حضور ﷺ د یو نزدې ناست سړی نه پوښتنه وکړه چه تهٔ دا سړې ځنګه ګنې ؟ هغهٔ اوئیل چه دا یو مالدار سړې دې ، والله . که دې چاله د نکاح خبر ولیږی یا د چا سفارش وکړی نو قبول به وی . په دې خبره حضور ﷺ چپ پاتې شو ، بیا یو دویم سړې تیر شو ، نو بیا حضور ﷺ د نزدې ناست سړی نه پوښتنه وکړه چه تهٔ دا سړې ځنګه ګنې ؟ هغهٔ اوونیل چه یا رسول الله ﷺ دا د مسلمانانو یو فقیر دې که چیرې دې د نکاح خبر ولیږی یا د چا سفارش وکړی نو نشی قبلولې او که څه خبره کوی نو څوک ئې آوریدو ته تیار نهٔ وی . په دې خبره حضور ﷺ اوفرمائیل چه د اول سړی غوندې د خلقو نه که ټوله زمکه ډکه شی نو له هغه ټولو نه دا دویم سړې بهتر دې .

غرض دا چه حقیقی عزت هغه دې چه کوم د خالق په نظر کښې وی – حضور ﷺ فرمائی چه ډیر خیرن ویښتو او کمزوری حال والا خلق چه هغوئ څوک هم په خپل مجلس کښې نهٔ کینوی د الله تعالی په نیز د هغوئ دومره لوئ عزت او قدر وی که چیرې هغوئ د الله تعال په بروسه قسم وکړی نو الله تعالی به هغه ضرور پوره کړی .

حضرت زاهر رضی الله تعالی عنه د کلې اوسیدونکې وو د هغوئ شکل او صورت هم ډیر ښائسته نهٔ وو مګر حضور ﷺ به هغهٔ سره محبت کولو .

نہ گوری سے مطلب نہ کالی سے مطلب   پیا جس کو چاہے سہاگن وہی ہے

یوه ورځ دهٔ په بازار کښې خپل سامان خرڅولو اوناست وو او حضور ﷺ د شاه طرف نه په نرم قدم سره تشریف راوړو او دهٔ لره ئې په ترخ کښې ګیر کړو . کله چه ورته معلومه شوه چه د دواړو جهانو سردار آقائ نامدار او دغریبو غم خوار ﷺ دې نو د تبرک د پاره ئې خپله ملا د سید دوعالم ﷺ د سینې مبارکې سره ولګوله ، دې نه پس حضور ﷺ داسې فرمان شروع کړو چه دا غلام به څوک واخلی ؟ په دې خبره دهٔ عرض وکړو . یارسول الله ﷺ چه داسې شوه نو تاسو ته به څما قیمت ډیر کم ملاؤ شی . حضور ﷺ ورته اوفرمائیل . تهٔ د الله تعالی به نزد ډیر قیمتی ئې

افسوس چه خلق د عزت او تمول په حقیقت ندی پوهه شوي . حضرت شاه ولی الله رحمه الله تعالی فرمائی

دلی دارم جواهر خانهٔ عشق است تحویلش

که دارد زیر گردو میرسامانی که من دارم

په زړونو باندې د دنیوی مال او دولت د محبت زنګ لګیدلې دې نو له همدې وجې نه د حقیقت آوزیدو نه کانه دی. او حضرت رومی رحمه الله تعالی فرمائی

آئینت دانی چرا غماز نیست — زانکه زنگار از رخش ممتاز نیست

رو تو زنگار از رُوخ او پاک کن — بعد زین این نور را ادراک کن

ملاویږی خو به هغه کوم چه په قسمت کښې لیکلی دی . نو بیا بغیر د تمیز نه حلال او حرام او د طلب دنیا کښې منهمک کیدل او آخرت برباد ول د کوم خایٔ هوښیارتیا ده ؟

قال العارف الرومی رحمه الله تعالی:

گربریزی بحر را در کوزهٔ — چند گنجد قسمت یک روزهٔ

کوزهٔ چشم حریصیان پر نشد — تاصدف قانع نشد پر در نشد

د خالق په رضا باندې د مخلوق رضا لره ترجیح ورکول او د آخرت د غیر فانی نعمتونو په مقابله کښې ددنیا عارضی عیش اوعشرت اختیارول څومره لویه کم همتی او د کم ظرفئ خبره ده

قال العارف الرومی رحمة الله تعالی علیه

اسب همت سونی آخر تاختی — آدم مسجود را نشناختی

آخر آدم زادهٔ ای ناخلف — چند پنداری تو پستی راشرف

بازشر درداست آرد شیرنر — کرگسان برمردگان بکشاده پر

عارف کامل حضرت مجذوب قدس سره فرمائی

یہ عالم عیش عشرت کا یہ حالت کیف و مستی کی — تخیل کر بلند اپنا کہ یہ باتیں ہیں پستی کی

جہاں دراصل ویرانہ ہی گو صورت ہے بستی کی — بس اتنی سی حقیقت ہی فریب خواب ہستی کی

چه سترګې بند وی او انسان مدهوشه شی .

خو نبه فرمائی

لطف دنیا کے تین کے دن کیلئے — کھو نہ جنت کے مزے انکے لئے

لے لیا اے دل تو بس کھ دن کچھ — تو نے ناداں [illegible]

د هر مرض علاج

په قرآن او حدیث کښې ئې د دې حرصونو اوهوسونو علاج مرګ او د قیامت د خطرو تصور بیان فرمائیلې دې

فرمائی ((ان الانسان لربه لکنود)) انسان د خپل رب ډیر ناشکره دې . ((وانه علی ذلک لشهید)) . او دې په دې ښهٔ هم پوهیږی . ((وانه لحب الخیر لشدید)). او د هغې نافرمانئ وجه دا ده . چه بې شکه انسان د مال په محبت کښې ډیر زیات مضبوط دې . ((افلا یعلم اذا بعثر ما فی القبور وحصل ما فی الصدور ان ربهم بهم یومئذ لخبیر)) په دې کښې د هغې مهلک مرض علاج ښودلې شوې دې چه د حساب او کتاب ورځ یادوئ – حضور اکرم ﷺ فرمائی : «اکثروا ذکر هاذم اللذات الموت» . مرګ په کثرت سره یادوئ چه دا د ټولو لذاتو ختمولو والا دې . اووې فرمائیل : «کفی بالموء واعظا» . د مرګ یادول د عبرت او نصیحت د حاصلولو د پاره کافی دی .

رہ کے دنیا میں بشر کو نہیں زیبا غفلت موت کا دھیان بھی لازم ہے کہ ہر آن رہے
جو بشر آتا ہے دنیا میں یہ کہتی ہے قضا میں بھی پیچھے چلی آتی ہوں ذرا دھیان رہے

حضرت مجذوب قدس سره څه ښهٔ فرمائیلې دی :

رنگ رلیوں پہ زمانے کی نہ جانا اے دل یہ خزاں ہے جو بانداز بہار آئی ہے

د چا په مرګ د یتیمانو ، کونډو او دبې ژبې خویندو د میراث حصه او د یوه ټوټه زمکې ګیرونکو لره دا فکر پکار دې چه مونږه به هم ژرتر ژره د مرګ په پنجه کښې ګرفتار شو او د دې زمکې لاندې ګیریدونکی یو اود علیم او خبیر ذات په وړاندې به د حساب او کتاب د پاره پیش کیدونکی یو

قدم سوئے مرقد نظر سوئے دنیا کہاں جارہا ہے کدھر دیکھتا ہے
تھا جو مشغول ہوس تعمیل فرمان چھوڑکر
چل دیا وہ آج سب دنیا کے سامان چھوڑکر

اللهم اجعل حبك احب الاشياء الى واجعل خشيتك اخوف الاشياء عندى واقطع عنى حاجات الدنيا بالشوق الى لقائك واذا قررت اعين اهل الدنيا من دنياهم فاقرر عينى من عبادتك اللهم اجعل آخرى خيرا من اولاى وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه اجمعين آمين برحمتك يا ارحم الراحمين

رشید احمد غرة صفر، سنه ۸۷ هـ عشية الجمعة

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ:

تَعَلَّمُوا الۡفَرَائِضَ وَعَلِّمُوۡهَا النَّاسَ فَإِنَّهَا نِصۡفُ الۡعِلۡمِ

تسهیل المیراث

- **په اختصار او جامعیت کښې په شان د «دریاب په کوزه کښې»**
- **د مشتبهاتو په انکشاف کښې بې مثال**
- **په بعضې زورو تحقیقاتو کښې یو ځانګړې بحث**
- **د نوې طرزې یو لوئ شاهکار**
- **دحساب نایاب اصول**

د بحث خلاصه:

- تقریظ ———— حضرت مولانا محمد اعزاز علی صاحب
- ملاحظه ———— دتقریظ متعلق
- دتسهیل المیراث خصوصیات ————
- وراندیز ———— د تالیف وجه
- مقدمه ———— تعریف ، موضوع ، غرض
- اول سبق ———— د مستحقینو مراتب
- دویم سبق ———— د میراث موانع
- دریم سبق ———— د رشته دارو وارثانو اقسام
- څلورم سبق ———— ذوی الفروض او دهغوئ حصې
- پنځم سبق ———— عصبات
- شپږم سبق ———— څلور نسبتونه
- اووم سبق ———— تصحیح المسئله
- اتم سبق ———— د ردّ طریقه
- نهم سبق ———— ذوی الارحام
- لسم سبق ———— مناسخه
- یولسم سبق ———— دترکې دسهامو په وارثانو باندې تقسیم
- دولسم سبق ———— تخارج
- دیارلسم سبق ———— دخنثى حکم
- څوارلسم سبق ———— دحمل حکم
- پنځلسم سبق ———— د مفقود حکم
- اوله ضمیمه ———— د تخریج جدید، او مفید ترینه طریقه
- دویمه ضمیمه ———— د حساب نایاب اصول
- دریمه ضمیمه ———— دوه ځانګړی تحقیقات

تقریظ

دشیخ الادب والفقه حضرت مولانا محمد اعزاز علی صاحب قدس سره له طرفه
محدث ومفتی اعظم دارالعلوم دیوبند

حامدا ومصلیا ومسلما

امابعد: ما د خپل دوست مولانا رشیداحمد صاحب لودهیانوی بې مثال تصنیف ((تسهیل المیرا)) وکتلو او ښهٔ غور سره می وکتلو، د مذکور کتاب په افادیت کښې، تسهیل فهم کښې، دمسائیلو په تحقیق کښې هیڅ کمې نشته، بلکه که اهل علم حضرات غور وکړی نو هغوئ ته به معلومه شی چه د فرائضو بعضې دقیق مسائل ئې په داسې وضاحت سره بیان کړې دی چه انسان حیران شی، د دې نه زیاته خوبی پکښې دا ده چه په دې کښې د رطب او یابسو زیاتوالې نشته، مسائل اودمسائلو داحکامو پوره تحقیق ئې کړې دې او په اقوال محققه سره ئې دا کتاب محلی او مزین کړې دې، زهٔ دعا کوونکې یم چه منعم حقیقی دې مصنف علامه لره توفیق ورکړی چه هغه دې ذاسې علمی خزانې آئنده هم د اهل علمو لپاره وړاندې کړی، وما ذلک علی الله بعزیز.

محمد اعزاز علی امروهوی، مراد آبادی
۲۵ / رمضان المبارک، سنه ۷۲ هـ

ملاحظه

حضرت مؤلف دامت براکتهم په کتابونو د تقریظ لیکلو د مروجه رسم سخت خلاف دې. د دې مفصله وجه د دوئ په سوانح حیات ((انوارالرشید)) کښې ده، خو له دې سره سره په ((تسهیل المیراث)) باندې د خپل استاذ محترم نه د تقریظ لیکلو وجوه لاندې ذکر کیږی:

(۱) د حضرت دا وقعه بالکل د ناتجربه کارئ او د ابتدائی وخت ده. په دې وخت کښې حضرت ته د مروجه تقریظ د قباحتو علم نهٔ وو.

(۲) تسهیل المیراث د حضرت مؤلف دامت فیوضهم د تولو نه اول تصنیف دې. چه د دارالعلوم دیوبند نه د فراغت څخه پس ئې سمدستی بالکل به په ابتدائی او د کم عمرئ په زمانه کښې لیکلې دې، بل طرف ته علم فرائض داسې دقیق او مشکل چه اکثر لوئ لوئ جلیل القدر علماء هم د دې نه ناخبره دی، حتی چه د دې علم د نوم نه هم ویریږی، د دې حالاتو د وجې نه حضرت مؤلف د خپل استاذ محترم نه د تصدیق کولو ضرورت محسوس کړو چه خدا نخواسته په دې دومره سخت کار کښې څه غلطی شوې وی نو چه دهغې اصلاح وشی - دا په دې کم عمرئ کښې د هغوئ د فکر آخرت دلیل دې، مګر د تقریظ نه ثابته شوه چه د عمر اوعلم دواړو بالکل د ناتجربه کارئ په زمانه کښې هم دوئ د علومو شهسوار وو

یہ جس کی ابتداء تھی انتہا اس کی کہاں ہوگی ؟

(۳) د دوی استاذ محترم په دې کتاب باندې د مروجه طریقې مطابق محض رسمی تقریظ و نه لیکلو بلکه دامختصرکتاب ئې دمطالعې په غرض په میاشتومیاشتو خان سره ایښې وو. او په یو یو لفظ ئې دښه غورنه پس په دې تقریظ ولیکلو . دې وجې نه دا په تقریظ مروجه کښې داخل ندې په دې تقریظ کښې په خاص طور دا امر محیر العقول دې چه د حضرت مولانا اعزاز علی صاحب قدس سره غوندې عظیم شخصیت خپل بالکل کم عمر او مبتدی شاګرد ته . د دوست . غوندې عظیم اعزاز او «مصنف علام» غوندې عظیم لقب سره شرف ورکړو .

د تسهیل المیراث خصوصیات

(۱) اختصار سره سره په جامعیت کښې د دې نظیر نشته .

(۲) په هره مسئله کښې صرف مفتی به قول ذکر کړې شوې دې .

(۳) د میراث په عامو کتابونو کښې چه کوم موهم عبارات خلاف حقیقت وو هغه په تسهیل المیراث کښې واضح کړې شوې دی یا ئې د بیان طرز بدل کړې دې د وهم رفع کړې شوې ده . مثلاً د میراث په عامو کتابونو کښې اول د عصبه بنفسه تعریف او د دې څلور اقسام

اول اصل میت . **دویم** جزء میت . **دریم** جزء اصل قریب میت . **څلورم** جزء اصل بعید میت سره د هغې د ترتیب فی المیراث نه بیانولې شی . دې نه پس د عصبه بالغیر او عصبه مع الغیر بیان کولې شی . چه د دې نه دا وهم کیږی چه عصبه بالغیر او عصبه مع الغیر یې په ترتیب فی الارث کښې د عصبه بنفسه نه مؤخر کړې دې. چنانچه کله چه بنت او عم او اخت وارث وی نو ډیر حضرات د دې مغالطې په بناء د عم د وجې نه اخت محرومه کوی . په تسهیل المیراث کښې ذکر شوې بیان په داسې طریقه لیکلې شوې دې چه په هغې کښې د خلاف حقیقت وهم بالکل نشی کیدې . دغه شان نور هم ډیر مشتبه مضامین واضح کړې شوې دی .

(۴) په اوله ضمیمه کښې د تخریج دمسئلې یوه جدیده مختصره او مفیدترینه طریقه اضافه کړې شوې ده. دا طریقه په خپله د مؤلف لخوا ایجاد کړې شوې ده . چه د مروجه طریقې نه بالکل جدا او ډیره آسانه او مختصره ده . د مناسخې هغه طویل او عریض مسائل چه په ساعتونو کښې به په مشکله لیکل کیدل اوس د دې نوې طریقې په ذریعه په یوڅو دقیقو کښې ښه په آسانئ سره حل کیدې شی . فالحمد لله علی ذلک

(۵) په دویمه ضمیمه کښې د حساب انتهایی قیمتی او نا آشنا اصول لیکلې شوې دی

(۶) په دریمه ضمیمه کښې د دوؤ اهمو مسائلو یو خانګړې علمی تحقیق دې چه په بل کتاب کښې نشته داسې تحقیق نشته

يو وړانديز

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي له ميراث السموات والارضين، والصلوة والسلام على عباده الذين لم يرثوا ولم يورثوا من النبيين، خصوصا على افضلهم الذي جعل الفرائض نصف الدين، وعلى وارثيه من آله واصحابه ومن حذا حذوهم اجمعين.

امابعد: بنده سعود اختر مشهور په رشيد احمد بن مولانا محمد سليم لوديانوي رزقهما الله حبه عرض کوی چه د علم ميراث اهميت او عام ضرورت په هيچا باندې پټ ندې . په دنيا کښې به شاذ او نادر څوک داسې وی چه دهغهٔ به له دې مسائلو سره واسطه نهٔ وی ، له همدې کبله په دې علم کښې بې شماره کتابونه په مختلفو ژبو کښې ليکلې شوې دی ، مګر تر دې وخته پورې چه د بنده د نظر نه څومره کتابونه تيرشوی دی د هغې نه په بعضو کښې انتهائی اختصار او بعضې د اختلاف اقوالو د وجې نه د مقصد په فهم کښې مخل وو او بعضې د زيات طول د وجې نه ډير مشکل وو . لهذا د يوې داسې رسالې ضرورت ووچه په هغې کښې حتى المقدور په آسانه طريقه په اختصار سره په هر بحث کښې صرف په مفتى به قول باندې اکتفاء وکړې شی او د اختلاف د اقوالو د مشکلاتو نه خالی وی ، شايد چه دمستفيدينو د خير د دعاء په برکت سره په آخرت کښې زمونږ يوځه دکاميابی صورت وشی . چنانچه د دې ضرورت په محسوس کيدو سره دا رساله شروع کوم .والله الموفق والمعين ومنه الاصابة والاجابة .

مقدمه

د علم فرائض (ميراث) تعريف: دا د يوڅو فقهی قواعدو داسې علم دې چه د دې په زده کولو سره د مړی شرعی وارثان او په هغوئ کښې شرعی اصولو سره دترکې د تقسيم طريقه معلوميږی

موضوع په مستحقينو کښې د ترکې تقسيم .

غرض او غايه د ترکې مستحقين او د هغوئ د شرعی حقوقو مقدار معلومول

دتسميې وجه فرائض د فريضة جمع ده چه د فرض نه ماخوذ دې . چه معنی يې تقدير او تعيين ده ، چونکه په دې کښې د وارثانو کومې حصې بيانيږی د هغې تقدير او تعيين په خپله شريعت کړې دې. ځکه دې ته علم فرائض وائی

اول سبق

د مستحقینو مراتب

(۱) د مړی د ټول مال نه دې د ټولو نه اول هغه څیزونه ادا کړې شی . چه له هغې سره د غیر حق تعلق لری . مثلا هغه څیز کوم چه قرض خواه سره رهن دې یا هغه څیز کوم چه مړی اخستې وو . لیکن تراوسه ئې ادا کړې نهٔ وو او نهٔ ئې په هغې قبضه کړی وه . بلکه د اصل مالک او بائع په قبضه کښې وو . په دې صورتونو کښې قرض خواه خپل قرض او بائع خپل قیمت د هغې څیزونو نه اخستلې شی ، او دا د تجهیز او تکفین نه هم مقدم دی .

په اکثرو کتابونو کښې تجهیز او تکفین د ټولو نه اول ذکر کړې شوې دې ، د دې وجه دا ده چه په کوم ما کښې ل دغیر حق وی هغه د ترکې نه خارج دې . نو په ترکه کښې تجهیز اوتکفین د ټولو نه مقدم دې

(۲) بیا دې وروسته له دې ه ضروری شرعی تجهیز او تکفین بغیر د اسراف او تنګئ نه په درمیانه حال سره وکړې شی .

(۳) بیا دې هغه امانت او قرض ادا کړې شی چه د هغې اقرار مړی په خپله په صحت کښې د مرض الموت نه وړاندې کړې وی یا ئې اقرار هم په مرض الموت کښې کړې وی مګر د دې قرض وجوب په عام طور خلقو ته معلوم وی یائې ګواه موجود وی .

(۴) بیا هغه امانت او قرض چه د کوم اقرار ئې په مرض الموت کښې کړې وی او د دې وجوب د خلقو په مشاهدې سره ثابت نوی اوګواه ئې هم موجود نوی .

مرض الموت داسې حالت ته وائی چه په هغې کښې دهلاکت ګمان غالب وی او په ې حالت کښې مړ هم شی . برابره خبره ده که په دغه وجه سره مړ شوې وی او که په بله وجه سره . که دا حالت د مرض د وجې نه وی او که دڅه بل څه د وجې نه . مثلا یو سړې په کشتئ کښې ډوبیږی . چونکه سبب ئې اکثر مرض وی څکه ورته مرض الموت وئیلې شی .

که چیرې دمرض مهلک کیدل معلوم نشی نو هغې ته به مرض الموت هغه وخت وایو چه په هغې کښې دومره اضافه وشی چه مریض د کور د بهر ضروری مصالحو نه عاجز شی .

که چیرې مرض په یو حالت ولاړ پاتې شی یعنی په هغې کښې زیاتوالې نهٔ راځی او په دغې حالت کښې یو کال پوره شی نو دا په مرض الموت کښې داخل ندې . بیا چه کله مرض زیات شی اوبه دغې زیاتوالی کښې وفات هم شی نو ددغې زیاتوالی د وخت نه به مرض الموت شمارل کیږی

که چیرې قرض داران زیات وی او د ټولو قرض د ترکې نه نشو پوره کیدې نو ټوله ترکه به د قرض دارو د سهامو موافق تقسیم کیږی

(۵) بیا به د باقي مال د ثلث نه وصیت ادا کیږي. که مړي په مرض الموت کښې یا دې نه وړاندې څه معامله وکړي او هغه د خپل مرګ سره معلقه کړي. مثلا که اووائي چه خما د مرګ نه پس دې جمات جوړ کړې شي یا د قضا مونځونو فدیه دې ادا کړې شي. یا چه کوم څیز د مړي په ذمه واجب نه وو مګر هغهٔ په مرض الموت کښې د تبرع په طور لازم کړو. مثلا د چا قرض ئې معاف کړو، یا ئې یو خاص څیز د چا د پاره مقرر کړو یا ئې چاته هبه وکړه. دا ټول څیزونه به وصیت شمارل کیږي او د ثلث مال نه به پوره کولې شي.

که چیرې مړی مختلف وصیتونه کړې وو او هغه ټول د ثلث مال نه نشو پوره کیدې نو چه کوم زیات ضروري وي هغه به مقدم وي. یعنې د فرائضو وصیت به په واجباتو باندې او د واجباتو په نوافلو باندې مقدم وي. لهذا د فدیې، مونځ، روژې او د حج او زکوٰة وصیت به د قربانۍ نه مقدم وي. ځکه چه قرباني واجبه ده اوفرض نده. او که چیرې ضروري او غیر ضروري ټول برابری وي لکه مونځ، روژه، زکوٰة او حج یا د جمات جوړول او مدرسه جوړول، نو بیا چه د څهٔ شي ذکر په وصیت کښې اول شوې وي هغه به مقدم وي. دا قاعده په حقوق الله کښې ده.

او که چیرې حقوق العباد غیر ضروري جمع شي، مثلا د زید او عمرو دواړو د پاره وصیت وکړي نو ثلث مال به په دواړو تقسیم کیږي، او موصی لهم مذکر او مؤنث ته به برابره حصه ورکول کیږي. البته که د بعضو د پاره دکمې او د بعضو د پاره دزیاتې وصیت وکړي نو د قرض دارو غوندې به ثلث د سهامو په مقدار تقسیم کیږي.

او که حقوق العباد غیر ضروري او حقوق الله په خپل مینځ کښې جمع وي نو د جمله حقوقو په عدد باندې به ثلث مال تقسیم کړې شي او د حقوق العباد حصې به هغوئ ته ورکړې شي او باقي که د حقوق الله د حصونه ټولې حصې ادا نکړې شي نو چه کومې زیاتې ضروري وي یا چه مورث د وصیت په وخت کومې اول ذکر کړې وي نو هغه به مقدمې وي او د حقوق الله ټولې حصې به په هغه یوې باندې لګولې شي.

د غیر معین فقیر د پاره وصیت په حقوق الله کښې داخل دی او د معین شخص د پاره وصیت که فقیر وي او که غني وي د حقوق العباد څخه دې.

مثلا د زید، هنده، د جمات بناء، د مدرسې بناء او د فقیر غیرمعین د پاره وصیت وکړي نو دا ثلث مال به پنځهٔ حصې کړې شي یوه یوه حصه به زید او هندې ته ورکړې شي او باقي که د حقوق الله د حصو نه ټولې حصې ادا نکړې شوې نو چه په وصیت کښې ئې د کومې حصې ذکر اول کړی وي هغه به مقدم وي

د مړي د وصیت نه بغیر عبادات واجبه لره د ثلث مال نه ادا کول په وارثانو باندې ضروري نه دي او په وصیت او د امانت په اقرار کښې او د داسې قرض په اقرار کښې چه د هغې وجوب خلقو

ته معلوم نهٔ وی او نهٔ ئې گواه موجود وی په هغې کښې دا شرط دې چه موصی او مقر عاقل او بالغ وی ، همدارنگه خاص په اقرار فی المرض او وصیت کښې دا شرط هم دې چه مقرله او موصی له دې وارث شرعی نوی ، یعنی اقرار فی المرض او وصیت د داسې سړی د پاره جائز ندې چه هغه د مقر او موصی د مرگ په وخت د هغهٔ وارث وی، د اقرار او وصیت په وخت که وارث وی او که نهٔ وی د هغې هیڅ اعتبار نشته - البته د اقرار فی المرض د عدم جواز د پاره اگر چه د اقرار په وخت وارث کیدل شرط ندی مگر دا ضروری دی چه د اقرار په وخت د ارث سبب موجود وی . پس که یو سړی د خپل خوئ په موجودگئ کښې د خپل ورور د پاره اقرار وکړو ، بیا دا خوې د مقر نه وړاندې مړ شو نو دا اقرار باطل دې ځکه چه دا ورور د مقر د مرگ په وخت وارث دې او د اقرار په وخت اگر چه د خوی د وجې نه وارث نهٔ وو مگر سبب د ارث یعنی اخوة د اقرار په وخت موجود دې . او که چیرې د یوې نا آشنا (اجنبی) ښځې د پاره د وصیت کولو نه پس هغې سره ئې نکاح وکړه نو دا اقرار صحیح دې ځکه اگر چه دا ښځه دمقر د مرگ په وخت وارثه ده ، مگر سبب د ارث د اقرار په وخت موجود نهٔ وو ، که چیرې د وصیت کولو نه پس ئې ورسره نکاح وکړه نو وصیت صحیح نهٔ دې ځکه چه وصیت د هر وارث د پاره ناجائز دې خواه که د وصیت په وخت سبب دارث موجود وی اوکه وروسته پیدا شوې وی .

د مرض الموت نه وړاندې اقرار د وارث د پاره هم جائز دې ، او د نور چا د پاره د وراثت اقرار او د وارث د پاره د امانت مستهلکه اقرار په مرض الموت کښې هم جائز دې خو په دې شرط چه امانت ایښودل عامو خلقو ته معلوم وی یا په هغې گواه موجود وی .

د اقرار نه رجوع کول صحیح نهٔ دی . که د وصیت نه ئې صراحة رجوع وکړه یا ئې فعل دال علی الرجوع وکړو نو رجوع به وشی، البته د وصیت نه په انکار کولو سره وصیت نهٔ باطل کیږی .

که موصی له موصی قتل کړو یا مقتول د قتل نه پس د روح وتلو نه وړاندې د قاتل د پاره وصیت وکړو نو دا وصیت باطل دې .

د مسلمان وصیت د کافر د پاره او دکافر وصیت د مسلم د پاره جائز دې .

په وصیت کښې د ثلث مال نه زیات خرچ کول او د وصیت او اقرار نور غیر معتبر صورتونه هغه وخت ناجائز دی کله چه ټول وارثان راضی نهٔ وی ، که چیرې ټول وارثان عاقل او بالغ وی او د مورث د مرگ نه پس ټول راضی هم وی نو بیا پکښې هیڅ حرج نشته ، د مورث د وفات نه وړاندې د رضا څه اعتبار نشته

که چیرې د ثلث مال په وصیت کښې د ثواب نیت او څه ضروت نهٔ وی صرف د وارثانو حصه کمول مقصود وی یا په ژوند کښې د مرض الموت نه وړاندې د ټول مال فیصله وکړی او بغیر د قصور نه ټول وارثان محروم کړی نو دا تصرف به نافذ شی لیکن گنهگار به وی

که چیرې د يو غير شرعي مصرف د پاره ئې وصيت وکړو نو هغه به نهٔ نافذ کيږي

که چیرې په مرض الموت کښې ئې يو څيز چانه هبه کړو نو اگر چه دا د وصيت په حکم کښې دې ، مگر څوپورې چه په مريض کښې روح باقي وي تر هغه وخته پورې د هغهٔ مرض، مرض الموت کيدل قطعي ندي ، ممکنه ده چه دا مريض صحت مند شي . لهذا بالفعل به دا څيز موهوب له ته ورکړې شي . ليکن که په دغه مرض کښې وفات شو نو دهغې حکم به د وصيت غوندې وي ، دغه شان که په مرض کښې ئې د وارث د پاره اقرار وکړو نو في الحال به ورکړې شي البته که په دغه مرض کښې وفات شو نو واپس به ترې اخستې شي

(۶) بيا به په ذوي الفروضو باندې د هغوئ د حصو مطابق تقسيم کولې شي. د ذوي الفروضو تعريف په دريم سبق او تفصيل ئې په څلورم سبق کښې را روان دې .

(۷) **عصبات** : که چیرې ذوي الفروض نهٔ وي يا دوئ ته د پوره حصې ورکولو نه پس څه پاتې شي نو په عصباتو به بالترتيب تقسيم کيږي. د عصباتو تعريف په دريم سبق او تفصيل ئې په پنځم سبق کښې را روان دې .

(۸) که عصبات نهٔ وي نو د زوجينو نه بغير په نورو ذوي الفروضو به د هغوئ د حصومطابق رد کولې شي ، د رد طريقه په اتم سبق کښې را روانه ده

(۹) اوکه نه نو ذوي الارحامو ته به بالترتيب ورکول کيږي، د ذوي الارحامو تعريف په دريم سبق کښې اوتفصيل ئې په نهم سبق کښې را روان دې .

(۱۰) که مولی الموالاة - ذوي الارحام هم نهٔ وي نو مولی الموالاة ته به ورکړې کيږي .

يو مجهول النسب شخص چه د هغهٔ نسب او رشته هيڅ معلوم نهٔ وي يو دويم سړي ته اووائي چه تهٔ خما مولی يعنی کفيل او سردار يې ، که چيرې زهٔ ستا په ژوند کښې مړ شوم نو تهٔ به خما د ترکې مستحق ئې . او که زهٔ څهٔ نقصان وکړم نو تهٔ به يې تاوان ورکوې . او هغه دويم سړې دا خبره قبوله کړي نو هغهٔ ته مولی الموالاة ونيلې شي. که هغه مجهول سړې د هغهٔ په ژوند کښې وفات شو نو د هغهٔ ميراث به مولی الموالاة ته رسيږي

که چیرې دوه مجهول النسب کسان د جانبينو نه په خپل مينځ کښې داسې اقرار وکړي نو د جانبينو نه به مولی الموالاة وشي او د اول وفات کيدو والا ميراث به دويم ته ورکول کيږي

ترکومې پورې چه مولی الموالاة د څه شي تاوان نهٔ وي ادا کړې نو تر هغې پورې مجهول النسب لره دهغې اقرار نه رجوع کول جائز دی . که مولی د هغهٔ د طرف نه د څه تاوان ادا کړو نو د اقرار نه رجوع صحيح نهٔ ده

(۱۱) بيا مقرله بالنسب علی الغير . يعنی هغه مجهول النسب سړې چه د هغهٔ په باره کښې مړی په خپلو وارثانو کښې د داخليدو او په خپل نسب کښې د شريک کيدو داسې اقرار کړې وی چه د

هغې د نسب علاقه تو دوئم شخص سره ولګی لیکن اصل نسب والا د دې اقرار نوی کړې او نهٔ ګواه وی . داسې شخص مقرله بالنسب علی الغیر ګڼلې شی . د هغهٔ د وارث کیدو درې شرطونه دی

(۱) چه مقر تر آخری وخته پورې په دې خپل اقرار قائم پاتې شوې وی . او د دې خبرې نه ئې رجوع نهٔ وی کړې .

(۲) چه د مقرله عمر د دې قابل وی چه د مقر تصدیق وکړې شی .

(۳) که مقرله د دومره عمر وی چه د خپل خان نه تعبیر کولې شی نو هغه دې هم د مقر تصدیق وکړی اګر چه د مقر د وفات نه پس ئې وکړی . البته که مقرله دمره صغیر وی چه د خپل خان نه تعبیر نشی کولې نو دهغهٔ تصدیق ضروری نهٔ دې .

مثلا زید د یو مجهول النسب متعلق وائی چه دا خما ورور دې یا دا خما ترهٔ دې ، او د هغه سرې عمر د دې قابل دې چه د هغهٔ ورور یا ترهٔ کیدې شی ، یعنی د زید د پلار یا نیکهٔ نه پنځلس یا شل کاله وړوکې وی ، نو د زید په دې اقرار سره دا لازمه شوه چه دا سړې د دهٔ د پلار یا د نیکهٔ خوئ دې ، لیکن د زید پلار یا نیکهٔ کله هم د دې اقرار ونکړو اونهٔ ګواه شته .البته مقرله د زید تصدیق کوی، په داسې صورت کښې به د زید اقرار په خپل حق کښې صحیح وی او دا سړې به د زید په وارثانو کښې داخل شی ، لیکن ذوی الفروض یا عصبه به نهٔ جوړیږی بلکه د پورته مذکوره صورتونو د ټولو اقسامو د نهٔ موجود کیدو په صورت کښې به وارث وی .

که چرې د نسب علی الغیر د اقرار کولو نه پس ئې د هغې نه رجوع وکړه نو دا رجوع صحیح ده . داسې مقرله وارث نهٔ وی

تنبیه که چیرې غیر مثلا د زید پلار یا نیکهٔ هم اقرار وکړو چه دا خماخوئ دې یا ګواه موجود وو یا مقر خپله په خپل نسب کښې د داخلیدو اقرار وکړو ، مثلا دا ئې اووئیل چه فلانکې سړې خما خوئ دې او دهغه مجهول النسب عمر هم دومره دې چه دهغهٔ خوئ کیدې شی او مقر تصدیق هم کوی نو دا نسب بهٔ ثابت شی څکه چه دا سړې به د حقیقی ذوی الفروضو او عصبه په شان میراث وړی ، په دې صورت کښې د اقرار نه پس رجوع صحیح نهٔ ده .

(۱۲) بیا چه چاته ئې د ثلث مال نه زیات وصیت کړې وی .

(۱۳) که چیرې هغه هم نه وی یا د دې نهٔ څهٔ پاتې شی نو هغه په بیت المال کښې به داخلولې شی . د بیت المال د نهٔ موجود کیدو په صورت کښې به زوجینویا رضاعی خوئ یا رضاعیه لور یا د معتق ذوی الفروض او ذوی الارحامو ته ورکول کیږی . په دې شرط چه دا ټول د بیت المال د مال مستحق وی . اوکه نه نو په بل کوم د خیر په کار کښې به لګولې شی

دويم سبق

د ميراث موانع

مانع ارث ند بيشک چيــز چار　　رق و قتل و اختلاف و دين و درا

چار هين ليکن بکفار ست خاص　　مختـصر گفـتم تو اين را يا دوا

(۱) رق که کامل وي لکه قن . يا ناقص وي لکه مدبر ، مکاتب، ام ولده- غلام . نو دوئ شرعا د مالک کيدو صلاحيت نلري د هغهٔ په قبضه کښې چه څه رازى هغه د دهٔ د مولى ملک گرځى ، لهذا که د غلام څوک رشته دار وفات شي نو غلام به د هغهٔ وارث نهٔ وى . ځکه که هغهٔ ته حصه ورکړې شي نو هغه به د مولى ملک وګرځى چه هغه د دې مال مستحق نهٔ وو . او د غلام په مرګ د هغهٔ وارثانو ته ځکه ميراث نشي ورکولې چه غلام د څهٔ څيز مالک نهٔ وو چه څهٔ هم د هغهٔ په قبضه کښې دى هغه ټول د مولى مملوک دى .

(۲) د قتل نه مراد هغه قتل دې چه د هغهٔ د وجې نه فى نفسه قصاص يا کفاره واجب وى اګر چه د څهٔ مانع د وجې نه قصاص او کفاره ساقط شوى وى ، پس که پلار خپل خوئ قتل کړو نو پلار به وارث نهٔ وى اګرچه په دهٔ قصاص او کفاره هم نشته ، او که مورث په ناحقه په قاتل حمله وکړه ، او دهٔ د خپن ځان بچ کيدو د پاره په مورث ګزار وکړو او ومورث مړهٔ شو . يا صبى يا مجنون مورث قتل کړو نو دوئ به محروم نهٔ وى ، ځکه چه په دوئ باندې فى نفسه کفاره يا قصاص نشته .

فائده : کوم قتل چه د قصاص يا دکفارې موجب دې د هغې درې قسمونه دى :

(۱) **عمد** : په داسې څيز قصدا قتل وکړى چه هغه د جارح کيدو د وجې نه په اجزاؤ کښې تفريق پيدا کوى . مثلا توره ، تيرهٔ کان ، تيرهٔ لرګې ، اور وغيره ، د دې قتل موجب قصاص او اثم (ګناه) او د ميراث نه حرمان دې .

(۲) **شبه بالعمد** : په داسې څيز سره قصدا قتل وکړى چه جارح نهٔ وى ، مثلا مرئ نيول يا کانې يا لرګې وغيره . که کانې يا نرې لرګې دومره وړوکې وى چه په هغې سره عموما انسان نهٔ وژلې کيږى . د دې موجب اثم او ديت او کفاره او حرمان دې .

(۳) **خطاء** چه سهوا قتل وشى . مثلا د يو ښکار طرفته چا غشې وه ويشتلو او ناګهانه پرې يو انسان ولګيدلو . يا ئې انسان باندې د ښکار ګمان وکړو او وې ويشتلو او هغه مړ شو . د دې موجب ديت او کفاره او حرمان دې

(۳) که په وارث او مورث کښې يو مسلمان وى اودويم کافر نو په دوئ کښې به يو د بل وارث نوى . که کافر يهودى يا عيسائى وى او که قاديانې يا شيعه د ټولو دا حکم دې که مرتد قتل کړې شو يا مړ شو نو د دهٔ د اسلام دحالت ګټلې شوې مال به د دهٔ په مسلمانانو وارثانو تقسيم کيږى او

د ارتداد د حالت گټه به ئې د بیت المال په مصارفو کښې خرج کیږی
د مرتدې ښځې د مرگ نه پس به د هغې مال مسلمانانو وارثانو ته ورکول کیږی. که دغه مال ورته په حالت د اسلام کښې حاصل شوې وی او که د ارتداد نه پس. په زنانه او نارینه کښې دا فرق دې چه نارینه مرتد شی نو هغه واجب القتل دې. هر کله چه د هغهٔ وینه په دې حالت کښې محفوظ ندې نو مال به ئې په درجه اولی سره محفوظ نوی، په خلاف د زنانه چه د هغې وینه محفوظه ده نو مال ئې هم محفوظ دې.
که زنانه مرتده شی نو واجب القتل نو خکه واجب القتل نده چه د هغې نه دحرب (جنگ) وغیره ویره نشته. لهذا ترکومه پورې چه هغه اسلام قبول نکړی نو هغې لره د محبوسه ساتلو حکم دې
مرتد لکه څنگه چه د مسلمان وارث ندې، دغه شان د یو کافر یا د مرتد هم وارث نشې کیدې. البته که په یوه علاقه کښې دومره خلق مرتد شی چه بادشاه ته د هغوئ سره د جنگ ضرورت راشی نو دا خلق به د یو بل وارثان وی.
که څوک مسلمان د کفارو سره قید شی نو د هغهٔ درې حالته دی:
(۱) که چیرې هغه مسلمان وی نو په میراث کښې به ئې د مسلمانانو غوندې حال وی.
(۲) که چیرې هغهٔ خپل دین پریښودو نو دهغهٔ حکم د مرتد غوندې دې.
(۳) که چیرې معلومه نهٔ وی چه هغه مرتد شوې دې اوکه مړ شوې دې یا ژوندې دې نو د دهٔ حکم د مفقود غوندې دې. د مفقود بیان د رسالې په آخر کښې دې.
فائده چونکه مسلمان په کافر ولایت لری، دې د پاره د مسلمان شهادت هم په کافر قبلولې شی. لهذا قیاس دا دې چه مسلمان دې د کافر وارث شی. لیکن خلاف قیاس د حدیث د وارد کیدو له کبله نهٔ وارث کیږی.
(۴) اختلاف دار د کفارو سره خاص دې. پس که چیرې یو مسلمان په درالاسلام کښې وی او دویم په دارالحرب کښې نو دواړه به د یو بل وارثان وی. البته د کفارو د پاره اختلاف دار مانع عن الارث دې. که اختلاف دار خواه حقیقةً او حکمًا دواړه وی مثلا حربی او ذمی. یا صرف حکما وی مثلا مستامن او ذمی. دا دواړه اگر چه حقیقة په دارالاسلام کښې دی مگر په دوئ کښې حکما اختلاف دار شته. خکه چه مستامن د دارالحرب طرفته د واپسئ خیال لری او ذمی دا خیال نلری. او د ذمی په قاتل قصاص واجب دې اود مستامن په قاتل واجب ندې
دغه شان که د مختلفو دارینو دوه حربیان په یو دار کښې جمع شی نو حقیقة اگر چه دار واحد دی مگر حکما مختلف دې خکه چه په اصل کښې دوئ د دارینو مختلفینو دی او هر یو خپل دار طرف ته د رجوع خیال لری. لهذا د یو بل به وارثان نهٔ وی. البته که صرف حقیقة اختلاف دار وی حکما نهٔ وی نو مانع د ارث به نهٔ وی. مثلا حربی او مستامن اگرچه حقیقة په دارینو مختلفو

کښې دی مګر مستامن چونکه د دارالحرب طرفته د رجوع خیال لری لهذا دا حکما اختلاف ندې ، پس په دوئ کښې به توارث جاری کیږی

تنبیه : اختلاف دار به هغه وخت وی چه د دواړو خایونو بادشاهان مستقل وی .او د دواړو بادشاهانو په خپل مینځ کښې صلح هم نۀ وی

فائده : دپورته ذکر شوو څلورو اسبابو نه بغیر د مرګ د وخت نۀ معلومیدل هم د میراث نه د محروم کیدو یو سبب دې . یعنی دا معلومه نوی چه اول څوک مړ شوې دې او وروسته څوک . مثلا ډیر رشته دار په بحری جهاز (کشتئ) کښې په یوخائ غرق شو یا د مکان یا دیوال د لاندې ګیرشو او مړۀ شو یا په اور کښې وسوزیدل . او دا معلومه نوی چه څوک وړاندې مړۀ شوی دی او څوک ورسته، نو دلته به دا ګڼو چه ګویا ټول په یوځل وفات شوی دی ، نۀ به هغه د دۀ وارث وی او نۀ به دې د هغۀ وارث وی ، د هغوئ نه پس چه کوم وراث موجود وی هغوئ ته به میراث ورکول کیږی ، مثلا د زید درې ځامن دی : عمرو ، بکر ، خالد ، بیا د خالد دوه ځامن دی سلطان او حامد . زید او د هغۀ ځوئ خالد دواړه غرق شو . معلومه نده چه څوک وړاندې مړ دې او څوک وروسته ، نو زید او خالد به دیو بل وارثان نوی ، یعنی داسې به نشی کولې چه د زید مال به درې حصې کړې شی دوه بۀ عمرو او بکر ته ورکړې شی او یوه به خالد ته ورکړې شی . بیا د خالد د وفات کیدو د وجې نه دې د هغۀ دوؤ ځامنو سلطان او حامد ته ورکړل شی ، بلکه خالد به محروم کړې شی .

له همدې کبله د هغۀ ځامنو ته به د زید د مال نه هیڅ نۀ ورکول کیږی، ټول مال به د زید ځامنو عمرو او بکر ته ورکول کیږی ، او دغه شان به دا هم نۀ کیږی چه د خالد د مال نه دې سدس د هغۀ پلار زید ته ورکړې شی ، بیا د زید د وفات د وجې نه د هغۀ دا حصه د هغۀ ځامنو عمرو او بکر ته ورکړل شی . بلکه زید به خپله هم محروم وی . لهذا د خالد د مال نه به د زید ځامنو ته هیڅ نۀ ورکول کیږی. ټول مال به د خالد ځامنو حامد او سلطان ته ورکول کیږی

تنبیه د محروم او محجوب اګر چه لغتا یوه معنی ده مګر اصطلاحا په دواړو کښې فرق دې .

محروم هغۀ ته وائی چه د پورته ذکر شوو اسبابو نه د یو سبب د وجې نه محروم وی

محجوب هغه دې چه د هغۀ میراث د یو بل وارث د وجې نه کم شی یا بالکل ختم شی، اول ته حجب نقصان او دویم ته حجب حرمان وئیلې شی

محروم هیڅ یو وارث لره نۀ محجوب کوی ، نۀ حجب نقصان او نۀ حجب حرمان

محجوب به حجب نقصان او حجب حرمان دواړو طریقو سره د وارثانو د پاره حاجب وی

دریم سبق
د وارثانو اقسام

د وارثانو درې قسمونه دي

(۱) **ذوي الفروض** چه دهغوئ حصه په حديث يا قرآن يا د امت په اجماع سره معينه وي

(۲) **عصبات** ذوي الفروضو نه علاوه د باقي رشته دارو نه چه كوم په خپله هم مذكر وي او د ميت طرفته د مذكر په واسطه هم منسوب وي.

(۳) **ذوي الارحام**: د ذوي الفروضو نه علاوه چه خپله هم مؤنث وي يا د ميت طرفته د مؤنث په واسطه منسوب وي.

تنبيه چيرته چه د وارث لفظ مطلق وي نو د هغې نه مراد صرف ذوي الفروض او عصبات وي ذوي الارحامو ته شامل نوي.

څلورم سبق
سهام

شش بود فرض مقدر دركتاب حق عزيز [1]

نصف وربع و ثمن باشد ثلث وثلثان سدس نيز

په قرآن كريم كښې شپږ سهام متعين دي: ((نصف . ربع . ثمن . ثلث . ثلثان . سدس))

اولو دريو ته طائفه اولى او آخرو دريو ته طائفه ثانيه ونيلې شي . د عدد دوه قسمونه دي مطلق او مضاف . مطلق ته صحيح هم وائي . مثلا دوه درې وغيره . او مضاف ته كسر هم ونيلې شي . مثلا نصف . ربع ثمن . وغيره د هر كسر د پاره د صحيح عدد ضرورت دې . مثلا د نصف د پاره د دوو (۲) ضرورت دې . څو پورې چه د يو څيز دوه حصې جوړې نكړې شي د هغې نصف نه راوځي . دغه شان د ربع د پاره د څلورو (۴) ضرورت دې . كوم كسر چه د اقل عدد صحيح محتاج وي هغه صحيح عدد ته د دغې كسر مخرج ونيلې شي او دا كسر د دغې خپل مخرج طرف ته مضاف وي . مثلا ربع الاربعه وغيره . ربع اگر چه د اتو (۸) او دولسو نه (۱۲) هم راوتلې شي . مگر كم از كم او اقل عدد چه د هغې نه ربع وتلې شي هغه څلور (۴) دې . د دې څخه د كم عدد نه ربع نشي وتلې . لهذا د ربع مخرج څلور (۴) دي -

پس د ذكر شوى سهامو نه د نصف مخرج دوه (۲) دى . د ربع څلور (۴) . د ثمن اته (۸) . د ثلث او ثلثان درې (۳) او د سدس شپږ (۶) دي

[1] دا اشعار د ((رساله ميراث)) مطبوعه ملتان نه په بوخه ترجمه او تعبير سره نقل كړى شو

که چیرې د اولې طائفې افراد په خپل مینځ کښې یا د دویمې طائفې په خپل مینځ کښې جمع شی نو په دې کښې چه د کوم مخرج اکثر وی نو هغې ته به اعتبار وی . نو چه نصف او ربع جمع وی نو د هغې مخرج به څلور (۴) وی . اوچه نصف او ثمن جمع وی نو مخرج به یی اته (۸) وی . ربع او ثمن هیڅکله هم نهٔ جمع کیږی . چه ثلث او ثلثان جمع وی نو چونکه د دواړو مخرج هم درې (۳) دې لهذا د اجتماع په وخت به هم درې وی .

که د اولې طائفې سره د نصف طائفه ثانیه خواه که هر یو فرد جمع وی نو مخرج به ئې شپږ وی . که ربع جمع وی نو دولس (۱۲) . که ثمن جمع وی نو خلیرشت (۲۴) به وی .

تنبیه : ثلث د ما بقی چه تفسیر به ئې راشی که چیرې نصف سره جمع وی نو د مخکښې په شان به یی مخرج شپږ (۶) وی . البته که ربع سره جمع وی نو مخرج به یی دولس (۱۲) نهٔ بلکه څلور (۴) وی. او ثلث دمابقی او ثمن به کله هم نهٔ جمع کیږی .

د مسئلې دلیکلو طریقه دا ده چه د ټولو نه اول به «**هو الحی الذی لایموت**» یا «**هوالباقی**» یا «بسم الله الرحمن الرحیم» ولیکی . بیا به د میت لفظ بنهٔ اوږد ولیکی او د دې په چپ طرف به د مړی نوم او په ښی طرف به لفظ دمسئله ولیکلې شی او د هغې میت د لاندې دې هغه ټول وارثان ولیکلې شی چه هغه د دهٔ د وفات په وخت ژوندی وو. که په وارثانو کښې زوج یا زوجه وی نو د ټولو نه اول دې هغه ولیکلې شی . د هغې نه پس دې نور وارثان ولیکلې شی ، زوج او زوجې لره په په وروسته لیکلو سره هم مسئله صحیح راځی لیکن لیکلو والا نا پوهه ګڼلې شی . که په وارثانو کښې څوک عصبه هم وی نو هغه به د ټولو آخره کښې لیکلې شی . بیا دې د ذوی الفروضو په حالاتو کښې غور وکړې شی د هر وارث د پاره دهغهٔ مقرره حصه نصف ربع وغیره دې ولیکلې شی . که عصبه وی نو د هغې د لاندې دې «ع» ولیکلې شی ، که څوک وارث محروم وی د هغې لاندې دې «م» ولیکی. بیا دې د ذوی الفروضو د لاندې د لیکلې شوی سهامو مخرج د لفظ «مسئله» دپاسه ولیکلې شی او د دغې مخرج نه دې د هر وارث حصه راوباسی او د هغهٔ د لاندې دې ولیکی . ټولو وارثانو ته د حصې ورکولو نه پس که څهٔ پاتې شی نو هغه دې د عصبهٔ د لاندې ولیکلې شی . دې نه پس دې په عبارت او الفاظو کښې هم پوره تصریح وکړی چه د فلانکی شخص د مال نه پس له تقدیم دحقوق مقدمه علی المیراث نه دومره سهام جوړکړې شو. او دومره فلانکی وارث ته ورکړې شو او دومره فلانکی ته .

مسئله ۲۴

میت

زوجه	ام	بنت	عم	خال
ثمن	سدس	نصف	ع	م
۳	۴	۱۲	۵	

عول کله کله وارثانو ته د ورکړې شوی سهامو مجموعه د اصل مسئلې د عدد نه زیاته شی ، د دې نوم عول دې، هلته د حصو د مجموعې په اصل مسئله باندې دا علامه (عــ)جوړیږی او د هغې دپاسه لیکل کیږی . بیا چه کوم عمل کیږی د عول په عدد سره به کیږی . د عول لغوی معنی تنګی ده . په دې صورت کښې چونکه د وارثانو حصه کمیږی نو له همدې وجې نه دې ته عول وائی . د دوو (۲) دریو (۳) څلورو (۴) او اتو (۸) عول نهٔ کیږی ، د شپږو (۲) عول د لسو پورې شفعا او وترا هرڅنګه راتلې شی او د دولسو (۱۲) عول اوولسو (۱۷) پورې صرف وترا راځی شفعا نهٔ راځی او د څلیریشتو (۲۴) عول فقط اوه ویشت (۲۷) راځی .

مسئله ۲ عـ ۷

میـ

زوج	اختین عینیتین
نصف	ثلثان
۳	۴

ذوی الفروض

ده دو اصحاب فرائض پس بکن یاد ای فتا — چارهستند از رجال وهشت بشمار ازنسا

چاراول زوج واب هم جد واخ خیفی بود — هشت ثانی اخت خیفی علی وعینی بود

نیز بنت و بنت الابن و زوجه ومادر شمار — هشتمین جده صحیحه دیګری رانیست کار

جد صحیح هغه دې چه د مړی طرف ته د ده په نسبت کښې د مؤنث واسطه نوی . مثلا د پلار او د پلار د پلار پلار وغیره .

جد فاسد هغه ده چه د مړی طرف ته د هغې په نسبت کښې د مؤنث واسطه وی . مثلا د مور پلار او دپلار د مور پلار وغیره .

جده صحیحه هغه ده چه د میت طرف ته په نسبت کښې د جدې فاسدې واسطه نهٔ وی . مثلا د پلار مور او د مور مور او د پلار مور وغیره .

جده فاسده هغه ده چه د میت طرفته د هغې په نسبت کښې جده فاسده واسطه وی . مثلا د مور د پلار مور او د مور د پلار د مور مور او د مور د مور د پلار مور مور وغیره

د اخواتو درې قسمونه اعیانی ، علاتی ، اخیافی

اعیانی هغه خویندې او وروڼه دی چه هغه د مور او پلار دواړو د طرفه وی. دا لفظ د عین نه ماخوذ دې چه د افضل په معنی دې . چونکه د دواړو طرفونو نه اخوات له یو طرفه اخواتو نه افضل دی لهذا دې ته عینی ونیلې شی

علاتي هغه خويندې او ورونه دي چه هغه صرف د پلار د طرفه وي . دا لفظ د «عله»[1] نه ماخوذ دې چه په معنی د بنې سره دې . چه پلار يو وي او مور يې جدا وي نو هغه دواړه موريانې به خپل منځ کښې بنې وي . له همدې کبله دا خويندې او ورونه علاتي شمار کولې شي.

اخيافي هغه خويندې او ورونه دي چه صرف د مور د طرفه وي . دا لفظ د «خيف» نه ماخوذ دې چه په معنی د مختلف سره دې . چونکه په داسې خويندو او ورونو کښې پلار مختلف وي لهذا دې ته اخيافي وئيلې کيږي.

د دې نه پس په خپله په صاحب اخوة يعنی په ورور اوخور باندې د دې الفاظو اطلاق کيږي ، عينی ورور او عينيه خور وغيره ورته وئيلې شی . د دې جمع اعيان . اعيانی . بنوالاعيان و علات . علاتي . بنوالعلات . او اخياف . اخيافي . بنوالاخياف راځی.

بيا چونکه اعمام او عمات او اخوال او خالات د مور پلار ورور خور وی ، لهذا دوئ ته هم اعيانی او اخيافي وئيلې شی . پس د پلار عينی ورور عم عينی ګڼلې شی.

قال الشيخ احمد بن محمد بن علی المقری رحمه الله تعالی:

ومتى اردت تميز الاعيان   فهم الذين يضمهم ابوان

اخياف ام ليس يجمعهم اب   وبعكسه العلات يفترقان

بنت الابن چه چرته هم راځی نو عام به وی . يعنی بنت الابن و بنت ابن الابن وغيره . دغه شان ابن الابن هم عام دې . يعنی ابن الابن و ابن ابن الابن و غيره .

احوال الاب «د پلار احوال»

سدس آيد مر پدر را با پسر و ابن پسر

سدس و تعصيب آيدش بادختر ودختر پسر

گر ازين دوقسم مذكورين نباشد هيچ كس

نيست زاصحاب فرائض عصبه محض است وبس

هر کله چه د مړی خوئ يا نمسې موجود وی اگر چه دوئ سره لور يا نمسئ هم وی نو پلار ته به سدس شپږمه حصه ورکول کيږی او عصبه به هم وی .

د عصبه مختصر حال دا دې

عصبه آن باشد كه او دارد دوحال   گر بود تنها بگيرد كل مال

ورنه دبادى كسى صاحب نصيب   هرچه زو ماند بگيرد اى حبيب

---

[1] ماخوذ من العلل وهو الشرب بعد الشرب فان الزوج لما تزوج مرة بعد اخرى صار كانه شرب مرة بعد اخرى.

د دې پوره تفصیل به په پنځم سبق کښې راځي ان شاء الله تعالی.

احوال الجد ((دنیکه احوال))

جد چون پدرست میدان جز سقوط ام اب — ردّ ام هم سوئی ثلث مابقی ای پر ادب
جدمحروم ست ای دلدار ازمیراث خویش — باپدر اقرب که ازوی هست درتنسیب پیش

د اب او جد په دوؤ مسائلو کښې فرق دې:

(۱) ام الاب د اب دوجې نه محرومیږی په جد سره نه محرومیږی

(۲) د اب په موجدوالی کښې چه ام ته په کومو صورتونو کښې ثلث دمابقی ورکول کیږی که په هغوئ کښې اب نوی بلکه جد وی نو د ټول مال ثلث به ورکول کیږی.

د ثلث مابقی پوره تفصیل به د ام په حالاتو کښې راځی. انشاء الله

د اخیافی ورونو اوخویندو احوال

در فرائض هست مر اولاد مادر را سه حال — مریکی راسدس وثلث ازبهراکثر ای کمال.
ساقط ند ایشان بولد و باپدر باجد نیز — قسمتی یکسانست در اولاد ام ای پرتمیز

اولاد عام دې که مذکر وی او که مؤنث. دغه شان د ولد لفظ چه کوم ځائ کښې هم راځی نو مذکر او مؤنث ولد الابن، ولد ابن الابن وهکذا ټولو ته به شامل وی. البته والد البنت لره ندې شامل کما قال الشاعر:

بنونا بنو ابنائنا وبناتنا بنوهن ابناء الرجال الاباعد

د ښځې او خاوند احوال

پس بدانکه نصف شوهر رابباید بی ولد — ربع باشد بی تفاوت گر ولد باوی بود
با ولدثمن است زن را ربع باشد بی ولد — واحدی باشد که اکثرنیست فرق ای ذی خرد

ښځې که دوه یا زیاتې وی نو هرې یوې ته به جدا جدا ربع یا ثمن نهٔ ورکول کیږی بلکه یوه ربع یا ثمن به په ټولو برابر تقسیم کیږی.

احوال البنات ((دلورگانو احوال))

در فرائض مر بنات صلب راسه حال دان — مریکی را نصف وثلثان بهراکثربی گمان
عصبه بالغیرمی گردند ایشان باپسر [1] — پس پسررا حصهء دوزن بده ای پرهنر

[1] د عصبه بالغیر تعریف دې به پنځم سبق کښې وکړل شی

احوال بنات الابن ((د خوئ د لورگانو احوال))

چون بنات صلب میدان در تمامی حالها | مر بنات ابن را اندر همه احوالها
لیک احوال ست چندین نیز شانرازاندست | از بنات صلب میت کان همه لیست لها
سدس با یک بنت صلبی مربنات ابن راست | باپسرمحجوب دان رستی ز قیل وقالها
بادو بنت این حکم باشد لیک با ابن پسر | عصبه میگردان تو شانرا اندر ینجا کلها

د بنات الابن او بنات ابن الابن وغیره شپږ احوال دی . درې احوال د بناتو غوندې دی . یعنی کله چه بنات نۀ وی.

(۱) یوې بنت الابن ته نصف.

(۲) دوؤ یا زیاتو ته ثلثان

(۳) که چیرې دوئ سره ابن الابن هم وی که د دوئ ورور وی او که ابن العم وی نو دوئ به عصبه گرځوی او په دوئ کښې به للذکر مثل حظ الانثیین تقسیم کیږی . خو په دې شرط چه دا ابن الابن د دوئ محاذی وی (یعنی له دوئ سره برابر وی).

او درې احوال له بنات الابن سره خاص دی:

(۱) د یوې بنت په موجود گئ کښې که بنت الابن یوه وی او که زیاتې هغوئ ته به سدس ورکول کیږی . البته د ابن الابن محاذی سره به عصبه شی خپل مینځ کښې به په للذکر مثل حظ الانثیین تقسیم وکړی.

(۲) د ابن د وجې نه به محروم وی.

(۳) ددوؤ یا زیاتوبناتو سره به ساقطیږی . لیکن که چیرې هغوئ سره ابن الابن محاذی یا اسفل وی نو هغوئ به عصبه کړی او خپل مینځ کښې به په للذکر مثل الانثیین سره تقسیم وکړی

غرض دا چه بنات الابن کله صاحب فرض وی نو په ابن الابن سره به محاذی گرځی او په اسفل سره به نۀ گرځی . او که د بناتو د وجې نه محروم شوی وی نو د محاذی او اسفل دواړو دوجې بیا عصبه گرځی . او عالی په هر حال د سفلیاتو د پاره حاجب دې . دغه شان د بنت الابن عالیه د وجې نه هم سفلیات چه کله عصبه نوی محرومیږی . البته که چیرې بنت نوی نو د تولو نه عالیه بنت الابن به د بنت په حکم کښې وی او د دې نه سفلی به د بنت الابن په حکم کښې وی او د دې نه سفلی که عصبه نوی نو محروم به وی. خلاصه دا شوه چه دابن الابن اوبنت الابن د اجتماع درې حالات دی


(۱) چه ابن الابن عالی وی نو په هرحال به د بنت الابن د پاره حاجب وی

(۲) ابن الابن محاذی په هر صورت بنت الابن لره عصبه گرځوی

(۳) که ابن الابن اسفل وی نو په دې کښې دا تفصیل دې که بنت الابن صاحب فرض وی نو هغه

نه عصبه کوی . او که محرومه وی نو عصبه به ئې گرځوی.

مسئله



په اوله درجه کښې به یوې بنت الابن ته نصف او په دویمه درجه کښې دوؤ بنات الابن ته سدس ورکول کیږی، په دریمه درجه کښې درې بنات الابن او د څلورمې درجې یوه بنت الابن د دې درجې د ابن الابن د وجې نه به عصبه وی . له همدې وجې نه به باقی مال په هغوئ کښې په للذکر مثل حظ الانثیین سره تقسیم کیږی ، د پنځمې درجې بنت الابن به محرومه وی.

احوال الاخوات العینیة ((داعیانی خویندو احوال))

خواهران عینی میت رابود احوال پنج — نصف گر باشد یکی ثلثان اگرباشد گنج

با برادر عینی وهم دختر و دختر پسر — عصبه گردان جمله را اسهام شان نیکوبسنج

په اول شعر کښې دوه احوال ذکر دی: (۱) یو ته نصف (۲) دوؤ یا زیاتو ته ثلثان.

او دویم شعر هم دوؤ احوالو لره متضمن دې:

(۱) داعیانی ورور د وجې نه به عصبه بالغیر وی او باقی مال به په للذکر مثل حظ الانثیین سره تقسیم کیږی.

(۲) د لور او د خوئ د لور د وجې نه به عصبه مع الغیر وی مگر لور او د خوئ لور به په خپله عصبه نوی بلکه هغه به ذوی الفروض وی.

په عصبه بالغیر او عصبه مع الغیر کښې فرق او د هغې تعریف به په پنځم سبق کښې راشی ، انشاء الله تعالی

پنځم حال د علاتی خویندو د احوالو په آخرکښې دې ځکه چه هغه هم په دې کښې شریک دی

احوال الاخوات العلیه ((دعلاتي خويندو احوال))

خواهـران عـلـیه راحـالات جمله هفت هست
نصف مریک راست ثلثان هرچه زاید بریکست
سدس ایشان راست بایک خواهر عینی فقط
در بود دو باید از میراث شانراشست دست
لیک میدان گـراخ علی بایشـان هم بـود
عصبه هریک میشود ازداغ محرومی برست
در بـود ملحق بایشـان دختـر دخـتـر پسر
عصبه میگردند زان کلیه کان شارع ببست
باپسـر وابن پسر هم با پـدر بـالاتـفـاق
نیزباجد نزدنعمان غیر را اینجا شک است
هست ساقط اخوة واخوات اعیان هم علی
نیـز عـلـی با اخ عینی بدان یکسـونشسـت

د علاتي ورور د وجې نه علاتي خويندې عصبه بالغير وی او باقي پاتې مال به په هغوئ کښې په للذکر مثل حظ الانثیین سره تقسیم کیږی.

د بنت او بنت الابن د وجې نه به عصبه مع الغير وی ، مگر بنت او بنت الابن به خپله عصبه نوی کله چه د بنت یا بنت الابن سره اعیاني خور او علاتي خور دواړه جمع شي نو دواړه بۀ عصبه وی . مگر د قوی عصبه په موجودګئ کښې ضعیف عصبه محروم کیږی . چه د هغې تفصیل به انشاء الله په پنځم سبق کښې راشی . له هم دې وجې نه به علاتي خور محرومه وی . او دغه شان علاتي ورور به هم محروم وی.

احوال الجد ((دنيكه احوال))

سدس آید جـده راپدری بـود یا مـادری
یا که اکثرلیک بعدی شد بقربی یان بری
جـمله جـده گشت سـاقط باوجود ام بدان
جده ابوی گشت ساقط باپدردان همچنان

د هريو شخص ترڅلورو پښتو پورې ديرش (۳۰) جدې کیدې شي چه دې نه خوارلس (۱۴) صحیحه دی او باقي شپاړس (۱۲) فاسدې دی.

د خوارلس جدات صحيحه ؤ نقشه

د پښت شمیره	جدات صحیحه ابوی				جدات صحیحه اموی
اول پښت	دپلار مور (۱)	په اول پښت کښې فقط دوه جده صحیحه کیدې شي			د مور مور (۲)
دویم پښت	دنیکه مور (۳)	د نیکه دمور مور (۴)	پدې پښت کښې درې کیدې شي		دمور دمور مور (۵)
دریم پښت	دنیکه د پلار مور (۲)	دنیکه دمورمور (۷)	دنیا دمور مور (۸)	پدې کښې څلور	دمور د مور دمور مور ۹
څلورم پښت	دنیکه دنیکه مور (۱۰)	دنیکه دنیا مور (۱۱)	د نیکه دمور دمور مور (۱۲)	دنیکه دمور دنیا مور (۱۳)	د مور دمور دنیا (۱۴)

جلد
هفتم
21

که چیرې د میت ډیرې جدې وی او په قرب او بعد کښې بی فرق وی مثلا یوه جده د اول پشت نه وی او بله د دویم پشت نه وی نو د قربی د وجې به بعدی محرومیږی اګر چه قربی به خپله هم محرومه وی . مثلا د پلار د نیا او د مور د نیا په موجود ګئ کښې به د پلار د مور د وجې نه د مور نیا محرومه وی اګر چه د پلار مور په خپله هم د پلار د وجې نه محرومه ده

او که ټولې جدې د یوې درجې وې نو په هغوئ ټولو کښې به سدس برابر تقسیم کیږی اګرچه یوه جده صاحب قرابتین او بله صاحب دقرابت واحده وی . مثلا که د هندې د نمسی او نمسی په مینځ نکاح وشوه او دهغوئ نه زید پیدا شو نو هنده د زید جده صاحب دقرابتینو وګرځیده . ځکه چه دا د زید د پلار د پلار له طرفه نیا هم ده او دهغهٔ د مور د مور طرفه نیا هم ده. یوه بله ښځه صالحه ده چه د زید د پلار دمور له طرفه نیا ده او د دې زید سره یی همدغه یوه علاقه ده . نو په دې صورت کښې به د زید په مرګ باندې په صالحه او هنده دواړو باندې سدس برابر تقسیم کیږی . دا به نهٔ وی چه هندې ته دې دوه حصې او صالحې ته دې یوه حصه ورکړل شی . په خلاف د نورو موقعو چه هلته د دوؤ طرفو د قربت د وجې نه حصې هم دوه قسمه ورکول کیږی . مثلا یو سړې د یوې ښځې زوج هم دې او ابن العم یی هم دې ، نو د زوج کیدو په وجه سره به خپله مقرره حصه ورته هم ورکول کیږی او که څوک عصبه دهٔ نه مقدم موجود نهٔ وو نو د ذوی الفروض نه پس باقی پاتې مال به هم دې زوج ته ورکول کیږی ځکه چه ابن العم عصبه وی

مسئله		زید
میـ		
اب		ام
ام	اب	ام
ام		ام
صالحه		هنده

د جد د وجې نه ام الاب او ام ام الاب وغیره محروم نوی ځکه چه په هغوئ کښې د جد واسطه نشته . البته ام الجد به محرومه وی

احوال الام ((دمور احوال))

در فرائض ګر ببینی هست مادر راسه حال — سدس باولد ست وولدالابن یی ازقیل وقال
مثل مذکورست ګرباشد دونی ازاخت واخ — عینی وعلی وخیفی بست ویک باشد مثال
ثلث مابقی ست بعد ازفرض زوجه زوج هم — ګر بابشان هم پدر ماند زمیست در مآل
ثلث از کل ست چون نبود ازین مذکور کل — ضبط احوال فرائض شد بفضل ذی الجلال

د مور درې احوال دی (۱) سدس (۲) ثلث مابقی (۳) ثلث د ټول مال
دا درې واړه حالات په ترتیب سره معتبر دی . یعنی د ټولو نه به اول هغه صورتونو ته اعتبار

ورکولې شي چه په کومو کښې مور ته سدس ورکول کیږی . که چیرې د سدس د صورتونو نه مو صورت هم نوی نو بیا به هغه صورتونه معتبر وی چه په هغې کښې ثلث دمابقی ورکول کیږی . او که د دې نه څه صورت نوی نو ثلث د ټول مال به ورکول کیږی . مثلا یو میت لور ، مور ، پلار او خاوند وارثان پریږدي نو مور ته به سدس ورکول کیږی . خاوند ته د ورکولو نه پس به د ثلث باقی نهٔ ورکول کیږی

که چرې د میت د ورونو او خویندو نه دوه یا زیات موجود وی نو اګر چه هغوئ خو خپله هم محروم دی خو بیا به هم مور ته سدس ورکول کیږی.

تمت احوال اصحاب الفروض بحمد الله تعالی

پنځم سبق

عصبات : عصبه په لغت کښې په معنی د پهلوان دې . او په اصطلاح کښې هغه چاته وایی چه په غونبه او خرمن کښې شریک وی . چه د هغې په عیب دار کیدو سره په خاندان عیب لګی ، په شرع کښې اولاد د پلار وی له همدې وجې نه د ښځې د خاندان اولاد عصبه ندې . څکه چه هغه اولاد د دې د خاوند دې.

اصلی وارث عصبه دی . له همدې وجې نه خوئ په شرع کښې عصبه شو د ذوی الفروضو نه نشو . د ذوی الفروضو نه پس د عصبه حق دې . که چیرې د ذوی الفروضو نه څوک نوی یا د هغوئ نه څه پاتې شی نو هغه به عصبه ته ورکول کیږی.

د عصبه دوه قسمونه دی (۱) عصبه نسبی (۲) عصبه سببی.

عصبه سببی معتق دې . که مذکر وی او که مؤنث. دا د عصبه نسبی نه مؤخر دې . که معتق هم نوی نو د دهٔ به عصبه بنفسه وارثان وی[1] . بیا سببی . وهکذا . د معتق د ذوی الفروضو او عصبه بالغیر او مع الغیر او ذوی الارحام هیڅ حق نشته.

که چیرې څوک د خپل ذی رحم محرم مالک شی نو هغه غلام به خود بخود آزاد شی . اګر که مالک د آزادیدو قصد نوی کړې . د دې غلام د میراث مستحق به د عصبه نسبی په عدم موجودګئ کښې دا مالک وی . که چیرې دوؤ یا زیاتو کسانو مشترک غلام آزاد کړو نو هر یو ته به د هغهٔ د حصې مطابق میراث ورکول کیږی

نسبی عصبه په درې قسمه دی (۱) عصبه بنفسه (۲) عصبه بالغیر (۳) عصبه مع الغیر

عصبه بنفسه دوئ خپله هم مذکر وی او د میت طرف ته د ذکورو په واسطه منسوب هم وی

عصبه بالغیر هغه ذوی الفروض ښځې دی چه هغوئ د خپلو ورونو سره یوځای عصبه شی . او

---

[1] د عصبه بنفسه او عصبه بالغیر اومع الغیر تفسیر به آینده بحثونو کښې را روان دې . ان شاء الله تعالی

هغه ورونه خپله هم عصبه بنفسه وی. دې دپاره په هغوئ کښې تقسیم په للذکر مثل حظ الانثیین سره وی . لکه ابن سره بنت او ابن الابن سره بنت الابن او اخ عینی سره اخت عینیه او اخ علی سره اخت علیه شو

کومې ښځې چه ذوی الفروض ندی هغوئ د خپل ورور سره عصبه نشی کیدې . پس عم سره به عمه عصبه نوی .

عصبه مع الغیر : هغه ذوی الفروض ښځې دی چه د نورو ذوی الفروضو ښځو د وجې نه عصبه کیږی او عصبه گرځولو والا ښځې خپله هم ذوی الفروض وی . لکه د بنت او بنت الابن د وجې نه اخت عینیه او اخت علیه. کوم ځائ کښې چه مطلق لفظ د عصبه لیکلی شوې وی د هغې نه عصبه بنفسه مراد وی او په واقع کښې عصبه همدا وی. عصبه مع الغیر او بالغیر په اصل کښې ذوی الفروض دی . دې وجې نه کوم ځائ کښې چه څوک هم د عصبه د تعریف پوښتنه وکړی نو د عصبه بنفسه تعریف بیانولې شی. له همدې وجې نه په دریم سبق کښې د عصبه په تعریف کښې د عصبه بنفسه تعریف بیان شوې دې .

د عصبه نسبی په اعتبار داستحقاق سره څلور قسمونه دی :

(۱) **جزء میت** : ابن او ابن الابن وهکذا ، او بنت او بنت الابن وهکذا ، هرکله چه ابن یا ابن الابن د وجې نه عصبه شوې وی .

(۲) **اصل میت** : اب او اب الاب و هکذا .

(۳) **جزء اصل قریب میت** : اخ عینی او علی او د دوئ مذکر اولاد وان سفلوا . او اخت عینیه او علیه کله چه د اخ یا د بنت د وجې نه عصبه شوی وی .

(۴) **جزء اصل بعید میت** : عم عینی او علیٰ او عم الاب او عم الجد وان علوا [۱] واولادهم الذکران وان سفلوا

دا څلور اقسام په ترتیب سره وارثان وی. یعنی د ټولو نه مقدم به اول قسم . بیا دویم . بیا دریم . بیا څلورم وی

بیا په هر قسم کښې به بعید د قریب د وجې نه محروم وی . لکه د اخ علی د وجې نه به ابن الاخ العینی او د ابن العم د وجې نه به عم لاب محروم وی .

بیا به د قوی د وجې نه ضعیف محروم وی . لکه د اخ عینی د وجې نه اخ علی . دغه شان اخت عینیه د لور یا د نمسئ د وجې نه چه عصبه شوی وی نو اخ علی او د څلورم قسم ټول عصبات به محروم وی

[۱] د دې تحقیق دې درسالې په آخر کښې به دریمه ضمیمه کښې وکتل شی

التمرین

مسئلہ - ۶

میـ

زوج	ام	اب
۳	۱	۲

مسئلہ - ۶ عـ ۸

میـ

زوج	ام	ام الام	اختین عینیتین
۳	۱	م	۴

مسئلہ - ۶ عـ ۹

میـ

زوج	اختین عینیتین	اختین خیفیتین
۳	۴	۲

مسئلہ - ۴

میـ

زوجہ	ام	اب
۱	۱	۲

مسئلہ - ۶ عـ ۱۰

میـ

زوج	ام الام	اختین عینیتین	اختین خیفیتین
۳	۱	۴	۲

مسئلہ - ۲

میـ

بنت	اخت عینیہ
۱	۱

مسئلہ - ۳

میـ

بنتین	اخت عینیہ	عم
۲	۱	م

مسئلہ - ۱۲

میـ

زوج	بنت	اب	ام الاب
۳	۲	۳	م

مسئلہ - ۴

میـ

زوج	بنت	اخت عینیہ	اخ علی
۱	۲	۱	م

مسئلہ - ۹

میـ

خمس اخوات عینیہ	اخ عینی	اخ عینی	ابن قاتل
۵	۲	۲	م

مسئلہ - ۵

میـ

اخت عینیہ	اخ عینی	اخ عینی
۱	۲	۲

مسئلہ - ۱۲ عـ ۱۵

میـ

زوج	بنت	بنت	ام	اب الاب
۳	۴	۴	۲	۲

مسئلہ - ۲۴

میـ

زوجہ	بنتین	ام الام	ابن الاخ العینی
۳	۱۲	۴	۱

مسئلہ - ۸

میـ

زوجہ	بنت	ابن	ابن	ابن
۱	۱	۲	۲	۲

مسئلہ - ۲۴ عـ ۲۷

میـ

زوجہ	بنتین	اب	ام
۳	۱۲	۴	۴

مسئلہ - ۶

میـ

ام	بنت	اب	اخ خیفی
۱	۳	۲	م

مسئله - ۷

اخت علیه	اخت علیه	اخت علیه	اخ علی	اخ علی
۱	۱	۱	۲	۲

مسئله - ۱۲ عـ ۱۷

زوجه	ام	ابن قاتل	اخت عینیه	اخت عینیه	اخت خیفیه	اخت خیفیه
۳	۲	م	۴	۴	۲	۲

شپږم سبق

خلور نسبتونه:

اسـوهٔ دو عدد تماثـل شـد عدکم بیش را تداخل شد
شد تباین چون عاد شد واحد گو توافق چون ثالثے زایـد

(۱) **تماثل** چه دوه یا زیات عددونه په خپل مینځ کښې متساوی (برابر) وی.
د دوئ عاد اعظم هم له دوئ سره مساوی وی چه هغه دې متساوی اعدادو نه هریو لره په یو خل تقسیم کوی
د لوئ نه لوئ داسې عدد چه هغه دوؤ یا زیاتو اعدادو لره پوره پوره تقسیم کوی هغې ته عاد اعظم یا مشترک مقسوم علیه اعظم وئیلې شی.
د دې اعدادو نه هریو لره په عاد اعظم تقسیم کولو نه چه کوم جواب راشی نو هغهٔ ته د دغې عدد وفق وئیلې شی. مثلا په خلورو او خلورو کښې د تماثل نسبت دې. د دې عاد اعظم هم خلور (۴) دې. چه دوارو لره پوره تقسیم کوی او د هر یو وفق یو (۱) دې.
(۲) **تداخل** چه دوه عدده متساوی نوی بلکه کم او زیات وی او وړوکې عدد غټ لره پوره پوره تقسیم کوی. د دې عاد اعظم د وړوکې عدد سره متساوی وی چه وړوکی عدد لره په یو خل، سره او غټ عدد دوه یا څو خله تقسیم کوی. مثلا په درې (۳) او شپږو (۲) کښې تداخل دې د دې عاد اعظم درې دې. د دریؤ وفق یو او د شپږو وفق دو (۲) دې
(۳) **توافق** چه وړوکې عدد لوئ عدد لره پوره تقسیم نکړې شی مګر یو دریم عدد د دې دوارو نه هریو لره پوره پوره تقسیم کړی چه هغه به د هغوئ عاد اعظم وی مثلا اتهٔ (۸) او دولسو (۱۲) کښې توافق دې. د دوئ عاد اعظم خلور (۴) دې چه هغه دوارو لره پوره پوره تقسیم کوی. د اتو (۸) وفق دوه (۲) دې او د دولسو وفق درې (۳) دې

په توافق کښې د لویو اعدادو د عاد اعظم معلومولو طریقه نزدې راروانه ده

۴، **تباین** چه نه وړوکې عدد لوئ له پوره پوره تقسیم کړی او نه یو دریم عدد دواړو له پوره پوره تقسیم کړې شی ۰ د دوئ عاد اعظم یو وی. مثلاً په درې ۳، او اوو ۷، کښې تباین دې ۰ د یو ۱، نه علاوه هیڅ یو عدد دوئ له پوره پوره نشی تقسیم کولې ۰ دې وجې نه د دوئ وفق هم نه راوځی

یو اشکال د توافق تعریف ،چه کومو دوو عددونو له دریم عدد پوره پوره تقسیم کړی، باندې اعتراض لازمیږی چه د عاد اعظم یو ،۱، کیدو په صورت کښې دې هم نسبت د توافق وی ځکه چه دا هر یو عدد له پوره پوره تقسیم کوی

جواب یو ،۱، عدد ندې او په توافق کښې د عاد اعظم عدد کیدل ضروری دی

عدد هغه دې چه د هغه د طرفینو مجموعه د هغې نه دوچنده وی

فائده دا نسب اربع صرف په اعدادو کښې دې، نو له همدې کبله د یو نسبت د یو ،۱، عدد سره یا د کوم بل عدد سره د معلومولو سوال نه پیدا کیږی ۰ البته په دې دواړو صورتونو کښې چونکه وفق نه وځی نو له همدې وجې نه دا د تباین په حکم کښې دې ۰

په توافق کښې د عاد اعظم معلومولو طریقه

غټ عدد له په وړوکی باندې د تقسیم کولو نه پس چه څه باقی پاتې شی په هغې وړوکې عدد مقسوم علیه تقسیم کړئ ۰ بیا هغه نوې مقسوم علیه په نورو باقی باندې تقسیم کړئ. دغه عمل کوئ تردې چه څه هم باقی پاتې نشی آخری مقسوم علیه به عاد اعظم وی

که چیرې دا عاداعظم یووی نو نسبت به د تباین وی او که بل څه عدد وی نو نسبت به توافق وی

مثال د ۳۸۴ او ۱۲۹۲ عاد اعظم به داسې پیدا کوو

```
۳۸۴ ) ۱۲۹۲ ( ۳
      ۱۱۵۲
      ۱۴۴ ) ۳۸۴ ( ۲
            ۲۸۸
            ۹۲ ) ۱۴۴ ( ۱
                 ۹۲
                 ۴۸ ) ۹۲ ( ۲
                      ۹۲
                      ۰۰
```

مطلوب عاد اعظم ۴۸ دی

ددوونه دزیات عدد عاداعظم راوبسنلو دپاره اول د دوواعدادو عاداعظم راؤباسی.بیا د هغې عدد او د دریم عدد عاد اعظم راؤباسئ . دغه شان عمل کوئ . آخری عاد اعظم به یې جواب وی

اووم سبق

تصحيح المسئلة

که چیرې سهام په وارثانو منکسر وی نو د هغې د دفعې د پاره یوه طریقه ده چه هغې ته تصحیح المسئله وائی. طریقه یې دا ده که چیرې کسر صرف په یوه طائفه کښې وی نو د هغې طائفې د رؤوسو اوسهامو دې خپل مینځ کښې نسبت معلوم کړې شی

که چیرې تماثل یا تداخل وی او سهام د رؤوسو نه زیات وی نو د تصحیح ضرورت نشته

که تداخل کښې سهام د رؤسو نه کم وی یا توافق وی نو د رؤسو وفق لره او که تباین وی نو کل رؤسو لره په اصل مسئله کښې او که عول وی نو په عول کښې او د هر وارث په سهامو کښې ضرب ورکړئ

په اصل مسئله یا په عول کښې ضرب ورکولو سره چه کوم حاصل راشی هغه تصحیح المسئله ده . دې لره دې په اصل مسئلې سره علامت دا «عــ» نښه جوړه کړې شی او د هغې د پاسه دې ولــکلې شی

مسئله - ۲ عــ ۳۰

اب	ام	خمس بنات
۱ ۵	۱ ۵	۴ ۱۰

مسئله - ۲ عــ ۱۸

اب	ام	ست بنات
۱ ۳	۱ ۳	۳ ۱۲

مسئله - ۲ عــ ۷ عــ ۱۴

زوج	ثمانی اخوات علبه
۳ ۲	۸ ۴

که چیرې کسر په دوو یا زیاتو طائفو کښې وی نو اول د هرې طائفې د سهامو او رؤسو نسبت معلوم کړئ . که چیرې یکښې تداخل وی او سهام د رؤسو نه کم وی یا توافق وو نو د رؤسو وفق لره او که تباین وو نو ټولو رؤسو لره محفوظ کړئ . بیا د طائفې اولی د محفوظ کړې شوی عدد او رؤسو د طائفې ثانی د محفوظ کړې شوې عدد په خپل مینځ کښې نسبت وګورئ . که تباین وو نو لره په دوېم کښې ضرب ورکړئ . که توافق وو نو وفق لره د دوېم ابه کل کښې ضرب ورکړئ که تداخل وو نو اکثر واخلئ . که تماثل وی نو د دوؤ نه یو واخلئ بیا د دې حاصل ضرب .

ماخوذ د رؤسو د طائفه ثالثي د محفوظ کړي شوی عدد سره نسبت وګوری او دغه شان عمل کوئ حتی چه ټولې طائفې پوره شی . بیا هغه آخر حاصل ضرب یا ماخوذ لره په اصل مسئله یا عول کښې او د هر وارث په سهم کښې ضرب ورکړئ . کوم چه حاصل راشی هغه تصحیح المسئله ده

مسئله - ۲ عـ ۱۸

میـ

ثلاث بنات	ثلاث جدات	ثلاث اعمام
۴ ۱۲	۱ ۳	۱/۳

مسئله - ۱۲ عـ ۱۴۴

میـ

اربع زوجات	ثلاث جدات	اثنا عشر عما
۳ ۳۲	۲ ۲۴	۷ ۸۴

مسئله - ۲۴ عـ ۵۰۴۰

میـ

زوجتین	ست جدات	عشر بنات	سبعة اعمام
۳/۲۳۰	۴/۸۴۰	۱۲/۳۳۲۰	۱/۲۱۰

مسئله = ۲۴ عـ ۴۳۲۰

میـ

اربع زوجات	ثمانی عشر بنات	خمس عشرة جدة	ستة اعمام
۳ ۵۴۰	۱۲ ۲۸۸۰	۴ ۷۲۰	۱ ۱۸۰

مسئله - ۳ عـ ۴۵

میـ

بنت	بنت	بنت
دپلار په اخستلویی (۳۰) درهم خرج کړل	دپلار په اخستلو یی (۲۰) درهمه خرج کړل	هیڅ یی خرج نکړل
۱۹	۱۲	۱۰

اتم سبق

د ردّ طریقه

که چیرې ذوی الفروضو ته هر یو ته د پوره پوره حصې ورکول کیدو نه وروسته یو څه مال پاتې شو او څوک عصبه هم نهٔ وو نو باقی مال به په ذوی الفروض نسبیه یعنی بغیر له زوجینو نه به نورو باقی ذوی الفروضو باندې به تقسیم کیږی د سهامو مطابق . څکه چه یو څو ذوی الفروض

نسبیه ته من یرد علیهم وئیلې شی . زوجینو ته به دې نه هیڅ نهٔ ورکول کیږی لهذا دوئ ته من لایرد علیهم وئیلې شی .

د رد کولو طریقه دا ده که چیرې په مسئله کښې من لایرد علیهم نهٔ وی او من یرد علیهم جنس واحد وی نو بعد الرد دهغوئ د رؤسو نه او که د مختلف جنسونو نه وی نو د هغوئ د سهامو نه دې مسئله جوړه کړې شی او دې لره دې د اصل مسئلې سره دا «لعـــ» علامه جوړه کړی او د هغې د پاسه دې ولیکی :

مسئله =۳ لعـ ۴

میـــــــ

اربع بنات
۲.۴

مسئله =۲ لعـ ۲

میـــــــ

جده	اخت اخیافی
۱	۱

مسئله =۲ لعـ ۳

میـــــــ

اخت اخیافی	ام
۱	۲

مسئله =۲ لعـ ۵

میـــــــ

اخت اعیانی	اختین اخیافیتین
۳	۲

مسئله =۲ لعـ ۴

میـــــــ

بنت	بنت الابن
۳	۱

مسئله =۲ لعـ ۵

میـــــــ

اخت اعیانی	اخت علاتی	اخت اخیافی
۳	۱	۱

مسئله =۲ لعـ ۵

میـــــــ

اختین اعیانی	اختین علاتی	اخت اخیافی
۴	م	۱

که په مسئله کښې من لایرد علیه هم وی نو اول صرف د من لایرد علیه مسئله د هغې د سهم د اقل مخرج نه وباسئ د دې نه من لایرد علیه ته حصه ورکړئ او باقی محفوظ وساتئ . بیا صرف د من یرد علیهم مسئله راوباسئ گویا چه من لایر د علیه د هغوئ سره نشته او د من یرد علیهم نه هر یو ته د هغوئ د مسئلې نه حصه ورکړئ او د پورته طریقې موافق ئې په هغوئ رد کړئ . یعنی د هغوئ رؤسو یا د سهامو دې مسئله جوړه کړې شی . بیا د من یرد علیهم د مسئلې نه پس بعد الرد د من لایرد علیه د مسئلې نه په باقی سره نسبت وگورئ

که تماثل وی نو د من لایرد علیه مسئله به په خپل حال پاتې وی

که تباین وی نو کل مسئلې لره او که تداخل وی نو د هغې وفق لره د من لایردعلیه په کل مسئله کښې او د من لایرد علیه په هغه سهم کښې چه کوم ورته د خپلې مسئلې نه ورکړی شوی دې ضرب ورکړئ . په دغه ځای کښې توافق نشی کیدې

دمن لا یرد علیه په مسئلې کښې د ضرب ورکولو نه چه څه حاصل شی نو هغه مخرج بعد الرد دې په من یرد علیهم کښې هریو لره چه د خپلې مسئلې نه کوم سهم ورکړې شوې دې هغې لره د من لا یرد علیه د مسئلې نه په باقی کل یا په وفق کښې ضرب ورکړئ.

مسئله = ۱۲ لعـ ۴
میـ

زوج	ثلاث بنات
۳	۸
۱	۳

مسئله = ۱۲ لعـ ۱۲
میـ

زوجه	اربع اخوات اعیانی
۳	۸
۴	۱۲

مسئله = ۱۲ لعـ ۸
میـ

زوج	ست بنات
۳	۸
۲	۶

مسئله = ۱۲ لعـ ۴ لعـ ۴۸
میـ

زوجه	اربع جدات	ست اخوات اخیافی
۳	۲	۴
۱	۱	۲
۱۲	۱۲	۲۴

مسئله = ۲۴ لعـ ۴۰ عـ ۱۴۴۰
میـ

اربع زوجات	تسع بنات	ست جدات
۳	۱۲	۴
۵	۲۸	۷
۱۸	۱۰۰۸	۲۵۲

نهم سبق

ذوی الارحام

د ذوی الارحام عم د استحقاق په لحاظ سری دعصبات نسبیه په شان څلور اقسام دی: او د عصباتو او د من یرد علیهم په عدم موجودګئ کښې په ترتیب سره وارثان کیږی. یعنی اول قسم په د ټولو نه مقدم وی. بیا دویم قسم. بیا دریم قسم او بیا څلورم قسم دی.

۱ **جزء میت** اولاد البنات واولاد بنات الابن وان سفلوا

۲ **اصل میت** الاجداد والجدات الفاسدة

۳ **جزء اصل قریب میت** اولاد الاخوات و بنات الاخوة و بنوا الاخوة لام و اولادهم

۴ **جزء اصل بعید میت** اعمام اخیافی. عمات. اخوال و خالات. بنات الاعمام. و کل هؤلاء للابوین و لبنی الابوین. او د دې ټولو اولاد

که چرې د یو قسم مختلف ذوی الارحام جمع شی نو د هر یو قسم په خپل مینځ کښې طریقه دتقسیم جدا ده

اول قسم د قریب د وجې نه به بعید محروم وی لکه د بنت البنت د وجې نه بنت الابن

بیا دولدالوارث [1] د وجې نه ولد غیر الوارث محروم کیږی .لکه دبنت بنت الابن د وجې نه ابن بنت الابن .

بیا د هغې ذوی الارحامو اصول چه دهغوئ تر میت پورې واسطې دی هغوئ ته دې وکتلې شی چه په هغوئ کښې د ذکورة او انوثة اختلاف شته او کنه ؟

مسئله -۴

میـــــــ

بنت	بنت	بنت
بنت	بنت	بنت
بنت	ابن	بنت
۱	۲	۱

که چیرې اختلاف نوی نو په موجوده ذوی الارحامو باندې به په للذکر مثل حظ الانثیین سره تقسیم کړې شی. اوکه اختلاف دذکورة او انوثة وی نو د میت د طرف نه د ټولو نه اول چه د چا اختلاف وی هلته دې للذکر مثل حظ الانثیین تقسیم کړې شی

په دې تقسیم کښې به وصف د اصولو او عدد به د ټولو نه د آخری فروعو معتبر وی . مثلا په اصولو کښې که یو ابن وی او د دې په آخر کښې یو ابن او یوه بنت یا دوه بنت یا دوه ابن وی نو هغه ابن کوم چه اصولوکښې دې د دوؤ ابنینو قائمقام به وګرځولې شی . دغه شان که چیرې په اصولو کښې یوه بنت وی او د دې په آخر کښې یو ابن او یوه بنت یا دوه بنتین یا دوه ابنین وی نو هغه بنت کومه چه په اصولو کښې ده هغه به دوه بنتین فرض کړې شی . له دې نه وروسته به ذکور او اناث جدا جدا طائفې کړې شی او د هرې طائفې د فروعو تر آخره پورې به وکتلې شی که چیرې د ذکورة او انوثت اختلاف نه وو نو د هغوئ حصه به د هغوئ آخری فروعو ته ورکړې شی

اوکه اختلاف وؤ نو للذکر مثل حظ الانثیین به تقسیم کړې شی او ذکورة او انوثة لره به جدا جدا طائفې جوړې کړې شی او د مثل مذکور غوندې عمل به وکړې شی. الی ان ینتهی الی آخرالفروع

مسئله - ۷ ع ۲۸

میـــــــ

بنت	بنت	بنت
بنت	بنت	ابن
۳		۴
بنت	ابن	بنت
۲	۲	
ابنی	بنت	بنتی
۲	۲	۴
		۱۲

[1] له وارث نه مراد ذوی الفروض یا عصبه دی

مسئله - ۱۵ عـ ۲۰

میـ

بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت
۹

بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت بنت
بنت بنت بنت بنت بنت بنت ابن ابن ابن
۱۸ ۱۸

بنت بنت بنت ابن ابن ابن بنت بنت ابن
۲ ۱۲ ۳ ۳

بنت بنت ابن بنت بنت ابن بنت بنت بنت
۳ ۳ ۲ ۲

بنت ابن بنت ابن بنت بنت بنت ابن بنت
۱ ۲ ۳ ۴ ۲ ۲ ۲ ۳ ۹

ابن ابن ابن
۲

بنت بنت بنت

بنت بنت ابن
۳ ۳

بنت بنت بنت

بنت ابن بنت
۱ ۲

بنت بنت بنت
۱/۴ ۲/۸ ۳/۱۲

دویم قسم د قریب د وجې نه به بعید محروم وی . لکه د اب الام د وجې نه اب ام الام . په دې کښې د مدلی [۱] بالوارث د وجې نه مدلی بغیر الوارث محروم ندې . پس اب ام الام د وجې نه اب اب الام محروم نوی . بیا دې [۲] د مثل اول په شان عمل وکړې شی مگر په دې کښې د تولو د آخری بطن عدد ته اعتبار نشته بلکه د هغه بطن عدد معتبر دې چه په هغې باندې د اختلاف ذکورة او انوثة د وجې تقسیم کولې شی

مسئله عـ ۹ عـ ۲۷

میـ

	ام ۱/۳	اب ۲
ام	اب ۲/۲	اب ۲/۲/۱۸
اب ۱/۳	ام ۲	اب ۴

دریم قسم د قریب د وجې نه به بعید محروم وی . لکه د بنت الاخ د وجې نه بنت ابن الاخ

بیا د ولد الوارث د وجې نه ولد غیر الوارث محروم کیږی. لکه د بنت ابن الاخ د وجې نه ابن

---

۱ - من الادلاء وهو ارسال الدلو فی البئر ثم استعمل فی کل شیء یمکن فی دلو بطریق المجاز فمن یدلی الی المیت یرسل قرابته الیه بشخص والبا فیه للالصاق فالقرابة مشترکة بین المدلی والواسطة.

۲ - ... دی د ... سالې په آخر کښې په دریمه ضمیمه کښې وکتل شی

بنت الاخ محرومیږی

بیا که ټول اصول اخیافی وو نو په آخری فروعو کښې به مذکراومؤنث باندې علی السویه تقسیم کولې شی. او که ټول اصول اعیانی یا ټول علاتی وو نو باعتبار اختلاف ذکورة او انوثة د قسم اول غونډې عمل به وکړې شی.

او که مختلف وی نو اول دې په اصولو تقسیم وکړې شی یعنی په اعیانی. علاتی او اخیافی ورونو او خویندو کښې دې ذوی الفروضو لره د هغوئ حصه مقرره ورکړې شی او باقی دې عصباتو لره ورکړې شی. او که عصبه څوک نۀ وو او رد کول پکار وو نو رد دې کړې شی

ذوی الفروضو ته د حصې ورکولو په وخت به هم وصف د اصولو او د عدد به د ټولو نه د آخری فروع معتبروی، دې نه پس به اعیانی. علاتی . اخیافی هریو لره جدا جدا طائفه جوړه کړې شی اود اخیافی حصه به د هغوئ په آخری فروعو علی السویة تقسیم کولې شی او په اعیانی او علاتی کښې به د اول قسم په شان عمل کولې شی.

مسئلة ۳ ع ۹

میـ

اعیانی ورور اعیانی خور			علاتی ورور علاتی خور			اخیافی ورور اخیافی خور		
۲			م		م	۱/۳		
۳	۲	۳						
بنت	ابن	بنت	بنت	بنت	ابن	ابن	بنت	بنت
۳	۲	۱	م	م	م	۱	۱	۱

مسئله ۲ عـ ۳۰

میـ

اعیانی خور	اخیافی خور		علاتی ورور		علاتی خور
۳	۲		۱		
۱۵	۱۰	بنتی	۴	۵	۱
ابن		۱۴			ابن
۱۵					۱

مسئله ۲ لعـ ۴ عـ ۲

میـ

اعیانی خور	اخیافی خور	
۳	۱	
۹		
بنت	ابن	بنت
۹	۲	۱

خلورم قسم د قریب د وجې نه به بعید محروم وی . لکه د عمې د وجې نه به بنت العم او د بنت العم د وجې نه به عمة الاب محرومه وی

بیا که اصول صرف د جانب ام یا صرف د جانب اب نه وی نو د قوی د وجې نه به ضعیف محروم وی . یعنی د عینی د وجې نه به علی او خیفی او د علی دوجې نه به خیفی محروم وی

بیا د ولد الوارث د وجې نه به ولدغیر الوارث محروم وی . لکه د بنت العم د وجې نه ابن العم ثم مثل القسم الاول . په خیفیه کښې هم للذکر مثل حظ الانثیین تقسیم کیږی .

او که دواړو طرفونو ته موجود وی نو اول طرف ام لره به ثلث او طرف اب لره به ثلثان ورکړې شی او هر دوؤ لره به جدا جدا طا نفه کړې شی ، په هره طائفه کښې به د قوی د وجې نه ضعیف محروم وی . بیا به د ولد الوارث د وجې نه ولد غیر الوارث محروم وی

د یوې طائفې د قوی والی یا د ولد الوارث د وجې نه د دویمې طائفې ضعیف یا ولد غیر الوارث نهٔ محرومیږی . د دې نه پس په هرو دوؤ طائفو کښې د قسم اول په شان عمل کولې شی

که چیرې د میت عمه او خاله وغیره نوی نو د میت د پلار یا د مور عمه او خاله به د میت د عمه او خاله قائمقام وی. که چیرې د پلار عمه او خاله او د مور عمه او خاله جمع شی نو د اب طرف ته به ثلثان او د ام طرف ته به ثلث ورکولې شی او جدا جدا طائفې به شی . بیا چه هرې طائفې ته کومه حصه ورکړل شوې ده د هغې نه به د هغه طائفې جانب عمه ته ثلثان او جانب خاله ته ثلث ورکړې شی او جدا جدا طائفې به جوړې کړې شی او په هره یوه طائفه کښې دې د قسم اول په شان عمل وکړې شی

مسئله - ۳ ع ۲۱ عـ ۱۰۵

میـ

عمه اعیانی	عم اعیانی	عم اعیانی	عم اعیانی	خاله علاتی	خاله علاتی	خال علاتی	خال اخیافی
		۲ / ۱۴ / ۷۰		۳	۱ / ۷	۴	م
ابن ابنی	ابن بنتی	ابن بنتی	ابن بنت	بنت	ابن	بنت	بنت ابن
م	۲۸	۲۸	۱۴	۳ بنت ۳	۱۲	ابنی ۴ / ۲۰ / ۱۲ / ۳۲	م

مسئله - ۳ لـ ۱۲ لـ ۳۲

خال عینی	خاله عینی	خاله عینی	خاله علاتی	عم علاتی	عمه علاتی	عمه علاتی
	۱				۲	
۲	۴	۲	م	۱۲	۸	۱۲
بنت	ابن		بنت	بنت	ابن بنت	بنت
	۴		۲		۸	۴
ابنی			بنتی	ابن	بنتی	ابن
۲/۲			۲	م	۲۰	۴
۴/۱۰						

لسم سبق

مناسخه

مناسخه دې ته وائی چه د یو وارث حصه هغه ته د ورکولو نه وړاندې میراث جوړ شی او دهغهٔ د وارثانو طرف ته منسوخ اومنقول شی . یعنی د میراث د تقسیم کولو نه وړاندې د مړی په وارثانو کښې یو سړې مړ شی . یا د دې نه پس هم یو سړې د مړی اول یاد مړی دویم د وارثانو نه وفات شی .یا دغه شان ډیر وارثان پرلپسې د تقسیم د ترکې نه وړاندې مړهٔ شی

د ټولو نه اول مړې چه د کوم نه د تقسیم سلسله چلیدلې ده هغه ته مورث اعلی وئیلې شی

د مناسخې د تخریج طریقه دا ده چه د ټولو نه اول د مورث اعلی د مسئلې د ویستلو د پاره د میت اوږد خط جوړ کړې شی او د هغې د پاسه به د «مورث اعلی» او د هغهٔ نوم ولیکلې شی او لاندې به هغه وارثان کوم چه د هغهٔ د وفات په وخت ژوندی وو سره د هغوئ د نومونو نه ولیکلې شی ښکه چه صرف د ام یا زوجې یا ابن وغیره په لیکلو سره د دوېمې اودریمې درجې په مسئله کښې چه کله بیا د همدې رشتې د وارث نوم لیکلې کیږی نو اشتباه پیدا کیږی

بیا دهغې دلاندې څه ځای خالی پریږدئ اودهغه میت د پاره خط راکاږئ کوم چه د مورث اعلی نه پس او د نورو نه وړاندې وفات وی او بیا دهغه د پاسه«ثانی» اودهغه میت نوم ولیکئ اولاندې د هغهٔ د وفات په وخت چه د هغهٔ کوم وارثان ژوندی ووهغوئ سره دهغوئ دنومونو نه ولیکئ

دغه شان لږ لږ ځای پریږدئ په ترتیب سره د هر میت د پاره خط راکاږئ او د هغه د پاسه دهغهٔ دریمه درجه . څلورمه درجه وغیره او د هغهٔ نوم او لاندې د هغهٔ د وارثان کوم چه د هغهٔ د مرګ په وخت ژوندی وو سره د هغوئ د نومونو ولیکئ . بیا د اول مورث اعلی مسئله راوباسئ . سره د

وجوه سابقه د عول او رد او تصحيح وغيره نه . بيا چه د هغهٔ دوارثانو نه څوك وفات شوي وى د هغهٔ د نوم او سهامو د لاندې د قبر نشان جوړ کړئ . او هغه سهامو ته کومې چه ميت ثانى ته د ميت اول نه حاصل شوى دى «مافى اليد» وئيلې شى . هغه مافى اليد عدد لره به د ميت ثانى د خط د پاسه ښى طرفته د هغهٔ د نوم سره دا علامه «معــ» جوړه کړئ او د هغې د پاسه ئې وليکئ .

بيا د ميت ثانى مسئله د سابق په شان راؤباسئ . بيا د ميت ثانى د مسئلې د هغه د مافى اليد سره نسبت معلوم کړئ . که تماثل وو نو د ميت اول مسئله به په خپل حال وى . او که تداخل يا توافق وو نو د دويمې مسئلې وفق لره او که تباين وى نو د هغې کل لره د اولې مسئلې په کل کښې او د ميت اول د وارثانو نه د هر يوه په سهامو کښې ضرب ورکړئ . په اولې مسئلې کښې د ضرب ورکولو نه چه څه حاصل راشى هغه به د دواړو مسئلو مخرج وى . دې لره د اولې مسئلې د پاسه خط راکاږئ او د هغې د پاسه ئې وليکئ .

بيا د ميت ثانى د وارثانو نه د هر يو د سهامو د مافى اليد په وفق يا کل کښې ضرب ورکړئ .

بيا د ميت ثالث نوم چه کوم کوم ځائ په وارثانو کښې وى په هغې باندې د سهامو سره د قبر نشان جوړ کړئ او د کوم کوم ځائ نه چه هغهٔ ته سهام ورکړې شوى وى هغه ټول جمع کړئ او د ميت ثالث په خط باندې د مافى اليد علامه جوړه کړئ د هغې د پاسه يې وليکئ . بيا د هغهٔ مسئله راؤباسئ د هغهٔ د مافى اليد سره ئې نسبت وګورئ . که تماثل وى نو مخرج اول به په خپل حال وى . اوکه نه نو د دريمې مسئلې وفق يا کل لره به په مخرج اول کښې او د ميت اول او ثانى د وارثانو په سهامو کښې ضرب ورکړئ او د ميت ثالث د وارثانو سهامو لره د هغهٔ د مافى اليد په وفق يـ کل کښې ضرب ورکړئ . بيا په ميت رابع او خامس کښې هم هم‌دا عمل کوئ . الى آخر الصورة المسؤلة عنها.

د مسئلې د کامليدو نه پس «الاحياء» اوږد جوړ کړئ او په هغې به «المبلغ» وليکئ او د هغې د پاسه به د آخرى مخرج عدد وليکئ او د «الاحياء» د لاندې د ټولو مرو د موجوده وارثانو نومونه وليکئ او د هر يو د لاندې چه کوم سهام هغهٔ ته د کوم ځائ نه ورکړې شوى وى هغه جمع کړئ او وى ليکئ. دې نه ورسوته د سابق په شان په عبارت کښې هم د هر يو د سهامو تصريح وکړئ

فائده کوم ځائ چه په مناسخه کښې داسې يو صورت راشى چه د يو ميت هغه وارثان وى کوم چه د هغهٔ د مورث وو او د دې ميت سره په ترکه کښې شريک وو يا په څه بل حيثيت سره نو په داسې صورت کښې داسې مورث د عمل داختصار د پاره کالعدم ګڼلې شى .او د هغهٔ د نوم لاندې به کالعدم ليکلې شى . مګر په دې کښې دوه شرطونه دى

(۱) په کل عدم کيدو سره چه د کومو وارثانو حصه زياتيږى بعينه هماغه وارث د ميت ثانى

وی . چه نهٔ د هغوئ نه کم وی او نهٔ زیات .

(۲) د دویمې مسئلې په سهامو کښې به مناسبت هم هغه وی چه کوم د اولې مسئله په سهامو کښې دې .

تنبیه : که په مسئله کښې من لایرد علیه هم موجود وو او د کالعدم کیدو نه وړاندې د عول صورت وو او د دې نه پس د رد ضرورت پیښ شی نو کالعدم کیدل به صحیح نوی اګرچه د دویمې مسئلې په سهامو کښې مناسبت هم هغه وی چه کوم د اولې مسئلې په سهامو کښې دې ځکه چه په دې صورت کښې د کالعدم کیدو د وجې نه د سهامو په زیاتوالی کښې تناسب نوی .

د کالعدم کیدو مثال : یو سړی یوه ښځه او څلور ځان وارثان پریښودل ، بیا هغه زوجه وفات شوه هغې هم دغه څلور ځامن وارثان پریښودل ، نو په دې صورت کښې به زوجه هم داول نه کالعدم ګڼو ، د دې اوږدوالی حاجت نشته چه وه وایو چه مورث اعلی زوجه او څلور ځامن پریښودل بیا زوجه وفات شوه اوهغې هم څلور ځامن پریښودل ، بلکه له اول نه دې د هغه سړي ټول جائیداد څلورو ځامنو ته ورکړې شي .

دا مثال د هغې وو چه په یو حیثیت سره وارثان وی نو لکه څنګه چه دا څلور واړه وارثان (ځامن) د هغه سړی ځامن وو دغه شان د دغې زوجې هم ځامن وو .

په دویم حیثیت سره د وارث کیدو دا مثال دې چه یو سړی فقط څلور ځامن پریښودل او بیا یو ځوئ صرف دا درې ورونه وارثان پریښودل، نو داسې ابن به کالعدم ګڼلې شی ، ګویا چه باقی وارثانو د اول مړی نه د ابن په حیثیت او د دویم مړی نه د ورور په حیثیت حصه واخستله .

۱۲۸
۳۲

مسئله ۱۲ لہ ۱۲ مورث اعلی حلیمه .

میـــــــت

زوج	بنت	ام
زید	زینب	هنده
۳	۲	۲
۴	۹	۳
		۲

مسـ ۴ شله ثانیه زید مصـ ۴

میـــــــت

زوجه	ام	اب
فاطمه	کلثوم	مسعود
۱	۱	۲
۲	۲	۴
۸	۸	۱۲

مسـ ۲ شله ثالثه زینب مصـ ۹

میـــــــت

ام الام	ابن	ابن	بنت
هنده	سلطان	حامد	ساره
۱	۲	۲	۱
۳	۲	۲	۳
	۲۴	۲۴	۱۲

مسـ ۲ شله لـ ۴ رابعه هنده مصـ ۹

میـــــــت

زوج	اخ اعیانی	اخ اعیانی
محمود	ولید	خالد
۲	۱	۱
۱۸	۹	۹

المبلغ ۱۲۸

الاحیاء

فاطمه	کلثوم	مسعود	سلطان	حامد	ساره	محمود	ولید	خالد
۸	۸	۱۲	۲۴	۲۴	۱۲	۱۸	۹	۹

مسئله - ۱۲ لـ ۷۲

میـــــت

زوجه	ام الاب	اخ اعیانی	اخ اعیانی	اخت اعیانی	اخت اعیانی
عائشه	رقیه	سلیم	عظیم	سعده	کریمه
۳	۲				
۱۸	۱۲	۱۴	۱۴	۷ ۷	۷

مسئله - ۴ ثانی رقیه صح ۱۲

میـــــت

زوج	ابن	بنت
سعید	حمید	زبیده
۱	۲	۱
۳	۲	۳

المبلغ ۷۲

الاحیاء

عائشه	سلیم	عظیم	سیعده	کریمه	سعید	حمید	زبیده
۱۸	۱۴	۱۴	۷	۷	۳	۲	۳

یو ولسم سبق

د ترکې د سهامو په وارثانو باندې تقسیم

د مخرج د عدد له د ترکې سره نسبت وګورئ که چیرې نسبت تماثل وی نو ظاهره ده چه د هیڅ قسم عمل ضرورت نشته او که تداخل یا توافق وی نو د عدد د ترکې وفق لره او که تباین وی نو د هغې کل عدد لره د هر وارث په سهم کښې ضرب ورکړئ او حاصل ضرب لره د مخرج په کل یا وفق باندې تقسیم کړئ

که د حصې فیصدی معلومول که پکار وی نو د ترکې عدد = ۱۰۰ فرض کړئ او ذکر شوې عمل وکړئ

مسئله۳ ۱۵ ۱۲۰ مورث اعلی ابراهیم

میـــــت

زوجه	ابن	بنت
حفصه	عبدالله	عاجزه
کالعدم	۲	۱
		۵

مسئله ۵ ثانی عبدالله مصـ ۲

میـــــت

ابن	ابن	بنت
زاهد	عابد	هاجره
۲	۲	۱
۴	۴	۲
۸	۸	۴
	۳۲	۱۲

مسئله ۲ ثالث عاجزه مصـ ۵

میـــــت

ابن الاخ	ابن الاخ	بنت الاخ
زاهد	عابد	هاجره
۱	۱	م
۵	۵	
	۲۰	

مسئلہ ۴ رابع زاهد مصـ ۱۳

میـــــ

اخ علاتی	اخت اعیانی	زوجه
عابد	هاجره	عظیمه
۱	۲	۱
۱۳	۲۲	۱۳

المبـــــ ۱۲۰ ـــــلغ

الاحـــــــــــاء

عظیمه	هاجره	عابد
۱۳	۴۲	۲۵
۵		۱
۱۰ ۲	۳۵	فیصد = ۵۴ ۲

مسئلہ ۸ عـ ۸۰ ۴۸۰ ۱۹۲۰ مورث اعلی زید

میـــــ

زوجه	زوجه	ابن	بنت	بنت	بنت
کریمه	عزیزه	عبدالله	هاجره	خدیجه	عظیمه
۵	(۵)	۲۸	۱۴	۱۴	۱۴
۳۰		۱۲۸	۸۴	۸۴	۸۴
۱۲۰		۲۷۲	۳۳۲	۳۳۲	

مسئلہ ۲ ثانی عزیزه مصـ ۵

میـــــ

ابن	ابن	بنت	بنت
حمد	ولید	خدیجه	عظیمه
۲	۲	۱	۱
۱۰	۱۰	۵	۵
۴۰	۴۰	۲۰	

مسئلہ ۴ ثالث عظیمه مصـ ۸۹

میـــــ

زوج	اب	اخت اعیانی	اخت علاتی	اخ علاتی
حمد	فاطمه	خدیجه	هاجره	عبدالله
۱	۲	۱	م	م
۸۹	۱۷۸	۸۹		

مسئلہ ۲ عـ ۴ رابع کریمه مصـ ۱۲۰

میـــــ

بنت	ابن العم	ابن العم
هاجره	عزیز	سعید
۲	۱	۱
۲۰	۳۰	۳۰

المبـــــ ۱۹۲۰ ـــــلغ

الاحـــــــــــیاء

	عبدالله	هاجره	خدیجه	حمید	ولید	احمد	فاطمه	عزیز	سعید
	۲۷۲	۳۹۲	۴۴۵	۴۰	۴۰	۸۹	۱۷۸	۳۰	۳۰
فیصد	۳۵	۲۰ ۵/۸	۲۳ ۱۷/۹۲	۲ ۱/۱۲	۲ ۱/۱۲	۴ ۲۱/۹۲	۹ ۱۳/۴۸	۱ ۹/۱۲	۱ ۹/۱۲

مسئلہ ۱۲ عـ ۱۳ لـ ۲۵

میـــــ

	زوجه	ام	حمس اخوة عصبی
	۱۵	۱۰	۴۰
	۱	۵	۷
فیصد =	۲۳ ۱۲	۵ ۱۳	۲۱ ۱۳

مسئله ۲۴ لـ ۱۹۲

میت

	زوجه	ام	ابن	ابن	ابن	بنت	بنت
	۲۴	۳۲	۳۴	۳۴	۳۴	۱۷	۱۷
فیصد-	۱/۲ ـــ ۱۲	۲/۳ ـــ ۱۲	۱۷/۲۴ ـــ ۱۷	۱۷/۲۴ ـــ ۱۷	۱۷/۲۴ ـــ ۱۷	۴۱/۴۸ ـــ ۸	۴۱/۴۸ ـــ ۸

دولسم سبق

تخارج

که چیرې یو وارث د ترکې نه په یو معین څیز باندې صلح وکړی . مثلا وه وائی چه فلانکې څیز یا دومره پیسې ماته د ترکې نه راکړئ . یا د متوفاة مهر کوم چه څما په ذمه دې دا له مانه مهٔ اخلئ ، په باقی ترکه کښې څما هیڅ حق نشته ، نو دې ته تخارج وائی او دا قسم صلحه جائز ده .

مطلق صلحه په بیع ، اجاره ، ابراء وغیره عقودو څخه چه په کوم عقد هم ممکنه وی حمل کولې شی او د دې د صحیح کولو کوشش باید وشی . که چیرې په څه عقد محموله نشی نو صلح به جائزه نوی ، تخارج په بیع محمول کیدې شی ، لهذا که بدل د صلحې عرض وی یعنی مکیل ، موزون او د سرو او سپینو زرو نه سوا بل یو څیز وی نو په هرصورت صلح جائزه ده .

که چیرې د سرو زرو نه ئې په سپینو زرو یا د دې په عکس یا د دواړو نه ئې په دواړو باندې یا ئې د سرو او سپینو او عرض نه په دواړو سره صلح وکړه نو د ترکې حاضرول او قبضه په دې مجلس کښې شرط ده برابره خبره ده که بدل دصلحې د مصالحو د حصې نه کم وی او که زیات.

که چیرې د دواړو نه ئې صرف په سرو زرو یا صرف په سپینو زرو صلحه وکړه نو د ذکر شوی شرط نه علاوه دا هم شرط دی چه بدل دصلحې به خپل جنس نه د مصالحو د حصې نه زیات وی . دغه شان که بدل دصلحې مکیل یا موزون وی نو د ربوا صورتونه پکښې ناجائز دی .

که چیرې په مړی باندې دین محیط بالترکه وی نو صلح جائزه نده . البته که محیط بالترکه نوی نو بهتره دا ده چه د دین د اداء کیدو نه وړاندې صلح ونکړی . او که یې وکړی نو جائزه ده

که چیرې د میت په خلقو باندې دین وی نو یو وارث د پاره هم دا جائز ندی چه په څه څیز صلح وکړی او خپله حصه دین د نورو په حواله کړی ځکه چه قرضدار لره د مقروض نه بغیر بل چا لره د یو څیز په عوض کښې د قرض مالک جوړول صحیح ندی .

که چیرې داسې ضرورت راپیښ شی نو دا تدبیر کیدې شی چه باقی وارثان د کهجورو وغیره یو موټې د مصالحو نه د هغهٔ د دین د حصې برابر د ثمن په بدل کښې خرڅ کړی . بیا مصالح دهغې

ثمن مقروض لره حواله کړی . ددې د پاره چه باقی وارثان نې د هغې مقروض نه واخلی
د صلحې نه پس د باقی ترکې د تقسیم طریقه دا ده چه اول مصالح لره په نورو وارثانو کښې داخل کړی او مسئله دې ترې راؤ باسی د تیرو شوو وجوه مطابق لکه عول . رد . تصحیح و غیره . بیا دې دمصالح سهم د ټولې مسئلې نه تفریق کړی. باقی مسئلې لره دې دا « ص» علامه جوړه کړی او د هغې د پاسه دې ولیک او د مصالحو په نومونو او سهامو دې «ص» احاطه وکړی

مسئله ۲ ء ص ۳

زوج	ام	عم
ص۳	۲	۱
فیصد -	۲ / ۲۲ — / ۳	۱ / ۳۳ — / ۳

مسئله ۸ ل ۳۲ ص ۲۵

زوجه	ابن	ابن	ابن	ابن
۴	ص۷	۷	۷	۷
فیصد - ۱۲		۲۸	۲۸	۲۸

دیارلسم سبق

د خنثی حکم

تر کومه پورې چه کیدې شی نو خنثی لره به په ټولو احکامو کښې د ښځې یا سړې غوندې شمیرو . که چیرې په هغهٔ کښې د نارینه علامات زیات وو . مثلا ږیره نې راغله یانې د نارینو د بولو په شان بول کول یا د دهٔ نه د یوې زنانه حمل وشی نو هغه به نارینه ګڼلې شی . که چیرې د ښځې علامات پکښې زیات وو مثلا هغه په خپله حامله شوه یا نې سینې ظاهرې شوې یا پرې حیض راغی یا د زنانه د بولو په اندام بول کوی نو زنانه به ګڼلې شی . او که چیرې د دواړو مقامو نه بول کوی نو چه د کوم مقام نه اول بول راؤځی هغې ته به اعتبار وی . لیکن چه کله دواړه حالتونه بالکل برابر وی او حالت داسې مشتبه شی چه په یوې وجې سره په هیڅ طریقه هم د زنانه یا نارینه کیدو ترجیح نشی کیدې نو هغهٔ ته خنثی مشکل ونیلې شی . په میراث کښې د دې حکم اسوء الحالین دې . یعنی په نارینه یا زنانه کښې چه کوم تقدیر محروم وی یا ورته حصه ورکول کیږی نو هغه تقدیر ته به اعتبار وی

مسئله ۴

زوجه	ابن الاخ العینی	ولدالاخ العینی خنثی مشکل
۱	۳	م
فیصد ۲۵	۷۵	

مسئله ۴

ابن	بنت	خنثی مشکل
۲	۱	۱
فیصد ۵۰	۲۵	۲۵

خوارلسم سبق

د حمل حکم

د حمل دوه صورتونه كيدې شي

(۱) چه د مورث وی . يعني د هغهٔ زوجه حامله وی

(۲) د غير مورث وی . مثلاً د مورث د والدې حمل وی

د مورث حمل دمورث زوجه دمرګ معتده خو ده.لدې نه علاوه معتده دطلاق هم كيدې شي له همدې كبله دهغې درې صورتونه دی

(۱) فقط د مرګ معتده د دې حمل د وارث كيدو دا شرط دې كه زنانه د انقضاء عدت اقرار نوی كړې نو د مورث د مرګ نه پس دې په دوؤ كالو كښې دننه پيدا شوې وی

كه د انقضاء عدت اقرار ئې كړې وی نو د مذكور شرط نه علاوه دا شرط هم دې چه د اقرار د وخت نه دې شپږ مياشتې وروستو پيدا وی

(۲) د مرګ معتده او رجعيه معتده په دې كښې دا شرط دې چه د انقضاء عدت اقرار ئې نوی كړې نو د مورث د مرګ نه دې په دوؤ كالو كښې دننه پيدا شوې وی اګر كه دطلاق د وخت نه په كلونو وروستو وی . دا به ګڼلې شی چه زوج په عدت كښې د ننه صحبت كړې وو او د طلاق نه ئې رجوع كړې وه . او د خوانې زنانه عدت درې حيضه دې . چه د كوم د پاره څه متعين مدت نوی . كه د انقضاء اقرارئې كړې وی نو د دې نه علاوه دا شرط هم دې چه د اقرار د وخت نه په شپږ مياشتې كښې دننه پيدا شوې وی

(۳) د مرګ معتده او بائنه معتده د انقضاء عدت اقرارئې نوی كړې نو د بينونة د وخت نه به په دوؤ كالو كښې دننه دننه پيدا شوې وی

او كه د انقضاء عدت اقرار ئې كړې وی نو دا شرط هم دې چه د اقرار د وخت نه په شپږ مياشتو كښې د ننه پيدا شوې وی

حمل غير مورث

د دې خلور صورتونه دی

(۱) غير معتده په دې كښې د مورث د مرګ نه په شپږو مياشتو كښې د ننه پيدا كيدل شرط دی . البته كه د مورث د مرګ په وخت د حمل ظهور په عام طور معلوم وو يا په هغې شاهد موجود وی نو به دې كښې مذكور شرط نشته د مورث د مرګ نه د شپږو مياشتونه پس د پيدا كيدو په صورت كښې به هم وارث وی . خو په دې شرط چه د حمل اكثر مدت يعني د علوق د وخت نه نه

دوو کالو کښې دننه پیدا شوی وی . که چیرې د حمل ظهور په عام طور سره معلوم نه وو او نه یې اعتراف شوی وو مگر بعضې وارثان د مورث د مرگ په وخت د حمل د وجود اقرار کوی او د مقرینو عدد د شهادت د نصاب نه کم وی نو دا حمل به صرف د مقرینو په حق کښې وارث وی

۲. معتده رجعیه چه د انقضاء عدت اقرار ئې نوی کړې نو د مورث د مرگ نه په شپږ میاشتو کښې او د طلاق د وخت نه په دوو کالو کښې چه په دې کښې کوم وخت زیات وی په هغې کښې دننه پیدا شوی وی . که د انقضاء عدت اقرار ئې کړې وی نو دا شرط هم دې چه د اقرار د وخت نه په شپږ میاشتو کښې دننه پیدا شوی وی

۳. معتده بائنه چه د انقضاء عدت اقرار ئې نوی کړې نو د بینونة د وخت نه په دوو کالو کښې دننه به پیدا شوی وی که د انقضاء عدت اقرار ئې کړې وی نو دا شرط هم دې چه د اقرار د وخت نه په شپږ میاشتو کښې دننه پیدا شوی وی

۴. د مرگ معتده د دې حکم بعینه د معتدې بائنې غوندې دې

د ذکر شوی شرائطو نه علاوه د حمل د وارث کیدو دا شرط هم دې چه د مور د خیټې نه اکثر ژوندې بهر راوځی . د خروج اکثر اعتبار که چیرې بچې سیده (نیغ) پیدا شوی وی نو د سینې د خروج نه دې اوکه نه نو د نامه د خروج نه به وی . که چیرې مړ پیدا شو یا د اکثر خروج نه وړاندې وفات شو نو وارث به نوی . دا شرط هغه وخت دې چه کله بچې خپله راوځی . که چیرې په جنایت سره بهر کړې شو نو وارث به وی

د ترکې په تقسیم کښې بهتره دا ده چه د حمل د پیدائش انتظار دې وکړی. د دې د پاره چه د هغه وارث کیدل یا نه وارث کیدل زنانه یا نارینه کیدل ظاهر شی . لیکن که چیرې انتظار ونکړی او د پیدا کیدونه وړاندې تقسیم کول وغواړی نو د حمل د پاره به په تقدیر د ذکورة اوانوثة سره دوه مسئلې جوړې کړې شی. دحمل نه علاوه باقی وارثانو لره چه په کوم صورت کښې کمه حصه ورکول کیږی نو هغه دې هغوئ ته ورکړې شی او له مسئلې نه چه څه پاتې شی هغه دې د حمل د پاره امانت کیږدی

د یو حمل نه د زیاتو بچو پیدا کیدو هم احتمال شته دې . نو له همدې کبله بهتره دا ده چه د وارثانو نه دې ضمن واخستې شی

د حمل د پیدا کیدو نه پس که دغه بچې (حمل) د ټول امانت کړې شوی مال مستحق شو نو فبها ونعم وکه نه نو چه د دغه د وجې نه کومو وارثانو ته اقله حصه ورکړې شوې وه نو د هغوئ حصه دې پوره کړې شی . مگر د سهمو اکثر او اقل کیدل د مخرج د متحد کیدو نه پس معلومیږی . که چیرې مخرج مختلف وی نو د سهامو اقل او اکثر کیدل نه ظاهریږی . مثلا یو سړی د سهو ۹ نه درې ۳ او دوسم سړی د څلورو ۴ نه دوه ۲ واخلی. په دې صورت کښې په ظاهره د دریو اخستو

والا حصه زیاته معلومیږي مګر حقیقة د دوو اختو والا حصه زیاته ده . څکه چه دوه د څلورو نصف او درې د نهو ثلث دي . له همدې کبله د هرو دوو صورتونو د ذکورة او انوثة نه د اقل او اکثر معلومولو د پاره ضروري دی چه د دواړو مسئلو دې مخرج متحد وی

د مخرج د متحد کولو طریقه دا ده که چیرې په دواړو مسئلو کښې تداخل یا توافق وی نو د هرې مسئلې وفق لره او که تباین وی نو کل لره دې د دویمې مسئلې په کل کښې ضرب ورکړې شی او د هرې مسئلې سهامو لره دې د دویمې مسئلې په وفق یا کل کښې ضرب ورکړې شی . نو مخرج به متحد شی او اقل او اکثر به معلوم شی

مسئله ۲۴ لـ ۷۲ باعتبار ذکورة ۷۲ × ۳ = ۲۱۶

میـــ

زوجه	ام	اب	بنت	حمل
۹	۱۲	۱۲	۱۳	۲۶
۲۷	۳۶	۳۶	۳۹	۷۸

مسئله ۲۴ عـ ۲۷ باعتبار انوثة ۲۷ × ۸ = ۲۱۶

میـــ

زوجه	ام	اب	بنت	حمل
۳	۴	۴	۸	۸
۲۴	۳۲	۳۲	۶۴	۶۴

زوجې ته به څلورویشت (۲۴) او له پلار اومور نه به هریوه لره دوه دیرش (۳۲) او بنت لره به یو کم څلویښت (۳۹) حصې ورکړې او باقی یو کم نوی (۸۹) به د حمل د پاره محفوظ کړې شی . که چیرې هلک پیدا شو نو زوجې ته به درې او ام او اب کښې به هریو ته څلور حصې ورکړې شی او باقی اتۀ اویا (۷۸) حصې به هغۀ ته ورکړې شی .

که نجلۍ پیدا شوه نو د (۸۹) نه به پنځه ویشت (۲۵) حصې بنت ته ورکړې شی. نو د دې حصه به څلور شپیته (۶۴) شی. اوباقی څلور شپیتۀ (۶۴) به هغه ماشومې نجلۍ ته ورکړې شی .

که بچې مړ پیدا شو نو زوجې ته به درې او اب او ام نه به هریو ته څلور او بنت ته به یوکم اویا (۶۹) حصې ورکړې شی . دې د پاره چه د هغې حصه نصف یعنی (۱۰۸) پوره شی او باقی اتۀ به اب ته د عصبه کیدو د وجې نه ورکړې شی .

تنبیه : که په وارثانو کښې صغیر یا حمل موجود وی نو د هغۀ مور ، ورور او ترۀ وغیره ته د ترکې د تقسیم او د صغیر په مال کښې تجارت او په زمکه کښې د زراعت وغیره کولو اجازت نشته . البته د صغیر دمال حفاظت . د منقول بیع په غرض د حفاظت او د صغیر د پاره د خوراک او څښاک وغیره ضروریاتو اخستلو اجازت شته خو په دې شرط چه صغیر د هغوئ په پرورش کښې وی . د ترکې د تقسیم او د صغیر په مال منقوله کښې د تجارت او په زمکه کښې د زراعت اختیار صرف ولی یعنی والد بیا د هغۀ وصی بیا د نیکۀ بیا دهغۀ دوصی او بیا د مسلمان حاکم دې . که چیرې هغوئ هم نوی نو د محلې دیندار خلق دې یو متولی متعین کړی

د صغير د زمکې د خرڅولو اختيار بغير له يو څو خاصو صورتونو نه علاوه ولی ته هم نشته

پنځلسم سبق

د مفقود حکم

مفقود يو داسې غائب دې چه د هغهٔ د ژوندی يا د مړهٔ کيدو هيڅ حال معلوم نوی ، د مفقود د حکم لګولو څه ميعاد (معين وقت) نشته بلکه د دې مدار په دې خبره دې چه د هغهٔ د نښې نښانې معلومولو اميد قطع شی.

کله چې د مفقود عمر نوی (۹۰) کاله شی نو د هغهٔ د مرګ حکم به ورکړې شی ، او د هغهٔ مال به د هغهٔ په موجوده وارثينو تقسيم کړې شی - د غير په مال کښې چه له کوم هوقت نه دې مفقود شی له هغه وخت نه به مړ متصور کيږی ، يعنی که يو سړې د دهٔ د مفقود کيدو نه پس وفات شو نو دا مفقود به د هغهٔ وارث نوی ، اګر که د مفقود عمر دې وخته پورې نوی (۹۰) کاله نوی شوې ، مګر چونکه د غير په مال کښې به هم د مړ کيدو حکم د نوی کاله عمر کيدو نه پس ظاهريږی ، د دې نه وړاندې د هغهٔ د واپس راتلو سره د وارث جوړيدو احتمال شته ، دې وجې نه د هغه ميت د مال نه به د مفقود حصه امانت اېښودې کيږی که واپس راغې نو هغهٔ ته به ورکړل شی . اوکه نه نو نوی کاله عمر تيريدو نه پس چه د کوم ميت دمال نه امانت اېښودې شوې وو د هغهٔ هغې وارثانو ته به واپس کولې شی چه هغه د دهٔ د وفات په وخت ژوندی وو ، د موجوده وارثانو اعتبار به نوی او نهٔ د مفقود د وارثانو په دې کښې څهٔ حق شته .

تنبيهات:

(۱) د مفقود په نوی کاله پوره کيدو سره هغهٔ لره د مړ ګڼلو دا مطلب ندې چه د دې حکم لګولو نه پس که هغه ژوندې وی يا د هغهٔ د ژوند معتبر خبر راشی نو بيا به هم مړمتصور کيږی . بلکه هغهٔ ته به د هغهٔ مال واپس کيږی .

(۲) د غائب په مال کښې د قاضی نه علاوه بل چاته د تصرف اختيار نشته . له همدې وجې نه د مفقود په صورت کښې د ترکې د تقسيم او د هغهٔ په حصه کښې د تصرف د پاره به قاضی يو سړې متعين کړی

د مفقود د مسئلې د راويستلو طريقه هم هغه ده کومه چه د حمل ده ، يعنی مفقود لره به ژوندې او مړ فرض کړئ په هرو دوؤ تقديرونو باندې دوه مسئلې راؤباسئ او د دوارو مخرج متحد کړئ د مفقود نه علاوه باقی وارثانو ته اقل ورکړئ او کوم چه دمسئلې نه باقی پاتې شی هغه د مفقود د پاره امانت کيږدئ . که چيرې مفقود واپس راغې او د ټول امانت کړې شوی مال مستحق شو نو

شي . او كه د بعضي مستحق شو يا واپس راغلو نو چه د هغهٔ د وجې كومو وارثانو نه اول وركړې سوې وو نو د هغوئ حصه به پوره كړې شي

مسئله ۲ ـ ۸ ۵۲ به اعتبار د حيوة

زوج	اختين اعياني	اخ اعياني مفقود
۴	۲	۲
۲۸	۱۴	۱۴

مسئله ۲ ـ ۷ ۵۲ به اعتبار د وفاة

زوج	اختين اعيانيتين	اخ اعياني مفقود
۳	۴	
۲۴	۳۲	

زوج ته به څلورويشت (۲۴) او اختينو ته به څوارلس (۱۴) وركړې شي او باقي اتلس (۱۸) به د مفقود د پاره امانت كيږدو . كه مفقود راغي نو د اتلسو نه به څلور (۴) زوج ته وركړو او باقي څوارلس به هغهٔ ته وركړل شي . كه واپس رانغي نو ټول امانت كړي شوي مال يعني اتلس (۱۸) به اختينو ته وركړل شي او د هغوئ مجموعي سهام به دوه ديرش (۳۲) كړې شي

فائده په مناسخه كښې چه كله د حمل يا مفقود صورت راشي نو هلته به د دوؤ صورتونو نه يو صورت ليكلې شي . مګر اول به دواړه صورتونه جدا جدا حل كړې شي چه په كوم صورت كښې وارثانو ته كمه حصه وركول كيږي نو هغه به د مناسخې په سلسله كښې داخله كړې شي

په آخر كښې د غرقى . حرقى . هدمى . او د اسير او مرتد د احكامو د بيانو لو رواج دې مګر دا دې واړه مضمونونه په قدر دضرورت د موانع ارث په بيان كښې تير شوى دى. لهذا اوس د هغې د پاره د مستقل بحث ضرورت نشته ـ فقط .

وهذا اول ماتيسر لى جمعه وتأليفه فى عنفوان الشباب. ورشح به قدحى الناضب فى نهزات الفرصة من خدمة الطلاب. فالمامول ممن طالعه او علمه. او استفاد به وتعلمه. ان لا ينسانى فى دعواته. واطيب ساعاته. والمسؤل من الله تعالى ان ينفع به الطالبين. ويجعله لى ذخرا ليوم الدين. سبحانك ربك رب العزة عما يصفون. وسلام على المرسلين. والحمد لله رب العلمين. وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه اجمعين. آمين برحمتك يا ارحم الراحمين

زبرة العبد رشيد احمد

۲۶ / ربيع الآخر ۱۳۶۶ هـ يوم الخميس

اوله ضمیمه

لاندې د تخریج د مسئلې یوه جدیده، نوې او مفیدترینه طریقه لیکلې کیږي چه بنده په خپله ایجاد کړې ده. عول، رد، وغیره ټولو لره په جدیدې طریقې سره حل کړې شوی دی. په دې کښې د مهارت حاصلولو نه پس د مناسخې اوږد اوږد مسائل ډیر په مختصر وخت کښې په سهولت سره راویستل کیدې شی. دا طریقه د مروجې طریقې په نسبت ډیر آسانه او مختصره ده.

طریقه دا ده چه د سهامو د متحد مخرج راویستلو په ځای د فیصد دحساب مطابق دې سل (۱۰۰) مخرج جوړکړې شی او د دې نه دې هر وارث لره حصه ورکړې شی، په دې طریقه کښې د حساب دکسرونوضرورت پېښیږی.له همدې کبله ددې یوځوضروری اوآسانې طریقې لیکل کیږی

په عربی اصطلاح کښې د خط د پاسه رقم (عدد) ته کسر او لاندې رقم (عدد) ته د هغه کسر مخرج وئیل کیږی. مثلا په دوه پر درې کښې دوه (۲) کسر دې او درې (۳) د هغې مخرج دې. چه مقصود ترې دا دې چه مقسوم دې درې حصې کړې شی او دوه حصې دې ترې واخستې شی

(۱) **جمع**

د ټولو کسرونو مخرج متحد راوباسئ. د دې طریقه داده چه د دوؤ مخارجو خپل مینځ کښې نسبت معلوم کړئ. که تباین وی نو د یو مخرج کل لره د دویم مخرج په کل کښې ضرب ورکړئ. که توافق وی نو د یو وفق لره د دویم په کل کښې ضرب ورکړئ. که تداخل وی نو اکثر ترې واخلئ. که تماثل وی نو د دواړو نه یو واخلئ

بیا د هغې حاصل ضرب یا ماخوذ د دریم مخرج سره نسبت وګورئ. د هغې په کل یا په وفق کښې ضرب ورکړئ. بیا د دې دویم حاصل ضرب د څلورم مخرج سره نسبت وګورئ. دغه شان عمل کوئ. حتی چه ټول مخارج ختم شی

آخری حاصل ضرب لره خط جوړ کړئ او د هغې د لاندې نې ولیکئ. بیا دغې آخری حاصل ضرب لره د هر کسر په اصل مخرج باندې تقسیم کړئ حاصل تقسیم لره په هر کسر کښې ضرب ورکړئ او حاصل ضرب د خط مذکور د پاسه ولیکئ. د ټولو کسرونو مخرج به متحد شی

بیا دا نوی کسرونه کوم چه د هر کسر د ضرب نه حاصل شو او د خط د پاسه لیکلې شوې دی. د دې مجموعې لره په مخرج متحد تقسیم کړئ او صحیح عدد جوړ کړئ. که چیرې د تقسیم نه پس څه پاتې شی نو هغه به د مخرج کسر وی. که چرې په دغې کسر او مخرج کښې تباین وی نو دواړه به په خپل حال وی. او که تداخل یا توافق وی نو د دواړو په ځای د هغې وفق کیږدئ. دغه شان به عددونه واړه شی نو په حساب کښې به آسانی وی

$$\frac{۳}{۵} + \frac{۷}{۹} + \frac{۵}{۲} + \frac{۲}{۳}$$

د جمعې حاصل $۲\frac{۷۹}{۹۰} = \frac{۵۴ + ۷۰ + ۷۵ + ۲۰}{۹۰}$ مخرج متحد

(۲) **تفریق**

په دې کښې هم په ذکر شوې طریقې سره د ټولو کسرونو مخرج په متحد کړئ او تفریق به یې کړئ ، د باقی مانده کسر او د دې په مخرج کښې که تداخل یا توافق وی نو د دې په ځائ د هغوئ توافق واخلئ او عدد وروکې کړئ . لکه څنګه چه په جمع کښې تیر شو .

که چیرې د مفروق کسرونه د مفروق منه نه زیات وی او مفروق منه سره عدد صحیح هم وی نو د صحیح عددونو نه یو واخلئ هغهٔ لره د مخرج سره ضرب ورکړئ او د کسرونو د جنس نه ئې وګرځوئ او د نزدې کسرونو سره ئې جمع کړئ او تفریق کړئ .

$$\frac{۱}{۳} - \frac{۳}{۴}$$

حاصل تفریق $\frac{۵}{۱۲} = \frac{۴ - ۹}{۱۲}$

(۳) **د کسر په عدد صحیح کښې ضرب** :

مخرج لره په صحیح عدد باندې تقسیم کړئ ، چه حاصل تقسیم د کسر نه کم شی نو کسر لره په هغې باندې تقسیم کړئ او صحیح عدد جوړ کړئ .

که چیرې صحیح عدد باندې پوره تقسیم نشی نو کسر لره په صحیح عدد کښې ضرب ورکړئ او حاصل ضرب په مخرج باندې تقسیم کولو سره صحیح عدد جوړ کړئ ، که د تقسیم نه پس څه پاتې شی نو هغه به د هغې مخرج کسر وی ، بیا د هغې کسر او مخرج اعداد په ذکرشوې طریقې سره واړه کړئ

حاصل ضرب $۲\frac{۱}{۴} = \frac{۹}{۴} = ۳ \times \frac{۳}{۴}$

(۴) **د کسر په صحیح عدد باندې تقسیم کول** :

که چیرې په مقسوم علیه پوره تقسیم نشی نو مخرج لره په مقسوم علیه کښې ضرب ورکړئ ، مخرج او کسر دواړه په مذکوره طریقې سره واړهٔ کړئ

حاصل تقسیم $\frac{4}{5} + 2 = \frac{4}{30} = \frac{2}{15}$

(۵) که چیرې صحیح عدد د مقسوم په مقدار کښې د مقسوم علیه نه کم وی یا مقسوم لره په مقسوم علیه باندې د تقسیم کولو نه څه باقی پاتې شی نو کل مقسوم یا باقی لره کسر . او مقسوم علیه لره دهغې مخرج گرځولې شی . بیا په مذکوره طریقې سره کسر او د هغې مخرج لره واړه کړئ

حاصل تقسیم $8 + 3 = 2\frac{2}{3}$ حاصل تقسیم $2 + 8 = \frac{2}{8} = \frac{3}{4}$

(۲) که چیرې دصحیح مقسوم عدد سره کسرونه هم وی او صحیح عدد په مقسوم علیه باندې نشی تقسیم کیدې یا د تقسیم نه پس څه پاتې کیږی نو دغه صحیح عدد مقسوم لره په مخرج کښې ضرب ورکړئ د کسرونو د جنس نه ئې وگرځوئ او نزدې کسرونو سره ئې جمع کړئ او مقسوم علیه په مذکوره طریقې سره تقسیم کړئ .

حاصل تقسیم $2\frac{3}{4} = \frac{11}{4} + 3 = \frac{11}{12}$

مسئله ۱۰۰ مورث اعلی

زوجه	زوجه	ابن	بنت	بنت	بنت
کریمه	عزیزه	عبدالله	هاجره	خدیجه	عظیمه
$2\frac{1}{4}$	$2\frac{1}{4}$	35	$17\frac{1}{2}$	$17\frac{1}{2}$	$17\frac{1}{2}$

ثانی عزیزه مص $2\frac{1}{4}$

ابن	ابن	بنت	بنت
حمید	ولید	خدیجه	عظیمه
$2\frac{1}{12}$	$2\frac{1}{12}$	$1\frac{1}{24}$	$1\frac{1}{24}$

ثالث عظیمه مص $18\frac{13}{24}$

زوج	بنت	اخت اعیانی
احمد	فاطمه	خدیجه
$4\frac{21}{92}$	$9\frac{13}{48}$	$4\frac{21}{92}$

رابع کریمه مص $2\frac{1}{4}$

بنت	ابن العم	ابن العم
هاجره	عزیز	سعد
$3\frac{1}{8}$	$1\frac{9}{12}$	$1\frac{9}{12}$

المسئله ۱۰۰

الاحیاء

عبدالله	هاجره	خدیجه	حمید	ولید	احمد	فاطمه	عزیز	سعید
۳۵	$\frac{۵}{۸}$ ۲۰	$\frac{۱۷}{۹۲}$ ۲۳	$\frac{۱}{۱۲}$ ۲	$\frac{۱}{۱۲}$ ۲	$\frac{۲۱}{۹۲}$ ۴	$\frac{۱۳}{۴۸}$ ۹	$\frac{۹}{۱۲}$ ۱	$\frac{۹}{۱۲}$ ۱

عول

د وارثانو سهام د کسرونو په طور یعنی د یو پر دوه جمع یو په څلور $\frac{۱}{۲}$ ، $\frac{۱}{۴}$ په صورت کښې و لیکئ او بیا دوئ جمع کړئ . په مجموعه باندې به مافی الید لره تقسیم کړئ او حاصل تقسیم لره د هر وارث په سهامو کښې ضرب ورکوئ

مسئله ۱۰۰

میـ

زوج	ام	اخت اعیانی	اخت اعیانی
$\frac{۱}{۲}$ ۳۷	$\frac{۱}{۲}$ ۱۲	۲۵	۲۵

رد

د دې څلور صورتونه دی

۱. چه من لایرد علیهم په مسئله کښې نوی او من یرد علیهم جنس واحد وی نو ټول مال دې د من یرد علیهم په رؤسو علی السویة تقسیم کړې شی .

۲. چه من یرد علیهم په مسئله کښې نوی او من یرد علیهم د مختلفو جنسونو وی نو د عول په شان عمل دې وکړې شی

۳. چه من لایرد علیه هم په مسئله کښې موجود وی او من یرد علیه جنس واحد وی نو من لا یرد علیه لره دې د هغوی مقرره حصه ورکړې شی باقی په من یرد علیهم باندې د عول غوندې تقسیم کړئ . یعنی د من لایرد علیه نه باقی پاتې شوې لره د من یرد علیهم د سهامو په مجموعی باندې تقسیم کړئ او حاصل تقسیم لره د من یرد علیهم نه د هر یو په سهامو کښې ضرب ورکوئ

مسئله ۱۰۰

میـ

بنت	بنت	بنت	بنت
۲۵	۲۵	۲۵	۲۵

مسئله ۱۰۰

میـ

بنت	بنت الابن
۷۵	۲۵

مسئله ۱۰۰

زوج	بنت	بنت	بنت	بنت
۲۵	۱۸ ۳/۴	۱۸ ۳/۴	۱۸ ۳/۴	۱۸ ۳/۴

مسئله ۱۰۰

زوج	بنت	جده
۲۵	۵۶ ۱/۴	۱۸ ۳/۴

رشید احمد

۲۲ جمادی الاولی ۷۱ھ یوم الخمیس

دویمه ضمیمه

د څلورو نسبتونو معلومول په دې باندې په پوهیدلو پورې موقوف دې چه آیا لوئ عدد په وړوکی باندې یا دا دواړه عددونه په یو دریم عدد باندې تقسیم کیږی اوکه نه تقسیم کیږی ؟ لهذا لاندې یو څو اصول لیکل کیږی چه په هغې سره د هر عدد متعلق که هر څومره لوئ وی فوراً معلومیدې شی چه دا په کوم کوم عدد باندې تقسیم کیدې شی

(۱) دکوم عدد په شروع کښې چه جفت یا صفر وی هغه به یقینا په دوؤ (۲) باندې تقسیم کیږی

(۲) د عدد د درجاتو نه دری (۳) ، شپږ (۶) او نهو (۹) نه علاوه د باقی مجموعه چه په دریو تقسیم شی نو ټول عدد به هم په دریو تقسیم کیدې شی . که مجموعې لره په دریو باندې د تقسیم کیدو نه وروسته څه باقی پاتې شی نو ټول عدد په دریو باندې د تقسیم کولو نه پس به هم هغه مقدار عدد باقی پاتې کیږی

(۳) د کوم عدد په شروع کښې چه دوه صفرونه وی یا اولې دوه درجې په څلورو (۴) تقسیم شی نو هغه ټول عدد به هم په څلورو (۴) تقسیم پوره کیدې شی

دغه شان چه د کوم عدد په شروع کښې دوه صفرونه وی یا اولې دوه درجې په پنځویشت ۲۵ باندې پوره تقسیم شی نو هغه ټول عدد به هم په پنځویشت (۲۵) باندې پوره تقسیم کیږی

(۴) د کوم عدد په شروع کښې چه صفر یا پنځه ۵ وی نو هغه به په پنځو پوره تقسیم کیږی

(۵) کوم عدد چه په عددینو متباینو تقسیم شی نو هغه به د دواړو په حاصل ضرب هم تقسیم کیدې شی . مثلاً چې کوم عدد په دوؤ (۲) او دریو (۳) دواړو باندې تقسیم شی هغه به په شپږو (۶) هم تقسیم کیږی . کوم چه په دریو (۳) او څلورو (۴) دواړو باندې تقسیم شی هغه به په دولسو ۱۲ باندې هم تقسیم کیږی . کوم چه په دریو (۳) او پنځو ۵ دواړو باندې تقسیم شی . هغه به په پنځلسو ۱۵ باندې هم تقسیم کیږی . کوم چه په دوؤ ۲ او نهو ۹ دواړو باندې تقسیم شی هغه به په اتلسو ۱۸ باندې هم تقسیم کیږی وقس علی هذا

،۶، د کوم عدد په شروع کښې چه درې صفرونه وی یا اول درې درجات یې په اتو ،۸، باندې تقسیم شی نو هغه ټول عدد هم په اتو ،۸، باندې تقسیم کیدې شی۔
دغه شان چه د کوم عدد په شروع کښې درې صفرونه وی یا اول درې عددونه په یو سل پنځویشت ،۱۲۵، باندې تقسیم شی هغه ټول عدد هم په ،۱۲۵، باندې تقسیم کیدې شی.

،۷، د عدد د درجاتو نه د نهو ،۹، نه علاوه که د باقی مجموعه په نهو باندې تقسیم کیدې شوه نودا ټول عدد به هم په نهو ،۹، باندې پوره تقسیم کیږی اوکه چیرې دمجموعې یې په نهو ،۹، باندې د تقسیم کولو نه څه باقی پاتې شی نو هغه کل عدد لره په نهو باندې د تقسیم کولو نه به هم هماغه عدد پاتې کیږی.

،۸، چه د عدد په شروع کښې یو صفر وی نو په لسو ،۱۰، باندې ، که دوه صفرونه وی نو په سلو ،۱۰۰، باندې ، او که درې صفرونه وی نو په زرو ،۱۰۰۰، باندې تقسیم کیدې شی ، وقس علی هذا.

،۹، د عدد د درجاتو نه فرد ،طاق، درجات یعنی اول ، دریم ، پنځم ، ،یویز ، لسیز ، لس زریز، وغیره جمع کړئ او زوج ،جفت، درجات یعنی دویم ، څلورم ، شپږم ، ،لسیز ، زریز، سل زریز، وغیره لره جدا جمع کړئ ، که چیرې دواړه مجموعې برابر وی یا په دواړو کښې دومره تفاضل وو چه هغه په یوولسو ،۱۱، باندې پوره پوره تقسیم کیدې شی نو دا ټول عدد به هم په یوولسو ،۱۱، باندې پوره تقسیم کیږی.

،۱۰، چه د کوم عدد په شروع کښې څلور صفرونه وی یا اول درې درجات په شپاړسو ،۱۶، باندې تقسیم کیدې شی نو هغه ټول عدد په شپاړسو باندې تقسیم کیدې شی.

،۱۱، یو عدد لره د تقسیم کولو نه پس که چیرې حاصل تقسیم په اول مقسوم علیه باندې یا په یو بل عدد باندې تقسیم کیدې شو نو د هرو دوؤ مقسوم علیه حاصل ضرب به اول مقسوم لره تقسیم کوی.

،۱۲، کوم عدد چه په یو لوئ عدد باندې تقسیم کیدې شو نو هغه به په دې کښې په متداخله اعدادو باندې هم تقسیم کیږی ، لکه کوم عدد چه په شپږو باندې تقسیمیږی هغه به په دریو او دوه باندې هم پوره تقسیمیږی

،۱۳، کوم عدد چه په یو وړوکی عدد باندې نۀ تقسیم کیږی نو هغه به د دې په اضعافو هم نۀ تقسیم کیږی . مثلا کوم چه په دوؤ ،۲، نۀ تقسیم کیږی نو هغه به په څلورو ،۴، او شپږو ،۲، باندې هم نۀ تقسیم کیږی

،۱۴، د کوم عدد اقل په شروع کښې چه جفت وی نو هغه داسې اکثر عددونه نشی تقسیم کولې چه د هغې په شروع کښې طاق وی

(۱۵) د کوم عدد اقل په شروع کښې چه پنځه (۵) وی نو په هغې باندې به هغه اکثر عدد نشی تقسیم کیدې چه د هغې په شروع کښې پنځه یا صفر نۀ وی

(۱۶) د کوم عدد اقل په شروع کښې چه صفر وی په هغې باندې به داسې اکثر عدد پوره نۀ تقسیم کیږی چه د هغې په شروع کښې صفر نۀ وی

(۱۷) کله چه یو عدد لره په یو عدد کښې ضرب کول او په دویم باندې تقسیم کول مطلوب وی نو د مضروب فیه په وفق کښې ضرب او د مقسوم علیه په وفق باندې په تقسیم کولو سره به هم هماغه جواب راځی ،په دې کښې سهولت او اختصار دې

رشید احمد

۲۴/ جمادی الاولی ۷۶ هـ یوم الخمیس

دریمه ضمیمه

الله تعالی د بنده نه د ډیرې مودې پورې د علم الفرائض د تدریس . او د دې په مباحثو کښې د تدبر او تفکر او د دې د بنې تشریح او تعبیر او تحریر خدمتونه اخستې دی . په دغه مختلفونو وختونو او زمانو کښې دا لاندې دوه ډیر اهم اشکالات او د دې حل د بنده په ذهن کښې راغلل . د زیات تثبت د پاره ما دا اشکالات نورو بعضو علماؤ لره هم ولیږل ، د هغوئ جواب هم څما مطابق راغې . دا مباحث خو مخکښې دی مګر دې سره هغه تاریخونه لیکلې شوې دی کله چه د دې په باره کښې د تحریراتو مختلفه حاصل په یو تحریر کښې مرتب کړې شو .

د احسن الفتوی قدیم ترتیب کوونکی دې لره د سوال او جواب په صورت کښې شائع کړل . بیا بعضې ناشرینو د هغې ځائ نه هغه هماغه شان د سوال او جواب په صورت کښې د تسهیل المیراث په ضمیمه کښې شائع کړل .

په حقیقت کښې دا دواړه اشکالات د غیر د طرف څخه ندی .

اول اشکال آیا د عصباتو سلسله په عم الجد باندې ختمیږی او که بره هم جاری ده ؟ که په عم الجد باندې نه ختمیږی نو د ذوی الارحامو او د هغوئ نه د وروسته اصنافو د توریث به څه صورت وی ؟ ځکه چه هرکله د عصباتو سلسله منتهی نده نو د هر شخص به په دنیا کښې یو نه یو عصبه ضرور وی چه په څه نا څه درجه کښې به د دۀ په جد کښې شریک وی.حتی الی آدم علیه السلام

همدارنګه د فقهاؤ رحمهم الله د عصباتو سلسلې لره په عم الجد باندې ختمول . او مخکښې نۀ ذکر کول په دې خبره دلالت کوی چې د دې نه وړاندې سلسله نۀ چلیږی او په عم الجد کښې عمومً .وان علا، نه په عامو کتابونو کښې ذکر دې او نۀ درایة د دې په دې ځائ کښې عموم مراد اخستل

صحیح دی . خکه که په جد کښې عموم مراد وی نو د جزء الاب نه پس یوه بله مرتبه راویستل ندی پکار . عم الاب او عم الجد هم په دې کښې داخلیږی . حالانکه فقهاء کرام ﷭ دې دواړو مراتبو لره د جزء الجد نه پس مستقل ذکر کوی . چه د هغې نه ظاهره ده چه په جد کښې عموم مراد اخستل صحیح ندی . او د عصباتو سلسله په عم الجد باندې ختمیږی

حل د عصباتو سلسله په عم الجد باندې نهٔ ختمیږی . په بزازیه کښې دی **وهکذا عمومة الاجداد وان علوا واولادهم الذکران وان سفلوا** او د معین الحکام په حاشیه باندې په لسان الحکام کښې هم د «وان علوا» تصریح موجوده ده . په عامو کتابونو کښې د دې د تصریح نهٔ کولو وجه دا ده چه هرکله ئې په اولو مراتبو کښې بیابیا د عموم تصریح کړې وی نو اوس په هره مرتبه کښې د هغې ضرورت پاتې نشو بلکه علی سبیل المقایسه د مخاطب فهم ته پریښودې شو او بعضو مصنفینو احتیاطا ذکر هم کړو .

چونکه د وراثت مدار د نسب په ثبوت باندې دې نو له همدې کبله که یو شخص خپله سلسله دنسب د خپلو آباؤ اجدادو په نومونو سره د میت تر یو نیکهٔ پورې ثابته کړی نو هغه به وارث وی، **والا فلا** ، صرف شرکت فی النسب په مبهم طور سره کافی ندې، خکه چه د ابهام په حالت کښې د عصباتو دقرب او بعد معلومول محال دی ، او بغیر د قرب او بعد د لحاظ نه په ټوله دنیا باندې میراث تقسیم کول هم محال دی، او امر محال لره مستلزم قول باطل دې ، نو د ذوی الارحامو او د اصناف متاخره په توریث باندې څه اعتراض پاتې نشو .

په عمومة الاجداد کښې د «وان علوا» عموم په پورته کتابونو کښې ښکاره ذکر دې .

د حضراتو فقهاؤ ﷭ د جزءالجد نه پس عم الاب او عم الجد لره د مستقل ذکر کولو وجه دا ده چه د عصباتو په توریث کښې درې قسمه ترتیب ملحوظ دې . اول ترتیب فی الجهة . بیا ترتیب فی الدرجة . بیا ترتیب فی القوة والضعف ، د جزء الجد په په مرتبه کښې دا وهم کیدلو چه عم او عم الاب او عم الجد وغیره هم یو صنف دې او متساوی فی الجهة دی ، د دې وهم د دفعې د پاره د ثم عم الاب او ثم عم الجد اضافه کړې شوه ، دې د پاره چه په دې کښې اختلاف جهة او د هریو جدا صنف کیدل ظاهر شی . لهذاد ابن او ابن العم په موجود ګئ کښې به عم الاب محروم وی . خکه چه په جهت کښې متاخر دې . که چیرې دې ټولو لره یو جهت ګنلې شو نو معامله به برعکس وه . خکه چه د صنف د اتحاد نه پس اقرب فی الدرجة مقدم وی او عم الاب په دې لحاظ سره اقرب دې

غرض دا چه په دې اضافې سره دفقهاؤ ﷭ مقصد د عصباتو سلسله ختمول نهٔ وو بلکه د میت دهرې درجې د اب د اولاد ذکور مستقل صنف اومختلفة الجهة ظاهرول مطلوب دی . د مراتب غیر محصوره نه دوه یا درې مراتب ذکر کول او عموم او شمول مراد اخستل او باقی لره به علی سبل

المقايسه د مخاطب د فهم په اعتماد پريښودل په عام طور شائع او مشهور دی . والله تعالی اعلم

دويم اشکال . آيا د ذوی الارحامو په دويم صنف کښې په اعلی اختلاف باندې د تقسيم کولو په وخت کښې په د صنف اول غوندې د آخری بطن عدد معتبر وی او کنه ؟

ماته په دې کښې تر څه موده پورې د دلائلو د تعارض د وجې نه تردد وو لهذا مونږ دلته اول متعارض دلائل نقل کوو، د دې لاندې عباراتو نه ثاپتيږی چه د آخری بطن عدد به معتبر نوی .

(۱) قال فی الشريفية فی بيان اولاد القسم الرابع وذالك لان الشیٔ انما يتعدد حكما اذا كان يتصور ثبوته حقيقة ومن البين امكان التعدد فی الاولاد من البنين والبنات فيثبت التعدد فيهم حكما بتعدد الفروع اما الاب والام فلا يتصور فيهما التعدد حقيقة فكذا لا يثبت التعدد حكما فی القرابات المتشعبة منهما.

(۲) په څلورم قسم کښې چې کله عمة الاب او خالة الاب او عمة الام او خالة الام جمع وی نو اول به د اب جانب ته ثلثان او د ام جانب ته ثلث ورکړې شی بيا په هره طائفه کښې به جانب عمه ته ثلثان او جانب خاله ته ثلث ورکړې شی ، په دې کښې د فروعو په کثرت او قلت سره هيڅ فرق نۀ پريوځی ، هر کله چه د اب دعمې او خالې په ثلث او ثلثان کښې د فروعو د عدد د وجې نه څه فرق نۀ راځی نو په دويم قسم کښې د اب د ابوينو په ثلث او ثلثان کښې د آخری بطن په عدد سره په *طريقه اولی* څه فرق غورځيدل ندی پکار.

د لاندې عباراتو نه په ظاهره معلوميږی چه په بطن اول باندې د تقسيم کولو په وخت اگرچه د آخری بطن عدد معتبر ندې ، په هر حال به جانب اب ته ثلثان او جانب ام ته ثلث ورکول کيږی ، مگر په بطن ثانی او د هغې نه په مابعد باندې د تقسيم کولو په وخت به د آخری بطن عدد معتبر وی .

(۱) په ټولو کتابونو کښې دی «ثم مثل الصنف الاول» .

(۲) په ټولو کتابونو کښې دی چه په اعلی اختلاف باندې دې تقسيم وکړې شی او ذکورو او اناثو لره دې جدا جدا طائفه جوړه کړې شی .لفظ د «ذکور او اناث» په صيغه دجمعې سره هم هغه وخت صحيح کيدې شی چې د فروعو عدد معتبر وی .

(۳) که چيرې د آخری بطن عدد معتبر نوی نو د دويم قسم په بيان کښې په ټولو کتابونو کښې چې کوم تفصيل ليکلې شوې دې نو هغه بې فائدې گرځی . په ټولو کتابونو کښې چه کوم طويل عبارت موجود دې د هغې په ځای صرف دومره عبارت کافی دې :

وان استوت منازلهم وليس فيهم من يدلی بوارث او كان كلهم يدلون بوارث واتفقت صفة من يدلون بهم فالقسمة حينئذ علی ابدانهم وان اختلفت صفة من يدلون بهم يقسم المال علی اول بطن اختلف كما فی الصنف الاول.

یعنی هر کله چه اتحاد قرابت په اتحاد صفت کښي او اختلاف قرابت په اختلاف صفت کښي داخل دې نو به عامو کتابونو کښي دواړو سره جدا ذکر کول بې فائدې دی. په جدا ذکر کولو سره صرف دا مقصد کیدې شی چې د اختلاف قرابت نه مراد په بطن اول کښي اختلاف دې. په دې کښي نه د ثلث او ثلثان په طور تقسیم کیږی. او د اختلاف صفت نه بطن ثانی او د هغې نه په ما بعد کښي اختلاف مراد دې. چه په هغوئ د تقسیم کولو په وخت د آخری بطن عدد به معتبر وی. که چیرې په دې کښي هم د آخری بطن د عدد اعتبار نوی بلکه هماغه د ثلث او ثلثان طریقه وی نو بیا اختلاف صفت او اختلاف قرابت سره ولې جدا جدا ذکر کړې شو؟

حل د تحقیق نه پس دا صحیح معلومیږی چه د آخری بطن د عدد اعتبار نشته. کوم دلائل چه د دې خلاف معلومیږی د هغې جوابونه داسې ورکول کیدې شی

۱ په صنف اول سره تشبه په جمله امورو کښي نده بلکه صرف په اعلی اختلاف باندې په تقسیم کولو کښي تشبیه ده

۲ چونکه په اول قسم کښي. ذکور او اناث، د جمع په صیغې سره مذکور وو. لهذا په قسم ثانی کښي مصلحةً بغیر د تبدیل او تغیر نه د جمع صیغه راوړلې شوه

۳ چونکه اتحاد دقرابت په اتحاد دصفت کښي داخل دې لهذا په ټولو کتابونو کښي په دې موقعه باندې دا لاندې تفصیل محض تطویل لا طائل دې. د دې مسامحې منشاء دا ده چه د قسم رابع په اولاد کښي دا تفصیل ضروری دې. چا د دې اشتباه د وجې نه هغه تفصیل دلته هم درج کړو. بیا په نقل نقل سره په ټولو کتابونو کښي خور شو. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۲ ذی القعده، سنه ۱۳۷۶ هجری

د احسن الفتاوی د لسم جلد ((اُردو))

د ترتیب کوونکی وړاندیز

نن د حضرت رحمه الله په سپارلي شوی کار ((د احسن الفتاوی په تتمه)) باندې که یو خوا ته زما زړه د خوشحالئ نه ډک دې نو بل خوا د دې کار په ډیر زیات وروسته کیدلو باندې د پښیمانتیا د احساس نه مې سر ټیټ هم دې. او ورسره ورسره د حضرت برد الله مضجعه مینې او مهربانئ... زما د دې مات ګډ محنت.او د نا اهلئ باوجود د دې خدمت توفیق چې د چا د مخه دې......راته هم ډیرې زیاتي رایادیږی او د هغوی د احسان مندئ جذبې مې په زړه او په دماغو باندې خورې دی.

د احسن الفتاوي د تتمې مسئلې د حضرت رحمه الله په ژوند کښې په وقفې وقفې سره ترتیب کیدلې.حضرت په خپلې نګرانئ کښې د دې تحقیق په نورو حضراتو باندې کړې وو.تقریباً ټولې رسالې کومې چې په تتمه کښې شاملې دی حضرت د دې کتابت په خپله نګرانئ کښې کړې وو.او بیا د کتابت تصحیح ئې هم په خپله کړې وه.په مسئلو باندې د کار کولو ترتیب څه داسې وو چې ما د ټولو نه ړومبې د مسئلو د دفترونو (مسودو) نه د هغه اهمو مسئلو انتخاب وکړو کومې چې د احسن الفتاوي د چاپ نه وروسته لیکلې شوې وې.د دې نه بغیر به که څه اهمه یا سخته استفتاء راغله او د دارالافتاء په ملګرو کښې به چا د هغې جواب ولیکلو نو هغه به مې هم حضرت رحمه الله ته وښودله او د هغې نقل به مې محفوظ کړو.دغه شان په دارالافتاء کښې چې یوولس بجې د حفلة العلماء کوم مجلس کیږی نو په هغې کښې به چې چا په کاغذ باندې سوال ولیکلو او پوښتنه به ئې وکړه او حضرت به ورته مختصر جواب ولیکلو اوبایه که ما ته د تبویب په دوران کښې کوم اشکال مخې ته راغې او حضرت رحمه الله به د هغې جواب راکړو نو دا ټولې خبرې به ما محفوظې ساتلې چې که چیرې د دې موقع راغله نو دا به په تفصیل سره ولیکمه او حضرت رحمه الله ته به ئې وښایمه د دفترونو (مسودو) نه اخستلې شوې او د دارالافتاء له اړخه لیکلې شوې فتوا ګانې اکثره په داسې اجمالی جواب باندې مشتملې وې چې ورسره مفصل دلائل نه وو.په عامو فتاوو کښې د دلائلو او د تفصیل ذکر کولو ذوق د حضرت رحمه الله نه وو. دې مسائلو لره په تتمه کښې د شاملولو د پاره د دې مسئلو په دلائلو سره د مدلل کولو کار هم ورسره رو رو روان وو.څومره کار به چې کیدلو نو هغه به ما په حفلة العلماء کښې حضرت ته سپارلو.حضرت رحمه الله به هغه د ځان سره یوړو او د کتلو او د اصلاح کولو نه وروسته به ئې راته راواپس کړو. لیکن د تتمې مسئلې دومره حد ته نوې رسیدلې چې هغه دې چاپ کړې شی چې پدغه وخت کښې د حضرت رحمه الله انتقال وشو

دا د دارالافتاء او د دې د متعلقینو د پاره یوه سخته واقعه وه چې یو لوئې اثر ئې دا وو چې تر څه وخته پورې مو دا همت هم نه وو چې د احسن الفتاوي د تتمې د ترتیب کولو کار شروع کړې

شوې ... د حضرت استاذ صاحب په حکم باندې د سمې په کار باندې شروع وکړې شوه. لېکن د خپې خبرو په وجه د تتمې کار سست وو ... بوه وجه خو د هغه وخت د افغانستان حالات وو چې په دارالافتاء باندې ئې نېغ په نېغه اثر وو ... په خاص توګه حضرت استاذ صاحب دامت برکاتهم په دغه حالاتو کښې ډېر سخت په ذهنې او عصابې تکلیف کښې مبتلا وو او یو وخته پورې د تتمې د مسئلو کار د حضرت استاذ صاحب په منوره باندې موقوف وو او د دې کار و نه کړې شو.
دويمه وجه دا چې د تعليم سلسله د دارالافتاء والارشاد ناظم آباد نه جامعة الرشيد احسن آباد ته منتقله کړې شوه نو ما بيا خپل وخت تقسيم کړو، سحر د سبقونو د پاره مدرسې ته تلل وو او د ماسپښين په وخت کښې به واپس کېدله.او بيا به براه راس د مسئلو او د ټيلې فون په ذريعه د مسئلو سلسله به تر مرزه يکړه پورې جارې وه
د دې نه پس خو کله وراندې چې زه په مستقله توګه مدرسې ته منتقل شوم نو په جامعه کښې برنه پسې د خو قسمه شعبو ابتدا وشوه او نن الحمد لله د حفظ شعبه.درس نظامی.معهد الرشيد. تخصص فی الافتاء.تخصص فی فقه المعاملات المالیه.شعبه د قراءت او تجويد نه سوا کلية الشريعة کورس.انګلش لينګويج کورس.صحافت کورس. تدريب المعلمين،ايم بي اې او د بي بي اې وغيره په شان ډېرې شعبې جارې دی. د اخبارونو او د رسالو سلسله د دې نه بغير ده.د دې شعبو د جوړولو او د نظم کولو او مضبوطولو دپاره که د مشورې تر حده پورې هم په دې کښې شرکت کول وی نو د دې له پاره به ډېر وخت پکار وی.زه له زړه نه د الله تعالی ډېر شکر ګزاره يم چې په دې کښې په هره شعبه کښې ما ترخپه حده پورې شرکت کړې دې.په داسې قسمه مشغلو کښې مشغونه کېدل هم د دې کار د وروسته کېدو يو سبب دې
آخر دا چې کله مسئلې تيارې شوې نو دا مسئله راپيښه شوه چې د کومو مسئلو کتابت د حضرت رحمه الله په ژوند کښې شوې وو نو د هغې نه بغير د نورو مسئلو د کتابت د پاره يو خو کاتب نه ترلاسه کېدلو. دويمه دا چې د نن صبا په نوی دور کښې د چاپ په حقله د کتابت مشکلات هم واضحه وو . بوه حصه د کتابت سره او بله د کمپوز سره چاپ کول مناسبه نه وه. نو د دې وجې نه د حضرت استاذ صاحب په مشورې باندې ټوله مسوده کمپوز کړې شوه او د دې تصحيحات کېدل. په دې دوران کښې د کمپوزنګ د مشکلاتو. د رخصتيانو او د تصحيحاتو له کبله دا کار ورو ورو وروسته کېدلو او د تتمې طباعت مؤخر شو
څه مسئلې هغه هم دی چې د هغې اجمالی جواب د حضرت رحمه الله لخوا تصويب شوې دې . ليکن تفصيلی ليکنه ئې وروستو ترتيب کړې شوه. د دې وجې نه که چېرې په تعبير کښې څه کمې ياد حضرت رحمه الله د ليکنې له اسلوب نه څه خلاف درته محسوس شی نو دا زما قصور وګڼئ
په خو مسئلو کښې د حضرت رحمه الله د فقهی تحقيق په خلاف که څه جزيه راته ترلاسه شوه.يا د

نوي مسئلې په وجه که په جواب کښې څه بدلون کول محسوس کړې شو یا که د یو اهم وضاحت ضرورت محسوس کړې شو،نو په متن کښې اصل جواب په خپل ځائ وساتلې شو او د علم د خاوندانو د پاره په حاشیه کښې د هغې اظهار وکړې شو .ان کان هو الصواب فمن الله وان کان الخطأ فمني و من الشیطان.

حضرت رحمه الله له الله تعالی په دې معامله کښې داسې قسمه اخلاص.بې نفسی او فراخه سینه ورکړې وه چې په لسو دولسو کالو کښې کومو کښې چې ما د حضرت سره کار کړې دې،که چیرې نورو اکابرو مفتیانو حضراتو او مفتی عبدالستار رحمه الله به د حضرت توجه د هغوی یوې مسئلې ته راوګرځوله نو حضرت رحمه الله به یو ځل بیا په ښه خوشحالئ سره په هغه مسئله باندې سوچ او فکر کولو او چې د بل فریق خبره به ئې په پوهه کښې راغله نو د دلائلو نه په رجوع کولو کښې به ئې لږه هم سستي نه کوله. بلکه زمونږ غوندې د مبتدی کسانو په توجه راګرځولو باندې به ئې هم اصلاح او ترمیم وکړو. د دې ډیر مثالونه د تتمې په آخره کښې په رساله (ترامیم او اصلاحات) کښې موندلې شی.

د تبویب په دې نازکه مسئله کښې زمونږ ملګری حضرت مولانا رفیق حسن صاحب زیدمجدهم مونږ سره ډیر تعاون وکړو.د دلائلو په جمع کولو او د کمپوزنګ نه پس په بیا بیا تصحیح کولو کښې ئې ډیر محنت کړې دې،د دې نه علاوه زمونږ ورور حامد علی کهوکهر صاحب د عربئ عبارت په صحیح کمپوزنګ کښې چې د یو غیر عالم د پاره ډیر ګران کار دې،او په ښائسته ډیزائننګ کولو کښې ئې ډیر د زړه نه او د استاذئ نه کار اخستې دې.زۀ د دې دواړو حضراتو د زړۀ د کومې نه شکریه ادا کومه.الله تعالی دې دوی ته د خپل شان مطابق د خیربدلې ورکړی.آمین

د حضرت رحمه الله اراده دا وه چې تتمه په یو جلد کښې چاپ کړې شی،خو چې کله کمپوزنګ وکړې شو نو اندازه وشوه چې الحمدلله د دوو جلدونو ذخیره تیاره شوه،نو د دې وجې نه دا اوس په دوو جلدونو کښې وړاندې کولې شی.الله تعالی دې دا علمی پنګه د حضرت رحمه الله د پاره صدقۀ جاریه وګرځوی او مونږ له دې کما حقه د دې نه د استفادې توفیق رانصیب کړی.آمین

محمد عفي عنه

دارالافتاء جامعة الرشید احسن آباد کراچی

۲۲ ربیع الثاني ۱۴۳۱ هجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ اُدۡخُلُوۡهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيۡنَ ﴿۴۶﴾ ﴾

کتاب الایمان والعقائد

د ګیرې سپکاوې کول موجب د کفر دی

سوال د بحری فوځ یو عسکر ستاسو بیان واوریدلو نو ګیره ئې پریښودله .د دغه عسکر مشر هغه ته د ګیرې د خریلو حکم وکړو .هغه انکار وکړو .د دې په نتیجه کښې هغه بندی کړې شو او د فوځ د قانون مطابق په هغه باندې د کورټ مارشل مقدمه قائمه کړې شوه.او هغه مشر ده ته په مرمئ سره د ویشتلو ویروني ورکوی دا عسکر اوس داسې وائی چې زۀ سر د تنه پرې کولې شم خو ګیره نشم پریکولې . اوس پوښتنه دا ده چې کوم مشر دۀ ته د ګیرې پریښودو په وجه کومه زورنه ورکړه او دۀ ته ئې سزا ورکړه او دې په مرمئ سره په ویشتلو ویروی نو د دې مشر شرعا څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ګیره پریکول یا خریل حرام دی او دا د دې خبرې نښه داده چې د دې سړی په زړۀ کښې د رسول اللّٰه ﷺ د صورت مبارک سره بغض او کینه اودشمنی او نفرت دې. د بحری فوځ کوم یو مشر چې د رسول اللّٰه ﷺ د صورت مبارک نه د ناخوښتیا اظهار کړې دې، د هغه ایمان په لویه خطره کښې دې په هغه دا فرض دی چې دا مسلمان بندی دې سمدستی آزاد کړی او د دۀ نه دې معافی وغواړی او د خپل دې عظیم جرم نه دې توبه وباسی او د احتیاط په توګه دې د ایمان او د نکاح دواړو تجدید وکړی. او که چرې دا د فوځ مشر علی الاعلان توبه نکوی نو په حکومت باندې دا فرض دی چې دا د اسلام دشمن دې په یو فراخه میدان کښې د خلقو په وړاندې قتل کړی او د الله تعالی زمکه دې د دې زندیق.مردود او باغی د وجود نه پاکه کړی. او که چیرې حکومت د دې فرض په ادا کولو کښې د آسانتیا نه کار اخلی نو داسې بې دینه حکومت ته په مسلمانانو باندې د حکمرانئ کولو هیڅ حق نشته.او په دنیا او آخرت کښې دې له اسلام سره د دشمنئ کولو د خراب انجام انتظار کوی . والله یقول الحق وهو یهدي السبیل

۱۱/ ربیع الاول ۱۴۰۸ هجری

د تیر شوی سوال په شوان یو بل سوال

سوال زۀ د لسو کالو نه د قرآن پاک درس کوم. د ربیع الاول په یوولسم تاریخ مانښام ۵ بجې یو کور ته یوې ماشومې ته د درس ورکولو د پاره لاړم. نو ما هغه د هغه په کور کښې د

يوې غير محرمې ښځې سره په داسې حالت کښې وليدلو چې هغه حالت قابل د اعتراض وو. ما هغه په دې کار د خپلې غصې اظهار وکړو او هغه مې د دې کار نه منع کړو. نو هغه زه د خرابې نتيجې نه وه ويرولم. هرکله چې زهٔ د ربيع الاول په ديارلسم تاريخ ۵ بجې د هغه کور ته د درس د پاره لاړم نو کوم څوکيداران چې په دروازه ولاړ وو هغوی زه په لرګو ډير خراب خراب وهلم. او په پړی ئې وتړلم او په زوره ئې زما ګيره وخريبله او زه ئې په زخمی حالت کښې د کوره راوه ويستلم. مهربانی وکړئ اوس ما ته دا اووايئ چې په شريعت کښې د داسې سړی څه سزا ده.او دهٔ سره څه کول پکار دی ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : يوموټی ګيره ساتل فرض دی او له هغې نه کمول يا خريبل بالاجماع حرام دی او د دې علامه دا ده چې د داسې سړی په زړه کښې د رسول اللهﷺ د صورت مبارک سره بغض او نفرت دې.

د ګيرې په حقله د رسول اللهﷺ يو څو ارشادات

۱- ګيره اوږدوئ او د مشرکانو په شان شکل او صورت مهٔ جوړوئ (بخاری ومسلم)
۲- ګيره اوږدوئ او د مجوسيانو (آتش پرستو) په شان صورت مهٔ جوړوئ (مسلم).
۳- ګيره اوږدوئ او د يهودو په شان شکلونه مه جوړوئ (طحاوی)
٤- ګيره اوږدوئ او د يهوديانو او عيسايانو غوندې مهٔ جوړيږئ (مسند احمد)
۵- د رسول اللهﷺ په خدمت کښې کسری بادشاه دوه استاذی راوليږل چې ګيرې ئې خريبلې وې. رسول اللهﷺ د هغوئ دغه مکروه صورتونو ته يو نظر هم ونه کتل. باوجود د دې چې دوی ميلمانه وو او د بل ملک نه راليږلې شوی استاذی وو. دوئ ﷺ له هغوئ نه مخ مبارک واړولو.او بياخې دا عمل ئې ونه کړو بلکه داسې ئې ورتل : خدائې مو بيخ اوباسه تاسو ته د داسې صورت جوړولو حکم چا درکړې دې؟ زما پروردګار ما ته د ګيرې لويولو حکم راکړې دې

حال دا چې دا کسان کافران وو او د اسلام په حکمونو باندې مکلف نه وو

د رسول اللهﷺ د پورتنيو احاديثو او هم د دې مضمون په شان د نورو احاديثو په وجه د امت په دې خبره باندې اجماع ده چې ګيره د يو موټی نه کمول حرامی دی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: واما الاخذ منها وهي دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه احد(ردالمحتار: ج۲،ص۱۲۳)

طبعاً.عقلاً او شرعا د ګيرې دومره اهميت دې چې دا د اسلام د لويو نښو نه علاوه د سړی د پاره دومره لوئې ښائست او ښکلا کرخولې شوې ده که چيرې يو سړې د چا ګيره داسې وخروی چې سا راونه خيژی نو په هغه باندې د نفس د قتلولو په شان پوره ديت واجب دې. چې مقدار ئې د

لاندېنو مقاديرو څخه يو دي

۱- لس زره درهمه = ۰۲/ ۳۴ کلو ګرامه سپين زر

۲- يو زر ديناره = ۸۶ / ۴ کلو ګرامه سره زر

۳- سل اوښان

که چيرې د تپوس کوونکي بيان صحيح وی نو، چې کوم مردود د يو مسلمان ګيره په زوره وخرييله هغه د رسول اللهﷺ د صورت مبارک او د اسلام د يوې ډيرې اهم نښې سپکاوی کړې دې او دا کفر دې په داسې سړی باندې فرض دی چې:

۱- کومو خلق چه له دې قيصې نه خبر دی د هغوی په مخکښې دې په ښکاره سره د توبې اعلان وکړی او د ايمان تجديد دې وکړی.

۲- د ټولو په وړاندې دې د دې مسلمان نه ښنه وغواړی.

۳- خپله نکاح دې دوباره وتړی

تر څو پورې چې دې د ايمان او د نکاح تجديد ونه کړی نو تر هغه وخته پورې د ده ښځه په ده باندې حرامه ده. د ښځې د پاره د داسې سړی سره اوسيدل ناروا دی او سخته ګناه ده.

که چيرې دا مردود په پورتنيو خبرو باندې عمل نه کوی نو په مسلمانانو باندې او په خاص توګه د ده د محلې په خلقو باندې دا فرض دی چې

۱- د دې سپيرۀ سره دې هر قسم تعلق ختم کړی. سلام دعا، خبرې اترې، ناسته پاسته، هر څه دې ورسره سمدستی پريږدی. که چيرې څوک د دې خبرداری نه پس هم دغه اسلام دښمن سره خپل تعلق ساتی نو د داسې بې ضميره، بې غيرته او بې دينه سره هم تعلقات ساتل داسې حرام دی لکه څنګه چې دغه مردود سره حرام دی.

۲- د رسول اللهﷺ په جناب کښې د دومره لوئې بې ادبئ کوونکی، او د اسلام د دومره لوئې نښې سپکاوی کوونکی، او په يو مسلمان باندې د ګيرې خرييلو غوندې لويه ګناه کوونکی او ښکاره د دغه مسلمان سپکاوې کوونکی مردود باندې پکار دی چې سم ګذار وکړی او د دې شيطان د خپل انجام ته د رسولو د پاره پکار دی چې د دينی غيرت او جذبې اظهار وکړی او په يو اتفاق دې د هغه خلاف ودريږی. او که په جمع وی او که په يو اخې خان وی چې څه څوک کولې شی هغه دې ورسره وکړی او د خپلې ذمې نه دې دا فرض ادا کړی او د رسول اللهﷺ په جناب کښې دې د خپل سر د اوچتولو ذريعه وګرځوی. کوم سړې هم چې د دې فرض په ادا کولو کښې سستی کوی هغه به په دنيا او په آخرت کښې د الله پاک د قهر نه خان ونشی ساتلې

۳- د ورځ پاڼو او د رسالو په ذريعه دې خلق د دې مردود په حقله د شرعی حکم نه خبر کړی. او هغوئ دې د دې حکم په پوره کولو باندې مجبوره کړي

۴ - د ورخ پاڼو او د رسالو او د نورو خپرندویو چارو په ذریعه دې د حکومت نه دا مطالبه وکړې شی چې دهٔ ته دې شرعی سزا ورکړې شی

په حکومت باندې دا فرض دی چې د داسې سپیرهٔ او د الله تعالی د دښمن د وجود نه دې د الله تعالی د زمکې پاکولو زر تر زر فیصله وکړی، په یو فراخه میدان کښې دې ډیر خلق راټول کړی او د هغوی وړاندې دې د دې مردود نه سر کټ کړې شی. او د سر پریکولو نه پس دې د عبرت د پاره د دهٔ دا سر په یو لوئې چوک کښې را زوړند کړی. **والله العاصم من جمیع الفتن.** ۲۲ ربیع الاول ۱۴۱۱ هجری

په پاسپورټ کښې قادیانې لیکل

سوال: بعضې مسلمانان د یو کافر ملک د ویزې تر لاسه کولو د پاره یا د څه دنیاوی مصلحت د پاره په پاسپورټ او د ویزې په فارم کښې خپل ځان ته قادیانې ولیکی. دومره خبره خو ثابته ده چې دا یو ډیر بد کار او لویه ګناه ده خو پوښتنه دا ده چې آیا داسې سړی ته کافر وئیلې کیدې شی او که نه؟ د فکر کولو نه پس چې کومه خبره مخې ته راغله د هغې خلاصه ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم۔

۱ - د یوې کلمې په وئیلو که دا اختلاف وی چې د دې وینکې کافر دې او که نه نو احتیاط په دې کښې دې چې د دهٔ تکفیر دې ونهٔ کړې شی۔

۲ - کومه کلمه چې په خپل ذات کښې د کفرباعثه ګرځی نو دهغې په وئیلو کښې څوصورتونه دی۔

۱ - په هیره یا په خطا سره یې وه وایی۔

په دې صورت کښې په اتفاق د علماؤ سره دهٔ ته کافر نشی ویلې۔

۲ - په قصد سره وئیلې شوې وی، او دا ورته هم معلومه وی چې د دې وئیل کفر دې او د وئیلو سره د دهٔ اراده هم د کفر وی۔

په دې صورت کښې به په اتفاق د علماؤ سره دهٔ ته کافر ویلې شی۔

۳ - دا وینا په ناپوهۍ سره شوې وی یعنی وئیل خو ئې په ارادې سره شوی دی لیکن دا ئې په علم کښې نوی چې د دې په وئیلو سره سړې کافر کیږی۔

په دې صورت کښې اختلاف دې د دهٔ د کافرکیدو او د نهٔ کافر کیدو دواړه قولونه موجود دی

۴ - په توقو کښې ئې ویناکړې وی، یعنی وینا ئې په ارادې سره کړې وی او د دې کلمې د کفر باعث کیدل ورته هم معلوم وی خو وقوع د حکم یعنی د کفر اراده ئې نه وی

په دې صورت کښې به د دهٔ تکفیر کولې شی

۵ - دا وینا د لوبو توقو په غرض کړې شوې وی، یعنی د توکو په توګه دا کلمه وئیلې شوې وی. نو دا د ایمان سپکاوې دې د دې د ویونکی به هم تکفیر کولې شی

ددې تفصیل تقاضا دا ده چې که د قادیانی په لیکلو دهٔ ته دا علم وی چې دا باعث د کفر دې لیکن عقیده د دهٔ د کفر نوی نو دې ته به تکلم لاعبا یا هازلا (یعنیکپ شپ) او په توقو کښې ونیلې شی او د دې وجې به د دهٔ تکفیر کولې شی او که دا ورته علم نوی چې دا کلمه ونیل باعث د کفر کرځی نو د اختلاف په وجه د دهٔ عدم تکفیر کښې زیات احتیاط دې

په دې هکله یو څو عبارتونه دا دی

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: و من هزل بلفظ کفر ارتد و ان لم یعتقده للاستخفاف فهو ککفر العناد. (البحر الرائق ج۵ص۱۳۰)

وقال العلامة خیرالدین رحمه الله: وفی الفتاوی اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمدا لکنه لم یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لا یکفر لان الکفر یتعلق بالضمیر ولم یعقد الضمیر علی الکفر وقال بعضهم: یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه اه وفی الخلاصة: اذا کان فی المسألة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنع التکفیر فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینا للظن بالمسلم. زاد فی البزازیة: الا اذا صرح بارادته موجب الکفر فلا ینفعه التاویل حینئذ۔ وفی التتارخانیة: لایکفر بالمحتمل لان الکفر نهایة فی العقوبة فیستدعی نهایة فی الجنایة ومع الاحتمال لا نهایة اه قال فی البحر: والحاصل ان من تکلم بکلمة الکفر هازلا اولاعبا کفر عند الکل ولا اعتبار باعتقاده کما صرح قاضیخان فی فتاواه ومن تکلم بها خطأ او مکرها لایکفر عند الکل ومن تکلم بها عامدا عالما کفر بها عند الکل ومن تکلم بها اختیارا جاهلا بأنها کفر ففیه اختلاف والذی تحرر انه لا یفتی بتکفیر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة فعلی هذا فاکثر الفاظ التکفیر المذکورة لا یفتی بالتکفیر بها ولقد الزمت نفسی ان لا افتی بشیء منها اه والله اعلم.

(الفتاوی الخیریة بهامش تنقیح الفتاوی الحامدیة: ج۱ص۱۰۳)

وقال الامام ابوبکر الجصاص الرازی رحمه الله: وکذا غیر المکره اذا اجری علی لسانه کلمة الکفر استهزاء وجهلا یکون کافرا فیکون الایة دلیلا علی ان رکن الایمان التصدیق والاقرار جمیعا ولکن التصدیق لا یحتمل السقوط بحال والاقرار یحتمله فی حالة الاکراه. (التفسیر الاحمدیة: ص۵۰۰)

د دې نه علاوه نورې یو دوه خبرې د غور کولو قابلې دی

١۔ د عامو خلقو دینی حال دا دې چې د دهٔ د کافر کیدو فتوی ورته معلومه هم شی نو بیا به هم ډیر خلق د دنیا نفعې او فائدې ته ترجیح ورکوی، او دا کار به نه پریږدی، او د دهٔ د کافر کیدو د

فتوې په حقله د علم نه پس د دې سړی سره تعلق ساتل. خبرې اترې. ناسته پاسته کول وغیره به په هر حال کښې کفر وی. د دې وجې نه د تکفیر د فتوې ورکولو په صورت کښې ظاهراً دا مشکل پیدا کیږی چې د کفر نه د بچ کیدو چې کومه یوه لار وه هغه به هم بنده شی

۲ ـ که د دهٔ تکفیر ونه کړې شی نو دا خطره موجوده ده چې د داسې کاربه حوصله افزائی وشی

په دې دواړو خبرو چې غور او فکر وکړې شی نو مصلحت خو په دې کښې معلومیږی چې د مسئلې د ښودنې یا په لیکلو کښې دې د دې سړی تکفیر خو ونه کړې شی. دې د پاره چې ړومبۍ خبره (د عامو خلقو......الخ) واقع نه شی، البته د دې حرکت د مذمت او د وعید د پاره دې د سختو نه سخت الفاظ وښودلې شی لیکن دا به هم هلته صحیح وی چې په فقهی توګه د دې ځائ وی

د تاسو نه دا طمع لرو چې د خپلې ګرانې رائې څخه به مونږ زر تر زر خبر کړئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په سوال کښې چې د کفر د کلمې وئیلو کوم پنځه صورتونه لیکل شوی دی په هغې کښې د جاهلاً تکلم کولو دا تفسیر چې (دا ورته معلومه نوی چې د دې په وینا سره سړې کافر کیږی) صحیح ندې. د جهل نه مطلب دادې چې دهٔ ته د دې کلمې د کفر د کلمې کیدو علم نه وو. د کلمې د کفر علم او د دې کلمې د کفر د وینا نه پس د کافر کیدو علم دا دوه بیلې بیلې خبرې دی، په سوال کښې د فتاوی خیریه عبارت ته دې وکتلې شی (**من تکلم بها اختیاراً جاهلاً بانها کفر ففیه اختلاف**) دا فیصله کول چې د دې کلمې د کفر په وینا سره سړې کله کافر کیږی؟ دا د اهل افتاء (یعنی د مفتیانو) کار دې. په دې کښې یو لوئې تفصیل دې لکه چې سائل په خپله هم په دې کښې پنځه صورتونه لیکلې دی.

که چا ته علم نوی چې قادیانیت کفر دې نو دا به د جهل صورت وی. لیکن نن صبا څوك نه پوهیږی چې قادیانیان کافران دی، او قادیانیت د لوئې کفر دویم نوم دې؟ د دې وجې نه په پاسپورټ وغیره کښې خپل ځان قادیانې لیکل د جهل صورت ندې.

فقهاء کرامو حضراتو ﷭ فرمائیلې دی: اګر چې ایمان په اصل کښې د زړه تصدیق ته وائی لیکن بیا هم د احکامو د جاری کولو د پاره په ژبه اقرار کول کافی دی. دغه رنګې د ایمان د تصدیق د مطالبې په وخت کښې هم په ژبه اقرار شرط دې. په پاسپورټ کښې د مذهب خانه یوه مطالبه ده. نو په وخت د مطالبې کښې خپل ځان قادیانې لیکلو سره په ژبه اقرار کول (چې دا شرط دې د ایمان د پاره)، هغه ونهٔ موندل شو (**فتجری احکام الکفر لا الاسلام ولو کان صادقا فیما بینه وبین الله**) د دې نه علاوه د فقهاء کرامو ﷭ د کلام د لتون نه پس دا معلومیږی چې د کفر کلمه وئیل ځان ته خبره ده او د خپل ځان نسبت د یوې مشهورې کافرې فرقې طرف ته کول جدا خبره ده، د دی وجې نه فقهاء کرامو ﷭ (**انا یهودی**) او د (**انا نصرانی**). ویونکی ته بغیر د څه تفصیل او وضاحت نه کفر

ونیلی دی. لهذا د دې خبرې د علم [illegible]ل چې قادیانیت کفر دې بغیر د څه زور او زیاتی نه خان قادیانې لیکل بې د څه شک او شبهې نه د کفر باعث دې. داسې سړې مرتد او د اسلام نه خارج دې. که چیرې دې سړی وادهٔ کړې وی نو نکاح ئې هم ماته شوې ده. که چیرې دا سړې د دې کفر نه توبه ونه باسی نو په حکومت باندې د دهٔ نه سر پریکول فرض دی. دغه رنګه که وړاندې ئې کوم حج کړې وی نو د هغې بیرته راګرځول پرې هم فرض دی.

د لاندینو عبارتونو څخه د پورتنی حکم اثبات کیږی.

قال العلامة ابن قاضی سماونه رحمه الله: ای بکلمة الکفر مع علمه انها کفر فلو کان عن اعتقاد لاشك ان یکفر ولو لم یعتقد ولم یعلم انها کفر ولکن اتی بها عن اختیار کفر عند عامة العلماء ولا یعذر بجهل ولو بلا قصد

وقال ایضا: ومن اضمر الکفر وهم به کفر ومن کفر بلسانه طائعا وقلبه مطمئن بالایمان کفر ولا ینفعه ما فی قلبه اذ الکافر انما یعرف بمنطقه فلو نطق یکفر کفر عندنا وعند الله تعالیٰ (جامع الفصولین: ج۲ص۳۰۰)

وقال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وبقوله لمسلم: یا کافر عند البعض ولو احد الزوجین للآخر والمختار للفتوی ان یکفر ان اعتقده کافرا الا ان اراد شتمه وبقوله لبیك جوابا لمن قال: یا کافر یا یهودی یا مجوسی وبقوله: یا ملحد لان الملحد کافر ولو قال: ما علمته لا یعذر. (البحر الرائق ج۵ص۱۳۳) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۳ شعبان ۱٤۱٤ هجری

په حرامو باندې بسم الله وئیل کفر دې

سوال: د حرامو خوړلو نه وړاندې یا د یو حرام کار کولو په وخت کښې د بسم الله وئیلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب:

د قطعی حرامو خوړلو نه وړاندې یا د یو حرام کار په وخت کښې بسم الله وئیل د سپکاوی د پاره کفر دې. که چیرې چا داسې کار وکړو نو په هغه باندې توبه، دنکاح او د ایمان تازه کول فرض دی. د بانک. بیمې او په نورو سودی لارو سره ترلاسه کوونکې ګټه قطعی حرامه ده. د دې وجې نه د دې د استعمال په وخت کښې بسم الله وئیل کفر دې.

قال العلامة الکردری رحمه الله: شرب الخمر وقال بسم الله او قال ذلك عند الزنا او عند اکل الحرام المقطوع بحرمته او عند اخذ کعبتین للنرد کفر لانه استخف باسم الله ومن هذا قال مشائخ خوارزم: الکیال او الوزان فی العد یقول فی مقام ان یقول واحد: بسم الله ویضعه مکان قوله واحد لا ان یرید به ابتداء العد لانه لو اراد ابتداء

العدلقال: بسم الله واحد لكنه لا يقول كذلك بل يقتصر على بسم الله يكفر وان قال عند الفراغ: الحمدلله لا يكفر عند بعض المشائخ لان حمده وقع على الاخلاص من الحرام وقيل: يكفر لانه وقع على اتخاذ الحرام فان نوى يعامل على نهجه وان لم ينو شيئا لا يكفر لما ذكرنا من تعين الاحتمال الذى لا يلزم به الكفر. (البزازية بهامش الهندية ج،ص۳۳)

وقال الشيخ طاهر بن عبدالرشيد البخارى رحمه الله تعالى: رجل يشرب الخمر وقال: بسم الله او قال عند الزنا يكفر وكذا لو اكل الحرام ولو قال بعد اكل الحرام: الحمدلله اختلفوا فيه. (خلاصة الفتاوى: ج،ص۳۸۰)

وقال العلامة عالم بن العلاء رحمه الله تعالى: ومن اكل طعاما حراما وقال عند الاكل: بسم الله فقد حكى الامام المعروف بالمستملى عن مشائخه انه يكفر لاستخفافه اسم الله تعالى ولو قال عند الفراغ عن الاكل: الحمدلله فقد قال بعض المشائخ: انه لا يكفر لانه شكر لله تعالى. بر آنکه رسوا نکردش و لقمه بحلق وی اندر نماند و اتفاق است که اگر قدح میگیرد و بسم الله بگوید و بخورد کافر گردد. وهمچنین بوقت مباشرت زنا یا بوقت قمار کعبتین بگیرد وبگوید بسم الله کافر گردد، بسبب استخفاف بنام خدای غزوجل.

وفى الصيرفية: سئل ايضا عن غصب طعاما فقال عند اكله: بسم الله لا يكفر ولو ذكر عند شرب الخمر اقال: ان كان على وجه الاستخفاف يكفر وكذا عند الزنا وقال القاضى بدر الدين رحمه الله تعالى: اذا قال: بسم الله عند الزنا لا يكفر لانه يحتمل ان يتبرك باسم الله ليمتنع. (تاتارخانية: ج،ص۳۰۰)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وتحرم (اى التسمية) عند استعمال محرم بل فى البزازية وغيرها: يكفر من بسمل عند مباشرة كل حرام قطعى الحرمة. (ردالمحتار: ج۱،ص۶)

وقال فى الهندية: من اكل طعاما حراما وقال عند الاكل: بسم الله حكى الامام المعروف بالمستملى انه يكفر ولو قال عند الفراغ: الحمدلله قال بعض المتاخرين: لا يكفر. واتفاق است اگر قدح بگیرد وبسم الله گوید و بخورد کافر گردد. وهمچنین بوقت مباشرت زنا یا بوقت قمار کعبتین بگیرد و بگوید بسم الله کافر شود. كذا فى الفصول العمادية. (عالمگیریة: ج ۲، ص ۲۷۳)

وقال العلامة جعفر بن عبدالكريم رحمه الله تعالى: وفى الخلاصة: رجل شرب الخمر وقال: بسم الله او قال عند الزنا بسم الله يكفر وكذا لو اكل الحرام او قال بعد اكل الحرام: الحمدلله اختلف المشائخ فى الظهيرية: لو اكل طعاما حراما فقال: بسم الله يكفر ولو قال عند الفراغ: الحمدلله لا يكفر عند بعض العلماء ولو قال: بسم الله عند

شرب الخمر او عند الزنا يكفر بالاتفاق في الصيرفية:غصب طعاما فقال عند اكله:بسم الله لا يكفر في التتارخانية ولو تصدق على فقير شيئا من مال الحرام و يرجو الثواب يكفر ولو علم الفقير بذلك فدعا له و امن المعطي كفر وفي الخلاصة:هكذا في الفصول:بوقت قمار باختن بسم الله بگويد كافر گردد في الفتاوى التيمية:الاصل ان لا يكفر احد بلفظ محتمل لان الكفر نهاية في الجناية و مع الاحتمال لا نهاية،قوله:بسم الله يحتمل الوجوه:الاول ان يعزم به التبرك والتيامن في الابتداء كقول المسافر عند الحلول والارتحال:بسم الله اي بسم الله احل،بسم الله ارتحل الثاني ان يقصد به القال غيره على التبرك كقول صاحب الطعام لغيره:بسم الله اي كل الطعام قائلا بسم الله الثالث ان يعني به قولا يطلب الفعل عن غيره كقوله لمن دخل الدار:بسم الله يعني ادخل الدار والرابع ان لا ينوي وجها من الوجوه المذكورة الخامس ان يذكر في موضع لا بد من ان لا يحمل الا على الاستخفاف كقول العازم على المحرم:بسم الله.(المعانة:۳۰۰)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۹ جمادى الثانية ۱٤۱٥هجرى

د تقدیر په حقله د یو سوال جواب

سوال: په دې خبره باندې هر سړی یقین لري چې د انسان هر کار د وړاندې نه په تقدیر کښې لیکلې شوې دې. که ښه کار وی او که بد. پس هر کله چې بد کار هم د الله تعالی د اړخه په تقدیر کښې لیکلې شوې دې او تقدیر نه څوک مخ نه شی اړولې نو بیا په گناه کولو سره سړې د سزا مستحق ولې گرځی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: څه رنگه چې په تقدیر کښې دا لیکلې شوې دی چې دا سړې به دا فلانکې ښه یا بد کار کوی نو دغه رنگې په تقدیر کښې دا هم لیکلې شوی دی چې دا سړې به دا کار په خپل اختیار سره کوی. الله تعالی علیم او باخبره ذات دې د دې وجې نه هغه د خپل علمی صفت په وجه دا اوپیژندل چې دې به دا فلانکې کار کوی او په خپل اختیار سره به ئې کوی. څنگه چې د الله تعالی په عالم الغیب کیدو باندې څه اعتراض نه شی کیدې نو دغه رنگې په تقدیر باندې هم څه اعتراض نه شی کیدې. که چیرې ته په سفر باندې تلل غواړې او د کور خاوند ته د وړاندې نه ستا په تلو علم راغلې نو د دې نه ستا په دې کار (یعنی په تگ) باندې مجبوره کیدل نه لازمیږی. که یو امتحان اخستونکی د یو طالب علم په حقله د خپلو معلوماتو او د تجربې په وجه دا اوونیل چې د ... به امتحان کښې ناکامه کیږی نو د دې نه د دې طالب علم مجبوره کیدل نه لازمیږی یعنی چې دی دی، په ورقه کښې بالکل هیڅ نه لیکی

که په دې وړوکی شان سیک (خط) باندې دا خبره ستا په عقل کښې راغله خو صحیح ده او که نه

نو په دې باندې د سر غور او فکر مه کوه. عقل لره د دين تابع کړه. دين لره د عقل د تابع کولو کوشش مه کوه. د انسان هغه عقل لا څه شي دې؟ بيا خو پراخي د تقدير مسئله نه ده. له اودس نه راخله تر معاملاتو پورې بې شميره د شريعت مسئلې داسې دی چې هغه په ظاهر دعقل نه خلاف دي. بيا د مرګ نه پس د قبر. حشر. جنت. دوزخ په احوالو باندې په غيب ايمان راوړل ضروري دي. حال دا چې ډيرې خبرې په دې محدوده عقل کښې نه شي راتلې. په داسې قسمه حکمونو کښې چې په کومو کښې شريعت د لړو اوکمزورو ماغزو (عقل) زغلول منع کړی دی د عقل تابعداری کول ټول په ټوله تباهي او هلاکيدل دی. والله سبحانه وتعالی اعلم (۵ محرم الحرام ۱۴۱۶ هجری)

دکافر د جنازې د لمونځ کوونکی حکم

سوال علماء کرام په دې مسئله کښې څه فرمائی چې يو سړې د يو قادياني يا د يو بل کافر د جنازې مونځ وکړی په شريعت کښې د داسې سړی د پاره څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې سړې فاسق دې، په دې باندې د توبې اعلان کول فرض دی. ايمان او نکاح دواړه دې تازه کړی، تر څو پورې چې د توبې اعلان ونه کړی نو د دهٔ سره د هيڅ قسمه تعلق ساتل روا ندی.

قال المفسر العلامة السيد محمود الالوسي رحمه الله تحت قوله تعالى (ولا تقم على قبره انهم كفروا بالله ورسوله):

(انهم كفروا بالله ورسوله) جملة مستأنفة سيقت لتعليل النهي على معنى ان الصلاة على الميت والاحتفال به انما يكون لحرمته وهم بمعزل عن ذلك لانهم استمروا على الكفر بالله تعالى ورسوله ﷺ مدة حياتهم. (روح المعاني ج۰ص۰). وقال المفسر العلامة محمد بن احمد القرطبي رحمه الله تحت قوله تعالى: (ولا تصل على احد منهم مات ابدا) الاية. قال علماؤنا: هذا نص في الامتناع من الصلاة على الكفار. (تفسير القرطبي: ج۸ص۰)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله: والحق حرمة الدعاء بالمغفرة للكافر لا لكل المؤمن كل ذنوبهم. (بحر)

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله والحق) رد على الامام القرافي ومن تبعه حيث قال: ان الدعاء بالمغفرة للكافر كفر لطلبه تكذيب الله تعالى فيما اخبربه وان الدعاء لجميع المؤمنين بمغفرة جميع ذنوبهم حرام. لان فيه تكذيبا للاحاديث الصحيحة المصرحة بانه لا بد من تعذيب طائفة من المؤمنين بالنار بذنوبهم وخروجهم منها بشفاعة اوبغيرها وليس بكفر للفرق بين تكذيب خبر الاحاد والقطعي و والقه على الاول صاحب الحلية المحقق ابن امير حاج وتابعه في البحر و حقق ذلك بانه مبنى على مسالة شهيرة وهى انه هل يجوز الخلف في الوعيد فظاهر ما في المواقف والمقاصد ان الاشاعرة قائلون بجوازه لانه لا يعد نقصا بل جودا وكرما وصرح

التفتازاني وغيره بان المحققين على عدم جوازه وصرح النسفي بانه الصحيح لاستحالته عليه تعالى لقوله (وقد قدمت اليكم بالوعيد○ ما يبدل القول لدي) وقوله تعالى: (ولن يخلف الله وعده) اي وعيده وانما يمدح به العباد خاصة فهذا الدعاء يجوز على الاول لا الثاني والاشبه ترجح جواز الخلف في الوعيد في حق المسلمين خاصة دون الكفار، توفيقا بين ادلة المانعين المتقدمة و ادلة المثبتين التي من انصها قوله تعالى: (ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذلك) وقوله عن ابراهيم: (ربنا اغفرلي ولوالدي وللمؤمنين يوم يقوم الحساب) وامر به نبينا ﷺ بقوله تعالى (واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات) وفعله عليه الصلاة والسلام كما في صحيح ابن حبان انه ﷺ قال اللهم اغفرلي لعائشة ما تقدم من ذنبها وما تأخر ما اسرت وما اعلنت ثم قال: انها لدعائي لامتي في كل صلاة وحاصل هذا القول جواز التخصيص لما دل عليه اللفظ بوضعه اللغوي من العموم في نصوص الوعيد ولا ينافي النصوص الصحيحة المصرحة بأن من المؤمنين من يدخل النار ويعاقب فيها على ذنوبه لان الغرض جواز مغفرة جميع الذنوب لجميع المؤمنين لا الجزم بوقوعها للجميع وجواز الدعاء بها مبني على جواز وقوعها لا على الجزم بوقوعها للجميع هذا خلاصة ما اطال به في الحلية وحاصله ان ما دل من النصوص على عدم جواز خلف الوعيد مخصوص بغير المؤمنين اما في حق المؤمنين فهو جائز عقلا فيجوز الدعاء بشمول المغفرة لهم وان كان غير واقع للنصوص الصحيحة المصرحة بانه لا بد من تعذيب طائفة منهم وجواز الدعاء يبتني على الجواز عقلا لكن يرد عليه ان ما ثبت بالنصوص الصريحة لا يجوز عدمه شرعاً وقد نقل اللقاني عن الابي والنووي انعقاد الاجماع على انه لا بد من نفوذ الوعيد في طائفة من العصاة واذا كان كذلك يكون الدعاء مثل قولنا اللهم لا توجب علينا الصوم والصلاة وايضا يلزم منه جواز الدعاء بالمغفرة لمن مات كافراً ايضا الا ان يقال: انما جاز الدعاء للمؤمنين بذلك اظهارا لفرط الشفقة على اخوانه بخلاف الكافرين وبخلاف لا توجب علينا الصوم لقبح الدعاء لاعداء الله تعالى ورسوله ﷺ واظهار التضجر من الطاعة فيكون عاصيا بذلك لا كافرا على ما اختاره في البحر وقال: انه الحق وتبعه الشارح لكنه مبني على جواز العفو عن الشرك عقلا وعليه يبتني القول بجواز الخلف في الوعيد وقد علمت ان الصحيح خلافه فالدعاء به كفر لعدم جوازه عقلا ولا شرعا ولتكذيبه النصوص القطعية بخلاف الدعاء للمؤمنين كما علمت فالحق ما في الحلية على الوجه الذي نقلناه عنها لا على ما نقله ح فافهم. (ردالمختار: ج ۱، ص ۳۵۱)

د ابن عابدين ﷫ د دې تحقيق نه د كافر د جنازې د مونځ كوونكى كافريدل نه ثابتيږي. له دې كبله چې د جنازې په مونځ كښې د مومنانو د پاره د بښنې د دعا كلمات دى. د دغه مرى د پاره خه

کلمه نشته.که چیرې مړې مومن نوی نو دجنازې په مونځ کښې د هغه د پاره بالکل څه دعآ ونهٔ شوه، اګرچې د دهٔ نیت وی .ګویا چې دې کافر د مومن په صف کښې داخلوی او د دې په ضمن کښې هغه د پاره د مغفرت دعا کوی

د دې تفصیل نه پس د کفر وجه دامعلومیږی،چې قطعی کافر لره مسلمان ګڼل په اتفاق سره کفر دې.او د دهٔ د دې کار نه دا په علم کښې راځی چې دې کافر لره مسلمان ګڼی،بلکه د دې د پاسه دا چې دې د یو کافر په جنازه کښې د شریکیدو په ذریعه د خپلې کفری عقیدې په ښکاره اعلان کوی. البته چې تر څو پورې په ژبه د کفر اظهار ونهٔ کړی نو تر هغه وخته پورې صرف د دهٔ د عمل نه د دهٔ د عقیدې ثابتیدل تردې حده پورې نه کیږی چې دهٔ ته دې کافر وه وئیلې شی.البته دا دې وکړې شی چې د پاره د رټنې او د خبردارۍ.او د دې کار د کفر د سبب د قوت لرلو په خیال دې دا سړې د نکاح او د ایمان په تازه کولو باندې مجبوره کړې شی.والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۷ ربیع الاول ۱٤۱٦ هجری

د (مسلمان نه یم) وئیلو حکم

سوال چې یو سړې بل سړی ته داسې اووائی چې ته مسلمان نهٔ یې.او هغه ورته په جواب کښې دا اووائی چې (زهٔ مسلمان نهٔ یم) نو آیا دا سړې د اسلام نه خارج شو او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د پوښتنه کوونکی مقصد دا دې چې ستا عمل د مسلمانانو غوندې ندې. نو په جواب کښې به د همدې معنې خیال ساتل وی.د دې وجې نه به د داسې خبرې ویونکې د اسلام نه خارج نه ګڼل کیږی

قال قاضیخان رحمه الله:رجل ضرب امراته فقالت المراة:لست بمسلم فقال الرجل:هب فانی لست بمسلم.قال الشیخ الامام ابوبکر محمد بن الفضل رحمه الله:لا یصیر کافرا بذلك فقد حکی عن بعض اصحابنا ان رجلا لو قیل له:الست بمسلم فقال:لا.لا یکون ذلك کفرا لان قول الناس لیس بمسلم معناه ان افعاله لیست من افعال المسلمین.

وقال الشیخ الامام الزاهد رحمه الله:اذا لم یکن ذلك کفرا عند بعض الناس فقوله:هب انی لست بمسلم ابعد من ذلك. (الخانیة بهامش عالمگیریة:ج۳،ص۵۷۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷ جمادی الاولی ۱٤۱۸ هجری

ایمان او اسلام ته کنزلې کول کفر دې

سوال زمونږ د کلی علاقو کښې دا یو عام مرض دې چې د غصې په وخت کښې بل مسلمان ورور ته د مذهب او د ایمان او ورسره د پیر او مرشد کنځل هم کولې شی. هسې په توقو کښې هم

دا کنځلې کولې شي. بلکه دا کنځلې د تکيه کلام په شان استعمالولې شي. نو مذهب او ايمان ته کنځلې کول څنګه دي او د داسې سړي څه حکم دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ايمان او اسلام ته کنځل کول کفردې د داسې کفري خبرو نه ځان ساتل واجب دي. په داسې سړې باندې توبه کول فرض دي. د توبې او د ايمان د تازه کولو نه پس دې نکاح هم تازه کړي

قال في الهندية:رجل قال للاخر:(مسلمانم) فقال له:(لعنت برتو و بر مسلماني تو) يكفر.كذا في الخلاصة. (عالمگيرية:ج،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم غره جمادى الثانية ١٤١٨

څناور ته د ايمان کنځل کول

سوال زمونږ په علاقه کښې جاهل خلق څناورو ته د مذهب او ايمان او د پير او مرشد کنځلې کوی او وائی چې د څناور څه مذهب او ايمان او پير او مرشد نوی. د دې وجې نه څناور ته په کنځلو کولو کښې څه خبره نشته. حال دا چې يو مولوی صاحب وائی چې د ټولو څناورو مذهب اسلام دې. او ورسره دا چې د هغوئ مرشد په خپله الله تعالى دې (اعطى كل شيء خلقه ثم هدى)(طه:٥٠) د دې وجې نه څناورو ته د مذهب او د ايمان او د پير او مرشد کنځلې کول ډيره ګناه ده. آيا دا خبره صحيح ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مولوی صاحب د آيت نه دليل نيول او دا وئيل چې د څناورو مذهب اسلام او د هغوئ پير او مرشد الله تعالى دې دا دليل نيول صحيح ندی. په ذکر کړې شوی آيت کښې د هدايت نه مطلب د معاش د لارو وغيره ښودنه ده.البته بيا هم د داسې بې ځايه کنځلو نه ځان ساتل لازم دی .والله سبحانه وتعالى اعلم غره جمادى الثانية ١٤١٨ هجرى

د بريليانو د فرقې حکم

سوال زمونږ په پاکستان او هندوستان کښې د بريليانو د فرقې خلق په ګڼ شمير کښې موجود دی. دوئ قبرونو ته سجدې کوی. د قبر د خاوندانو نه خپل حاجتونه غواړی،منښتې ،نذرونه، د هغوی په نوم کوی. د رسول الله ﷺ بشر کيدل نۀ منی. رسول الله ﷺ عالم الغيب او په هر ځائې کښې حاضر او ناظر ګڼی. د الله تعالى اولياء دنفعې او نقصان مالکان ګڼی.په داسې وخت کښې د دوی څه حکم دې؟آيا دوئ د اسلام نه خارج دی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په ذکرشوو خبروکښې ددې مذهب دمشر احمدرضا خان په کتابونو کښې داسې واضحه تعارض موندلې شي چې هغه د تاويل قابل تعارض ندې. دغه رنګې د دې

برمې د نورو مشرانو په کتابونو کښې هم دا خبره ده. د دې نه ثابتیږی چې د دوی مذهب د حسی د عبادت نه علاوه نور هیڅ ندی. په موقع چې څه مناسب گنی هغه وائی د دې خبرې دلیلونه دا دی

۱ پورتنی تفصیل یو دلیل دې یعنی چې د دوی د مشرانو په کتابونو کښې داسې واضحه تعارض موندلې شی چې هغه د تاویل قابل ندې

۲ د تاویلونو نه پس خو صرف لفظی جگړه پاتې کیږی، نو بیا اختلاف د څه خبرې پاتې شو. البته دوی دومره سخت اختلاف کوی چې د دیوبند علماو ته کافران وائی

۳ دوی ته خو خو ځلې داوه وئیلې شو چې راشئ یو ځائ به کښینو او په شریکه به په غور او فکر سره د څه غلطو گمانونو اصلاح وکړو او د اختلاف د ختمولو کوشش به وکړو .لیکن دوی کله هم دې خبرې ته تیار نه شول

په دې حالاتو کښې د دوی حکم

۱ - د پورتنی تفصیل نه پس دا خبره په علم کښې راغله چې د دوئ مذهب مشتبه دې نو په دې بنیاد د دوی اقتداء کول ناروا ده او دوئ پسې چې کوم مونځونه کړې شوی وی د هغې بیرته راگرځول واجب دی (لان الاحتیاط فی العبادات واجب).

او په خاص توگه د مونځ غوندې اهم عبادت په معامله کښې خو ډیر احتیاط کول لازم دی

۲ په پوره فرقه بلکه په هیڅ یو متعین کړې شوی سړی باندې د کفر فتوی لگول صحیح ندی. بلکه داسې دې وه وئیلې شی چې فلانکئ عقیده کفری عقیده ده

۳ د فلانکی سړی دا عقیده ده او دا کفر دې. داسې هم نه دی وئیل پکار. بلکه بغیر د متعین کولو نه دومره دې وه وئیلې شی چې داسې عقیده ساتل کفر دې- والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

۱۷ ربیع الاول ۱۴۲۰ هجری

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿فَإِنْ ءَامَنُوا۟ بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟﴾ (البقرة)

الله الله فی اصحابی لا تتخذوهم غرضا من بعدی فمن احبهم فبحبی احبهم ومن ابغضهم فببغضی ابغضهم

((الحدیث)) (مشکوة)

((ضمیمه))

د شیعه گانو حقیقت

- په قرآن کریم کښې تحریف کول
- صحابه کرامو ﷺ ته کافران وئیل
- په عائشه صدیقه ﷺ باندې تهمت لگول



د ((شیعه گانو حقیقت)) د رسالې ضمیمه

سوال د شیعه گانو خبیث والې خو ښکاره دې خو په هغوئ باندې د کفر فتوی په کومو وجوهو باندې لگولې شی؟ د دې خبرې لړ په تفصیل سره وضاحت وکړئ . د هغوی د ذبحې او هغوی سره د نکاح کولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . د شیعه گانو د کافر کیدو بې شمیره وجوهات دی. په هغې کښې چې کومې ډیرې زیاتې پیژندلې شی.او په خواصو او عوامو کښې ډیرې زیاتې مشهورې دی او تقریبا چې هغه په ټولو کتابونو کښې موجودې دی هغه د قلم لاندې راوستلې شی

۱ . دقرآن د تحریف عقیده

۲ . د الله تعالی په حقله د ((بدا)) عقیده

۳ . د حضراتو انبیاء کرامو ﷺ په حقله د ((تقیه)) غوندې د نفاق نسبت کول

۴ حضرت ابوبکر ﷺ ته د کفر او نفاق نسبت کول

۵ . د حضرت ابوبکر ﷺ د صحابی کیدو نه انکار کول
۶ . د حضرت ابوبکر ﷺ د خلافت نه انکار کول. د کوم انکار اعلان چې شیعه گان رزانه په لاوډ سپیکر کښې د خپل خان نه په جوړ شوی اعلان کښې کوی
۷ . حضرت عمر ﷺ ته د کفر او د نفاق نسبت کول
۸ . د حضرت عمر ﷺ د صحابی کیدو نه انکار کول
۹ . د حضرت عمر ﷺ د خلافت نه انکار کول.د کوم اعلان چې په اذان کښې په لاوډ سپیکر باندې کوی
۱۰ . حضرت عثمان ﷺ ته د کفر او نفاق نسبت کول.
۱۱ . د حضرت عثمان ﷺ د صحابی کیدو نه انکار کول
۱۲ . د حضرت عثمان ﷺ د خلافت نه انکار کول، روزانه په لاوډ سپیکر کښې په اذان کښې د دې اعلان کوی.
۱۳ . په نورو صحابه کرامو ﷺ کښې هم بغیر د دریو کسانو نه نورو ټولو صحابه کرامو ﷺ ته کافر او منافق وائی ،
۱۴ . د حضرت عائشې ﷺ پاکوالې د قرآن کریم د آیت نه ثابت دې، او دا لعنتیان او مردود د دې نه هم انکارکوی.اوپه هغې رضی الله تعالی عنها باندې «معاذالله» د زنا تهمت لگوی او الله تعالی لره دروغژن او قرآن کریم لره غلط گنی.
۱۵ . خپل امامان معصومان (د گناه نه پاک) او عالم الغیب گنی.
۱۶ . امامان د انبیاء کرامو ﷺ نه غوره گنی.
۱۷ . دختم نبوت نه منکردی.خکه چې په خپلو امامانو کښې د نبوت د جاری کیدو عقیده لری
۱۸ . نکاح متعه غوندې حرام کاری .او انتهائی بې غیرتئ او دیوثی لره حلال گنی.بلکه د دېر لوئې ثواب کار.جهنم نه د خلاصئ.او په جنت کښې د اوچتو درجو حاصلولو ذریعه او سبب بی هم گنی
۱۹ . د تحلیل غوندې حرام کاری او انتهائی بې غیرتئ او دغه قسم دیوثئ لره حلال گنی
د ذکر شوو وجوهو په بنیاد دا مردود د نورو کافرانو یهودیانو. عیسایانو .هندوانو .سکهانو. بهنگیانو.او د چمار مذهب د خلقو نه هم زیات خراب دی او اکفر الکفار دی
د شیعه گانو ذبیحه مرداره ده او حرامه ده.او شیعه سړی یا ښځې سره د چا مسلمان نکاح نشی کیدې . دوی د اهل کتابو په حکم کښې گڼل بالکل غلط دی.خکه چې دوی په ښکاره د اسلام دعوی کوی او په داخل کښې د اسلام په عقیدو کښې تحریف او الحاد کوی او د دې په ذریعه مسلمانانو لره د اسلام نه د اړولو په کوششونو او کارونو کښې اخته دی داسې کافرانو ته زنادقه

د زنديقانو احکام

۱ - په حکومت باندې دا فرض دی چې د دوئ د عقیدو په باره کښې تحقیق وکړی او د دوی د قتل کولو حکم دې وکړی

۲ - د گرفتارولو نه پس د دوی توبه هم قبوله نده، د گرفتاریدو نه وړاندې که توبه اوباسې نو دا به قبوله وی

۳ - د دوئ ذبیحه حرامه ده.

۴ - دوی سره نکاح کول حرام دی.

دغه مردود قوم نه صرف دا چې د اسلام په عقیدو کښې رد اوبدل وکړو بلکه د اسلام ارکانو مونځ، روژه، حج، زکوة، نکاح او طلاق وغیره ئې هم په مکمله توگه مسخ کړې دی او د اسلام په مقابل کښې ئې خان له مستقل مذهب پیدا کړې دې، د دې وجې نه دوئ لره د مسلمانانو یوه فرقه گنل غلط دی . دا مردود د عقیدو نه علاوه په مونځ، روژه، وغیره ټولو حکمونو کښې د مسلمانانو نه جدا اوخان له یو مستقل مذهب لری.

دا حقیقت دې ښه په ذهن کښې کینولې شي چې د دې فرقې شروع د مسلمانانو سره د څه مذهبی اختلاف په بنیاد نده شوې، بلکه د اسلام خلاف د یهودیانو سازشونو دا فرقه پیدا کړې ده بعضې مسلمانان د دې زندیقانو په حقله په دوو غلط فهمیانو کښې واقع شوی دی:

۱ - په دوی کښې ځینې خلق او ځینې فرقې داسې دی چې هغوی په قرآن کښې د بدلون او امامانو لره په نبیانو ﷺ باندې د فضیلت قائله ندی.

۲-ددوی عواموته په قرآن کښې دتحریف کولو اوداامامانو دفضیلت غوندې دعقیدې علم نشته کوم حضرات چې په دې دوو غلط فهمیانو کښې مبتلا دی هغوی د شیعه گانو د کتابونو لوستنه نده کړې او نه ئې د دوی دعوامو اندازه لگولې ده.

حقیقت د خبرې دا دې چې په دوی کښې نر او ښځه، وړوکې او لوئې، بوډا او ماشوم داسې یو شخص هم نشته چې هغه د قرآن کریم د تحریف عقیده نه لری، هر خاص او عام او د جاهل نه جاهل په زړه کښې هم دا عقیده سمه ننوتې ده. په دوی کښې عقیده د قرآن د تحریف داسې په تواتر. مسلماتو. بدیهیاتو او د دین په ضرورتونو کښې داسې شمارلې شی لکه څنگه چې مسلمانان دقرآن صداقت او مونځ او روژه گنی

که چیرې دا فرض کړې شوې خبره ومنلې هم شی چې د دوی عوامو ته د داسې عقیدو علم نشته. نو بیا هم د کفر او د زندیقیت د حکم نه یو شیعه هم نشی وتلې. ځکه چې په یو مذهب کښ

د نورنلو د حکم لګولو د پاره د هغه مذهب د عقیدو د تفصیل پیژندلو ضرورت نشته. بلکه هغه مذهب ته صرف نسبت هم پوره کیږی. لکه چا ته د مسلمان نسبت کولو د پاره دا ضروری ندی چې هغه دې د اسلام ټولې عقیدې وپیژنی. بلکه صرف دومره هم کافی دې چې هغه خپل ځان اسلام طرف ته منسوب کوی. یعنی د مجمل ایمان په حاصلیدو باندې به دا سړې په اسلام کښې داخل شی. خو په دې شرط چې د اسلام خلاف څه عقیده نلری. نو د دې وجې نه چې کوم شخص ځان شیعه مذهب طرف ته منسوب کوی، هغه هم شیعه دې. د دې وجې نه به هغه هم کافر او زندیق وی او اګر که هغه د خپل مذهب د تفصیل نه بې خبره وی.

دا خو مې هسې په طور د فرض او محال ولیکل اوکه نه نو حقیقت هم هغه دې چې په دې مردودو ذکر کړې شوې عقیدو د دوی د هر ماشوم ګوټی (یعنی په رومبی چوسنی) کښې پرتې دی لکه څه رنګه چې مسلمانان خپلو ماشومانو ته په ښو او بدو باندې پوهیدو سره د الله او د رسول او د قرآن غوندې د لویو لویو خبرو تعلیم ورکوی، دغه رنګې دا مردود چې دی. د دوی چې کوم یو ماشوم هم څه په ښه بده باندې پوهه شی دوی ورته د قرآن د تحریف په شان نورې لویې لویې عقیدې د دماغو په تل کښې ور واچوی او له هغه نه پوره شیعه کافر او زندیق جوړ کړی

دا انتهائی مکار، چل باز، تخریب کوونکی، د اسلام او مسلمانانو خلاف په ډیرو خطرناکو سازشونو کښې هر وخت اخته وی، دهوکه ورکولو او په مکر او فریب کښې په هره زمانه کښې مشهور او په اول نمبر باندې ماهر. د یهودو د نسل قوم د کومو د مذهب بنیاد چې په مکر او فریب او د اسلام او اهل اسلام خلاف په بغض او دښمنئ او تخریب کولو باندې بناء دې. نو داسې چل بازه. او د نسل زر بدلیدونکی خلق د خپلو ماشومانو په ذهنی تربیت کښې او د هغوی په دماغو کښې د خپل مذهب د بنیاد اینبودو کوشش او محنت کولو کښې د مسلمانانو نه کم ګڼل صرف ساده توب نه بلکه د انتها درجې کم عقلی او د هوکه خوړل دی

د دې مردودو د دین اصل او بنیاد په تقیه باندې دې. د دې وجې نه که یو شیعه په قرآن باندې د ایمان لرلو دعوی کوی نو دا یقینی خبره ده چې هغه تقیه کوی. د دې څو نمونې په خپله د هغوی په کتابونو کښې موندلې شی

هر کله چې دوی ته د دوی کتابونه وړاندې کړې شی نو دوی بیا داسې جواب ورکوی

په مونږ کښې هر یو سړې مجتهد دې. د دې وجې نه چې زمونږ کوم یو لیکوال هم د قرآن د تحریف قول کړې دې هغه د هغه خپل اجتهاد دې او دا په مونږ باندې دلیل او حجت ندې.

په داسې حال کښې د دوی د تقیې د راز معلومولو د پاره دوه طریقې دی

۱ - عقیده د تحریف د قرآن په اصول کافی کښې هم شته او د دې کتاب په حقله د دوی د عقیده ده چې امام مهدي د دې تصدیق کړې دې. دا خلق د امام مهدی تصدیق د دې کتاب د ونیز

...نی په سر باندې چاپ کوی.او د دوی د عقیدې مطابق د دوی هر امام د گناه نه پاک او عالم الغیب دې.او د حضراتو انبیاء کرامو ﷺ نه هم افضل دې. د دې وجې نه د همدې د اصول کافی نه ...کار کول د خپل امام د پاکئ او د هغه د علم غیب نه انکار کول دی

۲ - د دوی کومو لیکوالانو چې دقرآن د تحریف قول کړې دې دوی دې هغه ټولو ته کافر اووائی ... داسې ټول کتابونه دې وسوزوی.او بیا دې د دې خپل قول په ورخ پاڼو کښې خپروې وکړی ...زه دا خبره په دعوې سره کوم چې په دنیا کښې به یو شیعه هم په دې باندې راضی نه شی.د چا هم چې خوښه وې نو دا طریقه دې وازمائی

ما په څو څو ښارونو کښې او په خاص توگه د دوی په کوڅو کښې او د دوی د امام بارو مخې ته په لویو لویو جلسو کښې څو څو وارې دا اعلان کړې دې : چې کوم شیعه.اصول کافی.په ډکه مجمع کښې څیرې کړی او بیا ئې وسوزوی او د دې مصنف ته کافر اووائی او بیا د دې خپل قول او فعل په ورخ پاڼو کښې خبر هم وکړی زهٔ به هغه له یو لاکهه روپئ انعام ورکوم.د یو لاکهه روپو د ...اره ما ته د چندې کولو حاجت نشته زه به ئې د خپل جیبه ورکوم، زما خدائ ما له ډیر څه راکړی دی. څومره شیعه گان چې اعلان کوی هر یو له به زهٔ یو یو لاک روپئ ورکوم.

لیکن تر اوسه پورې یو شیعه هم داسې پیدا نه شو او نه به تر قیامته پیدا شی

نو آیا د دې نه به پس هم چا ته په دې حقیقت کښې د څه سوچ کولو ځائې ښکاری چې بغیر استثناء کولو نه د شیعه مذهب هر هر فرد کافر دې

آیا څوک مسلمان به دیوث جوړیدل وزغملې شی؟

ځینی ساده مسلمانان وائی چې : «زمونږ گواندی (همسایه) شیعه دې هغه سره زمونږ ډیر زور ترون دې. فلانکې شیعه زمونږ د سبق ملگرې دې، فلانکې شیعه مونږ سره په کاروبار کښې شریک دې. د دې وجې نه زمونږ د هغه سره ملگرتیا ده.د هغه سره تعلق پریښودل ډیر گران دی.دا ډیر د خاطر خلاف دی (یعنی بې خاطری ده).

داسې خلق دې دا اووائی چې که چیرې ستامور،خور.لور یا ښځې ته فحش کوونکې.زناکاره او بدکاره اووائی نو آیا ته به د هغه سره د څه خاطر د وجې نه تعلق وساتې؟

شیعه مردود ام المؤمنین دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها په شان کښې دغه بې ځایه خبرې کوی.او حال دا چې د دوی رضی الله عنها د پاکئ اعلان الله تعالی په قرآن کریم کښې کړی دې البته دا مردود د الله تعالی او د قرآن کریم هم تکذیب کوی

حضرت عائشه رضی الله عنها څوک وه؟

د ټول امت مور.په امهات المؤمنین کښې د ټولو نه افضله ده

۲ د رسول اللهﷺ ډیر نازولې کوروداني وه او په ټولو ببیانو کښې د ټولو نه افضله ده
۳ په ټول امت کښې د ټولو نه بهتره او رسول اللهﷺ ته تر ټولو نه نزدې او ړمبی خلیفه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه لور ده .

اوس په خپله سوچ وکړئ چې زمونږ مور، د دواړو جهانو د سردار بی بی، او په ټول امت کښې د افضل شخصیت لور په حقله داسې بې ځایه خبرې کوونکی، او الله تعالی او قرآن کریم ته د دروغو نسبت کوونکی، د ټولو امت مورته بدکاره وئیونکی، رسول اللهﷺ، ابوبکر رضی الله عنه او ټول امت ته دیوث ویونکی بدبختانو سره به څوک څنګه تعلق ساتل خوښ کړي .

تاسو اووایئ چې ګویا داسې شخص بې دینه کیدو سره سره ډیر زیات بې غیرته او دیوث ندې؟ د ایمان او د غیرت د دواړو جنازه ئې اووتله .

که چیرې تاسو هسې د چا شیعه سره د تعلق د پریښودو حوصله نه لرئ نو بیا د هغه مور، لور او ښځې ته بدکاره اووایئ بیا وګورئ چې هغه تاسو سره څنګه تعلق ساتی؟حال دا چې د هغوی په مذهب کښې متعه غوندې بدکاری کول ډیر د اجر او ثواب کار دې، د دې باوجود د بدکارئ تهمت خو پریږده چې ورته د متعه بازئ پیغور ورکړې نو هغه به ئې هم ونه زغمی .

د دې اسلام د دښمنانو د کفریاتو او د بدو کارونو تفصیل زما په کتاب (د شیعه ګانو حقیقت) کښې موجود دې، د دې نه علاوه د شیعه ګانو پهٔ تکفیر باندې (د علماء کرامو متفقه فیصله) په دري نیم سوه پانو کښې چاپ شوې ده. په کومې باندې چې د ټولې دنیا د علماء کرامو تصدیقات شته. میاشتنی الفرقان لکهنو او بینات کراچئ) والله تعالی هو الهادی الی سبیل الرشاد

رشید احمد
۱۷ ربیع الاول ۱٤۱۱ هجری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا﴾
(۴ : ۵۹)

د اوو (۷) مسئلو د فیصلې وضاحت

د حضرت حاجي امداد الله قدس سره د فیصلې وضاحت د هغوی د خلفاؤ ﷺ د قلم نه :



د اوو(۷) مسئلو د فیصلې وضاحت

سوال د حضرت حاجي امداد الله صاحب مهاجر مکی رحمه الله د رسالې(فیصله هفت مسئله)په حقله په عامه توګه دا خیال کولې شی چې د دې نه د بدعتیانو مرسته کیږی او په دې کښې ذکر شوو مسئلو کښې د حاجي صاحب رایې د دیوبند د مشرانو د مسلک نه مختلفې دی . لهذا دلاندینیو خبرو وضاحت مطلوب دې :

۱ - آیا د دې رسالې نسبت حضرت حاجی صاحب قدس سره ته کول صحیح دی؟

۲ - آیا د بدعتیانو د مرستې کولو دعوی صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د جواب نه وړاندې څو خبرې د مقدمې په توګه په دماغو کښې ساتل ضروری دی :

۱ - دا خبره عقلاً منلې شوې او تسلیم کړې شوې ده چې د یو کلام یا د یو لیک به هم هغه مطلب معتبر وی کوم چې متکلم یا لیکوال په خپله بیان کړی

۲ - که متکلم یا لیکوال د هغې څه وضاحت نه وی کړې نو بیا به د دې کلام یا لیک هغه مطلب اخستې شی کوم چې د هغه خواص یا نزدې خلق بیان کړی. ځکه چې د پردو خلقو په نسبت خپل او نزدې خلق د متکلم د مطلب نه ښه خبر وی

۳ - فقیه الملة حضرت رشید احمد ګنګوهی او حکیم الامت حضرت اشرف علی تهانوی قدس

سرهما د حضرت حاجی صاحب رحمه الله اخص الخواص او په نزدې خلفاؤ کښې دی
نو په همدې اساس په د دې رسالې «فیصله هفت مسئله» په آخره کښې د حضرت حاجی صاحب په وصیت کښې د حضرت گنگوهی صاحب په حقله دا الفاظ لیکلي شوی دی
«زمونږ د خوږ عزیز حضرت مولوی رشید احمد صاحب د برکت نه ډک وجود په هندوستان کښې لوئ غنیمت او نعمت وګنئ او د دوی نه فیوضات او برکات حاصل کړئ ځکه چې گنگوهی صاحب مجموعه د کمالاتو ظاهریه او باطنیه ده او د دوی تحقیقات صرف د الله د طرفه دی په دې کښې بالکل د خپلې خوښې کولو څه شبه نشته.
او د حضرت حاجی صاحب رحمه الله په زړه کښې د حضرت تهانوی صاحب رحمه الله څه قدر وو؟ د دې اندازه د حاجی صاحب د شهاداتو نه کیدې شی چې په اشرف السوانح جلد ۱ او باب ۱۳ کښې لیکلي شوې دی. دا باب چې د لویې پاڼې د کتاب په حساب تقریبا درې سوه پاڼې دی، ټول باب د شهاداتو مجموعه ده. د دې باب نه د مثال په توګه یو څو ځایونو نه عبارت راخستې شی:
۱- حاجی صاحب حضرت صاحب ته اوفرمائیل: بس ته پوره پوره او کاملاً زما په طریقه یې (صفحه: ۱۲۹)
۲- هر کله به چې ئې اتفاقا څه تقریر یا تحریر واوریدلو یا ولیدلو نو فرمائیل به یې: جزاکم الله! بس تا خو زما د زړه شرح وکړه. (صفحه: ۱۲۹)
۳- که د علم او د عرفان د تقریر په مینځ کښې به د مجلس د کسانو نه چا په بیان کړې شوی مضمون باندې څه سوال وکړو نو د حضرت صاحب (تهانوی صاحب) اړخ ته به ئې اشاره وکړه او او وبه ئې فرمائیل چې د دوی نه پوښتنه وکړئ، دوی به پوهه شو - (صفحه ۱۲۹)
۴- حضرت حاجی صاحب چې واوریدل نو ډیر زیات خوشحاله شو او ډیر په جوش سره ئې اوفرمائیل په دې کښې خو تا بالکل زما د سینې شرح وکړه. (صفحه: ۱۸۸)
۵- زمونږ معزز مولانا صاحب اسحاق علی تاسو ته دا هدایت کړې کیږي چې: مولانا صاحب (حضرت حکیم الامت) زما په شان وګڼه او چې څه درته اوفرمائی په هغې باندې عمل وکړه صفحه ۱۹۹)
۶- د ضیاءالقلوب او د ارشاد مرشد مطالعه وکړئ او د مولانا (تهانوی صاحب) په ذریعه خپل اشکالات ختم کړئ. او مولانا صاحب زما په ځائ وګڼئ او د هغوی نه ذکر او اذکار او وظیفې واخلئ او په دې کښې مشغوله اوسئ. (صفحه ۱۹۹)
د ذکر کړې شوو اصولو مطابق به د «فیصله هفت مسئله» هم هغه وضاحت معتبر وی، کوم وضاحت چې د دې لیکوال حضرت تهانوی صاحب رحمه الله کړې وی. او د حضرت حاجی صاحب رحمه الله د مطلب معین کول او د هغې شرح چې کومه گنگوهی صاحب رحمه الله او تهانوی صاحب رحمه الله فرمائیلې

ده هم هغه به قابل قبول وی
د دې دواړو حضراتو لیکونه د رسالې (فیصلهٔ هفت مسئله) سره په نوم د ضمیمې پیوسته کړې شوی دی او د دې د اصل رسالې سره د چاپ کولو هدایت هم کړې شوې دې. د دې وجې نه چې کوم خلق دغه رساله بغیرد دې ضمیمو نه چاپ کوی نو هغوی خیانت کوی دلته دا دواړه ضمیمې نقل کولې شی

ضمیمه له طرفه د گنگوهی صاحب څخه رحمه الله

په رساله (فیصلهٔ هفت مسئله) کښې د کذب امکان او د امکانِ نظیر داسې څه خبره خو نده لیکلې شوې چې هغه دې د چا خلاف وی بلکه د دې د امکان د اقرار او د دې د بحث نه ځان ساتلې شوې دې. نو په دې کښې د هیڅ یو اهل حق خلاف نشته.

او د جمعې د تکرار په مسئله کښې د فقهې د روایتونو د اختلاف له کبله دواړه ډلې د بحث او نزاع نه منع کړې شوې دی. ځکه چې په اختلافی مسئله کښې د مخالفت کولو نه منع کړې شوې ده

او د غیرالله نه د غوښتنې په مسئله کښې ئې بښه صفا صفا حق لیکلې دې

(که غیرالله ته آواز په دې توګه وکړې شی چې حاضر او عالم الغیب ئې وګڼی نو داسې سړې به مشرک وی . او څوک چې ورته بغیر د دې شوق (یعنی بغیر د حاضر او عالم الغیب ګڼلو) نه آواز کوی نو بیا ګنهګار ندې .

او څوک چې بغیر د شرک د عقیدې لرلو نه او بغیرد شوق نه دا ګڼی او وائی چې کیدې شی چې الله تعالی دوی ته خبر وکړی نو دا د نص د محل نه د خلاف کیدو په وجه ګناه او خطا ده. لیکن شرک ندې . او د کومې خبرې چې د نص نه ثبوت وی لکه چې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د ملائیکو درود او سلام رسول. نو دا خو په خپله ثابت دی.

دا ټول حق دی او په دې کښې هیڅ اهل مخالف حق څه نشی ویلې .

اوس پاتې شوې درې مسئلې رومبئ قیود دمجلس د مولود او بل قیود دمجلس د ایصال ثواب اوبل د بزرګانو کلیزه کول نو په دې کښې هغوی په خپله لیکی

(په اصل کښې دا جائز دی. او که دا سنت او ضروری وګڼلې شی نو دا بیا بدعت اود الله تعالی په حدودو باندې زیاتې کول شو. او که داسې و نه ګڼلې شی نو بیا جائز دی

او مونږ چې د دې نه خلق منع کوو نو د هغې وجه دا ده چې دوی د زمانې د خلقو د رسمونو نه خبر ندی ځکه چې دا خلق دا قیودات ضروری ګڼی. نو د دې وجې نه مونږ دې ته د خپل اصل په اعتبار سره جائز وایو. او بل طرف ته مونږ ته د خلقو د عادتونو نه دا خبره ثابته شوه چې دا خلق دا څیزونه ضروری او سنت ګڼی نو ځکه ورته مونږ بیا بدعت وایو

نو په حقیقت کښې اختلاف په اصل مسئله کښې نشته دی بلکه دا اختلاف د خلقو د نبوهــ

. وجي په واقع شوي دي. د دې مثال داسې دي چې لکه امام صاحب رحمه الله د صابی په حقله يو خه فرمائيلي دي او صاحبين رحمهماالله هم د دې صابی په حقله بل خه فرمائيلي دي.او د دوه حکمونه د صابی په حقله د حال د اختلاف له کبله راغلي دی خکه چې د امام صاحب رحمه الله په وخت کښې د هغوی حال د اهل کتابو په شان وو او د صاحبينو رحمهما الله په وخت کښې د هغوی حال په شان د مجوسو وو. نو د دې وجې نه اختلاف په اصل مسئله کښې نشته بلکه د زماني د خلقو د حال د بيل بيل کيدو په وجه په کښې اختلاف راغی

همدغه رنګه حال په نورو مسئلو کښې هم دی. اوکه نه نو د حضرت رحمه الله (حاجی صاحب) عقائد بالکل بدعت ندی .او په دې خبره د فهم او د عقل خاوندان د هغوی د رسالې نه په خپله پوهيږی

(تنبيهات وصيت ليکونکي حضرت حکيم الامة قدس سره د تسمي تنبيه اخری صفحه ۱۵)

ضميه د حکيم الامة قدس سره له خوا

حامدا ومصليا: پس د حمد او د درود نه اشرف علي تهانوي خادم د درباردحضرت شيخ المشايخ سيد السادات مولانا و مرشد الحافظ الحاج الشاه محمد امداد الله صاحب ضوعفت برکاتهم د خپلو پير بهيانو او د رسالې د (فيصلۀ هفت مسئله) د نورو کتونکو په خدمت کښې دا عرض کوی چې رساله (فيصلۀ هفت مسئله) د دې په وجه چې د نوموړی حضرت صاحب د بدنی کمزورۍ له کبله هغوی په خپله په خپل قلم سره ليکلې نشوه نو د نوموړی حضرت صاحب په حکم سره د دې بنده په عبارت سره په غرض د هغه بعضو مسئلو چې په هغې کښې محاکمه ده وليکلې شوه او تقريبا د څلورو کالو راسې چاپ کيږی . نو څنګه چې معلومه شوه چې بعضې حضرات په دې باندې پوهيدلو کښې غلط شوی دی او نوموړی حضرت صاحب ئې مطلق ددې خبرو او اعمالو جواز ورکونکې بللې دې حال دا چې دا خبره د دوی د واقع نه خلاف ده. د دې وجې نه صرف د خير خواهی په توګه د حضرت صاحب رحمه الله د غرض او د تحقيق اظهار دلته ضروری ګنم او عامو خلقو ته د دې خبر ورکوم. دې د پاره چې زه د حق د پټولو د ګناه نه او خلق د شک او د شبهې نه خلاصې ومومی

ښکاره خبره ده چې د دې کارونو په معاشره کښې په کومه طريقه او کيفيت سره رواج او خبريدنه ده نو د دې رواج او خوريدو له کبله اکثر عوام او په خاص توګه د هندوستان جهلان په قسما قسم مفسدو عقيدو او عملونو کښې اخته شی د کومې تجربه او مشاهده چې هر عقل لرونکې، پوهه او انصاف کوونکې سړې کولې شی

لکه په مولد کښې بعضې قيدونه ضروری ګڼل او د داغې قيدونو بربيدونو باندې د زړه سکون د ثواب رسولو په طريقو کښې د دې نه بغير چې قيدونه ضروری وګڼلې شی. که د ولس نو د روح

د پاره وی نو هغوی د خپلو حاجتونو پوره کوونکی گڼل. او د التزام د پریښودو په وجه کښې د هغوی نه د نقصان رارسیدو ویره کول او که د عامو رشته دارو د پاره وی نو د نوم کېدو قصد په کښې کول او د ملامتیا او پیغور نه ویره کول. او په سماع کښې د اهل لهو و لعب جمع کېدل او د امردانو او د ښځو سره گډون کېدل

او په کلیزو لمانځلو کښې رومبې خو دا چې د فاسقانو او فاجرانو جمع کېدل وی او که دا نه وی نو د رسم ترسره کولو ضرورت لازمی او ضروری گڼل او په لوستونکو کښې د زیاتو خلقو د خوراک او د خوږو او شیرینئ د پاره د مالداره رابلونکی سړی د وجې نه لوستل

غیر الله ته په آواز کولو د بعضې کم عقلو خلقو منادی (چاته چې آواز کېږی) لره خبیر او قدیر گڼل. د کار کېدلو نه پس هغوی د دې کار کوونکی او تصرف کوونکی گڼل. د دوېمې جمعې له کبله په اولنئ جمعه کښې سستی کول. د چیلم رابنکلو د وجې نه د جمعې مونځ پرېښودل. او بیا پرې نه پښیمانه کېدل

په آخری مسئلو کښې د الله تعالی د عاجزئ عقیده ساتل .

او دغه رنگه د دې په شان نور هم مفاسد شته چې د هغې تفصیل د کوشش کولو او د درک کولو نه معلومېدې شی .

نو حضرت صاحب هیڅکله دې مفاسدو او یا د دې مقدماتو یا د دې اسبابو ته جائز نه وئیل حضرت صاحب (حاجی صاحب) باندې داسې گمان لرل او بیا ددې گمان په وجه مطلق د دې کارونو په جواز باندې منگولې لگول یا د حضرت صاحب په حقله بده عقیده لرل دا د حضرت صاحب د شریعت د پوره پوره تابعدارئ او د هغوی د زړه رابنکونکی تقریر نه ناخبری ده

د نوموړی حضرت صاحب د فرمان خلاصه داده : (په څنگه طریقه چې په خلقو کښې دا کارونه روان دی او کېږی نو دا بدعت دې) څکه چې په دې رساله کښې واضحه شوی دی چې (کوم څیز په دین کښې نوی هغه په دین کښې داخلول بدعت دې) .

نو کوم خلق چې دا قیدونه کوم چې په خپل ذات کښې جائز دی مؤکد ئې گڼی نو دا هم هغه خلق دی چې غیر دین لره په دین کښې داخلونکی دی. په دې مقام باندې چې کوم منع کوونکی دی هغه په حقه دی . او چې څوک په کښې شرطونه. قیدونه. رسمونه او نور مفاسد نهٔ لازموی او دا کارونه کله کله وکړی او کله کله ئې پرېږدی نو دا جائز دی. دې ته حرام وئیل د منع کوونکو سختئ لره په دین کښې داخلول دی په دې مقام باندې جواز حق دې (یعنی چې دا طریقه جائزه ده).

په دې معنی سره حضرت صاحب دواړو ته په حقه اووئیل. د دې وجې نه بعضې اکبرنو نه چې د حضرت صاحب کوم خط د مهر سره راغلې وو په هغې کښې دا تکی موندلې شو چې ... ذکر مستحب دې او په دې کښې قیدونه او شرطونه لگول بدعت دې.

دغه رنګې په باب نورو مسئلو کښې هم تفصيل شته چې د شريعت په اصولو کښې د فلا کولو په هغه فهم نه راتلې شي

د دې وضاحت نه پس چا لره هم د شک اوشبهې کولو محل باقي پاتې نه شو. که چیرې د دې رسالې څه عبارت د ذکر کړې شوی تفصیل نه خلاف وموندې شی نو هغه دې د دې خادم تهانوی صاحب، د عبارت تقصیر وګڼلې شی او حضرت صاحب دامت برکاتهم و فيوضهم دې د دې نه بالکل پاک او بری وګڼلې شی.وماعلينا الاالبلاغ ربیع الاول ۱۳۱۶ هجری

د ضمیمې نه وروسته د حضرت حکیم الامت قدس سره یو بل لیک

دا دواړه ضمیمې (د ګنګوهی اودتهانوی صاحب) خو د شرعي په قواعدو باندې مبنی دی. اوس د دې مرسته د نیکانو په خوب سره کولې شی چې دغه د نیکانو خوبونو ته په حدیث مبارک کښې مبشر ونیلې شوې دی. خوب لیدونکې جناب حضرت حافظ مولانا محمد احمد صاحب مهتمم د دارالعلوم دیوبند او د حضرت مولانا قاسم نانوتوی صاحب قدس سره خوئ دې.او د هغوی نه د خوب روایت کوونکې د هغوی نیک او ریښتونې خوئ مولوی حافظ قاری محمد طیب صاحب د دارالعلوم دیوبند د دې وخت مهتمم دې.

وهی علة بعين عيارالراوی وهی رؤيا عجيبة مشتملة على حقائق غريبة.

نحمده ونصلي

ما عاجز د خپل والد صاحب محترم ﷺ نه دا لاندې ذکر کیدونکې واقعه اوریدلې ده.هغوی به فرمائیل (په کوم وخت کښې چې رساله (فیصلهٔ هفت مسئله) چاپ شوه، او د دې نسبت د حضرت مرشدعالم حضرت حاجي صاحب ﷺ ته کیدلو. د دې وجې نه مونږ ته ډیره زړهٔ تنګی راپیښه شوه، مونږ د دې رسالې موافقت نه شو کولې، او که د مخالفت سوچ به مو کولو نه د حضرت صاحب نسبت به رامخې ته شو. مونږ حیران وو. د همدې حیرانئ په وخت کښې ما (یعنی حضرت والد صاحب حافظ محمد احمد صاحب) دا خوب ولیدلو (یو لوئې مجلس دې او په هغې کښې حضرت حاجی صاحب ﷺ ناست دې، او زهٔ هم په دې مجلس کښې حاضر یم.او د هفت مسئلې ذکر شروع دې . حضرت حاجی صاحب ارشاد اوفرمائیلو چې (ورور علماء په دې کښې ولې سختي کوی؟ په دې کښې خو ګنجائش شته)

ما ورته عرض وکړو چې (حضرت ګنجائش به کښې نشته که داسې وشی نو د مسئلو حدود به مت شی. هغوی اوفرمائیل (دې نه خو سختي معلومیږی. ما بیا ډیر په ادب سره عرض وکړو چې حضرت تاسو چې څه هم فرمائیلي هغه صحیح دی لیکن حضرت فقهاء کرام ... خو د دې خلاف فرمائی. ... ما والد صاحب فرمائی چې ... زهٔ به خوب کښې د حضرت صاحب ... هم کوم

لیکن د حضرت صاحب په عظمت کښې مې لږ غوندې فرق هم ونه موندلو او په همدې رد او بحث کښې حضرت صاحب اوفرمائیل چې: (خبره لنډه کړه او دا اووایه چې که په خپله صاحب د شریعت فیصله وکړي نو بیا؟). ما عرض وکړو چې (حضرت د دې نه پس د چا څه همت دې چې د دې خلاف دې وکړي)، نو حضرت اوفرمائیل چې (ښه ده، ان شاء الله په همدې ځائې به صاحب د شریعت په خپله زمونږ او ستاسو په مینځ کښې فیصله وکړي). زما والد صاحب اوفرمائیل چې (زۀ په دې خبره د حد نه زیات خوشحاله ووم چې نن به الحمدلله د صاحبِ شریعت ﷺ دیدار مونږ ته نصیب شي) او له دې سره د حضرت حاجي صاحب عظمت او د هغوی د مقام اوچتوالي زما په زړۀ کښې نور هم زیات شو، چې الله تعالی زمونږ بزرګانو ته دا درجه ورکړې ده چې هغوی په خپلو معاملو کښې مستقیماً نبی کریم ﷺ سره رابطه کولې شي، اونبی کریم ﷺ خپل ځائې ته رابللې هم شي.

لږ ساعت پس حضرت حاجي صاحب رحمه الله اوفرمائیل چې: (تیار کښېنئ حضرت نبی کریم ﷺ تشریف راوړونکې دې!) نو زۀ ګورم چې په دې کښې د دې دیوان خانې (یو عمارت) مخې ته یو عظیم الشانه مجمع راښکاره شوه، چې دغه مجمع را نزدې شوه نو ګورم چې تر ټولو وړاندې حضرت ﷺ دې او هغوی پسې وروسته ټول صحابهٔ کرام رضی الله عنهم دی. د حضور ﷺ دا شان مبارک دې چې په شکل کښې بالکل د حضرت ګنګوهي رحمه الله په شان دی د نینو (یو قسم رېښه) نرۍ قمیص ئې بغیر د څه بنین وغیره نه اچولې دې چې په هغې کښې دننه د حضرت بدن مبارک پرقیږي. لکه چې شعلې ترې نه راوځي. په سر مبارک باندې ئې ټوپئ پنج کلیا (یو قسم ټوپئ) ده چې په سر مبارک باندې د غوږونو پورې پرته ده، او مخ مبارک ئې دومره روښانه او داسې پرقیږي لکه چې تازه پرقیدونکې سره زر څنګه پرقیږي. حضور ﷺ چې کله دې دیوان خانې ته رانوتلو نو حضرت حاجي صاحب د پښو نه تر سره پورې ډېر په ادب سره لاړو او په یو ګوټ کښې ودریدلو او زۀ په یو بل ګوټ کښې په ادب سره لاس ترلې ودریدم. نبی کریم ﷺ زما طرف ته تشریف راوړو او چې بالکل زما خوا ته رانزدې شو نو زما په اوږه باندې ئې خپل لاس مبارک کېښودو او ډېر په زوره ئې اوفرمائیل (حاجي صاحب! دا هلک چې څه وائې نو صحیح وائې). په دې آوریدو سره زما د خوشحالئ بیخي څه حد نه وو، او ورسره ورسره زما په زړۀ کښې د حضرت حاجي صاحب عظمت او اوچتوالي نور هم زیات شو چې زمونږ د بزرګانو څه لویه مرتبه ده؟ چې نبی کریم ﷺ خومره په بې تکلفئ سره تشریف راوړو او حضرت حاجي صاحب ئې څنګه په بې تکلفئ او عنایت سره مخاطب کړو

او د حضرت حاجي صاحب حالت د دې ارشاد مبارک په آوریدو سره داسې شو چې (د بجاو درست. بجاو درست (یعنې تاسو صحیح او په ځائې اوفرمائیل) الفاظ وائی او په دې ونیلو ونیلو کښې ټیټ شي او دومره ټیټ شي چې د خپلو خپو پورې سر بوسي او بیا نیغ ودریږي او دغه شان (بجاو درست بجاو درست) وائی او ټیټ شي او بیا نیغ ودریږي

حضرت حاجي صاحب اووه ځله همدغه شان وکړل او په مجلس باندې خاموشي خوره وه. او ټوله مجمع ولاړه ده ځکه چې نبی کریمﷺ په خپله ولاړ دی، هر کله چې دا هر څه وشول نو زما والد صاحب فرمائی چې ما د نبی کریمﷺ دا شفقت او مهربانی ولیدله نو زړه مې وکړو او عرض مې وکړو چې: (حضور! (ﷺ) په احادیثو کښې چې مونږ ستاسو د مخ مبارک په حقله څه لوستی دی نو په دې وخت کښې خو ستاسو مخ مبارک د هغه احادیثو نه خلاف معلومیږی دا او سنئ چهره خو د حضرت ګنګوهی صاحب د چهرې په شان ده؟) ، نو نبی کریمﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې: (اصل چهره خو زمونږ هم هغه ده کومه چې تا په احادیثو کښې لوستې ده، لیکن دې وخت کښې مونږ د مولانا ګنګوهی چهره ځکه اختیار کړه چې ستاسو له هغوی سره مینه او مناسبت دې).

د دې جواب په آوریدو سره زما د حضرت ګنګوهی صاحب سره مینه او عقیدت نور هم زیات شو او د خپلو اکابرو د قرب او د نزدیکت درجې را باندې واضحه شوې. یو څو دقیقې نور سکوت تیر شو او حاجي صاحب ډیر په ادب او تعظیم سره سر ښکته کړې وو او ولاړ وو چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائیلو: (حاجي صاحب! اوس مونږ ته اجازت دې؟)

حاجي صاحب ډیر په ادب سره عرض وکړو چې: (د حضورﷺ څه رضا مبارکه وی (نو هغسې دې وکړی) ، نو حضورﷺ مبارک د ټولې مجمعې سره هم په هغه لاره تشریف یوړو چې په کومه لاره هغوی تشریف راوړې وو او بیا زما سترګې وغړیدلې (راویښ شوم).

دا خوب ما (یعنی والد صاحب حافظ محمد احمد) ولیکلو او د حضرت حاجي صاحب په خدمت ته مې ولیږلو. نو دا خبره معلومه شوه چې په حضرت حاجي صاحب رحمه الله باندې د دې خوب په آوریدو سره یو د بې خودئ کیفیت راغئ او څه داسې قسمه الفاظ ئې اوفرمائیل: (کاش چې دا خط ما د پاره ولیکلې شی او ماسره دې په قبر کښې کیښودې شی نو ما د پاره به یو ثبوت وګرځی).

احقر محمد طیب غفرله (اشرف السوانح: ج ۳، ص ۳۴۷_۳۵۰)

اوس د ذکر کړې شوو ضمیمو په رڼا کښې په ترتیب سره جوابونه لیکل کیږی:

۱: دا رساله د حضرت حاجي صاحب قدس سره تصنیف ندې بلکه دا د حضرت حاجي صاحب په حکم سره حضرت حکیم الامة حضرت تهانوی رحمه الله لیکلې وه، د دویمې ضمیمې په ضمن کښې د دې په ښکاره الفاظو سره ذکر تیر شو. د دې نه علاوه د رسالې د پاسه دا لیک هم موجود دې **از افادات منبع الفیوض والبرکات امام العارفین فی زمانه مقدام المحققین فی اوانه سیدنا و مولانا الحافظ الحاج الشاه محمد امداد الله مهاجر مکی تهانوی رحمه الله**.

د دې نه هم دا خبره ښکاره کیږی چې دا د حضرت حاجي صاحب تصنیف ندې او په عام عرف کښې هم کوم رواج دې نو په هغې کښې لفظ د (افادات) د تصنیف د پاره نه وئیل کیږی. بلکه د دې نه دا خبره مقصد وی چې کوم خادم د خپل بزرګ مضمونونه د قلم لاندې راوستلې دی.

۲ حضرت حاجي صاحب چې په دې مسئلو کښې د غلو په خپل مينځ کښې د جنګ جګړې زړتوالي او سختې نه وکتل نو حضرت مهاجر مکي صاحب باندې ئې دا رساله وليکله، چې په هغې کښې ئې دواړو ډلو ته د اعتدال د لارې د خوښولو او په خپل مينځ کښې په صلح او په آرام سره د اوسيدلو وينا کړې ده. نو په ړومبو کرښو کښې فرمائي «دا خبره منلې شوې ده چې په خپل مينځ کښې اتفاق د دنياوي او ديني برکاتو باعث دې او بې اتفاقي د دنياوي او ديني ضرر باعث ګرځي. او نن صبا په بعضې داسې فرعي مسئلو کښې اختلاف راپيدا شوې دې چې د کومې نه رنګ په رنګ شر او تکليف راپيدا کيږي او په دې سره د خواصو وخت او د عوامو دين ضائع کيږي دا حالت چې زه وه وينم نو ډير خفه کيږم نو د دې وجې نه زما فقير په زړه کښې دا راغلل چې د دې مسئلو په حقله يو وړوکې شان مضمون وليکلې شي او چاپ دې کړې شي. دا قوي اميد لرم چې د ئې سره به دا جګړه ختمه شي»

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې د دې رسالې او ليک مقصد د دې دواړو ډلو جنګ او جګړه ختمول دي. د دې وجې نه د ليک طرز ډير زړه سواندې او د ژبات نرم اختيار کړې شوې دې، او که نه نو چې د اصل مسئلو په حقله وګورې نو په هغې کښې د اکابرين ديوبند په مسلک باندې د دې رسالې په ليک سره څه لږ شان غلط اثر هم نه راځي او نه د هغه مسلک د يو خوا نه د کوم يو بدعتي مرسته کيږي

په آخري دوو مسئلو «امکان نظير او خلف الوعيد» کښې ئې څه ندي فرمائيلي او نه ئې د يوې خاص ډلې مرسته کړې ده بلکه په دې مسئلو کښې د اخته کيدو نه ئې منع فرمائيلې ده.

په جمات کښې د دويمې جمعې کولو روايت هم د امام ابو يوسف رحمه الله نه کړې شوې دې. د دې وجې نه ئې دواړه ډلې په دې کښې د اختلاف کولو نه او په دې کښې د جنګ جګړې کولو نه منع کړې دي.

غير الله نه د آواز کولو په حقله د ليک خلاصه دا ده چې: بغير د الله نه بل څوک عالم الغيب او حاضر او ناظر ګڼل او هغه ته آواز کول شرک دي او که چيرې د عالم الغيب او د حاضر ناظر په عقيده ئې سره نوې نو بيا هم د دې د جواز درې صورته دي

۱ مخاطب ته آورول مقصود نوې بلکه دا آواز کول صرف د ديدار د شوق او د بيلتون د غم او د هغه د ذکر د وجې نه وي

۲ د باطن د پاکوالي په وجه د مخاطب مشاهده کوي، او هغه ته آورول مقصود وي

۳ په څه ذريعې سره مخاطب ته د آواز د رسيدو عقيده ئې وي او چې دغه ذريعه د يو شرعي دليل نه ثابته هم وي لکه د فرشتو درود او سلام رسول شو

۴ څلورم صورت ئې دا بيان اوفرمائيلو چې که په څه ذريعې سره ئې د دې آواز د رسيدو

عقیده وی لیکن دغه د رسیدلو عقیده په یو شرعی دلیل سره ثابته نوی نو بیا داسې آواز کول منع دی او دا عقیده لرل په الله تعالی باندې دروغ تړل دی او د علم غیب دعوی کول دی. بلکه دا د شرک سره مشابه یوه عقیده ده لیکن دې ته دې دیر په داده زړه شرک او کفر ونه ونیلې شی

د بریلیانو خلقو عقیده په ذکر کړې شوو څلورو قسمونو کښې په یو قسم کښې هم داخل نده. بلکه دوی غیرالله لره حاضر او ناظر او عالم الغیب ګڼی او آواز ورته کوی. دا د بریلیانو بنیادی عقیده ده. هیڅ یو سړې تر هغه وخته پورې بریلې کیدې نه شی تر څو پورې چې دې دا عقیده ونه لری چې ټول پیغمبران ﷺ او په خاص توګه نبی کریمﷺ عالم د ما کان و ما یکون او حاضر او ناظر دې. ددې وجې نه د حاجی صاحب د فیصلې مطابق دا خلق بې د څه شک او شبهې نه مشرکان دی.

د پاتې درې مسئلو «مولود، فاتحه او د عرس» په حقله ئې دا فیصله فرمائیلې ده:

«دا کارونه دخپل ذات په اعتبار سره جائز دی لیکن دې لره یاد دې شرطونو او قیوداتو لره ضروری او سنت ګڼل بدعت دې او د الله تعالی په حدودو باندې زیاتې او ګناه ده».

ښکاره خبره ده چې بدعتیان دې کارونو لره د فرضو نه هم زیات لا زمی ګڼی، او د دې رواج شوی قیودات او شرطونه هم ضروری او لا زمی ګڼی، د دې وجې نه د حضرت حاجی صاحب دا فیصله هم د دوی خلاف ده. حضرت حاجی صاحب ته د بدعتیانو د دومره التزام او د حد نه د تیریدو علم نه وو، د دې وجې نه ئې بغیر د قیوداتو د التزام نه جائز اوفرمائیلو، او چې کله ورته په خوب کښې د نبی کریمﷺ د فیصلې نه پس د خلقو د داسې التزام او د حد نه د تیریدو علم وشو نو د دغه اجازت ورکولو نه ئې هم رجوع اوفرمائیله. په حقیقت کښې اول اجازت ورکول او د نبی کریمﷺ د فیصلې نه پس رجوع کولو ته صورةً «د اجازت نه پس رجوع» ونیلې شوې ده، او که نه نو چې وکتلې شی نو د پورتنی تقریر نه دا خبره ثابته شوې ده چې حاجی صاحب د شروع نه د دې مروجه قیوداتو او شرطونو د التزام لرلو سره د دې اجازت ندې ورکړې. بلکه دې ته ئې بدعت او د الله تعالی په حدونو باندې زیاتې کول او ګناه ونیلې ده.

د حضرت حاجی صاحب قدس سره په مقصد او په مراد باندې د پوهې د پاره مونږ د حضرت ګنګوهی او د حضرت تهانوی قدس سرهما ضمیمې صرف او صرف د مرستې او د تاکید په غرض نقل کړې. اوکه نه نو چې دې ضمیمو ته بالکل ونه کتلې شی نو بیا هم د یو ادنی فهم او عقل خاوند چې د دې رسالې په عبارت کښې غور او فکر وکړی نو هغه به هم دا قطعی فیصله کوی چې دا رساله پوره په پوره د اول نه تر آخره پورې د بریلیانو د عقیدې په رد او د دیوبند د عقیدې په مرسته کښې لیکلې شوې ده. والله سبحانه و تعالی اعلم

رشید احمد

دارالافتاء والارشاد. ناظم آباد. کراچی (۱۳ ربیع الآخر ۱۴۰۴ هجری)

باب رد البدعات

په قبر باندې شنه څانګه ایښودل

سوال تاسو د احسن الفتاوي په ورومبی جلد کښې په قبر باندې د شنې څانګې ایښودلو په حقله لیکلي دی «دا د رسول اللهﷺ د لاس مبارک برکت وو.که چیرې دا قاعده عامه وای نو حضراتو صحابه کرامو﷡ به ضرور د دې اهتمام کولو. ځکه چې دا حضرات د خیر په معامله کښې ډیر زیات حرص ناک وو.

په دې باندې یو اشکال دا دې چې حضرت بریده﷛ هم په دې حدیث باندې عمل کړې وو او دا وصیت ئې کړې وو چې زما په قبر دې دوه څانګې ودرولې شی.که چیرې دا د رسول اللهﷺ د لاس مبارک برکت وای او دا قاعده عامه نوې او په دې باندې عمل کول جائز نوې نو بیا بریده﷛ داسې ولې وکړل؟ اونورتول صحابهٔ کرام﷡ په دې باندې ولې غلې پاتې شو.په صحیح بخاری کښې دی

(اوصی بریدة﷛ ان يجعل في قبره جريدان. (بخاري جلد ۱ ص ۱۸۱) مونږ ته داسې جواب راکړئ چې زمونږ پرې زړه مطمئن شی او د شکریه ادا کولو موقع راکړئ. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د ناجائزه ګرځولو وجه دا کار سنت او دین ګڼل ەی اوددې د واجبو په شان التزام او اهتمام کول دی،د حضرت بریدة﷛ په وصیت کښې دا احتمالات کیدې شی

۱- په اکثرو نسخو کښې د **(في قبره)** الفاظ دی.چې د هغې نه دا معلومیږی چې هغوی د الله تعالی د دې قول **(کشجرة طیبة)** په وجه د کهجورې د ونې په برکت باندې د نیک فال نیولو دپاره داسې کړې وو. لکه څه رنګه چې په فتح الباری کښې ښکاره فرمائیلې شوې دی چې دا څانګې د کهجورې د ونې وې. یعنې مطلب دا چې هغوی دا عمل د رسول اللهﷺ په اقتداء کښې نه وو کړې، اوکه نه نو په قبر باندې د ښخولو وصیت به ئې بیا فرمائیلې وو.

۲- د مستملی په روایت کښې د **(علی قبره)** الفاظ راغلی دی، په دې صورت کښې به دا وئیلې شی چې هغوی په دې خاص واقعه کښې د رسول اللهﷺ خاص عمل په عموم باندې حمل کړو. نو د دې وجې نه ئې د رسول اللهﷺ په اقتداء کښې دا وصیت اوفرمائیلو، لیکن د دوی نه علاوه بل یو صحابی په دې باندې عمل ندې کړې، د دې نه دا معلومیږی چې نورو ټولو صحابهٔ کرامو﷡ دا د رسول اللهﷺ خصوصیت ګڼلو

قال الحافظ العیني رحمه الله. وهذا التعلیق وصله ابن سعد من طریق مورق العجلي قال: اوصی بریدة ان یوضع في قبره جریدتان وقوله (في قبره) روایة الاکثر وفي روایة المستملي (علی قبره) والحکمة في ذلك علی روایة

لا كثرين الغافل ببركة النخلة لقوله تعالى: (كشجرة طيبة) وعلى رواية المستملي الاقتداء بالنبي ﷺ في وضعه الجريدتين على القبر وسنذكر الحكمة فيه عن قريب ان شاء الله تعالى.

وقال ايضاً تحت اثر ابن عمر ﷺ: و رأى ابن عمر ﷺ فسطاطا على قبر عبدالرحمن فقال: انزعه يا غلام فانه يظله عمله: وجه ادخال اثر ابن عمر ﷺ في هذه الترجمة من حيث انه كان يرى ان وضع النبي ﷺ الجريدتين على القبرين خاص بهما وان بريدة ﷺ حمله على العموم فلذلك عقب اثر بريدة ﷺ باثر عبدالله بن عمر ﷺ. (عمدة القاري ج۸ص۲۱۳) والله سبحانه وتعالى اعلم غره جمادى الاولى ۱٤٠٦ هجرى

د غم راځي په وخت کښې د دعا د پاره لاسونه پورته کول بدعت دي

سوال تاسو په احسن الفتاوى (اُردو) ج۴.ص ۲۴۵ کښې ليکلي دي چې د غم راځي په وخت کښې د دعا د پاره لاسونه پورته کول بدعت دي او حضرت مولانا سرفراز خان صفدر صاحب مدظلهم په راهِ سنت نومی کتاب کښې لاسونه پورته کولو ته جائز وئيلی دی، لاندې د راه سنت عبارت ستاسو په خدمت کښې نقل کولې شی:

فائده د مری د پاره چې لاس پورته کړې شی او دعا وکړې شی دا هم جائز دی ځکه چې رسول الله ﷺ رفع يديه ثم قال: اللهم اغفر لعبيد ابي عامر). (بخاری: جلد۲ص۶۳۱ومسلم ج۲ص۳۰۳)

مطلب دا چې رسول الله ﷺ چې د عبيد ابی عامر د وفات خبر واوريدلو نو لاسونه ئې پورته کړل او د هغوی د پاره ئې دعا غوښتلې وه.

حضرت شاه محمد اسحاق صاحب (المتوفى ۱۲۶۲ هجرى) فرمائی چې د تعزيت د پاره لاسونه پورته کول او دعا کول په ظاهره جائز دی . (مسائل اربعين ص ۳۴) ، (راه سنت ص ۲۷۸)

تاسو ته درخواست دې چې په دې نظر ثانی وکړئ او دخپلې فيصلې نه موخبرکړئ. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په راهِ سنت کښې چې کوم حديث ذکر کړې شوې دې په هغې کښې د تعزيت ذکر نشته . او د مسائل اربعين د ليک جوابونه دادی:

۱. دا دليل ندې

۲. د دې د عبارت نه دا معلوميږی چې په خپله هغوی ته د دې د صحت يقين نه وو

۳. دې نه بغيرله التزام څخه جواز ثابتيږی او په مروجه طريقه کښې التزام دې او دابدعت دې

۴. په دې کښې بواځې د تعزيت کوونکی د لاسونو د پورته کولو ذکر دې او په مروجه طريقه کښې ټول حاضرين د مجلس لاسونه پورته کوی او دعا غواړی او د دې هيڅ څه ثبوت نشته والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۲ محرم الحرام ۱٤٠۸ هجرى

د صفرې د میاشتې په آخري چهارشنبه باندې خوراکونه پخول

سوال د صفرې د میاشتې د آخري چارشنبې په حقله مشهوره ده چې په دې ورخ رسول الله ﷺ د مرض نه یوخه لږ ښه شوې وو دا خبره جلیس الناصحین او انیس الواعظین نومی کتابونو لیکلې ده. په دې خوشحالئ کښې خلق ډیر په پابندئ سره او د ثواب په نیت سره ښه ښه خوراکونه پخوی او تیارولې یې ،نوآیا په شریعت کښې د دې خه حیثیت اوکه نه ؟بینوا توجروا .

محققینو دا خبره ښهٔ واضحه کړې ده.چې رسول الله ﷺ د زیارت په ورخ د مرض نه لږ ښهٔ شوې وو. چنانچه رسول الله ﷺ غسل اوفرمائیلو او د ماسپخین د مانځه نه ئې وروستو خطبه اوفرمائیله . د چار شنبې په ورخ د مرض نه د ښهٔ کیدو خه ثبوت نشته . د دوې وجې نه دا مشهورتیا خه اصل نلری. او د کومو کتابونو چې حواله ورکړې شوې ده دا غیر معتبر کتابونه دی. په دې کښې په ډیر کې شمیر سره موضوعی او د خان نه جوړ کړې شوی روایات موجود دی. د دې کتابونو خو اخستل او خرخول هم جائز ندی. لا پاتې دا چې د دې نه دې دلیل ونیولې شی .

قال شیخ الاسلام الحافظ ابن حجر رحمه الله فی الفتح :(قوله ثم خرج الی الناس فصلی بهم و خطبهم) انه اخر مجلس جلسه ولمسلم من حدیث جندب ان ذلک کان قبل موته بخمس فعلی هذا یکون یوم الخمیس فتح الباری ج۸ص۱۴۱)

او که بالفرض دا ومنلې شی چې د صفرې د میاشتې په آخری چارشنبه باندې رسول الله ﷺ د مرض نه لږ ښهٔ شوې وو. نو بیا هم په دغه ورخ خوراکونه پخول او بیا په دې کښې ثواب گنل د کوم ځائ نه ثابت دی؟ ، آیا په خپله رسول الله ﷺ یا د رسول الله ﷺ نه پس د هغوی صحابهٔ کراموؓ داسې کړې وو؟ بالکل نه، نو هر کله چې هغوی داسې ندی کړې نو د رسول الله ﷺ سره د محبت په نوم د خپل خان نه د جوړ کړې شوو رسمونو دومره پابندی کول چې د دین د واجبو حکمونو هم دومره پابندی نشی کولې دا د رسول الله ﷺ او د صحابهٔ کراموؓ د لارې نه خلاف عمل کول دی او د الله تعالی په دین کښې د خپل خان نه د زیاتولو په وجه باندې دا کار بدعت دې، د کومې پرېښودل چې واجب دی .والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۶ ربیع الثانی ۱۴۰۸ هجری

د مړی کور کښې د خوراک کولو په حقله د بعضې روایتونو جوابونه

سوال اکثرو فقهاء کرامو رحمهم الله د مړی په کور کښې دعوت ته مکروه تحریمی وئیلې دی،د فقیرانو او د غیر فقیرانو فرق ئې په کښې ندې کړې، نو د دې نه معلومیږی چې د کراهیت حکم دواړو صورتونو لره شامل دې،او د دې سره سره په علماء دیوبند کښې مولانا حیدر علی صاحب رحمه الله هم دفقیرانو د مړی په کور کښې خوراک کولو ته ناجائزه او د جاهلیت د وخت د خلقو

او د هندوانو رسم ونیلی دی. او مولانا رشید احمد گنگوهی صاحب رحمه الله دې ته صحیح وئیلي دي فتاوی رشیدیه، البته د ښینی صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله د قول او عمل نه د فقیرانو او د غیر فقیرانو د ټولو د پاره او د فقهې د ښینی عبارتونو نه د فقیرانو د پاره د خوراک د تیارولو جواز معلومیږی لکه

١ - علامه سیوطی رحمه الله د حضرت طاؤس رحمه الله دا قول نقل کوی : ان الموتى يفتنون فى قبورهم سبعا فكانوا يستحبون ان يطعموا عنهم تلك الايام. (الحاوى للفتاوى: ج۲،ص۱۸۳)
علامه سیوطی رحمه الله د دې د سند تحقیق کړې دې او دې ته ئې صحیح او په حکم د مرفوع کښې وئیلی دی.

۲ - علامه ابن کثیر رحمه الله د حضرت ابو ذر رضی الله عنه وصیت ذکر کړې دې : وكان قد امر اهله ان يطبخوا لهم شاة من غنمه ليأكلوه بعد الموت (البداية والنهاية: ج۷،ص۱۶۶)

۳ - عن عائشة رضى الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم انها كانت اذا مات الميت من اهلها فاجتمع لذلك النساء ثم تفرقن الا اهلها وخاصتها امرت ببرمة من تلبينة فطبخت (صحيح البخارى: ج۲،ص۸۱۵)

۴ - عن الاحنف بن قيس قال: كنت اسمع عمر بن الخطاب رضى الله عنه يقول: لا يدخل رجل من قريش من باب الا دخل معه ناس فلا ادرى ما تاويل قوله حتى طعن عمر رضى الله عنه فامر صهيبا ان يصلى بالناس ثلاثا وامر ان يجعل للناس طعاما تلك الثلاثة الايام حتى يجتمع اهل الشورى على رجل فلما رجعوا من الجنازة جاؤوا وقد وضعت الموائد فامسك الناس للحزن الذى هم فيه فجاء العباس بن عبد المطلب فقال: يايها الناس قد مات رسول الله صلى الله عليه وسلم فاكلنا بعده وشربنا ومات ابوبكر رضى الله عنه فاكلنا بعده وشربنا، ايها الناس كلوا هذا الطعام فمد يده ومد الناس ايديهم فاكلوا فعرفت تاويل قوله رواه الطبرانى وفيه على بن زيد وحديثه حسن وبقية رجاله رجال الصحيح. (مجمع الزوائد: ج۵،ص۲۲)

۵ - قال فى الهندية: ولا يباح اتخاذ الضيافة ثلاثة ايام فى ايام المصيبة وان اتخذ لا باس بالاكل منه. (عالمگيرية: ج۵،ص۳۴۴)

۶ امام طحاوی رحمه الله په حاشية الطحاوى على المراقى کښې په (۳۳۸) صفحه باندې د فتاوې بزازیې نه دا عبارت نقل کړې دې : وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا اهـ

او د فتاوې قاضیخان نه ئې دا عبارت وړاندې کړې دې : وان اتخذ ولى الميت طعاما للفقراء كان حسنا.
دا عبارتونه او آثار او روایتونه دې د نظر لاندې وساتلې شی او مونږ ته دې د مسئلې د تحقیق

په لګکلو باندې : مسکوبې اد خولو موقع راکړې شي ـ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مړی د خپل خانی د طرفه د دعوت کولو په ناجائزه کیدو کښې څه اختلاف نشته، د احادیثو او : فقهې د نصوصو نه بغیر په دې کښې د نورو ډیرو او لویو فسادونو تفصیل دې د احسن الفتاوې په وړومبی جلد کښې دې وکتلې شي

رفع الاشتباهات (یعنی د شک او شبهې لرې کول)

۱ ـ **قول طاوس رحمه الله** : د دوی د قول نه خپل کور ته راغوښتل او بیا په هغوی باندې خوراک کول ثابت ندی، د فقیرانو کور ته د طعام لیږل هم په دې کښې داخل دی.بلکه په ناجائزه کیدو باندې د فقهې او د احادیثو د نصوصو نه علاوه که خیال وکړې شی نو د فقیرانو او د صدقه کوونکی د پاره هم د زیات سودمنده کیدو اوانفع کیدو له کبله همدا صورت ټاکلې شوې دې (یعنی چې د فقیرانو کورونو ته طعام ولیږل).

د انفع (سود منده کیدو) وجوهات

که چیرې فقیر ته په دغه وخت کښې د خوراک حاجت یا وخت نه وی نو د بل وخت د پاره ئې اینودې شي

- په بل چا باندې ئې هم خوړې شي.
- دې سره به فقیر د تلو راتلو د خوارئ نه خلاص شي.
- په تلو راتلو چې کوم وخت مصرف کیږی هغه وخت د ضائع کیدو نه بچ کیدل
- د فقیر کور ته د خوراک په رسولو کښې د فقیر اکرام هم دې.
- او د دې حقیقت ښکاره کول دی چې صدقه کوونکی ته د اجر دومره ضرورت دې څومره چې مسکین ته د طعام ضرورت ندې.

۲ ـ **د ابوذر رضی الله عنه وصیت**

حضرت ابوذر رضی الله عنه په ربذه مقام کښې اوسیدلو.چې په خوا کښې ورسره نوره څه آبادې نه وه.هر کله چې د هغوی د وفات کیدو وخت رانزدې شو.نو د هغوی بی بی فریشانه شوه چې د دوی کفن کول او بیا ښخول به څنګه کیږی.نو ابوذر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د پیش ګوئې مطابق په لاره باندې د خلقو دکتلو امر وکړو.او وې فرمائیل چې تا ته به د مسلمانانو یو جماعت په نظر راشي.نو دوی راغلل او د څو وارې کتلو نه پس ئې څه خلق په نظر راغلل.بی بی هغوی ته د حضرت ابوذر رضی الله عنه په حقله خبر ورکړو چې د هغوی وفات کیدونکی دی. تاسو راشئ او د هغوی د کفن او د ښخولو انتظام وکړئ

دا کسان چې په دوی کښې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ هم وو چې کله د ابوذر ﷺ په خدمت کښې حاضر شول نو ابوذر ﷺ د رسول اللهﷺ د پیش ګوییٔ ذکر وکړو او وې فرمائیل **ابشروا فانی سمعت رسول اللهﷺ یقول لنفر انا فیہم: لیموتن رجل منکم بفلاۃ من الارض یشھدہ عصابۃ من المؤمنین.** (الاستیعاب بہامش الاصابۃ: ج،ص).

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې دا حضرات د حضرت ابوذر ﷺ د ژوند په وروستنیو ساعتونو کښې د هغوی خوا ته رسیدلی وو، او ابوذر ﷺ د دې حضراتو نه په دې ډیر خوشحاله وو چې دا حضرات د رسول اللهﷺ د پیش ګوییٔ مصداق او د ابوذر ﷺ د کفن او د ښخولو ذریعه وګرځیدل.

هسې هم دا حضرات میلمانهٔ وو، د دې وجې نه ئې خپلې بی بی ته د دوی د میلمستیا د پاره د بکرئ د ذبح کولو او د پخولو اووئیل. دې د پاره چې دا حضرات کله د کفن او د ښخولو نه فارغه شی نو بیا دا وخوری، ځکه چې د ننبو ننبانو نه دا ثابته وه چې د دوی د وفات وخت نزدې وو. د دې (کفن او د ښخولو) نه وړاندې د طعام د تیارولو او د هغې د خوړلو وخت نه وو، او هلته نزدې څه آبادی هم نه وه چې دوی د پاره د طعام انتظام وکړی.

دویمه وجه دا هم بیان کیدې شی چې غالب ګمان دا دې چې دا حضرات مالداره نه وو بلکه فقیران وو، او په دې باندې دلیل د دوئ په سفر کښې کیدل دی ځکه چې مالداره سړې هم په سفر کښې غریب او فقیر وی، او لخ همدې وجې نه مصنّفر لره د زکوة په مصرفونو کښې شمار کړې شوې دې. نو بس دا په حقیقت کښې په فقیرانو باندې د صدقې کولو وصیت شو. نه دا چې دا مروجه دعوت.

۳ - **د عائشې ﷺ روایت**: د دې روایت آخری الفاظ دا دی:

(ثم صنع ثرید فصبت التلبینة علیها قالت: کلن منها فانی سمعت رسول اللهﷺ یقول: التلبینة مجمة لفوائد المریض تذھب ببعض الحزن)

د دې نه او په سوال کښې د ذکر شوې الفاظو **(ثم تفرقن الا اھلها وخاصتها)** نه دا خبره ښه په صراحت سره ثابته شوه چې عائشې ﷺ به تلبینه صرف د مړی د کور خلقو له د هغوی د غم د کمولو په غرض سره تیاروله، د دې نه د مروجه دعوت ثبوت نه بلکه د هغې نفی ترې نه کیږی.

۴ - **د عمر ﷺ وصیت**.

د دې نه هم د مړې د خیل خانې د طرفه په عمومی دعوت باندې دلیل نیول صحیح ندی. د دې خبرې حقیقت دا دې چې د خلافت د مسئلې د حل کولو د پاره به د شوری غونډه کیدله او د بیت المال نه د څه بل څه ذریعې نه به د طعام انتظام کیدو، د خلافت د مسئلې د زر تر زره حل کولو

فائدي څه نه ښکاري. د ډېر خفګان په وجه خلقو روټۍ نه خوړله نو حضرت عباس رضی الله عنه اوفرمائيل چې رسول الله ﷺ وفات شوچې د عمر رضی الله عنه د شهادت نه ډېره لويه او زياته د غم خبره ده، او بيا هم مونږ خلقو روټۍ خوړل پرې نښودل. مطلب دا چې د غم د وجې نه د روټۍ خوراك پرېښودل جائز ندی. دا مطلب نې ندی چې د رسول الله ﷺ يا د حضرت ابوبكر رضی الله عنه د وفات نه پس څه عام دعوت شوې وو

۵ - د فتاوی هنديه د جزئی جواب

د دې نه دومره خبره معلومېږی چې دا د حرام خوړل ندی، اوكه نه نو د خوراک د تيارولو ناجائزه كيدل يعنی د ميلمستيا د ناجائزه كيدلو صراحت خو په دې كښې هم دې

پاتې شوه دا خبره چې په داسې دعوتونو كښې شريكيدل جائز دی او كه ناجائز ؟ نو په بل ځائ كه تولو فقهاءكرامو رحمهم الله په تفصيل سره دا ليكلې دی، چې د مقتدا د پاره په هيڅ يو صورت كښې هم په دې كښې شريكيدل روا ندی، او كه عوامو ته د تلو نه وړاندې معلومه شی چې دا ناجائزه دعوت دې نو د هغوی دپاره هم تلل ناروا دی. او كه د وړاندې نه د دعوت په باره كښې ورته څه علم نه وی. او د تلو نه پس ورته دا علم راغئ چې دا يو ناروا دعوت دې، نو بيا ورته په دې شرط باندې د خوړلو اجازت شته چې په دغه مجلس كښې تصوير، سندره يا بل يو منكر او د ګناه كار نه كيږی، البته د دوی د پاره هم دا خبره غوره ده چې دا طعام دې پرېږدی او لاړ دې شی، دلته د **(لاباس بالاكل معه)** تعلق هم دې وروستنی صورت سره دې، نو د دې وجې نه د مروجه دعوت په جواز باندې دليل نيول بالكل غلط دی.

۶ - د بزازيې او د خانيې د جزئيو جوابونه : د دې نه دعوت نه ثابتيږی، **كما قلنا والله سبحانه وتعالٰى اعلم**　　　　(۲۱ محرم الحرام ۱۴۱۹ هجری)

د قضاء عمری يوه د ځان نه جوړه كړې شوې طريقه

سوال د روژې د مياشتې په آخری جمعه كښې د قضاء عمری په نوم باندې يو مونځ خلق كوی، چې د دې په حقله وئيلې شی چې د دې مونځ په ادا كولو سره د ټول عمر قضا مونځونه بښلې كيږی. كوم خلق چې دا مونځ ادا كوی هغوی يو حديث په دليل كښې وړاندې كوی، زمونږ پوښتنه دا ده چې آيا داسې څه روايت د احاديثو په كتابونو كښې شته اوكه نه ؟ او دا راته هم اووايئ چې قضاء عمری مونځ ادا كول شرعًا څنګه دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د قضاء عمری د دې بيان كړې شوې طريقې په حقله چې كوم حديث پيش كولې شی هغه موضوعی او باطل دې، د خيرالقرون نه هم د دې څه ثبوت نشته. په دې خبره باندې اجماع ده چې هيڅ يو عبادت د كلونو د قضا شوی مونځونو په ځائ نه شی ودريدلې. نو د

دي وجي نه د قضاء عمري دا طريقه ډير خراب بدعت دي او د دي پرېښودل واجب دي

قال المحدث الفقيه الملا علي القاري رحمه الله: حديث: من قضى صلاة من الفرائض في اخر جمعة من شهر رمضان كان ذلك جابرا لك صلاة فائتة في عمره الى سبعين سنة باطل قطعاً لانه مناقض للاجماع على ان شيئا من العبادات لا يقوم مقام فائتة سنوات ثم لا عبرة بنقل صاحب النهاية ولا بقية شراح الهداية فانهم ليسوا من المحدثين ولا اسندوا الحديث الى احد من المخرجين.

(الاسرار المرفوعة في الاخبار الموضوعة المعروف بالموضوعات الكبرى: ص۳۰) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۰ ذی القعدة ۱۴۱۹ هجری

د درود تاج ، دعاءنور، او عهد نامې وغيره د لوستلو حکم

سوال. نن صبا خلق د خپلو بعضو مشکلاتو او د حاجتونو د پاره يا هسې د برکت تر لاسه کولو په توګه د بعضو دعاګانو لکه دعا ګنج العرش، دعاءحاجات، دعاءجميله ، دعاء نور، دعاء امن، عهدنامه، دعاء مستجاب، او د بعضو درودونو لکه درود اکبر، درود مستغاث، درودلکهي، درودتاج، درودمقدس، درودماهي، درودناريه، درودهزاره مستقله کتابونه چاپ شوي دي. خلق دي دعاګانو لره د هغه دعاګانو په مقابله کښې چې د احاديثو نه ثابتې شوي دي او دې درودونو لره د هغې منقولو درودونو په مقابله کښې زيات اهميت ورکوي، تاسو پوښتنه دا ده چې زمونږ په پاک شريعت کښې د دې درودونو د لوستلو څه حکم دي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: مونږ د هغه ټولو دعاګانو او د درودونو کتابونه راوغوښتل او ومو کتل کوم چې په سوال کښې موجود دي، د دي کتابونو په شروع کښې چې د دي دعاګانو او درودونو کوم فضيلتونه ليکلي شوي دي هغه ټول د خانه جوړ کړي شوي دي، د هيڅ يو حديث نه د دي جوړ کړي شوي ځيزونو څه قسمه فضيلت ندي نقل کړي شوي.

د دي د نومونو نه په خپله دا خبره ثابتيږي چې دا د چا جاهلانو لخوا جوړ کړي شوي دي. نو بيا د رسول اللهﷺ نه د دي څه فضيلت څنګه نقل کيدي شي.

په دي کښې په ځينو کښې خو بيه په ښکاره د شرک الفاظ استعمال کړي شوي دي. لکه په درود مستغاث کښې راغلي دي چې المستغاث بك يارسول الله المستعان بك يارسول الله اغثنا يارسول الله

په کاشف الغمه او په درود تاج کښې راغلي دي چې دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم.

او په ځينو کښې جاهلانه او بې معنې ،مهمل الفاظ دي لکه په مقدس درود کښې دي بحرمة کوهش صمدو ممار صمدو بارى صمدو يكانگي صمد.

او په دعاء نور کښې دي اللهم يا نور النور تنور بعالنور والنور لنور نور لها نور.

او همداسې الفاظ تقريباً په ټولو درودونو کښې دي او د دعاګانو هم همداسې حال دې. داسې خيزونه راپيدا کوونکی په اصل کښې د الله تعالی په مقابله کښې يو د برابرئ حکومت جوړول غواړی ، يعنی د الله تعالی او د هغه د رسول الله ﷺ په کلام کښې دومره اثر نشته څومره چې د دوی په کلام کښې دې

د دې وجې نه د داسې څيزونو ليکل، چاپ کول، اخستل خرڅول، او لوستل ټول حرام او بدعت دی، او د دين د عمارت د ړنګولو په شان دی، په حکومت باندې دا لازم دی، چې داسې خلقو ته دې د عبرت نه ډکه سزا ورکړی چې بيا د پاره څوک هم داسې ناپاکه کوشش ونه کړې شی ـ والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۳ رجب ۱٤۲۰ هجری

د بدعت تعريف

سوال بدعت څه ته وائی؟ يو جامع تعريف يې وليکئ او د شکريه ادا کولو موقع راکړئ ـ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب بدعت هغه عقيدې يا عمل ته وائی چې د هغې اصل او بنياد په کتاب الله او په سنت رسول ﷺ او په قرون مشهود لها بالخير کښې نوی، او دا د دين او د ثواب يو کار وګڼلې شی او اختيار کړې شی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله في باب الامامة: ومبتدع اى صاحب بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف من الرسول لا بمعاندة بل بنوع شبهة.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وهى اعتقاد الخ) عزا هذا التعريف فى هامش الخزائن الى الحافظ ابن حجر فى شرح النخبة ولا يخفى ان الاعتقاد يشمل ما كان معه عمل او لا فان من تدين بعمل لا بد ان يعتقده كمسح الشيعة على الرجلين وانكارهم المسح على الخفين ونحو ذلك وحينئذ فيساوى تعريف الشمنى لها بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ من علم او عمل او حال بنوع شبهة او استحسان وجعل دينا قويما وصراطا مستقيما اهـ فافهم (قوله لا بمعاندة) اما لو كان معاندا للادلة القطعية التى لا شبهة له فيها اصلا كانكار الحشر او حدوث العالم ونحو ذلك فهو كافر قطعا (قوله بل بنوع شبهة) اى وان كانت فاسدة كقول منكر الرؤية بانه تعالى لا يرى لجلاله وعظمته (ردالمحتار ج، ص) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱٦ رجب ۱٤۲۰ هجری

د بدعت قسمونه

سوال ځینی خلق وائی چې هر یو بدعت گمراهی نده، ځینی په کښې بدعاتِ حسنه هم وی، او حال دا چې په حدیث کښې هر یو بدعت ته گمراهی وئیلې شوې ده: (**کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة**) پدې حقله په مونږ باندې د خپل ژور تحقیق پیرځوینه وکړئ ـ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په لغت کښې هر یو نوی کار ته بدعت وئیلې شی، که په شریعت کښې د هغې څه ثبوت وی او که نوی. د دې لغوی معنی په اعتبار سره د بدعت دوه قسمه دی: سیئه او حسنه. البته د بدعت د شرعی معنې په اعتبار سره هر یو بدعت سیئه دی

د بدعت شرعی معنی: داسې عمل چې د هغې داعیه (یعنی د هغه کار کولو ته بلنه) او محرک (حرکت کښې راوستونکې) د رسول اللهﷺ، صحابهٔ کرامؓ او د تابعینو او د تبع تابعینو رحمهم الله په زمانه کښې موجود وی لیکن دغه حضراتو دغه عمل نوی کړې.

په نورو الفاظو کښې مطلب دا شو چې هغه درې زمانې چې د هغې د خیر گواهی ورکړې شوې ده د هغې نه پس دغه عمل پیدا شوی وی او په دې باندې قولاً، فعلاً، صراحةً او اشارةً په یو شان هم د شارع د طرف نه څه اجازت موجود نوی

وقال الحافظ ابن رجب رحمه الله: والمراد بالبدعة ما احدث مما لا اصل له فی الشریعة یدل علیه و اما ما کان له اصل من الشرع یدل علیه فلیس ببدعة شرعاً وان کان بدعة لغة. (جامع العلوم و الحکم ج،ص۳)

وقال ایضاً: و اما ما وقع فی کلام السلف من استحسان بعض البدع فانما ذلک فی البدع اللغویة لا الشرعیة فمن ذلک قول عمرؓ لما جمع الناس فی قیام رمضان علی امام واحد فی المسجد و خرج و راهم یصلون کذلک فقال: نعمت البدعة هذه و روی عنه ان قال: ان کانت هذه البدعة فنعمت البدعة هی و روی ان ابی بن کعبؓ قال له: ان هذا لم یکن فقال عمرؓ: قد علمت ولکنه حسن و مراده ان هذا الفعل لم یکن علی هذا الوجه قبل هذا الوقت ولکن له اصل فی الشریعة یرجع الیها. (جامع العلوم والحکم: ج،ص۳)

وقال ایضاً: وقد روی الحافظ ابو نعیم باسناد عن ابراهیم بن الجنید حدثنا حرملة بن یحیی قال: سمعت الشافعی یقول: البدعة بدعتان بدعة محمودة و بدعة مذمومة فما وافق السنة فهو محمود و ما خالف السنة فهو مذموم و احتج بقول عمرؓ نعمت البدعة هی و مراد الشافعی رحمه الله ما ذکرناه من قبل ان اصل البدعة المذمومة ما لیس له اصل فی الشریعة ترجع الیه و هی البدعة فی اطلاق الشرع و اما البدعة المحمودة فما وافق السنة یعنی ما کان لها اصل من السنة ترجع الیه و انما هی بدعة لغة لا شرعا لموافقتها السنة. (جامع العلوم و الحکم: ج،ص۳۰) . والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۸ رجب ۱۴۲۰ هجری

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ (متفق علیه)

د معراج د شپې تحقیق

- په یقیني طور سره د معراج شپه ۲۷ د رجب باندې ګڼل جهالت دی
- په دې شپه کښې په عبادت کښې زیات ثواب ګڼل بدعت دی



د معراج د شپې تحقیق

سوال دا خبره مشهوره ده چې په ۲۷ د رجب باندې رسول اللهﷺ معراج ته تشریف یوړو، آیا د دلیلونو نه دا خبره ثابتیږي؟ که چیرې ثابتیږي نو آیا په دې شپه کښې د څه خاص عبادت کولو څه ذکر په احادیثو کښې شته؟ په دې شپه کښې د عبادت مسنونه طریقه څه ده؟ په تفصیل سره ئې راته بیان کړئ او د شکریې ادا کولو موقع راکړئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د معراج د شپې په حقله څو غلطې نظریې ډیرې خورې شوې دی، چې تفصیل ئې په لاندې ډول دې:

۱- په یقیني توګه ۲۷ د رجب باندې د معراج شپه منل.

۲- د معراج شپه د عبادت شپه ګڼل.

۳- او د عبادت د پاره د یوځه خاص قسمه عبادتونو ټاکل.

د ړومبۍ نظریې رد

۲۷ د رجب لره په یقیني توګه د معراج شپه منل بالکل له سره غلطه ده. په دې کښې په څو قسمونو کښې ډیر اختلافات دی، او یواځې په تاریخ کښې نه بلکه په مبداء (یعنی د کوم ځائ نه چې شروع شوې ده) کښې. په کال کښې، په میاشت کښې، په تاریخ کښې، په ورځه کښې. په هر یو کښې څو څو قولونه دی

مبداء په دې کښې پینځه قولونه دی:

۱- د رسول اللهﷺ خپل کور

۲ - د ام هانی رضي الله عنها کور

۳ - حطیم

۴ - حجر اسود سره نزدې.

۵ - د مقام او د زمزم مینځ.

کال او د مٰـهٔ د اجزاؤ اختلاف:

په دې کښې تقریبا شپږ دیرش(۳۶) قولونه دی:

۱ - مخکښې د پیغمبرکیدو نه.

۲ - د پیغمبر کیدو نه یو کال او شپږ میاشتې وروسته - د روژې میاشت.

۳ - پنځم کال د نبوت.

۴ - د پیغمبر کیدو نه پنځه کاله وروستو - د ربیع الاول میاشت

۵ - شپږم کال د نبوت.

۶ - د پیغمبر کیدو نه لس کاله پس - د ربیع الاول میاشت.

۷ - د پیغمبر کیدو نه لس کاله او درې میاشتې پس - د جمادی الثانی میاشت.

۸ - دولسم کال د نبوت.

۹ - د هجرت نه شپږ میاشتې وړاندې - د روژې میاشت

۱۰ - د هجرت نه اته میاشتې وړاندې - د رجب میاشت

۱۱ - د هجرت نه یو کال وړاندې - د ربیع الاول میاشت

۱۲ - د هجرت نه یو کال او دوه میاشتې وړاندې - د محرم الحرام میاشت

۱۳ - د هجرت نه یو کال او درې میاشتې وړاندې - د ذی الحجې میاشت

۱۴ - د هجرت نه یو کال او خلور میاشتې وړاندې - د ذی قعدې میاشت

۱۵ - د هجرت نه یو کال او پنځه میاشتې وړاندې - د شوال میاشت

۱۶ - د هجرت نه یو کال او شپږ میاشتې وړاندې - د روژې میاشت

۱۷ - د هجرت نه درې کاله وړاندې - د ربیع الاول میاشت

۱۸ - د هجرت نه پنځه کاله وړاندې - د ربیع الاول میاشت

د پیغمبر کیدو د میاشتې په حقله دوه قولونه دی ربیع الاول او د روژې میاشت. او د هجرت په حقله هم دوه قولونه دی د یو قول مطابق د پیغمبر کیدو نه لس کال پس او د بل قول مطابق د پیغمبر کیدو نه دیارلس کاله پس هجرت شوې دې، نو په دې شان سره به ذکر کړې شوې شمیر دوه چنده شی. په ۲ نمبر کښې ۱۷ نمبر او په ۸ نمبر کښې ۱۲ نه تر ۱۲ پورې نمبرې داخلې دی. او سره له دې نه دا هم په دې توګه خان له مستقله شمارلې شوې دی

د میاشتې اختلاف په دې کښې اته قولونه دی
محرام الحرام، ربیع الاول، ربیع الاخر، رجب، رمضان، شوال، ذی قعده او ذی الحجه
په دې کښې د بعضو میاشتو په حقله چې کوم قولونه دی د هغې د سیرت په کتابونو کښې ښکاره تصریح شته . او بعضې د کلونو د ذکر شوی فهرست نه التزاما ثابتیږی.

د تاریخ اختلاف په دې کښې د نهو نه زیات قولونه دی. ۱۲ ربیع الاول، ۱۷ ربیع الاول، ۲۷ ربیع الاول، ۱۷ ربیع الاخر، ۲۷ ربیع الاخر، ۲۷ رجب، ۱۷ رمضان، ۲۷ رمضان، ۲۷ شوال.
دا نهه قولونه د اووه میاشتو په تاریخونو کښې دی. باقی پاتې د درې میاشتو د محرم، ذی قعدې او د ذی الحجې تاریخونه منقول ندی. په دې شان سره به بیا د تاریخ په حقله ټول قولونه د نهو نه زیات شی

د ورځې اختلاف په دې کښې درې قولونه دی: جمعه، هفته او د دوشنبه.
په دې ټولو اقوال کښې د یو قول د پاره هم څه وجه د ترجیح نشته.

د ۲۷ رجب په حقله حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ فرمائی: **وقد اختار الحافظ عبد الغني بن سرور المقدسي في سيرته ان الاسراء كان ليلة السابع والعشرين من رجب وقد اورد حديثا لا يصح سنده ذكرناه في فضائل شهر رجب (بداية ج۳، ص۱۰۹)**

غرض د خبرې دا دې چې هیڅ یو قول هم په څه دلیل باندې مبنی نه دې، دا ټول یواځې خیالونه دی او بس. او څنګه چې معلومه ده چې د دې شپې یا ورځې سره د څه شرعی حکم یا د څه قسمه عبادت څه تخصیص نشته نو له همدې کبله نۀ خو رسول الله ﷺ پخپله د دې اړخ ته څه اشاره فرمائیلې ده او نۀ په صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم کښې چا د دې په حقله د څه پوښتنې څه حاجت ګڼلې دې، د دې ټاکل ئې هسې بې فائدې ښودلې دی او د دې نه ئې بالکل سکوت اختیار کړې دې.
د دې بحث په آخر کښې د ابو امامة بن النقاش، علامه قسطلانی او د علامه زرقانی رحمہم اللہ فیصله هم ولولئ. په مواهب لدنیه مع شرح زرقانی کښې لیکلې شوې دی:

(واما ليلة الاسراء فلم يأت في ارجحية العمل فيها حديث صحيح) اراد به ما يشمل الحسن بدليل قوله (ولا ضعيف ولذلك لم يعينها النبي ﷺ لاصحابه ولا عينها احد من الصحابة باسناد صحيح ولا صح الى الان ولا يصح (الى ان تقوم الساعة فيها شيء) لانه اذا لم يصح من اول الزمان لزم ان لا يصح في بقيته لعدم امكان تجدد واحد عادة يطلع على ذلك بعد الزمن الطويل وهذا لا يشكل عليه ما قيل انه كان ليلة سبع عشرة او سبع وعشرين خلت من شهر ربيع الاول او تسع وعشرين من رمضان او من ربيع الاخر او من رجب او الاخير وعليه

العمل لان ابن النقاش لم یعف الخلاف فیها من اصله و انما فی تعیین لیلة بخصوصها للاسراء وانها اصح (ومن قال فیها شیئا فانما قال من کیسه) ای من عند نفسه دون استناد لنص یعتمد علیه (لمرجع ظهر له استأنس به) لما جزم به (ولهذا) ای عدم اتیان شیء فیها (تصادمت الاقوال فیها و تباینت ولم یثبت الامر فیها علی شیء ولو تعلق بها نفع للامة ولو ذرة) ای شیئا قلیلا جدا (لبینه لهم نبیهم ﷺ) لانه حریص علی نفعهم (انتهی) کلام ابی امامة. (زرقانی علی المواهب ج،ص)

خومره په یقین او په ډاډه زړه د چیلنج او د مقابلې دعوت ورکوی پوره دنیا ته چې په دې حقله هیڅ څوک هم تر قیامته پورې د ضعیف نه ضعیف روایت هم نشی پیش کولې.

د ۲۷ رجب خوریدل د شیعه ګانو اثر دې، د شیعه ګانو په مذهب کښې د وحې او د معراج د شپې ابتداء د ۲۷ درجب نه شوې ده، لکه چې د هغوی په مشهور کتاب (تحفة العوام) کښې لیک دی

شیعه ګانو په چل ول او په چالاکئ او مکارئ سره ډیر په ماهرانه انداز سره خپلې ډیرې عقیدې او نظریې د مسلمانانو په زړونو او په دماغو کښې داسې په تندئ سره رننویستلی دی، چې چا ته د دې خبرې احساس هم ندې شوې، د دوی د دې فریبونو او دهوکو فهرست ډیر اوږد دې، چې په هغې کښې د بعضو ذکر زما په رساله (منکرات محرم) کښې موندلې شی.

د دویمې نظریې رد

د عبادت د پاره د دې شپې څه تخصیص نشته ،نو د دې وجې نه دې لره خاص د عبادت شپه ګڼل بدعت دې. که چیرې د نورو بابرکته او مبارکو شپو په شان د دې شپې په عبادت کښې هم څه فضیلت موجود وې نو رسول الله ﷺ به بیان کړې وو او د امت به ئې دې اړخ ته مخ راګرځولې وو.

پورته د مواهب لدنیه او د شرح زرقانی نه د ابو امامة بن النقاش، علامه قسطلانی او د علامه زرقانی رحمهم الله فیصله او چیلنج نقل کړې شوې دې، چې د دنیا د ختمیدو پورې داسې یو ضعیف نه ضعیف روایت هم نه شی موندلې کیدې.

وقال العلامة الآلوسی رحمه الله بعد نقل الاقوال المختلفة والآراء المضطربة فی تعیین لیلة الاسراء: وهی علی ما نقل السفیری عن الجمهور افضل اللیالی حتی لیلة القدر (الی قوله) نعم لم یشرع التعبد فیها والتعبد فی لیلة القدر مشروع الی یوم القیامة. (روح المعانی: ج،ص)

قال الامام الغزالی رحمه الله: ولیلة سبع و عشرین منه وهی لیلة المعراج و فیها صلوة ماثورة فقد قال ﷺ للعامل فی هذه اللیلة حسنات مائة سنة فمن صلی فی هذه اللیلة اثنتی عشرة رکعة یقرأ فی کل رکعة فاتحة الکتاب وسورة من القران ویتشهد فی کل رکعتین ویسلم فی آخرهن ثم یقول سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله

اكبر مائة مرة ثم يستغفر الله مائة مرة ويصلي على النبي ﷺ مائة مرة ويدعو لنفسه بما شاء من امر دنياه او اخرته ويصبح صائما فان الله يستجيب دعائه كله الا ان يدعو في معصية.

قال العلامة العراقي رحمه الله: (حديث الصلوة الماثورة في ليلة السابع والعشرين من رجب) ذكر ابو موسى المديني في كتاب (فضائل الليالي والايام) ان ابا محمد الخباري رواه من طريق الحاكم ابي عبدالله من رواية محمد بن الفضل عن ابان عن انس رضي الله عنه مرفوعا و محمد بن الفضل و ابان ضعيفان جدا والحديث منكر. (احياء العلوم: ج ۱، ص ۳۱۱)

د دريمې نظريې رد

هر کله چې دا خبره ثابته شوه چې د معراج په شپه په شريعت کښې څه خاص عبادت کول نشته او دې لره د عبادت مياشت ګڼل بدعت دی نو بيا په دې کښې د عبادت د پاره څه خاص طريقه ټاکل او بيا دا سنت ګڼل په اولې طريقې سره ډېر سپيره بدعت او سخته ګناه ده.

د غور او فکر کولو وخت

يو ډېر اهم سوال او ډېر قوي اشکال

د معراج د شپې په ټاکلو کښې څه شپږ ډېرش قولونه دي.

په دومره اهمه او مبارکه شپه کښې دا دومره سخت اختلاف ولې راغلې دې؟

رسول الله ﷺ خو د دې مبارکې شپې تفصيل بيان کړې دې ليکن د دې د ټاکلو نه ولې چپ پاتې شو؟ صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم د دې شپې په لټون کښې کوشش ولې ونهٔ کړو، دومره د انتها درجې بې پروا کيدل چې يو صحابي هم د رسول الله ﷺ نه پوښتنه ونه کړه.

د حضراتو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ سره دومره زيات محبت وو چې د رسول الله ﷺ هغه حالات بلکه د هغوی ﷺ د شکل مبارک هغه نقوش چې هغې سره د شريعت څه حکم هم پيوست نه وو هغې ته به ئې هم ډېر په غوراوفکر سره کتل. د ډېر شوق له کبله به ئې د يو بل نه پوښتنه کوله او يو بل ته به ئې ښودنه هم کوله. اوپه خپل مينځ کښې به ئې يوبل سره په ذکر کولو باندې خوند اخستلو .نو د دې عشق او د مينې باوجود هم هغوی د معراج د شپې په حقله دومره بې پروائي ولې وکړه؟

جواب د دې د جواب د پاره که ټوله دنيا کښېنی او تر قيامته پورې سوچ اوفکر وکړي نو بيا هم د دې خبرې جواب د دې نه بغير بل څه نشی کيدې چې نه خو حضور ﷺ په دې شپه کښې د څه خاص عبادت کولو حکم کړې دې او نه ئې دا فرمائيلې دی چې ګويا د دې شپې د عام عبادت ثواب او فضيلت د نورو شپو د عام عبادت د ثواب او د فضيلت نه زيات دې. د دې وجې نه صحابهٔ

کرامو ﷺ د دې شپې د ټاکلو اړخ ته توجه کول بې فائدې او هسې عبث ګڼل

د دې جواب نه پس هم هغه اشکال لا پاتې دې چې اګر چه د دې شپې سره د شریعت څه حکم پیوست ندې لیکن بیا هم د مینې او محبت دا تقاضا وه چې دې اړخ ته توجه کړې شوې وې، چې د رسول الله ﷺ د شکل مبارک د نقوشو اړخ ته د مینې او محبت د وجې نه دومره توجو کیدې شی چې هغه ضبط کړې شوې دی نو بیا آخر د دې شپې نه دومره بې پروائی ولې کړې شوې ده؟

د دې جواب دا دې چې په دې شپه کښې د بدعاتو د زیادت ډیره زیاته ویره وه.رسول الله ﷺ او صحابهٔ کرامو ﷺ د دې بدعاتو د مخ نیوی په غرض د دې شپې ټاکل مبهم ساتل ضروری وګڼل

د اسلام او په خاص توګه ددې مبارکې شپې بدعاتو نه د خان ساتلو د پاره چې الله تعالی په رسول الله ﷺ باندې کوم تدبیر نازل کړو او چې کوم تدبیر ئې د صحابهٔ کرامو ﷺ زړونو ته القاء کړو نو وروستنیو (د رسول ﷺ عاشقانو) د هغې د قبلولو نه انکار وکړو، د صراط مستقیم نه ئې مخ واړولو او د ۲۷ د رجب تعیین ئې هم په خپل کور کښې په ناسته وکړو.او ورسره ئې د دې تعیین هم وکړو چې دا د عبادت شپه ده او په دې کښې ئې قسماقسم عبادتونه هم له خان نه جوړ کړل.و للهو العاصم من الحوادث فی الدین.

۸ شعبان ۱۴۱۰ هجری

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مَنْ اَحْدَثَ فِيْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ (متفق عليه)

څوک چې زمونږ په دې دين کښې څه نوې بدعت راوباسي چې هغه د دې څخه نوې نو هغه به مردود وي

د براءت د شپې تحقيق

شعبان د مياشتې د پنځلسمې په فضائلو او احکامو کښې يو د عدل او انصاف کلام

****
****

د براءت شپه او مسلمانان

د اوسنې زمانې د مسلمانانو شوق

* د ګناهونو او دمنکراتو د پرېښودو په ځائ يواځې فضائلو ته توجه ورکول او د دنيا او د آخرت د کاميابئ دا پاره د پوره او کافي ګڼل.بلکه د همدې په ذريعه د ولايت تولې درجې ترلاسه کول

* د احاديثو نه د ثابت شوي فضائلو پرېښودل او د ځان نه د جوړ کړې شوو فضائلو او رواياتو اتباع کول

••••••••••
•••••••

صراط مستقيم (نيغه لاره)

د الله تعالى او د هغه د رسول کريمﷺ د ښکاره او واضحه ارشاداتو مطابق د دنيا او د آخرت د دواړو د کاميابئ او د سربلندئ يواځينۍ لار داده چې د الله تعالى او دهغه د رسول کريمﷺ د نافرمانئ نه د ځان او د نورو د ساتلو کوشش او سعى وکړې شي

د الله تعالى د ذکر دې ډېر په کثرت سره د جارى ساتلو اهتمام وکړې شي.او نفلي عبادتونه دې زيات نه زيات وکړې شي خو د سنت طريقې مطابق

بزهد و ورع کوش و صدق وصفا　　ولیکن میفزای بر مصطفى

په دنیا او آخرت کښې د آرام او د سکون نسخه

د قرآن او د حدیث او د روغ او سلامت عقل دا فیصله ده چې په دنیا او آخرت کښې د هر یو مصیبت او د پریشانئ نه د حفاظت او د راحت او آرام او دسکون یواځینۍ ذریعه صرف داده چې «د الله تعالی د ټولو نافرمانیانو نه توبه وه ویستلې شي او خپل ټول ژوند د اسلام مطابق تیر کړې شي»

په کومو روایتونو کښې چې مبارکو وختونو کښې د عبادت کولو یا د ځینې خاص ذکرونو په ذریعه د دنیا او آخرت د مصیبتونو نه د خلاصئ زیری ورکړې شوی دی د هغې مطلب دا دې چې:

۱- په دې نیت دې نفل مونځ یا ذکر وکړې شي چې د دې په برکت سره د ټولو ګناهونو د پرېښودلو او ټول ژوند د شریعت مطابق د تیرولو همت پیدا شي.

۲- د هر قسمه ګناه نه دې ښه په پښیمانتیا سره استغفار وکړی.

۳- او د پوره پوره دین داره جوړیدو د پاره دې هم خپل کوشش کوی.

۴- او د دعا غوښتلو دې هم ښه همیشوالې معمول جوړ کړی.

په دې شرطو سره چې نفل مونځ یا ذکر کوی نو د الله تعالی په رحمت سره به ورته د ګناهونو پرېښودل او پوره ژوند د شریعت مطابق تیرول آسان شي.نو دهرمصیبت نه به ورته خلاصی حاصل شي. د ګناهونو د پرېښودلو د کوشش او د فکر نه بغیر یواځې په ذکر او اذکارو سره د سکون او د آرام د ترلاسه کولو خیال لرل بالکل یو غلط خیال دې او د الله تعالی او د رسول اللهﷺ د ښکاره فیصلو نه خلاف دی.

د براءت (شب قدر) دشپې تحقیق

سوال: د شیخ عبدالعزیز بن باز یو مضمون چاپ شوې دې چې په هغې کښې دا لیکلې شوې دی چې د شعبان (شب قدر) د پنځلسمې شپې څه فضیلت د یو حدیث نه هم ندې ثابت. دا د شام د خلقو د خان نه جوړ کړې شوې بدعت دې، او حال دا دې چې د دې ځائ علماء د دې په فضائلو کښې څو څو احادیث وړاندې کوی. د دې خبرې څه حقیقت دې ؟ مهربانی وکړئ او هغه راته ولیکن بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: ما د محرم د میاشتې په دیارلسم تاریخ د دې پوره تفصیلی جواب په نوم د «دشعبان عظمت» سره لیکلې وو.کوم چې زما په رساله «سات مسائل» یعنی «اووه مسئلې»کښې چاپ شو. نو د دې په ځینې بحثونو باندې ځینو علماوٴ اعتراض کړې دې. له همدې کبله په دې باندې دویم نظر واچولې شو چې حاصل ئې دا دې

۱ د دې شپې نوم «د براءت شپه» د یو روایت نه هم ثابته نه ده

۲ - په دې کښې دقرآن د نازليدو او د تقدير د فيصلې کيدو خبرې د قرآن د نصوصو نه خلاف دی. په دې حقله يو روايت هم داسې قوی نشته چې د هغې د قرآن سره د تعارض د لرې کولو دپاره په مختلفو بې بنياده او د لرې لرې تاويلونو په لټون باندې محنت وکړې شی (تفسير ابن کثير ج ۴.ص ۱۳۷)

۳ - په دې کښې مړو ته د ثواب رسولو چې کوم رواج دې هغه بدعت دې. په جنتی کالی کښې او په اصلاح الرسوم کښې دې ته سنت ونيلې شوی دی ليکن حکيم الامة قدس سره په امداد الفتاوی کښې د دې نه د رجوع کولو اعلان کړې دې. د حضرت حکيم الامة هغه ليک وړاندې راروان دې

۴ - قبرستان ته په تلو کښې او هلته د مړو د پاره په دعا کولو کښې اختلاف دې . چې د دې تفصيل په امدادالفتاوی کښې ذکر شوې دې ، د بدعاتو او د ګناهونو د خوريدو او د فساد د غلبې په دې دور کښې په اتفاق سره دا کار منع دې .

۵ - ددې ورځې روژه د څه داسې يو روايت نه ثابته نده چې په هغې روايت دې اعتبار وکړې شی. د فقهې په يو کتاب کښې هم د دې څه ذکر نشته، د دې وجې نه دا سنت يا مستحب ګڼل روا ندی

۶ - د دې شپې په فضيلت کښې اختلاف دې. يوه ډله په کښې دهر قسم فضيلت نه انکار کوونکې ده د کومې تفصيل چې په دې لاندې کتابونو کښې موندلې شی

۱ ـ احکام القرآن لابن العربی: ج ۴.ص ۱۲۷۸

۲ ـ الجامع لاحکام القرآن للقرطبی: ج ۱۲.ص ۱۲۷

۳ـ لطائف المعارف لابن رجب: ص ۱۲۴

٤ـ الحوادث و البدع للطرطوشی: ص ۱۳

٥ ـ تذکرة الموضوعات للبتنی ص ۴۵

٦ ـ اقتضاء الصراط المستقيم لابن تيمية: ص ۳۰۲

د دې کتابونو عبارتونه په آينده بحثونو کښې راروان دی

په دې باندې د ټول امت اجماع ده چې په دې شپه کښې د څه قسمه عبادت تاکل.په دې کښې د رنګ په رنګ قيدونه او شرطونه او مجلسونه وغيره ټول په بدعات او د ځان نه جوړ کړې شوی دی. په دې حقله چې څومره روايات دی هغه ټول د ځان نه جوړ کړې شوې دی يعنی موضوعی دی

۷ - د راويانو بحث د ځينی علماؤ د کتابونو او ليکنو نه په هغوی باندې د باور د وجې نه نقل کړې شوې وو .په دې علماؤ باندې د باور نه بغير دوی چې کومې حوالې ورکړې وې هغې حوالو ته رجوع کړې شوې وه او د هغې تصديق هم کړې شوې وو .موږ د نور لټون ضرورت ونه ګڼلو ـ وروستنه موږ ته دا خبره معلومه شوه چې دا بحث نيمګړې دې. په دې باندې دې اعتماد ونه کړې

شي.په ځينو نورو کتابونو کښې د ځينو راويانو تعديل والې هم منقول دې د کومې په مدلله کښې چې د جرحې روايتونو مجروح دی
د پورته شميرلی شوو مسئلو تفصيل په ترتيب سره:

۲ - قال الحافظ ابن كثير رحمه الله: ومن قال انها ليلة النصف من شعبان كما روى عن عكرمة فقد ابعد النجعة فان نص القرآن انها في رمضان والحديث الذي رواه عبدالله بن صالح عن الليث عن عقيل عن الزهري: اخبرني عثمان بن محمد بن المغيرة بن الاخنس قال: ان رسول الله ﷺ قال: تقطع الآجال من شعبان الى شعبان حتى ان الرجل لينكح و يولد وقد اخرج اسمه في الموتى فهو حديث مرسل ومثله لا يعارض به النصوص.(تفسير ابن كثير ج۴ص۳۰)

(او چا چې وئيلي دي چې دا د شعبان د مياشتې منځنۍ شپه ده لکه چې د عکرمه نه روايت شوې دې نو هغه ويونکی بالکل بې ځايه خبره کړې ده ځکه چې د قرآن نه دا خبره ثابته ده چې دا شپه د روژې په مياشت کښې ده.او هغه حديث چې په هغې کښې د رسول الله ﷺ نه نقل کړې شوی دی چې د يو شعبان نه تر بله شعبانه پورې فيصلې کيږي تر دې چې يو سړې نکاح کوی او د هغه بچی هم پيدا کيږی او حال دا چې د هغه نوم په مړو کښې ليکلې شوې وی)

دا حديث مرسل دې، په داسې قسمه روايتونو باندې د قرآن د نص تعارض نشی کولې.

(۳ـ۴) فيصله د اکابرينو علماؤ د ديوبند:

د حديثو د الفاظو نه او د شروحو د تحقيق نه دومره قدرې خبره واضحه ده چې د رسول الله ﷺ په دغه شپه بقيع ته تلل او بيا هلته دعا کول د بعضو خصوصياتو له کبله وو. چې په کښې د مسلمانانو د مړو هم په عام رحمت او د مغفرت په دعا کښې د شاملولو اراده وه،اګرکه دا وتل د رسول الله ﷺ او دعا کول د هغوی ﷺ معمول او جاري عادت وی نو بيا هم د دې خاص شپې وتل او بيا دعاکول دادليل دې ددې خبرې چې په دې شپه د برات کښې دعاکول د مړو دپاره مستحب دی لکه چې په دې شپه کښې نازليدل د رحمت دا په خاص توګه دی ځکه چې په احاديثو کښې وارد شوی دی ((ينزل فيها لغروب الشمس)).الحديث

نو همدغه رنګې د رسول الله ﷺ وتل هم د نورو شپو نه ممتاز او په خاص توګه وو.هر ځنګه چې ولې خو دومره قدرې خبره د حديث نه خامخا ثابته ده چې دوی ﷺ په خپله بقيع ته د تلو او بيا هلته په دعا کښې د مشغوليدو دا وجه فرمائيلې ده (ان الله تعالى ينزل ليلة النصف من شعبان).الحديث

نو په دې شپه کښې مقبرې ته وتل او د مړو د پاره دعا کول دا د حديث مدلول دې يعنی په دې باندې حديث دلالت کوی. خو دا خبره ضروری ده چې دا لازمی ګڼل او په دې باندې ټينګار

صحیح ندی. او کومې خرابۍ چې د دې نه راوځي هغه ښکاره دی. نو د دې پېښو د وجې نه د دې نه منع کول احوط دی.

او د صدقې او د خیر خیرات د پاره څنګه چې معلومه ده چې یو مبارک وخت دې. نو د دې وجې نه په دې کښې څه خرابي نه وه. لیکن د عوامو د خاص کولو او د ټاکلو د ګمان په وجه به دا خصوصیت رفع کولې شی.

حاصل د کلام دا چې د صدقې او د خیرات حکم مطلقاً دې. ټول وختونه د دې د پاره محل دی. په خاص توګه په مبارکو او مقبولو وختونو او زمانو کښې د دې دقبلیدو زیاته طمع کولې شی. لیکن د نورو خبرو په وجه به دا خصوصیت منع کولې شی. د مړو د پاره کومه د دعا خبره چې په دې شپه کښې ثابته ده. په هغې باندې په قیاس کولو سره د صدقې او د خیرات خصوصیت ثابتول څه ښه خبره نه ښکاری.

ملا علی قاری رحمه الله چې د دې حدیث په شرح کښې څه لیکلی دی د هغې دلته نقل کول ډیره مناسب معلومیږی: (فقال:ان الله تعالی ینزل)ای من الصفات الجلالیة الی النعوت الجمالیة زیادة ظهور فی هذا المحل،اذ قد ورد فی الحدیث:سبقت رحمتی علی غضبی وفی روایة:غلبت(لیلة النصف من شعبان)و هی لیلة البراءة،ولعل وجه تخصیصها لانها لیلة مبارکة،فیها یفرق کل امر حکیم و یدبر کل خطب عظیم.مما یقع فی السنة کلها من الاحیاء والاماتة وغیرهما حتی یکتب الحجاج وغیرهم(الی السماء الدنیا)ای قاصدا الی السماء القریبة من اهل الدنیا المتلوثین بالمعصیة المحتاجین الی انزال الرحمة علیهم و انزال المغفرة،و ظاهر الحدیث ان هذا النزول المکنی به عن التجلی الاعظم و نزول الرحمة الکبری والمغفرة للعلمین،لا سیما اهل البقیع یعم هذه اللیلة فتمتاز بذلک علی سائر اللیالی،اذ النزول الوارد فیها خاص بثلث اللیل(فیغفر لا کثر من عدد شعر غنم کلب)ای قبیلة بنی کلب،و خصهم لانهم اکثر غنما من سائر العرب،نقل الابهری عن الازهار:ان المراد بغفران اکثر عدد الذنوب المغفورة لا عدد اصحابها،و هکذا رواه البیهقی.اما الحدیث الاتی فیغفر لجمیع خلقه،فالمراد اصحابها،و الحاصل ان هذا الوقت زمان التجلیات الرحمانیة والتنزلات الصمدیة والتقربات السبحانیة الشاملة للعام والخاص،وان کان الحظ الاوفی لارباب الاختصاص،فالمناسب الاستیقاظ من نوم الغفلة والتعرض لنفحات الرحمة،و انا رئیس المستغفرین و انیس المسترحمین وشفیع المذنبین،بل ورحمة للعلمین خصوصا اموات المسلمین من الانصار والمهاجرین،فلا یلیق لی الا ان اکون متحفلا بین یدی ربی ادعو بالمغفرة لامتی و اطلب زیادة الرحمة للذاتی،فانه لیس لاحد ان یستغنی عن نعمته او یستنکف عن عبادته و التعرض لخزائن رحمته،وقد اراد الله لک الخیر بالقیام و ترک المنام و متابعة سید الانام و حصول المغفرة،قبیر کته ﷺ انتهی.(مرقاة شرح مشکوٰة) فقط......

کتبه عزیز الرحمن عفی عنه

۱۴ رمضان المبارک ۱۳۳۳ هجری

احقر اشرف علی داعرض کوی چې له دې سره یوه پرچه هم وه چې په هغې کښې لیکل شوی وو ،بنده چې په دې کښې څه لیکلی دی هغه ئې مشر مولوی صاحب ،یعنی مولانا محمود الحسن صاحب، سلمه ته اورولی دی ،

او خلاصه د دیوبند د دې فیصلې دا ده چې : د احقر د دعوی دوه جزئونه وو:

یو دا چې حدیث د عائشې ﷞ دال دې په من وجه تخصیص لیلة البراءة بالدعاء للاموات باندې .

دویم دا چې په دې دعا باندې نورې طریقې د ثواب رسولو قیاس کولې شی.په دې فیصله کښې رومبې جزء په خپل ځائ باندې قائم ساتلې شوې دې لیکن د غوارضو له کبله مقبرې ته د وتلو په حقله منعې ته احوط وئیلې شوې دی .

او د ځینی وروستنیو علماؤ تصریح نه هم د دې مرسته کیږی. لکه چې د دیوبند په یو کارډ نمبر۱۳ رمضان المبارک کښې لیکلې شوې دې په کښې قدرمند جواب ورکوونکی دا عبارت لیکلې دې:

،دا خیال مې و نه کړو چې آیا فقهاؤ هم د شب قدر په شپه قبرونو له د تګ په حقله چرته مستحب والې لیکلې دې او که نهٔ؟ د لټون د پاره راته وخت په لاس رانغلو او چې کوم ځائ کښې مې کتلې هم دې نو په هغې کښې مې څه صراحت ونه موندلو .آو دومره قدرې خبره ده چې مولانا عبدالحلیم لکهنوی په رساله نورالایمان کښې د یو غیر معروف کتاب ،غرائب، په حوالې سره دې شپه کښې قبرونو دپاره دوتلو مستحبوالې نقل کړې دې،او دهمدې حدیث نه ئې استدلال کړې دې، او د دویم جزء نفی کړې شوې ده،نو زهٔ د خپلې دعوې د دویم جزء نه رجوع کوم او د رومبی جزء د ثابت لرلو نه پس هم مقبرې ته د وتلو په حقله منع احوط ګنم،او د حضراتو علماء کرامو د پاره دعا کوم چې چا ما ته لاره وښودله .

د ،اصلاح الرسوم، کتونکی دې په دې خبره باندې خبر شی او که چرې ،اصلاح الرسوم، چیرته چاپ کیږی نو په هغې دې زما دا رجوع د حاشیې په ډول ولیکلې شی. فقط. ،امدادالفتاوی، ج ۴،ص ۲۲، ۱۳۳۳ هجری .

۲ ،۱، قال الامام ابن العربی رحمه الله: وجمهور العلماء علی انها لیلة القدر ومنهم من قال:انها لیلة النصف من شعبان وهو باطل لان الله تعالی قال فی کتابه الصادق القاطع:(شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن)فنص علی ان میقات نزوله رمضان ثم عبر عن زمانیه اللیل ههنا بقوله:(فی لیلة مبارکة) فمن زعم انه فی غیره فقد اعظم الفریة علی الله ولیس فی لیلة النصف من شعبان حدیث یعول علیه لا فی فضلها ولا فی نسخ الاجال فیها فلا تلتفتوا الیها.(احکام القرآن ج۴ص۱۶۹۰)

د جمهور علماؤ دا فيصله ده چې دا ليلة القدر ده او د ځينو علماؤ دا خيال دې چې دا د شعبان د مياشتې نيمائي شپه ده. دا خيال بالكل باطل دې، ځكه چې الله تعالى په خپل ريښتونى او قطعي كتاب كښې فرمائيلې دى (شهر رمضان الذى انزل فيه القرآن).

نو الله تعالى دا په صراحت سره اوفرمائيل چې قرآن پاک په روژه كښې نازل شوې دې، بيا دلته د قرآن د نازليدو شپې ته مباركه شپه وئيلې شوې ده، نو چې چا د روژې د مياشتې نه بغير په بله مياشت كښې د قرآن د نازليدو خيال او قول ښكاره كړو هغه په الله تعالى باندې ډير غټ دروغ وتړل. د شعبان د مياشتې د نيمائي شپې په حقله كوم قوى حديث نشته چې په هغې دې باور وكړې شي. او نه د دې د فضيلت په حقله او نه په دې كښې د تقدير د فيصلو په حقله څه د باور قابل حديث شته. د دې وجه نه ددې شپې ارخ ته ډيره توجه مه وركوئ.

(۲) قال الاما القرطبى رحمه الله: قلت: وقد ذكر حديث عائشة رضي الله عنها مطولا صاحب كتاب العروس و اختار ان الليلة التى يفرق فيها كل امر حكيم ليلة النصف من شعبان وانها تسمى ليلة البراءة وقد ذكرنا قوله و الرد عليه فى غير هذا الموضع و ان الصحيح انما هى ليلة القدر على ما بيناه روى حماد بن سلمة قال: اخبرنا ربيعة بن كلثوم قال: سال رجل الحسن وانا عنده فقال: يا ابا سعيد ارايت ليلة القدر الى كل رمضان هى؟ قال: اى والله الذى لا اله الا هو، انها فى كل رمضان، انها ليلة التى يفرق فيها كل امر حكيم فيها يقضى الله كل خلق و اجل ورزق و عمل الى مثلها وقال ابن عباس رضي الله عنه: يكتب من ام الكتاب فى ليلة القدر ما يكون فى السنة من موت و حياة و رزق و مطر حتى الحج يقال: يحج فلان و يحج فلان وقال فى هذه الاية: انك لترى الرجل يمشى فى الاسواق وقد وقع اسمه فى الموتى وهذه الابانة لاحكام السنة انما هى للملئكة الموكلين باسباب الخلق وقد ذكرنا هذا المعنى انفا وقال القاضى ابوبكر بن العربى: وجمهور العلماء على انها ليلة القدر ومنهم من قال انها ليلة النصف من شعبان وهو باطل لان الله تعالى قال فى كتابه الصادق القاطع: (شهر رمضان الذى انزل فيه القرآن) فنص على ان ميقات نزوله رمضان ثم عين من زمانه الليل ههنا بقوله: (فى ليلة مباركة) فمن زعم انه فى غيره فقد اعظم الفرية على الله وليس فى ليلة النصف من شعبان حديث يعول عليه لا فى فضلها ولا فى نسخ الاجال فيها فلا تلتفتوا اليها. (الجامع لاحكام القرآن: ج۱۶، ص۳۰)

د كتاب «العروس» ليكوال د حضرت عائشې رضي الله عنها نه يو اوږد حديث نقل كړې دې او وئيلې ئې دى چې د دې مبارک آيت (فيها يفرق كل امر حكيم) نه د شعبان د مياشتې نيمائي شپه مراده ده. په دې كښې د تقدير فيصلې كيږى. او د دې نوم ليلة البراءة دې. مونږ د دې خبرې په دې خيال باندې

په مل ځاني کښې رد کړي دي. او ثابت کړي مو دي چې د دې نه مراد ليلة القدر دي. حماد بن سلمه رنيلي دي چې مونږ ته ربيعه بن كلثوم اووئيل چې يو سړي زما په وړاندې د حسن بصري رحمه الله نه پوښته وکړه چې آيا ليلة القدر د هرې روژې په مياشت کښې وي؟ نو هغوی ورته په جواب کښې اوفرمائيل آو په هغه الله مې دې قسم وی چې بې د هغه نه بل څوک د عبادت لائق نشته دا خبره بغير د شک نه ده چې هغه شپه په هره مياشت د روژې کښې وی. همدا هغه شپه ده چې د دې په حقله په قرآن شريف کښې د (فيها يفرق كل امر حكيم) الفاظ راغلي دی. په همدې کښې د تقدير فيصلې کيږي. الله تعالى په دې شپه کښې د پيدايش، د مرګ، د رزق او د نورو کارونو وغيره د هر څيز په حقله فيصله فرمائي.

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي «هغه ټول هر څه چې په ټول کال کښې کيدونکي دی هغه په ليلة القدر کښې د لوح محفوظ نه ليکلې شي. مرګ او ژوند، رزق او باران تر دې چې دا هم ليکلې کيږي چې فلانې به حج کوی. ته به يو سړې وينې چې هغه په بازارونو کښې ګرځي راګرځي او حال دا چې د هغه نوم په مړو کښې ليکلې شوې وی. او دا د ټول کال د حکمونو ښکاره کيدل د هغه فرشتو د پاره کيږي چې د مخلوق اسباب د چا په ذمه دی».

او قاضی ابوبکر بن العربی فرمائيلي دی: «د جمهورو علماؤ دا فيصله ده چې دا ليلة القدر دې او د بعضو خيال دا دې چې د شعبان د مياشتې نيمائی شپه ده، دا خيال بالکل باطل دې. د دې وجې نه چې الله تعالى په خپل رښتونی او قطعی کتاب کښې فرمائيلي دی (شهر رمضان الذی انزل فيه القرآن) نو الله تعالى ښه په صراحت سره اوفرمائيل چې قرآن شريف د روژې په مياشت کښې نازل شوې دې. بيا دلته ئې هغه شپې ته چې په کښې قرآن شريف نازل شوې دې هغې ته ئې (ليلة مباركة) اوفرمائيله. نو د دې نه پس چې څوک د روژې نه بغير په بله مياشت کښې د قرآن د نازليدلو د خيال اظهار وکړو نو هغه په الله تعالى باندې ډير غټ دروغ وتړل. د شعبان د مياشتې د نيمې شپې په حقله څه د باور قابل حديث نشته. او نه د دې د فضيلت په حقله او نه په دې کښې د تقدير د فيصلې کولو په حقله څه حديث شته. د دې وجې نه د دې شپې ارخ ته څه التفات مه کوئ.

(۳) قال الحافظ ابن رجب رحمه الله تعالى: وليلة النصف من شعبان كان التابعون من اهل الشام كخالد بن معدان ومكحول ولقمان بن عامر وغيرهم يعظمونها ويجتهدون فيها فى العبادة وعنهم اخذ الناس فضلها وتعظيمها وقد قيل انه بلغهم فى ذلك آثار اسرائيلية فلما اشتهر ذلك عنهم فى البلدان اختلف الناس فى ذلك فمنهم من قبله منهم ووافقهم على تعظيمها منهم طائفة من عباد اهل البصرة وغيرهم وانكر ذلك اكثر علماء الحجاز منهم عطاء وابن ابى مليكة ونقله عبد الرحمن بن زيد بن اسلم عن فقهاء اهل المدينة

اصحاب مالك وغيرهم وقالوا: ذلك كله بدعة واختلف علماء اهل الشام في صفة احيائها على قولين: احدهما انه يستحب احياؤها جماعة في المساجد كان خالد بن معدان ولقمان بن عامر وغيرهما يلبسون فيها احسن ثيابهم ويتبخرون ويكتحلون ويقومون في المسجد ليلتهم تلك ووافقهم اسحق بن راهويه على ذلك وقال في قيامها في المساجد جماعة ليس ذلك ببدعة نقله عنه حرب الكرماني في مسائله والثاني انه يكره الاجتماع فيها في المساجد للصلوة والقصص والدعاء ولا يكره ان يصلي الرجل فيها لخاصة نفسه وهذا قول الاوزاعي امام اهل الشام وفقيههم وعالمهم وهذا هو الاقرب ان شاء الله تعالى وقد روى عن عمر بن عبد العزيز رحمه الله انه كتب الى عامله الى البصرة: عليك باربع ليال من السنة فان الله يفرغ فيهن الرحمة افراغا: اول ليلة من رجب وليلة نصف من شعبان وليلة الفطر وليلة الاضحى وفي صحته عنه نظر وقال الشافعي رضي الله عنه: بلغنا ان الدعاء يستجاب في خمس ليال ليلة الجمعة والعيدين واول رجب ونصف شعبان قال: واستحب كل ما حكيت في هذه الليالي ولا يعرف للامام احمد رحمه الله كلام في ليلة نصف شعبان ويتخرج في استحباب قيامها عنه روايتان من الروايتين عنه في قيام ليلتي العيدين فانه في رواية لم يستحب قيامها جماعة لانه لم ينقل عن النبي ﷺ واصحابه واستحبها في رواية لفعل عبد الرحمن ابن يزيد بن الاسود لذلك وهو من التابعين فكذلك قيام ليلة النصف لم يثبت فيها شيء عن النبي ﷺ ولا عن اصحابه وثبت فيها عن طائفة من التابعين من اعيان فقهاء اهل الشام. (لطائف المعارف: ص۲۶۳)

«د شام بعضې تابعینو لکه خالد بن معدان، مکحول، لقمان بن عامر او د دوی نه علاوه نورو به هم د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې تعظیم کولو او په دې کښې به ئې د زیات عبادت کولو کوشش کولو. د همدې خبرې نه خلقو د دې شپې فضیلت او لویې اخستې ده. او په یقین سره دا خبره کړې شوې ده چې هغوی ته د دې خبرې په حقله اسرائیلې روایات رسیدلې وو. چې د هغوی دا عمل په مختلفو ښارونو کښې خور شو نو علماؤ په دې کښې اختلاف وکړو. بعضو دا خبره قبوله کړه او د دې شپې د تعظیم په حقله ئې د هغوی ملګرتیا وکړه. په دې کښې د بصرې د عبادت ګذارو یوه ورکې شان ډله شامله ده. او د حجاز اکثرو علماؤ د دې نه انکار وکړو. په دوی کښې عطاء او ابن ابی ملیکه رحمه الله هم دی. عبدالرحمن بن زید بن اسلم د فقهاؤ د مدینې رحمهم الله نه هم همداسې نقل کړې دی. د امام مالک رحمه الله د ملګرو او د نورو فقهاؤ رحمهم الله هم همدغسې قول دې. هغوی فرمائی چې دا ټول بدعت دې

بیا پدې شپې کښې د عبادت په حقله د شام د خلقو دوه قوله دی یو دا چې په جماعتونو کښې دې په جمعې سره نفلونه وکړې شی خالد بن معدان او لقمان بن عامر وغیره به په دې شپه کښې ښه

به سر تعوسلو، عظ به نه، لکول.او رانجه نه نې، هم اجول او به جماعت کښې به نې به جمعې سره
جمع به کول. اسحق بن راهو به هم د دوی ملګرتیا کړې ده.او فرمائي چې به جمات کښې په جمعې
سره نفل مونځ کول بدعت نه دي
دوېم قول دا دي چې په جماعتونو کښې د مونځ، وعظ او د دعا د پاره اجتماع کول مکروه دی.
خو له مونځ کول مکروه نه دی، دا قول د شام د خلقو دامام، فقيه، او عالم امام اوزاعی رحمه الله دي او
هم دا سنت ته نزدې خبره ده ان شاء الله تعالى

د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله نه روايت دي چې هغوی په بصره کښې خپل عامل ته وليکل
چې په خلورو شپو کښې عبادت کول سنت دی، د دې شپو اهتمام وکړه، په دې کښې الله تعالى
نه رحمت راوروی. هغه شپې دادی د رجب رومبئ شپه، د شعبان پنځلسمه شپه، د وړوکی اختر
شپه او د غټ اختر شپه . د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله نه د دې روايت صحت مخدوش دي

حضرت امام شافعي رحمه الله فرمائي مونږ ته دا خبر رارسيدلې دي چې په پنځو شپو کښې دعاء
قبلیږي. جمعه، د اخترونو شپې، د رجب د مياشتې رومبئ شپه، او د شعبان د مياشتې د نيمائي
شپه، د دې شپو په حقله چې کومې خبرې هم نقل کړې شوې دی زه هغه مستحب ګنړم

امام احمد رحمه الله نه د شعبان د مياشتې د نيمائي شپې په حقله څه صراحت نه دې مشهور، د دوی
رحمه الله نه د اخترونو د شپو په حقله دوه روايته نقل شوی دی په يو روايت کښې ئې په جمعې سره
مونځ ندې خوښ کړې ځکه چې دا د رسول الله ﷺ نه او د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه ندی منقول
او په دويم روايت کښې ئې دا خوښ کړی دی ځکه چې عبد الرحمن بن يزيد بن الاسود رحمه الله داسې
کړې دی او دې تابعي وو، او د شام په خلقو کښې د لويو لويو او مشرانو فقهاء کرامو د يوې ډلې
نه هم دا ثابت دی

(۱) وقال الامام ابو بكر الطرطوشي رحمه الله: وروى ابن وضاح عن زيد بن اسلم رحمه الله: ما ادركنا احدا من
مشيختنا ولا فقهائنا يلتفتون الى النصف من شعبان ولا يلتفتون الى حديث مكحول ولا يرون لها فضلا على
ما سواها. وقيل لابن ابي مليكة: ان زياد النميري يقول: ان اجر ليلة النصف من شعبان كاجر ليلة
القدر فقال: لو سمعته وبيدي عصا لضربته وكان زياد قاصا. (الحوادث والبدع: ص۰۰)

زيد بن اسلم رحمه الله فرمائي مونږ په خپلو مشائخو او فقهاء رحمهم الله کښې داسې هيڅوک هم ونه
موندلو چې هغه د شعبان د نيمائي شپې ته يا د مکحول حديث ته څه التفات کوی، دې حضرتو به
دې شپې لره په نورو شپو باندې فضيلت نه ورکولو ،
ابن ابی مليکه رحمه الله ته چا اووئيل چې زياد نميری وائی چې د شعبان د مياشتې د نيمائی شپه
د اجر په اعتبار سره د ليلة القدر برابره ده،

ابن ابی ملیکه رحمه الله چې دا واوریدل نو وې فرمائیل ،که چیرته ما د هغه نه دا خبره اوریدلې او زما په لاس کښې یو همسا وې نو ما به هغه وهلې وو ،دا زیاد چې وو دا قصې وبوونکې وو

(۵) وقال العلامة محمد طاهر المتني رحمه الله :قال زید بن اسلم رحمه الله :ما ادرکنا احدا من مشائخنا ولا فقهائنا یلتفتون الی لیلة البراءة ولفضلها علی غیرها وقال ابن دحیة :احادیث صلوة البراءة موضوعة وواحد مقطوع ومن عمل بخبر صح انه کذب فهو من خدم الشیطان (تذکرة الموضوعات:ص۴۰)

زید ابن اسلم رحمه الله فرمائی ،مونږ په خپلو مشانخو او فقهاء رحمهم الله کښې داسې یو څوک هم ونه موندلو چې هغه د شعبان د نیمائی شپې ارخ ته التفات کوی

ابن دحیه فرمائی ،د برات د شپې د مونځ په حقله چې څومره روایتونه دی هغه ټول موضوعی دی او په دې کښې یو مقطوع دې. کوم سړې چې په داسې روایتونو باندې عمل کوی چې د هغې دروغ کیدل ثابت وی نو هغه د شیطان په خادمانو کښې شمیر دې).

(۶) دا نمبر په آخره کښې د الحاق د لاندې راروان دې (یعنی چې کوم مضمون ورسره وروستو پیوسته کړې شوې دې نو د دې نمبر تفصیل په هغې کښې راروان دې).

څلور واړه امامان رحمهم الله : پورته د ۲ نمبر د لاندې چې کومې شمیرې دی په هغه شمیرو کښې په ۳ نمبر کښې د حافظ ابن رجب رحمه الله د تحقیق مطابق د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې په حقله د څلورو واړو امامانو رحمهم الله قولونه دا دی

حضرت امام اعظم او د دوی ملګری رحمهم الله : د احنافو په امامانو رحمهم الله کښې دیو نه هم د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې په حقله څه قول نقل ندې .

حضرت امام مالک رحمه الله : د دوی نه هم څه قول نقل ندې .

د امام مالک رحمه الله ملګری : د امام مالک رحمه الله ملګری رحمهم الله د دې شپې د فضیلت نه انکار کوی

حضرت امام شافعی رحمه الله : دوی رحمه الله فرمایئ مونږ ته خبر رارسیدلې دې زه دا مستحب ګنړم

د امام شافعی رحمه الله په ټول کلام د غور او فکر کولو نه پس دا خبره ثابتیږی چې د دوی دا خیال په هغه روایتونو باندې بنا دې کوم چې دوی ته د ځینې تابعینو رحمهم الله نه رارسیدلی وو .د دوی په علم کښې د رسول الله ﷺ یو حدیث یا د چا صحابی رضی الله عنه څه روایت نه وو .په دې باندې دا شواهد دی

۱ (بلغنا) مونږ ته خبر رارسیدلې دې . که د دوی رحمه الله په علم کښې د رسول الله ﷺ حدیث یا د چا صحابی رضی الله عنه څه قول وې نو دوی به بیان کړې وو

۲ واستحب کل ما حکیت فی هذه اللیالی ،(د دې شپو په حقله چې کومې خبرې نقل کړې شوې دی زه هغه ټولې مستحب ګنړم

د دي نه هم دا ثابتیږی چې د امام شافعي رحمه الله دا قول د مستحبوالی په هغه روایتونو باندې بنا دې کوم چې د بعضې تابعینو رحمهم الله نه دوی ته رسیدلې وو، او بیا هغه روایتونه هم دوی ته په څه کلک او پوخ سند سره نه وو رسیدلې (رویت) دا صیغه د تضعف ده، دلته دا (رویت) هم نښته بلکه د هغې په ځای (حکیت) راغلې دې چې دا د هغې نه هم زیات ضعیف دې.

او د رجب د ړومبۍ شپې او د اخترونو په شپو کښې د عبادت کولو د فضیلت په حقله چې کوم روایت راغلې دې هغه هم د قبلولو قابل نه دې.

قال الحافظ ابن القیم رحمه الله: کل حدیث فی ذکر صوم رجب و صلاة بعض اللیالی فیه فهو کذب مفتری (المنار المنیف: ص۹۶)

(هر هغه حدیث چې په هغې کښې د رجب د میاشتې د روژې یا د هغې په بعضو شپو کښې د مونځ کولو ذکر دې هغه حدیث دروغ او د ځان نه جوړ شوې دې).

قال العلامة الالبانی: من احیا لیلة الفطر و لیلة الاضحی لم یمت قلبه یوم تموت القلوب موضوع (سلسلة الضعیفة والموضوعة: ج۲، ص۱۱)

(چا چې الله تعالی نه د اجر په نیت سره د اخترونو په شپو کښې مونځ وکړو د هغه زړه به نه مری په هغه ورځ چې زړونه به په کښې مړکیږی) دا حدیث ضعیف دې.

حضرت امام احمد رحمه الله د دوی نه څه قول نقل نه دې.

دا د امام ابن رجب رحمه الله چې په ۷۹۵ هجرئ کښې وفات شوې دې دهغه تحقیق دې، لیکن د محمد بن مفلح رحمه الله چې په ۷۶۳ هجرئ کښې وفات شوې دې هغه فرمائی چې د امام احمد رحمه الله نه د فضیلت دا روایت نقل کړې شوې دې. **ونصه: ولیلة النصف لها فضیلة فی المنقول عن احمد رحمه الله وقد روی احمد و جماعة من اصحابنا وغیرهم فی فضلها اشیاء مشهورة فی کتب الحدیث (کتاب الفروع کتاب الصیام: ج۳،ص۱۲۰)**

دا دواړه حضرات حنبلیان دی او دواړه په یوه زمانه کښې تیر شوې دی. او دواړه د یو ښار (دمشق) اوسیدونکی دی. ابن مفلح مقدسی ثم دمشقی دې. او ابن رجب بغدادی ثم دمشقی دې، د دې باوجود هم د دې دواړو د خپل امام نه د روایت په حقله اختلاف دې. د تعارض د رفع کول دا صورتونه کیدې شی

۱. **(فی المنقول عن احمد)** نه د مذهب روایت مراد ندې بلکه د حدیث روایت ترې نه مراد دې. **کما هو ظاهر من قوله (فی کتب الحدیث)** او د حدیث روایت د مذهب روایت لره مستلزم نه دې

۲ - د شعبان د مياشتې په نيمائي شپې کښې د مونځ کولو څه مستقل روايت منقول ندې. بلکه د دې تخريج د (الهام لهاي العيدين) نه شوې دې. لکه څه رنګه چې ابن رجب ﷫ وئيلې دی

۳ - ابن رجب ﷫ زيات مشهور او زيات مقبول دې. د دې وجې نه د دوی تحقيق راجع معلوميږي. د ابن رجب ﷫ وفات د ابن مفلح ﷫ د وفات نه ۳۲ کاله پس شوې دې د دې باوجود هغه د احمد ﷫ د روايت نه منکر دې. د دې نه دا خبره ثابتيږي چې هغه به د ابن مفلح ﷫ د قول د محمل نه بالکل خبر وو. برابره خبره ده که هغه د دې دواړو محاملو نه يو محمل وی کوم چې ما وليکل او که نه بل يو محمل وی.

او که چيرې د امام احمد ﷫ نه څه روايت نقل کړې شوې هم وی نو بيا هغه دومره غير معروف اومشهور دې چې هغه د دريمې صدۍ د مينځ نه واخله د اتمې صدۍ تر آخره پورې په پنځه نيم سوه کاله غوندې لويه موده کښې هم د حنبلی مذهب لوئ امام، امام بن رجب ﷫ ته نه وو رسيدلې

دويم اختلاف

د ابن رجب ﷫ متوفی ۷۹۵ هجری د ذکر شوی تحقيق نه ثابتيږي چې د مدينې منورې فقهاء. د امام مالک ﷫ ملګری او د حجاز اکثر علماء د نفس فضيلت نه انکاريان دی او نجم غيطی فرمائي چې دا حضرات د نفس فضيلت نه منکر نه دی، صرف اجتماع لره بدعت بولی، خان له د عبادت کولو د مستحبوالی قائل دی.

كذا نقل عنه الزبيدي ﷫ المتوفى ... في الاتحاف (ج ... ص ...)

وكذا قال الشرنبلالي ﷫ المتوفى ... هجري ولم يعزه الى احد (مراقي الفلاح: ص ...)

د تطبيق کولو څه صورت په نظر نه راځی نو له همدې کبله د ترجيح صورت به اختيار شی. ابن رجب ﷫ د مذهب مشهور امام دې او د دې نه علاوه د زمانې او د درجې په لحاظ هم وړاندې دې. نجم غيطی ﷫ متوفی ۹۸۴ هجری د هغوی نه دوه سوه کاله وروستو تير شوې دې. او بيا د دوی نه د نقل کوونکی «زبيدی» د دوی سره د درې سووکالو فاصله ده. که چيرې د غيطی په څه کتاب کښې وی نو هغه د ابن رجب د کتاب په شان معروف ندې

شرنبلالی ﷫ د ابن رجب ﷫ نه درې سوه کاله پس تير شوې دې. دوی هيڅ يوه حواله هم نده ليکلې. ممکنه ده چې د نجم غيطی نه ئې نقل کړې وی. د کومې حال چې پورته وليکلې شو. د دې وجې نه دا قول د امام ابن رجب ﷫ د قول مقابله نه شی کولې

د دې اختلاف په دې حقيقت باندې هيڅ اثر هم نه غورځيږي چې د امام مالک ﷫ د شعبان د مياشتې د نيمائي شپې د فضيلت په حقله څه روايت هم نه دې نقل کړې شوې

دا تحقيق د څلورو واړو امامانو ﷺ په حقله وو. په دې کښې هيڅ شک نشته چې د څلورو

واړو امامانو ﷭ جمهور مقلدین د نفس فضیلت قائله دی.

د حدیث روایتونه:

قال الامام ابن رجب رحمه الله: وفی فضل لیلة نصف شعبان احادیث اخر متعددة وقد اختلف فیها فضعفها الاکثرون وصحح ابن حبان بعضها وخرجه فی صحیحه ومن امثلها حدیث عائشة رضی الله عنها قالت: فقدت النبی ﷺ الحدیث خرجه الامام احمد والترمذی وابن ماجة وذکر الترمذی عن البخاری انه ضعفه. (لطائف المعارف: ص ۱۴۳)

د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې په حقله نور ډیر ګڼ روایات دی چې په کښې اختلاف دې. اکثرو محدثینو دې لړې ضعیف وئیلې دی. ابن حبان په دې کښې بعضو ته صحیح وئیل دی، او په خپل کتاب (صحیح ابن حبان) کښې ئې ذکر کړې دی، په دې کښې د ټولو نه غوره حدیث د عائشې رضی الله عنها دې، د دې حدیث تخریج امام احمد، ترمذی او ابن ماجه ﷭ کړې دې، امام بخاری رحمه الله دې ته ضعیف وئیلی دی.

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې کوم حدیث ابن حبان صحیح ګڼلې دې او په خپل کتاب کښې ئې لیکلې دې هغه د دې حدیث نه هم زیات ضعیف دې کوم ته چې امام بخاری رحمه الله ضعیف وئیلی دی.

د ضعیف حدیث د حکم تفصیل زما په رساله (په ضعیف حدیث باندې په عمل کولو کښې مفاسد) کښې موجود دې. دا رساله په اردو کښې ده (مترجم)

الحاق

د لیکلو په وخت کښې د فضیلت د منکرینو د تفصیل سره متعلق پنځه کتابه زما وړاندې وو، د کومو عبارتونه چې لیکلې شوې دی. د لیک د سر ته رسولو نه پس شپږم کتاب (اقتضاء الصراط لابن تیمیه) کښې هم د منکرینو د تفصیل بیان تر لاسه شو چې هغه هم لاندې لیکلې شی

(۶) قال الامام ابن تیمیة رحمه الله: ومن العلماء من السلف من اهل المدینة وغیرهم من الخلف من انکر فضلها وطعن فی الاحادیث الواردة فیها کحدیث (ان الله یغفر فیها لاکثر من عدد شعر غنم بنی کلب) وقال: لا فرق بینها وبین غیرها. لکن الذی علیه کثیر من اهل العلم او اکثرهم من اصحابنا وغیرهم علی تفضیلها وعلیه یدل نص احمد رحمه الله لتعدد الاحادیث الواردة فیها وما یصدق ذلک من الآثار السلفیة وروی بعض فضائلها فی المسانید والسنن وان کان قد وضع فیها اشیاء آخر فاما صوم یوم النصف مفردا فلا اصل له بل افراده مکروه. (اقتضاء الصراط المستقیم: ص ۳۰۲)

د مدینې د خلفو نه سلفو علماؤ او د مدینې د علماؤ نه بغیر هم ځینو علماؤ د دې شپې د فضیلت نه انکار کړې دې او په دې حقله چې کوم احادیث وارد شوې دی هغو ته ئې د اعتماد قابل

نه دي وئيلي).

ليکن ډير يا اکثره علماء د دې د فضيلت قائل دی، د امام احمد رحمه الله د تصريح نه هم همدا ثابته ده، په دې حقله د ډيرو احاديثو او د سلفو د آثارو له کبله د دې شپې بعضې فضائل په مسانيدو او په سننو کښې روايت کړې شوي دی. اګرچه په دې کښې خو د ځانه جوړ کړې شوی څيزونه هم ګډ کړي شوي دی، د دې ورځې د روژې څه ثبوت نشته، بلکه ځان له يواځې د دې ورځې روژه نيول مکروه دی.

د دې نه دا لاندې خبرې ثابتې شوې:

١- د امام احمد رحمه الله نه د تفصيل د روايت ثبوت، ليکن دې حقيقت نه مخ نه شی اړول کيدې چې د امام ابن تيميه رحمه الله وفات په ۷۲۸ هجرئ کښې شوې دې او د امام ابن رجب وفات په ۷۹۵ هجرئ کښې شوي دې، د درې شپيتو کالو غوندې لويه موده کښې هم دا روايت امام ابن رجب رحمه الله ته ونه رسيدلو او حال دا چې دې د حنبلی مذهب مشهور امام دې، د دې نه دا خبره ثابتيږی چې دا روايت ډير غير مشهور او غير معروف دې، د دې وجې نه امام ابن رجب رحمه الله (ولا يعرف للامام احمد رحمه الله كلام) اوفرمائيل.

٢- د دې نه د امام ابن رجب رحمه الله د تحقيق نوره مرسته هم وشوه او دا حقيقت نور هم زيات واضحه شو چې د ديوبند علماء او د امام مالک ملګری رحمهم الله د نفسِ فضيلت منکر دی. د نجم غيطی رحمه الله خيال صحيح ندې چې دا حضرات صرف د اجتماع او د احتفال منکر دی او د نفسِ فضيلت قائله دی.

د علامه طرطوشی او د علامه پټنی رحمهما الله په ليکونو کښې د نفسِ فضيلت نه د انکار صراحت وړاندې تير شوي دې او د زيد ابن اسلم دا ارشاد هم چې: ما ادركنا احدا من مشايخنا و فقهائنا يلتفتون الى ليلة البراءة وفضلها على غيرها.

(مونږ په خپلو مشايخو او فقهاؤ کښې يو هم داسې نه دې موندلې چې هغه د شعبان د مياشتې د نيمائی شپې ارخ ته څه التفات کولو او يايې دې لره ئې په نورو شپو باندې څه فضيلت ورکولو)

زيد ابن اسلم رحمه الله ډير د لوئې مرتبې تابعی او ډير لوئې محدث او فقيه دې. د دوی مشايخ او فقهاء حضرات صحابهٔ کرام رضی الله عنهم او لوئې لوئې تابعين رحمهم الله دی. او د مدينې منورې اسلاف فقهاء همدا حضرات دی. د دې وجې نه چې دوی مدنی دی. والله سبحانه وتعالى اعلم

١٢ ربيع الاول ١٤١٣ هجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿إِنَّ اللّٰهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّوا الۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا﴾

ضمیمه

الکلام البدیع فی احکام التوزیع

- د مدرسې خزانه د بیت المال په حکم کښې ده
- د امت د اکابرینو رحمهم الله د لیکونو په رڼا کښې



ضمیمه : الکلام البدیع فی احکام التوزیع

د احسن الفتاوی په رومبی جلد کتاب العلم والعلماء کښې

لیکوالان :

۱ - حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی قدس الله سره.

۲ - حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری قدس الله سره.

۳ - حضرت حکیم الامة قدس الله سره.

- په امداد المفتیین کښې د ذکر کړې شوو لیکونو نه په استدلال کولو کښې غلطی، او د ذکر کړې شوو لیکونو وضاحت او تشریح
- د دې نه د ثابتیدونکی حکمونو تفصیل
- د رسالې (الکلام البدیع) د خینې خایونو اصلاح

کتاب العلم و العلماء

ضمیمه

الکلام البدیع فی احکام التوزیع

سوال ترنه پورې مونږ د ټولو عالمانو نه همدا اوریدلي دي چې د مدرسو د زکوة د پیسو مصرف صرف دا دي چې دا دې فقیرانو طالبانو ته په حیث د ملک ورکړې شي. ددې نه بغیر به زکوة نه ادا کیږي. د مدرسې په آبادئ. په کتب خانه او د استاذانو په تنخوا کښې د زکوة د پیسو نه خرچ کول ناروا دي. او تاسو هم په احسن الفتاوی کښې لیکلي دي چې د زکوة د پیسو نه د مدرسې د آبادی کول او د استاذانو تنخوا ورکول روا نه دي. لیکن اوس په امداد المفتین چې له دارالاشاعت کراچئ نه چاپ شوې دې د هغې صفحه ۱۰۸۱ نه تر د ۱۰۸۲ پورې مې یو نوې تحقیق د نظر لاندې راغې چې په هغې کښې یې دا لیکلي دي چې د زکوة د پیسو نه کتب خانې د پاره د کتابونه اخستل او د مدرسې په آبادی باندې خرچ کول روا دي.او په دې باندې ئې د حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی. د حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوری او د حضرت مولانا اشرف علی تهانوی ﷺ فتوا ګانې نقل کړی دي.

د دې ټول لیکنو فوټو کاپی یعنی نقل ستاسو په خدمت کښې درلیږم. تاسو دا وګورئ او فیصله وکړئ او د مسئلې مکمل تحقیق او وضاحت وکړئ او مونږ ته د شکریې موقع راکړئ بینوا توجروا

د امداد المفتین لیکنه او عبارت:

السؤال تاسو په خپله رساله (اماطة التشکیک فی اناطة الزکاة بالتملیک) کښې د مدرسې مهتممان د صدقې د عاملینو په حکم کښې ندی ګرځولي.چې نتیجه ئې دا راوځي چې د مهتممانو په اخستلو د مال د خاوندانو زکوة نۀ ادا کیږي تر څو پورې چې هغه د زکوة په مستحقینو باندې خرچ نکړې شي.نو دېه امداد المفتین کښې په صفحه ۳۲۳ کتاب الزکوة کښې لیکلې شوې دي

اوس که چرې او وئیلې شي چې مهتممان هم د صدقې د عاملانو په شان د فقیرانو وکیلان دي. یعنی د طالبانو وکیلان دي نو رومبې خو دا قیاس کول صحیح نه دي.څکه چې دلته خو د طالبانو څو طالبانو له ارخه نه د وکالت څه معامله دوی سره شوې ده او که چیرې شوې هم وي نو هغه به د شمار او د یو کال د پاره وي چې هغه به د دوی په تللو باندې ختمه شي او بیا به له سره نورو طالبانو سره هغه معامله د وکالت کول غواړي او بیکاره خبره ده چې دا چیرته هم نه کیږي.او نه عادت دا کیدې شي.څکه چې طالبان همیشه همیشه بدلیږي رابدلیږي او نه د مدرسې مهتمم به دا عه

ولایت په خپله حاصلیږی.او نه هغه د امیرالمؤمنین له اړخه چې صاحب د ولایت عام وی مامور دي. چې د هغې په بنا دې په شرعی توګه د فقیرانو وکیل ومنلې شی. بلکه حقیقت دا دې چې مهتمم او د هغه تول سفیران تول په توله د مال د خاوند وکیلان وی، تر څو پورې چې مال د هغوی په لاس کښې وی نو دا به همداسې وی لکه چې د مال مالک سره وی، د زکوة ادا کیدل به په هغه وخت کښې کیږی چې دا حضرات ئې د زکوة په مصرف کښې خرج کړی.بلکه فقهاؤ ﷺ د دې خبرې هم تصریح کړې ده چې دامیرالمؤمنین عمومی والی ته او د هغه عاملانو ته هم په هر حال او په هر مال کښې د صدقې اخستلو حق او اختیار نشته بلکه صرف په هغه ښکاره مالونو کښې ورته حق شته چې د هغې د حفاظت ذمه واری په عاملانو د حکومت وی،او په دې مالونو کښې به هم ورته دا حق تر هغه وخته پورې حاصل وی چې عاملان د حکومت دا خپله ذمه واری د حفاظت تر سره کوی او که چیرې اسلامی حکومت د هغوی د دې ښکاره مال د حفاظت ذمه واری نه شی تر سره کولې نو بیا ورته په دې ښکاره مالونو کښې دصدقې د اخستلو حق هم نه دې حاصل.

لاندینی روایات په دې باندې شاهد دی:

وفی المبسوط:وثبوت حق الاخذ باعتبار الحاجة الی الحماية.

وفی الدر المختار فی شرط العاشر:هو حر مسلم غیر هاشمی قادر علی الحماية من اللصوص والقطاع لان الجباية بالحماية.(شامية: ج۲،ص۴۰)، وقال الشامی رحمه الله قبل ذلك:ویظهر لی ان اهل الحرب لو غلبوا علی بلدة من بلادنا كذلك(ای یؤدی المالك بنفسه ولا حق للسلطان فيه)لتعليل اصل المسالة بان الامام لم يحمهم و الجباية بالحماية.(شامية: ج۲،ص۴۲)

د دې وجې نه د مدرسې مهتممان په هیڅ توګه هم د امیرالمؤمنین یا د هغه د صدقې د عاملانو په شان د فقیرانو وکیلان نشی ګرځولې کیدې.

او د حضرت تهانوی رحمه الله په یو څو مسئلو کښې د حضرت خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله سره خط او کتابت وشولو. دا مکاتبه د امداد الفتاوې په زوړ چاپ مجتبائی هند کښې په ج ۴ .ص ۲۲۷ نه تر ۲۳۲ پورې او په نوې چاپ کښې د امداد الفتاوې په شپږم جلد کښې د ص ۲۲۸ نه تر ۲۷۷ پورې په عنوان د (بعضی از تحریرات سیدنا مولانا خلیل احمد صاحب دامت بر کاتهم که درجواب سوالات صاحب فتاوی صدور یافته بمناسبت مقام درآخر ملحق کرده شد) سره ذکر کړې شوې ده،په دې بانو کښې د دې مسئلې سره متعلق عبارتونه بیل بیل دی. ضمیمه خوان خلیل کښې په ص ۲۸ باندې حضرت شیخ الحدیث مولانامحمد ذکریا صاحب دامت برکاتهم دا بیل بیل عبارتونه رایوځای کړې دی چې د هغې تول تفصیل دا رنګه دې

(مدرسې ته چې کومې پیسې راځي که چیرې دا وقف وي نو د عین د باقي پاتې کېدو سره نفع اخستل پکښې کوم دي؟ او که چیرې دا د ورکوونکي ملک وي نو د هغه د وفات نه پس وارثانو ته د دې واپس کول واجب دي.

جواب د دې عاجز په نیزد د مدرسو پیسې وقف نه دي. البته د مدرسې اهل د بیت المال د عاملانو په شان د ورکوونکو او د اخستونکو له اړخه وکیلان دي.د دې وجې نه به نه په دې کښې زکوٰة واجبیږي او نه ئې ورکوونکي واپس اخستې شي

مکرر سوال حضرت مخدومنا دام الله ظلال فیوضهم علینا.السلام علیک ورحمة الله و برکاته ! د حضرت شفانامه (خط) د مرض د زائله کېدو سبب وګرځیدله (یعنی د مسئلې د حل کېدو) لیکن زما د شبهې بنیاد لا تراوسه پورې ختم ندې (یعنی په سوال کښې څه شک او شبه مې پاتې ده) (د دې نه پس خبره دا ده چې رومبې نمبر خو د معجزاتو په حقله دې او دویم نمبر دا دې) چې د بیت المال عاملان د امیرالمؤمنین له اړخه مقرر کړې شوې وي.او امیرالمؤمنین ته عام ولایت حاصل دې. له دې کبله هغه د ټولو وکیل جوړیدې شي او چې کوم څیز (د مهتمم وکیل او عامل کېدل) په دې باندې قیاس کړې شوې دې په هغې کښې عام ولایت نشته. د دې وجې نه به د اخستونکي وکیل څنګه جوړیږي؟ څکه چې د وکالت تصریح پکښې نشته او نه په کښې څه دلالت شته او په مقیس علیه کښې (یعنی د امیرالمؤمنین او د هغه د عاملانو) دلالت شته هغه دا چې ټول خلق د ده د تابعدارۍ لاندې دي او د هغه تابعداري کول واجب دي.

جواب زمونږ قدرمنده ادام الله فیوضکم.السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! زما په خیال کښې په بادشاه کښې دوه صفتونه وي.یو حکومت چې د هغې فائده د حدودو او د قصاص نافذول دي. او دویم د عامو خلقو د حقونو انتظام کول. په رومبي کار کښې هیڅ څوک د بادشاه سره برابریدې نشي او په دویم کار کښې د معاملو کوونکي او ماتوونکي د ده په ځاۍ اودریدې شي. څکه چې د اهل حل او عقد د رائې او مشورې سره د سلطان مقررول پیوسته دي.چې دا خبره د انتظام د باب نه ده.د دې وجې نه د مدرسو د مالي انتظام کول چې دا د مال د خاوند په رضا او د طالبانو په رضا وي د دین د باقي ساتلو د پاره وکړې شو دا به په اولي طریقې سره معتبر وي.لږ غور او فکر وکړئ د جمعې د مونځ د پاره د عامو خلقو د امام مقررولو انتظام کول په جزئیاتو کښې د دې مثال کېدې شي۔ والسلام

خلیل احمد عفی عنه

۵ رجب ۱۳۲۵ هجری

همدغه رنګې یو سوال چا د حضرت ګنګوهي قدس الله سره نه هم کړې وو.د هغې جواب ګنګوهي رحمه الله ورکړو چې د هغې ذکر په تذکرة الرشید کښې په اولني حصه کښې په صفحه ۱۲۵

کښې موجود دې چې عبارت ئې دا شان دې.

شبهه مدرسې ته چې کومې چندې وغیره راځی د هغې دا پیسې وقف دی او که مملوک دی؟ که چرې وقف وی نو د عین بقاء واجبه ده او د هلاکت په ځائ کښې د هغې خرځ کول جائز نه دی. او که چرې مملوک وی او مهتمم صرف وکیل وی نو د ورکوونکی په مرګ باندې دا پیسې بیا د هغه د غریبانانو وارثانو حق دې د دې وارثانو لټول بیا په وکیل باندې واجب دی.

د شارع ﷺ او د هغوی د خلفاؤ رضی الله عنهم چې کومه زمانه وه د هغه زمانې په بیت المال کښې همدا اشکال جاری کیدې شی، ډیر سوچ مې وکړو خو د شریعت په قواعدو سره حل نه شو او د مختلفو چندو ګډون هلاکیدل دی او د ملک هلاکونکی چې په هلاکیدونکی مال کښې کوم خرځ وکړی نو دا به د هغه تبرع وی او د مالکانو لپاره به ضامن وی، که چیرې داسې وی نو د مدرسې په اهل باندې یا د دلې په مشر باندې دا سخت وخت دې، امید دې چې مونږ ته به تاسو ښهٔ جواب راکوئ.

جواب: (له اړخه د قطب عالم) د مدرسې مهتمم قیم او د ټولو طالبانو نائب وی لکه چې امیرالمؤمنین د ټولو خلقو نائب وی، نو چې چا یو مهتمم له څه څیز ورکړو نو په هغې باندې د مهتمم قبضه داسې ده لکه د طالبانو قبضه، د دهٔ په قبضې سره دا د ورکوونکی د ملک نه اووتلو او دطالبانو په ملک کښې داخل شو، اګر چې دا مجهول الملکیت والذوات وی (یعنی مالک کښې ئې تجاهل دې)، لیکن نائب خو ئې ټاکلې شوې دې، نو اوس د دې خبرې نه پس د ورکوونکی د مرګ نه پس د وارثانو د ورکوونکی په دې کښې هیڅ ملکیت نشته دې، او مهتمم په بعضو وجوهو کښې د ورکوونکی وکیل هم کیدې شی. هر څه چې وی خو دا نه وقف مال دې او نه د ورکوونکی د وارثانو ملکیت دې، او نه په خپله د ورکوونکی ملکیت پاتې شو، والله سبحانه وتعالی اعلم. (تذکرة الرشید رومبئ حصه، ۱۲۴، ۱۲۵ مطبوعه سادهوره ضمیمه خوان خلیل ص ۲۹، ۳۰).

په امداد المفتین کښې د چاپ شوې رسالې (اماطة التشکیك فی اناطة الزکوة بالتملیك) کښې ئې مهتممین د مدرسو عاملین د صدقې ندی ښودلی، بلکه د چندې ورکوونکو وکیل ئې ښودلې دې. د حضرت ګنګوهی رحمه الله او دنورو اکابرینو ذکر کړې شوې فتوې نه پس په دې معامله کښې ستاسو تحقیق څنګه دې؟ د دې د وضاحت ضرورت دې بینوا توجروا.

السائل العبد امین اشرف عفاالله عنه

متعلم درجه تخصص في الفقه دارالافتاء دارالعلوم کراچي نمبر ۱۴

۵ ذیقعده ۱۳۹۵ هجری

جواب له اړخه د مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله خخه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى:

امابعد د زكوة د ملكيت د مسئلې په حقله زما رساله چې په كال ۱۳۲۱ هجري كښې ليكلې شوې وه. اوامداد المفتيين د جزيه حيثيت سره څو څو وارې چاپ شوه. په هغې كښې د مهتممينو د مدرسې حكم د صدقې د عاملانو نه بيل د دې شبهې له كبله ليكلې شوې وو كومه چې په خپله سيدي حكيم الامة رحمه الله وړاندې كړې ده. ليكن هر كله چې دا شبهه د راس الفقهاء حضرت خليل احمد سهارنپوري رحمه الله ته وړاندې كړې شوه نو د حضرت حكيم الامة رحمه الله دا شبه ختمه شوه، او هغوئ هم په دې حكم باندې مطمئن شو كوم چې قدر مند حضرت ليكلې وو. يعنى د نن صبا مهتممان د مدرسو دا د صدقې د عاملانو په حكم كښې داخل دي او د فقيرانو له اړخه وكيلان دي. د زكوة د وركوونكو وكيلان صرف په دې درجه كښې دي چې هغوى دوى لره د فقيرانو وكيلان وټاكل او خپله چنده ئې دوى ته وركړه، نو هركله چې د فقيرانو د وكيل په حيث سره چنده د دۀ په ملك كښې داخله شوه نو دا چنده د فقيرانو ملك شو او د زكوة وركوونكو زكوة اداء شو

خبره خو صرف په دومره وضاحت سره ښكاره شوې وه خو د دې نور وضاحت او مرسته د دې وخت د ابوحنيفه صغير حضرت مولانا رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله د دې فتوې نه هم وشوه كومه چې هغوى په تذكرة الرشيد كښې د مولانا صادق اليقين صاحب رحمه الله د يو سوال په جواب كښې ليكلې وه. چې په هغې كښې د دې خبرې تصريح ده چې اګرچه دا طالبان او فقيران مجهول الملكيت والذوات دي. خو د دې باوجود د دوى ملكيت د مهتممانو د پاره عرفاً ثابت شو او د دوى قبضه دا د فقيرانو قبضه شوه.

د حضرت ګنګوهي رحمه الله د دې مدللې فتوې او د حضرت مولانا خليل احمد قدس الله سره د دې تحقيق او په دې باندې د حضرت حكيم الامة رحمه الله د تسليم او تصديق نه پس په دې مسئله كښې خو څه اشكال باقي پاتې نه شو. ليكن زۀ عاجز چې كله پاكستان ته راغلم او دلته مې دارالعلوم قائم كړو نو ما احتياطاً دا صورت خپل كړو چې كومو طالبانو ته چې په دارالعلوم كښې داخله وركولې شي نو د هغوى د داخلې په فارم باندې د توكيل مضمون د هر يو طالب علم له اړخه د مدرسې مهتمم د پاره يا مهتمم چې چا لره مامور كړى هغه د پاره چاپ كړې شو او هر يو داخليدونكي طالب به ښه په باقاعدګۍ سره د مدرسې مهتمم له خپله اړخه د زكوة د اخستلو وكيل كولو او په عامو فقيرانو د خرچ كولو به ئې هم وكيل كولو. دغه رنګې به د مدرسې مهتمم هر كال د داخليدونكو د شمار د طالبانو وكيل وو. او د هغوى له اړخه به د طالبانو په هر مصرف د خرچ كولو مجاز هم وو. او په داسې كولو سره د مجهول الملكت والذوات هغه شبهه هم ختمه

پاتې نشوه.د دې وجې نه زۀ په امداد المفتيين كښې د چاپ شوی د دې مسئلې په حقله د خپل عبارت نه رجوع كوم او همدا فيصله قبلوم كومه فيصله چې د دې ټولو اكابرينو ده.يعنی دا خبره چې د دې زمانې مهتممان يا د دوی له اړخه چې كوم كسان د زكوة د اخستلو د پاره مقرر كړې شوې دی هغوی چې دا اخلی نو د فقيرانو د وكيل په حيثيت سره ئې اخلی،او د دوی لاس ته په رارسيدو سره د زكوة د وركوونكو زكوة ادا كيږی.

يو ضروری خبرداری

په دې تحقيق كښې خو يو د مدرسې د مهتممانو د پاره آسانې شوه چې هغوی ته د هر سړی د زكوة مال او د هغې حساب كتاب ليكل ځان له ځان له د ليكلو ضرورت پاتې نه شو،او كه د خرچ كولو نه وړاندې د زكوة د وركوونكی انتقال وشو نو د هغه وارثانو ته د دې د وركولو ضرورت نشته، او د زكوة وركوونكو ته دا فائده ورسيده چې د هغوی زكوة د مخې سره اداء شو. ليكن د مدرسې د مهتممانو په څټ باندې د آخرت يو لوئ بوج راپريوتلو،چې هغه د زرګونو فقيرانو له اړخه وكيل دې چې د هغوی نومونه او آدرسونه ياد ساتل هم ګران دی،چې كه خدائ دې نه كړی د دې مال په خرچ كولو كښې څه غلطی وشی نو چې بيا د هغوی نه معافی وغوښتلې شی.د دې وجې نه د مدرسې مهتممانو كه د غريبانانو طالبانو د ضرورتونو نه بغير دا مال په څه بل څه كار كښې خرچ كړو نو دا به يو داسې جرم وی چې د دې د نقصان پوره كول به د دوی د وس نه بهر وی. د دې وجې نه په دې ټولو حضراتو دا لازم دی چې د مدرسې د چندې پيسې صرف او صرف په هغه ضرورتونو كښې خرچ كړی كوم چې د فقيرانو طالبانو سره تعلق لری لكه د هغوی خوراک، لباس، دوائی علاج.او د هغوی د اوسيدو انتظام كول او د هغوی د پاره كتابونه اخستل وغيره وغيره والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

بنده محمد شفيع عفاالله عنه
دارالعلوم كراچی نمبر ۱۴
۷ ذيقعده ۱۳۹۵ هجری

الجواب باسم ملهم الصواب په حقيقت كښې دلته درې مستقلې مسئلې دی

۱ . د حكومت د عامل يا د مدرسې د مهتمم لخوا قبضه كول د وركوونكی د ملک زائله كيدونكې كيدل

۲ . د عامل يا دمهتمم په قبضې سره د زكوة ادا كيدل

۳ . د عامل يا د مهتمم د زكوة مال لره په نورو مصرفونو كښې خرچ كول

رومبئ مسئله د عامل یا د مدرسې د مهتمم په قبضې سره د ورکوونکي ملکیت ختمیږي.د دې په تفصیل او د دلائلو سره بحث زما په رساله ((**الكلام البديع في احكام التوزيع**)) کښې شته.چې دا د احسن الفتاوي په ورومبي جلد کښې په کتاب العلم کښې موجود ده

دویمه مسئله : د دې په حقله زما رومبئ رائې دا وه چې د مدرسې مهتمم په حکم د عامل د حکومت کښې ندې. د عامل په قبضه کولو سره زکوة ادا کیږي لیکن د مهتمم په قبضه کولو سره زکوة نه ادا کیږي. مهتمم ئې چې تر څو پورې د طالبانو په قبضه کښې ورنه کړي نو تر هغې وخته پورې زکوة نه ادا کیږي .په امداد المفتیین کښې هم وراندې همداسې لیکلې شوې وو او په امداد الفتاوی کښې هم همداسې لیکلې شوې وو ، لیکن د امدادالمفتیین کوم نوې لیک چې تاسو رالیږلې دې په هغې کښې چې مې د حضرت گنگوهي قدس الله سره او د مولانا سهارنپوری رحمه الله تحقیق ولیدلو نو اوس زما رائې بدله شوه اوس زما رائې دا ده چې د عامل د قبضې په شان د مهتمم په قبضې سره هم زکوة ادا کیږي .

د حکومت د عامل او د مدرسې د مهتمم د پاره دا روا نه دی چې د زکوة پیسې دې په نورو مصرفونو کښې خرچ کړي، د دې وجې نه د زکوة د پیسو نه د مدرسې آبادی کول د مدرسې د پاره کتابونه اخستل او د استاذانو تنخواګانې ورکول روا نهٔ دی.کوم عامل یا مهتمم چې داسې کوی نو هغه به سخت ګنهګار وی او په هغه باندې به د دې روپو ضمان ورکول واجب وی،د مذهب کتابونه په دې خبره باندې متفق دی چې د بیت المال د صدقې د مالونو مصرف دا دې چې دا دې مسکینانو ته د تملیک په توګه ورکړې شی.عامل ته بلکه په خپله سلطان ته هم دا اختیار نشته چې هغه دې د صدقې مالونه په نورو مصرفونو کښې خرچ کړي.د فقهې په عبارتونو کښې د قبض العامل کقبض الفقیر همدا مطلب دې او عامل لره د فقیرانو د وکیل جوړولو همدا مطلب دې چې د عامل په قبضه کولو سره د ورکوونکي ملکیت ختم شی او د هغه زکوة ادا شی،دا مطلب ئې ندې چې د دې نه پس په عامل باندې فقیرانو لره د دې مال مالکان جوړول واجب ندی او چې هغه ئې چرته غواړي نو خرچ کولې ئې شی .

په رالیږلې شوی لیک کښې د درې وارو اکابرینو د لیک د ذکر کړې شوې مسئلې د بحث سره هیڅ تعلق نشته. دا ټول لیکونه د رومبئ مسئلې سره تعلق لري،د دې لیکونو په سوالونو کښې چې کوم اشکالات وړاندې کړې شوې دی او د هغې حل کول غوښتلې شوې دی دا صرف د رومبئ مسئلې سره تعلق لري. باقي پاتې د دوو مسئلو په حقله نه په سوال کښې څه تعرض شته او نه په جواب کښې. خو دومره خبره ده چې د رومبئ مسئلې په جواب سره د باقي پاتې دوو مسئلو جواب هم واضحه کیږي . د جواب بناء دا ده چې مهتمم په شان د امیر دې. د دې نه د درې وارو مسئلو حاصلیدونکي جوابونه داسې دی .

۱ ـ د مهتمم قبضې کولو سره د ورکوونکي ملک زائله کیږي.
۲ ـ د مهتمم په قبضه کولو سره زکوة ادا کیږي.
۳ ـ د مهتمم د قبضه کولو نه پس هم مسکینانو طالبانو ته دا مال په طریقه د تملیک ورکول ضروري دي او په غیر مصرف کښې د دې خرچ کول روا نهٔ دي.

مهتمم چې د امیر قائم مقام ومنلې شي نو د دې اثر په ړومبنو دوو مسئلو باندې غورځیږي او په دریمه مسئله باندې ئې څه اثر نه غورځیږي. یعنی دا مال په څه بل څه مصرف کښې خرچ کول روا نهٔ دي

په دې حقله د فقهې د نصوصو نه علاوه د دې درې وارو اکابرینو ﷭ تصریحات هم شته:

۱ـ حضرت گنگوهي ﷫ د انجمن حمایة الاسلام سره متعلق دیو سوال په جواب کښې فرمائي: (د زکوة پیسې د جمات د آبادولو په چنده کښې ورکول هم روا نهٔ دي او نه خو دا د یو مدرس په تنخوا کښې ورکولې شي او نه په دې باندې داسې کولې شي چې کتابونه او رسالې دې پرې واخستې شي او وقف دې کړې شي.او نه په محصول کښې د دې ورکول صحیح دي. (فتاوی رشیدیه: ص ۳۲۳)

په راالیږلې شوی لیک کښې د (تذکرة الرشید) نه چې کوم عبارت نقل کړې شوې دې په هغې کښې د(ملک) نه (حق ملک) مراد دې **کماهوظاهر من المقیس علیه،**

هرکله چې د مقیس علیه یعنی د امیر د قبض نه د فقیرانو ملک نه ثابتیږي نو د مقیس یعنی د مهتمم د قبضې نه به دفقیرانو ملک څنګه ثابت شي.د امیر د قبضې نه صرف د ملک حق ثابتیږي کوم چې صرف د دې د پاره چې د زکوة ادا کیدل صحیح شي ضرورتاً په حکم د حقیقي ملک کښې گڼلې شوې دي، **کما اوضحته فی الکلام المدیع.**د فتاوی رشیدیه نه د دې نور هم وضاحت وشو چې د امیر قبضه کولو سره د فقیر ملک نه ثابتیږي.

۲ ـ حضرت سهارنپوري ﷫ د انجمن کسانو ته د زکوة ورکولو په حقله فرمائي: او چې کوم فقیران دي هغوی ته په توګه د تملیک زکوة ورکول صحیح دي،بیا هغوی ته د دې اختیار دې چې په کوم مصرف کښې ئې خوښه وي خرچ دې کړي،او که هغوی ته د تملیک په توګه ورنه کړې شي بلکه د توکیل په توګه ورته ورکړې شي نو صحیح ده خو په دې صورت کښې به په هغوی دا واجب وي چې د زکوة په مصارفو کښې دې خرچ کړي او که چیرې هغوی دا زکوة په مصرف کښې خرچ نه کړو نو زکوة ادا نه شو . البته په غیر مصرف د زکوة کښې بې د تملیک نه پس خرچ کولې شي لکه چې څنګه په مدرسو کښې معمول دې. (فتاوی خلیلیه ص ۱۵۴)

په دې لیک کښې دا اشکال دې چې دوی مهتمم لره د امیر قائم مقام ګرځوی نو بیا ئې د هغه په

قبضه کولو سره د زکوة د نهٔ ادا کیدو فتوی ولې ورکړه؟

د دې درې جوابونه کیدې شی : ۱ - دوی مهتمم د امیر په حکم کښې د ضرورت په توګه ګرځولې دې، د دوی په خیال کښې په دویمه مسئله کښې داسې سخت ضرورت نه وو د دې وجې نه ئې هغه په خپل اصل باندې پریښودله.

۲ - په دې فتوی باندې تاریخ ندې لیکلې شوې کیدې شی چې دا فتوی مهتمم لره د امیر په حکم کښې د ګرځولو نه وړاندې وی.

۳ - راجح احتمال دا دې چې دوی مهتمم لره د امیر په حکم کښې د ګرځولو د خیال نه رجوع کړې وه او دا فتوی د هغې نه پس ورکړې شوې ده، دې احتمال ته د راجحیت دوه وجې دی:

یوه دا چې هغه لیک چې په هغې کښې دوئ (خلیل احمد) مهتمم لره د امیر په حکم کښې ګرځولې دې هغه د دوئ په مجموعه فتاوی کښې نه دې ګډ کړې شوې.

دویمه وجه دا ده چې د حضرت حکیم الامة د دې خیال سره دوئ اتفاق و نه کړو لکه څنګه چې وړاندې راروان دی، د دې وجې نه دا خبره لرې نده چې کیدې شی چې دوئ هم رجوع کړې وی.

۳ - د حضرت سهارنپوری او د حضرت حکیم الامة قدس سرهما په مینځ کښې په ۱۳۲۵ هجرئ کښې خط او کتابت شوې دې. او د هغې نه صرف څلور کاله پس په کال ۱۳۲۹ هجرئ کښې هغوی د یو سوال په جواب کښې فرمائیلې دی : (په ښکاره مهتمم د زکوة د ورکوونکی وکیل دې. د دې وجې نه دهٔ لره د زکوة مال په تنخوا کښې ورکول (او د کتابونو په اخستلو کښې ورکول) روا نهٔ دی (الی قوله) او که مهتمم لره د طالبانو وکیل هم فرض کړې شی نو بیا به د هغه قبضه په شان د طالبانو د قبضې ګڼلې کیږی، لیکن که د طالبانو لاس ته دا مال ورشی نو آیا هغوی به دا مال په تنخوا وغیره کښې خرچ کوی؟ دغه رنګې مهتمم لره هم پکار دی چې هغه هم دا مال د طالبانو د خاصو ضرورتونو نه علاوه په نورو ځایونو کښې خرچ نکړی. لکه څه رنګه چې امیر المؤمنین د فقیرانو نائب وی لیکن د بیت المال نه پیسې په نورو مصرفونو کښې نه شی خرچ کولې. (امداد الفتاوی ج ۳. ص ۲۲۱)

د دې نه دوه خبرې ثابتې شوې:

۱ - د حضرت سهارنپوری جواب یعنی مهتمم لره دامیر په ځائ ګرځولو سره حکیم الامة قدس سره اتفاق ندې کړې

۲ - د امیر په ځائ تسلیمولو په صورت کښې هم د فقیر د تملیک شرط نه ساقطیږی. امیر المؤمنین هم د بیت المال نه په نورو مصرفونو کښې خرچ نشی کولې

دلته دې هم دا خبره د خاطر لاندې وی چې دامیرپه ولایت او د مهتمم په وکالت کښې فرق دی امیر چې ورسره عام ولایت او اختیار وی بیا هم دې په نورو مصرفونو کښې خرچ نه شی

کولې، ځکه چې بیت المال د فقیرانو ملک نه دې، په دې کښې د هغوی صرف د ملک حق دې، د دې وجې نه هغوی په دې کښې د تصرف کولو اختیار نه لري، په خپله ورته څه اختیار نشته نو د بل د پاره به د دوی اجازت څنګه معتبر وی.

د مهتمم په وکالت کښې دا تفصیل دې که طالبان ئې د تصرف وکیل هم وګرځوی نو بیا به د دې روپو حکم په شان د بیت المال وی یعنی د طالبانو په اذن سره ئې هم په نورو مصرفونو کښې خرچ کول ناروا دی.

او که د تملیک وکالت ورسره وکړی یعنی طالبان ئې د خپل ملکیت وکیل وګرځوی نو بیا د ټولو طالبانو په رضا سره په نورو مصرفونو کښې خرچ روا دې. لیکن د ټولو د طالبانو د رضا معلومولو څه صورت ممکن ندې، بلکه د دې بالعکس که وکتلې شی نو د رضا نشتوالې یقینی دې .کما مر من نص حکیم الامة قدس سره.

د دې نه علاوه په دې کښې څلور نورې خبرې داسې دې چې په خاطر کښې د ساتلو دی د دغه پنځو خبرو چې په خاطر کښې د ساتلو قابلې دی تفصیل وړاندې راروان دې.

۴ - پورته په دریم نمبر کښې دا خبره تیره شوې ده چې د حضرت حکیم الامة او د حضرت سهارنپوری قدس سرهما په مینځ کښې مکاتبت په ۱۳۲۵ هجرئ کښې شوې وو. او حضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله رساله (اماطة التشکیک فی اناطة الزکوٰة بالتملیک) په کال ۱۳۲۱ کښې لیکلې وه. د ذکر کړې شوې رسالې په آخره کښې د حضرت تهانوی رحمه الله دا لیک موجود دې:

(ما ټول په ټوله وکتلو او د زړه نه مې درته دعا وه وتله صرف دوه ځایونه داسې دی چې هلته تاسو د استنباط په ځائ استدلال لیکلې دې د استنباط دټکی نه بیا د غیرمنصوص کیدو شبهه راځی) د دې رسالې پوره تحقیق په آخره کښې داسې لیکلې شوې دې:

(د مدرسې مهتمم په هیڅ شان هم د فقیرانو وکیل په شان د امیرالمومنین یا د صدقې د عاملانو نه شی ګرځولې، ځکه چې نه خو دهٔ ته ولایت عامه حاصل دې او نه د دهٔ حفاظت کولو ته د مسلمانانو د مالونو په ساتنه کښې څه دخل شته. او که فرض کړه دهٔ سره د امیرالمؤمنین غوندې اختیارات وې هم نو بیا هم امیرالمؤمنین ته دا کوم ځائ روا دی چې د زکوٰة مال دې بغیر د فقیرانو د ملک ګرځولو نه د خلقو د عامې فائدې په کارونو کښې خرچ کړی. د دې وجې نه چې کوم مشکلات وړاندې کړې شوې دی هغه په دې هم نه رفع کیږی چې مهتمم لره امیرالمؤمنین یا عامل د صدقې فرض کړې شی هغه هم هغسې باقی پاتې دی. د دې مشکلاتو حل د زکوٰة د مال نه نشی کیدې. بلکه که کوم اسلامی حکومت وی نو د دې د پاره نور مدونه شته دې. او که اسلامی حکومت نه وی نو مسلمانان دې د خپل وس او طاقت مناسب په دې خیراتونو او د وقف د کارونو د پاره چنده وکړی ـ دې به شخصې توګه دا ضرورتونه تر سره کړی لکه چې په هندوستان کښې

نورو ملکونو کښې د اسلامی خلافت د پورته کیدو نه پس همداسې طرز کیږی او رارروان دې. والله المستعان وعليه التكلان وهو سبحانه وتعالى اعلم.

د دې نه هم هغه دوه خبرې ثابتې شوې کوم چې پورته په دریم نمبر کښې لیکلې شوې دی. یعنی

۱ - د حضرت سهارنپوری قدس سره، جواب سره حضرت حکیم الامت رحمه الله اتفاق و نه کړو.

۲ - که مهتمم د امیر په ځائ ومنلې شی نو بیا هم د تملیک شرط نه ساقطیږی. په خپله د امیر د پاره د عامو خلقو د فائدې په کارونو کښې بغیر د تملیک نه خرچ کول روا نه دی.

د رالیږلې شوې لیک په آخر کښې د هر طالب علم نه د داخلې په فارم باندې د احتیاط په توګه د توکیل په مضمون باندې د دستخط کولو تدبیر ذکر کړې شوې دې. نو په دې کښې هم دا اشکال شته چې که د طالبانو له اړخه دا توکیل صرف د قبض او د خرچ کولو نه وی بلکه دا توکیل توکیل د تملک هم وی یعنی د مهتمم په قبضه کولو سره طالبان د مدرسې د ټول مال د زکوة مالکان شی نو بیا هم په دې کښې دا د خاطر لاندې د راوستو بعضې خبرې شته:

۱ - د یو طالب نه هم څوک دا طمع نه شی لرلې چې هغه دې خپل ځان د مدرسې د زکوة د مال د خزانې مالک ګنی او بیا دې خپله دومره لویه سرمایه او پیسه د مدرسې په آبادئ یا د کتابونو په اخستو یا په تنخواګانو ورکولو کښې د خرچ کولو اجازت په ښۀ زړه سره ورکړی.

د ده په زړه سره د خرچ کولو حال دې داسې معلوم کړې شی چې دۀ ته دې د دۀ دا سرمایه ورکړې شی او بیا دې ورله د مدرسې په آبادئ او په کتابونو اخستلو او په تنخواګانو کښې د خرچ کولو د پاره ترغیب ورکړې شی نو بیا به معلومه شی او دا د دې خبرې معلومولو یو آسان تدبیر دې. پورته د حکیم الامة قدس سره په یو فتوی کښې دا عبارت تیر شو چې: (که چیرې د طالبانو په قبضه کښې دا مال راتلې نو آیا هغوی به دا مال په تنخواګانو کښې ورکولو؟)

(امداد الفتاوی ج ۳، ص ۲۲۱)

۲ - چې دومره روپئ راجمع کړې شی چې که هغه په ټولو طالبانو باندې تقسیم کړې شی نو هر یو سړی ته دومره روپئ رسیږی چې هر یو د نصاب مالک ګرځی نو اوس مهتمم د پاره نورې پیسې راټولول روا نه دی، بلکه د کال په تیریدو سره به په هر یو طالب باندې زکوة فرض شی، او چې زکوة ورکوونکی ته د دې خبرې معلومات وشی او بیا نې ورله هم زکوة ورکړو نو زکوة نې ادا نه شو

قال في العلائية: ولو خلط زكوة موكليه ضمن وكان متبرعا الا اذا وكله الفقراء.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله اذا وكله الفقراء) لانه كلما قبض شيئا ملكوه وصار خالطا مالهم بعضه ببعض ووقع زكوة عن الدافع لكنه بشرط ان لا يبلغ المال الذي بيد الوكيل نصابا فلو بلغه وعلم به الدافع لم

يجزءاذا كان الاصلو كيلا عن الفقير كما في البحر عن الظهيرية قلت وهذا اذا كان الفقير واحدا فلو كانوا متعددين لابد ان يبلغ لكل واحد نصابا لان ما في يد الوكيل مشترك بينهم فاذا كانوا ثلاثة وما في يد الوكيل بلغ نصابين لم يصيروا اغنياء فتجزي الزكوة عن الدافع بعد ذلك الى ان يبلغ ثلاثة انصباء.(ردالمحتار ج۲ص۲)

۳. هر طالب علم ته به دا اختيار وي چې هغه کله وغواړي نو د مهتمم وکالت دې ختم کړي او د خپلې حصې د پيسو او مال مطالبه دې وکړي په خاص توګه دا چې کله هغه مدرسه پريږدي.

۴ ـ د طالب علم په وفات به د هغه مال د هغه په ترکه کښې داخل وي.

۵ ـ مهتمم،استاذان او د مدرسې ټول کارکوونکی به د طالبانو تنخواداره نوکران وي،د دې نظريې د لاندې خو نه د مدرسې نظم صحيح کيدې شي او نه د طالبانو صحيح تربيت کيدې شي،د دې نه علاوه دې ته دې وکتلې شي چې د طالبانو په زړونو کښې به د استاذانو څه عزت پاتې شي او په دې کښې به د علم څه نور پاتې شي چې هغه علم دې په دې توګه حاصل کړې شي چې استاذ دې په کښې نوکر وګڼلې شي.

او که د طالبانو له اړخه دا توکيل صرف د قبضې کولو او د خرچ کولو وي،او د تملک توکيل په کښې نه وي نو بيا د طالبانو په اجازت سره هم دا مال په نورو مصرفونو کښې خرچ کول ناروا دی.فرض کړه که په دې کښې د جواز څه صورت وې هم نو بيا به په همدې کښې په ذکر کړې شوو پنځو خبرو کښې روميې او پنځمه خبره لازمی راتله

د خبرې حاصل

د حضرت ګنګوهی او د حضرت سهارنپوری قدس سرهما د تحقيق مطابق د مدرسو د زکوة مال د بيت المال د زکوة په شان دې چې د هغې حکمونه دا دی:

۱ ـ عامل او مهتمم د زکوة د مال په اخستلو کښې او بيا دا مسکينانو ته د تمليک په توګه ورکولو کښې د مسکينانو وکيلان دی،په نورو مصرفونو کښې د لګولو وکيلان نه دی.

۲ ـ د عامل يا د مهتمم په قبضې سره د ورکوونکی ملک ختم کيږی.

۳ ـ د عامل يا د مهتمم په قبضې کولو سره د ورکوونکی زکوة ادا کيږی.

قال الامام الكاساني رحمه الله تعالى لما حصل (المال) في يد الامام حصلت الصدقة مؤداة حتى لو هلك المال في يده تسقط الزكوة عن صاحبها.(بدائع:ج۲،ص۳)

۴ ـ عامل او مهتمم ته دا اجازت نشته چې دا مال دې مسکينانو ته په توګه د تمليک ورکولو په ځائ په نورو مصرفونو کښې خرچ کړی.(يعنی هغوی دا مسکينانو ته د ورکولو مجاز دی په بل څه کښې د خرچ کولو نه دی مجاز)

۵ که مهتمم لره مسکینانو د مدرسې په نورو ضرورتونو کښې د خرچ کولو وکیل جوړ کړو
ـکن وکیل د تملک ئې ندې کړځولې نو بیا هم په نورو ضرورتونو کښې خرچ کول روا نه دی
۶ - که مهتمم لره مسکینانو طالبانو وکیل د تملک جوړ کړو نو بیا د هغوی په رضا سره دا مال
ه نورو مصرفونو کښې خرچ کول روا دی. لیکن په دې صورت کښې هم دا خبره معلومه ده چې په
ې مصرفونو کښې توکیل کیدل هم په بنهٔ زړه سره نه وی نو د دې وجې نه ناروا دی.او د دې د
پاسه لا هغه ذکر کړې شوې څلور خبرې هم واخله. **فكلها خمسة مفاسد كما حررنا والله سبحانه وتعالى اعلم**

وضاحت: د طباخ د تنخوا په حقله د اشکال او دهغې جواب په صفحه ۴۰۵ کښې دې

۲۰ ذیقعده ۱٤٠٤ هجری

كتاب التفسير والحديث

تفسير د﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴾ الاية

سوال: ﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ﴾ آیا دا وعید صرف د سیدنا محمد رسول الله ﷺ سره خاص دي او که نه دا څان له یوه قاعده کلیه ده.لکه چې په عقائد النسفی صفحه ۱۰۰ کښې لیکلې شوې دی،او د دې سره د دې خبرې د لاندې د دروغو نبی ته د ۲۳ کالو د نه ورکړې کیدو قول هم شوې دې، (یعنی چې که دا رسول الله ﷺ د دروغو نبی وې نو دهٔ ته به درویشت ۲۳ کاله نه وو ورکړې شوې) که په دې کښې د ۲۳ کاله د دروغو نبی ته د نه ورکړې کیدو قاعدہ عامه وی نو بیا بهاءالله ایرانی کذاب وغیره د نبوت دعوی کوونکی خو د ۲۳ کالو نه زیات وخت ژوندي وو،په دې سره د هغه رښتونی کیدل لازمیږی. او د دې سره سره دا خبره هم ثابتیږی چې حضرت زکریا علیه السلام او حضرت یحیی علیه السلام معاذ الله ثم معاذالله د دروغو پیغمبران وو څکه چې دا پیغمبران او دغه رنګې نور معلوم او نامعلومه پیغمبران د نبوت د ورکړې نه لږ وخت پس شهیدان کړې شول،او که چیرې دا قضیه شخصیه وی نو شرح عقائد وغیره کښې خو دې ته قضیه کلیه وئیلې شوې ده د دغه عبارتونو جواب بیا څه دې؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : اګرچه ځینو مفسرینو د(**تقول**) د ضمیر مرجع رسول الله ﷺ ښودلې دې چې په ظاهره ترې نه د تخصیص شبهه ښکاری. لیکن په حقیقت کښې دا یوه قاعده کلیه ده چې تولو پیغمبرانو علیهم السلام لره شامله ده. رسول الله ﷺ لره د ضمیر مرجع ګرځولو وجه داده چې د قرآن د نازلیدو په وخت کښې رسول الله ﷺ د دې مصداق وو،او د ۲۳ کال تقیید هم واقعی دې احترازی نه دې . د دروغجنو پیغمبرانو د ډیرې مودې پورې د ژوندی پاتې کیدو په وجه چې کوم اشکال پیدا کیږی د هغې دوه جوابه دی.

۱- اخذ بمین وقطع وتین نه (اماته)مراد دې او دا عامه خبره ده برابره خبره ده که نفساً وی او که حجتاً وی . بهاء الله ایرانی وغیره اګرچه د دیرویشت کالو نه زیات وخت ژوندي وو لیکن حجتاً ډیر زر مغلوبه شوې وو .حضرت حکیم الامة رحمه الله فرمائی. (او دا کنایه ده د اماته نه نفساً یا حجتاً. یعنی د دروغو د پیغمبر تائید په حجت سره نه کیږی یا خو هلاک شی او یا په دروغو سره رسوا او ذلیله شی.پس اماته چې مطلقاً دې. دې نه ئې تعبیر په اخذ بمین و قطع وتین سره تشبیهاً وکړو . کما ان القارن المکان کمن قطع وتینه.(بیان القرآن)

۲ د دې نه مراد هغه نبی او رسول دې چې د هغه نبوت او رسالت په برهاناتو او دلائلو سره

... ښکاره شوې وي. که چيرې هغه نعوذبالله په الله تعالى باندې دروغ تړي نو په هغه باندې به فوراً د الله تعالى عذاب راشي. د دروغو د نبوت دعوى کوونکي د دې نه ندې مراد
نو شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله فرماني

نبي د الله په کلام کښې خيانت نه شي کولې

حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله ليکي يعنی که په الله تعالى باندې ئې دروغ تړلې نو د تولو نه رومبې به الله تعالى د هغه دښمن وي او نيولو به ئې. ځکه چې د ښت پريکولو دا قانون دې چې جلاد د هغه سرى ښې لاس په خپل لاس کښې نيولې وى دې د پاره چې او نهٔ خوځيږي
حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله فرماني چې د ﴿تقول﴾ ضمير د رسول الله ﷺ طرفته ته راجع دې. يعنی که فرض کړه رسول يو تکې د الله تعالى طرفته منسوب کړى يا د هغه په کلام کښې د خپل اړخ نه څه کړى چې الله تعالى نه وى وئيلې نو په هغه وخت به پرې د الله تعالى عذاب نازل شي (العياذ بالله) ځکه چې د هغه تصديق او رښتونولى د برهاناتو او د دلائلو وغيره په ذريعه ښکاره کړې شوې ده. اوس که په داسې قسمه خبره باندې فورا عذاب ورنه کړې شي نو د الله تعالى د وحى امن به ختم شي. او داسې قسمه شک او شبهې به پکښې پيدا شي چې د هغې اصلاح کول به ناممکنه شي. او دا د شريعت د حکمت منافي خبره ده (يعنی چې اصلاح ونه شي)

د نبوت د دروغو دعوى الله تعالى جاري نه پريږدي

په خلاف د هغه چا چې د هغه رسول کيدل د برهاناتو او د دلائلو نه ثابت نه دى. بلکه په ښکاره چې کومې قرينې او دلائل دى هغه ښهٔ په زوره زوره د دهٔ د رسالت نفي کوى. نو بيا د دهٔ خبره هم بې ځايه او د ځان نه ده هيڅ يو عقل مند به د دهٔ دا خبرې د اعتبار قابلې نه ګڼي او نهٔ به د خدائې په فضل په دين کښې څهٔ شک او شبهه پيدا کيږي. او دا خبره ده چې د داسې شخص په معجزنو وغيره سره تصديق کيدل ګرانه خبره ده. او دا ضرورى خبره ده چې الله تعالى د هغه د دروغژن ثابتولو او د هغه د رسوا کولو د پاره داسې کارونه وکړى چې هغه د دهٔ د رسالت د دعوې مخالف وى. د دې مثال داسې دې لکه چې بادشاه يو سړې په يوه عهده باندې مقرر کړى او سند او فرمان ورته ورکړى او يو خوا ته ئې وليږى. اوس که چيرې دغه سړى په دغه خدمت کښې څه خيانت وکړو يا په بادشاه باندې د دروغو تړلو غوندې جرم د ده نه ثابت شو نو هما غه وخت بغير د څه ځنډ نه هغه رانيسي. خو که په سړک باندې کانې ميده کوونکې مزدور يا جارو کوونکى يو ځنګى دا بې ځايه خبرې کوى او ګرځي چې حکومت زما د پاره دا حکم جارى کړې دې يا زما په ذريعه دا حکم ورکړې شوې دې نو څوک به د هغه د دې خبرې اعتبار وکړى او څوک به د هغه دې اړخ ته تعرض کوى؟ بلکه هيڅوک بې نه کوى

بهر حال په دې ذکر کړې شوی آیت کښې د رسول الله ﷺ په نبوت باندې استدلال نه دې کړې شوې بلکه دا په کښې ښودلې شوې دی.چې قرآن کریم خالص د الله تعالی کلام دې.چې په کښې یو ټکې یا څه خبره هم رسول الله ﷺ د خپله اړخه نه شی ګډولې.او سره د پیغمبر کیدو د هغوی دا شان نه دې چې یوه خبره د الله تعالی اړخ ته منسوبه کړی هغه خبره چې الله تعالی نوی کړې.

په تورات کښې په سفرِ استثناء کښې په اتلسم باب کښې شلمه جمله داسې ده: (خو که هغه نبی داسې یو د بې ادبئ کار وکړی چې زما په حقله د یوې داسې خبرې نسبت وکړی چې د هغې د وئیلو ما حکم نوی کړې او د نورو معبودانو په نوم ئې اووائې نو هغه نبی قتل کړئ)

خلاصه د خبرې دا ده چې کوم یو نبی وی نو د هغه نه داسې قسم خبره ممکنه نده.

لنظیر هذه الآیة قوله تعالی(ولئن اتبعت اهواءهم بعد الذی جاءك من العلم ما لك من الله من ولی ولا نصیر)(تفسیر عثمانی:ج،ص،،) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ جمادی الثانیه ۱٤۱۸ هجری

د (درس قرآن) متعلق لاندینې لیک
یو وضاحت د مرتب لخوا

حضرت اقدس رحمه الله د محمد احمد صاحب د پوهولو ډیر کوشش وکړو،خو باوجود د دې چې عالم ندی او په خپله خبره باندې کلک ولاړ دې او د تفسیر لیکلو سلسله ئې هم هاغسې جاری کړې ده. نو بیا د حفاظت په حقله د ذمه وارئ تقاضا همدا وه چې د دې منکر په رد کښې لږه سختی اختیار کړې شی.

په خپله د مولف (محمد احمد) شیخ اول حضرت حکیم الامة تهانوی رحمه الله غیر عالم لره د تفسیر او د ترجمې د لیکلو نه خو څه کوې چې په خپله د کتاب نه د ترجمې لوستل هم منع کړی دی او دا لا څه کوې بلکه د هغه خپل لیکلې شوې تفسیر (بیان القرآن) د لوستلو نه ئې هم په تاکیدی انداز سره منع فرمائیلې ده. او د یو ماهر استاذ نه ئې دا په سبقی انداز کښې په لږه لږه اندازه لوستل ضروری ګرځولې دی.په دې حقله د تهانوی رحمه الله تفصیلی ارشادات د بیان القرآن په مقدمه کښې او د هغوی په مواعظو کښې ځائ په ځائ موندلې شی.د نمونې په توګه دلته دهغې نه یو څو ارشادات نقل کیږی.

۱- کلام الله د یو ماهر استاذ نه حاصل کړئ.لیکن څنګه چې ښکاره ده چې د اردو ترجمې زیاتې شوې نو هر یو سړې په قرآن او حدیث باندې د پوهې دعوی کوی،او حال دا چې څو پورې یو سړې په درسې علومو کښې ماهر نوی نو په قرآن او حدیث باندې ورهته پوه او فهم نشی حاصلیدې (علم الذره ص ۳۲)

۲ او نن صبا خو داسې ترجمې راغلې چې په هغې کښې د داسې ورو ورو فرقونو لحاظ ندی

کړې شوې. همدا وجه ده چې د قرآن مجید د ترجمې د پاره د ډیرو علمونو پیژندل ضروری دی.او هر یو سړی له ترجمه کتل هم ندي پکار. د قرآن کریم د ترجمې د مطالعې لپاره د ډیرو علمونو ضرورت دي. دکشاف مصنف دمفسر د پاره د څوارلسو علمونو ضرورت لیکلې دې . (الصلوة: صفحه ۷)

۳ - او په خپله د ترجمې مطالعه کول خو ډیره د ضرر خبره ده.که په خپله مطالعه کول کافی وی نو بیا د اقلیدس هم په خپله مطالعه کوئ او امتحان په کښې ورکوئ.د استاذ نه د لوستلو په کښې څه ضرورت دې؟ د قانون یو کتاب راواخلئ او د هغې په خپله مطالعه وکړئ. دا خبره ضروری ده چې د دې په پوهه کښې به درنه څه نا څه غلطی کیږی.او چې چا د استاذ نه وئیلې وی هغه به نه غلطیږی. قانون دان د قانون په خبرو باندې ښه پوهیږی . (الصلوة:ص ۱۰)

۴ - اوس خو خلقو خپل علاج په خپله شروع کړې دې.چې د قرآن او حدیث ترجمه په خپله ګوری.او چې ترجمه وګوری نو په خپله د شبهاتو جواب ورکوی.لیکن زۀ په خپله تجربې سره وایم چې داسې خلقو لره په خپله د ترجمې لوستل حرام دی بلکه په تاسو باندې دا خبره لازمه ده،چې د چا محقق اړخ ته رجوع وکړئ او چې څه درته هغه وښائی په هغې عمل وکړئ او خپلې رائې باندې عمل مه کوئ . (غایة النجاح فی آیة النکاح)

۵ - زما په نیزد مطلقا دا ضروری دی چې دا تفسیر(بیان القران) د چا عالم نه په سبقی توګه د اول نه تر آخره پورې وه ویلې شی.او چې کوم یو مضمون د دې نه پس ستاسو په ذهن کښې رانه شی نو هغه په درسی علومو باندې موقوف وګنړئ . (بیان القرآن:ج ۱،ص ۲)

مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب‌رحمه‌الله هم د درس قرآن د مؤلف (محمد احمد شیخ دې د هغوی ارشاد دې : (دا اصولی خبره ده چې د دنیا د وړوکی نه وړوکې فن هم صرف د کتاب په مطالعې سره په خپله نۀ حاصلیږی تر څو پورې چې دا د یو استاذ نه ونه لوستې شی.په دې خبره نه پوهیږو چې قرآن او د قرآن کریم نور علمونه داسې ولې ګڼلې کیږی چې د هغې په زده کړې کښې د ماهر استاذ نه د لاس نیوی ضرورت نشی ګڼلې کیدې دا هم د الله تعالی په آیتونو باندې د ړوند کوڼ راپریوتو په مفهوم کښې شامل دی الله تعالی دې مونږ ته د صراط مستقیم توفیق راکړی .(معارف القرآن ج ۲.ص ۵۰۸)

د معارف القرآن په مقدمه کښې راغلی دی :

د پورتنی تفصیل نه دومره خبره واضحه شوه چې د قرآن کریم تفسیر یو انتهائی نازک او ګران کار دې.د کومې د پاره چې صرف په عربئ ژبه باندې پوهیدل کافی نه دی،بلکه د دې سره چې کوم علمونه متعلق دی په هغې کښې مهارت ضروری دې.نو په دې وجه علماؤ لیکلې دی چې د قرآن د مفسر دپاره ضروری دی چې هغه د عربئ ژبې د نحو او صرف او د بلاغت او د ادب د علم نه علاوه

په علم حدیث، اصول فقه او تفسیر او په عقائد او کلام کښې د ژور او د لوئې علم خاوند وی. څکه چې تر څو پورې د چا د دې علومو سره څه مناسبت نه وی نو هغه د قرآن کریم په تفسیر کښې په څه صحیح نتیجې باندې نه رسیږی. (مقدمه د معارف القرآن)

د حضرت اقدس رحمه الله لیکلې شوې دا لیک دې په خپله د مؤلف د مشایخو د دې ارشاداتو په رڼا کښې وکتلې شی، حقیقت دا دې چې د دې اصولو نه په خلاف کولو سره مؤلف په خپله په لویه خطا کښې پریوتې دې، د دې نتیجه داده چې څه ډیر سخت ضعیف روایتونه بلکه ځینې موضوعی روایتونه او د غیر مستند کتابونو واقعات هم د دوی په تفسیر کښې شامل شوی دی.

د محمد احمد کتاب (درس قرآن) لوستل روا نه دی

ما مؤلف ته د خط په ذریعه دا خبر ورکړې وو چې که چیرې تهٔ د (درس قرآن) په حقله زما دلیک ما ته څه جواب لیکې یا ئې په بل چا باندې لیکې نو زهٔ به د هغې څه جواب نه درکوم.

هر کله چې هغه ما ته په څلورو علماؤ د خپل کتاب د اصلاح کولو په حقله ولیکل او د څلورو مشهورو عالمانو نومونه ئې هم ولیکل نو زما مقصد تر سره شو نو د دې وجې نه په دې حقله ما څه ونیل یا څه آوریدل بالکل بند کړل، لیکن مؤلف خپل لوظ تر سره نکړو، او د دې مشهورو عالمانو د اصلاح نه بغیر لګیا دې خپل کتاب چاپ کوی، د دې وجې نه خلقو لره د دې فتنې نه د بچ کولو کوشش جاری ساتل فرض دی، زما د تفصیلی لیک خلاصه څه دا رنګه ده:

۱- مؤلف عالم ندې، د دې وجې نه د هغه د خپل نوم سره د (مولانا) لیکل روا ندی، په دې سره عوام دهوکه کیږی.

۲- ما په (درس قرآن) باندې د تقریظ لیکلونه نکار کړې وو، د دې باوجود هغوی زما نوم په کتاب باندې چاپ کړې دې، او زما په نوم باندې خلقو لره د پنځلسو کالو نه دهوکه ورکوی.

۳- ما خو صرف د تقریظ لیکلو نه انکار کړې وو، لیکن حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله او حضرت مولانا مفتی محمد عاشق الهی صاحب رحمه الله خو د کتاب د چاپ کولو نه هم منع کړې وو. او د دې نه پس هم هغه کتاب چاپ کړو، او د دې سره سره دا چې د حضرت شیخ الحدیث رحمه الله نوم ئې پرې هم چاپ کړو.

۴- مولانا محمد تقی صاحب عثمانی لیکی محمد احمد صاحب د دې عاجز د رائې د حاصلولو د پاره د کتاب څه مسوده یا په خپله کتاب نه وو رالیږلې او نه ئې راته دا ونیلې وو چې زهٔ پرې د خپلې رائې اظهار وکړم لیکن بیا ئې هم په کتاب کښې زما نوم چاپ کړې دې، د دې عاجز نه ئې نه څه رائې اخستې ده او نه ئې ورسره څه مشوره کړې ده، او نه ئې زما په وړاندې د کتاب څه ذکر کړې دې. ستاسو قدرمندو (حضرت اقدس) له اړخه په (درس قرآن) باندې د اعتراضونو نه پس دې عاجز څو څو وارې هغه ته اوونیل چې که تا ما عاجز نه د دې کتاب په حقله رائې اخستلې وای

نو ما عاجزبه درته دا مشوره درکړې وای چې ددې کتاب دلیکلو دپاره قدم مه اخله . د دې حضراتو د منع کولو علم مونږ ته بغیر د لټون نه حاصل شو ممکنه ده چې نورو علماؤ هم منع کړې وی

۵ که چیرې دا معامله د حضرت حکیم الامة په خدمت کښې پیش کړې شوې وې ،چې ستاسو د سلسلې یو غیر عالم خلیفه یو تفسیر لیکلې دې، ځو مشهورو علماؤ هغه د دې د چاپ کولو نه منع کړو، چې په هغه مشهورو عالمانو کښې شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب هم شامل دې، خو هغه ونه منل او د خپل نوم سره ئې مولانا ولیکلو او هغه کتاب ئې چاپ کړو ،او د دې دپاسه دا چې په دغه کتاب کښې ئې د دغه منع کوونکو علماؤ نومونه هم چاپ کړې دی او د دوی په نومونو چاپ کولو باندې د پنځلسو کالو نه امت ته دهوکه ورکوی،او د بعضې داسې عالمانو نومونه ئې په کښې هم لیکلې دی چې هغوی ته د کتاب مسوده لیږل خو څه کوې چې هغوی ته د کتاب د لیکلو خبر هم ندې رسیدلې،نو آیا حکیم الامة قدس سره به داسې سړې د توبې،او د دغه علماء کرامو نه په معافئ او د دې کتاب د چاپ په بندولو باندې نه وو مجبورکړې . او د انکار په صورت کښې به ئې د داسې سړی د سلسلې نه د خارجولو اعلان نه وو کړې؟ او آیا اوس د تهانوی رحمه الله نه پس د هغوی د سلسلې په اکابرینو باندې دا فرض ندی چې داسې وکړی؟

۶ ۔ که چیرې د دوی دا مقدمه د ۵ نمبر وضاحت مطابق په عدالت کښې پیش کړې شی نو آیا عدالت به داسې سړی ته سخته سزا او د دهٔ په کتاب به بندیز ونه لګوی؟

۷ ۔ په وړاندینی تفصیلی لیک کښې ما دا وضاحت وکړو چې ما د دې لیک نه وړاندې دوه خله دې ډیر په نرمئ سره پوهه کړو ،او په دریم خل مې د مخ د پردې په حقله دهٔ سره لږه په سختئ سره خبره وکړه نو دې ډیر سخت غصه شو ،او دا بې پردګی ئې د تفسیر عثمانی نه د ثابتولو کوشش کولو ، هر کله چې ما دا وګڼل چې د ده نه د دې خبرو قبلولو امید بې فائدې دې نو ما دا فرض وګڼل چې عالمان د جاهلو مفسرینو د فتنې اړخ ته متوجې کړم .

الحمدلله زما علماؤ لره دې اړخ دتوجو راګرځولو سره د ټولې دنیا مشهور عالمان دې اړخ ته متوجې شول او بـه د زړه د اخلاصه ئې پرې لیکل وکړل، مؤلف ته ئې ډیر سخت خبرداري ورکړو، او په دې خبره ئې مجبور کړو چې د دې کتاب اصلاح د علماؤ په ذریعه وکړی، لیکن هغه د اصلاح په حقله د علماؤ هدایات ونه منل او د دې نه ئې انکار وکړو،د علماؤ دا لیک په دارالافتاء کښې محفوظ دې .

۸ ۔ مولف چې کله د علماؤ هدایاتو نه مخ واړولو نو ډیر په کوشش او د ډیرو پیسو په وړاندې کولو سره ئې هم یو مشهور عالم د دې کتاب د اصلاح کولو د پاره راضی نکړې شو. د یو غیر مشهور عالم اصلاح معتبره نده. د دې وجې نه د دې کتاب کتل ناروا اوناجائز دی

۱۵ جمادی الآخرة ۱۴۱۲ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

كَفَىٰ بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ (مسلم)

د انسان د دروغژن کیدلو د پاره دا کافي ده چې کومه خبره هم هغه واوري، بغیر د تحقیق نه ئې بیان کړي

په ضعیف حدیث باندې په عمل کولو کښې مفاسد

- د رسول اللهﷺ فیصله
- د احادیثو په اصولو کښې یوه اهمه قاعده.
- د فقهاء کرامو رحمهم الله خبرداري
- عقل سلیم او فهم مستقیم
- د زمانې په تغیراتو باندې یو فقهي نظر
- په خپله موضوع باندې یو خان له حیثیت لرونکې تنقید او یو بې مثاله تحقیق



په ضعیف حدیث باندې په عمل کولو کښې مفاسد

په عامه توګه دا مشهوره ده چې په فضائلو کښې په ضعیف حدیث باندې عمل روا دې.

—— په دې رساله کښې ——

د احادیثو، د اصولو حدیثو، او د فقهي د نصوصو نه دا ثابته کړې شوې ده چې دا حکم عام ندې بلکه د دې پاره ډیر زیات قیدونه او شرطونه دی کوم چې په دې زمانه کښې نشی موندلې کیدې نو د دې وجې نه اوس د فضائلو په باب کښې هم په ضعیف حدیث باندې عمل کول روا ندی



په ضعیف حدیث باندې په عمل کولو کښې مفاسد

سوال دا خبره مشهوره ده چې په فضائلو کښې په ضعیف حدیث باندې عمل کول روا دی،آیا دا خبره مطلقاً صحیح ده او که په دې کښې څه تفصیل شته؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په ضعیف حدیث باندې عمل کولو کښې دا مفاسد دی

۱- په دې کښې دا خبره شرط ده چې دا عمل دې ـ ـ ـ نه شی ګڼلې، او حال دا دې چې عوام خو څه چه خواص بلکه، مشهور عالمان او مقتدی (یعنی چې د چا اقتدا کولې شی) هم په دې باندې

عمل کولو لره سنت گنی. په خاص توګه چې د شیخ عبدالحق دهلوی د کتاب ما ثبت بالسنه، نوم پرې وګوری نو بیا به دې کښې لیکې شو بولو عملونو لره سنت ګڼلې شی. حال دا چې په دې کښې هم اکثر روایات د همدې قسم څخه دی

۲ - دا شرط هم په کښې دې چې د ضعیف روایت نه دې یو شرعی حکم ثابت نه کړې شی . او د فضیلت عقیده لرل یو شرعی حکم دې. خو دومره خبره ده چې د فضیلت ګمان پرې کول شرعی حکم ندې

۳ - دا شرط په کښې هم دې چې په روایت کښې ډیر سخت ضعف نوی . او د فضائلو په حقله چې کوم روایات دی هغه سخت ضعیف خو څه کوې بلکه دا خبره په کښې هم ده چې موضوعی دی. د اکثرو په موضوعی کیدو باندې خو د دې فن خاوندانو تصریح هم کړې ده.او د باقی پاتې احادیثو په حقله هم د دې لاندې ورکړې شوو وجوهو له کبله همدا ګمان غالب دې چې دا موضوعی دی،

۱ - د دې راویان د خان نه جوړونکی.روافض او صوفیان دی ، په احادیثو جوړولو کښې د روافضو کردار دومره واضحه او مشهور دې چې دې ته د نور وضاحت حاجت نشته.ددې نه علاوه د دې د تفصیل د لیکلو د پاره مختصر مضمون نه کافی کیږی.لوئې لوئې کتابونه به پکار وی . د حدیث جوړولو په فن کښې د صوفیانو د کارنامونه هم د احادیثو او د رجالو کتابونه ډک دی

قال الامام مسلم رحمه الله: قال یحیی بن سعید القطان رحمه الله: لم تر الصالحین فی شیء اکذب منهم فی الحدیث(الی قوله)لم تر اهل الخیر فی شیء اکذب منهم فی الحدیث قال مسلم: یقول یجری الکذب علی لسانهم ولایتعمدون الکذب.

و قال العلامة العثمانی رحمه الله: قال عیاض رحمه الله: وقد یقع فی الکذب علی رسول الله ﷺ من غلبت علیه العبادةولم یکن معه علم لیمیز الحدیث فی فضائل الاعمال ووجوه البر ویتساهلون فی روایة ضعیفها و منکرها و موضوعها کما قد حکی عن کثیر منهم و اعترف به بعضهم و هم یحبون لقلة علمهم انهم یحسنون صنعا اوالحکایات فی هذا الباب کثیر قد ذکرنا منها السیوطی رحمه الله فی التدریب.(فتح الملهم : ج۱،ص۔)

۲ - تر ځلورمې پیړۍ پورې د د روایتونو بیخی څه وجود نه معلومیږی.دا روایتونه صرف د متاخرینو په تصنیفونو کښې دي .لکه د شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله نوم ته منسوب کتاب غنیة الطالبین د ابو طالب مکی رحمه الله کتاب قوت القلوب. د امام غزالی رحمه الله کتاب احیاء العلوم. مکاشفة القلوب.کیمیای سعادت. د حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله تصنیفونه او د شیخ عبدالحق دهلوی رحمه الله کتاب ما ثبت بالسنة شول

د متقدمین په کتابونو کښې د یو حدیث نه موندلې کېدل د دې د موضوعی کېدو دلیل دې
قال الامام البیهقی رحمه الله: من جاء الیوم بحدیث لا یوجد عند الجمیع لا یقبل (فتح المغیث: ص، مقدمة ابن الصلاح: ص)

وقال الشاه ولی الله رحمه الله: (وطبقة رابعه احادیثی که نام ونشان آنها درقرون سابقه معلوم نبود و متاخرین آن را روایت کرده اند پس حال آنها از دو شق خالی نیست یا سلف تفحص کردند و آنها را اصل نیا فتند تا مشغول بروایت آنها می شدند یا یافتند و درآن قدحی و علتی دیدند که باعث شد همه آنها را برترک روایت آنها. وعلی کل تقدیر این احادیث قابل اعتماد نیستند که دراثبات عقیده یا عملی بآنها تمسک کرده شود.

ولنعم ما قال بعض الشیوخ فی امثال هذا.

فان کنت لا تدری فتلک مصیبة وان کنت تدری فالمصیبة اعظم

و این قسم احادیث را بسیاری از محدثین زده است و بجهت کثرت طرق این احادیث که درین قسم کتب موجودند مغرور شده حکم بر تواتر آنها نموده و درمقام قطع و یقین بدان تمسک جسته بر خلاف احادیث طبقات اولی وثانیه و ثالثه مذهبی بر آورده اند درین قسم احاریث کتب بسیار مصنفه شده اند (الی قوله)و مایه شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله در رسائل و نوادر خود همین کتابها ست ـ (عجالة نافعه : صفحه ۷)

امام بیهقی رحمه الله متوفی ۴۵۸ هجری د پنځمې پېړۍ په رومبۍ نیمه حصه کښې تیر شوې دې. په دریمې پېړۍ کښې دامیر المؤمنین عمر بن عبد العزیز رحمه الله په حکم سره په ټول اسلامی سلطنت کښې د لوئ لوئ قدر خاوندانو محدثینو رحمهم الله ډیر په محنت او مشقت سره او ډیر په تنقیدی انداز کښې د احادیثو د راټولولو کار مکمل کړې وو،د دې وجې نه د شاه ولی الله رحمه الله د بیان کړې شوی اصولو په رڼا کښې په څلورمې صدۍ کښې پیدا کېدونکی روایات هم په څلورمه طبقه کښې داخل معلومیږی. او که د نور وسعت نه کار واخستې شی نو د پنځمې صدۍ روایتونه خو د امام بیهقی رحمه الله د تصریح مطابق هم په یقینی توګه د قبلولو قابل نه دی.

د ذکر کړې شوې کتابونو په غیرمعتبر کېدو باندې صرف دا دلیل ندې چې د متقدمینو په کتابونو کښې د دې څه نښه نښانه نه معلومیږی بلکه د دې نه لوئ مصیبت دادې چې د دې راویان وضاع، روافض، صوفیه، مناکیر او مجاهیل دی، کما هو ظاهر لمن له مسکة من فن الرجال.

په ۲۷ د رجب کښې، د عرفې په شپه، او د اخترونو په شپه د عبادت د فضیلت په حقله چې کوم روایتونه دی هغه ټول له هم دې جملې څخه دی. د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې په حقله د اکثرو روایتونو همدا حال دې

دا خبره صحیح ده چې د ضعیفو روایتونو په تعدد سره قوت راځي لیکن د ذکر کړې شوو کتابونو اکثر راویان داسې دي چې که د دې په شان د خلقو شمیر زرګونو ته هم ورسیږي نو بیا هم په دوی باندې اعتماد کول روا نه دي. (الضعیف لایزید الاضعفا) او د شاه ولي الله رحمه الله تحقیق وړاندې تیر شو چې داسې احادیثو لره ډیرو محدثینو هم د متواتراتو نه شمیرلي دي چې په اصل کښې د هغې بیخي څه ثبوت نشته

د رجب د ۲۷ هم بیخي څه فضیلت نشته.د دې سره متعلقه چې څومره روایتونه دي ټول روایتونه د روافضو د ځان نه جوړ کړې شوي دي. د شعبان د میاشتې د نیمائی شپې اکثر روایتونه موضوعي دي. او بعضې په کښې ضعیف دي.د دې په حقله اختلاف دې. ځینې علماؤ دا هم رد کړي دي.جمهور د دې روایتونو په رڼا کښې د دې شپې د فضیلت او په دې کښې د مطلق عبادت کولو د استحباب قائل دي. په دې شپه کښې د مړو د پاره د ثواب ایصال او بیا د دې د صبا روژه په اتفاق سره ثابته نده. په دې شپه قبرستان ته تلل هم په اتفاق سره منع دي.د دې تفصیل په رساله (تحقیق د شب براءت) کښې دې

د عرفې د شپې او د اخترونو د شپو فضیلت ثابت دې. لیکن د یوې شپې یا ورځې د فضیلت نه په دې کښې د داسې عبادت کولو فضیلت ندې ثابت چې د هغه عبادت څه اثر نه وی (یعنی حدیث وغیره سره نه وی ثابت) بلکه د دې د تخصیص نه بنۀ په صراحت سره منع راغلې ده

قال رسول الله ﷺ لا تختصوا لیلة الجمعة بقیام من بین اللیالی ولا تختصوا یوم الجمعة بصیام من بین الایام (مسلم) والله هو العاصم من المحن فالمعتلى الدين ۷ رمضان المبارک ۱۴۱۱ هجری .

كتاب السلوك

د تصلب في الدين (يعني په دين كښې د راسخيت نه پس) نه پس اصلاحي تعلق ساتل ضروري نه دي

سوال د اكابرينو ارشاد دې چې د شيخ د وفات نه پس د هغه په هغه مريدانو باندې هم چې هغوئ د بيعت مجاز شوي وي لا زم دي چې د بل يو شيخ سره خپل اصلاحي تعلق ولري. آيا دا حكم په هر حال كښې د هر يو شخص د پاره دې او كه نه د دې نه څوک مستثنى كيدې هم شي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د شيخ د وفات نه پس د هغه سرى چې د بيعت اجازت ورته وركړې شوې وي دهغه حالت به په دوو كښې يو وي. يا خو به هغه نامكمله وي او يا به په كښې لږ ډير پوخ والې راغلې وي. چا ته چې د بيعت اجازت وركړې شي نو د هغې نه دا نه ثابيتږى چې په ده كښې پوخ والې راغلې دې. كچه (يعني نامكمله) سرى ته هم په دې طمع د بيعت اجازت وركړې كيږى چې كه دې توجه وكړى نو پوخ والې به په كښې پيدا شي.

كه چيرې دا سرې چا ته چې د بيعت اجازت وركړې شي لا كچه وي نو په دې باندې د شيخ د وفات نه پس بل شيخ سره داسې تعلق لرل فرض دى لكه څه رنګه چې ئې اول شيخ سره تعلق وو. يعنى چې هغه ته د خپل حالت په باره كښې خبر هم وركوى او د هغه تابعدارى هم كوى.

او كه چيرې په ده كښې پوخ والې راغلې وى نو د دويم شيخ سره صرف د مشورې د پاره تعلق ساتل كافى كيږى. هغه ته د خپلو حالاتو خبر وركول او د هغه تابعدارى كول ضرورى نه دى. په اهمو خبرو كښې دې ورسره مشوره كوى. او دا خبره هم ورسره ده چې د هغه د مشورې تابعدارى كول ضرورى ندى. د مشورې كولو نه مقصد صرف دومره وى چې كومه مسئله راپيښه شوې ده د هغې مختلف اړخونه رابښكاره شى. د دې نه پس كه د مشوره وركوونكى رائې ښه معلومه شى نو د هغه تابعدارى دې وكړې شى او كه چيرې خپله رائې ورته حقه معلومه شى نو د هغې مطابق دې عمل وكړى د مشورې حقيقت همدومره دې.

د پوخ والى اندازه

كله كله د ابليس په وسوسې سره ډيرو كچه او نامكملو حضراتو ته په خپل ګمان كښې ځان پوخ معلوم شى. د چا د حقيقى پوخ والى د فيصلې د پاره دوه اندازې كول ضرورى دى

۱ د هغه وخت د اكابرينو او د اصلاح كوونكو په زړونو كښې د هغه د پاره مينه او محبت وى.

او د اصلاح کولو په فن کښې د هغه د ماهر کېدو په حقله ښه گمان ساتي. او چې دې کوم ديني خدمتونه کوي هغې ته په ښه ستاينلې شوي او د عزت په نظر گوري

۲ - الله تعالى چې د دۀ نه کوم ديني خدمتونه اخلي د هغې ښه نتيجه راوخي. د عوامو او د نيکانو د هغه اړخ ته رجوع کيږي. او د دۀ په صحبت سره د هغوی اصلاح هم کيږي

دا دوه اندازې دی د پوخ والي. يوه د اصلاح کوونکو له اړخه او بل د فائده اخستونکی له اړخه. که چيرې چا ته دا مقام نوی تر لاسه شوې نو هغه د اصلاح کولو په فن کښې لا پوخ ندې بلکه کچه دې. په دويم قسم کښې هم کله کله مسئله څه دا رنگه راپيښه شی چې خپله رائې بيا بلکل فنا کول غواړی د پوخ والي باوجود د بل يو د ماهر د فن تابعداری واجب شی. چې کوم سړې داسې په يو مسئله کښې مبتلا شوې وی که په هغه کښې پوخ والې وی نو هغه د خپل عقل او د ژور نظر په ذريعه د داسې واقعاتو فيصله کولې شی والله سبحانه وتعالى اعلم

سلخ رجب ۱۴۰۷ هجری

د خپل شيخ په ژوند کښې د بل شيخ صحبت

سوال: دخپل شيخ په ژوند کښې د بل شيخ په صحبت کښې ناسته او د هغه نه فائده اخستل صحيح دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مريدانو دوه حالې وی:

۱ - مبتدی يعنی شروع کوونکې چې د هغه د خپل شيخ سره تعلق لا پوخ شوې نوی.

د دۀ د پاره د بل شيخ په صحبت کښې ناسته سخته د ضرر خبره ده، د دې نه د دۀ د گډوډ کيدو شبهه کيدې شی. حال به ئې داسې شی چې بس د کوم شيخ په صحبت کښې هم يو ځل يا دوه ځل کينی بس په هغه باندې به عاشق وی. نتيجه به ئې دا رواخی چې د يو در به هم پاتې نه شی، د هر اړخ نه به محروم شی. نو د داسې سړی د پاره د بل شيخ په صحبت کښې ناسته روا نه ده.

۲ - د خپل شيخ سره ئې دومره يو پوخ تعلق جوړ شو چې د يو لوئ نه لوئ شيخ په صحبت کښې کينی نو بيا هم د هغه د خپل شيخ سره په تعلق باندې اثر نه غورځيږی.

د دۀ دوه حالته دی

اول دا چې د خپل شيخ صحبت ئې موجود وی ده لره هم په دې باندې گذاره کول په کار دی بل اړخ ته چې دې توجه کوی نو دا په يک جهتی کښې خلل راولی

دويم دا چې د خپل شيخ صحبت ورته موجود نه وی په دې حال کښې د فائدې اخستو دوه صورته دی

۱ د ښکاره گناه. او د باطني گناه نه پاک والې يا د يو باطني مسئلې حل کول په ذريعه د خبر

ورکولو او د تابعدارئ کولو

دا تعلق دې صرف دخپل شيخ سره ولری.د خط او کتابت په ذريعه دې خپله اصلاح وکړی.که چيرې خط او کتابت هم گران وی نو بيا دې د يو بل شيخ سره له سره اصلاحی تعلق جوړ کړی.

۲ - بغيرد خبر ورکولو او د تابعدارئ کولو د تعلق نه صرف د چا د مجلس د برکت حاصلولو د پاره يا د هغوی د اوچتو حالاتو او اقوالو او ارشاداتو نه د فائدې اخستلو د پاره د هغه په مجلس کښې ناست وی

د دې دوه قسمونه دی:

اول: پاکوالې: د گناهونو،رذائلو او د باطنی مشکلاتو د علاج کولو د پاره.

دويم: د احوالو او د مقاماتو د پورته کولو د پاره.

دا دواړه قسمه فائده د خپل شيخ نه بغير د بل شيخ نه هم اخستې شی.بلکه ړومبی شيخ له پکاردی چې که د دويم شيخ په صلاحيت ئې باور وی نو د مريد د اصلاح ،ترقی، او د باطنی مرضونو د علاج د خبر ورکولو په ذريعه او د تابعدارئ کولوپه ذريعه مکمله ذمه واری دې همدغه شيخ ته وسپاری د چا د صحبت نه چې مريد ته فائده رسيږی، په دې کښې د مريد او د ړمبی شيخ د دواړو فائده ده.

وهو ظاهر جدا عند اهل الفن وعليه عملهم وان فرضنا خفاءه على البعض فلا يخفى على المحق والمحقق.

دا حکم په هغه صورت کښې دې چې د ړومبی شيخ صحبت ورته گران وی ليکن د خط او کتابت په ذريعه د دۀ فائده اخستل گران نوی.که چيرې خط او کتابت هم گران وی يا د استفادې د پاره نه کافی کيږی نو بيا د دې شيخ سره د تعلق ختمول او د بل شيخ سره تعلق جوړول واجب دی.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۷ رمضان المبارک ۱۴۰۸ هجری

د بيعت او طريقت ثبوت

سوال: خينی خلق وائی چې عالمانو او د مشايخو نه د بيعت کيدو کوم رواج دې د دې څه ثبوت نشته هغوی چې خلقو له کومې وظيفې او ذکرونه ورکوی د هغې هم په شريعت کښې څه اصل نشته. د رسول الله ﷺ او د صحابهٔ کرامو ؓ نه د دې په حقله څه روايت نه دې نقل کړې شوې.د دې وجې نه دا ټول بدعت دې.که د دې خيزونو په حقله څه قوی او مضبوط دليلونه وی نو هغه راته راوړاندې کړئ او زمونږ اطمينان پرې وکړئ.بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د بيعت حقيقت دا دې چې د چا بزرگ په وړاندې د خپلو گناهونو نه توبه کول.او خپل نفس د گناهونو نه د پاکولو او په فضائلو سره د ښائسته کولو عهد او وعده کول دی.ددې مقصد تر لاسه کولو د پاره د يو بزرگ سره ښه په پابندئ سره اصلاحی تعلق جوړول

ضروری دی او د دې وجوهات به اوس ولیکلې شي

په قرآن او حدیث کښې د دې ډیر مثالونه موندلې شي چې حضراتو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم او حضراتو صحابیاتو رضی الله عنهن د رسول الله ﷺ په لاس مبارک چې څنګه د اسلام، جهاد، او د خلافت بیعت کړې وو دغه رنګه په نیکیو باندې د راتګ او د ګناهونو نه د ځان ساتلو بیعت ئې هم د حضور ﷺ په لاس مبارک باندې کړې وو. لکه په سورت ممتحنه کښې چې ذکر شوی دی.

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾﴾ (الممتحنة: ۱۲)

دا ښځې د ښخوا څخه مسلمانانې وې. د جهاد زمانه هم نه وه. او د آیت مضمون هم پدې باندې دلالت کوی چې دا بیعت د طریقت وو.

د بوشمیر احادیثو نه هم د دې ثبوت موندلې شي. د نمونې په توګه د بخاری شریف دا دوه حدیثونه وګورئ

عن جرير بن عبدالله رضي الله عنه قال: بايعت رسول الله ﷺ على اقامة الصلوة وايتاء الزكوة والنصح لكل مسلم. (بخاری کتاب الایمان: ج۱ص۱۴)

عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه: كنا اذا بايعنا رسول الله ﷺ على السمع والطاعة يقول لنا: فيما استطعتم (بخاری کتاب الاحکام: ج۲ص۱۰۶۹)

هسې هم چې د اسلام، جهاد، او د خلافت بیعت په اجماع سره جائز او ثابت دې نو د اسلام د ټولو احکامو د پابندئ کولو عهد د چا بزرګ په لاس کولو کښې نه نقلا څه اشکال پاتې کیږی او نه عقلاً. دا نقل او عقل د تجربې او د مشاهدې نه ثابت دې چې د دنیا او د آخرت د تباهئ اصل سبب د نفس او شیطان تابعداری کول دی. د مال او دولت مینه. د عهدې او عزت مینه. بغض او کینه. تکبر او غرور. او ناشکری کول دا ټول د شیطان مکرونه دی. د نفس او د شیطان د وسوسو او د مکر او فریب د دې چلونو نه دې هر سړې په خپله په خپل محنت او کوشش سره ځان وساتی او ده نه دې د کوم الله والا بزرګ ضرورت نه وی نو عادتاً دا ناممکنه ده. د دې وجې نه الله تعالی د اسمانی کتابونو سره سره انبیاء علیهم السلام راولیږل. او په قرآن مجید کښې ئې د الله والا بزرګانو د صحبت کولو ځان په ځان وسا کړې ده لکه چې فرمائی

﴿الرَّحْمَٰنُ فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا﴾ (الفرقان ۵۹)

او بل ځای کښې فرمائی ﴿فَسْـَٔلُوٓا أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ (سورة النحل: ٤٢)

او یو بل ځای کښې فرمائی: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَكُونُوا مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾﴾ (سورة التوبة: ١١٩)

غرض دا چې د اهل الله صحبت اختیارول دومره یو مؤکده او معقولی خبره ده چې په دې باندې د څه دلیل د قائمولو حاجت او ضرورت نشته.

د ذکر کړې شوو مرضونو د علاج د پاره په قرون مشهود لها بالخیر کښې د طبعیتونو د سلامتیا له کبله یواځې د صادقینو سره ناسته هم کافی وه، د دې وجې نه د بیعت عام رواج نه وو، وروستو بیا په طبیعتونو کښې د فساد د غلبې له کبله د دې حاجت راپیښ شو.

د ذکر کړې شوو مرضونو وجود د قرآن او حدیث نه علاوه په مشاهده او وجدان سره هم ثابت دې، په قرآن او حدیث کښې د دې مرضونو ذکر هم دې او د دې د علاج کولو نسخې په کښې هم ښودلې شوې دی، لیکن مستقیمًا د قرآن او د حدیث نه په خپله خپل علاج کول د هر چا کار ندې، بلکه د دې د پاره د یو ماهر فی الفن ضرورت دې او د دې وجوهات دا دی:

۱- بغیر د ماهره کیدو نه د مرض په وجود باندې علم نه شی راتلې، بلکه داسې هم کیږی چې کله کله یو مرض لره کمال او یو رذیل کار او ګناه لره فضیلت وګنلې شی.

۲- چې په مرض باندې علم راشی نو بیا د هغې صحیح علاج نه شی کیدې.

۳- د مرض د سبب علاج ګران وی.

۴- په قرآن او حدیث کښې په ذکر کړې شوو نسخو کښې په اکثرو باندې علم نه وی.

۵- په دې بی شماره نسخو کښې د مرض د شان موافق اود مریض د طبیعت موافق د یوې نسخې انتخاب کول.

۶- د نسخې د استعمال ترکیب.

۷- او د استعمال موده.

۸- په نسخه کښې د نفع او د نقصان اندازه کول او په وخت د ضرورت نسخه بدلول.

دا ټولې فیصلې هغه ماهره طبیب کولې شی.

د علاج د پاره د یو بزرګ تعین کول د دې د پاره ضروری دی چې د دې نه په علاج کښې د خان له والی او د یو ځای نه کیدو په وجه سری ته فائده رسیږی. او د ډیرو بزرګانو نه په یو وخت کښې په علاج کولو سره په ذهن کښې انتشار پیدا کیږی، چې په کښې د نفع په ځای د نقصان د رسیدو ویره وی. لکه څه رنګه چې په جسمانی مرضونو کښې په یو وخت د ډیرو طبیبانو نه علاج کول مضر وی

د قرون مشهود لها بالخير نه په سلف صالحينو كښې بنه په باقاعدګۍ سره د بيعت اود طريقت رواج وو.د حضرت حسن بصری،حضرت فضيل بن عياض،حضرت عبدالله بن مبارک،حضرت شبلی،حضرت جنيد بغدادی وغيرهم ﷺ په شان په سوونو بلکه زرګونو حضرات د تصوف د فن امامان تير شوی دی،کوم چې د اسلامی دنيا د پاره په اتفاق سره بزرګان او مقتدی منلې کيږی.په هغه وخت کښې په لکونو فقهاء او محدثين ﷺموجود وو،هغوی چيرته په بيعت او طريقت باندې څه اشکال وړاندې نه کړو،که چيرې بيعت او طريقت ته بدعت اووئيلې شی نو دا خبره لا زمی ده چې نعوذ بالله د امت محمديه افضل ترينه خلق چې تابعين دی د هغوی نه واخله تر اوسه پورې چې خومره بزرګان دی دوی د دين نه بهر په دې ناروا کار پسې روان دی بلکه په خپله د بدعت کولو جرم کوی ، ليکن دا خبره ده چې په دې زمانه کښې په بيعت او طريقت کښې څه ناروا خبرې ورننوتلې دی يا په کښې خلقو ورننباسلې دی،او بعضې داسې څيزونه چې هغه غير مقصود دی هغه مقصودی وګڼلی شول. لکه:

١- مخکښې به اکابرينو له سالك نه دريښتونی طلب امتحان اخستلو او په مياشتو بلکه بعضې حضراتو به لهکلونو وروسته له يو چا سره بيعت کولو،نن صبا د ډيرو بيعت کيدونکو نيت صحيح نوی.لکه دا نيت کول چې د بيعت کولو سره د دنيا فريشانی ختمه شی،قرض خلاص شی، په مقدمه کښې کامياب شم،په وظيفه کښې مې اثر زيات شی، په خلقو کښې راته د مينې په نظر وکتلې شی،کشف او کرامت او په خاص توګه د قبرونو کشف راته حاصل شی،انوارات او تجليات راته په نظر راشی،د وجد او د جذب کيفيت راته پيدا شی،ښه ښه خوبونه راته په نظر راځی. پيريان مې تابعدار شی، د دم او د دعا غوښتلو د پاره راله خلق زيات راځی وغيره وغيره. او د دې سره سره دا چې نن صبا د مخې سره له ټولو خلقو سره بيعت کولې شی.د ګناه پرېښودو نيت د مريد نه وړاندې وی او نه وروسته،په عامه توګه دا وی چې يوه عمامه (پټکی) خوره کړې شی او چې په دې کښې خومره راګير شی نو په هغې بسم الله کړی.

٢ - اکابرينو به د ريښتونی طلب نه وروستو مناسبت ته کتل.که چيرې د خپل خان سره به ورته د ده مناسبت نه ښکاريدلو نو مريد ته به ئې د بل يو شيخ مشوره ورکوله.نن صبا څوک په دې خبره د سره عالم نه دی چې دا مناسبت په کښې لا د څه شی نوم دې؟

٣ - د مناسبت د کتلو نه پس به ئې د مريد د حالاتو په اعتبار سره د هغه د اصلاح د پاره نفع رسوونکې طريقه اختياروله .نن صبا هر مريد ته يو معمول او وظيفه ورکولې کيږی.لکه مطلب دا چې هر يو مريض ته يو قسم دوائی ورکولې شی

٤ - سلفو به د دې ډير اهتمام کولو چې د حالاتو اطلاع به ورته مريد ورکوله.نن صبا دا صفت هم په بعضې بعضې ځايونو کښې دې.په عامه توګه دا کيږی چې بس په کال کښې يو ځل ورغلو

او څه نذرانه وغیره دې ورکړه نو بیا مزې کوه

۵ د اکابرینو په مجلسونو کښې د مریدانو د اصلاح د پاره هغوی له غیر شرعی اونامناسبه کارونو نه منع کول د ورځې او شپې یو مستقل معمول وو، په دې وخت کښې دا صفت په یو نیم ځائې کښې موندل کیږی.

۶ - اکابرینو به ذکر او اذکار لازمی ښودلو لیکن دا ذکر او اذکار به یې د مقصود د پاره یوه ذریعه ګڼلې شوه او مریدانو ته به دا ښودلې شو چې د دې نه مقصد دا دی چې د الله تعالی نافرمانئ پریښودلې شی، نن صبا خو ذکر او اذکار مقصود ګڼلی شی منکراتو باندې نه نیول د دې غټ دلیل دې.

ځینو اکابرینو به د ډیر ذکر په ذریعه دمرید اصلاح کوله، چې ګناهونه په دې سره لاندې شی، لیکن تجربه په دې خبره باندې ګواه ده چې نن صبا داسې کول کافی نه دی، او په باقاعدګئ سره چې د حالاتو خبر ورنه کړې شی او په دې توګه علاج ونه کړې شی نو مرید ته صحت نه شی تر لاسه کیدې. ځکه چې په وړاندینی وختونو کښې په طبیعتونو کښې سلامتی وه او ماحول او معاشره تر دومره حده پورې نه وه خرابه شوې، د دې وجې نه به ذکر او اذکار کافی کیدل، اوس نن صبا په طبیعتونو کښې دومره فساد او په معاشره کښې دومره خرابوالې راغلې دې چې یواځې د ذکر او اذکارو په پابندئ سره وئیل د اصلاح د پاره نه کافی کیږی، د دې وجې نه مشاهده ده چې د ځینو خلقو د بیعت کیدو کلونه تیر شی لیکن د شیخ له طرفه ورته له یوځیز څخه د منع کیدلو خبره نه وی. نو له همدې کبله ئې هغه ښکاره ګناهونه هم نه وی پریښې لا پاتې دا چې د پټو ګناهونو نه ځان پاک کړی او په فضیلتونو سره ځان ښائسته کړی.

بیشکه او شبهې دا خبره ده چې په دې سلسله کښې د دې امورو اصلاح ضروری ده. لیکن په دې امورو سره ثابت شوې څیزونه رد کول عقلمندی نه ده، که په سر کښې سپګې پیدا شی نو د سپګو علاج به کولې شی دا نه چې کپړئ دې دا ځان نه بیله کړې شی.

ذکر او اذکار ځینی خو د احادیثو نه ثابت دی او ځینی د صحابۀ کرامو ﷺ د آثارو نه او ځینی ذکرونه مشایخ په خپله ښائی، د دې اصل هم په قرآن او حدیث کښې خامخا وی. لیکن دا خبره ده چې د طریقې او د وخت او د مقدار تعیین کول دا د مشایخو لخوا وی، چې د هغې په حقله هغوی په خپله تصریح کوی چې دا څیزونه نه سنت دی او نه مستحب. بلکه دا د مقصود تر لاسه کولو د پاره یوه ذریعه ده .نو د دې وجې نه د دې د شریعت نه ثبوت څه ضروری ندې. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۸ ذیقعده ۱۴۱٤ هجری

كتاب الطهارة

باب الوضوء

د اودس نه پس د آسمان طرفته کتل

سوال د فقهي په کتابونو کښې دا خبره ليکلې شوې ده چې د اودس نه پس آسمان ته کتل او شهادتين ونيل مستحب دی.نو آيا نظر اوچتول او آسمان ته کتل د تحقيق نه ثابت دی او که نه؟ او ورسره دا هم چې د فقهي په ځينې کتابونو کښې د مسواکې ګوتې اوچتول هم راغلی دی. ددې ثبوت شته او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د اودس نه پس آسمان ته کتل ثابت نه دی.په کوم حديث کښې چې د دې خبرې ذکر دې په هغې کښې يو راوی ابن عم ابی عقيل مجهول دې او **(يرفع بصره الی السماء)** الفاظ د دهٔ ادراج دې، په سر سری نظر سره په کتلو باندې دا روايت په دې کتابونو د حديث کښې وموندلې شو،صحيح مسلم،ج۱،ص ۱۲۲.سنن نسائی ج ۱ .ص۱۹.سنن ترمذی ج ۱ ،ص ۳۴.سنن ابن ماجه ص ۳۲،سنن ابی داود ج ۱ ،ص ۱۷،**عمل اليوم والليلة لابن السنی ص۱۸**.

په رومبی ذکر کړې شوی څلورو کتابونو کښې دا راوی ندې موجود ،د دې وجې نه د **(يرفع بصره)** اضافه په کښې هم نشته.او په وروستونی ذکر شوو دوو کتابونو کښې دا راوی موجود دې او د **(يرفع بصره)** اضافه په کښې هم شته.

دغه رنګې دا حديث په الفتح الربانی کښې په ج ۲، ص ۵۱ کښې په دوه سندونو سره ذکر کړې شوې دې. په کوم سند کښې چې دا راوی موجود دې په هغې کښې د نظر د پورته کولو ذکر شته او چې په کوم سند کښې دا راوی نشته په هغې کښې د نظر د پورته کولو ذکر نشته.

خلاصه د خبرې دا ده چې په حديث کښې صرف د شهادتينو د ونيلو ثبوت شته د نظر د آسمان ارخ ته د پورته کولو زياتې په کښې نشته،او د شهادتينو د ونيلو سره د ګوتې د پورته کولو هم چرته څه ذکر نشته. علامه طحطاوی رحمه الله په حاشيه د مراقی الفلاح کښې د علامه غزنوی نه نقل کړې دی چې **يشير بسبابته حين النظر الی السماء**.ليکن د دې الفاظو ځاىٔ د اخذ ئې نه دې ښودلې او په احنافو کښې د دې نوم دير فقهاء تير شوې دی چې تول د متاخرينو د طبقې سره تعلق لری او د دوی قول بې د تحقيق نه قبول نه دې.

قال العلامة السهارنپوری رحمه الله:عن ابن عمه: (مجهول لا يعرف) عن عقبة بن عامر الجهنی(و بعد

اسطر قال ابن عمر ابي عقيل عند قوله ﷺ فاحسن الوضوء: ثم رفع المتوضي نظره الى السماء ولم يذكر جهير بن نفير فقال اشهد ان لا اله الا الله الحديث. وساق الراوي الحديث سوى ترك قصة الراعي ولا حاله ثم رفع نظره الى السماء بمعنى حديث معاوية. (بذل المجهود: ج ا ص ۱۰۳) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۳ رمضان ۱٤۱۰ هجری

د زنې او د حلق تر مينځ ځای د مخ د حد نه خارج دې

سوال د اودس کولو په وخت کښې د زنې او د حلق په مينځ کښې چې کوم ځای دې د هغې وينځل فرض دی او که نه؟ حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله په امداد الاحکام کښې دا هم د مخ يو جزء شمارلې دې. او د دې وينځل ئې فرض کړی دی. او په استدلال کښې ئې دا عبارت وړاندې کړې دې

الى اسفل الذقن وهي مجمع لحييه واللحى منبت اللحية فوق عظم الاسنان لمن ليست له لحية كثيفة وفي حقه الى ما لاقى البشرة من اوجه وحده عرضا ما بين شحمتي الاذنين ويدخل في الغايتين جزء منهما لا تصاله بالفرض والبياض الذي بين العذار والاذن. (حاشية الطحطاوي على المراقي: ص ۳۰)

مونږ ته د دې مسئلې تحقيقي جواب وليکئ دا به ستاسو مهرباني وی. بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د زنې او د حلق د مينځنۍ حصې وينځل فرض نه دی. دا د مخ د حدودو نه خارج دې په دې باندې د فقهې دا تصريحات گواه دی :

قال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاري رحمه الله : ويجب ايصال الماء الى الذقن قبل نبات اللحية وتحت الذقن لا يجب ايصال الماء اليه. (خلاصة الفتاوى: ج ا ص ۲۱)

وقال العلامة الحلبي رحمه الله : وحد الوجه تقريبا ما بين قصاص الشعر الى اسفل الذقن و شحمتي الاذنين و تحقيقا ما بين ملتقى عظمي الجبهة و القحف و ملتقى اللحيين و شحمتي الاذنين. (حلبي كبير: ص ۱۵)

وقال الحافظ العيني رحمه الله : والوجه في اللغة ماخوذ من المواجهة و هي المقابلة و حده في الطول من مبدا سطح الجبهة الى منتهى اللحيين وهما عظما الحنك ويسميان الفكين وعليهما منابت الاسنان السفلى. (البناية: ج ا ص ۱۰۰)

و قال العلامة القهستاني رحمه الله : (واسفل الذقن) بفتحتين مجمع اللحيين والمراد حده عند المحقق و هو الصق ما يبدو للمواجهة عند الاكثرين فاسفله في الوجهين غير داخل في الوجه فلا يغسل كما في حاشية الهداية للشيخ الاسلام عصام الدين رحمه الله (جامع الرموز ج ا ص ۱۳)

وقال العلامة اللكنوى رحمه الله: قال ہو اسفل اللحن معطوف على الاذن ہو خارج عن المغيا كالمعطوف عليہ ہو الذقن بفتحتين مجتمع العظمين اللذين هما منبتا الاسنان كذا فى القاموس: ويفهم من زيادة الاسفل ان الذقن داخل فى الوجه.(السعاية: ج۱،ص۲) وقال ايضا: وفى مبسوط شيخ الاسلام: ويجب ان يفرض غسل اللحيين فى الطهارة لانهما من الوجه على الحقيقة الا اناثر كنا ها لحقيقة بالاجماع.(حاشية الهداية ج۱،ص۱۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم		۲۳ جمادى الاولى ۱۴۱۳ هجرى

په بدن باندې دستنې په ذريعه نقش كړې شوې نوم د طهارت مانع ندې

سوال: ځينې خلق په خټ،مټ يا لاس وغيره باندې خپل نوم يا څه عكس وغيره په ستنه باندې پوخ ليكى،كوم چې په تور يا شين رنګ كښې موجود وى،نو پوښتنه داده چې دا تور يا شين رنګ د اودس يا د غسل د كيدو مانع دې او كه نه؟ كه مانع وى نو چې په داسې حالت كښې كوم مونځونه كړې شوې دى د هغې به څه حكم وى؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: په بدن باندې په ستنه داسې پوخ نوم په خپله ليكل يا په بل چا باندې ليكل حرام دى،په حديث كښې په داسې خلقو باندې چې دا پوخ نوم په ستنه ليكى يا ئې په بل باندې ليكى لعنت ونيلې شوې دې،او د دې سره دا خبره هم ده چې په دې طريقې اختيارولو سره وينه راوځى او د رنګ سره ګډه شى او چكڼ شى چې په دې سره دغه ځائې پليت شى،البته دا خبره ده چې اودس او غسل ورسره صحيح كيږى ځكه چې د نجاست د محل نه كله نجاست لرې كول ناممكنه وى نو صرف په اوبو سره وينځل كافى كيږى،د نجاست أثر زائله كول ضرورى نه دى .

عن ابن عمر رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ لعن الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة.(بخارى،مسلم،نسائى و ابن ماجه) . قال النووى رحمه الله: وهو حرام على الفاعلة والمفعول بها باختيارها.(شرح النووى:ص۲۰۰)

وقال ابن عابدين رحمه الله: يستفاد مما مر حكم الوشم فى نحو اليد وهو انه كالاختضاب او الصبغ بالمتنجس لانه اذا غرزت اليد او الشفة مثلاً بابرة ثم حشى محلها بكحل او نيلة ليخضر تنجس الكحل بالدم فاذا جمد الدم والتام الجرح بقى محله اخضر فاذا غسل طهر لانه اثر يشق زواله لانه لايزول الا بسلخ الجلد او جرحه فاذا كان لا يكلف بازالة الاثر الذى يزول بماء حار او صابون فعدم التكليف هنا اولى وقد صرح به فى القنية فقال ولو اتخذ فى يده وشما لايلزمه السلخ اهـ(ردالمحتار: ج۱،ص۳۰) والله سبحانه وتعالى اعلم		۱۳ شعبان ۱۴۱۹ هجرى

په اودس کښې د قی کولو حکم

سوال آیا په مطلقاً قی کولو سره اودس ماتیږی؟ که په دې کښې څه تفصیل وی نو هغه راته ولیکئ دا به ستاسو احسان وی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د قی مختلف قسمونه دی.

۱ - د بلغم قې
۲ - د روانې وینې قې
۳ - د چکئ وینې قې
۴ - د خوراک قې
۵ - د اوبو قې. اګر که د هر رنګ وی.

د بلغم قې مطلقاً د اودس ماتونکې نه دې.

د روانې وینې قې مطلقاً اودس لره ماتوونکې دې.

او په باقې پاتې دریو قسمونو کښې دا تفصیل دې، چې که چیرې دا قې په ډکه خوله سره کړې شوې وی نو دا اودس لره ماتونکې دې لیکن د خوراک او د اوبو په قی کښې دا خبره شرط ده چې خوراک او اوبو معدې ته د رسیدو نه پس قې شوې وی. او که د دې څیزونو قې په ډکه خولېه سره نوی شوې نو بیا اودس لره ماتونکی ندې.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وينقضه قيء ملأ فاه بان يضبط بتكلف من مرة بالكسر اى الصفراء او علق اى سوداء واما العلق النازل من الراس فغير ناقض او طعام او ماء اذا وصل الى معدته وان لم يستقر وهو نجس مغلظ ولو من صبى ساعة ارتضاعه هو الصحيح لمخالطة النجاسة ذكره الحلبي ولو هو فى المرىء فلا نقض اتفاقا كقىء حية او دود كثير لطهارته فى نفسه كماء فم النائم فانه طاهر مطلقا به يفتى بخلاف ماء فم الميت فانه نجس كقىء عين خمر او بول وان لم ينقض لقلته لنجاسته بالاصالة لا بالمجاورة لا ينقضه قىء من بلغم على المعتمد اصلا الا المخلوط بطعام فيعتبر الغالب ولو استويا فكل على حدة ولا ينقضه دم مائع من جوف او فم غلب على بزاق حكما للغالب او ساواه احتياطا لا ينقضه المغلوب بالبزاق والقيح كالدم والاختلاط بالمخاط كالبزاق (رد المحتار ج ص) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ رجب ۱۴۲۰ هجری

په ډکې خولې سره د قی کولو مطلب

سوال د خوراک یا د اوبو قې چې په ډکې خولې سره وی نو اودس لره ماتونکې دې نو اوس پوښتنه دا ده چې په ډکه خوله د قی کولو مطلب څه دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې کښې دوه قولونه دی:
۱- دومره قې وی چې د هغې حصارول ممکن نه وی.
۲- چې د هغې حصارول ممکن وی خو په تکلف او محنت سره.
ړومبی قول اوسع دې او دویم قول احوط دې.
قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويملؤه في ملاء فاه بان يضبط بتكلفه
وقال علامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله بان يضبط) اى يمسك بتكلف وهذا مامشى عليه في الهداية والاختيار والكافي والخلاصة وصححه فخر الاسلام وقاضيخان وقيل ما لا يقدر على امساكه. قال في البدائع: وعليه اعتمد الشيخ ابو منصور وهو الصحيح وفي الحلية: الاول الاشبه. (ردالمحتار ج۱ص۱۰) والله سبحانه وتعالى اعلم.
۲۹ رجب ۱۴۲۰ هجری

په وقفې وقفې سره د راتلونکې قی حکم

سوال : که چیرې لږ لږ وخت پس قې راځی او په ډکه خوله نه وی نو آیا دې سره به اودس مات شی او که نه؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې په یو ځل زړه خرابیدو باندې لږ لږ قې وشی نو بیا به په مجموعه باندې حکم لګولې شی. که چیرې مجموعه دومره وی چې که دا قې یو ځائ شوې وې نو خوله به ترې ډکیده نو دې سره به بیا اودس ماتیږی او که داسې نه وی نو نه ماتیږی. او که چیرې په یو ځل زړه خرابیدو سره نه وی بلکه دا هر ځل لږ لږ قې کول په بیل بیل زړه خرابیدو سره وی نو هر یو له به ځان له اعتبار ورکولې شی. تول به نه شی راجمع کولې. نو په دې صورت کښې به بیا اودس نه ماتیږی.
قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويجمع متفرق القيء ويجعل كقيء واحد لاتحاد السبب وهو الغثيان عند محمد رحمه الله وهو الاصح لان الاصل اضافة الاحكام الى اسبابها الا لمانع كما بسط في الكافي.
وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (ويجمع متفرق القيء الخ) اى لو قاء متفرقا بحيث لو جمع صار ملء الفم فابو يوسف رحمه الله يعتبر اتحاد المجلس فان حصل ملء الفم في مجلس واحد نقض عنده وان تعدد الغثيان و محمد رحمه الله يعتبر اتحاد السبب وهو الغثيان اه درر و تفسير اتحاده ان يقيء ثانيا قبل سكون النفس من الغثيان فان بعد سكونها كان مختلفا بحر والمسالة رباعية: لانه اما ان يتحدا فينقض اتفاقا او يتعددا فلا اتفاقا او يتحد السبب فقط او المجلس فقط وفيهما الخلاف. (ردالمحتار ج۱ص۱۰) والله سبحانه وتعالى اعلم
۲۹ رجب ۱۴۲۰ هجری

باب الغسل

د حشفې د بعضې حصې له دخول سره غسل نه واجبيږی

سوال د خپلې بې بې سره د ملاعبت په وخت کښې د بعضې حشفې په داخليدو سره آيا صرف اودس ماتيږی او که نه غسل هم ورسره واجبيږی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د حشفې د بعضې حصې داخليدل اودس لره ماتوی او غسل لره نه واجبوی. د ټولې حشفې داخليدلو سره غسل واجبيږی.

قال العلامة التمرتاشي رحمه الله: في بيان موجبات الغسل: وفرض عند مني منفصل عن مقره بشهوة وايلاج حشفة آدمي او قدرها من مقطوعها في احد سبيلي آدمي يجامع مثله عليهما لو مكلفين وان لم ينزل (ردالمحتار ج۱ص۱۶۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

غره ذی القعده ۱۴۱۸ هجری

باب المیاه

د کوم کوهی نه چې نجاست راویستل مشکل وی د هغې پاکوالی حکم

سوال زمونږ په علاقه کښې د کرکروندې د پاره د ټیوب ویل یا د دومره ژور کوهی نه کار اخستلې شی چې د هغې ژور والې د د پنځه ویشتو نه واخله تر د دیرشو ګزو پورې وی او په دې کښې تقریباً اته یا لس ګزه ژورې اوبو وی. کله چې مونږ ماشین ولګوو نو ماشین د خپل طاقت مطابق هغه ولاړې اته یا لس ګزه اوبه راوباسی او بیا چې په کښې کومې نوې اوبه راځی نوماشین هغه له مخې سره راوباسی. په ځینی کوهیانو کښې اوبو دومره په تلوار سره راځی چې که توله هفته هم ماشین لګیدلې وی لیکن کوهې به خالې نه شی. په داسې قسمه کوهی کښې مرغۍ وغیره جالې جوړوی. کله کله مرغۍ یا د دې بچې په کوهی کښې وغورځیږی او مړه شی، کله کله په کښې دا وپرسیږی . د ځینی علماؤ دا قول دې چې د دې په غورزیدلو سره کوهې خو ناپاکه شو لیکن د دې د راویستلو حاجت نشته. ځکه چې کله هم ماشین چالان شی نو نیم ساعت پس یا یو ساعت پس ټولې ناپاکې اوبه ترې نه خارجیږی. نوې اوبه کومې چې د کوهې د چشمې نه راوځی دا د روانو اوبو په حکم کښې دی. په روانو اوبو کښې اګر که نجاست پروت هم وی لیکن اوبه نه پلیږی .هر کله چې ماشین ودریږی نو دا اوبه بیا ناپاکه شی.بیا هر کله چې تر یو ساعت پورې ماشین چالان شی نو د ولاړو اوبو په وتلو سره باقې اوبه پاکیږی.

البته ځینی علماء فرمائی چې تر څو پورې ترې نه مرغۍ راونۀ باسی نو ټولې اوبه ناپاکې دی برابره خبره ده که دا اوبه ولاړې وی اوکه رواڼې وی . مهربانی وکړئ او د دې مسئلې وضاحت راته وکړئ . بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د نجاست په موجودګۍ کښې که د دې کوهې نه د ماشین په ذریعه اوبه راویستل شروع شی نو د یوې یا دوه دقیقو دچلیدو نه پس به د پاکو اوبو په اختلاط سره د روانو اوبو په حکم کښې د کیدلوپه وجه دا ټولې اوبه پاکې ګڼلې شی،خو په دې شرط چې که په دې اوبو کښې د نجاست څه رنګ.بوی یا خوند ونه موندلې شی، اوکه نه نو د اثر د موندل کیدو په وجه چې تر څو پورې په کښې اثر وی نو ټولې اوبه به ناپاکې وی د اثر د ختمیدو سره به پرې بیا د پاکۍ حکم لګولې شی

قال العلامة عبیدالله بن مسعود بن تاج الشریعة رحمه الله: واذا سد کلب عرض النهر ویجری الماء فوقه ان کان ما یلاقی الکلب اقل مما یلاقیه یجوز الوضوء فی الاسفل و الا لا.قال الفقیه ابو جعفر رحمه الله: علی هذا ادرکت مشایخی وعن ابی یوسف رحمه الله لا باس بالوضوء به اذا لم یتغیر احد اوصافه.

وقال العلامة اللكنوى رحمه الله فى حاشية على شرح الوقاية: قوله عن ابى يوسف اه هذا هو الذى رجحه ابن الهمام رحمه الله فى فتح القدير بان الحديث وهو الماء طهور لا ينجسه شئ لما حمل على الماء الجارى كان مقتضاه جواز التوضى من اسفله وان اخذت الجيفة اكثر الماء ولم يتغير انتهى كذا اختاره ابن امير حاج فى الحلية وقال صاحب الطريقة المحمدية عليه الفتوى. (شرح الوقاية: ج۱،ص۸۱)

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله: والحقوا بالجارى حوض الحمام لو الماء نازلا والغرف متدارك كحوض صغير يدخله الماء من جانب ويخرج من اخر ويجوز التوضى من كل الجوانب مطلقا به يفتى و كعين هى خمس فى خمس ينبع الماء عنه به يفتى قهستانى معزيا للتتمة. (ردالمحتار: ج۱،ص۱۳۷)

خو دومره خبره ده چې کله ماشين ودريږي نو څنګه چې معلومه ده چې د دې کوهي اوبه د لوئې تالاب د قدر نه کمې دي او لا تر اوسه پورې پليتي په دې کښې موجوده ده.نو د دې اوبه به پليتې وي. او هر کله چې د نجاست ټولې ذرې خارجې شي يا دومره ورسته شي چې په پليت کيدو سره د خاورو سره د ګډيدو يقين راشي نو بيا به د ماشين په ودريدو سره هم د کوهې اوبه پاکې وي . والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۸ ربيع الثاني ۱٤۰۸ هجری

د دستی نل پاک والي

سوال : د زمکې نه چې په کوم دستی پمپ باندې اوبه راښکلې شی که چيرې په دې پمپ کښې نجاست پريوځی نو دا به څنګه پاکولې شی؟ آيا د لږو اوبو په راښکلو به دا د جاری اوبو په حکم کښې شی او اوبه به ئې پاکې شی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ما په ۱۸ د جمادي الاخره ۹۲ هجرئ کښې د دستی پمپ د پاکئ دا آسانه طريقه ليکلې وه چې د زمکې د ورو ورو سورو نه اوبه راداخليږی.د دې باوجود که چيرې د کوهی نه يو څو دولونه راوښکلې شی يا د ماشين په ذريعه ترې نه څه اوبه راوښکلې شی نو په اتفاق سره دا خبره ثابته ده چې دې سره کوهې نه پاکيږی.همدغه شان د دستی نل نه د څه اوبو په راښکلو سره دا نه کافی کيږی.

ځينې حضراتو دا نل د کوهی په حکم کښې ګرځولې دی او فرمائيلی ئې دی چې د نل دننه ټولې اوبه دې راوښکلې شی دې سره به دا پاک شی. ليکن نل لره په کوهی باندې قياس کولو کښې دا اشکال دې چې د کوهی اوبه د زمکې د ورو ورو سورو نه راوځی او خپل طبعی جريان پورې محدوده وی.او د نل اوبه په راښکلو سره د زمکې د سطحې نه هم د پورته پورې راويستلې شی. په دې لحاظ سره نل د لوهی په حکم کښې معلوميږی.او د دې نه علاوه د کوهی ويخ او ديوالونه

باکول متعذر دی او د نل پاکوالې متعذر خو پریږده چې متعسر هم ندي.د دې وجې نه د دستې نل د بکولو طریقه داده چې چې څومره اوبه په دې کښې دی هغه راوه ویستلې شی او بیا ترې نه نورې دومره اوبه راوښکلې شی چې په هغې باندې ټول پیپ درې وارې وینځلې شی.په پیپ کښې دننه د اوبو د مقدار معلومولو طریقه داده چې مربع ۱۱۲ قطر x پلنوالې x ژور والې «یعنی نیم مربع قطر ضرب پلنوالې ، ضرب ژوروالې». دغه رنګې دې د اوبو حجم معلوم کړې شی او د ناپ مطابق دې اوبه وه ویستلې شی.که د اوبو ژوروالې معلوم نه شی نو په غالب ګمان دې عمل وکړې شی.د ټولو نه آسانه طریقه داده چې په پیپ کښې دې د پورته نه دومره اوبه واچولې شی چې پیپ ډک شی او اوبه ترې نه په پورته ارخ راوبهیږی

وروستو مې په دې باندې سوچ وکړو نو بله آسانه طریقه راته دا معلومه شوه چې د نل نه دې څه اوبه راوښلکې شی او راودې ویستلې شی نو د نل دننه ټولې اوبه به د جاری کیدو له کبله ټولې پاکې شی.د جریان په ذریعې د پاکۍ حاصلولو د پاره د پاکو اوبو ګډوډوالې شرط دې، «یعنی چې دې سره پاکې اوبه یوځاۍ شی» او دا شرط دلته موجود دې،ځکه چې د نل نه په اوبو راښکلو سره د دې د لاندې زمکې نه پاکې اوبه راوځی او دې سره ګډې وډې شی .

دغه شان د کوهی اوبه به هم د ماشین په ذریعه په جاری کولو سره پاکې شی، د فقهې په کتابونو کښې د دې ذکر ځکه نشته چې په هغه زمانه کښې د اوبو راښکلو ماشینونه نه وو

ما چې د زمکې د وړو وړو سورو نه دا راوتونکې اوبو په حقله څه لیکلې وو نو د هغې مطابق به دې اوبو ته جاری نه شی وئیلې کیدې.لیکن په دې کښې څه شک نشته چې د نل نه څومره اوبو راښکلې کیږی نو د زمکې نه هغومره پاکې اوبه راوځی او په دې کښې ګډیږی ،د دې وجې نه د نل نه په اوبو راښکلو سره به پاکې او ناپاکې ګډې وډې اوبه دجاری اوبو په حکم کښې شی . والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۲۸ ربیع الاول ۱٤۰۷ هجری

یو جنب په اوبو کښې لاس وه وهلو

سوال تاسو په احسن الفتاوی ج ۲.ص ٤۰ کښې لیکلې دی چې جنب په اوبو کښې لاس وه وهی نو اوبه به مستعملې وګرځی.د دې وجې نه په دې سره غسل کول صحیح نه دی. لیکن په فتاوی محمودیه کښې په ج۱.ص ۳۳ کښې د دې خلاف مسئله لیکلې شوې ده.یو لوئې تحقیق ئې کړې دې چې د هغې خلاصه داده چې صرف دومره اوبه به مستعملې ګرځی چې څومره په دې لاس پورې لګیدلې وی.باقی پاتې اوبه به مستعملې نه وی، چونکه له مستعملو اوبه نه غیر مستعملې اوبو زیاتې دی نو د دې وجې نه په دې باندې غسل کول روا دی

تاسو نه دا درخواست دې چې په دې بحث باندې یو وارې بیا نظر واچوئ او بـه مدلل جواب

رانه راکړئ ـ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې کښې اختلاف دې او دواړو اړخونو ته لوئ لوئ امامان او علماء دی. زما په خیال هماغه جواب راجح دې کوم چې په احسن الفتاوی کښې لیکلې شوې دې. دا قول راجح هم دې او احوط هم. لیکن دویم قول چې دې هغه اوسع هم دې او آسان هم دې. علامه ابن عابدین رحمه الله تعالى د دواړو ډلو اقوال سره د دلائلو نقل کړې دی او فیصله ئې کړې ده چې په وخت د ضرورت د دویم قول د وسعت او آسانتیا نه فائده اخستلې شی. اوکه نه نو په عامو حالاتو کښې احتیاط لازمی دې . د دې مسئلې د اهمیت له کبله مونږ دلته د شامیې ټول عبارت راوړو

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والمراد ان ما اتصل باعضائه وانفصل عنها مستعمل لا كل الماء على ما مر.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله والمراد الخ) صرح به في الحلية والبحر والنهر ورده العلامة المقدسي في شرح نظم الكنز بانه تاويل بعيد جدا (قوله على ما مر) اى من انه لا فرق بين الملقى والملاقي وهذه مسألة الفساقي وقد علمت ما فيها من المعترك العظيم بين العلماء المتاخرين. (رد المحتار ج۱ ص۳۰)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: فان المطلق اكثر من النصف جاز التطهير بالكل والا لا وهذا يعم الملقى والملاقي ففي الفساقي يجوز التوضي ما لم يعلم تساوي المستعمل على ما حققه في البحر والنهر والمنح.

قلت: لكن الشرنبلالي في شرح حققوهبانية فرق بينهما فراجعه متاملا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله على ما حققه في البحر الخ) حيث استدل على ذلك باطلاقهم المفيد للعموم كما مر وبقول البدائع: الماء القليل انما يخرج عن كونه مطهرا باختلاط غير المطهر به اذا كان غير المطهر غالبا: كماء الورد واللبن لا مغلوبا وههنا الماء المستعمل ما يلاقي البدن ولا شك انه اقل من غير المستعمل فكيف يخرج به من ان يكون مطهرا اهـ ونحوه في الحلية لابن امير حاج وفي فتاوى الشيخ سراج قارئ الهداية التي جمعها تلميذه المحقق ابن الهمام سئل عن فسقية صغيرة يتوضأ فيها الناس وينزل فيها الماء المستعمل وفي كل يوم ينزل فيها ماء جديد هل يجوز الوضوء فيها؟ اجاب: اذا لم يقع فيها غير الماء المذكور لا يضر اهـ واما اذا وقع فيها نجاسة تنجس لصغرها وقد استدل في البحر بعبارات اخر لا تدل له كما يظهر للمتامل لانها في الملقى والنزاع في الملاقي كما اوضحنا ما علقناه عليه فلذا اقتصرنا على ما ذكرنا.

(قوله فرق بينهما) اى بين الملقى والملاقي حيث قال: وما ذكر من ان الاستعمال بالجزء الذي يلاقي جسد المحدث يلاقي الماء فيصير ذلك الجزء مستهلكا في كثير فهو مردود فلم يكن الاستعمال في الجميع حكما وليس كالغسالة يصب القليل من الماء فيه اهـ وحاصله الرد على ما مر عن البدائع بان المحدث اذا انغمس او مس بعض

الماء صار مستعملا لجميع الماء حكما وان كان المستعمل حقيقة هو الملاقي للعضو فقط بخلاف ما لو القي فيه المستعمل القليل فانه لا يحكم على الجميع بالاستعمال لان المحدث لم يستعمل شيئا منه حتى يدعى ذلك وانما المستعمل حقيقة و حكما هو ذلك الملقى فقط و ملخصه ان الملقى لا يصير به الماء مستعملا الا بالغلبة بخلاف الملاقي فان الماء يصير مستعملا كله بمجرد ملاقاة العضو له ورد ذلك في البحر بانه لا معنى للفرق المذكور لان الشيوع والاختلاط في الصورتين سواء بل لقائل ان يقول: القاء الغسالة من خارج اقوى تاثيرا من غيره لتعين المستعمل فيه اهـ ولذلك امر الشارح بالتامل.

واعلم ان هذه المسالة مما تحيرت فيها افهام العلماء الاعلام ووقع فيها بينهم النزاع وشاع وذاع والف فيها العلامة قاسم رسالة سماها (رفع الاشتباه عن مسالة المياه) حقق فيها عدم الفرق بين الملقى والملاقي اي فلا يصير الماء مستعملا بمجرد الملاقاة قبل تغيير الغلبة في الملاقي كما تعتبر في الملقى و وافقه بعض اهل عصره و تعقبه غيرهم منهم تلميذه العلامة عبد البر بن الشحنة فرد عليه برسالة سماها (زهر الروض في مسالة الحوض) وقال: لا تغتر بما ذكره شيخنا العلامة قاسم ورد عليه ايضا في شرحه على الوهبانية واستدل بما في الخانية وغيرها: لو ادخل يده او رجله في الاناء للتبرد يصير الماء مستعملا لانعدام الضرورة وبما في الاسرار للامام الدبوسي حيث ذكر ما مر عن البدائع ثم قال: الا ان محمدا يقول: لما اغتسل في الماء القليل صار الكل مستعملا حكما اهـ ومن هنا نشا الفرق السابق و به افتى العلامة ابن الشلبي وانتصر في البحر للعلامة قاسم والف رسالة سماها (الخير الباقي في الوضوء من الفساقي) واجاب عما استدل به ابن الشحنة بانه مبني على القول الضعيف بنجاسة الماء المستعمل ومعلوم ان النجاسة ولو قليلة تفسد الماء القليل و اقره العلامة الباقاني والشيخ اسماعيل النابلسي و ولده سيدي عبد الغني وكذا في النهر والمنح وعلمت ايضا موافقته للمحقق ابن امير حاج وقارئ الهداية واليه يميل كلام العلامة نوح افندي ثم رايت الشارح في الخزائن مال الى ترجيحه وقال: انه الذي حرره صاحب البحر بعد اطلاعه على كتب المذهب ونقله عباراتها المضطربة ظاهرا وعلى ما الف في هذا الخصوص من الرسائل واقام على هذه الدعوى الصادقة البينة العادلة وقد حررت في ذلك رسالة حافلة كافلة بذلك متضمنة بتحقيق ما هنالك وبلغني ان شيخنا الشيخ شرف الدين الغزي محشي الاشباه مال الى ذلك كذلك اهـ ملخصا ملتقطا وفي ذلك توسعة عظيمة ولا سيما في زمن انقطاع المياه عن حياض المساجد وغيرها في بلادنا ولكن الاحتياط لا يخفى فينبغي لمن ابتلي بذلك ان لا يغمس عضوا ولكنه

الحوض الصغير بل يغترف منه ويغسل خارجه او ان وقعت الغسالة فيه ليكون من الملقى لا من الملاقى الذى فيه النزاع فان هذا المقام فيه للمقال مجال والله تعالى اعلم بحقيقة الحال. (ردالمحتار ج۱ ص۱۳۲) والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۵ جمادى الثانية ۱۴۱۰ هجرى

د گټر (گنده) اوبه په فلټر کولو سره نه پاکیږی

سوال که چرې د گټر اوبه فلټر کړې شي او په دې سره د دې اوصاف ثلاثه يعنې رنګ، بوی او خوند په خپل ځای شي نو آيا دا اوبه به طاهرې او مطهرې وګرځي او که نه ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د گټر کومې اوبه چې فلټر کړې شي هغه نه طاهرې دی او نه مطهرې. خو دا خبره ده چې که د فلټر کولو نه پس په هغې کنبې دومره اوبه واچولې شي چې د يو ذراع (شرعی گز) په مقدار ترې نه اوبهيږي نو دا به طاهرې او مطهرې وګرځي .

قال العلامة التمرتاشى رحمه الله: لو سال دم رجله مع العصير لا ينجس خلافا لمحمد رحمه الله: وفى الخزانة: اناء ان ماء احدهما طاهر والاخر نجس فصبا من مكان عال فاختلطا فى الهواء ثم نزلا طهر كله ولو اجرى ماء الانائين فى الارض صار بمنزلة ماء جار اه ونحوه فى الخلاصة و نظم المسالة المصنف فى منظومته (تحفة الاقران) وفى الذخيرة: لو اصابت الارض نجاسة فصب عليها الماء وجرى قدر ذراع طهرت الارض والماء طاهر بمنزلة الماء الجارى ولو اصابها المطر وجرى عليها طهرت ولو كان قليلا لم يجر فلا. (ردالمحتار ج۱ ص۱۲۵)

وقال ايضا: اذا رسب الزبل فى القساطل ولم يظهر اثره فالماء طاهر واذا وصل الى الحياض فى البيوت متغيرا ونزل فى حوض صغير او كبير فهو نجس وان زال تغيره بنفسه لان الماء النجس لا يطهر بتغيره بنفسه الا اذا جرى بعد ذلك بماء صاف فانه حينئذ يطهر فاذا انقطع الجريان بعد ذلك فان كان الحوض صغيرا و الزبل راسب فى اسفله تنجس مالم يصر الزبل حماة وهى الطين الاسود فانه اذا جرى بعد ذلك بماء صاف ثم انقطع لا ينجس (ردالمحتار ج۱ ص۱۳۰)

وقال فى الهندية: والماء الجارى بعد ما تغير احد اوصافه وحكم بنجاسته لا يحكم بطهارته مالم يزل ذلك التغير بان يرد عليه ماء طاهر حتى يزيل ذلك التغير كذا فى المحيط. (عالمگيرية: ج۱ ص۱۷) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۶ ذى الحجه ۱۴۱۲ هجرى

باب التیمم

چې د خومره نقصان ویره وي نو تیمم جائز دي؟

سوال یو شپونکې په ځنګل کښې بیزې څروي، په یو څه فاصله کښې اوبه شته.خو که چیرې دې د لمونځ لپاره اودس ته ځي نو دا ویره شته چې شرمخ به بیزو ته نقصان ورسوي.آیا په دې صورت کښې هغه په تیمم باندې مونځ کولې شي او که نه؟ چې د خومره نقصان ویره وي نو د تیمم اجازت شته؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په داسې صورت کښې دې په تیمم باندې مونځ کولې شي، اوچې د درهم په مقدار د نقصان ویره وي نو د تیمم اجازت شته.

قال العلامة الحصکفي رحمه الله: او خوف عدو کحیة او نار علی نفسه ولو من فاسق او حبس غریم او ماله ولو امانة.

وقال ابن عابدین رحمه الله :(قوله او ماله) عطف علی نفسه ولم ار من قدر المال بمقدار وسئل کره عن التتارخانیة ما یفید تقدیره بدرهم، کما یجوز له قطع الصلوٰة.(ردالمحتار ج،ص) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۸ رجب ۱۴۰۰ هجری

جنب دې له مسجد نه په تیمم کولو سره بهر شي

سوال که یو سړی ته په جمات کښې احتلام پیښ شي نو آیا د تیمم کولو نه پس ورته د جمات نه وتل پکار دي او که نه بغیر د تیمم نه ورته وتل پکار دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب چې تیمم وکړي او ووځي نو دا مستحب دي،او که د شپې په تیاره کښې ورته په بهر ته وتلو کښې د ځان یا د مال د تاوان ویره وي نو تیمم دې وکړي او د ویرې تر زائله کیدو پورې دې په جمات کښې اوسیږي، په داسې صورت کښې تیمم کول ځینو فقهاؤ واجب لیکلي دي، لیکن مونځ کول یا تلاوت کول ورته روا ندي.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله :ولو کان نائما فیه فاحتلم والماء خارجه وخشي من الخروج یتیمم وینام فیه الی ان یمکنه الخروج:قال في المنیة:وان احتلم في المسجد تیمم للخروج اذا لم یخف وان خاف یجلس مع التیمم ولا یصلي ولا یقرا اهو یؤیدما قلنا ان نفس النوم في المسجد لیس عبادة حتی یتیمم لها وانما هو لاجل مکثه في المسجد اولاجل مشیه فیه للخروج.(ردالمحتار ج،ص)

وقال شمس العلماء العلامة ابن نجیم رحمه الله عن المحیط:ولو اصابته الجنابة في المسجد قیل لا یباح له

الخروج من غير تيمم اعتبارا بالدخول وقيل يباح لان في الخروج تنزيه المسجد عن النجاسة وفي الدخول تلويثه بها اهو سيأتي في الحيض تمامه ان شاء الله تعالى. (البحر الرائق: ج،ص)

وقال في باب الحيض: وفي منية المصلي: وان احتلم في المسجد تيمم للخروج اذا لم يخف وان خاف يجلس مع التيمم ولا يصلي ولا يقرا اهو صرح في الذخيرة ان هذا التيمم مستحب وظاهر ما قدمناه في التيمم عن المحيط انه واجب ثم الظاهر ان المراد بالخوف الخوف من لحوق ضرر به بدنا او مالا كان يكون ليلا. (البحر الرائق ج،ص)

وقال العلامة ابو السعود رحمه الله: ولو احتلم في المسجد تيمم وخرج ان لم يخف وجلس مع التيمم ان خاف الا انه لا يصلي ولا يقرا كذا في منية المصلي وظاهر ما في المحيط وجوب هذا التيمم وفصل في السراج بين ان يخرج مسرعا فيجوز تركه او يمكث فيه للخوف فلا يجوز تركه وعليه يحمل ما في المحيط انتهى. (فتح المعين ج،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم ۳۰ رجب ۱٤۱۰ هجری

که له ملګری نه د اوبو دتر لاسه کولو یقین وی نو د تیمم څه حکم دي؟

سوال: د سفر په دوران کښې چې کله اوبه نه وی او د سفر په ملګرو کښې د چا نه د اوبو تر لاسه کیدو غالب ګمان وی نو د هغه نه اوبه غوښتل پکار دی او که نه اوبه ونه غوښتلې شی او تیمم وکړې شی؟ د سفر په ملګری کښې او په غیر ملګری کښې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په ملګری او په غیر ملګری کښې هیڅ فرق نشته. چې د چا نه درته هم د اوبو تر لاسه کیدو غالب ګمان وی نو د هغه نه غوښتل واجب دی په تیمم سره مونځ کول روا نه دی. خو که چا په داسې حالت کښې په تیمم سره مونځ وکړو، بیا که چیرې په غوښتلو سره اوبه تر لاسه شی نو خپل مونځ دې بیا راوګرځوی او که د مونځ کولو نه پس په غوښتلو ورته اوبه تر لاسه نشوې نو د مونځ راګرځول پرې هم نشته.

که چیرې چا د مونځ کولو نه پس هم اوبو ونه غوښتلې برابره خبره ده که د مونځ نه وړاندې د اوبو تر لاسه کیدو غالب ګمان ورته وی او که نه وی نو د امام صاحب رحمه الله په نیز د ده مونځ صحیح شو او د صاحبینو رحمهما الله په نیز د ده مونځ صحیح نه شو.

علامه حلبی د علامه صفار نه په دواړو قولونو کښې دا رنګې تطبیق نقل کړې دې چې د امام صاحب رحمه الله قول د داسې ځائ سره متعلق دې چې هلته اوبه په مشکله تر لاسه کیږی او د صاحبینو رحمهما الله قول د داسې ځائ سره متعلق دې چې هلته اوبه په آسانه سره تر لاسه کیږی او خلق ئې د څه تکلیف نه یو بل ته ورکوی

که په موضع متعسر الحصول کښې د چا د اوبو په غوښتلو سره په ترلاسه کیدو کښې شک

وی یا په غیر متعسر الحصول کښې د نه تر لاسه کیدو غالب گمان وی نو د امام صاحب رحمه الله په قول باندې په عمل کولو کښې وسعت دې او د صاحبینو رحمهما الله په قول باندې په عمل کولو کښې احتیاط دې.

قال العلامة الحلبی رحمه الله: وان کان مع رفیقه ماء لا یجوز له التیمم قبل ان یساله رفیقه الماء اذا کان غالب ظنه انه اذا ساله یعطیه وان تیمم قبل ان یسال فصلی ثم سال فاعطی یلزمه الاعادة وهذا علی وجوه: اما ان یغلب علی ظنه الاعطاء او المنع او استویا وعلی کل تقدیر اما ان یسال او تیمم ویصلی من غیر سوال واذا سال فاما ان یعطی او یمنع واذا منع قبل الصلوة فاما ان یسال بعدها اولا وعلی کلا التقدیرین فاما ان یعطی اولا واذا تیمم وصلی فاما ان یسال بعد الصلوة اولا وعلی کلا التقدیرین فاما ان یعطی اولا فالاقسام سبعة وعشرون. اما ان تیمم وصلی بلا سوال ثم سال فاعطی او اعطی بلا سوال فانه یلزمه الاعادة علی کل تقدیر اما فی ظن الاعطاء فظاهر واما فی غیره فلزوال الشك وظهور خطا الظن وان ساله فمنع جازت صلوته سواء کان السوال قبلها او بعدها لانه قد تحقق العجز من الابتداء ولا فائدة فی العطاء بعدها بعد المنع قبلها واما اذا تیمم وصلی من غیر سوال ولم یسال بعد لتیمیله الحال فعلی قول ابی حنیفة رحمه الله صلوته صحیحة فی الوجوه کلها لما قال فی الهدایة: لانه لا یلزمه الطلب من ملك الغیر وقالا: لا یجزیه لان الماء مبذول عادة انتهی والوجه هو التفصیل کما قال ابو النصر الصفار انه انما یجب السوال فی غیر موضع عزة الماء فانه حینئذ یتحقق ما قالاه من انه مبذول عادة والا فکونه مبذولا عادة فی کل موضع ظاهر المنع علی ما یشهد به کل من عانی الاسفار فینبغی ان یجب الطلب ولا تصح الصلوة بدونه فیما اذا ظن الاعطاء لظهور دلیلهما دون ما اذا ظن عدمه لکونه فی موضع عزة الماء اما اذا شك فی موضع عزة الماء او ظن المنع فی غیره فالاحتیاط علی قولهما والتوسعة فی قوله لان فی السوال ذلا. (حلبی کبیر:۷۸)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله من رفیقه) الاولی حذفه وابقاء المتن علی عمومه لما قال نوح افندی وغیره ذکر الرفیق جری مجری العادة والا فکل من حضر وقت الصلوة فحکمه کذلك رفیقا کان او غیره اه وقد یقال: اراد بالرفیق من معه من اهل القافلة وهو مفرد مضاف فیعم خصصه بقوله: ممن هو معه والظاهر انه لو کانت القافلة کبیرة یکفیه النداء فیها اذ یعسر الطلب من کل فرد وطلب رسوله کطلبه نظیر ما مر (ردالمحتار ج۱ ص۲۴۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۷ ربیع الاول ۱۴۲۱ هجری

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

د مسحې او تیمم طریقه

په دې لیکنه کښې دا خبره واضحه کړې شوې ده چې د سر او د څټ او د تیمم عامه مشهوره طریقه ثابته نه ده

په دې موضوع باندې یو ځانګړې ښکلې تحقیق او زورتدقیق



دمسحې او تیمم طریقه

● په عوامو او خواصو کښې د سر د مسحې دا طریقه مشهوره ده: «د دواړو لاسونو یواځې درې ګوتې د تندي اړخ ته په سر باندې کیږدي او وروسته څټ اړخ ته ئې بوځي، غټې ګوتې او ورسره خوا کښې نورې دوه ګوتې دا جدا ساتي.

● بیا د څټ د اړخه د دواړو لاسونو ورغوې په سر باندې کیږدي او تندي پورې ئې راولي.

● بیا چې کومې ګوتې غیرِ مستعمل پاتې دي په هغې باندې د غوږونو مسح وکړي.

بیا د ګوتو په شا طرف باندې د څټ مسح کوي.

● د تیمم دا طریقه مشهوره ده: «د چپ لاس د غټې ګوتې او ورسره خوا کښې د بلې ګوتې نه علاوه نورې درې ګوتې د ښي لاس په همدغه درې ګوتو په شا طرف باندې کیږدي او ترڅنګل پورې ئې ورسوي.

● بیا ئې چې څنګل پورې ولګوي نو بیرته ئې د ورغوي د شا اړخه پورې راولي.

● بیا همدغسې د چپ لاس مسح تر څنګل پورې کوي.

په دې رساله کښې دا ښودلې شوې دی چې د دې طریقې خو نه د فقهې اود حدیث نه څه ثبوت شته او نه د عقل سلیم نه د دې څه ثبوت شته

د مسحې او د تیمم طریقه

سوال د سرد مسحې چې کومه طریقه په علماؤکښې مشهوره ده هغه دا ده چې رومبې د دوارو لاسونو د درې درې ګوتو سره د سر د وړاندې حصې په داسې توګه باندې مسح کوی چې سبابه، ابهامه او ورغوی جدا ساتی. بیا په ورغوو سره د څټ د اړخه د وړاندې اړخ ته د سر د دوارو اړخونو مسح کوی او بیا د ابهامینو په باطن سره د غوږونو دظاهر مسح کوی او د سبابتینو په باطن سره د غوږونو د باطن مسح کوی

دا خبره مونږ ته معلومه شوې ده چې تاسو دا طریقه غیرِ ثابته ښودلې ده. او حال دا دې چې په خلاصة الفتاوی کښې همدا طریقه ذکر کړې شوې ده.د هغې څه جواب دې؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا طریقه ثابته نده بلکه سره د دې چې د نقل کړې شوې طریقې خلاف ده د عقل خلاف هم ده،کومو حضراتو چې دا طریقه لیکلې ده دا د هغوی خپل کار دې کومه چې د مستعملو اوبو نه د ځان ساتلو په خیال باندې بنا ده

د دوئ دا خیال د دې وجوهو له کبله صحیح نه دې

۱- دا خو نه د حدیث نه ثابته ده.نه د کوم صحابي د قول او فعل نه او نه دا د امام صاحب رحمه الله نه ثابته ده بلکه د عدم ثبوت نه هم زیاته خبره دا چې د رسول الله ﷺ ،د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم،او د مذهب د امامانو رحمهم الله دنقل کړې شوې صریحې طریقې نه هم خلاف ده،د دې خیال شروع په شپږمه پیړئ کښې شوې ده،د دې نه وړاندې د اسلام د شروع نه واخله تر پنځو سوو کالو پورې د دې څه ثبوت نه شي موندلې، معاذ الله آیا رسول الله ﷺ او صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته او د مذهب امامانو رحمهم الله ته د دې حکمت په حقله څه علم نه وو؟

بیا پرې نور ظلم دا وشو چې دې د خانه جوړ شوی خیال لره سنت ګڼلې شی،چې په رسول الله ﷺ باندې ښه ښکاره دروغ تړل دی،او په دې باندې ډیر سخت وعیدونه وارد شوې دی.په ضعیف حدیث باندې هم په دې خیال عمل کول روا نه دی چې سنت وګڼلې شی،لا پاتې دا خبره شوه چې د دې په حقله څه د ضعیف نه ضعیف حدیث هم نشته .

د ټولو بدعتونو ابتداء هم د داسې د ځان نه جوړ شوی مصالحو نه شوې ده

۲- کوم اندامونه چې په اودس کښې وینځلې شی نو تر څو پورې چې اوبه د دغه اندامونو نه نوی بیلې شوی نو دا اوبه مستعملې نه شی ګڼلې،نو د سر په مسح کولو کښې چې لاسونه تر څو د سر نه نه وی بیل شوې نو د هغې د مستعمل ګڼلو جواز له کومه راغې ؟

۳ - د دې څه معقوله وجه نشته چې په یو حرکت اګر که هغه حرکت خومره هم اوږد وی د هغې د وجې نه دې اوبو ته مستعمل و نه ویلې شی.او دویم اړخ ته په حرکت سره دې اوبه مستعملې

شی.که د مستعمل کیدو حکم لګولو بنا په اختلاف د محل باندې ده.نو په یو حرکت سره،اګر که اوږد هم وی،چې د ویښته په قدر له هم لاس وخوزیږی نو دا دمستعمل کیدو حکم دې پرې ولګی د ذکر شوو وجوهو له کبله فقهاؤ او محققینو ﷺ په دې طریقه باندې سخت رد کړې دې او دې ته ئې لغو او د عقل خلاف وئیلې دی.وهذه نصوصهم:

۱ - قال الامام قاضیخان رحمه الله: روی هشام عن ابی حنیفة و ابن رستم عن محمد رحمه الله انه یجوز الاستیعاب فی مسح الراس سنة و صورة ذلك ان یضع اصابع یدیه علی مقدم رأسه و کفیه علی فودیه و یمدهما الی القفاء فیجوز و أشار بعضهم الی طریق آخر احترازا عن الماء المستعمل إلا أن ذلك لا یمکن إلا بکلفة و مشقة فیجوز الاول ولا یصیر الماء مستعملا ضرورة إقامة السنة. (حاشیة علی هامش الهندیة: ج۱،ص۳۰)

۲ - قال الامام الزیلعی رحمه الله: (ومسح کل رأسه مرة و أذنیه بمائه) أی و مسح کل اذنیه بما الراس لانه معطوف علی الراس و تکلموا فی کیفیة المسح و الاظهر انه یضع کفیه و اصابعه علی مقدم رأسه و یمدها إلی القفاء علی وجه یستوعب جمیع الراس ثم یمسح اذنیه باصبعیه ولا یکون الماء مستعملا بهذا لان الاستیعاب بماء واحد لا یکون إلا بهذه الطریقة وما قاله بعضهم من أنه یجافی کفیه تحرزا عن الاستعمال لا یفید لان لا بد من الوضع والمد فان کان مستعملا بالوضع الاول فکذا بالثانی فلا یفید تاخیره ولان الاذنین من الراس بالنص أی حکمهما حکم الراس ولا یکون ذلك الا اذا مسحهما بماء مسح الراس ولانه لا یحتاج الی تجدید الماء لکل جزء من اجزاء الراس فالاذن اولی لکونه تبعا له.(تبیین الحقائق: ج۱،ص۱)

۳ - قال الحافظ العینی رحمه الله: فی الدرایة: و کیفیة الاستیعاب أن یبل کفیه و أصابع یدیه و یضع بطون ثلث من کل کف علی مقدم الراس و یعزل السبابتین والابهامین و یجافی الکفین و یمرهما الی مؤخر الراس ثم یمسح الفودین بالکفین و یمدهما الی مقدم الراس و یمسح ظاهر الاذنین بباطن الابهامین و باطن الاذنین بباطن السبابتین و یمسح رقبته بظاهر الیدین حتی یکون ماسحا ببلل لم یصر مستعملا هکذا روت عائشة رضی الله عنها مسح رسول الله ﷺ و هکذا المنقول عن السلف و عن ابی حنیفة و محمد رحمه الله انه یبدأ من اعلی راسه الی جبهته ثم الی القفاء عکسه کذا فی مبسوط شیخ الاسلام.

قلت: حدیث عائشة رضی الله عنها أخرجه النسائی انها وصفت وضوءه ﷺ و وضعت یدیها فی مقدم راسها ثم مسحت الی مؤخره ثم امرت یدیها باذنیها ثم مدت علی الخدین.

قالوا: الذی ذکره صاحب الدرایة ونسبه الی عائشة رضی الله عنها لم یذکره احد من ائمة الحدیث علی الوجه

المذكور ولا عن غير عائشة من الصحابة ﷺ اللذين وصفوا وضوء رسول الله ﷺ واخرج ابو داود حديث طلحة بن مصرف وفيه: رأيت رسول الله ﷺ يمسح رأسه مرة واحدة حتى بلغ القذال وهو اول القفا وقال مسدد: مسح رأسه من مقدمه الى مؤخره حتى اخرج يديه من تحت اذنيه واخرجه الطحاوي ولفظه: رأيت رسول الله ﷺ يمسح مقدم رأسه حتى بلغ القذال من مقدم عنقه واخرج النسائي حديث عبدالله بن زيد وفيه: ثم مسح رأسه بيديه فاقبل بهما و ادبر بدأ بمقدم رأسه ثم ذهب بهما الى قفاه ثم ردهما حتى رجع الى المكان الذي بدأ منه فهذه اوجه كثيرة يختار المتوضئ ايهما شاء واختار بعض اصحابنا رواية عبدالله بن زيد ﷺ وذكر السغناقي في كيفية المسح كما نقلناه عن الدراية ثم قال: كذا علمنا عين الاعيان الاستاذ المحقق مولانا فخر الدين المايرمغي رحمه الله. الا ان الرواية منصوصة في المبسوط على ان الماء لا يعطى له حكم الماء المستعمل حال الاستعمال. قال الاتراري: ان في المسنون يستوعب الحكم جميع الراس كما في المغسول لا بعضه كما ان في المغسولات الماء في العضو لا يصير مستعملا. فكذلك في حكم اقامة السنة في الممسوح ولكن يجب ان يستعمل فيه ثلث اصابع اليد في الاستيعاب ليقوم الاكثر مقام الكل حتى انه لو مسح باصبعه بجوانبها الاربعة لا يجوز في الاصح لعدم استعمال اكثر الاصابع. فانظر هل ترى احدا من الشروح وهم ائمة كبار اقام من الحديث شيئا مما ذكر من الصورة المذكورة في كيفية مسح الراس بالاستيعاب؟ (بناية: ج۱،ص۲)

٤ - قال الامام ابن الهمام رحمه الله: والمسنون في كيفية المسح ان يضع كفيه و اصابعه على مقدم رأسه آخذا الى القفاه على وجه يستوعبه ثم يمسح اذنيه على ما يذكر. واما مجافاة السباحتين مطلقا ليمسح بهما الاذنين و الكفين في الادبار ليرجع بهما على الفودين فلا اصل له في السنة لان الاستعمال لا يثبت قبل الانفصال والاذنان من الراس حتى جاز اتحاد بللهما ولان احدا ممن حكى وضوء رسول الله ﷺ لم يؤثر عنه ذلك فلو كان ذلك من الكيفيات المسنونة و هم شارعون في حكايتها لترتكبه و هي غير متبادرة لنصوا عليها. (فتح القدير: ج۱،ص۲)

٥ - قال العلامة الحلبي رحمه الله: قال الزيلعي: وهذا لا يفيد اذ لا بد من الوضع و المد فان كان مستعملا بالاول فكذا بالثاني فلا يفيد تأخيره النهي وايضا قد اتفقوا ان الماء ما دام في العضو لم يكن مستعملا فالاولى ان يضع كفيه و اصابعه على مقدم رأسه ويمدهما الى القفاه على وجه يستوعب جميع الراس ثم يمسح اذنيه باصبعيه ولا يكون الماء مستعملا لان الاستيعاب بماء واحد لا يكون الا بهذا الطريق. قال في فتاوى

قاضیخان: وصورة ذلك ان یضع اصابع یدیه علی مقدم راسه و کفیه علی فودیه ویمدهما الی القفا و اشار بعضهم الی طریق اخر احترازا عن الماء المستعمل الا ان ذلک لا یمکن الا بکلفة و مشقة فیجوز الاول ولا یصیر الماء مستعملا ضرورة اقامة السنة اھ ملخصا۔ (غنیة: ص۳)

٦ – نقل العلامة ابن نجیم رحمہ اللہ ما قدمنا من نص الامام الزیلعی رحمہ اللہ وقررہ (البحر الرائق: ج۱،ص۳)

۷- قال العلامة المخدوم محمد جعفر البوبکانی رحمہ اللہ: فی الکافی: و مسح کل راسه سنة وهو ان یضع اصابع یدیه علی مقدم راسه و کفیه علی فودیه و یمد الی القفاه انتهی لمحمد مسح الربع لا یصیر الماء مستعملا فی حق اقامة سنة الاستیعاب، کذا فی الخانیة وشرح المنیة فما یحتاج فی المسح الی ان یجافی کفیه عن فودیه اولا۔ من المضمرات اھ (متانة: ج۱،ص۳)

۸ – قال العلامة ابو السعود رحمہ اللہ: (قوله و کیفیته ان یبل کفیه الخ) فیه کلام لیعقوب باشا حموی، قال شیخنا: حاصله۔ کما فی الدرر تبعا للزیلعی ۔ ان هذه الکیفیة لا تفید عدم الاستعمال لانه لا بد من الوضع والمد فان کان مستعملا بالوضع الاول فکذا بالثانی فلا یفید تاخیره زاد فی الدرر: ان الماء ما دام فی العضو فقد اتفقوا علی عدم استعماله (فتح المعین: ج۱،ص۲۸)

۹- قال الامام الطحطاوی رحمہ اللہ: والاظهر فی کیفیة المسح ان یضع کفیه و اصابعه علی مقدم راسه ویمدهما الی القفا علی وجه یستوعب جمیع الراس ثم یمسح اذنیه باصبعیه ولا یکون الماء مستعملا بهذا، کذا فی البحر عن الزیلعی، وما قاله بعضهم انه یجافی کفیه حال المسح رده فی البحر۔ (حاشیة الطحطوی علی الدر المختار: ج۱،ص۲)

۱۰- وقال ایضاً: وله کیفیات متعددة وردت بها الاحادیث ذکر ثلاثة منها فی النهایة و اختار بعض اصحابنا روایة عبد الله بن زید بن عاصم المتفق علیها وهی بمعنی روایة محمد رحمہ اللہ فی موطئه عن مالک: مسح مقدم راسه حتی ذهب بهما الی القفا ثم ردهما الی المکان الذی منه بدأ و من ثم قال الزیلعی: والاظهر انه یضع کفیه و اصابعه علی مقدم راسه و یمدهما الی القفا علی وجه مستوعب جمیع الراس ثم یمسح اذنیه باصبعیه اھ و اختاره قاضیخان وقال الزاهدی: هکذا روی عن ابی حنیفة و محمد اھ قال فی الخانیة: ولا یکون الماء بهذا مستعملا ضرورة اقامة السنة اھ وما فی الخلاصة وغیرها من انه یضع علی مقدم راسه من کل ید ثلاثة اصابع و یمسک ابهامیه و سبابتیه و یجافی بطن کفیه ثم یضع کفیه علی جانبی راسه ففیه تکلف و مشقة کما

فی الخانیۃ بل قال الکمال: لا اصل لہ فی السنۃ (حاشیۃ الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص۰۰)

۱۱ - قال العلامۃ ابن عابدین رحمہ اللہ : (قولہ مستوعبۃ)۔۔قال الزیلعی: و تکلموا فی کیفیۃ المسح والاظہر ان یضع کفیہ و اصابعہ علی مقدم راسہ و یمدھما الی القفا علی وجہ یستوعب جمیع الراس ثم یمسح اذنیہ باصبعیہ اھ و ما قیل من انہ یجافی المسبحتین والابہامین لیمسح بہما الاذنین والکفین لیمسح بہما جانبی الراس خشیۃ الاستعمال فقال فی الفتح: لا اصل لہ فی السنۃ لان الاستعمال لا یثبت قبل الانفصال والاذنان من الراس. (ردالمحتار ج۱ص۱۰)

۱۲ - قال العلامۃ اللکنوی رحمہ اللہ: ثم اختلف عبارات اصحابنا فی الکیفیۃ فذکر فی المحیط انہ یضع من کل واحدۃ من یدیہ ثلث اصابع علی مقدم راسہ سوی الابہام والسبابۃ و یجافی بین کفیہ و یمدھما الی القفا ثم یضع کفیہ علی مؤخر راسہ و یمدھما الی مقدمہ ثم یمسح ظاہر کل اذن لکل ابہام و باطنہ من مسبحتہ وفی الینابیع کما نقلہ العینی: المسح ان یضع الخنصر والبنصر من کل ید علی مقدم الراس من منبت الشعر و یمدھما الی نصف راسہ ثم یرفعہما و یضع الوسطیین فی وسط راسہ و یمدھما الی منبت الشعر من قفاہ ثم یعدھما الی وسط راسہ ثم یضع الخنصر والبنصر فی وسط راسہ و یمدھما الی مقدم راسہ ثم یمدھما الی وسط راسہ ثم یمدھما الی قفاہ ثم یدخل السبابۃ فی اذنہ یدیرھا فی زوایاھا و ھکذا نقلہ فی التاترخانیۃ عن الملتقط وذکر فی الخلاصۃ مثل ما فی المحیط

وفی فتاوی قاضیخان: صورۃ ذلک ان یمسح اصابع یدیہ علی مقدم راسہ و کفیہ علی فودیہ و یمدھما الی قفاہ و اشار بعضہم الی طریق اخر احترازا عن الماء المستعمل الا ان ذلک لا یمکن الا بکلفۃ و مشقۃ فیجوز الاول ولا یصیر الماء مستعملا ضرورۃ اقامۃ السنۃ انتہی۔

وفی تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق للزیلعی: الاظہر فی المسح ان یضع کفیہ و اصابعہ علی مقدم راسہ و یمدھما الی قفاہ علی وجہ یستوعب جمیع الراس ثم یمسح اذنیہ باصبعیہ ولا یکون الماء مستعملا بہذا لان الاستیعاب بماء واحد لا یکون الا بہذا الطریق وما قالہ بعضہم من انہ یجافی کفیہ تحرزا عن الاستعمال لا یفید لانہ لا بد من الوضع والمد فان کان مستعملا بالوضع الاول فکذا بالثانی فلا یفید بعد غیر قولان الاذنین من الراس بالنص ای حکمہما حکم الراس ولا یکون ذلک الا اذا مسحہما بماء مسح بہ الراس ولانہ لا یحتاج الی تجدید الماء لکل جزء من اجزاء الراس فالاذن اولی ان یکون تبعا انتہی۔

قلت:ماجعله أظهر أظهر بلا ريب،أما عقلا فلما ذكرتموا ما نقلا فلكونه ظاهر الاحاديث المروية في المسح وكذا اختاره قاضيخان و حققه ابن الهمام وصاحب البحر والنهر والغنية وغيرهم وما ذكره في المحيط وغيره لا اصل له في السنة كما نص عليه ابن الهمام وذكر الاكمل في العناية الكيفية المذكورة في المحيط وغيره وقال:هكذا روت عائشة رضي الله عنها مسح رسول الله ﷺ وتعقبه العيني بأنه لم يذكر هذه الكيفية احد من أئمة الحديث عن عائشة ولا عن غيره من الصحابة رضي الله عنهم الذين وصفوا وضوء رسول الله ﷺ والذي روى النسائي عن عائشة رضي الله عنها هو انها وصفت وضوء النبي ﷺ و وضعت يديها في مقدم راسها و مسحت الى مؤخره ثم أمرت يديها باذنيها ثم مرت على الخدين.(سعاية: ج،ص۳)

صحيح طريقه

په ذکر کړې شويو احاديثو کښې د سر د مسحې مختلفې طريقې ذکر کړې شوې دی،چې غوره قوله په کښې دا دې چې دواړه لاسونه دې د سر په توله وړاندينۍ حصه باندې کيښودې شی او وروستو د څټ ارخ ته دې يوړلې شی او دا دومره کول بس کافی دی، واپس دې دمخې طرفته نه راوړی .کما مر

د غوږونو مسحه

د غوږونو د شا ارخ مسحه دې په غټو ګوتو وکړې شی

عوام او خواص دا هم د استعمال شوو اوبو نه د ځان ساتلو چې کومه غلطه نظريه خوره شوې ده په هغې باندې بنا کوی.او دا صحيح نده،حقيقت دا دې چې دا طريقه د ډيرو احاديثو نه ثابته ده

۱ – عن ابن عباس رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ مسح اذنيه داخلهما بسبابتين وخالف بأبهاميه الى ظاهر اذنيه.(مصنف ابن ابي شيبة: ج،ص۱۸)

۲ – و كذا روى عنه ابن ماجة رحمه الله باسناد صحيح.(سعاية: ج،ص۳)

۳ – و كذا روى عنه النسائي رحمه الله.(دپورته حوالی مطابق)

٤ – وروى عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه مثله.(سعاية: ج،ص۳۰)

۵ – و كذا فعل ابن عمر رضي الله عنه.(مصنف ابن ابي شيبة: ج،ص۱۸)

٦ – و كذا اخرجه عبد الرزاق رحمه الله.(مصنف عبد الرزاق: ج،ص۲)

د څټ مسحه

قال العلامة اللكنوي رحمه الله: لم اقف من الاخبار المذكورة انه ﷺ مسح القفاء مع راسه او جزء منه الى القفا واخرجهما من اسفل عنقه واما ما ذكره صاحب الهداية وغيره في كيفية انه يمسح الرقبة بعد مسح الراس والاذنين بظهور الاصابع القلتة فلم اجد له اصلا ولذا تركه بعضهما كنت احلم واطلعت عنا لم حمل الاحاديث (سعاية: ج،ص)

په دې ليکنه کښې د مسح بظهور الاصابع د ثبوت د نشتوالي قول بغير د شک او شبهې نه صحيح دی. ليکن د څټ د مسحې وړاندې والې د غوږونو په مسحې باندې. دې د پاره چې کوم استدلال په راويستلي شوو احديثو کښې د لفظ د قف و د قذال سره کوئ شی دا صحيح نه دې. ځکه چې د غوږونه د سر يو جزء دي او څټ څان له يو مستقل اندام دې. په کومو رواياتو کښې چې د رقبې ذکر دې په هغې کښې د رقبې په تقديم باندې څه دلالت نشته. بلکه په يو روايت کښې د رقبې ذکر د غوږونو نه پس دې چې ترې نه د مسحې تاخير معلوميږي (سعاية ج۱، ص ۱۷۹)

د دې نه بغير د (الاذنان من الرأس) نه هم ثابته شوه چې مسح د رقبې مؤخره ده او بماء جديد بظهور الاصابع ده

د تيمم له څان نه جوړه شوې طريقه

د پاک شريعت په مقابله کښې وهم پرستو خلقو د سر د مسحې په شان د تيمم طريقه هم د څان نه جوړه کړې ده چې مخکښې به د يو لاس صرف دوه ګوتې د بل لاس د ورغوی په شا ارخ باندې کيږدې او څنګلو پورې به ئې يوسی. بيا به واپس باندې د لاس تلې د ليچې دننه ارخ باندې کيږدی او تر مروند پورې به ئې راولی

دا طريقه د اسلام نه پنځه سوه کاله پس په شپږمه هجرى کښې جوړه کړې شوې ده. کما هو اهر من کلام الامام الکاساني رحمه الله حيث عزاه الى بعض مشايخه.

د دې د باطل کيدو او د عقل او شرعې خلاف کيدل د سر د مسحې د ذکر شوې طريقې نه هم زيات واضح دی ځکه چې په اوبو باندې د مستعمل کيدو حکم متفق عليه دې او په خاوره باندې د مستعمل کيدو حکم کښې اختلاف دې. مستعمل نه کيدل د اکثرو قول دې او ورسره ورسره راجح هم دې. ليکن سره د دې ډيره د حيرانتيا خبره دا ده چې کومو فقهاء کرامو رحمهم الله د سر د مسحې د څان نه جوړې شوې طريقې باندې رد کړې دې په هغوی کښې اکثر د تيمم په دې بدعت باندې سست په نظر راځي. خو بيا هم هغه سرې (فقهاء) چې يقين لري (يعنی متقنين دی) هغوی په دې

باندې هم رد کړې دې. او د سر د مسحې په شان ئې دې ته هم د ځان نه جوړه شوې. باطله. لغو او د عقل او شرعې خلاف وئيلې ده.

۱ - قال الحافظ ابن القيم رحمه الله: واما ما ذكر فى صفة التيمم من وضع بطون اصابع يده اليسرى على ظهور اليمنى ثم امرارها الى المرفق ثم ادارة بطن كفه على بطن الذراع واقامة ابهامه اليسرى كالمؤذن الى ان يصل الى ابهامه اليمنى فيطبقها عليها فهذا مما يعلم قطعا ان النبى ﷺ لم يفعله ولا علمه احدا من اصحابه ولا امر به ولا استحسنه وهذا هديه اليه التحاكم. (زاد المعاد على هامش الزرقانى: ج۱، ص۱۸۱)

۲ - قال الحافظ العينى رحمه الله: ثم يضرب اخرى فينفضهما ويمسح بباطن اربع اصابع يده اليسرى ظاهر يده اليمنى من رؤس الاصابع الى المرفقين ثم يمسح بباطن كفه اليسرى باطن ذراعه اليمنى الى الرسغ ويمر على ابهام يده اليمنى ثم يفعل بيده اليسرى كذلك

قال صاحب الدراية: هكذا حكى ابن عمر وجابر رضی الله عنه تيمم رسول الله ﷺ وعلمه ﷺ الاسلع رضی الله عنه.

قلت: حديث ابن عمر رضی الله عنه رواه ابوداود وفيه: ضرب بيديه على حائط ومسح بهما وجهه ثم ضرب اخرى ومسح ذراعيه الحديث، وسنده ضعيف ولابن عمر رضی الله عنه احاديث غير هذا وقد ذكرناها عن قريب وله حديث اخر اخرجه الحاكم والدارقطنى من حديث سالم عن ابيه قال: تيممنا مع رسول الله ﷺ فضربنا بايدينا على الصعيد الطيب ثم نفضنا ايدينا فمسحنا بها وجوهنا ثم ضربنا ضربة اخرى الصعيد ثم مسحنا ايدينا من المرافق الى الاكف على منابت الشعر من ظاهر وباطن. وفيه سليمان بن ابى داود وهو ضعيف.

حديث جابر رضی الله عنه ذكرناه ايضا.

وحديث اسلع اخرجه الطبرانى فى كتابه الكبير باسناده عن الاسلع.

رجل من بنى اعرج بن كليب - قال: كنت اخدم النبى ﷺ فقال لى: يا اسلع قم ارق كذا و كذا. قلت: يا رسول الله اصابتنى جنابة فسكت عنى ساعة حتى جاء جبرئيل بالصعيد الطيب قال: قم يا اسلع!

قال الراوى ثم روى الاسلع كيف علمه رسول الله ﷺ التيمم قال: ضرب رسول الله ﷺ بكفيه الارض ثم نفضهما ثم مسح بهما وجهه حتى امر على اللحية ثم اعادهما الى الارض فمسح بكفيه الارض فدلك احداهما بالاخرى ثم نفضهما ثم مسح ذراعيه ظهرهما وبطنهما.

واخرجه الطحاوى والدارقطنى والبيهقى وابوبكر الرقى فى معرفة الصحابة والحافظ فى كتاب الرجال وابن الاثير فى كتاب الصحابة وابن حزم فى المحلى وضعف هذا الحديث ثم العجب من صاحب الدراية يقول هكذا

حكى ابن عمر اهـ

فانظر هل يناسب ما فى هذه الاحاديث ما ذكره صاحب الدراية الذى نقله فى الرواية، غاية ما فى الباب الموافقة فى الضربتين والنفض ومنه اعجب منه ما قاله الاكمل ولقد حكى ابن عمر وجابر رضي الله عنه تيمم رسول الله ﷺ وكيفيته ان يضرب بيديه الارض الى اخر ما ذكره فى الزاد. (نهاية: ج۱،ص۲۰۱)

۳- قال العلامة الطحطاوى رحمه الله: (و كيفيته قد علمتها من فعله ﷺ) حين سئل كما تقدم وهذه الكيفية وردت عن الامام ايضاً حين ساله ابو يوسف عنها واما ما ذكره بعضهم من انه يمسح بباطن اربع اصابع يده اليسرى ظاهر يده اليمنى من رؤس الاصابع الى المرفق ثم يمسح بكفه اليسرى باطن يده اليمنى من المرفق الى الرسغ ويمر بباطن ابهامه اليسرى على ظاهر ابهامه اليمنى ثم يفعل باليسرى كذلك ـ لم يرد فى الاحاديث ما يدل عليه كما قاله فى البناية وان ادعى صاحب العناية انه وردوايضاً لم ينقل عن صاحب المذهب وما قاله ابن امير حاج عن مشايخه ان الاحسن فى مسح الذراعين ان يمسح بثلاث اصابع يده اليسرى اصغرها ظاهر يده اليمنى الى المرفق ويمسح المرفق ثم يمسح باطنا بالابهام والمسبحة يعنى ما بينهما الى رؤس الاصابع ثم يفعل باليسرى كذلك. قال فى البدائع عن بعض علماء المذهب: انه تكلف والاحسن هو الموافق للمنقول. (حاشية الطحطاوى على المراقى: ص۱۲۰)

٤- قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله فان التراب الذى على يده يصير مستعملا بالمسح الخ) فيه نظر لانه ان استعمل باول الوضع يلزم ان لا يجزء فى باقى العضو والا يستعمل باول الوضع كالماء لا يلزم ما ذكره وهو كذلك يؤيده ما قاله العارف فى شرح هدية ابن العماد عن جامع الفتاوى، وقيل يمسح بجميع الكف والاصابع لان التراب لا يصير مستعملا فى محله ولذا عبر بعضهم فى هذه الكيفية بقوله والاحسن اشارة الى تجويز خلافه الا ان يقال المراد انه يصير مستعملا صورة لا حقيقة ولكن الفرق ظاهر بين هذا وبين قوله: حتى لو ضرب يديه مرة الخ تامل. (منحة الخالق على هامش البحر الرائق: ج۱،ص۱۴۰)

٥- قال العلامة اللكنوى رحمه الله: (قوله والاحسن فى مسح الذراعين) انما خصه بالذكر لكون مسح الوجه مما لا يحتاج الى بيان الكيفية ووجه كون هذه الكيفية احسن للتحرز عن استعمال الغبار المستعمل وان كان ذلك غير مضر فلو مسح بكل الكف والاصابع جاز كما فى البزازية (وبعد سطرين) و من ههنا تفطنت دفع ما يتراءى وروده ان هذه الكيفية بهذه الطريقة مما لا اصل لها فى السنة كما صرح به ابن القيم فى زاد

المعاد فكيف يكون احسن وذلك لانه وان لم يرد نص صريح في ذكر هذه الكيفية لكن التحرز عن مواضع الشبهات والاحتياط في مقام الخلافيات ثبت استحسانه بالنصوص الشرعية والاصول العقلية ولا شبهة في ان استعمال الغبار المستعمل موضع شبهة لمكان الاختلاف فيه فالتحرز عنه مستحسن ولا كيفية تشتمل على التحرز عنه مع السهولة الا هذه فتكون مستحسنة لا محالة. (سعاية ج۱،ص۵۰۰)

د سعايې په دې ليكنه كښې لاندينۍ يو څو خبرې د توجه قابل دی:

۱- رسول الله ﷺ، صحابهٔ كرام ﷺ، او د دين امامانو ﷺ ته، او د هغوی نه پس د اسلام د ابتداء نه واخله تر پنځو سوو كالو پورې په دې دومره اوږده موده كښې چې څومره مشايخ ﷺ تير شوی دی په هغوی كښې چا ته هم دا خيال رانغې چې دا ځائ، ځائ د شک او شبهې دې، آيا معاذ الله د دې ټولو په علم كښې نقص وو چې د يو شک او شبهې د ځائ ادراک يې و نه كړې شو، او يا د علم لرلو نه علاوه د دوی په تقوی او پرهيزګارئ كښې فرق وو؟ چې په كوم اسلام كښې پنځه سوه كاله تيريدو نه پس د هغې په علم او عمل كښې دومره كمال پيدا شو چې د هغې كمال نه رسول الله ﷺ او د هغوی شاګردان ﷺ او د هغوی نه پس پنځو سوو كالو پورې چې څومره امامان او مشايخ ﷺ راغلی دی هغه ټول تري نه پاک وو، نو آيا داسې اسلام د قبلولو قابل دې؟

۲- په خپله په سعايه كښې ئې د مسحې د ځان نه جوړه شوې دې طريقې ته باطله وئيلې ده، حال دا چې د مستعملو اوبو استعمال په اتفاق سره ناروا دې، او په استعمال شوې خاوره كښې اختلاف دې. چې د اختلاف په وجه دې ته د شک ځائ اووئيلې شو او په دې كښې ئې د احتياط كولو حكم وكړو، نو په مسح كښې په اولی طريقې سره په احتياط كولو د استحباب بلكه د وجوب حكم لګول پكار دی.

دا فرق صحيح ندې چې په مسح كښې ټول سر راګيرول سنت دی او په تيمم كښې فرض دی، ځكه چې د سنتو د قائمولو د پاره د مستعملو اوبو استعمالول روا ګرځول نه چرته نقل كړې شوی دی او نه دا د عقل موافق خبره ده

حقيقت د خبرې دا دې چې د تيمم د ځان نه جوړه شوې طريقه د مسحې د ځامن نه جوړې شوې طريقې نه هم زياته سپكه اوبې خونده ده. اوغالباً همدا وجه ده چې صاحب دخلاصې د مسح دې طريقې لره مستحسن وګڼله او باوجود د دې ئې دتيمم طريقې لره دمستحسن ګرځولو زړه و نه كړو والله الهادي الى سبيل الرشاد.

• ربيع الاول ۱۴۱۱ هجری

باب المسح على الخفين والجبيرة

چې په پټۍ (جبیره) باندې اوبه واړولې شوې نو بیا پرې مسح ضروري نده

سوال: په اودس کښې چې د کومو اندامونو وینځل فرض دی لکه لاسونه یا پښې وغیره، که چیرې په دې باندې څه زخم وی او په زخم باندې څه پلستر یا پټۍ تړلې شوې وی نو د اودس کولو په وخت کښې په دغه پټۍ باندې چې اوبه واړولې شی نو آیا د دې نه پس پرې مسح هم ضروري ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د وینځلو یا پرې د اوبو اړولو نه پس مسح ضروري نه ده.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولو ادخل رأسه الاناء أو خفه أو جبيرته وهو محدث أجزأه

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله أجزأه) اى ان اصاب الماء قدر الفرض ط (ردالمحتار: ج۱، ص۲۸) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳ صفر ۱۴۱۹ هجری

باب الحیض

د اسقاط نه پس د وینې په حقله د بعضو عبارتونو وضاحت

سوال د اسقاط په صورت کښې چې حمل د څومره مودې وی نو آیا د هغې نه وروسته وینه به نفاس شمارلې کیږی اوکه نه ؟ په دې حقله د فقهې په عبارتو کښې اضطراب دې تاسو ته دا درخواست دې چې په ټولو عبارتونو باندې نظر واچوئ او مونږ ته د زړه د ښه کیدو اومطئن کیدو جواب راکړئ. بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې خبره باندې اتفاق دې چې حمل د څلورو میاشتو وی نو د هغې نه پس راتلونکی وینه به نفاس شمارلې کیږی او که د څلور میاشتو د پوره کیدو نه وړاندې اسقاط شوې وی نو د هغې نه پس راتلونکې وینه به نفاس نه شمارلې کیږی،بلکه دا خبره ده چې که کم نه کم درې ورځې جاری وی نو دا به حیض شمارلې کیږی،او که د درې ورځو نه کمه موده جاری وې نو بیا استحاضه ده.

د حکم لګلولو اصل بنیاد همدا څلور میاشتې دې،وړاندې اضطراب په دې کښې دې چې د استبانۀ خلق (یعنی مخلوق ظاهریدل) نه د یو اندام ظاهریدل مراد دی او که د روح پوکول؟

د علامه ابن نجیم رحمه الله دا خیال دې چې دا مشاهده شوې ده چې د دې مودې (څلور میاشتې) د پوره کیدو نه وړاندې هم بعضې اعضاء ظاهر شوی دی.د دې وجې نه د دې استبانۀ خلق نه نفخ د روح مراد ده،کومه چې د څلورو میاشتو د پوره کیدو نه پس کیږی،چنانچه هغوی فرمائی:

ولا یستبین خلقه الا فی مائة وعشرین یوما کذا ذکره الشارح الزیلعی فی باب ثبوت النسب والمراد نفخ الروح والا فالمشاهد ظهور خلقه قبلها.(البحر الرائق: ج۱،ص۲۲۹)

په دې باندې علامه شامی رحمه الله په ردالمحتار او حاشیه منحة الخالق کښې رد کړې دې او د فقهې د امامانو رحمهم الله د نصوصو نه ئې ثابته کړې ده چې دِ استبانۀ خلق نه ظهورد څینی اعضاؤ مراد دې چنانچه هغوی فرمائی:

(قوله ولا یستبین خلقه الخ) قال فی البحر المراد نفخ الروح والا فالمشاهد ظهور خلقه قبلها اهـ وکون المراد به ما ذکر ممنوع والذی وجهه فی البدائع وغیرها بانه یکون اربعین یوما نطفة و اربعین علقة و اربعین مضغة وعبارته فی عقد الفرائد: قالوا: یباح لها ان تعالج فی استنزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة ولم یخلق له عضو وقدروا تلک المدة بمائة وعشرین یوما وانما اباحوا ذلک لانه لیس بآدمی اهـ کذا فی النهر. قول لکن

يشكل على ذلك قول البحر: ان المشاهد ظهور خلقه قبل هذه المدة (ردالمحتار: ج، ص) [1]

---

[1] حاشيه د مرتب لخوا

د اسقاط نه پس د وينې په حقله د حضرت ﷫ همدا رايه په «أردو» احسن الفتاوى ج ۲.ص ۷۱ كښې هم موجوده ده چې په هغې كښې ئې د نفاس كيدو يا د نه كيدو مدار او بنياد څلور مياشتې گرځولې دی،او د دې خبرې بنياد دفقهې هغه كتابونه دی چې په هغې كښې د څلورو مياشتو نه وراندې د استبانة تامه نفى كړې شوې ده.

ليكن په دې مسئله باندې د ځينى حضراتو له اړخه مونږ ته اشكال راورسيدلو چې د څلورو كالو نه وراندې د استبانې نفى صحيح نده لكه چې علامه ابن نجيم ﷫ فرمائيلې دى چې د څلورو مياشتو نه وراندې هم د استبانة خلق مشاهده شوې ده.علامه ابن عابدين ﷫ هم دې ته د صحيح بخارى د يو روايت او د طبيبانو د قول مطابق وئيلى دى. او د دې وخت طبيبانو هم د دې تصديق كړې دې،او حكيم الامت حضرت مولانا اشرف على تهانوى ﷫ هم په امداد الفتاوى كښې په ج۱،ص ۴۵ كښې دنفاس بنياد د څلورو مياشتو د مودې په ځاى استبانة خلق ښودلې ده او دا خبره تقريبا د فقهې په ټولو كتابونو كښې ذكر كړې شوې ده د دې وجې نه د دارالافتاء والارشاد نه د امدادالفتاوې مطابق دا لاندې وركړې شوې فتوى جارى كړې شوه

مسئله واقعى همداسې ده څنګه چې په امدادالفتاوى كښې ذكر كړې شوې ده،په احسن الفتاوى كښې تسامح واقع شوې دې، او دا تسامح تقريباً هم د درمختار په عبارت كښې ذكر كړې شوې دې:

قال الحصكفى ﷫: وسقط ظهر بعض خلقه كيد او رجل او اصبع او ظفر او شعر ولا يستبين خلقه الا بعد مائة وعشرين يوما (ردالمحتار ج،ص)

ليكن د تحقيق نه معلومه شوه چې دا خبره صحيح نده، بلكه د اعضاؤ خلقت د حمل د حصاريدو نه ۸۱ ورځې پس شروع كيږى،خو دومره خبره ده چې د روح پوكول د ۱۲۰ ورځو د تيريدو نه پس كيږى،د نفاس او د عدت پوره كيدل د بعضې اعضاؤ په ظاهريدو باندې دى نه په روح پوكولو باندې.

قال ابن عابدين ﷫: ثم ذكر بعضهم انه اتفق العلماء على ان نفخ الروح لا يكون الا بعد اربعة اشهر اى عقبها كما صرح به جماعة ... ولا ينافى ذلك ظهور الخلق قبل ذلك لان نفخ الروح انما يكون بعد الخلق (ردالمحتار: ج،ص)

قال فى الهندية: والسقط ان ظهر بعض خلقه من اصبع او ظفر او شعر ولد فصير به نفساء وهكذا فى التبيين (الهندية ج ،ص وكذا فى فتح القدير ج ،ص والمحيط البرهانى ج ا،ص والكفاية ج ،ص والاختيار لتعليل المختار ج ،ص والبدائع ج،ص)

وقال الآفندى: والسقط ان ظهر بعضه فهو ولد تصير به امه نفساء والامة ام الولد ويقع به الطلاق المعلق بالولادة وتنقضى به العدة لانه ولد لكنه ناقص الخلق ونقصان الخلقة لا يمنع احكام الولادة وفى قول صاحب التبيين ولا يستبين خلقه الا فى مائة وعشرين يوما نظر تامل (مجمع الانهر: ج،ص) (دفتر الفتاوى ،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم ۸ ربيع الاول ۱۴۲۷ هجرى

لیکن علامه شامي رحمه الله د علامه ابن نجیم رحمه الله د دې اشکال څه جواب نه دې ورکړې چې څلورو میاشتو نه وړاندې د بعضو اعضاؤ مشاهده شوې ده،علامه رافعي رحمه الله د دې اشکال جواب ورکړې دې،چې د فقهاؤ رحمهم الله د عبارتونو نه استبانهٔ تامه مراد ده او د څلورو میاشتو نه وړاندې د استبانه ابتداء کیږي، هغه استبانه تامه نوي، هغوی فرمائي:

(قوله لکن یشکل علی ذلك قول البحر الخ) ویمکن ان یقال ان مراد الفقهاء انما هو تمام استبانة الخلق ولا ینافی هذا ان مبدا الاستبانة یکون فی اقل من ذلك وعلی هذا یکون لفظ الخلق المضاف للضمیر مفردا مضافا لیعم تأمل (التحریر المختار ج۱،ص۳۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۷ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری

د متحیرې(په تحیر کښې واقع کیدونکې ښځې)احکام

سوال:مستحاضه په کومو کومو صورتونو کښې متحیره واقع کیږي؟ د دې تفصیل او دمتحیرې د احکامو وضاحت راته په تفصیل سره اوفرمایئ ، بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : په لاندینی صورتونو کښې مستحاضه متحیره واقع کیږي :

۱- د استحاضې د مرض نه وړاندې ئې د حیض د ورځو شمار معلوم نه وي .

۲- د حیض د ورځو شمار ورته معلوم وي لیکن د طهر د ورځو شمار ورته معلوم نه وي .

۳- د حیض او د طهر د دواړو ورځو شمیر ورته معلوم وي، لیکن د حیض محل ورته معلوم نه وي کله د میاشتې په شروع کښې او کله په مینځ کښې او کله په آخر کښې وي .

۴- وړاندې ذکر شوې درې واړه خبرې ورته معلومې وې اومتعینې وې لیکن په دې کښې ورته یو خبره یاده نوي بلکه هیره شوې ئې وي .

د متحیرې حکم د احنافو په نیزد دا دې چې که هغه په تحری باندې قادره وه یعنی د حیض د ورځو په حقله ئې څه خیال قائمولې شو چې دا ورځې د حیض دی نو هغه به حیض وي او باقي ورځې به د طهر شمارلې کیږي .

د دې د احکامو تفصیل دا دې .

۱- په کومو ورځو کښې چې ورته د حیض غالب گمان وي په هغه ورځو کښې دې مونځ نه کوي

۲- د کومو ورځو په حقله ئې چې دا خیال وي چې کیدې شی چې دا ورځې د حیض نه د وتلو وي نو په هغې کښې دې د هر وخت د مونځ د پاره غسل کوي او مونځ دې کوي او په طهر کښې د داخلیدو

۳- هر کله چې ورته د طهر گمان غالب شی نو د هر وخت د مونځ د پاره دې تازه اودس کوي او مونځ دې کوي

۴ ـ بیا په کومو ورځو کښې چې ورته د حیض د شروع کېدو خیال وی نو په هغه ورځو کښې دې هم د هر وخت د مونځ د پاره تازه اودس کوی او مونځ دې کوی تر هغه وخته پورې دې داسې کوی چې د حیض د شروع کېدو غالب ګمان ئې نوی راغلې

او که چیرې متحیرې ته په تحری (په فکراوسوچ کولو) باندې قدرت نوی یعنی د هغې خیال په یو ځائ هم قرارې نه خوری نو داسې ښځه دې دهروخت د مونځ د پاره غسل کوی او مونځ دې کوی متحیره که په تحری باندې قادره وی او که نوی په هر حال کښې د دې سره وطې کول حرام دی. تر دې چې هغه د دې مرض نه خلاصه شی. په دې زمانه کښې د دې علاج ګران نه دی. که چیرې څه تدبیر او دوائی اثر ونه کړی نو آخری حل د دې خبرې بیا دا دې چې د اپریشن په ذریعه دې رحم وه ویستې شی. دا اپریشن اوس ډیر عام شوې دې او ډیر معمولی ګڼلې کیږی.

که چیرې هر مونځ له د غسل کولو بوج نه شی زغملې او د اپریشن په ذریعه علاج هم په څه وجه ورته ګران وی نو د داسې مجبورئ په حالت کښې د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مذهب باندې د عمل کولو اجازت شته، چې تفصیل ئې دا رنګې دې چې که د حیض د ورځو د شمیر په حقله ئې څه خیال وی نو په هغې دې عمل وکړی او که نوی نو د هرې میاشتې نه دې شپږ، اووه ورځې حیض شماری. که د حیض د ورځو د ټاکلو په حقله ئې څه خیال وی خو په هغې دې عمل وکړې او که څه خیال د متعین کولو نوی نو د هرې میاشتې رومبئ شپږ یا اووه ورځې دې د حیض ځخه شماری.

د حیض د ابتداء نه واخله تر پنځلس ورځو نه پس صحبت جائز دې. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

۲۲ ربیع الثانی ۱٤۰۸ هجری

داغ (څه ټاکې) لګیدل

سوال ـ د یوې ښځې حال داسې شوې دې چې کله کله د هغې په جامو باندې د وینې داغ په نظر راځی بیا څو ورځو پورې پاکی وی. بیا داغ په نظر راشی. په داسې حال کښې د مونځ وغیره څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ـ چې کومې ورځې د دې د حیض د عادت ورځې دی او په هغې کښې ئې داغ ولیدلو نو د عادت په دغه ورځو کښې دې مونځ پریږدی، بیا که د داغ د لګیدلو د وخت نه تر پنځلس ورځو پورې ئې مکمل پاکوالې وو نو پریښودې شوی مونځونه دې را وګرځوی. او که چیرې د حیض د عادت د ورځو نه پس ئې هم داغ ولیدلو نو چې تر څو پورې ورته اطمینان نه وی شوې نو مونځ دې نه کوی، که چیرې لس ورځې همداسې تیرې شوې نو په یوولسمه ورځ پرې مونځ فرض دې

بیا که د دې لسو ورځو نه پس ورته د صفایئ د پاره پوره پنځلس ورځې تر لاسه نه شوې نو د

عادت د ورځو نه زيات پرينبو دلي شوی مونځونو دي قضاء راو ګرځوی

که چيرې ورځې ئې تاکلې شوې نه وې يا تاکلې شوې وې خو داغ پرې په نورو ورځو کښې ولګيدلو نو مونځ دې نه پريږدی، که چيرې د دې نه د وړاندې حيض نه پس ئې کم از کم پنځلس ورځې پاکې وه، او د داغ د لګيدلو نه پس د دريمې ورځې په آخری ساعت کښې يا د دې نه پس پرې بيا داغ ولګيدلو، برابره خبره ده که په دې مينځ کښې (د داغ لګيدو نه تر د دريمې ورځې اخره پورې) پرې داغ لګيدلو او که نه پاکه وه، په هر حال کښې به دا حيض وی، مونځ دې پريږدی، د دې د زيات نه زياته موده د داغ د لګيدلو نه تر لسو ورځو پورې ده، په دې مينځ که چې کله هم ورته د پاکئ يقين راشی نو مونځ دې شروع کړی، او په يوولسمه ورځ په هر حال کښې مونځ فرض دې.

که د رومبی داغ د لګيدلو نه پس د پنځلس ورځو د پوره کيدلو نه وړاندې پرې څه داغ ولګيدلو نو دا به مسلسل د وينې جريان ګڼلې شي، نو که چيرې د حيض ورځې ورته معلومې وې نو د هغې مطابق دې ترې نه د حيض ورځې بيلې کړی او که نوې معلومې نو رومبئ لس ورځې دې حيض شمار کړی او باقی پاتې به استحاضه ګڼلې شي، نو د حيض د ورځو په تيريدو دې مونځ شروع کړی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۲٦ ذی القعده ١٤١٤ هجری

حیض او استحاضه

سوال په حيض او استحاضه کښې فرق، د مونځ فرض کيدل او وطې حلاليدل او د متحيرې د حکمو د پيژندلو د پاره څه قانون او ضابطه ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: طهر صحیح: چې د پنځلس ورځو نه کم نوی او د دمينو صحيحينو په مينځ کښې وی.

طهر فاسد چې پنځلس ورځې يا د دې نه زيات وی نو دا فاصل دې او که کم وی نو ندې فاصل

الدماء الفاسدة

١- چې د نهو کالو نه په کم عمر کښې وی.

٢- د پنځه پنځوسو (٥٥) کالو نه په زيات عمر کښې وی **الا ان یکون اسود او احمر قانیا فهو حیض**

٣- په حالت د حمل کښې چې کومه وينه راشی

۴- کمه موده وی (يعنی د درې ورځو نه کمه وی)

۵- زياته موده وی (يعنی کومه وينه چې د لسو ورځو نه زياته راشی)

که چيرې طهر او وينه دواړه صحيح وی نو دهغې د ورځو مطابق به معتاده (يعنی د دې عادت ګرځولې کيږی)

که چیرې یو اخې طهر صحیح وی.مثلا د حمل نه د دې د بلوغ پته ولګیدله او د حمل د وضعې نه پس ئې د طهر صحیح زمانه ومونده.بیا د وینې استمرار جاری شو.نو د طهرد ورځو مطابق به معتاده وی او د وینې د جاری کیدو نه واخله تر لسو ورځو پورې به ئې حیض شمارلې کیږی.

او که چیرې یو اخې دم صحیح وی نو بیا به د هغې د ورځو مطابق معتاده کیږی او د طهر د پاره به بیا د میاشتې باقی پاتې ورځې تاکلې کیږی.

دم معتاده د لسو ورځو نه زیاته شوه برابره خبره ده که دا زیاتې په کښې د عادت د ورځو نه وړاندې راغلې وی او که وروستو راغلې وی،په دې مجموعه ورځو کښې که د عادت پوره ورځې یا کم نه کم درې ورځې وینه راغله نو دا به د حیض ورځې وی او د دې نه وړاندې او وروستو چې کومې ورځې وی په هغې کښې به استحاضه شمارلې کیږی،که چیرې په مجموعه کښې د عادت د ورځو نه درې ورځې وینه رانغله نو د ابتداء نه واخله تر د عادت د ورځو په برابر پورې به حیض شمارلې شی او باقی پاتې به استحاضه شمارلې شی.

د عادت د ورځو نه چې وړاندې کومو ورځو کښې وینه راغلې ده د هغې شمار او د عادت د ورځو مجموعه د لسو نه زیاته وی نو په وړاندینو ورځو کښې د اشتباه د وجې نه په حکم د استصحاب د حال (یعنی د دې حال د ملګرتیا د وجې نه) سره به د مونځ په فرض کیدلو کښې،د وطې په جواز کښې او په نورو ټولو احکامو کښې د پاکې ښځې په شان ګڼلې کیږی.

د مونځ ساقط کیدل : که د وخت د قضا کیدو نه په قدر د لفظ د(الله)وئیلو وړاندې حیض راغئ نو دا مونځ معاف دې

د مونځ واجبیدل : که په اکثره موده باندې ئې حیض بند شو او دې دومره وخت موندې شو چې لفظ د الله په کښې وئیلې کیدې شی نو دا مونځ پرې فرض شو.

که داکثرې مودې دحیض نه ئې په کمه موده باندې حیض بندشونوکه دې ته دغسل کولو نه پس دومره وخت تر لاسه کیدلو چې لفظ ذ الله په کښې وئیلې کیدې شی نو بیا پرې هم مونځ فرض شو

د دویم حیض د ختمیدو پورې د رومبی حیض د شروع کیدو او د ختمیدو تاریخونه صحیح وخت اوساعت سره له دقیقې نه یاد ساتل واجب دی.

که چیرې د تیر شوی حیض د مودې (یعنی د ورځې،ساعت،او دقیقې) د پوره کیدو نه وړاندې وینه بنده شوه او سپین سیلان هم شروع شو نو د دې نه پس دومره انتظار کول واجب دی چې د مونځ د مستحب وخت د ختمیدو نه وړاندې غسل وکړی او مونځ وکړی.

د سپین سیلان او د مستحب وخت تر آخره پورې انتظار کول صرف د دې صورت سره خاص دی د دې نه بغیر په یو صورت کښې هم د مونځ د فرض کیدو د پاره په دې دواړو څیزونو کښې یو څیز هم ضروری نه دې

د وطی حلالوالي که په اکثره موده باندې وینه بنده شوه نو فوراً وطی حلاله ده . او که وینه د عادت مطابق بنده شوې وی نو د غسل کیدو نه پس یا د مونځ په ذمه باندې د فرض کیدو نه پس وطی حلاله ده.

که د عادت نه وړاندې وینه بنده شوې وی نو په دې کښې د ذکر کړې شوی شرط سره د عادت پوره کول هم لازم دی.د دې نه وړاندې وطی کول حلال نه دی .

قانون او ضابطه د پاره د متحیرې چې په کومو ورځو کښې د حیض یا د طهر گمان غالب وی نو په هغې کښې د غالب گمان مطابق حیض یا طهر اختیارول

چې د حیض په داخلیدو کښې ورته څه شک او تردد وی نو هر مونځ دې د اودس سره کوی .

او که د حیض نه په وتلو کښې ئې شک او تردد وی نو د هر مونځ د پاره دې غسل کوی او د هر دویم مونځ سره دې د دې نه وړاندې مونځ راگرځوی .

چې کومې ښځې ته هره ورځ په حیض کښې د کیدلو تردد او شک وی نو هغې سره د همیش د پاره وطی حرامه ده .

ځانته چې د هر مونځ د پاره په غسل کولو کښې تکلیف وی نو هغه دې د امام احمد بن حنبل رحمه الله د مذهب مطابق د هرې قمری میاشتې رومبئ اووه ورځې د حیض نه شماری او باقی پاتې دې طهر شماری.وطې ورسره د پنځلس ورځو نه پس روا ده.چا ته چې د خپلو ورځو شمار یاد وی هغه دې د میاشتې دشروع نه د حیض د ورځو د شمار مطابق حیض شمار کړی او باقی ورځې ئې دطهر شوی.وطې ورسره د حیض د ورځو د شمیر د تیریدو نه پس روا ده .

په دې رخصت باندې په خپله د عمل کولو په ځائ د چا مفتی په مشورې سره ورله عمل کول پکار دی.**والله سبحانه وتعالی اعلم.** غره رجب ۱٤۱۷ هجری

د حیض په حالت کښې د ښځې نه فائدې اخستلو حکم

سوال د حیض په ورځو کښې د ښځې نه د فائدې اخستلو څه تفصیل دې؟ د کومې حصې نه فائده اخستل روا دی او د کومې نه ناروا دی؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د حیض په ورځو کښې د جماع کولو حرمت د قرآن نه ثابت دی له نامه نه پورته او د پنډئ نه ښکته فائده اخستل په اتفاق سره روا دی.او د نامه او د پنډئ په مینځ کښې چې کومه حصه ده د هغې نه بغیر د څه پردې څخه په فائدې اخستلو کښې اختلاف دې، د امام محمد رحمه الله په نیزد روا دی او د شیخینو رحمهما الله په نیزد حرام دی

فقهاء کرامو رحمهم الله د شیخینو رحمهما الله قول له ترجیح ورکړې ده.او علامه سروجی د امام محمد قول له ترجیح ورکړې ده.لیکن امام ابن الهمام او علامه ابن نجیم رحمهما الله د دوی دا ترجیح په دلائلو سره

رد کړې ده

علامه عینی رحمه الله په شرح د بخاری کښې د امام محمد رحمه الله قول نقل کړې دې او بیا فرمائیلې دی (وهو اقوی دلیلا) لیکن په شرح د هدایه کښې ئې د دواړو قولونو د نقل کولو نه پس د شیخینو له اړخه د امام محمد رحمه الله د دلیل جواب ورکړې دې چې هغه جواب حمل دې د نامه نه پورته او د پنډۍ نه په ښکته فائدې اخستو باندې . امام طحاوی رحمه الله د امام محمد رحمه الله وړاندې کړې شوې حدیث په دلائلو سره منسوخ ثابت کړې دې :

وقال الامام الطحاوی رحمه الله :ثم نظرت بعد ذلك فی هذا الباب وفی تصحیح الاثار فیه فاذا هی تدل علی ما ذهب الیه ابو حنیفة رحمه الله لا علی ما ذهب الیه محمد رحمه الله وذلك أنا وجدناها علی ثلاثة انواع:فنوع منها ما روی عن رسول الله ﷺ انه كان یباشر نساءه و هن حیض فوق الازار فلم یكن فی ذلك دلیل علی منع الحیض من المباشرة تحت الازار لما قد ذكرناه فی موضعه من هذا الباب ونوع اخر منها وهو ما روی عمیر مولی عمر عن عمر رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ علی ماذكرنا فی موضعه فكان فی ذلك دلیل منع من جماع الحیض تحت الازار لان ما فیه من كلام رسول الله ﷺ وذكره ما فوق الازار فانما هو جواب لسؤال عمر رضی الله عنه اياه عما للرجل من امرأته اذا كانت حائضا فقال:له ما فوق الازار فكان ذلك جواب سؤاله لا نقصان فیه ولا تقصیر ونوع اخر وهو ما روی عن انس رضی الله عنه علی ما قد ذكرناه عنه فذلك مبیح لاتیان الحیض دون الفرج وان كانت تحت الازار فاردنا ان ننظر ای هذین النوعین تاخر عن صاحبه فنجعله ناسخا له فنظرنا فی ذلك فاذا حدیث انس فیه اخبار عما كانت الیهود علیه وقد كان رسول الله ﷺ یحب موافقة اهل الكتب فیما لم یؤمر فیه بخلافهم قد رویا ذلك عن ابن عباس رضی الله عنه فی كتاب الجنائز و كذلك امره الله تعالی فی قوله(اولئك الذین هدی الله فبهداهم اقتده) فكان علیه اتباع من تقدمه من الانبیاء حتی یحدث له شریعة تنسخ شریعته فكان الذی نسخ ما كانت الیهود علیه من اجتناب كلام الحائض و مواكلتها والاجتماع معها فی البیت هو ما هو فی حدیث انس رضی الله عنه لا واسطة بینهما فقی حدیث انس رضی الله عنه هذا اباحة جماعها فیما دون الفرج و كان الذی فی حدیث فاستحال ان یكون ذلك متقدما لحدیث انس رضی الله عنه هذا الاباحة لما فوق الازار والمنع مما تحت الازار فاستحال ان یكون ذلك متقدما لحدیث انس رضی الله عنه اذا كان حدیث انس رضی الله عنه هو الناسخ لاجتناب الاجتماع مع الحائض و مواكلتها و مشاربتها فثبت انه متاخر عنه و ناسخ لبعض الذی ابیح فیه فثبت بذلك ما ذهب الیه ابو حنیفة رحمه الله من هذا بتصحیح الاثار وانتفی ما ذهب الیه محمد رحمه الله .(طحاوی ج۱ص۳)

وقال الامام ابن الهمام رحمه الله تحت (قوله ولا يأتيها زوجها):

واما الاستمتاع بها بغير الجماع فمذهب ابي حنيفة وابي يوسف والشافعي ومالك رحمهم الله يحرم عليه ما بين السرة والركبة وهو المراد بما تحت الازار ومذهب محمد بن الحسن واحمد رحمهما الله لا يحرم ما سوى الفرج لما أخرج الجماعة الا البخاري ان اليهود كانوا اذا حاضت المرأة منهم لم يؤكلوا ولم يجامعوها في البيوت فسألت الصحابة رضي الله عنهم رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ذلك فانزل الله تعالى (ويسئلونك عن المحيض) فقال النبي صلى الله عليه وسلم: اصنعوا كل شيء الا النكاح وفي رواية: الا الجماع وللجماعة ما عن عبد الله بن سعد رضي الله عنه: سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم عما يحل لي من امرأتي وهي حائض فقال: لك ما فوق الازار رواه أبوداود وسكت عليه فهو حجة ويحتمل ان يكون حسنا او صحيحا فالمفهوم من حسنه لكن شارحه أبو زرعة العراقي صرح بانه ينبغي ان يكون صحيحا وهو فرع معرفة رجال سنده فثبت كونه صحيحا وحينئذ يعارض ما رواه مسلم وغيره خصوصا وأنت تعلم ان مسلما يخرج عمن لم يسلم من غوائل الجرح واذن فالترجيح له لانه مانع وذاك مبيح واما ترجيح السروجي قول محمد رحمه الله بان احاديثنا مفهوم لا يعارض منطوقهم فغلط لان كونها منطوقا في المدعى او مفهوما بناء على اعتبار المدعى كيف هو؛ فان جعلت الدعوى قولنا: جميع ما يحل للرجل من امرأته الحائض ما فوق الازار، كانت احاديثنا منطوقا أعني قوله صلى الله عليه وسلم (لك ما فوق الازار) جوابا عن قول السائل: ما يحل لي من امرأتي الحائض فان معناه جميع ما يحل لك ما فوق الازار، لان معنى السؤال جميع ما يحل لي ما هو؛ فيطابق الجواب السؤال، وان جعلت الدعوى: لا يحل ما تحت الازار وقالوا: يحل الا محل الدم كانت مفهوما ولا شك أن كلا من الاعتبارين في الدعوى صحيح فعلم أن المفهومية غير لازمة في احاديثنا ولا المنطوقية. ثم لو سلم كان هذا المفهوم أقوى من المنطوق لان زيادة قوة المنطوق على المفهوم ليس الا لزيادة دلالته على المعنى للزوم له وهذا المفهوم. وهو انتفاء حل ما تحت الازار مطلقا. لما كان ثابتا لوجوب مطابقة الجواب السؤال فلدلالة فعلا فيها على نقصان في الغريزة او العجز أو الخبط كان ثبوته واجبا من اللفظ على وجه لا يقبل تخصيصا ولا تبديلا له فهذا العارض و المنطوق من حيث هو منطوق يقبل ذلك فلم يصح الترجيح في خصوص المادة بالمنطوقية ولا المرجوحية بالمفهومية وقد كان قوله صلى الله عليه وسلم على ذلك فكان لا يباشر احدين وهي حائض حتى يامرها ان تأتزر متفق عليه و امر بالسنة. (فتح القدير ج، ص۰۸)

وقال الحافظ العيني رحمه الله: والجواب عن الحديث المذكور أنه محمول على القبلة ومس الوجه واليد ونحو ذلك. (البناية ج، ص۳) والله سبحانه وتعالى اعلم

منتصف ربيع الاول ۱۴۱۸ هجری

د معذور احکام

د اودس د حفاظت تدبیر کول

سوال یو سړی ته د سلسل البول مرض دې. تاسو نه دا پوښتنه کوو چې د څاڅکو د ودرولو د پاره او د اودس د ساتلو دپاره اسفنج یا د مالوچو غوټه وغیره په دغه ځائ باندې ایښودل ضروري دي او که نه د همدې عذر په حالت کښې ورته همداسې مونځ کول روا دي؟ او مونځ به یې ادا شي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په معذور باندې عذر لره د بیخه د ختمولو یا په دې کښې د کمې راوستو څه تدبیر کول واجب دي، لهذا که د ده غالب ګمان دا وي چې د اسفنج یا د مالوچو په ایښودو یا د دغې اندام په تړلو سره دومره وخته پورې د لوندوالي د راوتلو نه حفاظت کیدې شي چې دې په کښې مونځ ادا کولې شي نو په ده باندې د همدې تدبیر اختیارول واجب دي.

په تدبیر نه اختیارولو باندې به ئې ګناه کیږي لیکن مونځ به ئې ادا شي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: يجب رد عذره او تقليله بقدر قدرته ولو بصلاته مومیا وبرده لا یبقی ذا عذر.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله و برده لا یبقی ذا عذر) قال في البحر و متی قدر المعذور علی رد السیلان برباط او حشو او كان لو جلس لا یسیل لو قام سال وجب رده و خرج برده عن ان یكون صاحب عذر و یجب ان یصلي جالسا بایماء ان سال بالمیلان لان ترك السجود أهون من الصلوة مع الحدث اه (ردالمحتار: ج۱ص۲۰۳). والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ ذی القعدة ۱۴۱۷ هجری

باب الانجاس

د ذبح کړې شوي خاروي د څټ وينه

سوال : د څناور د ذبح کولو نه پس د هغه په څټ باندې وينه پاتې شي، دا پاکه ده او که ناپاکه؟ که بې د وينځلو نه دا پرې کړې شي او همداسې پخه کړې شي نو دا به حلاله وي او که حرامه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا ناپاکه ده، که په جامه وغيره باندې ولګي نو هغه به هم پليته شي. ليکن د غوښې د پخولو د پاره د څټ وينه وينځل ضروري ندي بې د وينځلو نه که پخه کړې شي نو حلاله ده.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ودم مسفوح من سائر الحيوانات الا دم شهيد ما دام عليه وما بقي في لحم مهزول وعروق وكبد وطحال وقلب.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وما بقي في لحم الخ) يوهم ان هذه الدماء طاهرة ولو كانت مسفوحة وليس مرادا فهي خارجة بقيد المسفوح كما هو صريح كلام البحر وأفاده ح وفي البزازية: وكذا الباقي في عروق المذكاة بعد الذبح وعن الامام الثاني رحمه الله: أنه يفسد الثوب اذا فحش ولا يفسد القدر للضرورة اوالاثر لانه كان يرى في برمة عائشة رضي الله عنها صفرة لحم العنق والدم الخارج من الكبد لو من غيره فنجس وان منه فطاهر وكذا الدم الخارج من اللحم المهزول عند القطع ان منه فطاهر والا فلا وكذا دم مطلق اللحم ودم القلب قال القاضي الكبد والطحال طاهران قبل الغسل حتى لو طلي بها وجه الخف وصلى به جاز. (ردالمحتار ج۱ص۳۰۳) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۴ ربيع الثاني ۱۳۹۷ هجری

په خفيفه نجاست کښې د اندام د څلورمې حصې په معافۍ باندې د اشکال جواب

سوال خفيفه نجاست چې د اندام د څلورمې حصې نه کم وي نو معاف دي. اشکال دا دې چې کوټه يو اندام دې او د دې څلورمه حصه د درهم نه کمه راځي. حال دا چې غليظه نجاست هم په قدر د درهم باندې معاف دي

همدغه رنګې په جنتي کالی کښې د ستر د څرګنديدو په مسئله کښې ئې غوږ خان له يو مستقل اندام شمارلې دی. که د نجاست په مسئله کښې هم دا خان له يو مستقل اندام شمار کړی

شي او وه ونيلي شي چې خفيفه نجاسـت د اندام د څلورمې حصې نه کم وي نو معاف دې نو په دې سره د خفيفه نجاسـت په حکم کښې د غليظه نجاست د حکم نه زياته سختي لا زميږي ځکه چې غليظه نجاسـت په قدر د درهم معاف دې او د غوږ څلورمه حصه د درهم نه کمه ده

په دې بناء باندې دا اشکال دې چې د نجاست په مسئله کښې به غوږ ځان له مستقل اندام شمارلې شي او که نه ؟ په مونږ باندې د خپل تحقيق پيرزوينه وکړئ. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . علامه رملي رحمه الله په دې اشکال کړې دې چې خفيفه نجاست د اندام د ربعې په قدر وي نو دا دې مانع شي . هغوی فرمائي چې د ګوتې سر ځان له يو اندام دې چې ربع ئې د درهم نه ډيره کمه راځي. لهذا د ذکر کړې شوی قول په بنا د خفيفه نجاست حکم د غليظه نجاست د حکم نه هم زيات سخت شو

علامه ابن عابدين رحمه الله د دې جواب ورکړې دې چې د اندام نه پوره لاس يا پښه سره د ګوتو مراد دی . البته غوږ لره په مسئله د ستر کښې ځان له يو مستقل اندام شمار کړې شوې دې لهذا په غوږ باندې دا اشکال باقي دې چې د دې حل کول د دې نه بغير ناممکنه دی چې په غوږ باندې نجاست خفيفه ولګی نو په دې صورت کښې د غوږ د ربعې په قدر پليتی مانع ده اګر چه دا په غليظه نجاست کښې معاف ده. او دا شرط دلته په دې مسئله کښې ندی لګول پکار چې د درهم نه دې زيات وی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله وعلى ربع جميع بدن و ثوب ولو كبيرا هو المختار ذكره الحلبي ورجحه في النهر على التقدير بربع المصاب كيد و كم وان قال في الحقائق: وعليه الفتوى من نجاسة مخففة كبول ما كول.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وان قال الخ) فيه نظر لان لفظ الفتوى اكد من لفظ الاصح والمختار. ومفاده ترجيح القول بربع المصاب وهو مفاد ما مر عن البحر لكن اعترضه الخير الرملي بان هذا القول يؤدي الى التشديد لا الى التخفيف فانه قد لا يبلغ ربع المصاب الدرهم فيلزم جعله مانعا في المخففة مع انه معفو عنه في المغلظة اذ لو كان المصاب الانملة من البدن يلزم القول بمنع ربعها على القول بمنع ربع المصاب اه وفيه نظر لان مقتضى قولهم كاليد والرجل اعتبار كل من اليد و الرجل بتمامه عضوا واحدا فلا يلزم ما قال فتامل. (ردالمحتار: ج۱ص۳۲) والله سبحانه وتعالى اعلم ۵ ربيع الثاني ۱۴۰۰ هجری

د دوبی د جامو وينځلو په مسئلې باندې اشکال او د هغې جواب

سوال په احسن الفتاوی اردو دويم جلد کښې په دهوبی باندې د وينځلې شوو جامو د حکم په حقله داسې ليکلی شوې دی. چې کومې جامې نجسې ورکړې شوې دی هغه هم نجسې وی به

دې باندې زما عاجز څه اشکالونه دي.تاسو نه طمع لرم چې په دې باندې به غور کوئ او د زړه د اطمینان جوابونه به راکړئ . بینوا توجروا

۱ . په کراچئ کښې په عامه توګه د دهوبیانو سره درې تالابه وي.دوی رومبی په یو تالا ب کښې جامې واچوی بیا ئې د هغې نه راباسی په بل کښې ئې واچوی او بیا ئې د هغې نه راوباسی او په دریم تالاب کښې ئې واچوی، په دې صورت کښې پلیته جامه ولې نه پاکیږی؟

۲ . که چیرې د یو دهوبی سره درې تالابه نوی نو بیا هم په دې مسئله کښې د سخت ضرورت له کبله او د عموم بلوی له کبله د امام شافعی رحمه الله په مذهب باندې د عمل کولو اجازت پکار دې. د هغوی په نیزد پلیته جامه چې په قدر د قلتینو هومره اوبو کښې وه وینځلې شی نو پاکه شی

پورتنی اعتراضونه ځان ته وړاندې کیږدئ او د دې مسئلې حل راته ولیکئ. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : ۱- په درې تالابونو کښې د وینځلې شوو جامود پاکوالی د پاره درې لاندینی شرطونه دی:

۱ . چې په هر یو تالاب کښې دې ټولې جامې په یو ځل ورواچولې شی.که وړاندې وروستو ورواچولې شوې نو د ټولو نه وړاندې چې کومه جامه وراچولې شوې ده د هغې په اچولو سره به تالاب ناپاکه شی ددې وجې نه چې وروستو ورته کومې جامې ورواچولې شی نو هغه به نه پاکیږی

۲ . د یو تالاب نه چې جامې را وه ویستلې شی نو بیا په پوره طاقت سره دې هغه نچوړی کړې شی او بیا دې دویم تالاب ته ورواچولې شی.بیا د دویم تالاب نه دې هره یوه جامه راویستلې شی او بیا په پوره طاقت دې د نچوړولو نه پس دریم تالاب ته ور واچولې شی.بیا د دریم تالاب نه دې هره جامه راویستلې شی او په پوره طاقت سره دې په دریم ځل هم نچوړی کړې شی

۳ . بیا د رومبې تالاب نه دې اوبه اوویستلې شی او درې ځل دې داسې اووینځلې شی چې په رومبی ځل اووینځلې شی نو چې دومره اوچ شی چې یو څاڅکې اوبه په کښې هم په نظر نه راځی. د دې نه پس دې په دویم ځل اووینځلې شی او وچیدو ته دې پریښودې شی او بیا په دریم ځل دې وه وینځلې شی او وچیدو ته دې پریښودې شی.همدغه رنګې د دویم تالاب نه دې ټولې اوبه وه ویستلې شی او دا دې هم د ذکر کړې شوې طریقې مطابق دوه ځله وه وینځلې شی.او د دریم تالاب ټولې اوبه دې راوه ویستې شی او یو ځل دې اووینځلې شی.که چیرې تالاب دومره وچ شو چې په دې کښې په یو ځائ کښې هم د لوندوالی څه اثر په نظر نه راتلو نو بغیرد وینځلو به پاک شی.**لانه لحکم الارض**. د دې نه پس دې دا تالابونه د ذکر کړې شوې طریقې مطابق د نورو جامو د وینځلو د پاره استعمال کړې شی

تنکاره خبره ده چې دهوبیان به دومره د ګرانو شرطونو تکمیل نه کوی او که چرې خوک د

دعوی کوی او د هغه د حالانو په ... زړه د هغه په صداقت باندې مطمئن وی نو د هغه په وینځلو سره به جامې پاکې شی.د داسې سختو شرطونو په پوره کولو کښې د سخت محنت او د تکلیف برداشت کولو په ځای د دې آسانه طریقه داده چې د تالاب اوبه دې جاری ولړلې شی.چې په یو ارخ اوبه په تالاب کښې داخلیږی او په بل ارخ ترې نه خارجیږی .د اوبو د بیخ کولو د پاره دې د اوبو جریان ډیر سست وساتلې شی.په داسې عمل کولو سره یو تالاب کافی شی او د دریو تالابونو هیڅ حاجت به پاتې نشی . که چیرې تالاب لس په لسو کښې وی نو بیا به پکښې هم جامې پاکې شی د جاری ساتلو حاجت ورته نشته.

۲ - د قلتینو په قدر کښې بنه ښکاره جهالت مشهور دې،د دې څه علاج دې؟ د شافعیانو د کتابونو نه د دې ترجیح معلومیږی چې هغوی قلتین څه ته وائی هغوی وائی چې قلتین برابر دی د ۵۰۰ بغدادی رطلو او یو بغدادی رطل برابر دې د ۱۲۸ درهمو . په دې حساب سره قلتین برابر شو د ۲۱۷.۷۲۸ کلوګرامو سره.که چیرې دا قول قبول کړې شی نو دا یقین نشته چې د دهوبې په تالاب کښې دومره اوبه وی اوکه نه. لیکن په مالکی مذهب کښې څه آسانتیا شته. د هغوی په نیزد چې تر څو پورې د پلیتئ په اثر سره د اوبو په صفتونو کښې په یو صفت کښې څه بدلون نه وی راغلې نو اوبه پاکې وی. خو د بل په مذهب باندې د عمل کولو د جواز د پاره سخت ضرورت شرط دې دلته داسې څه ضرورت نشته

د حنفی مسلک مطابق عمل کولو کښې نه خو دهوبی ته څه تکلیف شته ځکه چې هغه بنه په آسانتیا سره په ښودلې شوې طریقې اوبه جاری کولې شی،او نه د جامې د مالک د پاره څه سخت ضرورت شته.ځکه چې ړومبئ خو دا خبره چې په دهوبی باندې وینځل څه ضروری خو ندی په خپله یې هم وینځلې شی. دویم دا چې که په دهوبی باندې ئې خامخا وینځې نو د پلیتئ نه دې جامې په خپله پاکې کړې او بیا دې د وینځلو د پاره دهوبې له ورکړی.په دې زمانه کښې د نل په روانو اوبو باندې د جامو په پاکولو کښې بالکل څه تکلیف نشته،په دې کښې درې خله وینځل او دنچوړ کولو هیڅ شرط نشته . د دې تفصیل د احسن الفتاوی کښې په باب الانجاس کښې شته

د دې مسئلې حل داسې دې چې یو څو د لویو هتونو کسان دې د دین د خاطره دومره تکلیف وکړی چې د خیل ښار هر یو دهوبی له لاړ شی او هغه ته دې په تالاب کښې د اوبو د روانو ساتلو آسانه طریقه وښائی او بنه دې پرې پوهه کړی او بیا دې هغه د دې طریقې مطابق په عمل کولو هم اوونی. زه چې به کومه زمانه کښې په دارالعلوم کورنګې کښې پاتې کیدم نو ما دهغه ځائ صرف د نوږو د خاطره کړې وو ځکه چې ما چیرې هم خپلې جامې چرته په دهوبې ندی وینځلې . دهوبې ته هم دا طریقه ښودلې وه او بیا مې پرې د همدې طریقې مطابق عمل هم وکړو . ما دا محنت

والله الهادی الی سبیل الرشاد. ۲۶ ربیع الثانی ۱۴۰۴ هجری

د اوسپنې د پاکولو طريقه

سوال په اوسپنه باندې که چيرې پليتې ولګې نو د هغې د پاکولو څه طريقه ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د دې د پاکولو درې طريقې دی :

١ - پليتی د جوسې خاونده وی او وچه وی نو دا په ګرولو يا په لمدې ريبنې وغيره سره داسې پاکول پکار دی چې د پليتئ اثر زائله شی .

٢ - پليتی وچه وی خو د جوسې خاونده نوی لکه وړوکی بول وغيره نو دا په لمده ريبنه يا په بل څه لوند څيز سره پاکول پکار دی .

٣ - پليتی لمده وی، برابره خبره ده چې که د جوسې خاونده وی او که نه وی نو د جامې وغيره نه دې پاکول پکار دی او برابره خبره ده که جامه وچه وی او که لمده .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قال فی الحلية: والذی يظهر انها لو يابسة ذات جرم تطهر بالحت والمسح بما فيه بلل ظاهر من خرقة او غيرها حتی يذهب اثرها مع عينها ولو يابسة ليست بذات جرم كالبول و الخمر فبالمسح بما ذكرناه لا غير ولو رطبة ذات جرم او لا فبالمسح بخرقة مبلولة او لا .(ردالمحتار ج١ص٢٠٩) والله سبحانه وتعالی اعلم

٦ رجب ١٤١٥ هجری

د شيرې د پاکولو طريقه

سوال : د ګړې د جوړولو په وخت کښې چې دا تر دغه وخته پورې شيره وی په دغه وخت کله کله په دې کښې مږه اوداسې نور شيان غوزيږی او پکښې زرې زرې شی ،د دې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که چيرې دا شيره تينګه وی نو دا مګه او د دې نه ګير چاپيره څومره حصه چې ده. هغه دې راوه ويستې شی،او که چيرې د اوبو په شان نرمه وی .نو برابره خبره ده که دا ګرمه وی او که يخه نو په دې کښې دې د پاسه دومره شيره يا اوبه يا بل څه نرم څيز واچولې شی چې د دې نه په ارخونو باندې اوبهيږی نو ټوله شيره به پاکه شی .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تنبيه: هل يلحق نحو القصعة بالحوض؟ اذا كان فيها ماء نجس ثم دخل فيها ماء جار حتی طف من جوانبها هل تطهر هی و الماء الذی فيها كالحوض ام لا لعدم الضرورة الی غسلها؟ توقفت فيه مدة. ثم رايت فی خزانة الفتاوی: اذا فسد ماء الحوض فاخذ منه بالقصعة و امسكها تحت الانبوب فدخل الماء وسال ماء القصعة فتوضا به لا يجوز اه .

وفی الظهيرية فی مسالة الحوض: لو خرج من جانب آخر لا يطهر ما لم يخرج مثل ما فيه ثلاث مرات

كالقصعة عند بعضهم والصحيح انه يطهر وان لم يخرج مثل ما فيه اهـ فالظاهر ان ما في الخزانة مبني على خلاف الصحيح. يؤيده ما في البدائع بعد حكايته الاقوال الثلاثة في جريان الحوض حيث قال ما نصه: وعلى هذا حوض الحمام او الاواني اذا تنجس اهـ ومقتضاه انه على القول الصحيح تطهر الاواني ايضا بمجرد الجريان وقد علل في البدائع هذا القول بانه صار ماء جاريا ولم نستيقن ببقاء النجاسة فيه فاتضح الحكم ولله الحمد.

وبقي شيء آخر سئلت عنه وهو ان دلوا تنجس فافرغ فيه رجل ماء حتى امتلأ وسال من جوانبه هل يطهر بمجرد ذلك ام لا والذي يظهر لي الطهارة اخذا مما ذكرناه هنا ومما مر من انه لا يشترط ان يكون الجريان عن مدد وما يقال انه لا يعد في العرف جاريا ممنوع لما مر من انه لو سال دم رجله مع العصير لا ينجس وكذا ما ذكره الشارح بعده من ان لو حفر نهرا من حوض صغير او صب الماء في طرف الميزاب الخ وكذا ما ذكرناه هناك عن الخزانة والذخيرة من المسائل فكل هذا اعتبروه جاريا فكذا هذا واخبرني شيخنا حفظه الله تعالى ان بعض اهل عصره في حلب أفتى بذلك حتى في المائعات وانهم أنكروا عليه ذلك.

واقول: مسألة العصير تشهد لما افتى به وقد مر ان حكم سائر المائعات كالماء في الاصح فالحاصل ان ذلك له شواهد كثيرة فمن أنكره وادعى خلافه يحتاج الى اثبات مدعاه بنقل صريح لا بمجرد انه لو كان كذلك لذكروه في تطهير المائعات كالزيت ونحوه على اني رايت بعد ذلك القهستاني اول فصل النجاسات ما يدل عليه حيث ذكر ان المائع. كالماء والدبس وغيرهما ـ طهارته اما باجرائه مع جنسه مختلطا به كما روي عن محمد رحمه الله كما في التمرتاشي واما بالخلط مع الماء كما اذا جعل الدهن في الخابية ثم صب فيه ماء مثله وحرك ثم ترك حتى يعلو او ثقب اسفلها حتى يخرج الماء هكذا يفعل ثلاثا فانه يطهر كما في الزاهدي الخ فهذا صريح بانه يطهر بالاجراء نظير ما قدمناه عن الخزانة وغيرها من انه لو اجرى ماء اناءين احدهما نجس في الارض او صبهما من علو فاختلطا طهرا بمنزلة ماء جار. نعم على ما قدمناه عن الخلاصة من تخصيص الجريان بان يكون اكثر من ذراع او ذراعين يتقيد بذلك هنا لكنه مخالف لاطلاقهم من طهارة الحوض بمجرد الجريان هذا ما ظهر لفكري السقيم وفوق كل ذي علم عليم. (ردالمحتار ج۱ص۳۰) والله سبحانه وتعالى اعلم.

غره جمادى الثانيه ۱۴۱۸ هجرى

فصل فی الاستنجاء

د اودس نه پس د استنجاء کولو حلم

سوال تاسو په احسن الفتاوی کښې په دویم جلد (اُردو) کښې لیکلی دی چې د اودس نه پس څوک استنجاء وکړی نو دهغه سړی اودس نه ماتیږی. او په درمختار کښې دی (استنجی المتوضی، ان علی وجه السنة بان ارخی انتقض، والالا) لهذا په دې باندې یو ځلې بیا نظر وکړئ چې د سنتو مطابق په استنجاء کولو سره به اودس په ځائ پاتې وی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال العلامة الحصکفی رحمه الله فی نواقض الوضوء: و کذا لو ادخل اصبعه فی دبره فلم یغیبها فان غیبها او ادخلها عند الاستنجاء بطل وضوء ه وصومه.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله فان غیبها) قال فی شرح المنیة وکل شیئ غیبه ثم خرج ینقض وان لم یکن علیه بلة لانه التحق بما فی البطن ولذا یفسد الصوم بخلاف ما اذا کان طرفه خارجا اھ وفی شرح الشیخ اسماعیل عن الینابیع: وکل شیئ غیبه فی دبره ثم اخرجه او خرج بنفسه ینقض الوضوء و الصوم وکل شیئ ادخل بعضه وطرفه خارج لا ینقضهما انتهی. اقول: علی هذا ینبغی ان تکون الاصبع کالمحقنة فیعتبر فیها البلة لان طرفها یبقی خارجا لاتصالها بالید الا ان یقال: لما کانت عضوا مستقلا فاذا غابت اعتبرت کالمنفصل لکن ما سیاتی فی الصوم مطلق فانه سیاتی انه لو ادخل عودا فی مقعدته وغاب فسد صومه والا فلا فان ادخل اصبعه فالمختار انها لو مبتلة فسد والا فلا. تامل ولذا قال فی البدائع: هذا یدل علی ان استقرار الداخل فی الجوف شرط فساد الصوم.

(قوله بطل وضوءه و صومه) ای فی المسالتین لکن بطلان الصوم فی الاولی خلاف المختار الا ان یفرق بین مجرد ادخال الاصبع و تغییبها و یحتاج الی نقل صریح فان ما ذکروه فی الصوم مطلق کما علمت فلذا قال ط: ان فی کلامه لفا ونشرا مرتبا فبطلان الوضوء یرجع الی قوله: ولو غیبها وقوله: وصومه یرجع الی قوله: او ادخلها عند الاستنجاء. قلت: لکن لو ادخلها عند الاستنجاء ینتقض وضوءه ایضا لانه لا تخلو من البلة اذا خرجت کما فی شرح الشیخ اسماعیل عن الواقعات وکذا فی التاترخانیة لکن نقل فیها ایضا عن الذخیرة عدم النقض والذی یظهر هو النقض لخروج البلة معها والحاصل ان الصوم یبطل بالدخول والوضوء بالخروج فاذا ادخل عودا جافا ولم یغیبه لا یفسد الصوم لانه لیس بداخل من کل وجه ومثله الاصبع وان غیب العود فسد

لتحقق الدخول وکذا لو کان هو او الاصبع مبتلا لاستقرار البلة فی الجوف وإذا اخرج العود بعد ما غاب فسد وضوءه مطلقا وان لم یغب فان علیه بلة او فیه رائحة فسد الوضوء والا فلا. (ردالمحتار: ج،ص)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: استنجی المتوضی ان علی وجه السنة بان ارخی انتقض والالا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله بان ارخی الخ) ای علی وجه انه یخرج بارخائه نفسه المخرج الداخل وهو لا یخلو عن رطوبة النجاسة ثم رایته منقولا لا عن خط البزازی فی هامش نسخة البزازیة مع التصریح بأن المراد بوجه السنة ما ذکره الشارح من الارخاء وبه اندفع ما فهمه فی الحلیة من بناء القول بالنقض علی ان المراد بوجه السنة هو ادخال الاصبع فی الدبر ورد ذلک بأنه قد نص غیر واحد من اعیان المشائخ الکبار علی ان لا یدخل الاصبع فی الاستنجاء (وبعد نصف الصفحة) ویبالغ فیه ما لم یکن صائما فینشف بخرقة قبل ان یجمعه کی لا یصل الماء الی جوفه فیفطر. (ردالمحتار ص،ج)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: فی مفسدات الصوم: ولو بالغ فی الاستنجاء حتی بلغ موضع الحقنة فسد وهذا قلما یکون ولو کان فیورث داء عظیما. (ردالمحتار ج،ص)

له پورتنیو عبارتونو څخه دا لاندې امور ثابت شول:

۱- استنجاء په حالت د عدم استرخاء کښې په اتفاق سره غیر ناقضه ده.

۲- د استنجاء په حالت کښې په دبر کښې گوته داخلول د راجح قول مطابق ناقض دی؟

۳- په دبر کښې ئې وچه گوته داخله کړه او راوې ویسته او په هغې باندې ورته څه لوندوالې ښکاره نه شو او نه ورته څه بوئې محسوس شو نو د دې ناقض کیدلو کښې اختلاف دې.

۴- اوچه گوته ئې تولیه یا نیمه داخله کړه او په هغې باندې ورته څه لوندوالې ښکاره شو یا ورته بوئ محسوس شو نو اودس ئې مات شو

۵- که په حالت د استرخاء کښې استنجاء وکړی نو د دې اودس لره ماتولو کښې اختلاف دې،د شامي د عبارت نه معلومیږی چې اودس نه ماتیږی،او چې د استنجاء په حالت کښې د گوتې په داخلولو د اودس د نه ماتیدو قول شوې دې نو بنا په دغه قول باندې صرف په استرخاء کولو سره بې د گوتې د داخلولو نه په اولې طریقې سره پکار دی چې اودس لره مات نه کړی

۶- بې د استرخاء کولو نه مخرج ته اوبه رسیدل په اتفاق سره روژه نه ماتوی.تر څو پورې چې اوبه جوف (خیټې) ته ونه رسیږی

حاصل د خبرې دا چې استنجاء کول بې د استرخاء نه په اتفاق سره اودس لره نه ماتوی.او په حالت د استرخاء کښې اودس لره ماتولو کښې اختلاف دې.زما عاجز په خیال سره نه ماتیدل راجح

دی. څکه چې کرم قول کښې د ماتیدل ونلی شوی، دی د هغې بنا د باطن په خروج د نجاست ده.
لیکن په حالت د استرخاء کښې د اودس ماتیدلو کښې دا خبره ده چې، رومبی دا چې مخرج لره
باطن ګرځول او دویمه دا چې په هر حال کښې په دې کښې لوندوالې ثابت ندې. ښکاره خبره ده
چې مخرج په حکم د باطن کښې ندې. په دې باندې څه شواهد دی

۱. د بدن د داخل او د خارج په ښکاره اندازه دا ده چې کومه حصه د بدن بې د څه تکلیف نه په
نظر راشی هغه خارج ده لکه خوله، پوزه، او فرج خارج. د خارج تعریف په مسترخی مخرج باندې
صادقیږی

۲. په مسترخی مخرج کښې د اوبو په تللو باندې روژه نه ماتیږی او په استنجاء کښې د دې
وینځل سنت دی، دا دواړه خبرې د دې په حکم د خارج کښې د کیدلو تقاضا کوی. نو مخرج لره د
داخل نه ګرځول د ظاهر د اندازې او د نظر د اعتبار نه خلاف دی.

دغه شان په دې مقام کښې د فراغت نه پس د لوندوالی موجودیدل یقینی دی. لیکن هر وخت
کښې د لوندوالی وجود یقینی نه دې، رومبې خو دا چې دا د مشاهدې خلاف دی، دویمه دا چې د
وچې ګوتې پوره داخلیدل یا د نیمې حصې داخلیدل او بیا راویستل اودس لره هغه وزخت ماتوی
چې کله په دې کښې دا متفق علیه قید وموندې شی چې په دې ګوته باندې د راویستلو نه پس څه
لوندوالې وی او یا ترې نه بوئ راځی که په دغه مقام (مسترخی مخرج) کښې د لوندوالی وجود
لازمی شی نو دا قید به بې معنی شی.

د ذکر کړې شوو وجوهو له کبله زما په خیال کښې استنجاء کول په حالت د استرخاء کښې هم
اودس لره نه ماتوی. خو سره د دې دا هم وایم چې د اودس راګرځول احوط دی. د دې نه علاوه د
امام شافعی رحمه الله په نیزد عورت (د پردې ځای) لره ګوتې وروړل اودس لره ماتوی. د دې وجې نه د
اختلاف د ختمولو په غرض سره هم اودس کول مستحب دی.

خلاصه د خبرې دا چې قول د ماتیدو احوط دې او د نه ماتیدو ارجح او اوسع دې **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

۸ رمضان ۱۴۰۰ هجری

د هوا په خارجیدو سره استنجاء لازم ګنل بدعت دې

سوال په ځینو علاقو کښې د خلقو دا عادت دې چې د هر یو اودس نه وړاندې استنجاء کوی.
اګر که بول ئې نه وی کړې. د هغوی دا خیال دې چې د هوا په خارجیدو سره هم استنجاء لازمیږی.
ځینې علماء د الاشباه والنظائر د دې عبارت نه استدلال کوی

والعفو عن الریح والفساء اذا اصاب السراویل المبتلة او المقعدة علی المفتی بهو کان الحلوانی لا یصلی فی

سراویله ولا تأویل لفعله الا التحرز من الخلاف.(الاشباہ والنظائر مع الحموی ج،ص)

په دې کښې د عفو لفظ په دې باندې دلیل دې چې لوند پرتوګ یا لوند مقعد سره چې هوا ولګی نو دا نجس شی لیکن د مفتی به قول مطابق دا معاف دې.د دې نه دا معلومه شوه چې په دې کښې بل قول د عدم عفو هم شته. لهذا د احتیاط تقاضا دا ده چې په هماغه قول باندې عمل وکړې شی، په دې سره به د اختلاف نه هم ځان بچ کړې شی ، لکه چې د امام حلوائی رحمه الله د عمل نه د دواړو کارونو مرسته کیږی.

تاسو ته دا درخواست دې چې دا مسئله راته ښه په تفصیل او دلیلونو سره ولیکئ ستاسو به ډیره مهربانی وی.بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: چې په مقعد یا په پرتوګ باندې لوندوالی نه وی او په دې صورت کښې هوا خارجه شی نو په دې سره د بدن یا د جامې د پلیتیدو هیڅوک قائل نه دی. لهذا په مطلق هوا خارجیدو باندې د استنجاء په لازمیدلو د دې ذکر کړې شوې جزئیې نه استدلال کول بالکل غلط دی او چې مقعد یا جامه لونده وی نو هم مفتی به قول د عدم نجاست دې،د نجاست چې کوم قول دې په دې کښې هغه په انتها درجې سره مرجوح دې.په معتبرو فقهاء کرامو رحمهم الله کښې چا هم دا نه دې اختیار کړې. بلکه دا ئې ونیلې دی چې په هر حال کښې چې هوا خارجه شی نو په دې سره استنجاء لره لازمی ګنړل بدعت دې،مفتی به قول پرېښودل او په غیر مفتی به باندې عمل کول روا نه دی. او بیا دا لا زمی ګنړل نور هم ډیر بد کار دې.او چې کله یو کار د سنت او د بدعت په مینځ کښې راشی (یعنی چې سنت دې او که بدعت دې) نو د هغې پرېښودل اولی دی.لهذا د احتیاط تقاضا داده چې په هر حال کښې د هوا په خارجیدو سره د اودس کولو نه ځان وساتلې شی.او د علامه حلوائې عمل د پرتوګ سره تعلق لری په هغې کښې د استنجاء څه ذکر نشته ،او [illegible] چیرې ومنلې شی چې دا به ئې د دې وجې نه ویستلو چې لوند به وو او د خیټې نه خارجیدونکې هوا به پرې لګیدلې وه نو بیا هم د علامه حلوائی د انفرادی عمل نه په یو شرعی مسئله باندې استدلال کول صحیح نه دی.په خپله په الاشباه کښې د (ولا تأویل لفعله الا التحرز من الخلاف) په ونیلو سره د دې ضعف بیان کړې شوې دې.د دې وجې نه د هغوی دا عمل د دې لائق نه دې چې د هغې دې تقلید وکړې شی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله:(قوله فلا یسن من ریح)لان عینها طاهر قوانما نقضت لانبعاثها عن موضع النجاسة اه ح ولان بخروج الریح لا یکون علی السبیل شیء فلا یسن منه بل هو بدعة کما فی المجتبی بحر.(ردالمحتار: ج،ص)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله: اذا قام في السراويل وصلى معه قال بعضهم: لا يجوز لان في الرفع اجزاء لطيفة فتدخل اجزاء الثوب وقيل ان الشيخ الامام شمس الائمة الحلواني كان يصلي من غير السراويل ولا تاويل لفعله الا التحرز من الخلاف والفتوى انه يجوز سواء كان السراويل رطبا وقت القسوة او يابسا. (البحر: ج ، ص) . وقال العلامة الحصكفي رحمه الله في مكروهات الصلوة: و قلب الحصا الا للسجود التام فيرخص مرة وتركها اولى.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله تركها اولى) لانه اذا تردد الحكم بين سنة وبدعة كان ترك السنة راجحا على فعل البدعة مع ان كان يمكنه التسوية قبل الشروع في الصلوة المحر. (ردالمحتار ج، ص) والله سبحانه وتعالى اعلم ٢٦ذي القعدة ١٤٠٠ هجري

د استنجاء کولو نه د عاجز سړي په حکم باندې د اشکال جواب

سوال تاسو په احسن الفتاوی ج ۲، ص ۱۰۹ (اردو) کښې ليکلي دي چې که څوک په دواړو لاسونو معذور وي يا په يو لاس معذور وي خو د اوبو اچولو ورته څوک نه وي او رواني اوبه هم وې چې په کښې کښيني او په روغ لاس سره استنجاء وکړي او د سړي ښځه يا د ښځې خاوند هم وي چې استنجاء کښې ورسره کومک وکړي نو په داسې حال کښې استنجاء معاف ده.

د دې نه دا خبره په علم کښې راځي چې په وخت د عجز کښې خاوند د ښځې او ښځه خاوند لره استنجاء کولې شي. اوبل څوک ورله استنجاء نه شي کولې اګر که د محارمو نه وي، په دې باندې دا اشکال دې چې که د چا د بالغيدو نه وړاندې سنت (ختنه) نوي شوې او د بالغيدو نه پس ښځه يا وينځه ئې هم نوي چې هغوی يې سنت کړي او په خپله هم ځان نشي سنت کولې نو ده ته د بل چا په ذريعه د سنت کولو اجازت شته، دغه رنګې که څوک د نامه نه لاندې د ويښتو په لرې کولو باندې قدرت نه لري او عاجز وي نو بل څوک نائې وغيره د چاړې يا ايرو په ذريعه د ده د نامه نه لاندې چې کوم ويښته دي هغه لرې کولې شي، حال دا دې چې د استنجاء په پريښودو کښې د نامه د لاندې د ويښتو د پريخودو په نسبت زيات ضررونه دي نو د دغه کارونو اجازت ولې شته او د استنجاء اجازت ولې نشته؟

جواز الختان من الغير او جواز ازالة شعر العانة من الغير باندې د درمحتار او د شامې لاندينی عبارتونه صراحتا دلالت کوی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله و ختان) كذا جزم به في الهداية والخانية و غيرهما و قيل: ان الاختتان ليس بضرورة لانه يمكن ان يتزوج امراة او يشتري امة تختنه ان لم يمكنه ان يختن نفسه كما سيأتي

وذکر فی الهدایة الخافضة ایضا.لان الختان سنة للرجال من جملة الفطرة لا یمکن ترکها وهی مکرمة فی حق النساء ایضا.کما فی الکفایة. (ردالمحتار ج۶ص۳۰)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله:عن ابی حنیفة رحمه الله:لصاحب الحمام ان ینظر الی العورة لو جهته الختان و قیل فی ختان الکبیر اذا امکنه ان یختن نفسه فعل و الالم یفعل الا ان لا یمکنه النکاح او شراء الجاریة والظاهر فی الکبیر انه یختن ویکفی قطع الاکثر.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله:(قوله عن ابی حنیفة الخ)هذا غیر المعتمد لما فی شرح الوهبانیة:و ینبغی ان یتولی طلی عورته بیده دون الخادم هو الصحیح،لان ما لا یجوز النظر الیه لا یجوز مسه الا فوق الثیاب و عن ابن مقاتل:لا باس ان یطلی عورة غیره بالنورة کالختان ویغض بصره اه قلت وفی التتارخانیة:قال الفقیه ابو اللیث:هذا فی حالة الضرورة لا غیر(قوله و قیل الخ)مقابل لقوله و جهته الختان فانه مطلق یشمل ختان الکبیر والصغیر و هکذا اطلقه فی النهایة کما قدمناه و اقره الشراح والظاهر ترجیحه ولذا عبر هنا عن التفصیل بقیل(قوله الا ان لا یمکنه النکاح) کذا رایته فی المجتبی والصواب اسقاط لا بعد ان کما وجدته فی بعض النسخ موافقا لما فی التاترخانیة وغیرها والمراد ان لا یمکنه ان یتزوج امراة تختنه او یشتری امة کذلك(والظاهر فی الکبیر ان یختن)الظاهر ان یختن مبنی للمجهول ای یختنه غیره فیوافق اطلاق الهدایة تامل(ردالمحتار: ج۶ص۳۰) .فی الدر:بلا کشف عورة اما معه فیترکه کما مر فلو کشف له سار فاسقا لا لو کف لاغتسال او تغوط کما بحثه ابن الشحنة.

فی الشامیة:قوله فیترکه ای الاستنجاء بالماء و ان تجاوزت المخرج و زادت علی قدر الدرهم ولم یجد ساترا ولم یکفوا بصرهم عنه بعد طلبه منهم فحینئذ یقللها بنحو حجر ویصلی وهل علیه الاعادة،الاشبه نعم،کما اذا منع عن الاغتسال بصنع عبد فتیمم وصلی کما مر.افاده فی الحلیة وذکرنا خلافه فی بحث الغسل فراجعه(ردالمحتار ج۱ص۳۰)

په باب الغسل کښې د اعاده کولو د وجوب په حقله دا بحث دې

فی الدر:علیه غسل و ثمه رجال لا یدعه و ان راوه والمراة بین رجال او رجال و نساء تؤخره لا بین نساء فقط ... وینبغی لها ان تتیمم وتصلی لعجزها شرعا عن الماء واما الاستنجاء فیترك مطلقا والفرق لا یخفی.

فی الشامیة:بقی ههنا شیء لم یذکروه وهو انه هل تجب اعادة تلك الصلوة فی هذه المسئلة وفی مسئلة النهایة السابقة،قال فی الحلیة:فیه تامل والاشبه الاعادة تفریعا علی ظاهر المذهب فی الممنوع من ازالة الحدث بصنع

العباد اذا تیمم وصلی....واستظهر الرحمتی عدم الاعادة قال:لان العذر لم یات من قبل المخلوق فان المانع لها الشرع والحیاة وهما من الله تعالی کما قالوا:لو تیمم لخوف العدو فان توعده علی الوضوء والغسل یعید لان العذر الی من غیر صاحب الحق ولو خاف بدون توعد من العدو لان الخوف اوقعه الله تعالی فی قلبه فلم یجاء العذر من قبل صاحب الحق فلا تلزم الاعادة. (ردالمحتار ج،ص۱)

د معذور او د بیمار عذر هم د بنده له اړخه نه دي. لهذا چي عجزوی او چا سره چي د دد جماع جائزه ده هغه نه وی نو د استنجاء ساقطیدل پکار دی او په داسي وخت کښي د شوو مونځونو نه راګرځول راجح کیدل پکار دی

الجواب باسم ملهم الصواب په احسن الفتاوی ج ۲.ص ۱۰۹ کښي چي کوم حکم لیکلي شوي دي هغه په سوال کښي لیکلي شوي د شامي په عبارت باندي مبنی دي.د کومي د ظاهر نه چي دا حکم په علم کښي راځی چي په وخت د عاجزه کیدو کښي چي د ښځي خاوند نه وی او د خاوند ښځه نه وی نو استنجاء ساقطیدل پکار دی د شامي عبارت دا دي

(کمریض)فی التاترخانیة:والرجل المریض اذا لم تکن له امرأة ولا امة وله ابن او اخ وهو لا یقدر علی الوضوء قال:یوضئه ابنه او اخوه غیر الاستنجاء فانه لا یمس فرجه ویسقط عنه والمرأة المریضة اذا لم یکن لها زوج وهی لا تقدر علی الوضوء ولها بنت او اخت توضئها ویسقط عنها الاستنجاء.(ردالمحتار ج،ص۱)

خو که د (انه لا یمس فرجه)په تعبیر باندي غور وکړي شي نو دا حقیقت واضحه کیږي چي په اصل کښي مقصود هغه د (مس العورة بدون الحائل) نه ممانعت دي. نو که بغیر د مس نه دغه لره استنجاء کول ممکنه وی نو څوک هم ورله استنجاء کولي شي.نن صبا د پلاسټک د پیپ یا د فواري (شاور) په ذریعه هم بي د مس کولو نه بغیر د څه تکلیف نه استنجاء کولي شی.که چیري داسي ممکنه نه وی نو لاس وغیره ته دي دستاني واچوی یا دي ترې کپړه وغیره تاو کړي شی او استنجاء دي پري وکړي شی.لکه چي د مړی په غسل کښي استنجاء کول ورله هم مامور به دی.او مړی له هم د ذکر کړي شوي طریقي مطابق استنجاء کولي شی.د شامي عبارت په ذکر کړي شوي طریقي سره د استنجاء کولو نه ساکت دي

غرض د خبري دا چي استنجاء په هیڅ حالت کښي هم معاف نده.خو دومره ده چي بي د څه پردي نه دي د سترد مس کولو نه د ځان ساتنه اوچي څومره ممکنه وی د نظر د ساتلو اهتمام وکړی شی . که د شامي عبارت هم په ظاهر باندي پاتي کړي شي نو د جواز الختان من الغیر وجواز حلق العانة من الغیر او جواز استنجاء المیمه وغیره د نورو دلیلونو په بنیاد نه د جواز قول نه صحیح

وی او د عدم جواز قول به مرجوح وی

د دې تفصیل نه دا خبره معلومه شوه چې که داسې څوک نه وی چې په هغه باندې استنجاء وکړې شی نو په داسې مجبورئ کښې دې بې د استنجاء نه مونځ وکړی. خو چې بیا وروستو ورته پخپله قدرت حاصل شی یا بل څوک ورته داسې تر لاسه شی چې استنجاء ورله وکړی نو د استنجاء نه پس دې دغه مونځ واپس راوګرځوی.

په جواز ختان وحلق عانه من الغیر کښې د پردې تر مینځه کیدلو څه قید نه دې ذکر کړې شوې، په دې باندې د قیاس کولو تقاضا دا ده چې په استنجاء کښې دې هم مس بې د څه پردې نه جائز وی لیکن د پورتنی تفصیل مطابق دا روا نه دی، د فرق وجې په کښې دا دی:

۱ - په سنت (ختنه) کولو کښې د عورت غلیظه د مس کولو حاجت یو ځل راځی او د نامه نه لاندې د ویښتو په لرې کولو کښې ضرورت په څلویښتو ورځو کښې یو ځل راځی. خو په استنجاء کښې په یوه ورځ کښې څو څو وارې د دې حاجت راځی.

۲ - په سنت (ختنه) او د ویښتو په حلق کښې د پردې په راتلو سره بیا دا په ښهٔ طریقې سره نه شی کیدې او په استنجاء کښې داسې نه ده. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳ شوال ۱۴۲۲ هجری.

کتاب الصلوة

باب المواقیت

په لندن کښې د ماسخوتن د وخت د متعین کولو غلطه طریقه

سوال ستاسو په علم کښې دا خبره شته چې برطانیې محل وقوع له ۵۰ نه ۵۸ درجې عرض البلد تر مینځه ده او په ذکر کړې شوی عرض البلد باندې د هیئت او موسمونو د محکمو د لاس نیوې مطابق د مئی د میاشتې له مینځ نه واخله تر جولائی میاشتې آخره پورې شفق ابیض لا موجود وی اوختم شوې نه وی چې نمر بیرې راوخیژی، په نورو الفاظو کښې به داسې وه وایو چې نمر ۱۲ درجې د افق (د آسمان لمن) نه لاندې د تلو نه پس واپس راوخیژی. دلته د مونځونو په وختونو کښې ۱۲ درجې د افق نه لاندې ته صبح صادق لیکلې شوې دې. هر کله چې دا خبره وکړې شوه چې شفق ابیض ندې غائب شوې او تاسو واین چې دا صبح صادق دې نو ځینې حضراتو دا وه وئیل چې دا د حسابونو خبره ده. باقی زمونږ دا خپله مشاهده ده چې صبح صادق شوې وی او شفق ابیض هم غائب شوې وی. د حساب کتاب د خاوندانو دا وینا ده چې دا مشاهده د صبح صادق نده. دا فریب دې د برق د رڼا او د برق په رڼا کښې د دې تمیز ممکن ندې.

اوس پوښتنه داده چې آیا دا ممکنه ده چې نمر دې ۱۲ درجې د افق نه لاندې نوی تلې او بیا هم د شفقِ ابیض ډوبیدل او د صبح صادق راختل متحقق شی؟ یا دا چې د مشاهدې چې کومه خبره ده هغه د برق د رڼا د فریب د وجې نه صحیح نده؟ تاسو نه دا طمع لرو چې دتشفی لائق جواب به راکړئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د علامه شامی او د فقهې او د فلکیاتو دواړو امام علامه برجندی او د نورو ماهرینو دا فیصله ده چې

۱ - غروب (ډوبیدل) د شفق احمر = د ۱۲۰ درجې لاندې د افق نه، دا ابتداء د وخت د ماسخوتن په نیزد د صاحبینو او د نورو درې واړو امامانو رحمهم الله سوا د امام ابو حنیفه رحمه الله نه.

۲ - غروب د شفق ابیض مستطیر = ۱۵۰ درجې لاندې د افق نه. ابتداء د وخت د ماسخوتن په نیز د امام ابو حنیفه رحمه الله او ابتداء د صبح صادق ده په اتفاق سره.

۳ - راختل د شفق ابیض مستطیل = ۱۸۰ لاندې د افق نه. دا شروع کیدل دی د صبح کاذب.

دې حضراتو دا فیصله د رصدګاه نه د مشاهداتو نه پس کړې ده. کوم ځائ کښې چې د برق د رڼا د اثر امکان وی نو د هغه ځائ مشاهده غیر معتبره ده چې د برق لړه غونډې رڼا هم وی نو مشاهده صحیح نه کیږی. د دې مشاهداتو په غلط کیدو باندې یو واضح دلیل دا هم دې چې د ۵۰ یا د ۵۸ عرض البلد د پاره د مشاهداتو په بنا باندې هم یو وخت ټاکلې شوې دې، او حال دا چې د دې بیلو بیلو عرض البلد لرلو والا علاقو په وختونو کښې ډیر فرق دې، او دا چې د ماسخوتن او د صبا د راختو تر مینځه ئې فاصله برابره ساتلې ده، او حال دا چې په دومره لوئې عرض البلد کښې دا ناممکنه ده. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

۱۴ شوال ۱۴۰۲ هجری

باب الاذان والاقامة

په اقامت کښې دې څلور تکبيرونه په يوه سا سره وائی

سوال د اقامت مسنونه طريقه څنګه ده؟ اکابرينو دا ښودلې ده چې زومبی څلور تکبيرونه دې په يوه سا سره وائی. بيا دې دوه دوه کلمې په يوه سا سره وائی او وصل دې په کښې نکوی. ليکن ځينې د علم خاوندان دا فرمائی چې د کفايه د ج ۱.ص ۲۱۳ معارف السنن ج ۲.ص ۱۸۲.۱۹۵ او د بدائع ج ۱.ص ۱۴۷ نه دا معلوميږی چې د اقامت د شروع څلور تکبيرونه دې په يوه سا سره نه وائی. دوه دوه تکبيرونه دې په يوه سا سره وائی. تاسو په دې باندې غور وکړئ او مونږ د خپلې تحقيقي رائې نه خبر کړئ. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اقامت کښې په تصريح د فقهاء کرامو ﷭ د څلورو واړو تکبيرونو وصل مستحب دې. په پورتنه کښې چې د کومو کتابونو حواله ورکړې شوې ده د هغې نه هم وصل يعني څلور تکبيرونه په يوه سا سره وئيل ثابتيږی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قلت: والحاصل ان التكبيرة الثانية في الاذان ساكنة الراء للوقف حقيقة و رفعها خطأ واما التكبيرة الاولى من كل تكبيرتين منه ومن جميع التكبيرات الاقامة فقيل محركة الراء بالفتحة على نية الوقف وقيل بالضمة اعرابا وقيل ساكنة بلا حركة على ما هو ظاهر كلام الامداد والزيلعي والبدائع و جماعة من الشافعية. (رد المحتار ج ۱.ص ۳۸۶)

وقال الامام المرغيناني رحمه الله (ويترسل في الاذان ويحدر في الاقامة) لقوله ﷺ لبلال: اذا اذنت فترسل و اذا اقمت فاحدر وهذا بيان الاستحباب. (الهداية مع الفتح ج ۱.ص ۲۱۳)

وقال العلامة الخوارزمي رحمه الله: (قوله ويترسل في الاذان) الترسل ان يفصل بين كلمات الاذان من غير تغن ولا تطريب من قولهم: على رسلك اي اتئد وترسل في القراءة تمهل فيها والحدر الوصل والسرعة. (الكفاية مع الفتح ج .ص)

وقال الامام ابن الهمام رحمه الله (قوله ويترسل في الاذان) هو ان يفصل بين كل كلمتين من كلماته بسكتة و يحدر ان لا يفصل ولو ترسل فيها قيل: يكره لمخالفة السنة وقيل: ما ذكره في المتن يشير الى عدم الكراهة حيث قال: هذا بيان الاستحباب والحق هو الاول لان المتوارث الترسل فيكره تركه وفي فتاوى قاضيخان: اذن ومكث ساعة ثم اخذ في الاقامة فظنها اذانا فصنع كالاذان فعرف يستقبل الاقامة لان

السنة فی الاقامة الحدر فاذا ترسل ترک سنة الاقامة وصار کانه اذن مرتین.(فتح القدیر ج۱،ص۲۴۳)

وقال الامام الکاسانی رحمہ اللہ تعالی :حدیث عبد الله بن زید رضی اللہ عنہ ولیه التکبیر اربع مرات بصوتین،وروی عن ابی محذورة رضی اللہ عنہ مؤذن مکة انه قال:علمنی رسول الله ﷺ الاذان تسعة عشر کلمة والاقامة سبعة عشر کلمة،وانما یکون کذلک اذا کان التکبیر فیه مرتین،واما الاعتبار بالشهادتین فنقول:کل تکبیرتین بصوت واحد فکانهما کلمة واحدة فیاتی بهما مرتین کما یاتی بالشهادتین.(بدائع الصنائع ج۱،ص۱۴۸)

هر کله چې په اذان کښې څلور تکبیرونه په دوو آوازونو سره دی او دوه تکبیرونه په ځای د یو تکبیر دی او په اقامت کښې د کلمتینو په یو آواز د ادا کولو حکم دې نو ثابته شوه چې په اقامت کښې به څلور تکبیرونه چې په ځای د دوو کلمو دی دا به په یو آواز وی

وقال العلامة البنوری رحمہ اللہ تعالی :وحد الفقهاء الترسل فی الاذان بأن یفصل بین کلمتین من کلماته ای یسکت و یقطع نفسه،ولکن جعلوا التکبیرتین من الاربع بمنزلة کلمة،فیستحب نطقهما فی نفس کما تقدم،وحدوا الحدر فی الاقامة بأن لا یفصل.(معارف السنن ج۲،ص۱۹۰) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۲ جمادی الثانیة ۱۴۰۱ هجری

د (الصلوة خیر من النوم) په جواب کښې (صدقت وبررت) ویل

سوال د سحر په اذان کښې د (الصلوة خیر من النوم) په جواب کښې (صدقت و بررت،وبالحق نطقت) ویل روا دی او که نه؟ د ملاعلی قاری رحمہ اللہ تعالی دلاندینی عبارت نه دناروا والي ثبوت معلومیږی

صدق رسول الله ﷺ هو کلام کثیر من العامة عقیب قول المؤذن فی الصبح:الصلوة خیر من النوم،ولیس له اصل،و کذا قولهم عند قول المؤذن:الصلوة خیر من النوم:صدقت و بررت و بالحق نطقت،استحبه الشافعیة.قال الدمیری:و ادعی ابن الرفعة ان خبرا ورد فیه،ولا یعرف من قاله،و بررت بکسر الراء الاولی و سکون الثانیة. (الموضوعات الکبیر ص۸۸) بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب (الصلوة خیر من النوم) په جواب کښې (صدقت وبررت،وبالحق نطقت) ویل : یو حدیث نه هم ثابت ندی،د ځینی سلفو نه منقول دی. ښه خبره دا ده چې په جواب کښې (الصلوة خیر من النوم) وه ویلې شی

قال العلامة الرافعی رحمہ اللہ تعالی :(قول الشارح فیقول صدقت الخ)

قال الرحمتی:ويأتی فی هذا ما تقدم فی حيعلتين بل اولیٰ لان حديث:قولوا مثل ما يقول يشمله ولم يرد حديث اخر فی(صدقت وبررت)بل نقلوه عن بعض السلف اھ سندی.(التحرير المختار ج۱،ص۴۰) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

۲۹ ذی القعدة ۱۴۰۳ هجری

د ډيرو اذانونو جواب

سوال هر كله چې د ډيرو جماتونو نه په يو وخت كښې يا پرله پسې د اذانونو آواز آوريدلې شی نو د كوم يو اذان جواب وركول مسنون دی. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب قال الامام ابن الهمام رحمه الله تعالیٰ بحثا:والذی ينبغی اجابة الاول سواء كان مؤذن مسجده او غيره لانه حيث يسمع الاذان ندب له الاجابة او وجب فاذا فرض ان مسموعة من غير مسجده تحقق فی حقه السبب فيصير كتعددهم فی المسجد الواحد(فتح القدير:ج۱،ص۲۴۸)

ما ته په دې بحث كښې د شروع نه دوه اشكاله وو.

۱- په اجابه بالاقدام كښې په اتفاق سره د كندی د جمات حق وړاندې دې. نو چې دې ته وګورې نو په اجابة باللسان كښې هم د كندی جمات ته ترجيح وركول پكار دی.

۲- د كندی د جمات نه چې د اذان آواز راشی نو د هغې اړخ ته توجو نه كول شرعاً،عقلاً،او طبعاً په انسان باندې بده لګی،خكه چې دا د خپل جمات اذان دې او د دې نه علاوه د نزدې كيدو له كبله دهغې آواز هم ډير تيز راځی.

د دې خيال مطابق څه جزيه زما د نظر لاندې نه وه راغلې.د دې وجې نه به ما د امام ابن الهمام د بحث مطابق فتوی وركوله.

وروسته په كتلو سره په ما نه كښې د جواهر الفتاوی نه د كندی د جمات د تقدم قول راته ترلاسه شو، دا خبره منلې شوې ده چې دا مجهول قول د امام بن الهمام رحمه الله د مقابلې حيثيت خو نه لری خو بيا هم دې ته د دوو وجوهو نه ترجيح وركول كيږی:

۱- د ابن الهمام رحمه الله په ذكر كړې شوی عبارت كښې د هغوی فتوی نده بلكه يواځې يو بحث دې

۲- په جواهر الفتاوی كښې د ذكر كړې شوی قول د پورتنيو وجوهو له كبله مرسته كيږی

قال المخدوم محمد جعفر السندی رحمه الله تعالیٰ:وفی جواهر الفتاوی:وسئل عالم من العلماء يسمع قدرا من اذان المؤذنين يؤذن كل واحد بعد الاذان فی مواضع شتی يشتغل بجواب الكل او الواحد؟قال:يشتغل بجواب الاذان المؤذن الذی هو مؤذن مسجد حيه عند اذانه لحسب وفی غيره ان اشتغل بامر نفسه فلا اثم عليه لانه لا يجب عليه اجابة اذانه.(المعانة:ص۳۰) ، والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

۵ ربيع الثانی ۱۴۰۷ هجری

د نفل کوونکی د اقامت په کراهیت باندې د اشکال جواب

سوال په احسن الفتاوی کښې د نفل کوونکی اقامت کولو ته مکروه وئیلې شوې دی.او په دلیل کښې چې کوم عبارت وړاندې کړې شوې دې په هغې کښې د اذان ذکر دې د اقامت ذکر پکښې نشته . لهذا اقامت ته مکروه وئیل د اشکال ځائ دې۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : هر کله چې د نفل کوونکی د اذان کراهیت ثابت شو نو د اقامت په کراهیت کښې ئې څه شک شبه پاتې نشوه، د دې د پاره د مستقل دلیل ورکولو څه ضرورت نشته. ځکه چې کوم دوه علتونه د اذان د کراهیت د پاره بیان کړې شوې دی هغه دوه علتونه په اقامت کښې هم موجود دی،اوددې نه علاوه فقهاء کرامو رحمهم الله د اقامت د کراهیت تصریح هم بیان کړې ده:

قال الامام السرخسی رحمه الله: ویکره ان یؤذن فی مسجدین ویصلی فی احدهما،لانه بعد ما صلی یکون متنفلا بالاذان فی المسجد الثانی والتنفل بالاذان غیر مشروع ولان الاذان مختص بالمکتوبات فانما یؤذن ویقیم من یصلی المکتوبة علی اثرهما وهو فی المسجد الثانی یصلی النافلة علی اثرهما.(المبسوط ج۱،ص۳۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۹ شعبان ۱۴۱۸ هجری

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ﴾

ضميمة

ارشاد العابد

الى تخريج الاوقات و توجيه المساجد

- دوختونو د تخريج په حقله د دوو ليكونو اصلاح
- په احسن الفتاوى كښې اختيار كړې شوې د تقويم د بعضو قواعدو وضاحت

****
****

باب استقبال القبلة

ضميمة

ارشاد العابد الى تخريج الاوقات و توجيه المساجد

د ((انسائيكلو پيډيا اميريكانه)) په تقويم باندې بحث

په ارشاد العابد كښې د ليكلې شوې هجرى او عيسوى تقاويمو په حقله يو د فن خاوند حضرت شيخ صاحب دامت بركاتهم ته څو څو ځله رجوع وكړه او د حضرت شيخ صاحب دامت بركاتهم نه نى هدايات ترلاسه كړو. دهغه فن دخاوند دوه ليكونه او د هغې دوه جوابونه دلته نقل كولې شى. **مرتب**

رومبې ليک

په ارشاد العابد كښې د هجرى او عيسوى كلونو د تقابل په قاعدې باندې د اشكال جواب

سوال تاسو په ارشاد العابد كښې د هجرى او د عيسوى كلونو د تقابل په قاعده كښې ۱۹۸ په ۳۲۵ باندې تقسيم كړې دې او ۲۲۱.۵۴۲۴۲۵۷ حساب مو كړې دې. او حال دا چې ستاسو د ليک مطابق شمسي كال ۳۲۵.۲۴۲۲۱۸ دې. د دې وجې نه ما ۱۹۸ په ۳۲۵.۲۴۲۲۱۸ باندې

تقسیم کړو او د جواب نه مې اعشاریه صرف څلورو د.جو پورې اخستې دي يعني ۵۴۲۱. دا ترمیم د دې د پاره هم ضروری دې چې مثالونه د کومو قاعدو د وضاحت دپاره بیان کړې شی.نو هغه مثالونه په دې قاعدو باندې برابریدل هم پکار دی.احسن الفتاوی (أردو) جلد دوم صفحه ۳۷۱ زما په وړاندې پرته ده. ۱۳۹۰ هجری کال مې چې په عیسوی کال باندې بدل کړو نو د عیسوی کال صحیح ورځې ۲۷ ظاهرې شوې او تاسو وړاندینۍ ورځ یعنې اته شپیتمه ورځ حساب کړې ده او ۹ مارچ تاریخ مو راویستې دې.لیکن ۱۹۷۰ء مې چې په هجری کال باندې بدل کړو نو د هجری کال صحیح ورځې ۲۸۲ راوتلې او بیا مې چې په دې کښې دوه ورځې زیاتی کړې او د هجری کال دوه سوه اته اتیایمه (۲۸۸) ورځ مې شمارکړې نو د ۲۲ شوال تاریخ ترې نه راوه وتلو. حال دا چې د همیش ګیر(دائمی) هجری د تقویم د قاعدې مطابق ۲۳ شوال ۱۳۸۹ هجری د جنورۍ دوړومبی تاریخ مطابق کیدل پکار دی. ځکه چې اول جنوری ۱۹۷۰ د زیارت ورځ وه او د دائمی هجری تقویم مطابق ۲۲ شوال ۱۳۸۹ هجری د چهار شنبې ورځ راځی.لهذا مطلوبه تاریخ د ۲۲ شوال په ځائ ۲۳ شوال پکار دې،همدغه شان په ۲۸۲ کښې د دوو په ځائ د دریو اضافه کول وغوښتلې شو.او د ۱۳۹۰ هجری کال مو چې په عیسوی کال کښې بدلولو نو عیسوی کال نه چې کومې صحیح ورځې ترلاسه شوې په هغې کښې صرف یوه ورځ زیاته کړې شوې وه.که چیرې کسرونه د ۵۴۲۴۲۵۷ ء په ځائ د ۵۴۲۱ ء واخستې شی او ۲۲۴۷۹۴ ۹۷۰ ء که چرې ۲۲۴ ۹۷۰ پورې محدود کړې شی نو په ړومبی مثال کښې به د عیسوی کال صحیح ورځې ۶۷ ورځې راوځی.په دې کښې چې دوه ورځې جمع کړې شی نو اته شپیتمه ورځ ۹ مارچ جوړیږی.همدغه شان په دویم مثال کښې د هجری کال صحیح ورځې ۲۸۷ ورځې راوځی،که په دې کښې دوه جمع کړې شی نو دوه سوه او نهه اتیایمه (۲۸۹)ورځ بالکل صحیح ۲۳ شوال رواځی. لهذا ستاسو په قاعدو کښې د لږ شان ترمیم ضرورت دې د دې د پاره چې مثالونه په دې باندې تطبیق (برابر) شی.که چیرې هجری کال لره په عیسوی کښې د بدلون د پاره د ۵۴۲۱ ء کسر او عیسوی کال لره په هجری کال کښې د بدلون د پاره د ۵۴۲۴ ء کسر استعمال کړې شی نو ډیر کم به چیرته په ورځو کښې لاندې باندې راځی. لیکن بیا قاعدې یو شان نه پاتې کیږی چې دا یوه بده خبره ده. نو د دې وجې نه ما هم ۵۴۲۱ ء اخستې دې.بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د تحویل د قاعدې نه د تقویم قاعده بیله ده. اوله تحقیقی ده او دویمه تقریبی ده. لهذا د یوې قاعدې د مثالونو په بلې قاعدې باندې برابریدل ضروری نه دی.په وخت د تعارض به قاعدې د تحویل ته ترجیح ورکولې شی.**لماذکرناانه تحقیقی والاخر تقریبی.**

په تحویل کښې حقیقت درسیدو کوشش دې

په تقویم د قمری کښې ورځې او میاشتې مفروضه یعنی فرض کړې شوې وی او په شمسی

کښې موضوعه، یعنی وضع کړې شوې وی، کماسیتضح.
کیدې شی چې په دې درې خبرو باندې د غور کولو نه پس د ۵۴۲۴ ، حقیقت هم ستاسو په ذهن کښې راشی . والله المستعان.
په احسن الفتاوی کښې د تحویل په نتیجه کښې صرف ۲۸۲ ورځې نه دې بلکه هغې سره د ۲ ، کسر هم موجود دې.لکه څنګه چې معلومه ده چې د ورځې د مینځ نه د تاریخ ابتداء ممکنه نه ده،د دې وجې نه اکثر ورځې لره کامل ورځه ګرځول دا یو لازمی امر دې چې بې د دې نه بل څه صورت کیدې نه شی.دا رنګه د رومی تاریخ د جنورئ نه وړاندې د تیرو شوو ورځو شمیر ۲۸۷ شو،د دې نه پس په ۲۸۸ کښې رومې تاریخ د جنورئ دې،په دې عمل کښې یوه ورځ هم زیاته نده اخستې شوې. لا پاتې دا چې ستاسو د خیال مطابق په کښې د دوو یا د دریو ورځو اضافه وکړې شی، صرف ۴ ، په کښې زیات دې.د کومې نه بغیر چې بل څه صورت نه شی کیدې. کما مر. بلکه په تحویل کښې که لږ د ژور نظر نه کار واخستې شی نو بیا په کښې دومره فرق هم نه پاتې کیږی، مثلا په دې کښې ډیرو ژورو خبرو نه بغیر که صرف دا یو ژور نظر واخستې شی چې په آخره کښې اعشاریه لره د ۳۵۴ په ځائ ۳۵۴،۳۲۷ کښې ضرب ورکړې شی نو= ۹، ۲۸۲
د دې نه تاسو د خپل ترمیم ۵۴۲۱، مرسته ونه ګڼ. څکه چې په تقویم کښې قمری تاریخونه فرض کړې شوې دی.او شمسې تاریخونه وضع کړې شوې دی.فالفرقا.ډیر زر به معلوم شی چې د تقویم خاوندانو دا کال د ۳۵۵ ورځو شمار کړې دې.دا خبره معلومه ده چې دا شمار تحقیقی ندې فرضی دې، ددې وجې نه به اعشاریې له ۳۵۵ کښې ضرب نه شی ورکولې. په خلاف د شمسی تقویم چې په دې کښې به د لیپ په کال کښې اعشاریې له په ۳۲۲ کښې ضرب ورکولې شی، څکه چې د دې تاریخونه موضوعی یعنی وضع کړې شوې دی .
د تحویل د عمل نه چې د عیسوی کال د حاصلیدونکو ورځو کوم شمیر چې په احسن الفتاوی کښې لیکلې شوې دې تاسو په هغې کښې هم د یوې ورځې زیاتوالې ګڼلې دې،حال دا چې په هغې کښې بالکل څه زیاتوالې نشته، بلکه د دې په عکس په هغې کښې د ۴، اسقاط دې کوم چې لازم امر دې . کما قدمنا
څنګه چې معلومه ده چې شمسی تاریخونه موضوعی دی،د دې وجې نه د تحویل په قاعدې باندې د دې د برابرولو(منطبق کولو) د پاره په دې کښې څه ځائ نشته چې دا دې پرې برابر کړې شی. د تاریخونو،میاشتو،او د کلونو د ورځو شمیر ټول هر څه د دې اصل موضوع د لاندې په خپل ځائ باندې پاخه(منجمد) ولاړ دی.که چیرې کال د ۳۲۵ ورځو وی نو د تحویل په قاعدې کښې به هم د دومره نو شمارلې کیږی،او که د ۳۲۲ ورځو وی نو د تحویل په حساب کښې به هم دومره

ورخو له اعتبار وی. دا ورځې به د شمسي ورځو تابع نه شي شمیرلې کیدې.دا طمع لرو چې اوس خو به تاسو د ۵۴۲۴ په مسئلې باندې پوهه شوې یئ

د قمري تقویم تاریخونه موضوعي نه دي بلکه مفروضي دي.د دې د پاره د څه اصل او بنیاد وضع کول د دوو وجوهو نه ناروا دي.یو دا چې دا شرعاً منع دي.دویم دا چې د قمري تقویم په ذریعه ټاکلې شوی تاریخونه اکثر د عامو مشاهدو خلاف دي.لهذا چې چیرته د قمري تقویم یو تاریخ. د تحویل د قاعدې نه خلاف په نظر راشي.هلته به د صحیح تاریخ د ټاکلو دپاره د تحویل په قاعده باندې اعتماد یعنی کول لازمي وي.ددې په مقابله کښې به د تقویم قاعده پریښودلې کیږی.څکه چې دا تقریبی ده او د دې په ذریعه ټاکلې شوی تاریخونه مفروضي دي.نه موضوعي دي او نه تحقیقي دي او قاعده د تحویل تحقیقي ده .

د ذکر کړې شوی تفصیل مطابق د تحویل د عمل نه تقابل یعنی مقابله په دې صورت کښې ثابتیږی . (اول جنوری ۱۹۷۰ء=۲۲ شوال ۱۳۸۹ هجری پنجشنبه یعنی زیارت)

په قمري تقویم کښې د ۲۲ شوال = چهار شنبه وجه داده چې د قمر د دور یعنی چکر د لاندې اگر چې په هغه وخت کښې د یوې ورځې زیاتوالې په کښې شوې وو لیکن د تقویم په قاعده کښې هغه وخت د ورځې اضافه متعسر یعنی گرانه وه،د دې وجې نه تقریبا د دوو میاشتو نه پس د کال په آخره کښې اضافه وکړې شوه،د تسهیل یعنی آسانتیا په غرض دا لږ فرق (یعنی فصلِ قلیل) وزغملې شو

د ۱۳۸۲ هجری په ختمیدلو سره ۱۲۲ کلیزې لوئې دور(دورِکبیر)کاملیدلو له کبله په تقویم کښې یو کال کم کړې شو . بیا په هر کال کښې د ۳۲۷.۵۲، د زیاتوالی په حساب سره د یوې ورځې زیاتوالې= ۲.۷۲۴ کاله. ۲.۷۲۴ x ۳۵۵ = ۲۵۷ = ۲۲ رمضان ۱۳۸۹ هجری

لیکن په تقویم کښې د درې میاشتو نه هم د زیات وخت د تیریدو نه پس د کال په آخره کښې د دغه ورځې زیاتوالې وکړې شو.فتدبر وتفکر.

تاسو چې په قاعده کښې کوم د دوو ورځو د زیاتوالی ترمیم کړې دې دا د څه فنی نکتې د لاندې خو ندې.د ړوند د همسا مثال دې چې په خپله خاۍ کښې ئې بېج کړی او په خپنی خاۍ کښې ئې وغورځوی.چې بې د بصیرت نه یواځې په اټکل یعنی به توک په قاعدو کښې د ترمیم کولو سلسله شروع شوه نو د دې فن خو دې بیا په مخه بنه وی.تحقیقی قاعدې کښې ترمیم کول او دا د تقریبی قاعدې تابع کول او هغه هم په یوه جزئیه کښې د اشکال د کنلو له کبله.داسې کول خو د سر نوئی طله دې

۱۱ ربیع الاول ۱۴۰۸ هجری

دويم ليک

په اتفاق سره مې چرته د انسائيکلو پيډيا برټانيکا او د انسائيکلوپيډيا اميريکانه نوې چاپ د نظرلاندې راغلو په هغې کښې په لفظ د (کيلينډر) باندې ډير تحقيقي بحثونه شوی دی او د ټولې دنيې په نوی او زړو نظامونو د تقويمونو باندې په کښې د خيال اظهار کړې شوې دې. د هغې په رڼا کښې په هجری تقويم او د دې سره متعلق چې نور څه دی په هغې باندې په پوهه کښې راته ډير کومک ترلاسه شو. کوم معلومات چې د هجری تقويم سره تعلق لری د هغې په بناء ما په انسائيکلو پيډيا امريکانه کښې د ورکړې شوو قاعدو مطابق نوې هجری تقويم هم تيار کړې دې. چې يو نقل ئې ستاسو په خدمت کښې درليږم. د دې تقويم بنياد په دې لاندينو امورو باندې دې.

۱- د قمری کال موده د قمری دور يعنی چکر په لحاظ سره ۳۵۴،۳۶۷۰ ورځې ده. د دې وجې نه د قمری تقويم د قمری دور سره د زيات نه زيات مطابق کولو د پاره دقمری کلونو دورکبير ۱۲۲ کلونو په ځائ د ديرشو ديرشو کلونو شمار کړې شوې دې. په هر ديرش کاله دور کښې هر پنځم. اووم. لسم. ديارلسم. شپاړسم. اتلسم. يوويشتم. څلورويشتم، شپږويشتم. او يوکم ديرشم کال (ټول يوولس کاله) د ۳۵۵ ورځو شمار کړې شوی دی. باقی پاتې ۳۰_۱۱= ۱۹ کاله د ۳۵۴ ورځو شمار کړې شوې دی. دغه شان د ديرشو کالو ټولې (۳۵۵×۱۱) + (۳۵۴×۱۹) = ۱۰۶۳۱ ورځې جوړيږی. دا مو چې په ديرشو باندې تقسيم کړې نو د قمری کال اوسطه موده ۳۶۶۶، ۳۵۴ رابيکاره شوه. دا موده د اصل دور د قمر د مودې نه صرف (۳۵۴،۳۶۷۰ - ۳۶۶۶، ۳۵۴=۰،۰۰۰۴ کم جوړيږی. يعنی د ۲۵۰۰ کالو نه پس به د يوې ورځې فرق راتلو. د دې وجې نه دا نوې تقويم د قمر د دور د مودې سره ډير مطابقت لری.

۲- د هجری کال شروع د عيسوی تقويم مطابق په جيولين کيلنډر کښې ۱۶ جولائی ۶۲۲، مطابق د جمعې مبارکې دې. او د ګريګورين کيلنډر مطابق ۱۹ جولائی ۶۲۲، مطابق د جمعې مبارکې دې. دا رائې خکه د ترجيح معلوميږی چې د دې په بنياد جوړ کړې شوې تقويم ډير صحيح معلوميږی. ۹ ذی الحجه ۱۰ هجری اګرچې د خالی ورځ راوځی خو خير دې په قمری تقويم کښې د يوې ورځې فرق معمولی خبره ده. د دې تقويم مطابق د ۱۲۲ کالو په ځائې ۱۲۰ کاله پس د يوې ورځې فرق راځی.

۳- د دې تقويم په ذريعه د هفتې راويستلې شوې ورځې د رؤيت هلال په بنا د راويستلې شوو ورځو او تاريخونو سره نسبتاً زيات مطابقت لری.

دا نوې تقويم ځکه درليږم چې د مشاهداتو په ذريعه د دې اندازه ولګوئ

په دې نوې تقويم کښې د کلونو ترتيب ماتيږی د دې وجې نه دکال کتل ضرور وی. په دې لحاظ

سره په (ارشاد العابد) کښې چې کوم تقويم دې هغه آسان دې. په دې کښې د ۱۲۲ کليزی د قمر د دور په لحاظ سره د ليکلې شوو قاعدو مطابق په مستطيل تقويم کښې د کلونو ترتيب قائم وی او د دې مدور تقويم هم ډير ښکلې دې. د انسائيکلوپيډيا امريکانه د قاعدو مطابق په مستطيل تقويم کښې د کلونو ترتيب په خاې نه پاتې کيږی او غالباً د دې مدور تقويم به هم ډير په گرانه سره جوړيږی

د دې تقويم کليه (قاعده) دا ده چې هجری کال په ديرشو باندې تقسيم کړئ او د باقی پاتې عدد قائم مقام د دې لاندې جدول نه معلوم کړئ. کال مو چې کوم په ديرشو باندې تقسيم کړې وو او د دې نه کوم څه حاصل راوتلې وو هغې لره په پنځو کښې ضرب ورکړئ او په اووو باندې ئې تقسيم کړئ او باقی پاتې عدد چې کوم وی هغه راواخلئ او چې کوم وړاندې معلوم کړې شوې قائم مقام عدد دې هغې سره ئې جمع کړئ او بيا ئې په اووو باندې تقسيم کړئ. که صحيح پرې تقسيم شی نو د کال ابتداء به د جمعې د ورځې نه کيږی. او که په تقسيم کښې يو پاتې شی نو د کال شروع به د خالی د ورځې نه کيږی ، که د محرم د ابتداء علم راغئ نو د باقی پاتې مياشتو تاريخونه د دې قاعدې مطابق معلومولې شی.

کال لره په ديرشو باندې د تقسيمولو نه پس باقی پاتې عددونه						قائم مقام عدد
۱	۹	-	۱۷	-	۲۵	۰
۲	۱۰	.	۱۸		۲۲	۴
۳	۱۱	۱۲	۱۹	.	۲۷	۲
۴	۱۲		۲۰	۲۴	۲۸	۲
۵	۱۳		۲۱		۲۹	۳
۶	۱۴		۲۲		۰	۱
۷	۱۵		۲۳	-	-	۵
۸	-	-	-	-	-	۳

لکه د ۱۴۰۸ هجری کال په کومه ورځ شروع شوې وو؟

$\frac{۱۴۰۸}{۳۰}$ هجری =۴۲ حاصل د تقسيم او باقی پاتې عدد = ۲۸، نو د ۲۸ قائم مقام= ۲، (۴۲×۵ د +۷ باقی پاتې عدد) =۲+۲=۱۲ + ۷ =باقی پاتې عدد (۵). نو د کال ۱۴۰۸ هجرئ اول محرم د چارشنبې په ورځ وو

که چيرې کال په ديرشو باندې برابر تقسيمېږی نو چې څه حاصليږی نود هغې نه يو کم کړه او حساب ئې وکړئ لکه ۱۸۰۰ ټول تقسيمېږی. حاصل د تقسيم به ۶۰-۱= ۵۹ وشمارلې شی، باقی

پاتې د صفر قائم مقام = ۱+ (۵۹۰۵ / ۷ د باقي پاتې عدد=۱)= ۲ .نو په رومبی محرم ۱۸۰۰ ء باندې به د اتوار ورځ وي.

د شمس (لمر) د دوران موده:

د شمس د دوران صحيح موده ۳۲۵،۲۴۲۲ ده، عيسوي تقويم لره د شمس د دوران مودې سره د نژدې کولو د پاره پوپ گريگوری اصلاحات کړي وو، د گريگورين عيسوي تقويم مطابق د مروجه عيسوي کال اوسط موده ۳۲۵،۲۴۲۵ ده، يعنی اوس هم د اصل مودې نه ۰۰۰۰۰۳ ورځ زياته ده، د دې وجې نه د ۳۴۰۰ پورې به عيسوي تقويم کښې د يوې ورځې زياتوالي پکار دې، ليکن د انسائيکلو پيډيا ليکوال ليکي: خنگه چې معلومه ده چې د شمس او د قمر په دوران کښې ډير رو رو فرق راروان دې او دې طبعي قانون لره د فلکياتو ماهرينو په پوره توگه نه دې پيژندلې. د دې وجې نه ممکنه ده چې تر کال ۳۴۰۰ء او ۴۰۰۰ء پورې به څو قسمه اوړيدل راوړيدل اوشي، د دې وجې نه د عيسوي تقويم د وخت نه وړاندې اصلاح کول يا په دې کښې د ترميم کولو تجويز بالکل بې فائدې دې.

عيسوی کال په هجری کال او هجری کال په عيسوی کال باندې د بدلولو صحيح ترين عمل

د هجري کال اوسطه موده = ۳۵۴،۳۲۲۲۲ د عيسوي کال اوسطه موده = ۳۲۵،۲۴۲۵ ،په دواړو کښې نسبت = ۰،۹۷۰۲۲۲۹ دې،اول محرم ۱هجری = ۱۹جولائی۲۲۲ ء نو د هجري کلونو د حساب د شروع کيدو نه وړاندې عيسوي موده ۲۲۱ کاله او ۱۹۹ ورځې = ۱۹۹ / ۳۲۵،۲۴۲۵ ۲۲۱= ۲۲۱،۵۴۴۸۴. د دې مطابق به لاندېنۍ کليې (قاعدې استعماليږي.

د عيسوي کال په هجري کال باندې د بدلون طريقه:

(د موجوده کال نه وړاندېنې عيسوي کال - ۲۲۱،۵۴۴۸۴)÷ ۰،۹۷۰۲۲۲۹+ ۱ د عمل نه حاصليدونکی صحيح عددونه = مطلوبه کال او کسر اعشاريه × ۳۵۴،۳۲۲۲۲ = د کال تيرې شوې ورځې. لکه اول جنوری ۱۹۷۰ = (۱۹۲۹ - ۲۲۱،۵۴۴۸۴) / ۰،۹۷۰۲۲۲۹ + ۱ =۱۳۸۹،۰۸۰۹۹ . ۰،۸۰۹۹ × ۳۵۴،۳۲۲۲۲ = ۲۸۷،۰۰۱۵ ،نو د دې نه وړاندې دوه سوه او اته اتيايمه ورځ(۲۸۸)= ۲۲ شوال ۱۳۸۹ هجری ده، فهو المطلوب.

هجري کال لره په عيسوي کال سره د بدلون طريقه:

د موجوده کال نه وړاندېنې هجری کال × ۰،۹۷۰۲۲۲۹+ ۲۲۲،۵۴۴۸۴ د عمل نه

حاصلیدونکي صحیح عددونه = مطلوب عیسوی کال او کسر اعشاریه × ۲۴۲۵ ، ۳۲۵ = د عیسوی کال تیرې شوې ورځې.

لکه اول محرم ۱۳۹۰هجری= ۱۳۸۹×۲۲۲۹ . ۰۹۷ . ۰ + ۵۴۴۸۴، ۲۲۲ =۱۸۴۴، ۱۹۷۰.

اوس ۱۸۴۴ ، ۰ × ۲۴۲۵ ، ۳۲۵ = ۳۵ ، ۲۷ نو وړاندینۍ اته شپیتمه (۲۸) ورځ= ۹ مارچ ۱۹۷۰.

د انسائیکلو پیډیا نه هم دا معلومه شوې ده چې د تحویل په عمل کښې به د تولو کسرونو اعشاریو د پاره د عیسوی او د هجری کال اوسطه موده په ذهن کښې ساتل پکار وی دې د پاره چې د دواړو نسبت صحیح پاتې شی او جواب ئې صحیح ترین راووځی.

آخر دا چې ما د ۵۴۲۱، ۰ نه رجوع وکړه او دا ستاسو د توجه برکت دې چې ظاهری سبب ئې د ذکر کړې شوو کتابونو مطالعه جوړه شوه. والله تعالی اعلم. ۲۶ ربیع الثانی ۱۴۰۸هجری

الجواب باسم ملهم الصواب: قلتَ: اتفاقاً مې د انسائیکلوپیډیا برټانیکا او انسائیکلو پیډیا امریکانه نوې چاپ وکتلو(الی) د خیال اظهار کړې شوې دې.

اقول: ما ته د دې بحثونو علم شته دې،د دې وجې نه ما په ارشادالعابد کښې د اقوالو د اختلاف ذکر کړې دې. په (ارشادالعابد)اولنی چاپ کښې څو لیکلې شوې خبرې د دې بحثونو مطابق وې د کومې نه چې ما بیا ورستو رجوع وکړه.

قلتَ: د قمر د دوران په لحاظ سره د قمری کال موده ۳۲۷۰، ۳۵۴ ده.

اقول هذا الاختيار الاختصار او مبني على اختلاف الانظار او انقلاب الادوار، كما نبهت عليه في الارشاد.

قلتَ: د ۲۵۰۰ کالو نه پس به د یوې ورځې فرق راځی.د دې وجې نه دا نوې تقویم د قمر د دوران مودې سره ډیر مطابقت لری.

اقول: په دری زرو کالو باندې د یوې ورځې فرق راځی. کما يظهر من الاستقصاء في الاعشارية او اختيار حساب الكسور. او په ارشاد العابد کښې چې کوم تقویم دې په هغې کښې به په ۱۳۵۱۳۵ کاله باندې د یوې ورځې فرق پریوځی، که چیرې هغه وخته پورې دنیا پاتې شوه او د قمر په دوران کښې هم څه فرق رانغلو. اوس فیصله وکړئ چې کوم یو تقویم د قمر دوران سره زیات مطابقت لری.

قلتَ د دې په بنیاد باندې تیار کړې شوې تقویم ډیر صحیح معلومیږی.

اقول د دې څه معقولی (یعنی د عقل د منلو) وجه نشته.

قلتَ په ۹ ذی الحجه ۱۰ هجرئ باندې اګرچې د هفتې ورځ معلومیږی لیکن په قمری تقویم کښې د یوې ورځې فرق معمولی خبره ده

اقول: د دې په ځائې د ارشاد العابد د تقویم مطابق د حجة الوداع ورځ صحیح راوځی او تاسو چې کومه توجه دلته لیکلې ده چې (د یوې ورځې فرق معمولی خبره ده) ما په ارشاد العابد کښې همدا

توجيه د هجرى سن د ابتداء په حقله ليکلې ده. د دې په ځاى د حجة الوداع په ورځ کښې فرق نبودل طبعاً په انسان باندې ښه نه لګى

قلت د دې تقويم مطابق د ۱۳۲ کالو په ځاى ۱۲۰ کاله پس د يوې ورځې فرق پريوځى.

اقول دا عبارت دلته د بې ځايه کيدو نه علاوه د واقعې خلاف هم دې داسې ليکل پکار وو (په دې تقويم کښې چې د قمر د دوران کومه اوسطه موده ده د هغې مطابق په ارشاد العابد کښې ليکلى شوى تقويم کښې د ۱۲۲ کالو په ځاى ۱۲۰ کاله پس د يوې ورځې فرق راځى).

قلت د دې تقويم په ذريعه د راوتلو شوو ورځو د رؤيتِ هلال په بناء د راوتلو شوو تاريخونو او د ورځو سره نسبتاً زيات مطابقت لرى.

اقول دا د عوارضو په بناء دى.

قلت د ارشاد العابد تقويم آسان دې

اقول دا په هر لحاظ سره راجح دې. وجوه د ترجيح ئې دا دى.

۱ - آسان دې.

۲- د دې مدور تقويم ډير په کار راتلونکې دې

۳ - دا د قمر د دوران سره ډير زيات مطابقت لرى. کما تقدم

قلت کليه دا ده ــ الخ.

اقول ما په دې کليه باندې غور نه دې کړې طمع لرم چې صحيح به وى.

قلت د شمس د دوران صحيح تر موده ۲۴۲۲، ۳۶۵ ده.

اقول انظر ما قلت في مدة دور القمر.

قلت ۳۴۰۰ کاله پورې په عيسوى تقويم کښې د يوې ورځې زياتوالې پکار دې.

اقول ۳۳۳۳ نه پس په تقويم کښې د يوې ورځې کمې کول پکار دى.

قلت دا انسائيکلوپيډيا نه هم دا معلومه شوه چې د تحويل په عمل کښې به د تولو کسرونو اعشاريو د پاره د عيسوى او د هجرى کلونو اوسطه موده په ذهن کښې ساتل پکار وى.

اقول دا بالکل د هغه حقيقت په شان دې کوم چې زهٔ تا ته د اول نه د ښودلو کوشش کوم، يعنى د تحويل په عمل کښې د شمس او د قمر د حقيقى دور تقابل يعنى مقابله مقصوده نه وى بلکه د شمسى تقويم په موضوعى تاريخونو او د قمرى تقويم په مفروضى تاريخونو کښې تقابل مقصود دې. په دې مقصد کښې د انسائيکلو پيډيا امريکانه د مضمون د ليکوال زما سره اتفاق دې. اګر چې د دې مقصد د تحصيل طريقه مختلفه ده. د اصولو مطابق هم هغه ده کومه چې ما ليکلې ده. د دې وجې نه چې د قمر د دوران د اوسطې مودې د اخستلو مطلب دا دې چې قمرى تاريخونه هم د

شمسی تاریخونو په شان موضوعی دی. او حال دا دې چې دا صحیح نه ده. کما حررت فی المکتوب السابق. او شمسی تاریخونه اګرچې وضع کړې شوې دی لیکن د دې د تخریج دپاره د مختلفو مقدارونو د کلونو نه د اوسط مقدار اخستلو په ځائې همدا معقوله ده چې مطلوبه تاریخ د کوم کال سره متعلق وی نو د هماغه کال مقدار دې واخستې شی، یعنی په عام کال کښې ۳۲۵ ورځې او په لیپ کال کښې ۳۲۲ ورځې.

د نتیجې په لحاظ سره اګرچې په دواړو طریقو کښې څه خاص فرق نشته، لیکن په نظریاتی توګه باندې ظاهره ده چې د مختلفو مقدارونو په څیزونو کښې د یو څیز د یوې حصې د تاکلو د پاره د اوسط حساب لګول صحیح نه دی.

زما خیال دې چې په انسائیکلوپیډیا کښې به اوسط مقدار د تحویل په عمل کښې نه وی اخستې شوې. بلکه د وړاندې د پاره به تقویمونه د شمس د دوران او د قمر د دوران سره د مطابقت ساتلو د پاره اخستې شوې وی، تاسو په دې کښې دا بحث یو ځل بیا په غور سره وګورئ، که چیرې ستاسو نقل صحیح وی نو منقول مو بیا د اصولو خلاف دې.

د دې وجه دا معلومیږی چې (روښانه مازغه) اکثر د اصولو خلاف روان وی، که صحیح خبره هم کوی نو د اصولو نه به اوری. لکه چې د تحویل د قاعدې مطابق خبره خو داسې جوړیږی چې د ضرب نه پس د جمعې نه یا د تفریق نه پس د تقسیم نه حاصلیدونکی کلونه پوره شی او وړاندې کال روان وی. لیکن دا خلق په قاعده کښې د یو زیاتوالې کوی او چې څه حاصل شی هغې ته روان کال وائی. نتیجه خو ئې صحیح ده لیکن خبره ئې بالعکس ده. واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم

۶ جمادی الاولی ۱۴۰۸ هجری

باب صفة الصلوة

د ښځې سجدې ته د تلو طريقه

سوال په عامه توګه سجدې ته د تلو د پاره د ښځو دوه طريقې پيژندلې شي:
۱ - رومبئ طريقه دا ده چې اول نيغه په دواړو کوناتو باندې کښيني.بيا تورک کوی او په زمکه باندې زنګنونه کيږدی. بيا د معمول مطابق لاسونه.بيا پوزه او بيا تندې ږدی،سجدې نه د فارغيدو نه پس چې کله دوباره د قيام طرفته ته خی نو د سجدې نه سر پورته کړی او چپ کوناتی باندې کيښني. بيا دواړه پښې د مخې طرفته ته راوړی او نيغه ودريږی،دا طريقه په عامه توګه د دير عمر چې کومې ښځې دی په هغوی کښې رواج شوې ده
۲ - دويمه طريقه دا ده چې اول د سرو په شان زنګنونه په زمکه باندې ږدی،بيا په چپ کوناتی باندې کيښنی او تورک کوی.بيا د معمول مطابق سجده کوی او د سجدې د دويم رکعت د پاره د سړو په شان پاسيږی. دا طريقه اوس اوس رواج شوې ده د فقهی او د حديث د شروحو نه چې څه ترلاسه شوی دی هغه دا دی

وفی حاشية كتاب الآثار:وروى ابن ابی شيبة عن ابی الاحوص عن ابی اسحق عن الحارث عن علی رضی الله عنه قال:اذا سجدت المرأة فلتحتفز ولتضم فخذيها وروى عن ابی عبدالرحمن المقرء عن سعيد ابن ابی ايوب عن يزيد بن ابی حبيب عن بكير بن عبدالله بن الاشج عن ابن عباس انه سئل عن صلاة المرأة فقال تجتمع و تحتفز. (كتاب الآثار ج،ص۰۰)

وقال الشيخ محمد طاهر الفتنی رحمه الله تعالیٰ :ن:وهو محتفز ای مستعجل مستوفز غير متمكن فی جلوسه وهو بمعنی مقعيا انه:ومنه ح البراء بن فی خليه جعا حان يحتفز بجار رجليه وح الی يتمر لجعل يقسمه وهو محتفز ای مستعجل مستوفز يريد القيام-وح ابن عباس:ذكر عنده القدر فاحتفز ای قلق وشخص به ضجرا او قيل استوی جالسا علی وركيه كانه ينهض-وح علی:اذا صلت المرأة فلتحتفز اذا جلست واذا سجدت ولا تخوی ای تتضام و تجتمع-وفی ح الاحنف:كان يوسع لمن اتاه فاذا لم يجد متسعا تحفز له تحفزا ط:فاحتفزت روی بالزای والرا والاجهام اصوب ای تضاممعلبسعی المدخل.(مجمع بحار الانوار ج،ص۰۰) ومثله فی تاج العروس

د علامه طاهر دعبارت نه په ظاهره رومبئ طريقه صحيح معلوميږی.تاسو راباندې د خپل تحقيق پيرزونه وکړئ چې کومه طريقه صحيح ده؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په رومبی صورت کښې پرده زياته ده او د ښځې د پاره همدا

مقصود ده. د دې وجې نه رومبې صورت غوره دې. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۴ ربیع الاول ۱۴۰۴ هجری

سجدې ته د تلو په وخت کښې په زنګنونو باندې لاسونه اېښودل

سوال د جلال آباد سهارنپور د یوې دارالافتاء نه یوه فتوی راغلې ده چې په هغې کښې د قومې نه سجدې ته د تلو د طریقې په حقله په جنتی کالی کښې د ښودلې شوې طریقې مرسته او په احسن الفتاوې کښې د ذکر کړې شوې طریقې رد کړې شوې دې، سوال او جواب دواړه ستاسو په خدمت کښې درلیږم. تاسو دا یو نظر بیا وګورئ او د خپل تحقیق پیرزونه راباندې وکړئ.

سوال: د رکوع نه سجدې ته د تلو صحیح طریقه څه ده؟ ځکه چې په جنتی کالی یوولسمه حصه کښې په صفحه ۳۲ باندې لیکلې شوې دی چې دواړه لاسونه دې په زنګنونو باندې کیږدی او سجدې له دې لاړ شی. او په احسن الفتاوی ج ۳، ص ۵۰ کښې لیکلې شوې دی چې سجدې ته د تلو په وخت کښې لاسونه په زنګنونو باندې اېښودل ثابت نه دی د عدم ثبوت نه علاوه په دې کښې نورې هم دوه بدئ دی:

۱ - عوام دا مستحب یا مسنون ګڼی.

۲- د قومې نه سجدې ته دتلو مسنونه طریقه دا ده چې د زنګنونو په زمکه باندې د لګیدو نه وړاندې شا او سینه ټیټیدل ندی پکار. په دې وخت کښې لاسونو لره په زنګنونو باندې د اېښودلو اثر دا کتلې شوې دې چې د زنګنونو په زمکه باندې د لګیدو نه وړاندې پورتنۍ حصه د بدن ښکته شی. لهذا دا عادت د سنت د پاتې کیدو د سبب دې او د پرېښودلو قابل دې.

په دواړو کښې کوم یو تحقیق صحیح او قابل د عمل دې؟ بینوا توجروا.

د جلال آباد ضلع سهارنپور له اړخه جواب:

الجواب و منه الصواب: ذکر کړې شوې فتوی د پوهې نه بهر ده، رومبی لاسونو لره په زنګنونو باندې د اېښودلو نه د منعې نه پس دا نه دی بیان کړې شوې چې بیا سجدې ته د تلو په وخت کښې لاسونو لره څنګه اېښودل پکار دی. دویم دا که د لاسونو د زوړندولو صورت اختیار کړې شی، لکه چې د فتوې د عبارت ظاهری مدلول او تقاضا همدا ده نو د دې به څه ثبوت وی، او چې ثبوت وړاندې نه کړې شی نو د عدم ثبوت حکم به پرې ولګولې شی. بیا د دې سره سره به د څو بدو (قباحتو) نه خالی نه وی.

۱. دا خو به یا سنت ګڼلې کیږی او یا مستحب. په دواړو صورتونو کښې به بغیر د ثبوت نه هغه د عدم ثبوت د حکم خرابوالې دلته هم لازمیږی

۲. لاسونو لره زوړندونکې او شا لره نیغه ساتونکې او په دې حالت کښې سجدې له تلونکې به

د ښت نه کتونکو ته د پهلوانانو غوندې ښکاري. او داسې به ښکاري لکه چې د مونځ نه بهر وي.او دا د سنتي د صورت جوړول د مونځ نه د خارج سرې شکل معلومیږي او دا د مونځ د آدابو نه خلاف خبره ده

۳. د بدن د زوروالي چې کله څوک ونه زغملې شي نو په درز سره به په زمکه راغورځیږي.او دا هم د مونځ د آدابو نه خلاف دي او د حدیث نهی عن البروک د مدلولاتو د لاندې به راشي او منهی عنه به شي کما فی هامش ابی داود قال شیخنا:ان النهی عن البروک الجمل یحتمل النهی عن السقوط دفعة واحدة مثل الجمل

پاتې شوه دا خبره چې د زنګنونو په زمکه د ایښودو نه وړاندې ښا او سینه ښکته نه شي،نو د فقهې او د حدیث په کتابونو کښې مې صراحتاً دنظر لاندې رانغلل چې دا مسنون دي. غالبا د حدیث نهی عن البروک نه اخذ کړې شوې دې.څکه چې د بروک جمل یوه معنی(جعل السافل عالیا والعالی سافلا) بیان کړې شوې ده. لیکن دا معنی او مطلب خو متعین نه دی،صرف محتمل دې، ددې وجې نه په جزم او یقین سره به دې د سنیت حکم لګول صحیح نه دی.د زیات نه زیات د مستحب کیدو حکم به پرې ولګی.بیا په زنګنونو باندې لاسونه ایښودل دا مستلزم نه دی د ښا ښکته کیدلو ته. بلکه د لاسونو د زوړندولو په صورت کښې هم زنګنونه په زمکه باندې د ایښودلو نه وړاندې ښا ښکته کوی.نو اصل وجهه توجه نه کول دی او د بې علمی وجه ده. پس د قومې نه سجدې ته د تلو وخت کښې لاسونه په زنګنونو باندې ایښودل هیڅ قسمه بدئ لره مستلزم نه دی. بلکه سنت یا کم نه کم مستحب معلومیږي.

په معارف السنن ج ۳.ص ۳۳ کښې دي

قال الراقم(المعوری رحمه الله)وقال العلامة الشیخ:ان المامور به هو وضع الیدین علی الرکبتین قبل وضع الرکبتین علی الارض لا وضع الیدین علی الارض قبل الرکبتین وهذا هو غرض حدیث ابی هریرة رضی الله عنه الخ

ثم قال اهرا:ویؤیده روایة حدیث ابی هریرة رضی الله عنه بلفظ:اذا سجد احدکم فلا یبرک کما یبرک البعیر ولیضع یدیه الی رکبتیه کما رواه البیهقی فی سننه ولم یذکر علة والله اعلم بالصواب وعلمه اتم واحکم.

حرره العبد نصیر احمد عفی له

جواب الجواب از دارالافتاء والارشاد

الجواب باسم ملهم الصواب د بیهقی د روایت الفاظ داسې دی

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ:اذا سجد احدکم فلا یبرک کما یبرک الجمل ولیضع یدیه علی

ركبتيه كلما قال:على ركبتيه فان كان محفوظا كان دليلا على انه يضع يديه على ركبتيه عند الاهواء الى السجود (بيهقي ج۲،ص۱۰۰)

په دې کښې على الركبتين چيرته د يو راوي سهو ده. اصل لفظ قبل الركبتين دې. په دې باندې دا لاندې ورکړې شوې دلائل دي

۱- د دې حديث په نورو ټولو سندونو کښې قبل الركبتين دې.

۲- په خپله حافظ بيهقي رحمه الله (ان كان محفوظا) وئيلو سره د دې د سهوې د کيدو ګمان ښکاره کړې دې.

۳- که د دې چيرته په يو حديث کښې ثبوت ترلاسه کيدې نو فقهاء کرامو رحمهم الله به دا په سنتو يا په آدابو کښې ضرور بيان کړې وو. ليکن د فقهې په يو کتاب کښې چيرته هم د دې څه ذکر نشته.

۴- فقهاء کرامو رحمهم الله په قومه کښې د لاسونو د زوړندولو تصريح کړې ده. بيا په سجدو کښې ئې د لاسونو د اېښودلو کيفيت ليکلې دې. که په مينځ کښې د لاسونو په پنډو باندې اېښودل وې نو هغه به ئې هم لازمي کړی وو، د دې نه معلومه شوه چې په دې مينځ کښې کومه وقفه ده په دې کښې هم ارسال متعين دې.

ددې نه علاوه چې کوم ځائ کښې وضع نشته دې نو هلته به ارسال متعين وي. لانه هو الاصل.

د ۴ نمبر مرسته د دې نه هم کيږي چې په وخت د نهوض د پنډو باندې د اعتماد کولو صراحت په هرکتاب کښې شته دې، د ثبوت په صورت کښې به ئې د نهوض په مقابله کښې د خرور ذکر خامخا کړې وو

بغير د ملا د ښکته کيدو نه قومې نه سجدې ته تلل د فقهې د کتابونو نه ثابت دي.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: و يخر للسجود قائما مستويا لا منحنيا لئلا يزيد ركوعا آخر. يدل عليه ما في التتارخانية: لو صلى فلما سلم تذكر انه ترك ركوعا فان كان صلى صلوة العلماء الاتقياء اعادوا ان صلى صلوة العوام فلا لان العالم التقي ينحط للسجود قائما مستويا والعامي ينحط منحنيا وذلك ركوع لان القليل الانحناء محسوب من الركوع اهتامل (رد المحتار ج۱،ص۳۳۳)

وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله نقلا عن الخزانة: اذا لم يركع وذهب الى السجود بان خر كالجمل فهذا الانحناء يجزيه عن الركوع. (حاشية الطحطاوي ج۱،ص۲۰۰)

د استواء د سنت کيدو د پاره د نهي عن بروک الجمل نه استدلال نه خو مقصود دې او نه معقول. د ملا د ښکته کيدو په صورت کښې د (جعل السافل عاليا والعالي سافلا) چې کوم شکل او

سنت دې هغه شي محقق كيدې. په پندو باندې د لاسونو د اينودلو د وجې نه لازمي د ملا ښكته كيدل يو عدم عادت دې.اصل مقصد هغه خان بچ كول دي د تيتيدو نه. د ارسال په صورت كښې انسان د انحناء نه حصاريدلې شي

ناسو ته د جواب دركوونكي د ليك له كتلو نه وروسته ما په مختلفو كسانو باندې لاسونه په زنګنونو باندې كينودل او سجدې مې پرې وكړې. د تجربې نه دا خبره ثابته شوه چې په شروع كښې لاسونه په زنګنونو باندې اينودل خامخا ښكته كيدلو له مستلزم دى.

كوم اشكال چې په احسن الفتاوى كښې دتعيين په عدم باندې كړې شوي دې.نو همدغه شان دا اشكال د فقهې په ټولو كتابونو باندې كيدې شي.فماهوجوابكم فهوجوابنا.

هر كله چې د دلائلو نه ثابته شوه چې اصل طريقه هغه كوزيدل دى بغير د تيتيدو نه نو پهلوانانو سره د مشابهت د وجې نه به دا نه شي پريښودلې. بلكه د پهلوانانو ناستې ته به په مونځ كښې د داسې ناستې سره مشابه وئيلې شي لاالعكس كمافي الجواب.اوكه نه نو بيا خو به ټول مونځ پريښودل پكار وى . ځكه چې د مونځ په هريو هئيت.شكل او ركن كښې د هر يو اندام ښه ښانسته ورزش كيږى.عنايت الله مشرقى وئيلې وو چې د مونځ د مشروعيت نه مقصود ورزش پريد دې .

د جواب وركوونكي دا ليكل چې د ارسال په صورت كښې به په درز سره لاندې راوغورځيږى دا دتعجب خبره ده. دلته خو بوډا ګانو همدا صورت اختيار كړې دې او بې د څه تكليفه سجده كوى. معذور خلق به ترې نه د ضرورت له وجې نه مستثنى وى. والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۱ ربيع الثاني ۱٤۰٦ هجرى

د پورتنى سوال په شان يوبل سوال

سوال په احسن الفتاوى ج ۳.ص ۳۳ كښې د قومې نه سجدې ته د تلو مسنونه طريقه دا ليكلې شوې ده چې مونځ كوونكې دې سجدې ته د تلو په وخت كښې په پندو باندې لاسونه نه ږدى او ملا دې هم نه تيتوى.اوكه نه نو د ركوع تكرار به لازمي شى بلكه ملا دې نيغه ساتى او سجدې ته دې ځى. ليكن د بخارى د يو روايت نه معلوميږى چې صحابهٔ كرام ﷺ به چې د قومې نه سجدې ته تلل نو اول به نې شا تيتوله

كان رسول الله ﷺ اذا قال:سمع الله لمن حمده لم يحن احدمنا ظهره حتى يقع النبى ﷺ ساجدا،ثم نقع سجودا بعده. (صحيح البخارى: ج۱،ص۹۰)

زمونږ د پوهې مطابق په دې روايت اوستاسو په ښودلې شوې طريقه كښې تعارض دې.لهذا دا تعارض رفع كړئ.بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې حديث کښې د هغې تيتيدلو ثبوت دې چې په عامه توګه د قومې نه سجدې ته د کوزيدو په وخت کښې خامخا کيږی .حضراتو فقهاء کرامو ﷺ هغه انحناء مکروهه ګرځولې ده د کومې نه چې د رکوع تکرار لازميږی او دا په هغه صورت کښې کيږی چې دومره انحناء وشی چې لاسونه د زنګنونو پورې ورسيږی

غرض د خبرې دا چې د حديث نه لږه شان انحناء ثابتيږی او دا مکروهه نه ده.او هسې هم د دې نه ځان ساتل ګران دی.**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم** ۲۱ ذی القعده ۱٤٠٦ هجری

د پورتنی سوال په شان يوبل سوال

سوال : د استفتاء جواب راته ترلاسه شو،ستاسو ډيره مهربانی.د حديث چې کوم مطلب تاسو بيان کړې دې،هغې سره د څه شرحې وغيره حواله نشته ،او بله داچې ستاسو د بيان کړې شوی تطبيق نه معلوميږی چې په لږ شان تيتيدلو کښې هيڅ خبره نشته،ځکه چې لږ شان تيتيدل د حديث نه ثابت دی او د دې نه ځان ساتل ګران دی،او حال دا دې چې په احسن الفتاوی کښې ليکلې شوې دی چې لږ شان تيتيدل راشی نو د رکوع تکرار به لازم شی.بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : سجدې ته د تلو کومه طريقه چې په احسن الفتاوی کښې ليکلې شوې ده دا د شامې او د تتارخانيې نه علاوه په خلاصة الفتاوی،خزانه،فتح المعين، حموی، خانيه، قهستانی،سعاية،طحطاوی،حجه،عتابيه،او په متانه کښې هم ذکر کړې شوې ده

قال العلامة ابو السعود رحمه الله:وفی الخزانة:اذا لم يركع وذهب من القيام الی السجود بان خر كالجمل فلذلك الانحناء يجزء عن الركوع وان ذهب علی وجه السنة يعنی سريعا لا يجوز.حموی.

والاولی حذف لفظة(سريعا) اذ لا مدخل له والمدار فی عدم الجواز علی مجرد الهبوط عن الانحناء.(فتح المعين ج،ص) ، وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله:وفی الخزانة:اذا لم يركع وذهب الی السجود بان خر كالجمل فهذا الانحناء يجزيه عن الركوع (حاشية الطحطاوی علی الدر ج،ص)

وقال العلامة المخدوم محمد جعفر البوبكانی رحمه الله:فی التتارخانية عن الحجة:ولو صلی رجل فلما سلم تذكر انه ترك الركوع فی صلوته قال:ان صلی كما يصلی الاتقياء يقضی الصلوة لانه ترك ركن الركوع وان صلی كما يصلی العوام جازت صلوته لان العالم يقوم و ينحط الی السجود قائما مستويا فلم يكن لصلوته ركوع واما العوام فينحط الی السجود منحنيا فذلك ركوع وان كان منحنيا قليلا والقليل الانحناء محسوب من الركوع لان القليل :المكث فی الركوع والسجود يقوم - مقام الفرض كانه ركع ولم يقم بعد الركوع

والسجود هكذا في العنايه.(المتانة ص ۳)

وقال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاري رحمه الله: فلو لم يركع في الركعة لكنه جهد جهدتين ان ذهب من القيام الى السجدة بالسنة يعني سريعا لا يجوز و ان ذهب بغير السنة بان هو كالجمل فذلك الانحناء يحتسب من الركوع.(خلاصة الفتاوى ج ص ۴)

وقال العلامة اللكنوي رحمه الله: وقال القهستاني في شرح النقاية ص ۲ وشرح المقدمة الكيدانية: الركوع لغة الانحناء و شرعا انحناء الظهر ولو قليلا فلو هو كالجمل اجزاه كما في فتاوى قاضيخان والخلاصة وهو ظاهر الرواية.(السعاية ج ص ۱۳)

ذکر کړې شوې طريقه د مذهب په معتبرو کتابونو کښې روايت کړې شوې ده. او د دې نه علاوه درايةً هم معقوله ده. په داسې توګه تيټيدل چې لاسونه زنګنونو ته ورسيږي په نص د فقهاءِ کرامو ﷭ د رکوع په حد کښې داخل دی. او په يو رکعت کښې دوه رکوع کول په اجماع سره غيرِمشروع دی . د مذهب د روايت د ثبوت نه وروسته د حديث د بحث څه حاجت نشته. ځکه چې ادله اربعه صرف د مجتهد دپاره حجت دې. د مقلد د پاره نه دې. د مقلد د پاره يواځې د مذهب روايت حجت دې. لهذا د مذهب نه خلاف د حديث نه استدلال کول روا ندی. دغه شان د دې جواب هم په مقلد باندې واجب ندې. سره د دې دا چې په تير شوی ليک کښې مې درته هسې د نيکئ په توګه د تطبيق صورت وليکلو چې په حديث کښې د رکوع د حد نه لږ تيټيدل مراد دی، او د مذهب په روايت کښې د رکوع ترحده پورې د تيټيدو نه منع ده. د تطبيق د پاره د احتمال انشاء هم کافي ده .

وان ادعى احد ان المراد بالانحناء الوارد في الحديث هو الانحناء الى حد الركوع فعليه الدليل.

دا صورت د تطبيق کولو چې بالکل واضحه دې که خدائې دې نه کړې د يو مقلد په پوهه کښې رانشي نو بيا هم په هغه باندې د مذهب اتباع اوتابعداری کول فرض دی. او دا خبره ده که چيرې يو غير مقلد په دې باندې د پوهې نه عاجزه وی نو هغه ته اختيار دې اى معقلب يعقلب.

په احسن الفتاوی کښې د لږ شان انحناء ذکر په شامي او خاني وغيره پسې د اتباع کولو نه راغلو. د دې نه مراد هم هغه د رکوع تر حده پورې تيټيدل دی. ځکه چې د حکم مدار په هغه انحناء دې چې هغه په اندازې د رکوع وی. په اندازې د رکوع کښې دوه قوله دی. د مفتی به قول په بنا دومره انحناء کول چې لاسونه پندو پورې ورسيږي. دويم قول د مطلق انحناء هم شته دې، په ذکر کړی شوو کتابونو کښې د اصولو مطابق هم مفتی به قول مراد دې. فرض کړه که دويم قول واخستې شی نو دا مرجوح دې. والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۳ صفر ۱۴۰۷ هجری

پورتنی سوال سره متعلق یوبل سوال

سوال د زنگنونو په زمکه باندې د ایښودلو نه وړاندې که د پورته تنې مخې اړخ ته ټیټیدل دویمه رکوع شمار کړې شی نو د رکوع د تکرار له کبله سجده سهوه لازمیدل پکار دی.آیا د فقهې په کتابونو کښې په داسې صورت کښې د سجدې د سهوې د واجبیدو څه ثبوت شته دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د قصدیعنی عمد په صورت کښې سجده سهوه نه واجبیږی او جهل په حکم د عمد کښې دې،خو دا اشکال به په خائ پاتې وی چې په دې صورت کښې د مونځ راګرځول واجبیدل پکار دی.

د دې جواب دا دې چې د یو رکن تکرار کولو باندې د سجدې دسهوې واجبیدل یا د مونځ د راګرځولو وجوب په هغه صورت کښې دی چې په مکرر رکن کښې څه نا څه سکون یعنی حصاریدل ومونډلې شی «ولو قلیلا» په موضع د قعود کښې د قیام نه پس د سمدستی واپسۍ په صورت کښې سکون موجود دې.

للزوم السکون بین الحرکتین و کذا فی الرفع علی علی الفور من الرکوع الثانی والسجدة الثالثة.

دا په کوم صورت کښې چې بحث شروع دې په دې کښې د قومې نه سجدې پورې مسلسل کوزیدل دی،په مینځ کښې چرته سکون نشته، د سکون شرط د دې وجې نه ضروری دی چې اصل وجوب د سجدې سهوې، هغه وروستوالې د رکن دې،که مستقل وروستوالې وی نو د درې تسبیحاتو په قدر او که د رکن په ضمن کښې وی نو مطلقا وروستوالی ولو قلیلا.چې کوم خائ کښې د تاخیر بیخی وجود نه وی نو هلته خو بالکل د وجوب سبب موجود نه دې. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

۱۶ شوال ۱۴۰۷ هجری

د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال دا خبره مشهوره ده چې د قومې نه سجدې ته د انتقال په وخت کښې ملا نیغه ساتل پکار دی. که ملا ټیټه کړې شوه نو د رکوع تکرار ترې نه لازمیږی.علامه شامی رحمه الله هم دغسې لیکلی دی. لیکن د حجة الله البالغه دا لاندې ورکړې شوې عبارت د دې نه خلاف معلومیږی

ولما کان کل من یهوی الی السجود لا بد له من الانحناء حتی یصل الیه ولیس ذلك رکوعا بل هو طریق الی السجدة (حجة الله البالغة مع التراجم ج۲ص۱۸)

نو د دې څه جواب دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب **اول** د فقهې په مسائلو کښې هم د فقهاء کرامو رحمهم الله نه استدلال

كوز پكر دى.لكل فن رجال.

دويم دا خبره خو بالكل ښكاره (بديهي) ده چې د دې دا مطلب نه دې چې مونږ كوونكې دې لازمي انحناء وكړي.بلكه مطلب ئې دا دې چې لازما انحناء وشي.نو هر يو د صحت خاوند د تجربې كولو نه پس دا فيصله كولې شي چې په حد د ركوع سره بې د انحناء نه منتقل كيدل هم په اسانتيا سره كيدې شي.او قليله انحناء د بحث نه خارجه ده. و كلا الامعاء الكفور للمعذور. والله سبحانه وتعالى اعلم ۳ صفر ۱۴۱۸ هجرى

د ښځې د سجدې هيئت او شكل

سوال د ښځو د سجدې هيئت د سړو د سجدې كولو له هيئت نه مختلف دې په دې باندې د يو حديث او د فقهي د عبارت حواله پكار ده.بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال الشيخ العثماني رحمه الله في اعلاء السنن:

۱- عن يزيد بن ابي حبيب ان النبي ﷺ مر على امرأتين تصليان فقال:اذا سجدتما فضما بعض اللحم الى الارض فان المرأة في ذلك ليست كالرجل رواه ابو داود في مراسيله(التلخيص الحبير ج.ص-)

۲-ابو حنيفة عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنه انه سئل كيف كان النساء يصلين على عهد رسول الله ﷺ؟قال:كن يتربعن ثم امرن ان يحتفزن.(جامع المسانيد ج.ص-)

قلت هذا اسناد صحيح اخرجه القاضي عمر بن الحسن الاشناني عن علي بن محمد البزاز عن احمد بن محمد بن خالد عن زر بن نجيح عن ابراهيم بن المهدي عن ابي جواب الاحوص بن جواب عن سفيان الثوري عن ابي حنيفة بسنده اهـ

قلت:القاضي عمر بن الحسن الاشناني روى عن ابن ابي الدنيا وغيره ضعفه الدار قطني وغيره وقال طلحة بن محمد:كان من جلة اصحاب الحديث المجودين واحد الحفاظ وقد حدث حديثا كثيرا وحمل الناس عنه قديما وحديثا وسئل عنه ابو علي الهروي الحافظ شيخ الدار قطني فقال:انه صدوق اهـ ملخصا من لسان الميزان ج (ص-) وعلي بن محمد البزاز ابو القاسم المعروف بابن التستري ذكره الخطيب في تاريخه وقال: كتبت عنه اهـ كذا في جامع المسانيد (ج،ص-)

واحمد بن محمد بن خالد هو الوهبي الكندي ابو سعيد الحمصي روى عنه البخاري في جزء القراءة وغيره ونقل عن يحيى بن معين انه ثقة وقال الدار قطني:لا بأس به واخرج له ابن خزيمة في صحيحه وذكره ابن حبان في

الثقاه كذا في تهذيب التهذيب (ج،ص)

وزر بن نمير لم اجد ترجمته وابراهيم بن المهدي اراه المصيصي يروي عن حفص بن غياث وغيره وثقه ابو حاتم وابن حبان وابن قانع وغيرهم. كذا في تهذيب التهذيب.(ج،ص)

والاحوص بن جواب وثقه ابن معين وقال مرة:ليس بذالك القوي وقال ابو حاتم:صدوق وقال ابن حبان في الثقات:كان متقنا ربما وهم اه كذا فيه ايضا.(ج،ص)

سفيان الثوري وابو حنيفة اشهر من ان يثني عليهما:

۳ـ ثنا ابو الاحوص عن ابي اسحق عن الحارث عن علي ﷺ قال:اذا سجدت المراة فلتحتفز ولتضم فخذيها رواه الامام ابو بكر بن ابي شيبة في مصنفه.(ص قلمي)

قلت:رجاله رجال الجماعة الا الحارث فهو من رجال الاربعة قد اختلف فيه و وثقه ابن معين وقال ابن شاهين في الثقات:قال احمد بن صالح المصري:الحارث الاعور ثقة ما احفظه وما احسن ما روى عن علي واثنى عليه قيل له:فقد قال الشعبي كان يكذب قال:لم يكن يكذب في الحديث انما كان كذبه في رايه اهـ

وقال ابن ابي خيثمة:قيل ليحيى:يحتج بالحارث فقال ما زال المحدثون يقبلون حديثه اه كذا في تهذيب التهذيب(ج،ص) فالحديث حسن وقول الصحابي حجة عندنا وقد تقوى بالمرفوع ايضا وابو اسحق وان كان من المدلسين ولكنه من الطبقة الثالثة التي قبل بعض المحدثين حديثهم واحتملوا تدليسهم. كما في طبقات المدلسين(ص)لابن حجر على ان التدليس لا يضر عندنا وقد تقوى باحاديث اخر ايضا.(اعلاء السنن: ج،ص)

قال الحصكفي رحمه الله:والمراة تنخفض فلا تبدي عضديها و تلصق بطنها بفخذيها,لانه استر.

قال ابن عابدين رحمه الله:ذكر الزيلعي انها تخالف الرجل في عشر,وقد زدت اكثر من ضعفها.ترفع يديها حذاء منكبيها ولا تخرج يديها من كميها و تضع الكف على الكف تحت ثدييها و تنحني في الركوع قليلاً ولا تعتمد ولا تفرج فيه اصابعها بل تضمها و تضع يديها على ركبتيها ولا تحني ركبتيها و تنضم في ركوعها و سجودها و تفترش ذراعيها.(ردالمحتار ج،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۴ رجب ۱۴۱۱ هجری

د مونځ په آخره کښې د سلام ګرځولو مسنونه طريقه

سوال د انجمن احياء السنة، لاهور لخوا يو بنائسته كارډ چاپ شوې دې چې د كوم عنوان دې ,,د مونځ په آخره كښې د سلام ګرځولو مسنونه طريقه،، دا كارډ ستاسو په خدمت كښې درليږم.دا وګورئ او فيصله وكړئ چې آيا همدا مسنونه طريقه ده او آيا په ليک كښې د ذكر كړې شوو

دليلونو نه د مسنونه طريقه ثابته ده او كه نه؟ بينوا توجروا



الجواب باسم ملهم الصواب د دې ليک په ترجمه کښې ډيرې ډيرې فحشې يعنې لوئې غلطيانې دي او هغه دا دي چې

۱ ـ حضرت ابن عقيل رحمه الله فرمائي چې حضور ﷺ ـ الخ دا د ابن عقيل رحمه الله خپل خيال دې. او په ليک کښې د رسول الله ﷺ طرفته د دې نسبت کړې شوې دی

۲ ـ لکه څه رنګه چې عائشه رضي الله عنها ـ الخ د دې حديث نه په ليک کښې ليکلې شوې تفصيل نه ثابتيږي. دا تفصيل د نورو صحيح او د صريح احاديثو او د ټولو فقهاء کرامو رحمهم الله د متفقه نصوصو نه د خلاف کيدو سره سره د عقل او د درايت هم خلاف دې. ځکه چې په (السلام عليکم) کښې خطاب نبی او د چپ اړخ فرشتو او مقتديانو ته دې

۳ ـ حضور ﷺ (السلام عليکم) خو بالکل ـ الخ. دا هم د ابن عقيل رحمه الله خپل خيال دې، يعنې هغوی د عائشې رضي الله عنها د حديث دا تاويل کړې دې. په ليک کښې دا د رسول الله ﷺ طرفته منسوب کړې شوې دې

او د دې سره سره د عائشې رضي الله عنها حديث ته په خپله په (مغنی) کښې د امام ابو حاتم رازی رحمه الله په حوالې سره منکر ونيلې شوې دی

چې يو منکر حديث را واخستې شی او بيا د هغې غلط مطلب واخستې شی او په ټوله دنيا کښې د غلطې مسئلې رواج جوړول او دا خورول. او د صحيح او د صريح روايتونو د حديث او د فقهې نه ثابت شوې مسنونه طريقه پريښودل او نورو ته د دې د پريښودلو ترغيب ورکول څکاره د

صحیح لارې نه انحراف (گمراهي) دې.

همدغه رنګه انجمن هم درې لوئې غلطئ کړې دی:

۱ - ترجمه ئې د کوم عالم په ذریعه نه ده کړې.

۲ - شرعی مسئله ئې د کوم مفتی نه د پوښتنې نه بغیر ومنله او بیا ئې چاپ هم کړه

۳ - د شرعی مسئلې په جوړولو کښې ئې د کوم مفتی نوم ندې لیکلې.

دا غلطی د هرې یوې گمراهئ بنیاد دې.

د لیک په شروع کښې چې د سلو شهیدانو د اجر کوم حدیث لیکلې شوې دې هغه د ډیر زیات ضعف د وجې نه د قبلولو قابل نه دې، په دې کښې یو راوی حسن ابن قتیبه دې، چا لره چې علامه ذهبی، حافظ دار قطنی، شیخ الاسلام ابو حاتم رازی، علامه ابو الفتح الازدی او علامه عقیلی ﷺ ضعیف، متروک الحدیث او کثیر الوهم ښودلې دې.

دین ته د تاوان رسولو یوه آسانه طریقه دا راوتلې ده چې یو جاهل راولاړ شی او د دین په منلو شوو او تسلیم شوو خبرو اومسئلو کښې یوه مسئله راواخلی او د هغې خلاف څه د ځان نه خبره وکړی، عالمان د هغې د جواب په لیکلو باندې مجبوره شی، داسې د دې عالمانو مازغه، قلمونه، او طاقتونه، او قیمتی وختونه چې د دین په اهمو خدمتونو کښې خرچ کیدل پکار وو هغه د یو جاهل د ځان نه د جوړ کړې شوې خبرې نه زار اوقربان شی.

په لیکونکی او د انجمن په ارکانو باندې د دې خطرناکې غلطئ نه د توبې اعلان کول فرض دی

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۶ رجب ۱٤۱٦ هجری

په مونځ کښې د نوم نه لاندې د لاسونو تړلو ثبوت

سوال د احنافو په نیزد د نوم نه لاندې لاسونه تړل مسنون دی، او غیر مقلدین وائی چې په سینه باندې لاسونه تړل سنت دی. او دوئ دا هم وایی چې د احنافو د طریقې چیرته د یو حدیث نه ثبوت نهٔ ترلاسه کیږی. نو که چیرې په احادیثو کښې د احنافو د طریقې ثبوت وی نو مهربانی وکړئ راته ئې ولیکئ. **بینوا توجروا.**

الجواب باسم ملهم الصواب الحمد لله د احنافو فقهاء کرامو ﷺ یوه مسئله هم د شرعی دلیلونو نه خلاف نده بیان کړې. د سړو د پاره د نوم نه لاندې لاسونه تړل سنت دی. کوم چې د لاندینی احادیثو او د آثارو نه ثابت دی

۱ ــ عن عبد الرحمن بن اسحاق عن زیاد بن زید عن ابی جحیفة ان علیاً رضی الله عنه قال من السنة وضع الکف علی الکف فی الصلوة تحت السرة. رواه ابو داود وهذه الروایة موجودة فی نسخة ابن الاعرابی و کتبه بهامش ابی داود ج، ص ۳)

۲ــ عن عبد الرحمن بن اسحاق عن زياد بن زيد السوائي عن ابي جحيفة عن علي ﷺ قال من سنة الصلوة وضع الايدي على الايدي تحت السرة (مصنف ابن ابي شيبة ج ص ۳۰)

اګرچې په دې روایت کښې کلام دې چې عبد الرحمن بن اسحاق ضعیف دې او زیاد بن زید مجهول دې۔ لیکن د دې جواب دا دې چې امام دارقطنی ﷫ دا روایت په دریو سندونو سره نقل کړې دې۔ په دې کښې په دوو سندونو کښې عبد الرحمن بن اسحاق عن زیاد بن زید عن ابی جحیفه عن علی ﷺ دې او په دریم سند کښې عبد الرحمن بن اسحاق عن النعمان بن سعد عن علی ﷺ دې۔ د دې وجې نه د زیاد بن زید جهالت قادح او نقصانی نه دې۔ او د عبد الرحمن بن اسحاق د ضعف انجبار به د حضرت وائل بن حجر ﷺ چې کوم روایت دې د هغې نه وشی۔ نو په دې شان سره دا روایت هم قابل د استدلال دې

په دې روایت کښې حضرت علی ﷺ د (من السنة) الفاظ ارشاد اوفرمائیل او دا د هغه منلو شوو خبرو نه دي کومې چې نقل کړې شوې دی ځکه چې داسې د صیغو الفاظ د روایت د رفع نه دی

قال الحافظ ابن حجر ﷫: و من الصيغ المحتملة قول الصحابي: (من السنة كذا) فالا كثر على ان ذلك مرفوع و نقل ابن عبد البر فيه الاتفاق.

وراندې حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی اګرچې د اتفاق په دعوی کښې نظر دې۔ لیکن حقه خبره دا ده چې داسې روایت د مرفوع په حکم کښې وی۔ لکه څه رنګه چې امام بخاری ﷫ په صحیح بخاری کښې فرمائی چې کله یو صحابی ﷺ لفظ د سنت مطلق ذکر کړی نو د دې نه به مراد د رسول الله ﷺ سنت وی۔ (نخبة الفكر ص ۹۲)

۳ــ روى ابن حزم ﷫ من حديث انس ﷺ من اخلاق النبوة وضع اليمين على الشمال تحت السرة (عمدة القاري ج ص ۲۷۹)

٤ــ عن ابراهيم قال يضع يمينه على شماله في الصلوة تحت السرة (مصنف ابن ابي شيبة ج ص ۳۰)

۵ــ اخبرنا حجاج بن حسان قال: سمعت ابا مجلز او سالته قال: قلت: كيف يضع قال: يضع باطن كف يمينه على ظاهر كف شماله و يجعلها اسفل السرة (مصنف ابن ابي شيبة ج ص ۳۰)

٦ــ امام ترمذی ﷫ چې هغه اعلم بالمذاهب دې د لاسونو د ایښودو په هکله کښې هم دوه مذهبه نقل کړې دی هغوی فرمائیلي

و رای بعضهم ان يضعهما فوق السرة و رای بعضهم ان يضعهما تحت السرة (سنن ترمذی ج ص ۳۰)

د عقل او د قیاس هم دا تقاضا ده چې د نوم نه لاندې دې لاسونه وتړلې شی ځکه چې حضه...

ډېره نږدې همدا طريقه ده .

مونږ په احاديثو،آثارو،او په صحاح سته کښې د مشهور او د متداول کتاب ترمذی نه خپل مذهب ثابت کړې دې . (غير مقلدين) کومو چې دا شور راخستې دې چې مونږ د صحاح سته په احاديثو باندې عمل کوو .او ساده مسلمانان ډېر په چل چل په خپل جال کښې راګيروی.دوی دې د صحاح سته نه يو صحيح يا ضعيف روايت يا د يو صحابی،تابعی،تبع تابعی قول يا عمل راوړاندې کړی چې هغوی په سينه باندې لاسونه تړلی وی .

(قل هاتوا برهانکم ان کنتم صدقين) والله سبحانه وتعالی اعلم ٢٧ صفر ١٤١٦ هجری

په جمع کښې د يو بل سره ګيټئ (ښنګری) يو ځائ کول

سوال : غير مقلدين وائی چې په د جمعې په مونځ کښې د اوږو د يو ځائ کولو سره سره د پښو او د ګيټو هم د يو بل سره يو ځائ کول ضروری دی،آيا د حديث نه د دې څه ثبوت تر لاسه کيږی؟ او آيا هم دا مسنونه طريقه ده؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : په حديث کښې د يو ځائ کولو او د پيوسته کولو د اوږو او د ګيټو حکم بې شکه او شبه شته ،ليکن د هغې مطلب دا دې چې د يو بل سره اوږې او ګيټئ يو شان، يعنی برابر کړې شی.د ابو داود په يو روايت کښې د دې تصريح موجوده ده :

ان رسول الله ﷺ قال:اقيموا الصفوف و حاذوا بين المناكب و سدوا الخلل و لينوا بايدی اخوانکم و لا تذروا فرجات للشيطان (ابوداود ج،ص)

د دې نه دا خبره واضحه شوه چې د الزاق (يعنی پيوسته کولو) نه مراد حقيقی پيوسته کول نه دی بلکه د دې نه مراد محاذاة (يعنی برابر والې دې) د صف د ودرولو په حالت کښې د ګيټو حقيقی اتصال (يعنی پيوسته کول او يو ځائ کول) ممکن نه دې،او که په تکلف سره دا سې وکړې شی،نو د ارکانو په ادا کولو کښې به ډېره سختی راشی يعنی په ګرانه به ادا کيږی .

د دې نه علاوه نورو حديثونو کښې هم د سد خلل او د فرجات حکم ذکر شوې دې.که پښې فراخه کړی او ودريږی نو د دواړو پښو ترمينځه به يوه لويه فرجه يعنی خالی ځائ پيدا شی

که چيرې الصاق او الزاق په حقيقی اتصال باندې حمل کړې شی نو په اوږو او ګيټو کښې خو به څه حده پورې په تکلف سره دا ممکنه شی. ليکن د صفونو د برابرولو په حقله په ځينی احاديثو کښې د رکب او ځينو کښې د اعناق الفاظ هم راغلی دی چې هغه دې محمل (يعنی چې الفاظ په دې معنی باندې حمل کړې شی) لره رد کوی.ځکه چې په رکب او اعناق کښې حقيقی الزاق ممکن نه دې.نو بس د دې نه مراد د برابروالی نه بغير بل څه نه دی

حدثنا عثمان ابن ابی شيبة ثنا وکيع عن زکريا بن ابی زائدة عن ابی القاسم الجدلی قال: سمعت نعمان بن بشير

یقول: اقبل رسول الله ﷺ علی الناس بوجهه فقال: اقیموا صفوفکم. ثلاثا. والله لتقیمن صفوفکم او لیخالفن الله بین قلوبکم. قال: فرایت الرجل یلزق منکبه بمنکب صاحبه وركبته بركبة صاحبه وكعبه بكعبه. (سنن ابی داود ج، ص)

د سنن نسائی په روایت کښې د محاذاة تصریح

راصوا صفوفکم وقاربوا بینها وحاذوا بالاعناق (النسائی ج، ص)

رصوا صفوفکم وقاربوا بینها وحاذوا بالاعناق (ابوداود ج، ص)

چې یو روایت واخلي او نور روایتونو پریږدي دا د دیانت داري خلاف دي، او دا د غیر مقلدینو یوخ عادت دې، احناف ﷺ په ټولو روایتونو باندې عمل کوي. وذلك فضل الله یؤتیه من یشاء.

لیکن حقیقی اتصال چې ترې مراد نه شي نو د دې نه بالکل دا نه لازمیږي چې یو ځائ دې نه شي ودریدلې، په دې کښې د عوامو بلکه د خواصو نه هم غفلت او سستي کول په نظر راغلي دي، فرجات ډکول او یوځائ ودریدل واجب دي، په دې کښې سستي کول صحیح نه دي، دا مکروه تحریمي دي. والله سبحانه وتعالی اعلم   ۲۶ رجب ۱٤۱٦ هجری

د قیام په حالت کښې د پښو تر مینځ فاصله

سوال: تاسو فرمایلي چې د مونځ په حالت کښې په قیام کښې د دواړو پښو په مینځ کښې د فاصلې ساتلو څه مقرره اندازه نده ثابته، او حال دا چې تاسو په احسن الفتاوی کښې لیکلي دي چې تقریبا د څلورو ګوتو فاصله ساتل مستحب دي، د دې وضاحت راته وکړئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د احسن الفتاوې په لیکنه کښې د مستحب نه مستحب شرعي ندې مراد بلکه مقصد دا دې چې په څینو طبعي حالاتو کښې د دې فاصلې ساتل غوره دي، په احسن الفتاوی کښې د ابن عابدین رحمه الله نه نقل کړې شوې عبارت داسې دې:

وینبغی ان یکون بینهما مقدار اربع اصابع الیدلانه اقرب الی الخشوع هکذا روی عن ابی نصر الدبوسی انه کان یفعله کذا فی الکبری. (ردالمحتار ج، ص)

په دې کښې دا امور د غور کولو قابلې دي:

۱- د عبارت د سیاق (یعنی تیره شوې حصې) نه معلومیږي چې دلته د مستحب نه مستحب شرعي ندې مراد

۲- د اقرب الی الخشوع علت په هر فرد او په هر حال کښې نه جاري کیږي بلکه په دې کښې د افرادو او د حالاتو په اعتبار سره اختلاف راځي

۳ ـ د فقيه ابو نصر دبوسی رحمه الله د عمل نه دا نه ثابتيږی چې هغوی به دومره فاصله په قصد سره ساتله، او دا به ئې مستحب ګڼله، ممکنه ده چې د هغوی د طبيعت په تقاضه بغير قصد کولو نه به داسې کيدل.

۴ ـ که چيرته ومنلې شی چې په قصد سره به ئې کول نو دا به ئې ځکه په قصد سره کول چې دا باعث د خشوع دی، نو د يو سړی هغه کار چې هغه د ده د طبيعت تقاضه وی او ده د خشوع د پاره اختيار کړې وی هغې نه کليه جوړول او په ټولو باندې دا جاری کول صحيح نه دی.

۵ ـ د يو فقيه د طبعی استحباب نه شرعی استحباب نه ثابتيږی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

۷ ربيع الثانی ۱٤۱۷ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

ضميمه

زبدة الكلمات

فى حكم الدعاء بعد المكتوبات

- فرض مونځونو پسې د رواج کړې شوې اجتماعی دعا نور تحقيق او تفصيل
- د صحابهٔ کرامو ﷺ آثار
- د حضراتو فقهاؤ، د أمت د اکابرينو او د مشهورو اصحابو د فتاؤو رائې

****
****

ضميمه

زبدة الكلمات

فى حكم الدعاء بعد الصلواة

سوال تاسو په احسن الفتاوی دريم جلد (أردو) صفحه ۲۰ کښې په حواله د مصنف ابن ابی شيبه يو روايت نقل کړې دې عن الاسود العامری عن ابيه ﷺ قال: صليت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف ورفع يديه ودعا الحديث (مصنف ابن ابی شيبه) حال دا دې چې مصنف ابوبکر دوم جلد د مکتبه امداديه مکة المکرمه په چاپ کښې دا روايت د (انحرف) پورې دې. د (ورفع يديه ودعا) الفاظ په کښې نشته. او ستاسو مستدل هم دا الفاظ دی. لهذا تاسو مهربانی وکړئ او دا راته اووايئ چې دا روايت د همدې الفاظو سره د مصنف په يو بل جلد کښې چرته شته او که نه؟ او که چرته په بل يو جلد کښې دا الفاظ نوی نو د اصل کتاب نه الفاظ څنګه ساقط شو؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ما دا روايت د امداد الفتاوی او د نفائس مرغوبه نه نقل کړې وو

او د مجموعة الفتاوی حواله هم غالباً د نفائس مرغوبه نه نقل کړې شوې وه، په هغه وخت کښې مصنف ابن ابی شیبه په دارالافتاء کښې نه وو. د دې وجې نه د هغې طرفته رجوع نه وه کړې شوې. او د دې نه علاوه په حکیم الامت او په حضرت مولانا کفایت الله ﷺ باندې د باور کولو له کبله ما د اصل طرفته د رجوع کولو څه ضرورت نه وو محسوس کړې . کله چې ستاسو اشکال راته راورسیدلو نو د دارلافتاء چې کومه عمله ده هغه مې د دې په لټون پسې کړه. هغوئ لټون وکړو او دا نتیجې ئې راته راوړاندې کړې:

۱- دا روایت له دې الفاظو سره په دې کتابونو کښې موجود دې : مجموعة الفتاوی بهامش خلاصة الفتاوی ج ۱، ص ۱۰۰، امداد الفتاوی ج ۱، ص ۵۷۱، نفائس مرغوبه ص ۳۹، ۴۳، ۴۵، ۵۲. معارف السنن ج ۳، ص ۱۲۳.

۲- په امدادالفتاوی کښې او په معارف السنن کښې د مصنف ابن ابی شیبه نه په نقل کولو کښې څه واسطه نده ذکر کړې شوې، په نفائس المرغوبه کښې صرف له څلورو ځایونو نه په یو ځائ کښې د مجموعة الفتاوی واسطه ذکر کړې شوې ده .

۳ - په مجموعة الفتاوی کښې دا روایت حضرت مولانا عبدالحی رحمه الله په خپله ندې نقل کړې، بلکه د دوی په فتوی باندې د څه نورو عالمانو هم دستخطونه شته. په هغوی کښې حضرت مولانا سید شریف حسین صاحب دا روایت نقل کړې دې .

۴ - دا روایت حضرت مفتی جمیل احمد صاحب په واسطه د (رفع الیدین) لمحمد عبدالرحمن الزبیدی سره نقل کړې دې .

۵ - په مصنف ابن ابی شیبه کښې په (باب ماذا یقول الرجل اذا انصرف) کښې دا روایت ترلاسه نشو . (باب من کان یستحب اذا سلم ان یقوم او ینحرف) کښې دا روایت شته ،لیکن هغه صرف ترهغه ځایه پورې دې د کوم ځائ پورې چې تاسو لیکلې دې .

۶ - د دې مکتبو چاپ کړې شوی کتاب ته مو رجوع وکړه نو ټول مو سره یوشان ومونډل .

(۱) - المکتبة الامدادیه،مکة المکرمه

(۲) - مطبعة الاقبال البرقیة،ملتان .

(۳) - حیدر آباد ،دکن

(۴) - الدار السلفیة،بمبئ

(۵) - ادارة القرآن،کراچی

په وروستنیو درې چاپونو کښې یو چاپ اصل دې باقی دوو مکتبو هم د دې یوې نه نقل چاپ کړې دې

د پلټنې له پورته نتيجې نه دا معلومېږي چې ذکر کړې شوو ټولو ليکوالانو د مولانا سيد شريف حسين صاحب په ليکنه باندې باور کړې دې

البته د دې ذکر کړې شوو پنځو شواهدو نه دا ثابتيږي چې د موصوف نه په نقل کولو کښې تسامح شوې ده، حقيقت دا دې چې په دې روايت کښې د (ورفع يديه ودعا) الفاظ نشته

نور شواهد: ۲ - امام نسائی هم د دې باب د لاندې د پورته ذکر کړې شوو درې واسطو نه په همدې سند سره دا روايت ذکر کړې دې چې په کښې دا الفاظ نشته - (سنن النسائي ج ۱، ص ۱۳۴)

۷ - وکذا نقل الامام البيهقي رحمه الله (السنن الکبرى ج ۲، ص ۳) . سبع شداد نه دا حقيقت بې د څه شک او شبهې نه واضحه شو چې په دې روايت کښې دا الفاظ نشته دې

حاصل د خبرې دا شو چې د ډير زيات کوشش نه پس هم په دې روايت کښې د (ورفع يديه ودعا) الفاظو زياتوالې ونه موندلې شو، د فرضو نه پس په دعا کولو کښې د لاسونو پورته کولو په حقله صرف همدا يو روايت وو چې په دې باندې اعتماد کولې شو، او په دې کښې هم دا زياتوالې ثابت نشو . پاتې شو دا استدلال کول چې په مطلق دعا کښې لاسونه پورته کول مستحب دی او د فرضو نه پس چې کومه دعا ده هغه هم په دې کليه کښې داخله ده . نو دا استدلال د دې وجې نه صحيح نه دې چې د فرضو نه پس چې کومې دعاګانې دی په هغې کښې دوه قسمه روايتونه دی

۱ - الفاظ مخصوصه ماثوره. يعنې خاص روايت او ثابت کړې شوی الفاظ .

په دې کښې لاسونه پورته کول ځکه صحيح نه دی چې د خاصو ځايونو د پاره په خاصو الفاظو کښې په لاسونو نه پورته کولو باندې اجماع ده .

۲ - هغه روايتونه چې په هغې کښې دبرالمکتوبات (يعنې د فرضو نه وروسته) مواضع يعنې ځايونه د اجابت شمارلې شوې دی .

په دې کښې دا خبره د غور کولو ده. چې کوم يو عمل رسول الله ﷺ روزانه پنځه وخت په جمات کښې په لويو جمعو کښې ښکاره جاره کړې وی .نو د هغې عمل د ډيرو صحيحو او صريحو روايتونو نه نقل کيدل لازمی دی او هغه دلته نه شی موندلې فانتفی الملزوم.

لهذا ددې روايتونو چيرته يو داسې محمل (يعنې چې دا پرې حمل کړې شی) مقررول لازمی دی چې د ذکر کړې شوې کليې خلاف نه وی. او هغه هم داسې کيدې شی چې دا د هغه وخت د پاره شی چې کله د روايت کړې شوو دعاګانو نه بغير چيرته يو بل څه حاجت غوښتلې شی. او هغه هم په دې شرط چې د نورو په وړاندې دې د دې التزام نه کوی چې چيرته څوک په دې باندې دمسنون کيدو ګمان ونه کړی

د دې روايتونو د خاصو حاجتونو د پاره په کيدلو باندې دا حديث هم دليل دې من کانت له الی

لمسامحة للمسلمالها دبر صلوة مكتوبة.(مصباح الظلام)

د ذکر کړې شوې کلیې ته دا خیال هم باطل شو چې د مصنف ابن ابی شیبه کوم یو روایت کښې بحث شروع دې د دې نه بغیر هم یو ضعیف روایت په «زبدة الکلمات» کښې نقل کړې شوې دې او په فضائلو کښې ضعیف روایت باندې هم عمل کیدې شی.

په «زبدة الکلمات» کښې د رفع یدین په حقله دوه روایتونه نور دی. دریم اوخلورم دا دواړه د نفلو سره متعلق دی. په دریم روایت کښې په دې باندې دا شواهد دی:

۱ - چې دا د دعا بعد الفرائض سره متعلق د کثیرو صحیحو احادیثو نه خلاف دی.

۲ - د کلیې «دعابالفاظ مخصوصه فی مواضع مخصوصه کښې د عدم رفع الیدین» نه خلاف دی

۳ - د حدیث د سیاق نه ثابتیږی چې دې سرې د نورو خلقو په وړاندې ځان له مونځ کولو. او ښکاره خبره ده چې دا نفل مونځ وو.

۴ - وبکل حال لااقل من الاحتمال وهو کاف لابطال الاستدلال.

په څلورم روایت کښې د نفلو په ارادې سره په دوو دوو رکعتو کولو باندې نص دې. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۹ شوال ۱۴۰۸ هجری

الروایات المزیدة

اخرج ابن ابی شیبة رحمہ اللہ: کان عبداللہ رضی اللہ عنہ اذا قضی الصلوة انفتل سریعا اما ان یقوم واما ان ینحرف.

عن ابن عمر رضی اللہ عنہ قال: کان الامام اذا سلم قام وقال غالب: انحرف.

عن ابی رزین قال: صلیت خلف علی رضی اللہ عنہ فسلم عن یمینه وعن یساره ثم وثب کما هو.

قال عمر رضی اللہ عنہ: جلوس الامام بعد التسلیم بدعة.

کان ابو عبیدة بن الجراح رضی اللہ عنہ اذا سلم کانه علی الرضف حتی یقوم.

عن عائشة رضی اللہ عنہا قالت: کان رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم اذا سلم لم یقعد الا مقدار ما یقول: اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یاذا الجلال والاکرام.

عن ابن مسعود رضی اللہ عنہ قال: کان رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم اذا سلم لم یجلس الا مقدار ما یقول: اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یاذا الجلال والاکرام.

عن سعید ابن جبیر رحمہ اللہ قال: کان لنا امام ذکر من فضله اذا سلم تقدم.

عن ابی مجلز رحمہ اللہ: قال کل صلوة بعدها تطوع فتحول الا العصر والفجر.

عن مجاهد رحمہ اللہ قال: اما المغرب فلا تدع ان تتحول.

عن الحسن رحمہ اللہ ان کان اذا سلم انحرف او قام سریعا.

عن ابن طاوس عن ابیه رحمہ اللہ انه كان اذا سلم قام فذهب كما هو ولم يجلس

عن ابراهيم رحمہ اللہ انه كان اذا سلم انحرف واستقبل القوم.

عن جابر بن يزيد الاسود العامری عن ابیه رضی اللہ عنہ قال: صليت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف

ان عليا رضی اللہ عنہ لما انصرف استقبل القوم بوجهه. (مصنف ابن ابی شيبة ج۱، ص۳۰۲،۳۰۳)

عن انس رضی اللہ عنہ ان النبی ﷺ كان لا يرفع يديه فی شیء من الدعاء الا فی الاستسقاء (مصنف ابن ابی شيبة ج۱، ص۳۰۴)

واخرج عبد الرزاق رحمہ اللہ: ان ابابكر رضی اللہ عنہ كان اذا سلم عن يمينه وعن شماله قال: السلام عليكم ورحمة الله ثم انفتل ساعتئذ كانما كان جالسا على الرضف.

كان ابوبكر رضی اللہ عنہ اذا سلم كانه على الرضف حتى ينهض.

عن ابن سيرين قال: قلت لابن عمر رضی اللہ عنہ: اذا سلم الامام انصرف؟ قال: كان الامام اذا سلم انكفت وانكفتنا معه.

عن ابن مسعود رضی اللہ عنہ قال: اذا سلم الامام فليقم والا فلينحرف عن مجلسه

قلت: فيجزيه ان ينحرف عن مجلسه ويستقبل القبلة؟ قال الانحراف ان يغرب او يشرق عن غير واحد

صلى مجاهد خلف ابراهيم النخعی رحمہ اللہ فلما ان سلم انحرف فقال: ليست من السنة ان تقعد حتى تقوم ثم تقعد بعد ان شاء الله

ان سعيد بن جبير رحمہ اللہ قال: ليست من السنة ان يقعد حتى يقوم فلما تعام قال: جلس يعنی يشرق او يغرب فاما ان يستقبل القبلة فلا.

عن ابن مسعود رضی اللہ عنہ ان كان اذا سلم قام عن مجلسه او انحرف مشرقا او مغربا.

عن ابی البختری قال: ان عبيدة رضی اللہ عنہ لاخذ بيدی اذ سمع صوت المصعب بن الزبير رضی اللہ عنہ وهو يقول: لا اله الا الله والله اكبر مستقبل القبلة بعد ما سلم عن الصلوة فقال عبيدة: ماله قاتله الله نعار بالبدع.

عن عطاء رحمہ اللہ مثله كان يجلس الامام بعد ما يسلم والقول انا: التسليم الانصراف قدر ما ينتعل بنعليه (مصنف عبد الرزاق ج۲، ص۲۴۳،۲۴۴)

واخرج النسائی رحمہ اللہ: عن انس بن مالك رضی اللہ عنہ قال: كان رسول الله ﷺ اخف الناس صلوة فی تمام. قال: ثم صليت مع رسول الله ﷺ فكان ساعة يسلم يقوم. ثم صليت مع ابی بكر رضی اللہ عنہ فكان اذا سلم وثب مكانه كانه يقوم عن رضف تفرد به عبدالله بن فروخ المصری وله افراد والله اعلم.

والمشهور عن ابی الضحی عن مسروق قال: كان ابوبكر الصديق رضی اللہ عنہ اذا سلم قام كانه جالس على الرضف و روينا عن علی رضی اللہ عنہ ان سلم ثم قام.

عن ابی الزناد قال: سمعت خارجة بن زيد رحمہ اللہ وكان يعيب على الائمة جلوسهم فی صلوتهم بعد ان يسلموا ويقول: السنة فی ذلك ان يقوم الامام ساعة يسلم.

ورويناعن الشعبي وابراهيم النخعي رحمهما الله انهما كرهاه
ويذكر عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه والله اعلم. (السنن الكبرى ج،ص)
د دې روايتونو له كبله فقهاء كرام رحمهم الله فرمائي چې د كومو مونځونو نه پس سنتونه وي په هغې كښې دې امام د سلام نه پس زر د سنتو د پاره ودريږي. د (اللهم انت السلام. الخ) د وئيلو په مقدار چې څومره وخت دې د دې نه زيات حصاربدل مكروه دى، او ورسره د دې روايتونو نه دا هم ثابت شو چې د فرضو نه پس چې كومه دعا ده په هغې كښې لاسونه پورته كول نشته.

العبارات المزيدة

۱ــ قال العلامة الحموي رحمه الله صرح ابن الحجر رحمه الله بان الاجتماع للدعاء برفعه (الوباء) بدعة اقول: ما قال ابن الحجر هو الحق الذي لا مرية فيه فان تعريف البدعة صادق عليه. (شرح الاشباه والنظائر ج،ص)

۲ــ وقال الشيخ عبدالحق الدهلوي رحمه الله: اين دعا كه ائمه مساجد بعد از سلام مى كنند و مقتديان آمين آمين ميگويند چنانچه الآن د رديار عرب و عجم متعارف است از عادة پيغمبر خدا ﷺ نبود و درين باب هيچ حديث ثابت نشده ـ (شرح سفر السعادة: ص)

۳ــ وقال الامام مالك رحمه الله: في امام مسجد الجماعة او مسجد من مساجد القبائل قال: اذا سلم فليقم ولا يقعد في الصلوات كلها (قال) واما اذا كان الامام في السفر او اماما في فنائه ليس بامام جماعة فاذا سلم فان شاء تنحى وان شاء اقام (وبعد اسطر) قال ابن وهب عن يونس بن يزيد ان ابا الزناد اخبره قال: سمعت خارجة بن زيد بن ثابت يعيب على الائمة قعودهم بعد التسليم وقال: انما كانت الائمة ساعة تسلم تقلع مكانها قال ابن وهب: وبلغني عن ابن شهاب انها السنة قال ابن وهب: وقال ابن مسعود رضي الله عنه: يجلس على الرضف خير له من ذلك قال: وبلغني عن ابي بكر الصديق رضي الله عنه انه كان اذا سلم لكانه على الرضف حتى يقوم وان عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: جلوسه بعد السلام بدعة. (المدونة ج،ص)

٤ــ د اتمې صدئ د مشهور محقق امام ابو اسحاق ابراهيم بن موسى شاطبى رحمه الله كتاب (الاعتصام) په رد د بدعاتو كښې ډير عجيبه دې، د بيانولو او د پوهولو انداز ئې دومره ښائسته دې چې خبره يې نيغه زړه ته كوزيږي.

د بدعت په حقله يو تفصيل د ډير وخت نه زما په زړه كښې وو چې په يو كتاب كښې هم زما د نظر لاندې نه وو راغلې. ليكن دا حقيقت دومره واضحه دې چې د دې د پاره د څه مرستې حاجت نشته. د دې وجې نه ما د دې د پاره د كتابونو لټون ته څه توجه ورنه كړه. ناګهانه چې په (الاعتصام) كښې ما هماغه تفصيل وكتلو نو ډير زيات خوشحاله شوم. والحمد لله

امام شاطبى رحمه الله په (الاعتصام) كښې هم په دې رواج شوې طريقې باندې د دعا كولو په حقله

په خپل خاص انداز کښې ښه پوره بحث کړې دې. د رسول الله ﷺ، خلفاء راشدين او د نورو صحابه کرامو ؓ د ارشاداتو او د عمل نه ئې د دې دعا بدعت کيدل ثابت کړي دی. د هغې نه څه عبارتونه وړاندې کولې شی

وقال مالك رحمه الله في المدونة: اذا سلم فليقم ولا يقعد الا ان يكون في سفر او في فنائه

وقد نقل عن ابن بطال عن علماء السلف انكار ذلك والتشديد فيه على من فعله بما فيه كفاية.

هذا ما نقله الشيخ بعد ان جعل الدعا باثر الصلوة بهيئة الاجتماع دائما بدعة قبيحة واستدل على عدم ذلك بما في الزمان الاول بسرعة القيام والانصراف لانه مناف للدعاء لهم وتأمينهم على دعائه بخلاف الذكر و دعاء الانسان لنفسه فان الانصراف وذهاب الانسان لحاجته غير مناف لهما.

ما زال الانكار عليهم من الائمة فقد نقل الطرطوشي عن مالك رحمه الله في ذلك اشياء تخدم المسألة فحصل انكار مالك رحمه الله لها في زمانه وانكار الامام الطرطوشي رحمه الله في زمانه واتبع هذا اصحابه و هذا اصحابه ثم القرافي قد عد ذلك من البدع المكروهة على مذهب مالك رحمه الله وسلمه ولم ينكره عليه اهل زمانه فيما نعلمه مع زعمه ان من البدع ما هو احسن.

ثم الشيوخ الذين كانوا بالاندلس حين دخلها هذه البدعة حسبما يذكر بحول الله قد انكروها وكان من معتقدهم في ذلك انه مذهب مالك رحمه الله. وكان الزاهد ابو عبدالله بن مجاهد وتلميذه ابو عمران الميرتلي رحمهما الله ملتزمين لتركها. (الاعتصام ج۱ص۳۵۲،۳۵۳)

د دې حضراتو په نيزد (احاديث الانصراف الى المامومين) په دې باندې محمول دی چې ماموميونو ته خطاب کول مقصود وی. كما يظهر من تلك الاحاديث.

او د احنافو په نيزد د سحر او مازديگر سره خاص دی. د دې دواړو مونځونو نه پس د سنتو د نه کيدلو له کبله د مونځ نه د فارغيدلو نه پس د امام په خپل ځائ باندې ناسته روا ده. خو په دې شرط چې په قراءة د اورادو او د دعاگانو کښې د امام او د مقتديانو تر مينځه څه رابطه نه وی

حاصل د کلام

په زبدة الكلمات سره د ضميمې کښې د ليکلو شوو تحقيقاتو حاصل دا دې

۱ د اجتماعی دعا دا رواج شوې طريقه په اجماع سره يو سخت خراب بدعت دې

۲ د فرضو نه پس په دعا کولو کښې لاسونه پورته کول نشته . الا ان يدعوا احيانا لحاجة خاصة

۳ امام مالک او امام طرطوشی او د دوی دواړو اصحابو رحمهم الله په نيزد د هر مونځ نه د

فارغیدو نه وروسته سمدستي د امام د هغه ځائ نه اخوا کیدل لازمي دي

۴ - د احنافو رحمهم الله په نیزد هم د سحر او د مازیګرد مونځونو نه علاوه د دري ځلو استغفار او د دعا اللهم انت السلام الخ وئیلو نه زیاته ناسته امام لره مکروهه ده.په دې دعا کښې نه لاسونه پورته کول شته او نه په کښې اجتماعي هیئت شته.امام او مقتدي هر سړې دې بې د لاسونو اوچتولو نه په سراً او ځان له دا وړه شان دعا وغواړي او سنتو کښې دې مشغول شي.

د سحر او د مازدیګر د مونځ نه پس په دې شرط سره ناسته روا ده.چې د ذکر او د دعا په غوښتلو کښې به د امام او د مقتدیانو ترمینځه څه رابطه نه وي.د مونځ نه پس په دعا کښې اجتماعیت بدعت دې،امام وي او که مقتدي هر سړې دې ځان له یواځې سراً بې د لاسونو د پورته کولو نه دعا وغواړي.د فرضو نه پس په دعا کښې لاسونه پورته کول نشته.خو دا خبره ده چې که کله کله د څه خاص حاجت د پاره څه دعا غواړي نو لاسونه پورته کولې شي خو د نورو خلقو وړاندې دې د دې التزام نه کوي دې د پاره چې چا ته د فرضو نه پس په دعا کولو کښې د لاسونو د پورته کولو په مسنون کیدو کښې څه شک شبه رانشي.

۵ - د نفلونو نه پس انفراداً یعنی ځان له اوږده دعا غوښتل مسنون دي.

۶ - د دعا د پاره اجتماع کول بدعت دي،خو که چیرته د څه بل څه مقصد د پاره اجتماع وي نو په هغې کښې اجتماعي دعا کول روا دي .والله الهادي الى سبيل الرشاد وهو العاصم من المحدثات في الدين والبدع والضلال ۹ ربیع الاول ۱۴۰۹ هجری

كلمة الجامع

د حضرت اقدس فقیه العصر دامت برکاتهم دا معمول دې چې په افتاء کښې د دې وخت او د ماضي قریب د اکابرو عالمانو د قولونو نه استدلال نه کوي،د کلیې (الاالهم فالاالهم) د لاندې د زړې زمانې د مشهورو او د منلو شوو امامانو د فقهې رحمهم الله د تحقیقاتو نه استناد کوي.

ځینی خلق وائي چې د فرضو نه پس د اجتماعي دعا په حقله د حضرت اقدس دامت برکاتهم تحقیق د اکابرینو نه خلاف دې.

د دوی دا خیال بالکل غلط او د حقیت نه په ناخبرتیا باندې مبنی دې،د داسې وهمونو د زائله کولوپه غرض د دې مسئلې سره متعلق په کومه مسئله کښې چې بحث شروع دې د حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم د رسالې (زبدة الكلمات) په آخره کښې د دوی په موافقت کښې د دې وخت د علماؤاود ماضي قریب داکابرینو رحمهم الله لیکنه وړاندې کولې شي.والله الهادي الى سبل الرشاد (جامع)

۱ــ قال الشيخ عبد الحق المحدث الدهلوي رحمه الله: اما این دعا که ائمه مساجد بعد از سلام می

کننده و مقتدیان آمین آمین می گویند چنانچه الآن در دیار عرب و عجم متعارف است از عادة پیغمبر خدا ﷺ نبود و درین باب هیچ حدیث ثابت نشده.(شرح سفر السعادة: ص ۹۰)

۲ـــ وقال العلامة عبدالحی اللکنوی رحمه الله: دا طریقه کومه چې زمونږ په زمانه کښې رواج شوې ده. چې امام د سلام گرځولو نه پس لاسونه پورته کړی او دعا غواړی او مقتدیان پرې آمین وائی دا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وه (مجموعة الفتاوی ج ۱،ص ۱۲۱)

۳ـــ وقال ایضاً : لکن لم ار فی روایة انه ﷺ هل کان یرفع یدیه و یمسحهما فی الدعاء الذی کان یدعو بعد الصلوة ایضا ام لا.(وبعد اسطر)وهذا صریح فی ان رفع الایدی لم یکن فی الدعاء الذی بعد الصلوة الا انه لما ندب الیه فی مطلق الدعاء استحبه العلماء فی خصوص هذا الدعاء ایضاً. (السعایة ج ۲،ص ۲۶۰) (چاپ د سهیل اکیډمی لاهور ۱۴۰۸ هجری)

٤ـــ وقال العلامة انور شاه الکشمیری رحمه الله: نعم نحکم بکونها بدعة اذا افضی الامر الی النکیر علی من ترکها.(فیض الباری ج۴ص۴۷طبع:المکتبة الرشیدیه کوئټه)

۵ ـــ وقال ایضاً : واعلم ان الادعیة بهذه الهیئة الکذائیة لم تثبت عن النبی ﷺ ولم تثبت عنه رفع الایدی دبر الصلوات فی الدعوات (فیض الباری ج۴ص۴۷طبع المکتبة الرشیدیه کوئټه)

٦ـــ وقال ایضاً: واعلم ان السنة الاکثریة بعد الصلوة الانصراف الی البیوت بدون مکثهما الا بقدر خروج النساءو کان فی الاذکار کل امرء نفسه ولم تثبت شاکلة الجماعة فیها کما هو معروف الان.(فیض الباری ج۲ص۳طبع: المکتبة الرشیدیه کوئټه)

۷ـــ وقال ایضاً: ولیعلم ان الهیئة الاجتماعیة برفع الایدی المتعارفة فی العصر بعد المکتوبة نادرة فی زمانه ﷺ و ثبت بعد النافلة من الاستسقاء وو العقیقة فی بیت ام سلیم.(العرف الشذی ص۴۸قدیمی کتب خانه)

۸ ـــ وقال ایضاً: واستدل بعض بحدیث الباب علی الدعاء بعد المکتوبة بالهیئة المتعارفة فی اهل العصر والحال ان لایدل علیه فان لیس فیه ذکر انهم دعوا مجتمعین.(العرف الشذی ص۶۰قدیمی کتب خانه)

۹ ـــ وقال ایضاً:اما الامور المحدثة من عقد صورة الجماعة للدعاء کجماعة الصلوة والانکار علی تارکها ونصب امامهم الکامل به فیه وغیر ذلک من قلة العلم وکثرة الجهل والجاهل اما مفرط او مفرط.(النفائس مرغوبة ص۲۰)

۱۰ ـــ وقال العلامة محمد اعزاز علی المفتی الاعظم بدار العلوم دیوبند : فعلم ان المحققین من علماء

رمانعا ما انکروا انکار شدیدا علی هذا الاستقبال والدعاء الا لکونه من قبیل الالتزام ولکونه علی سبیل العدام علی هذا من مجاوزة الحدود الله تعالی. (حاشیۃ نور الایضاح ص۸۰)

۱۱۔وقال المفتی الاعظم محمد شفیع رحمہ اللہ:

او سنت دا وو چې د فرضو نه پس دې څه اجتماعی شکل جوړ نه کړې شی. بلکه هر سړې دې ځان له په آزادئ سره په سنتو. نفلونو. دعاګانو. درود او په کوم کار کښې چې غواړی لګیا دې شی. د دې خلاف یې یو مستقل شریعت جوړ کړو او هغه داسې چې د اجتماعی دعا کولو هیئت نې راوه ویستلو. (احکام دعاء ص ۱۵)

۱۲۔وقال الشیخ البنوری رحمہ اللہ: والتحقیق انه وان وقع ذلك احیانا عند حاجات خاصة لم تکن سنة مستمرة له ﷺ ولا للصحابة ﷺ. (معارف السنن ج۳ ص۱۲۳)

۱۳۔وقال ایضا: قد راج فی کثیر من البلاد الدعاء بالهیئة الاجتماعیة رافعین ایدیهم بعد الصلوة المکتوبة ولم یثبت ذلك فی عهده ﷺ ولا عن بالمواظبة. نعم ثبتت ادعیة کثیرة بالتواتر بعد المکتوبة ولکن بغیر رفع الایدی ومن غیر هیئة اجتماعیة. (معارف السنن ج۳ ص۴۰۹)

۱۴۔وقال ایضا: ویقول بعض اهل العصر من الحنفیة: لما ثبت الدعاء بتلك الهیئة فی موضع فلیعد الی دبر المکتوبات ایضا ویستدل لذلك بالعموم قال شیخنا: الاول: ان الاحتجاج بالعموم انما ینبغی فیما لم یرد للخاص حکم علی حدة ونفس ثبوت الرفع فی الدعاء امر آخر. ان الادعیة عنه ﷺ فی اثر المکتوبات لم یثبت فیها الرفع. (معارف السنن ج۳ ص۴۱۰)

۱۵۔وقال المفتی الاعظم بمدفله دیش فیض الله رحمہ اللہ: نعم: قراءة بعض الفاظ الاذکار وبعض الفاظ الادعیة المکتوبات ثابتة مسنونة یقینا لکن علی الانفراد بغیر رفع الایدی لا علی طور الهیئة الاجتماعیة رافعین الایدی. (احکام الدعوات المروجة ص۱۱)

۱۶۔وقال ایضاً: باید که راویان کرام همه اقوال و افعال واحوال آن حضرت ﷺ رابغایت اهتمام و نهایت اعتناء روایت کرده اند. حتی که آنچنان عبادات و اذکار خفیه راهم بیان نموده که در شب تاریک دراندرون خانه منفرداً ازوی ﷺ بعمل آمده بلکه بعضی آن جنان حرکات نادره راهم روایت نموده اندکه آنها نه عبادت اند نه طاعت، محض بطور اتفاق بحیثیت عادت ازوی سرزد شده مثلاً بسوی آسمان نگریسته خندیدن و درحالت تفکر بسر عصازمین راکندیدن و امثال آنها کما لا یخفی علی من له ممارسة بکتب الاحادیث. پس چگونه نه تواند بود که عبادتی علانیه برسرجماعت ازوی بعمل آید و هیچ راوی آن را روایت نکند ـ این امر فقط بعید نیست بلکه از

قبیل محال است ـ پستر بدانید که آن حضرت ﷺ درنماز پنج بار درجماعت امامت نموده اند،اگر درین مد ت طویله بعد ازنماز یکبار هم باهمه مقتدیان دست برداشته مناجات کرده باشد، بدین هیئت کذائیه که درین زمان مروج است ضرور راویان کرام آن را بنهایت اهتمام روایت کردندی ، وبرای اثبات آن بقیاس هرگز احتیاج نداشتندی ـ لیکن د ر هیچ حدیث صحیح یا ضعیف بلکه درحدیث موضوع هم بدین هیئت کذائیه اجتماعیه مروجه مناجات کردن ازوی ﷺ نیامده بلکه از صحابه و تابعین و ائمه مجتهدین هم این چنین مناجات اصلا ثابت نشده ـ باوجود داعی نقل ، نقل نه نمودن یقینا دلیل عدم مشروعیت است ـ (احکام الدعوات المروجه ص ۲۶)

۱۷ـــ وقال العلامة ابو القاسم رحمه الله: غرض د خبرې دادې چې د فرض مونځ نه پس د امام او د مقتدیانو په شریکه دعا غوښتل ډیر خراب بدعت دې. (عماد الدین ص ۳۹۷ مطبوعه لاهور)

۱۸ـــ وقال العلامة منظور احمد النعمانی مدظله: د سلام نه پس د ذکر او د دعا په حقله چې کوم حدیثونه پورته ذکر شو د هغې نه دا خو معلومه شوه چې د مونځ په ختمیدو باندې یعنی د سلام نه پس ذکر او دعا د رسول الله ﷺ نه عملا هم ثابت دی او تعلیما هم او د دې نه د انکار کولو څه لاره نشته. لیکن دا کوم چې رواج شوې دې چې د سلام گرځولو نه پس مقتدیان د مونځ په شان د امام تابع او پابند وی. تر دې که چیرته چا نه د تلو تلوار وی نو هم د هغه د امام نه وړاندې پاسیدلو ته خلق په بـه سترگه نه گوری. د دې خبرې بالکل څه اصل نشته.بلکه د دې اصلاح کول پکار دی،د امامت او د اقتداء کولو چې کوم ترون دې هغه د سلام په گرځولو باندې سرته رسیږی. (الفرقان.لکهنؤ ج ۳.ربیع الاخر ۱۳۸۲ هجری شماره نمبر ۴ ص ۷)

۱۹ـــ وقال ایضاً:دا چې کوم رواج دې چې د دعا دپاره هم مقتدیان د مونځ په شان د امام پابند وی. تر دې که چا ته د زر تللو ضرورت هم وی نو بیا هم د امام نه وړاندې پاڅیدل بد گڼلې شی.دا بالکل بې اصله خبره ده. بلکه د اصلاح قابله خبره ده،د امامت او د اقتداء خبره د سلام په گرځولو باندې ختمیږی. د دې وجې نه د سلام نه پس په دعا کښې د امام اقتداء او پابندی ضروری نده،که خوښه ئې وی نو وړه شان او مختصره دعا دې وکړی او د امام نه دې وړاندې پاسیږی،او که خوښه ئې وی نو د خپل طبیعت مطابق دې ډیره وخته پورې دعا کوی.(معارف الحدیث ج ۳.ص ۳۱۸) [۱]

---

۱ . حاشیه د مرتب لخوا (کلمة الجامع) د دې عاجز بنده لخوا نده لیکلې شوې .داسې ښکاری چې چیرته یو متخصص عبارتونه نقل کړل او حضرت رحمه الله په هغه باندې د باور له کبله په ضمیمه زبدة الکلمات،کښې آخره کښې پیوسته کړل

د (کلمة الجامع) نه دا خیال پیدا کیږی چې اکابر علماء دیوبند رحمهم الله د فرضو نه پس چې څنگه رواج کړې شوې اجتماعی دعا ته بدعت وائی نو د دې سره سره خان له یواځې لاسونو پورته کولو او دعا کولو ته هم غیر ثابت او بدعت وائی. او حال دا دې چې دا خبره داسې نده. په (کلمة الجامع) کښې ناقص عبارتونه نقل شوی

دی، د خپلې مدرسې څینې د افتاء خاوندانو دې اړخ ته زما توجه راوګرځوله نو دا خیال مې راغئ چې اصل عبارتونه کتل پکار دی، نو چې اصل عبارتونه مې وراندې وروسته وکتل نو حقیقت مې مخې ته راغئ.

۱ـ په اکابرینو کښې حضرت علامه محمد انور شاه صاحب کشمیری رحمه الله او علامه محمد یوسف بنوری رحمه الله ډیر په زوررور انداز کښې د امت د پاره په دعا کښې لاسونو پورته کولو ته مستحب وئیلې دی او فرمائیلې ئې دی چې د استحباب د پاره د رسول الله ﷺ نه یو ځل د کولو ثبوت کافی یعنی پوره دې، ټول مستحبات همداسې ثابتیږی. د ثبوت نه بغیر په ډیرو قولی احادیثو کښې د دې اړخ ته ترغیب هم دې، د حضرت مفتی فیض الله صاحب بنګله دیشی رحمه الله نه بغیر په اکابرینو د دیوبند رحمه الله کښې یو بزرګ هم د دعا د پاره د لاسونو پورته کولو ته غیر ثابت یا بدعت نه وائی.

۲ـ حضرت شاه صاحب رحمه الله د رواج شوې اجتماعی دعا په حقله اوفرمائیل چې دا نه خو په معنی سره سنت دې چې د رسول الله ﷺ نه د دې په استمرار یا په کثرت سره ثبوت راغلې وی او نه په دې معنی سره بدعت دې چې د دې دپاره په دین کښې بیخی څه اصل نه وی.

۳ ـ حضرت علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله د علامه ابن القیم رحمه الله په حوالې سره د رواج شوې اجتماعی، جهری دعا په حقله اوفرمائیل، چې دا طریقه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وه، لیکن په خپله ئې د دې اجازت ورکړې دې او د ثوبان رضی الله عنه حدیث ئې عام ښودلې دې.

۴ ـ حضرت علامه محمد یوسف بنوری رحمه الله په څینو مقاماتو کښې اجتماعی دعا جائز ښودلې ده. او په څینې مقاماتو کښې ئې پرې انکار کړې دی، د دې نه معلومه شوه چې ددې حضراتو په نیزد فی نفسه د دې جواز شته، چرته چې په دې کښې ډیر خوک ورننوځی، د فرضو او د واجبو په شان د دې التزام کولې کیږی، او په پرینښودونکی باندې بد وئیلې کیږی نو هلته منع ده.

چې څوک هم غواړی نو د اکابرینو رحمه الله عبارت په تفصیل سره کتلې شی او د پورتنیو امورو مشاهده او تصدیق کولې شی، د نمونې په توګه څو عبارتونه وراندې کوم:

(۱) علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله فرمائی: نو اکثرو فقهاء کرامو رحمهم الله په دوارو احادیثو کښې موافقت کړې دې، د دې لحاظ ئې ساتلې دې چې دمونځ نه پس چې هر کله امام دعا غواړی نو مقتدیان دې آمین وائی، نو د دې تخصیص نه دی کول پکار، بلکه تعمیم په کښې پکار دې، لکه چې شیخ دهلوی د دې تصریح کړې ده. که چیرې هغه دعا چې امام ئې دسلام نه پس کوی او مقتدیان پرې آمین وائی هغه هم د دې حدیث محل دې، یعنی د افراد په الفاظو سره دې دعا نه کوی او د دیانت نه خلاف دی، از شرح سفر السعادت.

او چې کوم امام (ربنا اٰتنا فی الدنیا والاٰخرة) وائی نو هغه ته به د قرآن بدلونکې نه شی وئیلې کیدې، ځکه چې د قرآن دعاګانې هر کله د دعا په توګه تلاوت کړې شی نو هغه د قرآنیت نه وځی، د اشباه والنظائر په کتاب الصلوٰة کښې راغلی دی (القرآن یخرج عن القراٰنیة بقصد الدعاء)، (د قرآن د یو آیت نه که مقصود دعا کول وی نو هغه د قرآنیت نه خارجیږی)

نو د دې بدلون به د قرآن بدلون نه وی او حدیث د ثوبان رضی الله عنه خاص د مونځ نه پس په دعا باندې حمل کول

صحيح نه دی. د دې وجې نه چې زمونږ په زمانه کې ... د مه طريقه رواج شوې ده چې امام د سلام نه پس لاسونه پورته کوی او دعا غواړی او مقتديان ... ور پسی ... دا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وو. بلکه چې ابن القيم په زاد المعاد کښې د دې تصريح کړې ده. بلکه اولی خبره دا ده چې حديث د ثوبان ﷺ عام وګنلې شی په هغه دعا کښې چې په هغې کښې امام خاص له وی او مقتديان آمين وېونکی وی او دا صورت هم په عام افرادو کښې داخل کړې شی (مجموعة الفتاوی ۲۸۴ تا ۲۸۸. مير محمد کتب خانه. کراچی)

(۲) علامه محمد انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی واعلم ان الادعية بهذه الهيئة الكذائية لم تثبت عن النبي ﷺ ولم يثبت عنه رفع اليدين دبر الصلوات في الدعوات الا اقل قليلاً ومع ذلك وردت فيه ترغيبات قولية والامر في مثله ان لا يحكم عليه بالبدعة فهذه الادعية في زماننا ليست بسنة بمعنى ثبوتها عن النبي ﷺ وليست ببدعة بمعنى عدم اصلها في الدين والوجه فيه ما ذكرته في رسالتي نيل الفرقدين ص ... ان اكثر دعا النبي ﷺ كان على شاكلة الذكر لا يزال لسانه رطباً به ويبسطه على الحالات المتواردة على الانسان من الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم ويتفكرون في خلق السموات والارض ومثل هذا في دوام الذكر على الاطوار لا ينبغي له ان يقصر امره على الرفع فان حالة خاصة لمقصد جزئي وهو دعاء المسألة فان خلص احد نفس عن كرب ضاق بها الصدر لا ان الرفع بدعة فقد هدى اليه في قوليات كثيرة و فعله بعد الصلوة قليلاً وهكذا شانه في الاذكار اختار لنفسه ما اختار الله له وبقي اشياء رغب فيها للامة فان التزام احد منا الدعاء بعد الصلوة برفع اليدين فقد عمل بما رغب فيه وان لم يكثر بنفسه فاعلم ذلك اه (فيض الباري ج ... ص ... مكتبه رشيديه. كوئته)

(۳) علامه محمد يوسف بنوری رحمه الله فرمائی تنبيه وايقاظ: وردت احاديث قولية وفعلية في الدعاء دبر الصلوات مطلقاً اي قبل الفراغ عنها وكذا بعد الفراغ عنها وصحت احاديث عامة في ادب الدعاء من رفع اليدين ومسح الوجه بهما بعد الدعاء وصح حديث في تكرير الدعاء ثلاثاً كل مرة برفع اليدين من حديث عائشة عند مسلم.

وهذا كله واضح معروف في محله لا مساغ لانكارها ورد في حديث حبيب ابن سلمة الفهري في (كنز العمال) (ج ... ص ...) لا يجتمع ملا فيدعو بعضهم و يؤمن بعضهم الا اجابهم الله هو دليل للدعاء بهيئة اجتماعية و مظنة قبولها اكثر من دعاء الوحدان. (معارف السنن ج ... ص ... طبع دار التصنيف جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوری ټاون)

د رواج شوې اجتماعی جهری دعا حکم دا حقيقت د حضراتو اکابرينو رحمهم الله په نيزد منلی شوی دی چې د فرضو نه پس په اجتماع سره په جهر سره دعا کول سنت ندی او د قرآن کريم د دعا نه د سری دعا فضيلت ... او په دې باندې د څلورو واړو مذهبونو د امامانو رحمهم الله اجتماع ده. لهذا د ټولو نه ... طريقه ... ده چې امام او مقتديان ټول دې د خپلو خپلو حاجتونو د پاره په آهسته آواز سره په خشوع او خضوع سره خپله خپله دعا وغواړی. داسې چې ټول دعا غواړی نو صورةً به دا اجتماع شی لیکن دا ... مستقل او مقصود ... نه دی

اجتماعی دعا کول سنت ندی لیکن بدعت هم ندی. ... چې د حضرت ... صاحب ... مفصل سره ... اکابرينو رحمهم الله چې د خپلې خپلې زمانې په لحاظ ...

لـدلی دی نو دهغې ذکر ئې هم کړې دې او په هغې باندې ئې رد کړې دې . په آخره کښې مفتی اعظم پاکستان حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله د دې مفاسدو ذکر په تفصیل سره کړې دې.د هغې نه څه عبارت دلته نقل کوو

د دعا غوښتلو اصل اصول قرآن کریم دا بیان کړې دې چې (ادعوا ربکم تضرعا وخفية انه لا يحب المعتدين)

یعنی خپل رب ته درخواست وکړئ په عاجزئ او په زارئ سره په ښکته یعنی په پټ آواز سره.بی شکه الله تعالی د حد نه تیریدونکی نه خوښوی .

په دې آیت کښې د دعا د پاره دوه ادبونه ښودلې شوې دی.یو تضرع یعنی عاجزی او دویم په آهسته آواز سره. او په آخری جمله کښې ئې دا وه وئیل چې کوم خلق د دې ادبونو د دعا خلاف کوی هغوی د حد نه تیریدونکی دی.او الله تعالی داسې خلق نه خوښوی.د دې نه دا خبره معلومیږی چې که امام وی او که مقتدی یا خان له مونځ کوی په هر حال کښې چې وی نو دهغه د پاره د الله تعالی په خپله ښودلې شوې خوښه طریقه دا ده چې د خشوع او خضوع او د عاجزئ او د زارئ سره په رو آواز سره دعا وغواړی.څوک چې د دې نه خلاف کوی هغه د حد نه تیریدونکې دې.او داسې سړې الله تعالی ته نه دې خوښ.او دا ښکاره خبره ده چې په ناخوښه طریقې سره دعا کوونکې د دې مستحق نه دې چې د هغه دعا دې قبوله شی.د الله تعالی د فضل او کرم معامله بیله ده. د همدې وجې نه د امت د څلورو مشهورو امامانو په نیزد دعا کول په پټه او رو آواز سره مستحب او اولی دی.په څلورو مذهبونو کښې یواځې مالکیانو او شافعیانو په خاص شرطونوسره په خینو حالاتو کښې د امام د پاره په جهر سره د دعاکولو اجازت ورکړې دې.هغه دا چې عام مقتدیان ناپوهه او جاهلان وی.د دعا غوښتلو طریقه ورله هم نه ورځی.هغوی ته د ښودنې په غرض دې امام په جهر سره دعا غواړی او مقتدیان دې پرې آمین وائی.او هغه دې هم په دې شرط سره دعا غواړی چې د امام سره نزدې څوک مسبوق نه وی چې هغه په خپل باقی پاتې مونځ کښې مشغول وی.او د احنافو او د حنابله ؤ په نیزد مطلقا د دې اجازت نشته.دا خو چې مفاسدو ته ونه ګورې نو د اصل مسئلې دا حکم دې. او که چیرته موجوده وخت کښې رواج شوی مفاسدو ته وکتلې شی نو په یو مذهب کښې هم د دې اجازت نه شی کیدې.ځینی مفاسد یې دا دی.

۱. چې صرف امام دعا کوی او مقتدیان پرې آمین وائی نو د دې نه داسې صورت جوړیږی چې لکه امام صاحب د الله تعالی او د بندګانو ترمینځه یو واسطه ده.د الله تعالی په دربار کښې که څه وئیل وی نو هغه هم د دوی په واسطې سره کیږی.د دې بدنصیبئ او دمحرومئ څه انتها نشته چې الله تعالی خو د ادنی نه ادنی ته دا اجازت بلکه حکم ورکړې دې چې زما نه بې د څه واسطې نه دعاء غواړه. زۀ به د ټولو دعاء آوره.او مونږ دې یه کښی خامخا واسطه ضروری وګنړو.او په خاص توګه دامام د پاره دا صورت نور هم د ضررناک دې. هغه داسې چې لکه دې د الله تعالی نماینده جوړېدل غواړی

۲. بیا عادت د عامو امامانو دا دې چې د قرآن او د حدیث د عربئ جملو په ذریعه سره دعا غواړی او داسې کول اولی او افضل دی خو دا په هغه وخت کښې چې دوی ئې په معنی باندې پوهیږی. لیکن عام

حالات دا دي چې په خپله امامانو ته معلومه نه وي چې په دې جملو کښې مونږ د الله تعالى نه څه غواړو؟ ددې وجې نه دا دعا غوښتل نوي بلکه دعا لوستل وي. د دې د لوستلو ثواب خو به ورته ضرور ورکول کيږي ليکن تر څو پورې چې په يو مقصد باندې پوهه شوې نه وي او د هغې دپاره نې دعا غوښتې نه وي صرف الفاظ نې لوستي وي نو دهغې مقصد د پاره د دعا قبليدلو حق هم نه لري

غرض د خبرې دا چې د دعا غوښتلو اصل غرض د الله تعالى نه دخپلو حاجتونو دپاره سوال کول دي. يواځې څه کلمې وئيل ندي. او دا هغه وخت کيدې شي چې سړې پوهيږي او دعا غواړي. که چيرې څوک په عربئ باندې پوهيږي يا کم نه کم دا چې د قرآن او د حديث د دعاګانو ترجمه ورله ورځي نو د هغه دپاره خو افضله هم دا ده چې په دې جملو دې دعا وغواړي، او چې څوک پرې نه پوهيږي نو الله تعالى د هر چا په ژبه پوهيږي، په خپله ژبه او په خپلو الفاظو کښې دې دعا وغواړي.

۳ - يو فساد په کښې دا دې چې د شريکو حاجتونو او ضرورتونو نه علاوه دهر سړي خان له يواځې هم څه حاجتونو او ضرورتونه وي. لکه ديو سړي خوئ يا ښځه په سخت مرض کښې مبتلا ده نو دهغه زړه خو په دې کښې مشغول دې چې د دې د پاره دعا وغواړي او امام صاحب خپلې يادې کړې شوې دعاګانې وائي. هغه غريب خامخا که زړه نې وي او که نه وي په دې باندې به آمين وائي. د دې وجې نه مناسبه همدا ده چې هر سړې دې خان خان له يواځې د خپلو خپلو ضرورتونو د پاره چې په کومه ژبه پوهيږي په هغې کښې دې دعا وغواړي.

۴ - د ټولو نه لوئې فساد په کښې دا دې. چې امام په اوچت آواز سره د دعا کلمې وائي او په عامه توګه ډير خلق مسبوقين وي چې د باقي پاتې مونځ په ادا کولو کښې مشغوله وي. د هغوي په مونځ کښې خلل راځي. همدا وجه ده چې د رسول الله ﷺ نه، د صحابهٔ کرامو، تابعينو، تبع تابعينو ﷺ او د دين په امامانو کښې د چا نه هم دا صورت ندې نقل کړې شوې چې د مونځ نه پس دې هغه دعا کوي او مقتديان دې پرې آمين وائي.

خلاصه دخبرې دا شوه چې دا رواج شوې طريقه د قرآن د ښودلې شوې طريقې نه هم خلاف ده او د رسول الله ﷺ او د صحابهٔ کرامو ﷺ د سنتو نه هم خلاف ده. د دې وجې نه په عامو حالاتو کښې ددې نه ځان ساتل پکار دي او امام او مقتدي له ځان ځان له دعا غوښتل پکار دي. خو که په څه خاص موقع باندې چې په هغې کښې دا ذکر کړې شوې مفاسد نه وي او څوک په جهر سره دعا کوي او نور خلق پرې آمين وائي نو په دې کښې هم څه بده خبره نشته (احکام دعا ص ۱۰ تا ۱۳)

د دارالعلوم کراچي د يوې فتوې چې په ۲۸ صفر ۱۴۱۴ هجرئ کښې جاري کړې شوې ده د هغې څه لږه شان حصه دلته نقل کوو

"دې ټولو اکابرينو فقهاء کرامو ﷺ داحاديثو مبارکواودخلورو واړو امامانو د معتبرو کتابونو حوالې ورکړې دي او د فرضو نه پس دعا نې يواځې دا نه چې روا ښودلې ده بلکه سنت اومستحب نې ښودلې ده

او دې اکابرينو ﷺ په دې رسالو کښې داسې واضحه واضحه احاديث مبارکه جمع کړې دي. د کومو نه چې د امام، مقتدي او د ځان له مونځ کوونکي د ټولو د پاره د فرضو نه پس دعا کول سنت ثابتيږي. او چې د

دې ټولو دپاره دا دعا سنت ده نو چې د فرضو نه پس امام او مقتديان په دې سنتو باندې د عمل کولو په وجه دعا کوی نو ضمناً به په خپله اجتماع جوړه شی، لیکن دا اجتماع يو ضمنی څيز دې او روا ده،د دې دپاره ځان له يواځې صريح او مستقل ثبوت غوښتل او د ثبوت نه ترلاسه کیدو په وجه دې ته بدعت ونيل صحيح نه دی،بلکه مخدوم محمد هاشم ټهټهوی رحمه الله د فرضو نه پس چې کومه اجتماعی دعا کيږی د دې په حقله ئې يو رساله ليکلې ده،چې نوم ئې(التحفة المرغوبه في افضلية الدعاء بعد المكتوبه) دې،په دې رساله کښې مخدوم صاحب هغه خلقو له ښه تفصيلی جواب ورکړې دې څوک چې دې اجتماعی دعا ته بدعت وائی.

حضرت اقدس حضرت مفتی رشيد احمد صاحب رحمه الله نه به چې چا د ضميمې د ليک نه پس هم د جهری اجتماعی دعا په حقله پوښتنه کوله نو حضرت رحمه الله به فرمائيل چې په دې کښې اختلاف دې،ځينی عالمان ورته روا وائی او ځينی عالمان ترې نه منع کوی، زه هم د منع کوونکو نه يم،تا ته چې د چا په فتوی باندې اعتماد وی په هغې باندې عمل وکړه.

خپلو خاصو شاګردانو ته ئې همدا تفصيل ښودلې وو چې په داسې مختلف فيه مسئلو کښې مخالف فريق ته بدعتی نه شې ونيلې لکه څنګه چې د هغې بدعت کوونکی ته خلق بدعتی وائی چې د هغې په بدعت کيدو باندې اتفاق شوې وی.

د دې تصريحاتو په رڼا کښې د انصاف لاره دا ده چې اجتماعی جهری دعا دې سنت مستمره يعنی جاری سنت نه ګڼلې کيږی د واجبو په شان دې د دې التزام نه کوی،کوم ځائ کښې چې ذکر کړې شوی مفاسد موندلې شی نو هلته دې دا پريږدی،څکه چې د فقهاء کرامو رحمهم الله د تصريحاتو مطابق که چيرې يو مستحب کار هم د واجبو په شان په التزام سره کيږی نو دغه کار واجب الترک کيږی.

البته په پريښودلو کښې دې له ډيرحکمت او تدبير نه کار واخلی او ښه په قلار قلار دې پريږدی،اول دې څه موده د دعا د شرعی حيثيت او د دعا د غوښتلو دافضلې طريقې تبليغ وکړې شی،بيا چې کله ئې ذهن جوړ شی نو جهری اجتماعی دعا دې کله کله پريږدی،همدغسې دی رو رو افضله طريقه اختيار کړی.

البته ' کله کله د خاص حاجتونو د پاره جهری اجتماعی دعا بې د څه شک او شبهې نه د سنتو نه ثابته ده، بلکه د خاصو حاجتونو نه بغير هم چې کومو ځايونو کښې دا ذکر کړې شوې مفاسد نه وی هلته کله کله د اجتماعی جهری دعا کولو اجازت شته. والله سبحانه وتعالى هو الموفق

باب القراءة والتجويد

په فرضو کښې د فاتحې د لوستلو مستحبه طریقه

سوال زمونږ په علاقه کښې په فرض مونځونو کښې په جهری تلاوت کښې د سورت فاتحې د لوستلو په طریقه کښې اختلاف دې.خینې په هر یو آیت باندې وقف ته ترجیح ورکوی او خینې وصل ته راجح وائی.تاسو راباندې د خپل تحقیق پیرزونې وکړې مهربانی به وی.بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په مونځ کښې د سورت فاتحې په تلاوت کولو کښې د وصل او فصل کولو په حقله مختلف جزئیات موندلې شی.د خینو نه په هر یو آیت باندې د وصل کولو افضلیت معلومیږی او د خینو نه د وصل یعنی په درې ساګانو سره لوستل راجح معلومیږی.لهذا د انصاف او عدل قول دا دې.چې په دواړو طریقو سره لوستل روا دی.د یو صورت التزام او بل صورت ته د سنت نه خلاف وئیل روا نه دی.

او د دلیلونو د کتلو نه پس چې چاته کومه یوه طریقه راجحه معلومیږی نو دهغه د پاره په هغې باندې عمل کول افضل دی.

۱ــ عبدالرزاق عن ابن التیمی عن ابیه ان النبی ﷺ کان یتنفس فی الحمد ثلاث مرات.(مصنف عبدالرزاق ج۲ص۹۳)

۲ــ قال الشیخ العثمانی رحمه الله تحت حدیث تقسیم الصلوة: قال الشیخ ولی الله الدهلوی قدس الله روحه:وروح الصلوة هی الحضور مع الله والاستغراق للجبروت وتذکر جلال الله مع تعظیم ممزوج بمحبة و طمانیة والیه الاشارة فی قوله ﷺ:الاحسان ان تعبدالله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك واشار الی کیفیة تمرین النفس علیها بقوله:قال الله:قسمت الصلوة بینی او بین عبدی نصفین و لعبدی ما سال فاذا قال العبد:(الحمدلله رب العلمین) قال الله:(حمدنی عبدی) الحدیث فذلك اشارة الی الامر بملاحظة الجواب فی کل کلمة فانه ینبه للحضور تنبیها بلیغا.

قال الحافظ ابن القیم رحمه الله :فاذا قال:(الحمدلله رب العلمین) وقف هنیهة یسیرة جواب ربه له بقوله:(حمدنی عبدی) فاذا قال(الرحمن الرحیم) انتظر الجواب بقوله:(اثنی علی عبدی)فاذا قال:(ملك یوم الدین) انتظر جوابه بمجدنی عبدی فیالذة قلبه وقرة عینه وسرور نفسه ابقول ربه:(عبدی)ثلاث مرات فوالله لو لا ما علی القلوب من دخان الشهوات وغیم النفوس لا ستطیرت فرحا و سرورا بقول ربها و فاطرها و معبودها:

حدلی عہدی ہو انثی علی عہدی ہو مہدلی عہدی۔ (فتح الملہم ج ۲ص ۲۰)

۳—قال العلامة السید محمد انور شاہ الکشمیری رحمہ اللہ: ویدل حدیث الباب ای حدیث ام سلمة رضی اللہ عنہا علی الوقف علی کل ایة ویقال لہذہ الاوقاف اوقاف النبی ﷺ والوقف علی ہذہ الاوقاف مستحب۔ (العرف الشذی ص ۴۰۸)

٤ —عن ابی عمرو انه کان یسکت علی راس کل ایة و کان یقول: انه احب الی اذا کان راس ایة ان یسکت عندها وقد وردت السنة ایضا بذلك عن رسول الله ﷺ عند استعماله التقطیع. کما حدثنا خلف بن ابراهیم بن محمد المقری قال: حدثنا احمد بن محمد المکی قال: حدثنا علی بن عبد العزیز قال: حدثنا ابو عبید قال: حدثنی یحیی بن سعید الاموی عن ابن جریج عن ابن ابی ملیکة عن ام سلمة رضی اللہ عنہا قال: کان رسول الله ﷺ یقطع قراءته (بسم الله الرحمن الرحیم (الحمد لله رب العلمین * الرحمن الرحیم * مالك یوم الدین)۔ (المکتفی ص ۳)

٥ —و حدثنا محمد بن احمد بن علی البغدادی قال: حدثنا محمد بن القاسم النحوی قال: حدثنا سلیمان قال: حدثنا محمد بن سعدان قال: حدثنا یحیی بن سعید الاموی عن ابن جریج عن عبد الله بن ابی ملیکة عن ام سلمة رضی اللہ عنہا ان النبی ﷺ کان اذا قرا قطع قراءته ایة ایة یقول: بسم الله الرحمن الرحیم. ثم یقف ثم یقول: الحمد لله رب العلمین ثم یقف ثم یقول: الرحمن الرحیم. ثم یقف ثم یقول: ملك یوم الدین ولهذا الحدیث طرق کثیرة وهو اصل فی هذا الباب وبالله التوفیق۔ (المکتفی ص ۴)

٦ —و حدیث ابی هریرة رضی اللہ عنہ عن النبی ﷺ: قسمت الصلوة الی اخرہ یؤذن ان فی السورة ثلاثة تمامات وان وقف علی راس کل ایة من هذه السورة علی مراد التقطیع والترتیل لحسن۔ وقد وردت السنة بذلك عن رسول الله ﷺ: دثنا محمد بن احمد بن علی الکاتب قال: حدثنا محمد بن القاسم قال: حدثنا سلیمان بن یحیی الضبی قال: حدثنا محمد بن سعدان قال: حدثنا یحیی بن سعید الاموی عن ابن جریج عن عبد الله بن ابی ملیکة عن ام سلمة رضی اللہ عنہا ان النبی ﷺ کان اذا قرا قطع قراءته ایة ایة یقول: بسم الله الرحمن الرحیم. ثم یقف ثم یقول: الحمد لله رب العلمین ثم یقف ثم یقول: الرحمن الرحیم. ثم یقف ثم یقول ملك یوم الدین۔ (المکتفی ص ۳)

وقال الشیخ محمد المکی رحمہ اللہ: وفی المرعشی نقلا عن بعضهم ان المراد بالوقف فی حدیث ام سلمة رضی اللہ عنہا السکت لان الوقف والسکت والقطع عبارات یطلقها المتقدمون غالبا ویراد بها الوقف واما المتاخرون ففرقوا بین کل منها وفیه ایضا فی المقالة الرابعة: قال فی النشر والصحیح ان السکت مقید بالسماع

والنقل فلا يجوز الا فيما صحت الرواية به لمعنى مقصود بذاته كما سياتى بيانه فى التلميه الخامس فى بيان السكت۔وقيل يجوز فى رؤس الاى مطلقا اى سواء صحت الرواية به ام لا حال الوصل كقصد البيان اى بيان ابهاروس الاى۔وبعضهم حمل الحديث الوارد على ذلك اهوفى المكتفى لابى عمرو الدانى قال: حدثنا فارس احمد المقرى قال:حدثنا جعفر بن محمد الدقاق قال:حدثنا عمر بن يوسف قال:حدثنا الحسين بن هيرك قال:حدثنا ابو حمدون قال:حدثنا اليزيدى عن ابى عمرو انه كان يسكت عند راس كل اية۔وكان يقول:انه احب الى اذا كان راس اية ان يسكت عندها۔و قد وردت السنة بذلك عن رسول الله ﷺ عند استعماله التقطيع كما حدثنا خلف بن ابراهيم بن محمد المقرى قال:حدثنا احمد بن محمد المكى قال:قال حدثنا على بن عبدالعزيز قال:حدثنا ابو عبيد قال:حدثنا يحيى بن سعيد الاموى عن ابن جريج عن ابن ابى مليكة عن ام سلمة رضى الله عنها قالت:كان رسول الله ﷺ يقطع قراء ته يقول:بسم الله الرحمن الرحيم: ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝﴾ ومرقوم فيه على راس كل اية نقطة حمراء محل قوله ثم يقف اھ

اذا عرفت هذا فاعلم ان العلماء رحمهم الله اختلفوا فى الوقف على رؤس بعض الاى فمنهم من اختار الوقف عليها والابتداء عما بعدها لحديث ام سلمة رضى الله عنها المتقدم۔ولم ينظر الى عدم تمام الكلام كالوقف على قوله:(لعلكم تتفكرون) راس الاية۔والابتداء بقوله:(فى الدنيا والاخرة)او على قوله(ارايت الذى ينهى)راس الاية۔والابتداء بقوله:(عبدا اذا صلى)ولا الى ايهام الوقف او الابتداء معنى فاسدا لا يليق كالوقف على قوله:(فويل للمصلين)والابتداء بقوله:(الذين هم عن صلاتهم)او على قوله:(الا انهم من افكهم ليقولون)والابتداء بقوله:(ولد الله)وهذا وما شابهه لا يخفى ما فيه فتامل۔(نهاية القول المفيد ص ۳۰،۳۱)والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۸ ربیع الثانی ۱۴۱۵ هجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿وَمَا تَوۡفِيۡقِيۡۤ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ﴾

مد التعظیم فی اسم الله العظیم

په تکبیر کښې په اسم جلاله باندې د مد کولو حکم

- د فقهاء کرامو او د قراءت د امامانو تصریحات
- د تعظیم د مد حقیقت او د دې د خان نه د جوړولو دلیلونه.



مد التعظیم فی اسم الله العظیم

د تکبیر د اوږدولو کوم رواج چې دی دا غلط دی

سوال: تاسو دا وائې چې نن صبا اذان ویونکی، او امامان په اذان او اقامت او د مونځ په تکبیراتو کښې چې په اسم جلاله (الله) باندې کوم مد کوی نو دا صحیح نه دې. ستاسو په خائ کښې معمول هم دا دې چې په اذان او اقامت کښې په اسم د جلال باندې مد نه کیږی. لیکن د خینی حضراتو دا وینا ده چې دا مد د تعظیم دې او خینی وائی چې د تجوید قواعد د قرآن سره خاص دی، په غیر د قرآن کښې د قواعدو مطابق لوستل لازمی نه دی، ذکر کړې شوی دواړه قولونه تر کوم حده پورې صحیح دی؟ د دلیلونو سره تحقیق راته ولیکئ ستاسو به ډیره مهربانی وی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دا دواړه قولونه غلط دی وجوهات ئې دا دی:

۱- اذان، اقامة او تکبیرات د انتقال دا ټول د الله تعالی لخوا نازل شوې دی. په دې کښې او په قرآن کریم کښې د وقف د حالت نه بغیر الله تعالی په بل یو خائ کښې هم په خپل اسم مبارک باندې مد ندې نازل کړې. آیا معاذ الله! الله تعالی ته د خپل تعظیم طریقه نه وه معلومه؟ یا دا چې رسول الله ﷺ د الله تعالی په نازل کړې شوی حکم او پیغام باندې پوهه نه شو یا ئې د پوهې باوجود نعوذ بالله خیانت وکړو او امت ته ئې دا اهم پیغام و نه رسولو؟

۲- قرآن مجید کښې د عهد د پوره کولو حکم ورکوی او فرمائی ﴿وَمَنۡ اَوۡفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيۡهُ

﴿ أَلَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾

د عهد د پوره کولو د تعظیم د ښکاره کولو د پاره ئې د «علیه» د «ها» زیر په پیش باندې بدل کړو. دې د پاره چې په اسم جلال کښې تفخیم او تعظیم پیداشی او د اسم د تعظیم نه تعظیم د مسمی ظاهر شی. او تعظیم د مسمی کوم چې آمر دې دا مقتضی دې تعظیم د امر لره. دحرکت د بدلون په نسبت د دې اطاله «یعنی مد پرې راوستل یعنی اوږدول» ډیر زیات آسان وو. خو سره د دې نه ئې هم د تعظیم د پاره د حرکت بدلون وکړو لیکن د اطالې حکم ئې و نه کړو. که چیرې مد د تعظیم څه څیز وې نو دا د هغې ډیره اهمه موقع وه

﴿ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴾ کښې د «فیه» په «ها» باندې په اصل کښې طبعی مد هم نشته. خو د دې باوجود ئې دلته مد د توهین «سپکاوی» نازل کړو لیکن مد د تعظیم ئې د طبعی مد په ځایونو هم په ټول قران کښې چیرته هم ندې نازل کړې.

۳ - د تجوید د قواعدو تعلق د عربۍ لغت سره دې. داسې نه ده چې د دې تعلق دې یواځې د قرآن قراءة سره وی. قرآن د دې قواعدو مطابق ځکه لوستلې شی چې قرآن په عربۍ ژبه کښې نازل شوې دې ﴿ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا ﴾. ﴿ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ ﴾.

د عامیانو په لغت کښې خو د تجوید لحاظ نه ساتلې کیږی. په هغې کښې خو هغوی د حرفه پورې بدلون راولی نو د صفت بدلول خو به په کښې په اولی طریقې سره روا وی. لیکن قرآن، مونځ. دعاګانې او ذکرونه. دا خو د منقولاتو د ډلې نه دی په دې کښې بدلون کول صحیح نه دی. د دې وجې نه چې د تجوید د قاعدو نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ به دعاګانې او ذکرونه د دې قاعدو مطابق لوستل. دا قاعدې وضع کړې شوې د دې دپاره دی چې قرآن او دعاګانې او ذکرونه د دې قاعدو مطابق ولوستلې شی. که په دې کښې څوک څه بدلون کوی نو دا لازم دی د سنت طریقې څخه مخالفت لره

۴ اذان. اقامت او مونځ خو د اسلام د شعائرو یعنی نښو نښانو نه دی. په لاوډ سپیکر باندې په اوچت اواز سره په الله باندې مد کول لکه چې د دې خبرې اعلان کول دی چې رسول الله ﷺ به د مد سره لوستلو او د دې طریقې تعلیم به ئې ورکولو. دا په رسول الله ﷺ باندې عملاً دروغ تړل دی

۵ دا دواړه قولونه د پنځلسمې صدۍ یاد دې نه لږ د وړاندې زمانې د قاریانو دی. خوارلسمې سوه کاله پورې د دې څه تصور نه وو

: خوارلسمې صدۍ په شروع یعنی په ۱۳۰۵ هجری کښې قاری محمد مکی رحمه الله په کلمې د توحید کښې د لا نافیه مد لره په مد د تعظیم سره تعبیر کړې دې

ونصه: احدهما مد تعظيم وهو في لا النافية في كلمة التوحيد لا اله الا الله. (نهاية القول المفيد ص ۳)

ددې مطلب ښکاره دې چې په عام کلام کښې په نفی کښې د مبالغې دپاره په (لا) نافيه باندې چې کوم مد لوستلې شی نو چې کله دا د کلمې د توحيد په (لا) باندې لوستلې کيږی د دې نه د الوهيت د غير الله په نفی کښې مبالغه راغله. د کومې نه چې د الله تعالى عظمت او لونی ښکاره شوه نو د دې وجې نه دوی په کلمې د توحيد کښې د(لا) مد لره په مد د تعظيم سره تعبير کړو. په اسم د جلال کښې ئې د مد د تعظيم قول ندې کړې بلکه په دې باندې ئې سخت رد کړې دې

۲ - فقهاء کرامو رحمهم الله د تکبير تحريمه او د تکبيرات انتقال په حقله په بيان کښې تصريح کړې ده چې په (الله اکبر) کښې نه په همزتينو باندې مد ښته نه په (لام) باندې او نه په (ها) باندې او نه په (با) باندې. بلکه په دې کښې ئې په ځينو ځايونو باندې په مد کولو کښې دمونځ د فاسد کيدلو حکم کړې دې.

۷ - ددې جهالت او د بيماری د عام کيدلو د تولو نه لويه د فساد خبره دا ده. چې کله کله د جماتونو امامان په تکبير د تحريمې کښې هم مد کوی، او مقتديان د امام د تکبير د تحريمی نه د وزګاريدو نه وړاندې وزګاراوفارغ شی. د کومې نه چې د دوی اقتداء نه صحيح کيږی او په تکبيراتو د انتقال کښې په عامه توګه بودا ګان او ضعيفه مقتديان وړاندې تکبيرتحريمه ختم کړی. چې دا د امام د تابعدارې د حکم نه خلاف دی. د دې مفاسد د ګناه بوج به په هغه امامانو باندې وی کوم چې د ځان نه جوړه شوې طريقه اختياروی او د خلقو مونځونه خرابوی

نصوص الفقهاء والقراء رحمهم الله:

۱ـــ حدثنا ابو بكر قال: حدثنا وكيع عن سفيان عن عمر بن سعد بن ابى حسين المكى ان مؤذنا اذن وطرب فى اذانه فقال له عمر بن عبد العزيز: اذن اذانا سمحا والا فاعتزلنا. (مصنف ابن ابى شيبة ج ص ۳)

۲ـــ وقال الامام الكاسانى رحمه الله: ومنها ترك التلحين فى الاذان لما روى ان رجلا جاء الى ابن عمر رضي الله عنه فقال: انى احبك فى الله تعالى: فقال ابن عمر: انى ابغضك فى الله تعالى فقال: لم؟ قال: لانه بلغنى انك تغنى فى اذانك يعنى التلحين اما التفخيم فلا بأس به لانه احدى اللغتين. (بدائع الصنائع ج ص ۳)

۳ـــ وقال الامام قاضيخان رحمه الله: ولا بأس بالتطريب فى الاذان وهو تحسين الصوت من غير ان يتغير فان تغير بلحن او مد او ما اشبه ذلك كره وكذلك قراءة القرآن وقال شمس الائمة الحلوانى رحمه الله: انما يكره ذلك فيما كان من الاذكار اما فى قوله حى على الصلوة حى على الفلاح فلا بأس فيه بادخال مد و نحوها (الخانية بهامش الهندية ج ص ۳)

۴ـــ وقال الامام الزيلعى رحمه الله: واما اللحن المراد به" التطريب فلما روى عن ابن عباس رضي الله عنه انه قال: كان

لرسول الله ﷺ مؤذن يطرب فنهاه عن ذلك و روى ان رجلا قال لابن عمر رضی اللہ عنہ: انى لاحبك فى الله فقال له: انا ابغضك فى الله انك تتغنى فى اذانك اى تطرب و يحتمل ان يكون مراد صاحب الكتاب الخطاء فى الاعراب و هو مكروه ايضا و كذا لا يحل الترجيع فى قراءة القران و لا التطريب فيه و لا يحل الاستماع اليه لان فيه تشبها بفعل الفسقة فى حال فسقهم و هو التغنى. (تبيين الحقائق ج ۱ ص ۹۰)

۵ — وقال ايضاً: (و كبر بلا مد) لما روينا و لما روى عن عبدالله بن ابزى انه قال: صليت خلف رسول الله ﷺ فكان لا يتم التكبير اى لا يمده و كان ابراهيم النخعى يقول: التكبير جزم و يروى خذم بالخاء و الذال اى سريع. (تبيين الحقائق ج ۱ ص ۱۱۳)

۶ — وقال العلامة الشلبى رحمہ اللہ: (قوله و لحن) قال الشيخ باكير رحمہ اللہ قوله: بلا ترجيع و لحن يقال: لحن فى القراءة طرب و ترنم ماخوذ من الحان الاغانى فلا ينقص شيئاً من حروفه و لا يزيد فى اثنائه حرفا. كذا لا يزيد و لا ينقص من كيفيات الحروف كالحركات و السكنات و المدات و غير ذلك لتحسين الصوت فاما مجرد تحسين الصوت بلا تغيير فانه حسن اهـ (حاشية الشلبى على التبيين ج ۱ ص ۹۰)

۷ — وقال الامام ابن الهمام رحمہ اللہ: و يدخل فى الخيار ايضا من لا يلحن الاذان لانه لا يحل و تحسين الصوت مطلوب و لا تلازم بينهما و قيد الحلوانى عما هو ذكر فلا باس بادخال المد فى الحيعلتين فظهر من هذا ان التلحين هو اخراج الحرف عما يجوز له فى الاداء و هو صريح فى كلام الامام احمد رحمہ اللہ فانه سئل عنه فى القراءة فمنعه فقيل له: لم؟ قالت: ما اسمك؟ قال: محمد قال له: ايعجبك ان يقال لك موحامد؟ قالوا و اذا كان لم يحل فى الاذان ففى القراءة اولى و حينئذ لا يحل سماعها ايضا. (فتح القدير ج ۱ ص ۲۲۱)

۸ — وقال الامام صدر الشريعة رحمہ اللہ: و يترسل فيه اى يتمهل بلا لحن و ترجيع لحن فى القراءة طرب و ترنم ماخوذ من الحان الاغانى فلا ينقص شيئا من حروفه و لا يزيد فى اثنائه حرفا و كذا لا ينقص و لا يزيد من كيفيات الحروف كالحركات و السكنات و المدات و غير ذلك لتحسين الصوت و اما مجرد تحسين الصوت بلا تغيير لفظه فانه حسن. (شرح الوقاية ج ۱ ص ۱۳۰)

۹ — وقال العلامة ابن عابدين رحمہ اللہ: (و عن مد همزات) اى همزة الله و همزة اكبر اطلاقا للجمع على ما فوق الواحد فانه يصير استفهاما و تعمده كفر فلا يكون ذكرا فلا يصح الشروع به و تبطل الصلوة به لو حصل فى اثنائها فى التكبيرات الانتقالات و (باء اكبر) اى و خالص عن مد باء اكبر لان يكون جمع كبر و هو الطبل فيخرج عن معنى التكبير او هو اسم للحيض او للشيطان فتثبت الشركة فتفسد الصلوة كما قال الناظم. (رد المحتار ج ۱ ص ۴۸۰)

۱۰ ــ وقال ایضا: (اذ مد احد الهمزتین مفسد الخ) اعلم ان المد ان کان فی الله فاما فی اوله او وسطه او اٰخرہ فان کان فی اوله لم یصر به شارعا و افسد الصلوٰۃ فی اثنائها ولا یکفر ان کان جاهلا لانه جازم والا کفار للشك فی مضمون الجملة وان کان فی وسطه فان بالغ حتی حدث الف ثانیة بین اللام والهاء کره قیل: والمختار انها لا تفسد ولیس ببعید وان کان فی اٰخرہ فهو خطاء ولا یفسد ایضا وقیاس عدم الفساد فیهما صحة الشروع بهما. (رد المحتار ج، ص)

۱۱ ــ وقال ایضا: تحت (قوله الترجیع بالقرآن والاذان الخ) وفی اللحیرة وان کانت الالحان لا تغیر الکلمة عن وضعها ولا تؤدی الی تطویل الحروف التی حصل التغنی بها حتی یصیر الحرف حرفین لتحسین الصوت وتزیین القراءة لا یوجب فساد الصلوٰۃ وذلك مستحب عندنا فی الصلوٰۃ وخارجها وان کان یغیر الکلمة من موضعها یفسد الصلوٰۃ لانه منهی وانما یجوز ادخال المد فی حروف المد واللین والهوائیة والمعتل اھ (رد المحتار ج، ص)

۱۲ ــ وفی الهندیة: ویکره التلحین و هو التغنی بحیث یؤدی الی تغیر کلماته. کذا فی شرح المجمع لابن الملك وتحسین الصوت للاذان حسن ما لم یکن لحنا. کذا فی السراجیة. (عالمگیریة ج، ص)

۱۳ ــ وقال الملا علی القاری رحمہ اللہ: (ولا یلحن) من باب التفعیل ای لا یتغنی فیها بان نقص من الحروف او من کیفیاتها وهی الحرکات والسکنات او زاد فی شیء منهما واما مجرد تحسین الصوت فهو حسن وروی ان رجلا جاء الی ابن عمر رضی اللہ عنہ فقال: انی احبك فی الله فقال: انی ابغضك فی الله قال: لم؟ قال: بلغنی انك تغنی بلحن فی اذانك وفی الخلاصة: ولا باس بالتحسین من غیر تغن فان تغنی بلحن او مد او ما اشبه ذلك یکره وکذا لو قراء القرآن قال شمس الائمة الحلوانی رحمہ اللہ: هذا فی الاذکار ای الواردة فی الاذان وکذا فی غیرہ من الاذکار قال: فاما قوله حی علی الصلوٰۃ حی علی الفلاح فلا باس بادخال مد ونحوہ علیه انتهی وفیه بحث لا یخفی. (شرح النقایة ج، ص)

۱٤ ــ وقال ایضا: (بلا مد الهمزة والباء) لان مد الهمزة فی الجلالة وفی اکبر استفهام مفسد للصلوٰۃ وعمدہ کفر واما مد الباء فیصیر اللفظ به اکبار جمع کبر بفتح فسکون وهو الطبل وقیل: اسم للشیطان فیفسدها وعمدہ کفر وقیل: لا یفسدها لانه اشباع وهو لغة قوم واما مد الالف فی اٰخر الجلالة فلا یضر للصلوٰۃ الا انه لا یجوز زیادۃ علی قدر الف فی الوصل وعلی ثلث الفات فی الوقف وجزم الهاء خطاء. (شرح النقایة ج، ص)

۱۵ ــ وقال ابو عبدالله محمد الحطاب رحمہ اللہ: فلمد ویطلق شیء لم ار من نبه علیه. وهو اشباع مد الف الجلالة التی بین اللام والهاء فانه لیس ثم سبب لفظی یقتضی اشباع مدها فی الوصل اما اذا وقف علیها کما

في امر الاذان والاقامة فالمد حينئذ جائز لالتقاء الساكنين.(مواهب الجليل ج۱ ص۳۸)

۱۶ ــ وقال الملا علي القاري رحمه الله: وكذا الزيادة في المد الاصلي والطبعي على حد العرفي من قدر الف بان يجعله قدر الفين او اكثر كما يفعله اكثر الائمة من الشافعية والحنفية في الحرمين الشريفين في الحرم المحترم فانه محرم قبيح لاسيما وقد يقتدى بهم بعض الجهلة ويستحسن ما صدر عنهم من القراءة.(المنح الفكرية ص۳)

۱۷ ــ وقال الشيخ محمد المكي رحمه الله: فما يفعله بعض الائمة المساجد واكثر المؤذنين من الزيادة في المد الطبعي عن حده العرفي اي عرف القراء فمن اقبح البدع واشد الكراهة لاسيما وقد يقتدى بهم بعض الجهلة من القراءة.(نهاية القول المفيد ص۳۱)

په آخری دوه نصونو کښې د پنځلسمې صدئ دوو قاريانو دا احتمالات وړاندې کړې دی.

۱ - دا منع په غير د اسم د جلال کښې ده

۲ - دا عبارت د حرمينو شريفينو د امامانو د عبارت سره متعلق دې.

۳ - د اصلی مد نه د زياتوالی نه هغه زياتوالې مراد دې چې په هغې کښې سخته غلطی.او زياتوالې او د حد نه تيريدل وی.

دا احتمالات غير ناشئه بين الدليل او بطلان دی.که د انشاء د احتمالاتو ميدان دومره فراخه کړې شی نو په دنيا کښې به چيرته يو دليل هم روغ پاتې نه شی او چيرته يوه دعوی به هم ثابته پاتې نه شی.والقول المستلزم الباطل باطل

د پنځلسمې صدئ نه وړاندې دا عمل يواځې په جهالت د مبنی کيدو نه کبله هم صرف عملی بدعت وو.خو افسوس د چې په پنځلسمه صدئ کښې د دې په جواز بلکه په استحباب باندې دلائل جوړيدل شروع شو.په دې عمل سره دا جهالت او عملی بدعت د اعتقادی بدعت په صف بندې بدل شو

د پنځلسمې صدئ د ځان نه جوړ شوی دليلونه

۱ - حضراتو محدثينو او فقهاء کرامو رحمهم الله دا تصريح کړې ده چې په موسّع کښې دې تکبيرات انتقال د انتقال په قدر سره اوږد کړې شی

جواب په تکبيراتو د انتقال کښې د حرکت کولو او د تکبير د شروع او د ختمولو د توافق مطلب دا دی چې په حرکت کښې دې د ... نه کږو وحشتی شی. و ... تکبير ... دې د ... نه د صحت منډ ... د ... دا څه کړانه نده.او معدور تري ... دی هغه دی : حرکت ... سره نه تکبير شروع کړی او په صحيحه طريقه دې ... د مد نه تکبير اووائی ... چې هغه ...

ځایٔ کښې هم ختم شی نو ختم شوې به وی

۲ . تفسیر اتقان. المخ الفکریه. النشر. نهایة القول المفید او مواهب الجلیل کښې دی چې د مد معنوی اسباب درې دی دعاء کول. فریاد کول او په نفی کښې مبالغه کول. او اذان هم دعا ده.

جواب اذان دعا نده بلکه عامه ندا یعنی اعلان دې

۳ . د دارالعلوم کراچئ نه په البلاغ جمادی الثانیه ۱۴۱۹ هجریٔ کښې چاپ شوې لیکنه چې مکمله نقل کولې شی

د فقهاءکرامو رحمهم الله د لاندینو عبارتونو نه دا خبره معلومیږی چې په اذان کښې په لفظ د الله کښې لام رابنکل روا دی او قاریانو حضراتو هم د مد په اسبابو کښې په مد تعظیمی کښې د لفظ د الله مد شمارلې دې. لکه

۱- حضرت اقدس قاری فتح محمد صاحب رحمه الله د زیات نه زیات د اووو الفونو په قدر د رابنکلو اجازت لیکلې دې. دغه شان به مد متصل هم د پنځو الفونو په قدر رابنکلې کیدې شی. د دې ټولو خبرو نه دا نتیجه راوځی چې که د لفظ الله لام هم د پنځو الفونو په قدر رابنکلې شی نو صحیح دې بلکه د زیات نه زیات د اووو الفونو په قدر هم د رابنکلو اجازت شته دې.

۲ - فی فتح القدیر: ومد لام الله صواب. (ج۱،ص۲۸۸)

۳ - هکذا ایضا فی الهندیة. (ج۱،ص۴۳)

٤ - وفی نهایة المراد فی شرح هدیة ابن العماد الحنفی: ولو مد لام الله لحسن ما لم یخرج عن حدها کما فی التبیین (ص۲۸۰)

۵ - وفی تبیین الحقائق: وان کان المد فی لام الله لحسن ما لم تخرج عن حدها. (ج۱،ص۱۲)

٦ - وفی فتاوی الرملی بهامش الفتاوی الکبری: وفی التهذیب: ولو مد التکبیر بین اللام والهاء فی کلمة الله یجوز. (ص۳)

۷ - وفی الاذکار للنووی: واعلم ان محل المد بعد اللام من الله ولا یمد فی غیره (ص۲)

۸ - وفی زاد المحتاج بشرح المنهاج: ولا تضر زیادة لا تمنع الاسم ای اسم التکبیر کالله الاکبر بزیادة اللام لانه لفظ یدل علی التکبیر وعلی زیادة مبالغة فی التعظیم. (ج۱،ص۳۷)

۹ - وهکذا ایضا فی مغنی المحتاج. (ج۱،ص۱۵)

۱۰ - وفی مفتاح الکمال شرح تحفة الاطفال للمقری فتح محمد رحمه الله:

د مد په اسبابو کښې دویم نمبر تعظیم یعنی د شان لوئی ښکاره کول دی او دا په لفظ د الله کښې

کبیری.په دې کتبي فقهاء کرامو [illegible] د اوږو الفونو په قدر رابنکل صحیح بنودلې دی (ص ۲۲)

۱۱ - وفي فتح الجواد لابن حجر المكي: ولو كيا زيادة مد الالف التي بين اللام والهاء الى حد لا يراه احد من القراء فيما يظهر. (ج.ص)

۱۲ - وفي نهاية المحتاج الى شرح المنهاج للشيخ محمد بن ابي العباس الرملي: ولو زاد في المد على الالف التي بين اللام والهاء الى حد لا يراه احد من القراء وهو عالم بالحال فيما يظهر ضر. (قوله لا يراه احد من القراء) اى في قراءة غير متواترة اذ لا يخرجه ذلك عن كونه لغة وغاية مقدار ما نقل عنهم على ما نقله ابن حجر سبع الفات وتقدر كل الف بحركتين وهو على التقريب ويعتبر ذلك بتحريك الاصابع متوالية متقاربة للنطق بالمد. (ج.ص)

۱۳ - وهكذا ايضا في حواشي الشرواني على تحفة المحتاج بشرح المنهاج للعلامة ابن قاسم العبادي. (ج.ص)

۱۴ - وفي روضة الطالبين للنووي: وان لا يقصر التكبير بحيث لا يفهم ولا يمططه بان يبالغ في مده بل يأتي به والاولى فيه الحذف على الصحيح وعلى الشاذ المد اولى (ج.ص)

۱۵ - وفي مواهب الجليل شرح مختصر خليل لابي عبدالله محمد الحطاب: قلت ويبقى شيء لم ار من نبه عليه وهو اشباع مد الف الجلالة التي بين اللام والهاء فانه ليس ثم سبب لفظي يقتضي اشباع مدها في الوصل اما اذا وقف عليها كما في آخر الاذان والاقامة فالمد حينئذ جائز لالتقاء الساكنين نعم ذكر ابن الجزري في النشر في باب المد والقصر ان العرب تمد عند الدعاء والاستغاثة وعند المبالغة في نفي الشيء ويمدون ما لا اصل له بهذه العلة انتهى. (ج.ص)

۱۶ - وفي كشاف القناع عن متن الاقناع للشيخ منصور بن يونس الحنبلي: ولا تضر زيادة المد على الالف بين اللام والهاء لانها اى زيادة المد اشباع لان اللام ممدودة فغاية انه زاد في مد اللام ولم يأت بحرف زائد وحذفها اى حذف زيادة المد اولى لانه يكره تمطيطه اى التكبير. (ج.ص)

۱۷ - وفي كتاب الفروع للامام محمد بن مفلح الحنبلي: ولا يضر لو خلل الالف بين اللام والهاء لانه اشباع وحذفها اولى لانه يكره تمطيطه. (ج.ص)

۱۸ - وفي الحاشية: قوله: والزيادة على التكبير قيل: تجوز وقيل تكره انتهى وذلك مثل قوله: الله اكبر كبيرا او الله اكبر واجل او اعظم ونحوه احدهما يكره قطع به في الرعايتين والحاوي الصغير وقدمه في الحاوي الكبير والقول الثاني يجوز قال في المذهب ومسبوك الذهب جاز ولم يستحب قال ابن تميم لم يستحب قال في المغني والشرح وشرح ابن رزين وغيرهم: لو قال ذلك لم يستحب نص عليه وصحت الصلاة فكلامهم محتمل

للقولين وقال المجد في شرحه: لو قال ذلك صحت صلاته ولم يذكر كراهة ولا غيرها. (ج، ص۳)

۱۹- وفي كشف المخدرات للعلامة زين الدين عبد الرحمن البعلي ثم الدمشقي: وجهر المصلي بها وبكل ركن وواجب بقدر ما يسمع نفسه فرض وتنعقد ان مد اللام. لا ان مد همزة اكبر. او قال: اكبار. او الاكبر. (ص۸)

۲۰- وفي كوثر المعاني الدراري في كشف خبايا صحيح البخاري للعلامة محمد الخضر والحكمي الشنقيطي: الله على بلال فانه اندى صوتا منك اي اقصد في المد والاطالة والاسماع ليعم الصوت ويطول امد التاذين فيكثر الجمع ويفوت على الشيطن مقصوده من الهاء الادمي من اقامة الصلاة في جماعة. (ج، ص۳۳)

۲۱- وفي فتح الله بخصائص اسم الله للعلامة موسى الروحاني: وتوضيح المقام ان المد في الكبير لا يخلو اما ان يكون في اوله او وسطه او اخره فان كان في اوله كان خطاء ولكن لا تفسد الصلوة وقال بعض مشائخنا: يوهم الكفر وان كان في اوسطه فالصحيح انه لا يفسد الصلوة وان كان في آخره فهو خطا لكن لا يفسد ايضاً. (ص۲۰۰)

۲۲- وقد جاء في كتاب تكمين المد للعلامة مكي بن ابي طالب ما هو اوسع من ذلك:

فصل في ان المد لا يحصر وان تقديره بالالفات للتقريب على المحدثين: والتقدير عند المد بالالفات انما هو تقريب على مبتدئين وليس على الحقيقة. لان المد انما هو فتح الفم بخروج النفس مع امتداد الصوت وذلك قدر لا يعلمه الا الله ولا يدرى قدر الزمان الذي كان فيها المد للحرف ولا قدر النفس الذي يخرج مع امتداد الصوت في حيز المد الا الله تعالى.

فمن ادعى قدر المد حقيقة فهو مدعي علم الغيب ولا يدعي ذلك من له عقل وتمييز وقد وقع في كتب القراء التقدير بالالف والالفين والثلاثة على التقرب للمتعلمين. الا ترى انهم حين ارادوا التحقيق للمد ذكروا انه لا يحكمه الا المشافهة. وقسمه بعضهم على خمس رتب وعلى اربع رتب وبعضهم على ثلاث رتب ولم يقل احد من القراء والنحويين ان المد يحصر في قدر الف وقدر الفين وانه لا يكون اكثر ولا اقل هذا لم يقله احد الا ترى ان ابا اسحاق الزجاج قال: لو مددت صوتك يوما وليلة لم يكن الا الفا واحدا

الا ترى الى قول سيبويه في حروف اللين: هي حروف المد التي تمد بها الصوت وتلك الحروف الالف والياء والواو وقد ذكر ان الصوت يمدها ولم يحد مقدار المد قال: ليس شيء امد للصوت منها يعني الالف والياء والواو فاطلق المد ولم يحصر وقوله في كتابه هذا اشياء كثيرة قد جمعتها في غير هذا الكتاب كلها باطلاق المد من غير حصر ولا مقدار وكيف يحصر النفس ومد الصوت وذلك قدر لا يعلمه الا الله عز وجل» (تمكين المد في آتي و

آمر وآدم للعلامة مكي بن ابي طالب القيسي)

فصل:(في الرد على من ادعى ان تقدير المد بالالفات على الحقيقة)

ويقال لمن ادعى ان المد على قدر الف وقدر الفين حقيقة: لو حلف رجل بصدقة ماله او بعتق عبدة او بطلاق امراته انه يقدر ان يمد (دآبة) مثل (حاميم) قال: (ان كان حلف) انه يقدر ان يمد (آمن) نصف مد (جاء) حقيقة او حلف انه يقدر ان يمد (آدم) ثلث مد لقوله تعالى: (وقالوا االهتنا خير ام هو) او حلف انه يمد (آلهتنا) بثلاثة امثال مد مثل (آدم وآتى) هل هو حانث ام لا؟ فلا بد ان يحنث لانه حلف على علم لا يصل اليه حقيقة البتة فعلم من ذلك ان التقدير بالالفات انما هو تقريب وتوطئة للمبتدئين. (٤ شعبان ١٤١٧ هجرى)

جواب د دې عبارتونو په صحيح مطلب باندې پوهيدل د دې لاندينو حقيقتونو په پوهيدلو باندې موقوف دی.

١ - خيني خلق په اسم جلال کښې الف حذفوی. په دې باندې تنبيه کړې شوې ده، چې د الف حذف کول خطا ده. او اثبات يې صواب دې. د مد نه همدا طبعی مد مراد دې.

قال القاضي البيضاوي رحمه الله: وحلف الالف لحن تفسد به الصلاة ولا ينعقد به صريح اليمين وقد جاء لضرورة الشعر. (تفسير البيضاوي ج١ص٣٠)

٢ - په تکبير کښې په همزتينو باندې د يو الف په قدر مد کول هم مفسد د مونځ دې. د دې په مقابله کښې ليکلی چې په الف باندې مد صواب دې. د دې نه دوه خبزونه ثابت شو. يو دا چې د الف نه د زيات مقدار په لوستلو باندې نص نشته. دويم دا چې د (صواب) نه غير مفسد مراد دې.

همدغه شان د (يضر) نه مراد مفسد دې. او د (لا يضر) نه مراد غير مفسد دې.

٣ - طبعی مد يا په حالت د وقف کښې مد عارض مراد دې. دا يو اخې د احتمال په درجه کښې نه دې بلکه د دې مد د عدم جواز په حقله د فقهاء کرامو او قراء رحمهم الله د نصوصونه د مخالفت نه د بچ کيدلو د پاره همدا محمل کولو لازم دی او د دې نه اوړيدل ناروا دی

چې پورتنی حقيقتونه په ذهن کښې کښينولې شی نو د دې عبارتونو به د فقهاء کرامو او د قراء عظامو د نصوصو سره تعارض ختم شی. خو صرف يو دليل به پاتې شو. کوم چې په اولنی او په ـــه عبارت کښې ليکلې شوې دې. د دې په حقله درې خبرې دی

١ د مؤلف رحمه الله وفات په پنځلسمی صدئ کښې شوې دې. او مونږه د دې تحرير په شروع کښې دا خبرداری ليکلې وو چې دا بدعت په پنځلسمه صدئ کښې شروع شوی دی

٢ مؤلف د فقهاؤ لفظ خو وليکلو ليکن نوم ئې د يو فقيه هم ونه ليکلو

٣ مـ د مؤلف نه پوښتنه وکړه نو د لاعلمئ اظهار ئې وکړو. دا سوال او جواب ورسره رمنا به

ذریعه د کتابت شوي وو. که چیري یو بل ته مخامخ شوی وای نو کیدای شوه چې څه وضاحت شوې وي

د یو څو عبارتونو تجزیه کول

۱ - په اتم نمبرعبارت کښې د هیڅ قسمه مد څه ذکر نشته. نوددې نه به څنګه استدلال وکړې شی
۲ - په نهم نمبر عبارت کښې هم د دې مکرر ذکر دې.

۳ - په څوارلسم نمبر عبارت کښې د **(لایقصر التکبیر بحیث لا یفهم)** نه معلومیږی چې دلته د مد نه ترسل مراد دې او که خلاف د ظاهر نه عرفی مد مراد واخستې شی نو د څوارلسم نمبر عبارت د سیاق نه معلومیږی چې په دې کښې د حذف المد نه قصر المد یعنی طبعی مد مراد دې او په شاذ قول کښې هم د طبعی مد نه لږ زیات په قدر د یسیر مراد دې. نهٔ دا چې د مدعی د باطل ګمان مطابق اووه الفونه ترې مراد واخستلې شی.

۴ - په پنځلسم نمبر عبارت کښې خو د لیکونکی د دعوې په عکس د عدم جواز نص دې او که چرې د (نعم) نه وروسته چې کوم عبارت دې د هغې نه استدلال مقصود وی نو د هغې وضاحت د دویم دلیل په جواب کښې لیکلې شوې دې.

۵ - د اوولسم نمبر عبارت ښکاره مطلب خو دا دې چې د لام او د ها ترمینځه د الف زیاتیدل مکروهه دی. لیکن دا بین البطلان دې لهذا د دې د صحیح کیدو د پاره د دې تاویل لازمی معلومیږی هغه دا چې د تخلیل د الف نه **مدها فوق المد الطبعی** مراد دې. او د حذفها نه قصر د الف یعنی طبعی مد. مقصد دا چې د طبعی مد نه زیاتول مکروه دی لیکن مفسد د صلوة نه دی. **والله تعالی اعلم بمراد عباده.**

دا معمی مدعی ښه حل کولې شی چې هغه د دې عبارت نه څنګه استدلال وکړو؟
۲ - په اتلسم نمبر عبارت کښې هم چیرته د مد څه ذکر نشته دې.
۷ - د درویشتم نمبر عبارت له دعوې سره بعید تعلق هم نشته. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

غره ذي القعدة ۱٤۱۹ هجری

باب الامامة والجماعة

په پښه باندې د معذور (شل) سړي امامت

سوال د یو مسجد امام د معذورۍ له کبله په قعده کښې داسې کښیني چې د هغه ښۍ پښه په زمکه باندې خوره وي او د کوناټو بوج ئې په چپ اړخ باندې زیات وي. او ورسره دا چې د ناستې هیئت او شکل ئې داسې وي لکه څنګه چې په ناسته نفلو کولو کښې رکوع کولې شي. آیا په قعده کښې په دغه شان ناسته کولو سره مونځ ادا کیږي او که نه ؟ او آیا په دې کښې څه کراهیت شته او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د عذر په وجه په قعده کښې په داسې ناسته کښې هیڅ قسمه څه کراهیت نشته. د مقتدیانو مونځ هم بې د کراهیته صحیح دې. او که چیرې داسې یو صحت مند سړې وي چې په هغه کښې د امامت نور صفتونه هم موندلې شي نو هغه لره امام جوړول زیات غوره دي

قال الحصکفي رحمه الله: وقائم باحدب وان بلغ حدبه الرکوع علی المعتمد وکذا باعرج وغیره اولی.

قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله وقائم باحدب) القائم هنا ايضا صادق بالراكع الساجد وبالمؤمي. ح وفيه عن القاموس: والحدب خروج الظهر و دخول الصدر والبطن من باب فرح اه (قوله: علی المعتمد) هو قولهما وبه اخذ عامة العلماء خلافا لمحمد وصح في الظهيرية قولهما ولا يخفى ضعفه فانه ليس بادنى حالا من القاعد وتمامه في البحر (قوله: وغيره اولى) مبتدا وخبر اي غير الاعرج كما في البحر وغير خاف ان هذا الحكم لا يخص الاعرج بل غير كل من المتيمم والقاعد والاحدب كذلك. ح (ردالمحتار ج۱ ص۳۹۰) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ رمضان ۱٤۰۲ هجری

په رکوع کښې د شریک کیدلو صحیح طریقه

سوال امام په رکوع کښې وو. یو سړې راغې او غوږونو ته ئې ګوتې یوړې او سمدستي رکوع ته لاړو. او ده لږ شان قیام هم نه وو کړې او رکوع ته د تلو په وخت کښې ئې په دویم ځل الله اکبر هم نه وو وئیلې نو آیا د داسې سړي مونځ وشو؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب صحیح طریقه هم دا ده چې د قیام په حالت کښې دې تکبیر تحریمه اووائي او سمدستي دې په رکوع کښې شامل شي. رکوع ته د تلو په حالت کښې دې دویم تکبیر نه وائي. که چیرې تکبیر تحریمه ئې رکوع ته تلو کښې وه وئیلو او لاسونه ئې زنګونو ته نه وو رسیدلې چې الله اکبر ئې اووئیلو نو مونځ ئې ادا شو. بلکه که د دې تکبیر نه ئې د تکبیر تحریمي

په ځای د تکبیر د رکوع نیت وکړو نو هم یې مونځ صحیح شو. د ده نیت لره اعتبار نشته.

قال الامام ابن الهمام رحمه الله: ومدرك الامام فی الرکوع لا یحتاج الی تکبیرتین خلاف لبعضهم ولو نوی بتلك التکبیرة الواحدة الرکوع لا الافتتاح جاز ولغت نیته. (فتح القدیر ج۱ ص۳۰۰) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۸ شعبان ۱٤۰۹ هجری

دمقتدی د ناستې نه وړاندې امام سلام وګرځولو

سوال یو سړی امام لره په وروستۍ قعده کښې بیاموندلو. څنګه چې دې د تکبیر تحریمه نه وزګار شو او کښیناستو نو امام سلام وګرځولو. نود دې اقتداء صحیح کیږی او که نه دې به ځان له یواځې د مونځ کولو د پاره بیا تکبیر تحریمه وائی؟ تاسو په احسن الفتاوی ج ۳ ،ص ۲۷۰ باندې د اقتداء د صحیح کیدو فتوی ورکړې ده. په دلیل کښې د ورکړې شوې جزئیه نه په استدلال کولو کښې دلته څینی مفتیانوته اشکال دې. لهذا د دې وضاحت راته اوفرمائی. **والاجر عند الله العظیم.**

الجواب باسم ملهم الصواب : اګرچې د دې جزئیې نه هم استدلال واضح دې. خو بیاهم د دې نه زیات واضحه دلیل دلته لیکلې شی

قال الامام طاهر بن عبد الرشید رحمه الله: لو ادرك الامام فی الرکوع یکبر للافتتاح ویترك الثناء ویکبر و یرکع وان ادرك الامام فی السجود یکبر للافتتاح قائما ویاتی بالثناء ثم یکبر ویسجد وکذا لو ادرك الامام فی القعدة. (خلاصة الفتاوی ج۱ ص۱۱)

په رکوع کښې د امام د موندلو په صورت کښې د ثنا د نه وئیلو او په سجده او قعده کښې د موندلو په صورت کښې د ثنا د وئیلو وجه داده چې په رکوع کښې که تاخیر وکړې شی نو د رکعت د کیدلو ویره ده. په سجده او قعده کښې که تاخیر وشی نو په هغې کښې د رکعت د کیدلو ویره نشته. که د اقتداء صحیح کیدل د امام د سلام نه وړاندې د مقتدی په ناسته باندې موقوف وې نو د اقتداء د نه صحیح کیدلو د ویرې له کبله به د دې حکم په رکوع کښې د موندلو په شان پکار وو، په سجده کښې د موندونکی په شان حکم ئې نه وو پکار. په رکوع کښې دموندلو په صورت کښې دې دویم تکبیر اووائی او که نه؟ د دواړو په حقله قولونه شته. امام ابن الهمام رحمه الله د عدم تکبیر اړخ ته ترجیح ورکړې ده

په ردالمحتار کښې ئې په قعده کښې د لاندې کوونکی دپاره د ثنا پرینبودل اولی ښودلې دی، لیکن د دې وجه ئې د جمعې د قضاء کیدو په ځای د تشهد د فضیلت را لاندې کول لیکلی دی. لهذا ددې نه د جمعې نه موندل نه ثابتیږی، بلکه د اقتداء صحیح کیدل ترې نه ثابتیږی. څکه چې د

تشهد د فضیلت را لاندې کولو نه د جمعې اهمیت زیات دی. د دې باوجود ددې نه ذکر کول د دې دلیل دی چې په داسې صورت کښې اقتداء صحیح شوه. او د دې سره که د تشهد د فضیلت ترلاسه کولو دپاره ثنا هم پریږدی نو غوره ده

د مبسوط د دې لاندې جزئیو نه همدا ظاهریږی چې په دې دبحث لاندې په مسئله کښې اقتداء صحیح کیږی

قال الامام السرخسي رحمه الله :ولو انتهى الى الامام و هو ساجد فكبر ثم رفع الامام راسه وسجد سجدة الثانية ولم يسجد هذا الرجل معه واحدة من السجدتين فعليه ان يتبعه في السجدة الثانية دون الاولى لان هاتين السجدتين لا يحتسب بهما من صلوته لعدم شرطه وهو تقدم الركوع فان الركوع افتتاح السجود ولم يوجد في حقه. وانما ياتي بهما المتابعة الامام فانما يلزمه المتابعة فيما اتى به الامام بعد ما صار مقتديا به وقد سجد الامام السجدة الاولى قبل ان يصير هو مقتديا به فلا تلزمه تلك السجدة للمتابعة وسجد السجدة الثانية بعد ما صار هو مقتديا به فعليه ان ياتي بها ما لم يركع الامام الركعة الاخرى ويسجد فاذا فعل ذلك حينئذ لا يشتغل بها و انما هو يشتغل بما هو الاهم و هو الركوع و سجدة الركعة الثانية. لانها محسوبة من صلوته. (المبسوط ج۲ ص۲۰)

وقال ايضا وعلى هذا لو كان الامام حين سلم عن يمينه اقتدى به رجل لم يكن داخلا معه في الصلوة لانه بالتسليمة الواحدة صار خارجا منها فكيف يقتدى به غيره بعد خروجه من الصلوة. (المبسوط ج۲ ص۲۰)

فائده

د ذکر شوې مسئلې د بحث په دوران کښې د دې په ضمن کښې د مسبوق د ثنا وئیلو یا نه وئیلو مسئله هم مخې ته راغله. د دې مکمل تفصیل په راتلونکې مسئله کښې راروان دې. دلته د فقهې د عبارتونو د حوالې نه مقصد د اقتداء په صحیح کیدو باندې استدلال دې. **والله سبحانه وتعالى اعلم**　　غره صفر ۱۴۱۲ هجری

چې مقتدی په رکوع، سجده یا قعده کښې یوځای شی نو ثناء دې نه لولی

سوال چې مقتدی امام لره په رکوع. سجده یا په قعده کښې رالاندې کړی نو د تکبیر تحریمه د وئیلو نه پس څومره وخت به لاسونه تړلې ولاړ وی؟ او دا چې ثناء به لولی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مقتدی چې امام لره په رکوع کښې رالاندې کړی نو تکبیر تحریمه دې اووائی او سمدستی دې په رکوع کښې د امام سره یوځای شی. د سجدې او د قعدې په حالت کښې د موندلو په حقله د فقهاؤ عبارتونه مختلف دی. څینې علماؤ ثناء وئیلو ته ترجیح ورکړی ده

او خیرو په کښې دا تفصیل ښودلې دې چې که په اوله سجده کښې ئې امام وموندلو نو ثناء دې اووائی او که په دویمه سجده یا په قعده کښې ئې وموندلو نو ثناء دې نه وائی دا افضله دی

وهذه نصوصهم

قال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاری رحمہ اللہ:لو ادرك الامام فی الركوع يكبر للافتتاح ويترك الثناء ويكبر ويركع وان ادرك الامام فی السجود يكبر للافتتاح قائما ويأتی بالثناء.ثم يكبر ويسجد وكذا لو ادرك الامام فی القعدة.(خلاصة الفتاوی ج۱،ص۵۰)

وقال العلامة ابن عابدين رحمہ اللہ:(قوله اوساجدا) ای السجدة الاولى كما فی المنية واشار بالتقييد راكعا او ساجدا الى انه لو ادركه فی احدی القعدتين فالاولى ان لا يأتی لتحصيل زيادة المشاركة فی القعود وكذا لو ادركه فی السجدة الثانية.وتمامه فی شرح المنية.(ردالمحتار ج۱،ص۳۸۸)

لیکن د ډیرو احادیثو نه ثابته ده چې مقتدی امام لره په کوم حالت کښې هم بیاموندلو نو تکبیر دې اووائی او د امام سره دې په مونځ کښې شریک شی.او د احنافو په فقهاؤ کښې دوه د لوئې مرتبې فقهاء کرامو یو شمس الائمة سرخسی او بل ملک العلماء امام کاسانی رحمہما اللہ تصریح هم د دې احادیثو مطابق ده لهذا همدا خبره راجحه ده

۱ــعن عبد العزيز بن رفيع عن اناس من اهل المدينة ان النبی ﷺ قال:من وجدنی قائما اوراكعا اوساجدا فليكن معی على الحال التی انا عليها رواه سعيد بن منصور فی سننه وفی الترمذی نحوه عن علی رضی اللہ عنہ ومعاذ بن جبل رضی اللہ عنہ مرفوعا وفی اسناده ضعف لكنه ينجبر بطريق سعيد بن منصور المذكورة.كذا فی الفتح البارى.

وقال العلامة ظفر احمد العثمانی رحمہ اللہ:قلت:الامر فيهما محمول على الاستحباب كما يستفاد من قول الحافظ فی الفتح(ج۲،ص۱۲۳)والاستحباب انما هو باعتبار مجموع الافعال المذكورة فی الحديث والا فليس عاما لكل فعل بل هو مخصوص بافعال زائدة لا تدرك بادراكها الركعة ولا تفوت بفواتها الجماعة،والاقتداء به فيها انما هو لدفع مخالفة الامام فی الظاهر كالسجود والقومة والجلسة واما اذا حضر والامام فی القيام او الركوع او القعدة الاخيرة فمقتضى القواعد ان يجب عليه الدخول معه.(اعلاء السنن ج۴،ص۲۴۱)

۲ــفی حديث طويل:قال معاذ:لا اراه على حال لا كنت عليها.قال:فقال رسول الله ﷺ:ان معاذا قد سن لكم سنة،كذا فافعلوا. (اعلاء السنن ج۴،ص۲۵۰)

۳ــعن علی ومعاذ بن جبل رضی اللہ عنہما قالا:قال رسول الله ﷺ:اذا اتی احدكم الصلوة والامام على حال فليصنع كما

يصنع الامام رواه الترمذي وقال: هذا حديث غريب

قال الملا علي القاري رحمه الله: والاظهر ان معناه: اذا جاء احدكم الصلوة والامام على حال اي من قيام او ركوع او سجود او قعود فليصنع كما يصنع الامام اي فليقتد به في افعاله ولا يتقدم عليه ولا يتاخر عنه (المرقاة ج،ص)

وقال الشيخ الجنجوهي رحمه الله: (قوله فليصنع كما يصنع الامام) هذا يعم قبل الافتتاح وبعده يعني ليس ان ينتظر قيام الامام قبل الافتتاح وبعده بل يكبر كما جاء ويشرع مع الامام في الذي يصنعه لان في قيامه منتظرا له لمخالفة المسلمين وتاخير العبادة ولذلك قال بعضهم: لعله لا يرفع راسه حتى يغفر له. (الكوكب الدري ج،ص)

٤ — عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ اذا جئتم الى الصلوة ونحن سجود فاسجدوا ولا تعدوه شيئا رواه ابوداود (المشكوة مع المرقاة ج،ص)

قال العلامة السهارنفوري رحمه الله: تحت قوله (فاسجدوا): اي فاشركوا الامام في السجود (بذل المجهود ج،ص)

عبارات الفقهاء رحمهم الله

١ — قال الامام السرخسي رحمه الله: قال: اذا انتهى الرجل الى الامام وقد سبقه بركعتين وهو قاعد يكبر تكبيرة الافتتاح ليدخل بها في صلوته ثم كبر اخرى ويقعد بها لانه التزم متابعة الامام وهو قاعد والانتقال من القيام الى القعود يكون بالتكبير والحاصل انه يتابعه ما ادركه مع الامام (المبسوط ج،ص)

٢ — وقال الامام الكاساني رحمه الله: ولو وجد الامام في الركوع او السجود او القعود ينبغي ان يكبر قائما ثم يتبعه في الركن الذي هو فيه. (البدائع ج،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم غره صفر ١٤١٢ هجري

چې په وروستی صف کښې يو مقتدی وی نو څه به کوی؟

سوال جمع ولاړه وی او صفونه پوره وی او دا ګمان وی چې نور څوک به نه راځی نو په داسې صورت کښې به وروسته راتلونکي مقتدی څه کوی؟ يواځې دې وروستو ودريږی او که نه د چا د راتلو انتظار وکړی؟ چې ځان له يواځې ودريږی نو په دې صورت کښې به مونځ وشی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې صورت کښې اصل حکم دا دې چې د وړاندې صف نه دې څوک وروسته راکاږی. چې صورت ئې داسې دې که وړاندې درته څوک داسې سړی ښکاره شو

چې هغه ته د دې مسئلې علم وی او د هغه په راښکلو سره دا طمع کيدې شی چې هغه به راشی نو د امام رکوع ته د تلو پورې دې حصار شی. که په دې وخت کښې څوک راغلل نو وروسته دې صف جوړ کړې او که رانغلو نو وړاندې سرې دې راښکلې شی. او که په وړاندې صف کښې داسې څوک سړې نه وی نو يواځې دې شاته ودريږی

که بې د څه عذر نه هم وروستو ځان له يواځې ودريدلو نو مونځ به ئې وشی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وان وجد فی الصف فرجة سدها والا انتظر حتی يجیء آخر فيقفان خلفه وان لم يجیء حتی رکع الامام يختار اعلم الناس بهذه المسالة فيجذبه فيقفان خلفه ولو لم يجد عالما يقف خلف الصف بحذاء الامام للضرورة ولو وقف منفردا بغير عذر تصح صلوته عندنا خلافا لاحمد رحمه الله: (ردالمحتار ج، ص ۳۸)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: وقدمنا کراهة القيام فی صف خلف صف فيه فرجة للنهی و کذا القيام منفردا وان لم يجد فرجة بل يجذب احدا من الصف ذکره ابن الکمال لکن قالوا: فی زماننا ترکه اولی فلذا قال فی البحر: يکره وحده الا اذا لم يجد فرجة.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (وقوله وقدمنا الخ) ای فی باب الامامة عند قوله ويصف الرجال حيث قال: ولو صلی علی رفوف المسجد ان وجد فی صحنه مکانا کره کقيامه فی صف خلف صف فيه فرجة اه ولعله يشير بذلک الی انه لولا العذر المذکور کان انفراد المأموم مکروها. (قوله لکن قالوا الخ) القائل صاحب القنية فانه عزا الی بعض الکتب: اتی جماعة ولم يجد فی الصف فرجة قيل يقوم وحده ويعذر و قيل يجذب واحدا من الصف الی نفسه فيقف بجنبه والاصح ماروی هشام عن محمد رحمه الله: ان ينتظر الی الرکوع فان جاء رجل والا جذب اليه رجلا او دخل فی الصف ثم قال فی القنية: والقيام وحده اولی فی زماننا لغلبة الجهل علی العوام فاذا جره تفسد الصلوته اه قال فی الخزائن: قلت: وينبغی التفويض الی رای المبتلی فان رای من لا يتاذی لدين او صداقة زاحمه او عالما جذبه والا انفرد اه قلت وهو توفيق حسن اختاره ابن وهبان فی شرح منظومته (قوله فلذا قال الخ) ای فلم يذکر الجذب لما مر. (ردالمحتار ج، ص ۳۸۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۲ ذی القعده ۱۴۱۴ هجری

کعبې سره د برابر ودريدونکی د اقتداء د صحيح کيدو شرط

سوال د کعبې مبارکې د څلورو اړخونو نه په يو اړخ کښې ودريدونکې مقتدی که د امام په نسبت دې رکن ته زيات نزدې وی نو آيا د ده مونځ به صحيح شی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب چې د امام او د مقتدی اړخونه بيل بيل وی نو د مقتدی د امام په نسبت کعبې مبارکې ته نزدې ودريل مونځ نه فاسدوی. چې اړخ ئې يو وی نو د مقتدی مونځ به

فاسدیږي. د نو رکن په برابرئ کښې د ودریدونکي مقتدي دوه اړخه دي ښي اړخ او چپ اړخ: لهذا که امام په دې دواړو کښې په یو اړخ کښې وي نو د مقتدي په وړاندې کیدلو سره به د مقتدي مونځ فاسد نشي.خو که امام په دې دواړو اړخونو کښې په یو اړخ کښې هم نه وي بلکه په نورو دوو اړخو کښې په یو اړخ کښې وي نو د مقتدي د امام په نسبت بیت الله ته په ډیر نزدې کیدو سره مونځ نه فاسدیږي

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: و يصح لو تحلقوا حولها ولو كان بعضهم اقرب اليها من امامه ان لم يكن في جانبه لتاخره حكما ولو وقف مسامتا لركن في جانب الامام و كان اقرب لم ارهوينبغي الفساد احتياطا لترجيح جهة الامام.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: و ينبغي الفساد احتياطا الخ) البحث للشرنبلالي في حاشية الدرر و كذا للرملي في حاشية البحر بيانه ان المقتدي اذا استقبل ركن الحجر مثلاً يكون كل من جانبيه جهة له.فاذا كان الامام مستقبلا لباب الكعبة وكان المقتدي اقرب اليها من الامام لا يصح.لان المقتدي و ان كان جانب يساره جهة له لكن جهة يمينه لما كانت جهة امامه ترجحت احتياطا.تقديما لمقتضى الفساد على مقتضى الصحة و مثل ذلك لو استقبل الامام الركن و كان احد المقتدين من جانبيه اقرب الى الكعبة وعبارة الخير الرملي: اقول: رايت في كتب الشافعية: لو توجه الامام او المأموم الى الركن فكل من جانبيه جهته و اقول: ولا شيء من قواعدنا يأباه فلو صلى الامام الى الركن فكل من جانبيه جانبه فينظر الى من عن يمينه و شماله من المقتدين فمن كان الامام اقرب منه الى الحائط او مساواته له فيحكم بصحته صلوته واما الذي هو اقرب من الامام الى الحائط فصلوته فاسدة و به يتضح الحال في التحلق حول الكعبة المشرفة مع الامام في سائر الاحوال اه (ردالمحتار ج۱،ص۶۰۳) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۸ ربیع الثاني ۱۴۱۵ هجري

د عالمانو او مشايخو لپاره له وړاندې نه په صف کښې ځای تاکل

سوال د چا عالم یا بزرګ د پاره د وړاندې نه په صف کښې ځای تاکل روا دي او که نه؟ او چې د څه په بعضې توګه معلومه وي چې د دې جمات په مونځ ګذارو کښې د ده نه افضل څوک نشته او د ده مونځ په راتلل هم بعضې وي نو بیا به حکم څنګه وي؟.بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اولنی صف کښې او په خاص توګه امام سره نزدې د ودریدو حق عالمانو او مشایخو ته دي.که دغه ځای کښې څوک عامي ودریدلو نو وروستو راتلونکي عالم به د ده ځای نه اخوا کولو شي او په خپله به دغه ځای ودریدلي شي.حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه په

مونځ کښې مشغول قیس نومې یو سړې د اولنی صف نه راښکلو او وروسته ئې کړو او په خپله د هغه په ځائ ودریدلو. بیا د مونځ نه چې وزګار شو نو وې فرمائیل چې رسول الله ﷺ مونږ ته همداسې حکم کړې دې

په صف کښې څوک ولاړ یا ناست سړې د دغه ځائ نه د اخوا کولو په نسبت داسې تدبیر اختیارول په کار دی چې په دغه ځائ باندې بالکل څوک د سره نه کښینی. دا شرعا او عقلا اهون دی. لهذا د مونځ د ودریدو نه وړاندې که د یو عالم راتلل یقینی وی نو د هغه د پاره ځائ ساتل روا دی. لیکن د مونځ د پاره تل تر تله داسې ځائ مقررول مکروه دی. ددې یوه وجه فقهاء کرامو دا لیکلې ده چې په داسې کولو سره به یو تعبدی امر. طبعی امر وګرځی. دویمه خبره دا ده چې دې په خپله یا نور خلق به په دې کښې زیات ثواب ګڼل شروع کړی. خو بیا هم که د یو ځائ تخصیص د څه عارض په وجه وی نو کراهت به په کښې نه وی

۱ــ عن عبدالله بن مسعود ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لیلنی منکم اولوا الاحلام و النهی، ثم الذین یلونهم ثلاثا وایاکم وهیشات الاسواق. رواه مسلم (مشکوۃ ج۱ص۹۸)

۲ــ عن قیس بن عباد قال: بینما انا فی المسجد فی الصف المقدم فجبذنی رجل من خلفی جبذۃ فنحانی وقام مقامی فوالله ما عقلت صلوتی فلما انصرف اذا هو ابی بن کعب فقال: یافتی لا یسوئک الله ان هذا عهد من النبی ﷺ الینا ان نلیه ثم استقبل القبلة فقال: هلك اهل العقد ورب الکعبة ثلاثا ثم قال: والله ما علیهم اسی ولکن اسی علی من اضلوا. قلت: یا ابا یعقوب! ما تعنی باهل العقد؟ قال: الامراء. (نسائی ج۱ص۱۳۰)

۳ ــ قال الملا علی القاری رحمه الله: قال الطیبی: امر بتقدیم العقلاء ذوی الاخطار والعرفان لیحفظوا صلوته ویضبطوا الاحکام والسنن فیبلغوا من بعدهم وفی ذلك مع الافصاح عن جلالة شانهم حملهم علی تلك الفضیلة وارشادلم قصر حالهم عن المساهمة معهم فی المنزلة الی تحری مایزاحمهم فیها. (المرقاۃ ج۳ص۱۱)

٤ــ وقال ایضا: (یافتی لا یسوئك الله) قال الطیبی: کان الظاهر لا یسوئك ما فعل بك ولما کان ذلك من امر الله و امر رسوله اسنده الی الله مزیدا للتسلیة اهـ والظاهر ان معناه لا یحزنك الله بی و بسبب فعلی، ثم ذکر جملة مستأنفة مبنیة لعلة ما فعل اعتذارا الیه (ان هذا) ای ما فعلت (عهد من النبی ﷺ) ای وصیة او امر منه یرید قوله: (لیلنی منکم اولوا الاحلام والنهی) وفیه: ان قیسا لم یکن منهم فلذلك نحاه. (المرقاۃ ج۳ص۱۱)

۵ ــ روی ابن ابی شیبة رحمه الله: عن جمهان قال: رایت سعدا جاء مرارا والناس فی الصلوۃ فمشی بین الصف والجدار حتی انتهی الی مصلاه وکان یصلی عند الاسطوانة الخامسة.

٦ــ عن عبيد الله بن ابي يزيد قال: رايت المسور بن المخرمة بعد ما تقدم للصلوٰة يتخلل الصفوف حتى ينتهي الى الثاني او الاول.

٧ــ عن محمد بن صالح التمار قال: رايت قاسم بن محمد يلزم مصلى واحدا في المسجد يصلي فيه ولا يصلي في غيره ورايت سعيد بن المسيب يفعل ذلك. (مصنف ابن ابي شيبة ج،ص)

٨- قال العلامة ظفر احمد العثماني رحمه الله تحت حديث تقديم الافضل فالافضل الى الامام لانه اولى بالاكرام ولانه ربما يحتاج الامام الى استخلاف فيكون هو اولى ولانه يتفطن لتنبيه الامام على السهو ما لا يتفطن له غيره وليضبطوا صفة الصلوٰة ويحفظوها و ينقلوها و يعلموها الناس وليقتدي بافعالهم من ورائهم ولا يختص هذا التقديم بالصلوٰة بل السنة ان يقدم اهل الفضل في كل مجمع الى الامام و كبير المجلس اه قلت: وعلى هذا فيجوز ايثار العالم و كبير السن بالصف الاول بل يجب نظرا الى الامر فان الجاهل والصغير مامور بالتاخير عن اهل الحلم والنهى ويؤيده ما رواه الحاكم في مستدركه عن ابي بن كعب مرفوعا: لا يقوم في الصف الاول الا المهاجرون والانصار ذكره في كنز العمال بلا تعقب وهو صحيح على قاعدته وهو صريح في النهي لغير هؤلاء عن التقدم الى الصف الاول وتخصيص الانصار والمهاجرين بالذكر لكونهم اولى الاحلام والنهى اذ ذاك في الاغلب وكونهم افضل من غيرهم وافادهذا الحديث ان امر المسارعة الى الصف الاول ليس على اطلاقه بل هو مختص باولى الفضل والصلاح وكذا الوعيد الوارد على التاخر عنه مختص بهم ايضا. نعم يشمل الوعيد غيرهم اذا بقي في الصف الاول فرجة فلم يسدوها خلفهم. فلو تأخر احد عن الصف الاول لخلوه عن الصلاح والفضل والتقوى بشرط ان يرجو كمال الصف بغيره ممن هو اهله فله ذلك ولا لوم عليه بل ذلك متعين في حقه. (اعلاء السنن ج،ص)

٩ــ قال العلامة محمد ادريس الكاندهلوي رحمه الله: والمعنى ليدن مني العلماء والنجباء اولو الاخطار وذوو السكينة والوقار وانما امرهم بالقرب منه ليحفظوا صلوته ويضبطوا الاحكام والسنن التي فيها فيبلغوها فيأخذ عنهم من بعدهم ثم لانهم احق بذلك الموقف والمقام وفي ذلك بعد الايضاح بجلالة شؤونهم ونباهة اقدارهم حثهم على المسابقة الى تلك الفضيلة والمبادرة الى تلك المواقف والمصاف قبل ان يتمكن منها من هو دونهم في الرتبة وفيه ارشاد لمن قصر حاله عن المساهمة معهم في المنزلة ان لا يزاحمهم فيها وقد كان رسول الله ﷺ اذا صلى قام ابو بكر خلفه محاذيا له لا يقف ذلك الموقف غيره. (التعليق الصبيح ج،ص)

۱۰ــ قال فی الفتاوی التتارخانیة: وینبغی ان یحاذی الامام افضلهم. (تتارخانیة ج،ص۱۳)

۱۱ــ قال فی الهندیة: وینبغی ان یکون بحذاء الامام من هو افضل. (عالمگیریة ج،ص۸۹)

۱۲ ــ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: و یکره ان یخص لصلوته مکانا فی المسجد و ان فعل فسبقه غیره لا یزعجه و فی الحاشیة: لان ان فعل ذلك بقیت الصلوة فی ذلك المکان طبعا و العبادة متی صارت طبعا سبیلها الترك. (الاشباه ج،ص۳)

۱۳ ــ قال العلامة محمد ابو السعود رحمه الله: ویکره للانسان ان یخص نفسه بمکان فی المسجد یصلی فیه لانه ان فعل ذلك تصیر صلوته فی ذلك المکان طبعا و العبادة متی صارت کذلك کان سبیلها الترك. (فتح المعین ج ،ص۳) والله سبحانه وتعالی اعلم ٤ رجب ١٤١٦ هجری

د امریکې په جماتونو کښې د دویمې جُمعې حکم

سوال ما ته د امریکې نه یو سوال راغلې وو. د هغې په جواب کښې یو لیک زمونږ یو ملګری د تجویز په توګه لیکلې دې. زما خیال د دې لیک سره موافق دې. لیکن پوښتنه کوونکی ته د جواب ورکولو نه وړاندې ستاسو د رهنمائۍ طالب یم. ستاسو به ډیره مهربانی وی په دې سلسله کښې ما د خپلې رائې نه خبر کړئ. ورسره دا چې که د دویم جمعې اجازت وی نو د دویم اذان به څه حکم وی؟ آیا د دې به هم تکرار کول لازم وی ؟ بینوا توجروا

سوال په ځینو غیر اسلامی ملکونو کښې لکه امریکا وغیره کښې دا صورت راپیښ شوې دې، چې جماتونه لږ او د ګوتو په شمار دی. او د علاقې د مونځ ګزارو په شمیر کښې د زیاتیدو له کبله ټول مونځ کوونکی په جمات کښې نه ځائیږی. او د جمات په اړخونو او خواوشا کښې د مونځ کولو قانوناً اجازت نشته . دا صورت اکثر د جُمعې په ورځ راپیښیږی. په ځینی مقاماتو کښې دا تنګی څکه راپیښیږی چې هلته په یو عمارت کښې د اجتماع د پاره قانوناً یو محدود اومعین شمیر مقررروی. د دې نه د زیاتو کسانو قانونا راجمع کیدل منع دی

اوس پوښتنه داده چې په داسې صورت کښې هم په یو جمات کښې د یو نه د زیاتو جمعو کولو اجازت شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب ددې مشکل اصل حل خو دا دې چې د علاقې خلقو له پکار دی چې په کوم ځائ کښې په مخکښینی جمات کښې وسعت ممکن وی هلته دې وسعت وکړې شی. دې د پاره چې ټول مونځ ګذار له یوې جمعې سره مونځ وکړی. او که چیرې دا ممکنه نوی نو نور جماتونه دې جوړ کړې شی کوم ځائ کښې چې دا دواړه خبرې ګرانې وی نو په جمات کښې د ځائ د کمی په صورت کښې

دې نو ځل نول جمات ډک کړې شي او جمع دې وکړي سې او کوم خلق چې د ځانې د کمی به وجه د رومبني جمعې نه پاتې شوی دی او شریک شوې په کښې ندی نو هغوی د پاره هم په دې جمات کښې په دویم ځل د جمعې کولو اجازت معلومیږی. ځکه چې کومو فقهاؤ د جمعې د تکرار نه منع کړې ده هغوی د منعې دوه علتونه بیان کړي دی. او هغه علتونه دا دی

۱. که د جمعې د تکرار اجازت ورکړې شي نو د رومبنۍ جمعې اهمیت به کم شی. د رومبنۍ جمعې نه به پاتې کیدل شروع شی او په هغې کښې به خلق بیا کم وی. او دا خبره د جمعې د تکرار نه د منعې کولو هسې یو حکمت ندې. بلکه دا د دې یو علت دې. د دې وجې نه چې په کومو صورتونو کښې د جمعې د تکرار اجازت دې فقهاؤ دا اجازت د دې علت د نه موندو له کبله متفرع کړې دې. لکه په دویم جمات کښې د دویمې جمعې جواز. د ځینی فقهاؤ په نیزد بې د څه تداعی نه د جمعې د تکرار جواز. د غیراهل محله د مونځ کولو په صورت کښې د محلې د خلقو دپاره د دویمې جمعې جواز. او بې د اذان او د اقامت نه د جمعې د تکرار جواز هم د دې علت د نه موندلو له کبله دې. لکه په بدائع الصنائع کښې دی

ولان التكرار يؤدى الى تقليل الجماعة لان الناس اذا علموا انهم تفوتهم الجماعة فيستعجلون فتكثر الجماعة واذا علموا انها لا تفوتهم يتأخرون فتقل الجماعة وتقليل الجماعة مكروه بخلاف المساجد التى على قوارع الطريق لانها ليست لها اهل معروفون فاداء الجماعة فيها مرة بعد اخرى لا يؤدى الى تقليل الجماعة و بخلاف ما اذا صلى فيه غير اهله لانه لا يؤدى الى تقليل الجماعة لان اهل المسجد ينتظرون اذان المؤذن المعروف الخ (بدائع ج ۱ ص ۱۵۳)

امام سرخسی رحمه الله فرمائیلي دی

ولنا انا امرنا بتكثير الجماعة وفى تكرار الجماعة فى مسجد واحد تقليلها لان الناس اذا عرفوا انهم تفوتهم الجماعة يعجلون للحضور فتكثر الجماعة واذا علموا انه لا تفوتهم يؤخرون فيؤدى الى تقليل الجماعات وبهذا فارق المسجد الذى على قارعة الطريق لانه ليس له قوم معلومون فكل من حضر يصلى فيه فاعادة الجماعة فيه مرة بعد مرة لا تؤدى الى تقليل الجماعات الخ (المبسوط للسرخسي ج ۱ ص ۱۳۵)

۲. ځینې فقهاؤ تفرق کلمة المسلمين له علت ګرځولي دی. امام شافعی رحمه الله فرمائیلي دی

و اذا كان للمسجد امام راتب ففاتت رجلا او رجالا فيه الصلاة صلوا فرادى ولا احب ان يصلوا فيه جماعة فان فعلوا اجزاتهم الجماعة فيه وانما كرهت ذلك لانه ليس مما فعل السلف قبلنا بل قد عابه بعضهم قال الشافعى: واحسب كراهية من كره ذلك منهم انما كان لتفرق الكلمة وان يرغب رجل عن

الصلاة خلف امام جماعة فيتخلف هو.....الى ان قال......فاما مسجد بنا على ظهر الطريق او ناحية لا يؤذن فيه مؤذن راتب ولا يكون له امام معلوم ويصلى فيه المارة ويستظلون فلا اكره ذلك فيه لانه ليس فيه المعنى الذى وصفت من تفرق الكلمة وان يرغب رجال عن امامة رجل فيتخذون اماما غيره.(الام ج۱ص۱۳)

په ذکر شوی صورت کښې دا دواړه علتونه موجود ندی. لهذا په دې صورت کښې د جمعې د تکرار کولو اجازت شته. لیکن دا اجازت په دې شرط سره مشروط دې چې په جمات کښې څومره خلق راتلې شی نو چې په ړومبئ جمع کښې هغومره خلق موجود وی. څه ځائ په کښې تش نوی. که په ړومبئ جمع کښې د څه خلقو ځائې وی. او هغوئ د دې باوجود دویمې جمعې ته حصاریږی نو دا خلق به په ړومبئ جمع کښې په شریکیدو کښې د سستئ کولو د ګناه مرتکب وی. والله اعلم

احقر محمد مجاهد عفی عنه

۱۸ـ۸ـ۱۴۱۶ هجری

الجواب باسم ملهم الصواب : جواب صحیح دې.

د اذان د تکرار خو جواز نه معلومیږی. د جمات نه خارج جمعې د پاره د محلې د جمات اذان کافی کیږی. نو په جمات کښې به د دویمې جمعې د پاره په اولی طریقې سره کافی کیږی.

د اقامت د تکرار په جواز کښې شک دې. بې د عذر نه په دویمه جمع کښې د اقامت سره زیات کراهیت او په مزدلفه کښې د ماښام او دماسخوتن ترمینځه عدم اقامة. د دې دواړو دا تقاضا ده چې دلته دې هم دویم اقامت ونه شی.

زما میلان دې اړخ ته دې چې که د دواړو جمعو ترمینځه په څه وجې سره زیات فصل راشی نو بیا دې اقامت وکړې شی او که نه نو نه دې کیږی.

تنبیه دا خبره دې واضحه وی چې دا جواب د امریکې د مخصوصو حالاتو له کبله ورکړې شو. دا دې د هر ځائ د پاره عام نه ګنلې کیږی. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۹ رمضان ۱٤۱٦ هجری .

د ښځو ځان له جماعت مکروه تحریمی دی

سوال د ښځو جمعې ته د فقهې په اکثرو کتابونو کښې مکروه ونیلې شوې دی. تاسو هم دې ته په احسن الفتاوی کښې مکروه تحریمی لیکلې دی. او په دلیل کښې مو د ردالمحتار عبارت لیکلې دې. او حال دا دې چې د دې لاندې دلائلو نه د دې جواز معلومیږی

۱ـ عن ام ورقة بنت نوفل ان النبى ﷺ لما غزا بدرا (الى قوله) قال: وكانت قد قرات القران فاستاذنت النبى ﷺ ان تتخذ فى دارها مؤذنا فاذن لها. الحديث (سنن ابى داود ج۱ص۸۷)

۲ـ و كان رسول الله ﷺ يزورها فى بيتها و جعل لها مؤذنا يؤذن لها و امرها ان تؤم اهل دارها. قال

عبدالرحمن: فانا رايت مؤذنها شيخا كبيرا. (سنن ابي داود ج، ص)
د دې دواړو حديثونو په سند کښې وليد بن عبدالله بن جميع دې. او په ده باندې اګرچې کلام کړې شوې دې. ليکن امام حاکم رحمه الله فرمائي وقد احتج مسلم بالوليد بن (عبدالله بن) جميع
ابن معين او عجلي رحمهما الله ده لره ثقه ويلي دى
وقال ابو حاتم رحمه الله: صالح الحديث

۳ – عن عائشة رضي الله عنها انها كانت تؤذن وتقيم وتؤم النساء فتقوم وسطهن. (مستدرك حاكم)
دا روايت عبدالرزاق په بلې طريقې سره نقل کړې دې. او ابن ابى شيبه او امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار کښې په يوې دريمې طريقې سره نقل کړې دې.

٤ – قال علي رضي الله عنه والاوزاعي وسفيان الثوري واحمد بن حنبل واسحق بن راهويه رحمهم الله: يستحب ان تؤم المراة قال علي رضي الله عنه: ما نعلم لمنعها من التقدم حجة اصلا. (المحلى ج، ص)

۵ – علامه ابن همام رحمه الله د صاحب د هدايې ذکر کړې شوې وجې د کراهت (لانها لا تخلو عن ارتكاب المحرم وهو قيام الامام وسط الصف فيكره كالعراة) د لاندې يو اوږد بحث ليکلې دې
ولا علينا ان نذهب الى ذلك فان المقصود اتباع الحق حيث كان. (فتح القدير ج، ص)
علامه بدرالدين هم د صاحب د هدايې د دليل جواب ورکړې دې او د نسخې قول ئې رد کړې دې

٦ – د دې نه علاوه د ښځو ځان له د جمعې کولو نسبت د احنافو مذهب ته صحيح نه معلوميږي. ځکه چې په کتاب الفقه على المذاهب الاربعه کښې ئې ليکلې دي
بل يصح ان تكون المراة اماما لامرأة مثلها او الخنثى باتفاق ثلاثة من الائمة وخالف المالكية.
همدغه شان په تعليق المغنى على الدار قطني ج ۱، ص ۴۰۴ کښې د امام ابو حنيفه رحمه الله ارخ ته د ښځو د جماعت د استحباب قول منسوب شوې دې.
په کتاب الاثار کښې امام محمد رحمه الله باب قائم کړې دې او د امام ابو حنيفه رحمه الله نه ئې د ښځو د جمعې په حقله حديث نقل کړې دې
حضرت مولانا عبدالحى لکهنوى رحمه الله د شرح الوقايې په حاشيې عمدة الرعايه کښې تول وجوهات د کراهت ضعيف ګرځولي دى. هغوى په رساله تحفة النبلاء کښې په دې باندې ښه تفصيلي بحث کړې دې
مولانا عبدالشکور لکهنوى رحمه الله هم په علم الفقه کښې فرمائي صحيح خبره دا ده چې بواخې يعنې د سړو نه بغير، د ښځو جمع مکروه نده بلکه روا ده

خلاصه د خبرې دا ده چې د ښځو خان له د جمعې کولو په حقله د دومره ډیرو احادیثو، آثارو، او د څه فقهي روایتونو باوجود د ابن عابدین رحمه الله د قول په بنا دې ته مکروه تحریمي ونیل څه ښه خبره نده. مکروه تحریمي د شرعې په احکامو کښې هغه یو حکم دې. د کومې د پاره چې د ادله اربعه نه یو دلیل ضروري دې.

لهذا مهرباني وکړئ او دا خبره راته واضحه کړئ چې د احنافو د ښځو خان له د جمعې کولو په حقله او په خاص توګه په تراویحو کښې محقق مذهب څه دې؟ او دا خبره هم ده چې د قرآن د حافظ د پاره د قرآن د یاد لرلو بل څه صورت هم په ظاهره ګران دې، که د قرآن حافظه د خپل کور او د محلې ښځو ته ښه د پردې د اهتمام سره په تراویحو کښې د قرآن کریم ختم وکړي نو آیا دا هم مکروه تحریمي دي او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ۱ــ عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله ﷺ قال: لا خير فی جماعة النساء الا فی المسجد او فی جنازة قتيل رواه احمد والطبرانی فی الاوسط الا انه قال: لا خير فی جماعة النساء الا فی مسجد جماعة وفيه ابن لهيعة وفيه كلام (مجمع الزوائد ج۲، ص۳۳) قلت: قد حسن له الترمذی واحتج به غير واحد كما فی مجمع الزوائد ص۳،۳.

د دې حدیث نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ د ښځو د مسجد نه بهر د جمعې کولو نه د خیر نفي فرمائيلې ده او دا خبره ښکاره ده چې د جمعې په جمات کښې به د ښځو جمعه د سړو سره کېږي ځکه چې خان له د ښځو په جمات کښې د جمعې کولو څوک هم قائله ندی نو معلومه شوه چې خان له د ښځو جمعه کول مکروه دی.

۲ــ قال ابن وهب: عن ابن ابی ذئب عن مولى لبنی هاشم اخبره عن علی ابن ابی طالب رضی الله عنه انه قال: لا تؤم المرأة (المدونة لمالك ج۱، ص۸۶)

دا روایت ابن ابی شیبه هم نقل کړې دې. (كتاب الآثار مع تعليق الشيخ ابی الوفاء الافغانی ج۱، ص۲۰۰)

د حضرت علی رضی الله عنه د دې عبارت نه دا کلیه معلومه شوه. چې ښځه امامت نه شی کولې برابره خبره ده که د سړو وی او که د ښځو وی.

۳ــ عن حبيب ابن ابی ثابت عن ابن عمر رضی الله عنه بلفظ: لا تمنعوا نساء كم المساجد وبيوتهن خير لهن اخرجه ابو داود وصححه ابن خزيمة ولاحمد والطبرانی من حديث ام حميد الساعدية انها جاءت الى رسول الله ﷺ فقالت: يا رسول الله ﷺ انی احب الصلوة معك. قال: قد علمت وصلوتك فی بيتك خير لك من صلوتك فی حجرتك وصلوتك فی حجرتك خير لك من صلوتك فی دارك وصلوتك فی دارك خير لك من صلوتك فی مسجد

قومك وصلوتك فى مسجد قومك خير لك من صلوتك فى مسجد القوم واسناد احمد حسن وله شاهد من حديث ابن مسعود عند ابى داود ووجه كون صلاتها فى الاخفاء افضل تحقق الامن فيه من الفتنة ويتأكد ذلك بعد وجود ما احدث النساء من التبرج والزينة ومن ثم قالت عائشة ما قالت (فتح البارى ج،ص)

۴ ــ قال الامام مجد الدين الموصلى رحمه الله: ويكره للنساء حضور الجماعات وان يصلين جماعة (ف)فان فعلن وقفت الامام وسطهن.

وقال فى الشرح:(وان يصلين جماعة)لانها لا تخلو عن نقص واجب او مندوب فانه يكره لهن الاذان والاقامة وتقدم الامام عليهن(فان فعلن وقفت الامام وسطهن)هكذا روى عن عائشة رضى الله عنها وهو محمول على الابتداء.(الاختيار ج،ص)

۵ ــ قال الامام ابو بكر الحداد اليمنى رحمه الله:(قوله يكره للنساء ان يصلين وحدهن جماعة)بغير رجال وسواء فى ذلك الفرائض والنوافل والتراويح.

وبعد اسطر:(قوله فان فعلن وقفت الامام وسطهن وبقيامها وسطهن لا تزول الكراهة.لان فى التوسط ترك مقام الامام وانما ارشد الشيخ الى ذلك لانه اقل كراهة من التقدم.اذ هو استر لها ولان الاحتراز عن ترك الستر فرض والاحتراز عن ترك مقام الامام سنة فكان مراعاة الستر اولى.فاذا صلين بجماعة صلين بلا اذان ولا اقامة وان تقدمت عليهن امامهن لم تفسد صلاتهن. (الجوهرة النيرة ج،ص)

۶ــ قال العلامة عالم بن العلاء الانصارى رحمه الله: معزيا الى الخانية:ويكره للمراة ان تؤم النساء لعدم ورود السنة بالجماعة فى حقهن فان فعلت قامت وسطهن.(الفتاوى التتارخانية ج،ص)

۷ــ وفى الهندية:و يكره امامة المراة للنساء فى الصلوات كلها من الفرائض و النوافل الا فى صلوة الجنازة وهكذا فى النهاية فان فعلن وقفت الامام وسطهن وبقيامها وسطهن لا تزول الكراهة وان تقدمت عليهن امامهن لم تفسد صلاتهن هكذا فى جوهرة النيرة وصلاتهن فرادى افضل.هكذا فى الخلاصة. (عالمگيرية ج،ص)

۸ ــ قال الامام السيد الطحطاوى رحمه الله:(قوله:ويكره تحريما جماعة النساء) لان الامام ان تقدمت لزم زيادة الكشف وان وقفت وسط الصف لزم ترك الامام مقامه وكل منهما مكروه كما فى العناية وهذا يقتضى عدم الكراهة لو اقتدت واحدة فقط محاذية لفقد الامرين اه حلبى (وقال بعد اسطر)(واذا وسطت لا

تزول الکراهة الا انه اقل کراهیة من التقدم. قال فی البحر. (طحطاوی علی الدر ج،ص۳۰)

۹ــ قال الامام الزیلعی رحمه الله: (و جماعة النساء) ای کره جماعة النساء وحدهن لقوله ﷺ: صلاة المرأة فی بیتها افضل من صلاتها فی حجرتها وصلوتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بیتها ولانه یلزمهن احد المحظورین: اما قیام الامام وسط الصف وهو مکروه او تقدم الامام وهو ایضا مکروه فی حقهن فصرن کالعراة لم یشرع فی حقهن الجماعة اصلا. ولهذا لم یشرع لهن الاذان وهو دعاء الی الجماعة ولو لا کراهیة جماعتهن لشرع. قال رحمه الله (فان فعلن یقف الامام وسطهن کالعراة) لان عائشة رضی الله عنها فعلت کذلک حین کان جماعتهن مستحبة ثم نسخ الاستحباب ولانها ممنوعة من البروز ولا سیما فی الصلوة ولهذا کان صلوتها فی بیتها افضل و تنخفض فی سجودها ولا تجافی البطن عن فخذیها وفی تقدیم امامهن زیادة البروز فیکره. (تبیین الحقائق ج،ص۳۰)

۱۰ــ قال الامام الکاسانی رحمه الله: و کذا المرأة تصلح للامامة فی الجملة حتی لو امت النساء جاز وینبغی ان تقوم وسطهن لما روی عن عائشة رضی الله عنها: وقامت وسطهن ولان مبنی حالهن علی الستر و هذا استر لها الا ان الجماعتهن مکروهة عندنا وعند الشافعی مستحبة کجماعة الرجال ویروی فی ذلک احادیث لکن تلک کانت فی ابتداء الاسلام ثم نسخت بعد ذلک. (البدائع ج،ص۱۵۷)

۱۱ــ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: (قوله :و جماعة النساء) ای و کره جماعة النساء لانها لا تخلو عن ارتکاب محرم و هو قیام الامام وسط الصف فیکره کالعراة کذا فی الهدایة و هو یدل علی انها کراهة تحریم لان التقدم واجب علی الامام للمواظبة من النبی ﷺ و ترک الواجب موجب لکراهة التحریم المقتضیة للاثم ویدل علی کراهة التحریم فی جماعة العراة بالاولی. (البحر الرائق ج،ص۳۰۱)

دا یو څو روایتونه دفقهې اود احادیثو دی. اوکه نه نو ټولو فقهاء کرامو رحمهم الله د ښځو جمعه مکروه لیکلې ده. د بحث د اوږدیدو له کبله مې هغه پرېښودل

د استحباب د دلیلونو جائزه

۱ د دې حدیث د ام ورقه رضی الله عنها په څینې راویانو باندې د څینې محدثینو کلام شته دې

۲ دا حدیث متروک العمل دې څکه چې په جائز ګرڅونکو کښې یو هم د دې قائل ندی چې په کوڅو کښې دې د ښځو د جمعې د پاره په غرض د اعلان کولو د مؤذن موجودېدل ضروری وی

۳ دوی به صرف د فرضو اجازت ورکړې شوې وو. د دې نه د تراویحو دپاره د ښځو په جمعې

باندې استدلال کول صحيح نه دی

په حدیث د عائشې رضي الله عنها کښې د لفظ د کان او د صيغې د مضارع نه بغير په استمرار باندې بل څه دليل نشته . د امام نووی او د نورو محدثينو د قول مطابق دا دواړه الفاظ د يو خل د کار د پاره هم استعماليږی. لهذا دا په استمرار کښې نص ندې. په ظاهره دا معلوميږی چې هغوی په خپل اجتهاد سره داشروع کړې وو خو چې کله ورته خبردارې ورکړې شو نو ترک ئې کړو

حديث د ام سلمه رضي الله عنها هم يو جزئی واقعه ده چې د دې نه د کلی امر اثبات ګران دې.او په خاص توګه چې د نورو دليلونو نه د دې نفی کيږی

د دې نه علاوه دا قصې جزئی دی.چې محمول دی په خصوصيت باندې او يا منسوخ دی.لهذا د دې نه په عام معمول باندې استدلال کول صحيح نه دی

امام محمد رحمه الله په کتاب الاثار کښې د عائشې رضي الله عنها حديث رانقل کړې دې او خپل مذهب ئې د دې په خلاف ښودلې دې او فرمائيلې ئې دی : **لا يعجبنا ان تؤم المرأة فان فعلت قامت فی وسط الصف مع النساء كما فعلت عائشة رضي الله عنها وهو قول ابی حنيفة رحمه الله** (كتاب الاثار مع تعليق الشيخ ابی الوفاء الافغانی ج،ص،م)

په مُحلی کښې د حضرت علی رضي الله عنه ارخ ته د استحباب د جماعة النساء نسبت کول صحيح نه معلوميږی. ځکه چې دا د هغه روايت نه خلاف دی کوم چې پورته د مدونه او د ابن ابی شيبة نه نقل کړې شوې دې

د ابن همام،علامه عبدالحی لکهنوی،د مولانا عبدالشکور لکهنوی رحمهم الله خبره په خپله د هغوی د خپل تحقيق په بنياد ده.او دا د جمهورو احنافو خلاف حجت نه دې.او د دی په حقله احنافو رحمهم الله فرمائيلې دی چې د دوی کوم يو تحقيق د جمهورو خلاف وی نو د هغې نه استدلال صحيح نه دې. هغوی محقق وو د هغوی د پاره د دې لار راوخی د نورو مقلدينو دپاره د امام قول په داسې موقعو باندې حجت وی . دغه شان د کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه حال د چا نه پټ نه دې.او د دې نه علاوه د چا د مذهب د معلوملو دپاره د هغې مذهب مستندو کتابونو ته رجوع کولې شی.د مستندو کتابونو حوالې تيرې شوې

او همدا حال د التعليق المغنی دې

الحاصل د دې احاديثو،آثارو او د فقهاؤ رحمهم الله د عبارتونو د مجموعې نه داخبره واضحه کيږی چې د ښځو جمع کول مکروه تحريمی دی.دا د صلاح او د تقوی د زمانې خبره ده.هر څوا ته د فتنو په دې زمانه کښې ددې اجازت د ډيرو مفاسدو باعث دې.په حديث شريف کښې دکور د ميدان نه په تياره کمره کښې د ښځې مونځ کولو ته افضل وئيلې شوې دی

د احاديثو په ذخيره کښې چرته هم دا ثابت نه دی چې رسول الله ﷺ عام اعلان کړې وی چې د

محلې ښځې دې راجمع کيږي او جمع دې کوی يا دې زمونږ کور ته راځی او د امهات المؤمنين په اقتداء کښې دې مونځ کوی يا دې په خپلو کورونو کښې دجمعې سره مونځ کوی.

رسول الله ﷺ ښځو ته مسجدنبوی ته د راتللو د اجازت ورکولو باوجود ښځو ته دا ترغيب ورکړې وو چې هغوی دې په کور کښې مونځ کوی او په کور کښې ئې هم د ټولو نه په پټه حصه کښې مونځ کولو ته افضل وئيلې دی.

خلفاء راشدين ﷺ په خپله خپله زمانه کښې د ښځو د ځان له د جمعې دپاره څه انتظام نه وو کړې، حضرت عمر ؓ په خپله زمانه کښې ښځو لره د سړی امام په اقتداء کښې د مونځ کولو د پاره د راوتلو نه منع کول شروع کړې وو. وروستنو فقهاءکرامو ﷺ د زمانې د بدلون له کبله صراحتاً د عدم جواز فيصله وکړه. حال دا چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د ښځو په جمعې سره د مونځ کولو عام معمول وو.

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې رسول الله ﷺ ښځو ته په کور کښې د جمعې د کولو ترغيب ورنه کړو او نه ئې دا معمول وو.

د ښځو د جمعې په اجازت ورکولو کښې چې کوم مفاسد دی هغه په د عقل په خاوند باندې پټ نه دی لکه د مثال په توګه:

۱- چې د کوځې ښځو لره راجمع کړې شی او دوی ته د مونځ يا د تراويحو کولو اجازت ورکړې شی نو د دې دپاره دښځو د کور نه وتل يو لازمی خبره ده،او په دې کښې فتنه ده او ددې له کبله صحابهٔ کرامو ؓ او فقهاء کرامو ﷺ ښځو لره جمات ته راتلو نه منع کړې ده.

۲ - که چيرې د يو کور ښځو ته په جمعې سره د مونځ يا د تراويحو اجازت ورکړې شی نو بيا هم دا د فتنې نه خالی نه ده.ځکه چې په کور کښې په عامه توګه غيرمحارم هم وی،هغوی ټول په جمات کښې تراويح هم په پابندئ سره نه کوی که هغوی د ډير وخته پورې په يو ښائسته آواز کښې قرآن کريم آوری نو دهغوی په زړه کښې به طمع پيدا شی،او هغوی ته په کور کښې د اوسيدو او د بې تکلفئ په بناء باندې د بد کار د کولو زياته موقع وی او په دې کښې کاميابی آسانه ده.

۳ - دا مشاهده ده چې کومې ښځې په کورونو کښې په تراويحو کښې قرآن مجيد آوروی نو د هغوی آواز د کور نه بهر خامخا راوځی د دې نه دځان د ساتلو نه دچا سره څه فکر شته دې او نه د دې د مخ نيوی څه طمع شته

غرض د خبرې دا چې د دې فساد په زمانه کښې ښځو ته په تراويحو کښې د قرآن د آورولو اجازت ورکول په ډيرو مفاسدو باندې مشتمل دی او د فتنې يوه ذريعه ده.د دې وجې نه که چيرې د ځينې فقهاء کرامو ﷺ د کراهيت تنزيهيه قول واخستلې شی نو بيا به هم رومبې دا وئيلې شی چې د ذکر شوو عوارضونه بغير في نفسه د ښځو جمعه کول مکروه تنزيهی دی. خو د دې عوارضو

نه وجه نه دا مکر وه تحریمی کښې داخل شی

باقي پاتې شو د قرآن د یاد ساتلو عذر.نو د قرآن د یاد ساتلو د پاره د قرآن به پراوسحو کښې آورول یا وتیل خو ضروری اولازمي نه دی. بلکه په پابندۍ سره دې خان ته تلاوت کوی یا دې نو ملی ته د مونځ نه خارج د آورولو معمول جوړ کړی نو دا مقصد ترې ډېر په ښه طريقه حاصلېدې شی او دا د سنتو او د سلفو صالحینو د طريقي عين مطابق ده هذا ماعندی والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

۲۸ صفر ۱٤۱۹ هجری

د نابالغه ماشومانو په رومبی صف کښې ودریدل

سوال تاسو په احسن الفتاوی (اُردو) ج ۳.ص ۲۸۰ او په ۵۱۲ کښې لیکلي دی چې د نابالغه ماشومانو په رومبی صف کښې ودریدل بې د څه کراهیته روا دی. بلکه په دې زمانه کښې چې ماشومان نو خائې په وروسته صف کښې ولاړ وی نو د هغوی په خپلو کښې د لوبو او ورانی له کبله د نورو مونځ هم خرابیږی د دې وجې نه غوره دا دی چې هغوی په وړاندې صف کښې بیل بیل ودرولی شی

ستاسو دا فتوی د هغه احادیثو مبارکو او فقهاء کرامو ﷺ د عبارتونو خلاف ده په کومو کښې چې د صفونو ترتیب داسې بیان کړې شوې دې چې د نابالغه ماشومانو صف دې د بالغو د صفونو نه وروستو جوړ کړې شی او دا ئې مستحب ګرځولی دی. بلکه د حضرت عمر.حذیفه او د نورو خو صحابهٔ کرامو ﷺ په حقله په خیبی کتابونو کښې دا ذکر شوی دی چې ماشومان به ئې کله د بالغو په صف کښې کتل نو هغوی به ئې بیلول. مونږ ته بناسته جواب راکړئ.بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ماشومان وروسته ودرول مستحب دی. که دهغوی نه د لوبو .او د خپلو مونځونو او دنورو د مونځونو د خرابولو او په هغې کښې د خلل اچولو ویره نه وی نو همدا عمل پکار دې . البته په دې زمانه کښې دا مشاهده ده چې کله ماشومان یو ځائې ودریږی نو خامخا ورانی کوی.خبری کوی.خاندی.او د دې په ذریعه خپل مونځ خو ئې خراب وی خو د بالغنو په مونځ کښې هم ډیر سخت خلل راپیدا کوی . په همدې بنا متاخرینو فقهاء کرامو ﷺ د تصریح کړې ده چې ماشومانو لره د بالغینو په صف کښې ودرول ښه دی چنانچه علامه رافعی ﷺ فرمائی **قال الرحمتی رحمه الله: ربما یتعین فی زماننا ادخال الصبیان فی صفوف الرجال لان المعهود منهم اذا اجتمع صبیان فاکثر تبطل صلوة بعضهم ببعض وربما تعدی ضررهم الی فساد صلوة الرجال انتهی.(التحریر المختار ج.ص...)**

خلاصه دا خبری دا ده چې ماشومانو لره وروسته ودرول مستحب لعینه دی او د ذکر کړې شوو

عوارضو له کبله د بالغینو په صف کښې د هغوی ودرول مستحب لغیره دی.چې دا به خاصو حالاتو او د سخت ضرورت په وخت کښې د واجب درجې ته هم رسیدې شی . لکه چې د علامه رافعی د ذکر کړې شوی عبارت نه همدا معلومیږی.

اشکال چاته دا اشکال را پیدا کیدې شی چا ماشومان خو وی شریر او وران، داخه نوې څیز خو ندې چې د دې دوجې نه د احادیثو او د صحابهٔ کرامو ﷺ د آثارو نه ثابت کړې شوې د استحباب حکم بدل کړې شی او د مستحب لهینه او د مستحب لغیره تفصیل دې په کښې بیان کړې شی.

جواب په قرون اولی او هغې ته د نزدې زمانې او د نن صبا او د ماضی قریب په زمانې کښې په درې وجوهو سره فرق دې.

۱- په هغه زمانه کښې به ماشومان دومره وران نه وو لکه چې نن صبا دی

۲ - د هغوی څارل او د مشرانو د اړخه په هغوی باندې اثر او نیول دومره سخت وو چې دومره نن صبا نه دی.

۳ - که چیرې چا به د چا ماشوم ورټلو یا به ئې ورته څه ووئیل نو د هغه مور پلار به نه خفه کیدل. بلکه په دې به خوشحاله کیدل.او د نن صبا وخت کښې په دې باندې مور پلار سخت خفه کیږی. **والاحکام تتغیر بتغیر الزمان.**

دا حکم د هغه ماشومانو په حقله دې چې د موبخ و ، اودس وغیره تمیز لرلې شی،چې دیر زیات ماشومان وی نو د هغوی د مشرانو سرو په صف کښې ودرول مکروه دی.بلکه جمات ته د هغوی او ستل روا نه دی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم** ۲۷ ذی الحجه ۱۴۲۰ هجری

چې امام قرائت شروع کړو نو مقتدی دې ثناء نه لولی

سوال که چیرې مقتدی د امام سره په تکبیر د تحریمی کښې سریک نه سو.او د قراءة د شروع کیدو نه وروسو شریک شو.نو دې به ثنا لولی او که نه ؟ په جهری او سری قرامت کښې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د قرامت شروع کیدو نه وروسته په مقتدی باندې چپ پاتې کیدل واجب دی. د دې وجې نه دې ثنا نه وانی.برابره خبره ده که امام په جهر سره تلاوت کوی او که سرا تلاوت کوی

قال الامام الکاسانی رحمه الله:ولنا قوله تعالی(واذا قرئ القرآن فاستمعوا له و انصتوا لعلکم ترحمون)(الاعراف ۲۰۰) امر بالاستماع والانصات والاستماع وان لم یکن ممکنا عند المخافتة بالقراءة والانصات ممکن فیجب بظاهر النص.

وعن ابی بن کعب ﷺ انه لما نزلت هذه الاية تركوا القراءة خلف الامام و امامهم كان رسول الله ﷺ فالظاهر كان بامره وقال ﷺ فی حديث مشهور: انما جعل الامام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فاذا كبر فكبروا واذا قرأ فانصتوا الحديث امر بالسكوت عند قراءة الامام. (بدائع الصنائع ج۱ص۱۱۰)

وقال الامام ابن الهمام رحمه الله: (قوله بالنص) يعنى قوله تعالى: (واذا قرء القرآن فاستمعوا له و انصتوا) والانصات لا يخص الجهرية لانه عدم الكلام لكن قيل انه السكوت للاستماع لا مطلقا و حاصل الاستدلال بالاية ان المطلوب امران: الاستماع والسكوت فيعمل بكل منهما والاول يخص الجهرية والثانی لا فيجری علی اطلاقه فيجب السكوت عند القراءة مطلقا. (فتح القدير ج۱ص۲۹۸)

وقال العلامة الحصكفی رحمه الله: وقرا كما كبر سبحانك اللهم (الی ان قال) الا اذا شرع الامام فی القراءة فسواء كان مسبوقا او مدركا سواء كان امامه يجهر بالقراءة اولا فانه لا يأتی به لما فی النهر عن الصغری: ادرك الامام فی القيام يثنی مالم يبدأ بالقراءة وقيل فی المخافتة يثنی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله: لما فی النهر: وهو (ای الثناء فی المخافتة) ضعيف لتعبير الصغری عنه بقيل و وجهه انه اذا امتنع عن القراءة فلأن الاولی ان يمتنع عن الثناء. (ردالمحتار ج۱ص۳۲۸)

ليكن علامه شامی رحمه الله شارح د تنوير علامه حصكفی رحمه الله نه د مقتدی د پاره مطلقاً د ثناء د پريښودو ترجيح نقل كولو نه پس د نورو فقهاء كرامو رحمهم الله نه په سری مونځونو كښې د ثنا ويلو ترجيح نقل كړې ده ،او خپل رجحان ئې هم دې اړخ ته ښودلې دې .

وهذا نصه : والول: ما ذكره المصنف جزم به فی الدرر وقال فی المنح: و صححه فی التمرتاشی قول المضمرات: و عليه الفتوی اه و مشی عليه فی منية المصلی والشارح فی الخزائن وشرح الملتقی واختاره قاضيخان حيث قال: ولو ادرك الامام بعد ما اشتغل بالقراءة قال ابن الفضل: لا يثنی وقال غيره: يثنی و ينبغی التفصيل ان كان الامام يجهر لا يثنی وان كان يسر يثنی اه وهو مختار شيخ الاسلام خواهر زاده وعلله فی الذخيرة بما حاصله: ان الاستماع فی غير حالة الجهر ليس بفرض بل يسن تعظيما للقراءة القرآن فكان سنة غير مقصودة لذاتها و عدم قراءة المؤتم فی غير حالة الجهر لا لوجوب الانصات بل لان قراءة الامام له قراءة واما الثناء فهو سنة مقصودة لذاتها وليس الثناء الامام ثناء المؤتم فاذا تركه يلزم ترك سنة مقصودة لذاتها للانصات الذی هو سنة تبعا بخلاف تركه حالة الجهر اه فكان المعتمد ما مشی عليه المصنف فافهم.

(ردالمحتار ج۱ص۳۲۸)

علامه شامی رحمه الله په منحة الخالق کښې هم.همدا تحقیق ذکر کړې دې. لیکن دا تحقیق د دې لاندې دلائلو خلاف دې

۱.دا قول د قرآن د نص ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْءَانُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا ﴾ او د نص د حدیث (اذا قرا الامام فانصتوا) نه خلاف دې، په دې کښې مطلقاً د قراءة د شروع کیدو نه وروسته د انصات حکم دې. د جهری او د سری په کښې څه فرق نه دې کړې شوې.

۲ - که چیرې دا قول صحیح ومنلې شی نو په سری مونځونو کښې د مقتدی د پاره فاتحه وئیل په اولې طریقې سره مستحب کیدل پکار دی.او حال دا چې هغه منع دی نو ثناء وئیل په اولی طریقې سره منع کیدل پکار دی، چنانچه په خپله علامه شامی رحمة الله علیه دا خبره کړې ده:

ووجهه انه اذا امتنع عن القراءة فلان الاولی ان یمتنع عن الثناء.

د دې نه بغیر د فاتحې په حقله ډیر احادیث روایت کړې شوې دی.او ورسره داچې د ډیرو امامانو په نیزد قراءة د فاتحې په مقتدی باندې هم فرض دې،د ځینو په نیزړ مطلقاً فرض دې او د ځینو په نیزد په سری مونځونو کښې فرض دې، لهذا د احادیثو او د خروج عن الاختلاف په بناء باندې د فاتحې اهمیت د ثناء نه زیات دې.

لیکن په اصل حنفی مذهب کښې د ذکر کړې شوو نصوصو له کبله په سری مونځونو کښې هم انصات واجب دې او فاتحه وئیل مکروه دی، تر دې چې د سکوت په وخت کښې د لوستلو اجازت هم نشته دې

۳ - د دې تحقیق بنیاد دا ګرځولې شوې دې چې په سری مونځونو کښې انصات سنت دې.او حال دا دې چې انصات واجب دې،چنانچه علامه رافعی رحمة الله علیه فرمائی:

(قوله علله فی الذخیرة بما حاصله الخ) خلاف المشهور فان المشهور ان السکوت فی السریة والجهریة واجب لاسنة. (التحریر المختار،ج،ص،)

حاصل د خبرې دا دې چې د علامه سرخسی،امام کاسانی،امام ابن همام او د علامه حصکفی رحمهم الله قول راجح دې چې مقتدی دې د قراءة د شروع کیدو نه وروسته ثنا نه لولی، برابره خبره ده که سری قراءة وی او که جهری قراءة وی.او د احنافو د امامانو رحمهم الله چې په مسئلې د قراءة خلف الامام کښې کوم قول د انصات د وجوب دې د هغې تقاضا همداده. والله سبحانه وتعالی اعلم

۶ ربیع الاول ۱۴۲۲ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

ضميمه

المشکوة لمسئلة المحاذاة

- آيا د حرمينو امامان د ښځو د امامت نيت کوي او که نه؟
- دجمعې په مونځ کښې د وړاندينو ستو او په وترو کښې د مذهب د امامانو لحاظ نه کوي
- د نيت نه عدم نيت غوره دې



ضميمه

المشکوة لمسئلة المحاذاة

سوال ستاسو قدرمند رساله (المشکوه لمساله المحاذاة) د لوستلو موقع راته تر لاسه شوه. په دې رساله کښې تاسو د ښځو د امامت د نيت په حقله دا ليکلې دي چې (د حرمينو شريفينو امامان د ښځو د امامت نيت نه کوي مطلب ئې دا شو چې دا خبره ښکاره ده چې زمونږ په نيز د د ښځو د امامت نيت ضروري دې نو د دې وجې نه د حرمينو شريفينو امامانو پسې د ښځو مونځونه نه کيږي. تاسو د شيخ عبدالعزيز بن باز فتوي د ثبوت په توګه نقل کړې ده چې د هغوي د مذهب مطابق د ښځو د امامت نيت کول ضروري نه دي

زما د ناقص خيال مطابق خبره داسې ده چې د امامت نيت نه کول او د امامت نيت نه ضروري ګڼل دوه بېلې بېلې خبرې دي. د ذکر کړې شوي شيخ د فتوې نه دا خبره خو معلوميږي چې د هغوي په نيز د ښځو د امامت نيت کول شرط نه دي ليکن د دې نه بالکل نه ثابتيږي چې د حرمينو شريفينو امامان د ښځو د امامت نيت نه کوي

د ... تاسو د حرم شريف د يو امام حواله ورکړې وې چې هغه د ښځو د امامت نيت نه کوي ... عبدالعزيز بن باز د ... ليکلي وو چې د حرم شريف امامان د ښځو د امامت نيت نه کوي نو ... معلوم ... دليل نه دعوي او دليل کښې څه مطابقت نه نظر نه راځي

ستاسو د رسالې د لوستلو نه پس ... فرنسايي ... معلوم نه دي چې د ...

ښځو د مونځونو به څه کېږي؟ په عامه توګه ما د لويو لويو بزرګانو زنانه هلته ليدلی دی چې د هغه ځای په امامانو پسې مونځونه کوی

او زمونږ د شيخ پير او مرشد حضرت شيخ الحديث مولانا زکريا صاحب نورالله مرقده ښځو به د هغه ځای په امامانو پسې ښه په پابندئ سره مونځ کولو او حضرت شيخ الحديث رحمه الله هغوی چيرته هم نه وې منع کړې

دا فريشانی زما هغه وخت ختمه شوه چې کله د حرم شريف امام شيخ محمد عبد الله بن السبيل دلته تشريف راوړو.يوکال شوې دې چې دوی لره حکومت رئيس الائمه جوړ کړې دې نو د دې وجې نه د حرم امامان په هره خبره کښې د دوی سره مشوره کوی.د حرم شريف د امام د راتګ نه پس د هغوی نه د ښځو د امامت د نيت کولو په حقله اود هغوی په نيزد د نه شرط کيدو په حقله پوښتنه وکړې شوه نو دوی داسې اوفرمائيل «دا خبره ده چې زمونږ په نيزد د ښځو د امامت نيت ضروری ندې. ليکن مونږ د نورو مذهبونو لحاظ ضرور کوو نو د دې وجې نه مونږ د ښځو د امامت نيت ضروری کوو.او يواځې د ښځو نه بلکه د ماشومانو نيت هم کوو.زما نه بغير د حرم شريف نور امامان هم همدغسې کوی».

تاسو نه دا طمع کوو چې تاسو به د دې مسئلې په حقله نور تحقيق هم وکړئ او د خپلې خبرې نه به رجوع وکړی.تاسو نه د خير په دعاګانو کښې د ياد لرلو يو د ادب درخواست دې.بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که تاسو د رسالې په آخره کښې په عنوان «ازالهٔ اشتباهات» مضمون تر آخره پورې به غور سره وګورئ نو کيدې شی چې ستاسو دا اشکال پاتې نه شی. زما په وړاندې نور هم په دير ګڼ شمير واقعات موجود دی چې دا حضرات په قصد سره د نورو مذهبونو محالفت کوی.او که چيرې اوس د دوی د محالفت د نه کولو وخت راغلې وی.نو د جمعې د دويم اذان او د خطبې به منځ کښې د ځلورو رکعتو د سنتو مؤکدو د ادا کولو د پاره ترې نه لږ وخت راوڅلی دا ستاسو په امت باندې لوئې احسان وی.د خطبې نه وړاندې د سنتو او په وترو کښې د امت د مذهبونو لحاظ ساتل پرې وکړئ او د الله په نيزد د اجر موندونکی او د خلقو مشکور شئ. په دې سلسله کښې تاسو مونږ د خپل کوشش د تفصيل او د نتيجې نه خبروئ مونږ به د دې په طمع يو .شکرالله سعيکم.

په آخره کښې بيا زه ستاسو دې اړخ ته مخ راګرځوم چې د نيت کولو نه د نيت نه کول غوره دی. چې تفصيلي وجه ئې د ذکر کړې شوې رسالې په آخره کښې ليکلې شوې ده.

دا مسئله هم متفق عليها ده چې په هر حال کښې د ښځې مونځ په کور کښې افضل دې والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۱ جمادی الاولی ۱۴۱۰ هجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د فاسق امامت او اقتداء

- د فاسق امامت او د هغه اقتداء کول دواړه مکروه تحریمی دی.
- دا کراهیت په دوو شرطونو سره مشروط دې
۱ - د فاسق امام په لرې کولو باندې قدرت نشی لرلې
۲. نژدې چیرته یو نیک امام نشی موندلې

(رساله)

د فاسق امامت

سوال د فاسق امامت او اقتداء بالفاسق دواړه مکروه دی او که نه صرف امامت ئې مکروه دې؟ او په فاسق پسې مونځ کولو مکروه تحریمی دی که مکروه تنزیهی؟ که چیرې تحریمی وی نو راګرځول ئې واجب دی او که نه؟ په دې کښې دامام په لرې کولو باندې د قدرت لرونکی او د قدرت نه لرونکی په مینځ کښې فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د فاسق د امامت او د اقتداء دواړو مسئلو په کراهت فقهاء کرامو رحمهم الله تصریح کړې ده. علامه عینی رحمه الله د مجتبی او د مبسوط نه کراهیت بالمبتدع نقل کړې دې او د امامت په کراهیت کښې د مبتدع او د فاسق یو حکم دې.

كما صرح به ابن عابدين رحمه الله وهذا نصه فهو كالمبتدع تكره امامته بكل حال.

د دې نه همدا خبره په علم کښې راځی چې د مبتدع په شان د فاسق اقتداء هم مکروه ده، نو چې امامت کښې ئې کراهیت دې نو اقتداء به ئې د کراهیت نه څنګه خالی وی؟ او حال دا چې مقتدی دامام تابع وی.

په لرې کولو باندې د قدرت لرونکی او د قدرت نه لرونکی په مینځ کښې فرق شته او که نه؟ په دې حقله د مبتدع د اقتداء مطلقاً کراهیت نقل کړې شوې دې، د لرې کولو د قدرت لرونکی او د قدرت نه لرونکی په مینځ کښې څه فرق نه دې کړې شوې، د دې تقاضا دا ده چې په فاسق پسې د اقتداء کولو کراهیت دې هم مطلقا وی. فقهاء کرامو رحمهم الله د فاسق د امامت د کراهیت دا علت بیان کړې دې چې هغه د دین د احکامو اهتمام نه کوی نو دا خبره څه لرې نه ده چې کیدې شی هغه بې

اودسه خلقو ته جمع ورکړی.د دې اقتضاء همدا ده چې د دهٔ د اقتداء کراهت دې مطلقا وی.ځکه چې دا علت خو په هر حال کښې موجود دې

لیکن علامه شامی رحمه الله په جمعه کښې د فاسق اقتداء مکروهه ګرځولې ده په دې شرط چې د جمعې مونځ په ډیروځایونو کښې کیږی (ځکه چې په داسې حالت کښې په بل ځائ کښې د نیک امام موندل ممکن دی)که چیرې د جمعې مونځ په نورو ځایونو کښې نه کیږی نو په فاسق پسې اقتداء کول مکروه ندی.

د دې تقاضا خو دا ده چې په لرې کولو باندې قدرت نه لرونکې که چیرې نزدې څوک نیک امام نه مومی نو هغه د پاره دې هم په فاسق پسې اقتدا کول مکروهه نوی.

علامه ظفر عثمانی رحمه الله د حضرت عثمان او د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم د عمل نه استدلال کړې دې او فرمائیلې ئې دی چې دا کراهیت مقید دې په لرې کولو د قدرت د نه لرلو پورې او د فتنې د نه پیدا کیدو پورې (یعنی چې فتنه ترې نه پیدا کیږی) په لرې کولو د قدرت نه لرلو او د فتنې د پیدا کیدو په صورت کښې به دا کراهیت زائله شی

لهذا د علامه شامی او د علامه ظفر عثمانی رحمه الله اقوالو ته چې وکتلې شی نو دا خبره ترې نه راوځی چې که د فاسق په لرې کولو څوک قدرت نه لری او نزدې څوک بل یو نیک امام هم نه شی موندلې نو د داسې سړی د پاره په فاسق پسې اقتدا کول مکروهه نه دی.کوم سړې چې د فاسق په لرې کولو قادر وی یا نزدې ورته بل یونیک امام تر لاسه کیدې شی نو د هغه په فاسق پسې اقتدا کول مکروه دی.د کراهیت په تنزیهی یا تحریمی کیدو کښې اختلاف دې.راجح قول دا دې چې دا کراهت مکروهِ تحریمی دی. لیکن بیا هم د دې راګرځول واجب نه دی ځکه چې په حدیث شریف کښې دی چې: (صلوا خلف کل بر وفاجر)

په دې زمانه کښې اکثر همداسې کیږی چې که په لرې کولو قدرت نه لرونکې د امام د لرې کولو خبره کوی نو فتنه ترې نه جوړیږی.دومره فتنه خو ترې نه نهٔ جوړیږی چې قتل او وینې تویولو پورې خبره ورسیږی. لیکن بیا هم جنګ جګړې.وهل ټکول.کنځل وغیره د کومې نه چې د جمات فضا بدبویه او ګنده کیږی. همدا د کراهیت د زائله کیدو د پاره کافی کیدل پکار دی.او په خاص توګه داچې د علامه ابن نجیم غوندې لویو فقهاؤ دا کراهیت کراهت تنزیهی ښودلې دې.

قال العلامة العینی رحمه الله: والفاسق لانه لا یهتم لامر دینه ولان فی تقدیمه تقلیل الجماعة (الی ان قال) واما وجه الکراهیة فلما قلنا ولهذا قال اصحابنا: لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق الا فی الجمعة لان فی سائر الصلوات نجد اماما غیره بخلاف الجمعة وکان ابن مسعود رضی الله عنه یصلی خلف الولید بن عقبة فی صلوة الجمعة وسائر الصلوات وکان الولید والیا بالکوفة وکان فاسقا حتی صلی بالناس یوما وهو سکران کذا فی شرح الارشاد وفی

المحیط:لو صلی خلف الفاسق او المبتدع یکون محرزا ثواب الجماعۃ لقولہ ﷺ:صلوا خلف کل بر و فاجر و اما لا ینال ثواب من صلی خلف تقی.ثم الفاسق اذا کان یؤم و عجز القوم عن منعہ تکلموا فیہ قیل:یقتدی بہ فی صلوۃ الجمعۃ ولا یترک الجمعۃ بامامتہ اما فی غیرھا من المکتوبات فلا باس بان یتحول الی مسجد آخر ولا یصلی خلفہ ولا یاثم بذلک وفی المجتبی والمبسوط:یکرہ الاقتداء بصاحب البدعۃ وفی شرح بکر:فاصل الجواب ان من کان من اہل قبلتنا ولم یغل فی قولہ حتی لم یحکم بکفرہ تجوز الصلاۃ خلفہ.(البنایۃ: ج،ص)

(ومثلہ فی الھدایۃ وفتح القدیر ج،ص)

قال العلامۃ الحصکفی رحمہ اللہ:ویکرہ تنزیھا امامۃ العبد(الی ان قال)وفاسق.

قال العلامۃ ابن عابدین رحمہ اللہ:قولہ وفاسق الخ...وفی المعراج:قال اصحابنا:لا ینبغی ان یقتدی بالفاسق الا فی الجمعۃ لانہ فی غیرھا یجد اماما غیرہ.قال فی الفتح:وعلیہ فیکرہ فی الجمعۃ اذا تعددت اقامتھا فی المصر علی قول محمد المفتی بہ لانہ بسبیل الی التحول...واما الفاسق فقد عللوا کراھۃ تحریمۃ بانہ لا یھتم لامر دینہ وبان فی تقدیمہ للجماعۃ تعظیما لہ وقد وجب علیھم اھانتہ شرعاً ولا یخفی انہ اذا کان اعلم من غیرہ لا تزول العلۃ فانہ لا یؤمن ان یصلی بھم بغیر طہارۃ فھو کالمبتدع تکرہ امامتہ بکل حال بل مشی فی شرح المنیۃ علی ان کراھۃ تقدیمہ کراھۃ تحریم لما ذکرنا قال:ولذا لم تجز الصلوۃ خلفہ عند مالک وروایۃ عن احمد.(ردالمحتار ج،ص)

عن معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ قال:قال رسول اللہ ﷺ : اطع کل امیر و صل خلف کل امام ولا تسبن احدا من اصحابی.رواہ الطبرانی فی الکبیر.

عن عبیداللہ بن عدی بن الخیار انہ دخل علی عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ وھو محصور فقال:انک امام عامۃ ونزل بک ما تری ویصلی لنا امام فتنۃ و نتحرج فقال:الصلوۃ احسن ما یعمل الناس فاذا احسن الناس فاحسن معھم واذا اساؤوا فاجتنب اساءتھم. (اخرجہ البخاری ج،ص)

قال العلامۃ العثمانی رحمہ اللہ:قولہ عن معاذ بن جبل.قلت:دلالتہ علی الجزء الاول من قولہ:وصل خلف کل امام ظاھر قولا خلاف فی صحۃ الصلوۃ خلف الفاسق بین الائمۃ الا ما روی عن مالک و احمد(کما فی رحمۃ الامۃ ص) واما انھا مکروھۃ فلا خلاف فی ذلک کما صرح بہ فی النیل(ج،ص) ودلیل الکراھۃ ھو حدیث الامامۃ وحدیث عبداللہ بن عمر والمذکوران فی الباب السابق وھی مقیدۃ بالقدرۃ علی عزلہ عن الامامۃ وعدم

ترتب فتنة علیه کما سیأتی فی شرح الحدیث الآتی فلا تعارضها احادیث الباب فانها واردة فی الصلوة خلف الامراء والمتغلبین ولا یخفی ما فی عزلهم من الفتنة.

قوله:عن عبیدالله بن عدی.....دلالته علی صحة الصلوة خلف الفاسق من قول عثمان رضی الله عنه ظاهر قوالمراد بامام الفتنة هو کنانة بن بشر البلوی احد رؤوس المصریین فان سیف بن عمر روی حدیث الباب فی کتاب الفتوح من طریق اخری عن الزهری بسنده فقال فیه:دخلت علی عثمان و هو محصور و کنانة یصلی بالناس فقال: کیف تری الحدیث. کذا قال الحافظ فی الفتح.(ج،ص)

وفیه دلیل علی کراهة الصلوة خلفه ایضاً لما فیه من قول عبیدالله بن عدی:(و نتحرج)ولما فی روایة سیف بن عمر من قول یوسف الانصاری: کره الناس الصلوة خلف الذین حاصروا عثمان ولکن عثمان رضی الله عنه انما حضهم علی الصلوة خلفهم لما علم من عجز القوم عن عزلهم وبذلك تزول الکراهة عن من یقتدی به.(اعلاء السنن ج،ص)

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله:فالحاصل انه یکره للهؤلاء التقدم ویکره الاقتداء بهم کراهة تنزیهیة.(البحر ج،ص)

وقال العلائی رحمه الله:(ویکره)تنزیها.(در المختار ج،ص)

وقال العلامة الخوارزمی رحمه الله:قوله وان تقدموا جاز لقوله علیه السلام:صلوا خلف کل بر و فاجر.وجه الاستدلال بالحدیث انه علیه السلام جوز الاقتداء بکل بر و فاجر. کل واحد من هؤلاء المذکورین بعد کونه مسلما لا یخلو اما ان کان برا او فاجرا فیصح الاقتداء بهم ولان الحدیث دل علی جواز الاقتداء بالفاسق مع الموجب للتنفیر و موجب التنفیر موجود فی غیره فیثبت الحکم فی الفاسق بالعبارة وفی غیره بالدلالة وقال مالك رحمه الله:لا تجوز الصلوة خلف الفاسق لانه لما ظهرت منه الخیانة فی الامور الدینیة فلا یؤتمن فی اهم الامور. ولکن نقول:ان عبدالله بن عمر و انس بن مالك وغیرهما من الصحابة رضی الله عنهم و کذلك التابعون کانوا یصلون خلف الحجاج صلوة الجمعة وغیرها مع ان کان افسق اهل زمانه.(الکفایة مع فتح القدیر ج،ص)

فی شرح الوقایة(فان ام عبدا واعرابی اوفاسق او اعمی او مبتدع او ولد الزنا کره)(ج،ص)

قال العلامة اللکنوی رحمه الله:قوله: کره الکراهة فی تقدیم الفاسق تحریمیة و کذا المبتدع.(عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة ج،ص)

فی المراقی:ولذا کره امامة الفاسق العالم لعدم اهتمامه بالدین فتجب اهانته شرعا فلا یعظم بتقدیمه للجماعة و اذا تعذر منعه ینتقل عنه الی غیر مسجده للجمعة وغیرها وان لم یقم الجمعة الا هو تصلی معه.

وفي حاشية الطحطاوي على الدر: فتجب اهانته۔ تبع فيه الزيلعي و مفاده كون الكراهة في الفاسق تحريمية.

(الطحطاوي على المراقي:ص۳۰)

قال العلامة الزيلعي: والفاسق لانه لا يهتم لامر دينه ولان في تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعا۔ وان تقدموا جاز لقوله ﷺ: صلوا خلف كل بر و فاجر. والفاجر اذا تعذر منعه يصلي الجمعة خلفه وفي غيرها ينتقل الى مسجد آخر وكان ابن عمر وانس يصليان الجمعة خلف الحجاج (التبيين ج۱ص۳۰)

خلاصه دا چې د فاسق امامت او اقتداء كول دواړه مكروه دی. د امامت كراهيت خو مطلقاً دي. او د اقتداء كراهيت په كښې مشروط دي د لرې كولو د قدرت لرلو سره او د بل نيک امام د موندلو سره ـ كه چيرې په لرې كولو باندې ئې قدرت نه وی او نزدې څوک نيک امام هم نه وی نو بيا اقتداء مكروهه نه ده.

د لرې كولو په قدرت لرلو او د نيک امام د موندلو په صورت كښې چې بيا كوم كراهيت دې نو په دې كراهيت كښې اختلاف دې چې دا كراهيت تنزيهی دې او كه تحريمی دې. بعضې علماؤ لكه علامه ابن نجيم او صاحب د درمختار دې ته كراهيت تنزيهی وئيلی دې او د نورو فقهاؤ ﷺ په نيزد باندې كراهيت تحريمی دې او همدا راجح قول دې. خو په هر حال كښې د مونځ راګرځول واجب نه دی. ځكه چې په فاسق پسې مونځ كول د دې حديث (صلوا خلف كل بر و فاجر) د وجې نه د دې قاعدې (كل صلوة اديت مع الكراهة التحريمية اعادتها) نه مستثنى دى. احسن الفتاوی (أردو) ج ۱.ص ۲۲۱ كښې په فاسق پسې مونځ كول مكروه ليكلې شوې دی. په دې كښې همدا شرط ليكلې شوې دې چې په لرې كولو باندې قادر وی يا بل يو نيک امام موندلې شی لكه چې د ج ۱.ص ۲۲۰ نه ښكاره معلوميږی. والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۴ رجب ۱۴۲۱ هجری

باب دې په بيان د مفسداتو د مونځ او د مكروهاتو د مونځ كښې

د نابالغه هلک فتحه قبلول

سوال كه په فرض مونځ يا په تراويحو كښې نابالغ ماشوم فتحه وركړى او امام ئې قبوله كړى نو د دې مونځ څه حكم دې؟ دا به فاسد شى او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : قال الشمس العلماء العلامة ابن نجيم رحمه الله: وفتح المراهق كالبالغ (البحر ج،ص،) ومثله فى حاشية الطحطاوى على المراقى ص ولى الهندية ج ،ص).

د دې د مخالف مفهوم نه دا خبره په علم كښې راځى چې د دولسو كالو نه د كم عمر ماشوم فتحه قبلول مفسد دى ليكن علامه شلبى رحمه الله په غايه كښې نقل كړې دى چې:

وفتح المراهق كالبالغ وعن عبد الله وفتح الصغار ذكره فى مختصر البحر اهـ (حاشية الشلبى بهامش الزيلعى ج،ص)، وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فى باب الاذان (قوله: صبى مراهق) المراد به العاقل وان لم يراهق كما هو ظاهر البحر وغيره (ردالمحتار ج،ص)

د دې نه معلومه شوه چې په فتح المراهق كښې هم د مراهق نه عاقل مراد دې، او اصول هم د دې تقاضا كوى چې د اووه ۷ كالو ماشوم چې كله تميز كولې شى او عاقل وى نو د هغه فتح هم صحيح كيدل پكار دى. والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۸ رجب ۱٤۰۱ هجرى

وينسته يوځائ كول او تړل او مونځ ورسره كول

سوال وينسته را يوځائ كول او هغې نه يوه كوځى جوړول او له هغې وسره مونځ كول چې د فقهې تولو كتابونو ورته مكروه ونيلې دى. دا كراهت يواځې د سړو د پاره دې او كه نه د ښځو د پاره هم دې؟ ډيرو د علم د خاوندانو نه مو دا آوريدلې دى چې دا كراهيت د دواړو د پاره عام دې. ځكه چې د فقهې په كتابونو كښې داحكم مطلقا ذكر كړې شوې دې، د ښځو استثناء په كښې چرته ذكر كړې شوې نده. او بعضې حضرات دا د سړو سره خاص كوى ستاسو خيال د دې مسئلې په حقله څه دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب زما په نيزد دويمه رايه صحيح ده. د لاندينو دليلونو نه ددې مرسته كيږى

۱. د كوم حديث په حوالې سره چې دا مسئله د فقهې په كتابونو كښې ذكر كړې شوې ده په

هغې کښې يواځې د سرو ذکر دې.

عن ام سلمة رضي الله عنها ان النبي ﷺ نهى ان يصلي الرجل و راسه معقوص رواه الطبراني في الكبير و رجاله الصحيح. (مجمع الزوائد ج۲ص۸۳)

۲- د ويښتو دکوځې تړل د سړو د عام شکل نه خلاف دي، لهذا د دوی د پاره داسې شکل جوړول او دې سره مونځ کول مکروه دي. د دې په خلاف که وکتلې شي نو په ښځو کښې دا هيئت معروف دې، لهذا د هغوی د پاره په دې کښې د کراهيت څه وجه نشته.

۳ - دا صورت جوړول د ښځو د پاره ذريعه د ستر ده، په دې کښې د ويښتو د خلاصيدلو او د ښکاره کيدلو څه امکان نشته، ځکه چې په خلاصو ويښتو کښې د ويښتو رازوړنديدل او ښکاره کيدل او دې سره د مونځ فاسديدل څه لرې خبره نه ده.

۴ - په جنتي کالی کښې د هغه ټولو مکروهاتو د مونځ په تفصيل سره بيان شته کوم چې د فقهې په کتابونو کښې ذکر شوی دی، په دې کښې د ويښتو د راټولولو بيان نشته او دا د کراهيت نشتوالې په سړو پورې د دې (کراهيت) د خاص کيدو قوي قرينه او دليل دې.

۵ - اعلاء السنن ج ۵،ص ۱۱۳،شاميه ج ۱،ص ۴۳۱،عالمگيرية ج ۱،ص ۱۰۲،کبيری ۳۴۲،حاشيه شرح وقايه کښې د دې تفسير دارنګه کړې شوې دې.

عقص الشعر اى يجمعه حول الراس كعقد النساء اهـ.

د لفظ (كعقد النساء) نه دا ښکاره معلوميږي چې دا حکم يواځې د سړيو د پاره دې،اوکه نه نو تعريف الشئ بالشئ به لازم شي، ولا قائل به احد.

په دې مسئله کښې زما خيال د شروع نه همدا وو،وروسته مې چې کله کوشش وکړو نو د حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی رحمه الله فتوی مې هم د دې مطابق وموندله هغه فتوی دلته نقل کولې شی قال في الدر في باب المكروهات: وعقص شعره اهـ قال الشامي: اى ضفره وفتله والمراد به ان يجعله هامته ويشده بصمغ،او يلف ذوائبه حول راسه كما يفعله النساء في بعض الاوقات،او يجمع الشعر كله من قبل القفاء ويشده بخيط او خرقة وجميع ذلك مكروه لما روى الطبراني انه ﷺ نهى ان يصلي الرجل وراسه معقوص اهـ(ج۱ص۴۰) . وفي نيل الاوطار عن العراقي: وهو مختص بالرجال دون النساء،لان شعرهن عورة يجب ستره في الصلوة فاذا نقضته ربما استرسل وتعذر ستره فتبطل صلوتها اهـ(ج۲ص۳۰)

قلت: وقول العراقي لا تأباه القواعد بل هي تويده فان شعر النساء عورة عندنا ايضا.

پس درين مسئله هم قول زيد نزد ما صحيح است نه قول عمرو.والله اعلم.(امداد الاحکام ج

۱.ص ٥٥٧) والحمدلله علی هذا الوفاق.

خبرداري د ښځو د وینښتو د ترلو د جواز کوم حکم چې لیکلې شوې دې دا د ځټ په ګدئ باندې د وینښتو د راټولولو په حقله دې د سر د پاسه د قب په شان وینښته راټولول او ترل د ښځو د پاره هم روا ندی. د دې تفصیل په احسن الفتاوی «اُردو» ج ۴.ص ۷۴ کښې دې. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

٦ ذی الحجه ۱٤٠٣ هجری

مونځ کوونکې چې په څومره اوچت ځای باندې وی نو مخې ته ئې تیریدل روا دی؟

سوال مونځ کوونکې که په اوچت ځائ ولاړ وی نو د هغه مخې ته تیریدل روا دی او که نه؟ او بلکه دا چې د اوچتوالې اندازه به څومره وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب چې د دواړو (مونځ کوونکې او تیریدونکې) تر مینځ په ټیمو یا په اکثرو اندامونو کښې یو تر بله مخامختیا راځی نو روا ندی او که داسې نه وی نو روا دی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله: بعض اعضاء المار الخ) قال فی شرح المنیة: لا یخفی ان لیس المراد محاذاة اعضاء المار جمیع اعضاء المصلی فان لا یتاتی الا اذا اتحد مکان المرور و مکان الصلوة فی العلو والتسفل بل بعض الاعضاء بعضا وهو یصدق علی محاذاة راس المار قدمی المصلی اه لکن فی القهستانی: ومحاذاة الاعضاء للاعضاء یستوی فیه جمیع اعضاء المار هو الصحیح، کما فی التحفة واعضاء المصلی کلها ـ کما قاله بعضهم، او اکثرها، کما قال اخرهم. کما فی الکرمانی وفیه اشعار بانه لو حاذی اقلها او نصفها لم یکره وفی الزاد انه یکره اذا حاذی نصفه الاسفل النصف الاعلی من المصلی، کما اذا کان المار علی الفرس اه فتامل.

(ردالمحتار ج۱،ص۴۳۰)

د ښځو په مونځ باندې د بناء کولو حکم

سوال که د ښځې د مونځ په دوران کښې اودس مات شی نو آیا د اودس کولو نه پس هغه په خپل مونځ باندې بناء کولې شی او که نشی کولې؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب راجح قول دا دې چې بنا نشی کولې. او که په اودس که د څنګلو د ښکاره کولو نه بغیر د پاسه برې اوبه واړوی نو بیا بنا کولې شی. خو په دې شرط چې په لاسونو باندې ئې دومره پیړه (دبله) جامه وی چې په لمدیدو باندې هم دهغې نه د بدن رنګ نه ښکاره کیږی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله فی صور عدم جواز البناء: او کشف عورته فی الاستنجاء او المرأة ذراعها للوضوء

اذا لم یضطر له فلو اضطر لم تفسد.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله اذا لم يضطر الخ) قال في الخانية قال الامام ابو علي النسفي: ان لم يجد بدا من ذلك لم تفسد صلوته والا بأن تمكن من الاستنجاء وغسل النجاسة تحت القميص فسدت وكذا المرأة لها ان تكشف عورتها واعضاءها في الوضوء اذا لم تجد بدا من ذلك وقال بعضهم: اذا كشف عورته في الوضوء لا يبقى وكذا المرأة والصحيح هو الاول لان جواز البناء للمرأة منصوص عليه مع انها تكشف عورتها في الوضوء ظاهرا اه قال نوح آفندي: وصحح الزيلعي الثاني والاعتماد على تصحيح قاضيخان اولى ولهذا اختاره المصنف يعني صاحب الدر اه لكن في الفتح عن الزيلعي: ان الفساد مطلقا ظاهر المذهب. (ردالمحتار ج۱ ص۳۰)

په پورتنو عبارتونو کښې د امام قاضیخان رحمه الله او د امام زیلعی رحمه الله تر مینځه د تصحیح په حقله اختلاف ذکر کړې شوې دې. د اختلاف فی التصحیح په صورت کښې د علامه ابن عابدین رحمه الله تحقیق دا دې

اذا كان احدهما ظاهر الرواية فيقدم على الاخر قال في البحر من كتاب الرضاع: الفتوى اذا اختلف كان الترجيح لظاهر الرواية وفيه من باب المصرف: اذا اختلف التصحيح وجب الفحص عن ظاهر الرواية والرجوع اليه. (رسائل ابن عابدين ج۱ ص۳۰)

د امام زیلعی رحمه الله تصحیح د مذهب د ظاهر مطابق ده لهذا هماغه راجحه ده. والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۱ رجب ۱٤۱۰ هجری

که په قرآن مجید کښې یې وکتل او فتحه ئې ورکړه او امام فتحه قبوله کړه نو د ټولو مونځ فاسد شو

سوال دلته د حنفی مسلک د دوو علماؤ په مینځ کښې په یو مسئله کښې اختلاف دې د دواړو نظرونه د دلائلو سره ستاسو په خدمت کښې لیکم تاسو دا وګورئ او فیصله وکړئ چې د چا قول صحیح دې؟ مسئله دا ده چې که مقتدی په قرآن کښې وګوری او فتحه ورکړی نو دا صحیح دی او که نه؟ که امام فتحه قبوله کړه نو مونځ به یی فاسدیږي او که نه؟

یو عالم وائی چې فتحه ورکول صحیح دی او د دې په قبلولو سره مونځ نه فاسدیږي، دې په استدلال کښې دوه روایته وړاندې کوی

۱ - كانت عائشة رضي الله عنها يؤمها عبدها ذكوان من المصحف

۲ - وكان انس رضي الله عنه يصلي وغلامه خلفه يمسك له المصحف فاذا تعايا في اية فتح عليه

دویم عالم وائی چې د احنافو په نیزد به مونځ فاسد شی او په استدلال کښې لاندینی دلائل وړاندې کوی

(۱) اثر عمر رضی الله عنه: اخرجه ابن ابی داود عن ابن عباس رضی الله عنهما ان امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه نهانا ان نؤم الناس فی المصحف.

قال العلامة العثمانی رحمه الله معزیا الی البحر: فان الاصل کون النهی یقتضی الفساد اه (اعلاء السنن: ج۴ ص۲۰)

وقال ایضا: قال العلامة ابن عابدین رحمه الله فی حاشیة البحر: انه لا بد من تقیید عدم الفساد فی الحافظ بان یکون من غیر حمل. (اعلاء السنن ج۴ ص۲۱)

ذکر کړې شوی مقتدی حافظ نه دې او هغه قرآن را اخلی او فتحه ورکوی، دا فتحه له خارج څخه ده. لهذا مونځ په دې سره فاسد کیږی.

(۲) عن جابر عن عامر رضی الله عنه قال: لا یؤم فی المصحف. (مصنف ابن ابی شیبة: ج۲ ص۳۳۸)

(۳) وفی حاشیة الهدایة: ولو حمل وقلب الاوراق وقرا فلا کلام فیه بل هو مفسد اتفاقا وانما الکلام فیما اذا نظر الی المصحف ثم قرا وان عمل قلیل. (هدایة ج۱ ص۱۳۷)

(٤) حضرت مفتی محمد کفایت الله رحمه الله لیکلې دی چې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نیزد که چیرې امام قرآن ته ګوری او هغه لولی نو مونځ فاسدیږی او د صاحبینو رحمهما الله په نیز د دهٔ مونځ صحیح دې. که چیرې هغه سړې حنفی وی نو د هغه عمل صحیح ندې او که حنفی نه وی نو د هغه سره دې کار نه لری. (کفایت المفتی ج۳، ص ۴۵۴)

(۵) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله کانه تلقن من المصحف فصار کما اذا تلقن من غیره (ردالمحتار بحواله احسن الفتاوی ج۳ ص۱۷۰)

دواړه علماء په خپله خپله خبره باندې نور دلائل هم وړاندې کوی تاسو ته دا درخواست دې چې مونږ ته د خپل تحقیق نه فائده راورسوئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا د خارج نه تلقین دې او ورسره کثیر عمل هم دې. د دې وجې نه د مقتدی مونځ فاسدیږی. او که امام فتحه قبوله کړه نو د هغه مونځ به هم فاسد شی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله: الا اذا سمعه المؤتم الخ) فی البحر عن القنیة: ولو سمعه المؤتمن لیس فی الصلوة ففتح به علی امامه یجب ای تبطل صلوة الکل لان التلقین من خارج اهـ والرد فی النهر وجهه ان المؤتم لما تلقن من خارج بطلت صلوته فاذا فتح علی امامه واخذ منه بطلت صلوته. (ردالمحتار ج۱ ص۶۲۲)

د دې نه علاوه دویم عالم چې کوم دلیلونه وړاندې کړی دی هغه هم د مونځ په فساد کښې نصوص دی. دریمی عالم چې کوم دوه دلائل وړاندې کړې دی په هغې کښې او د فساد په دلائلو

کښې د تطبیق او د ترجیح دواړه طریقې اختیارولې شی.

تطبیق ۱- د ذکوان د روایت مطابق د مونځ صحیح کیدل به په دې باندې حمل کړې شی چې هغوی به د مونځ د شروع کیدو نه وړاندې قرآن مجید وکتلو او یاد به ئې کړو بیا به ئې په مونځ کښې همداسې بې کتلو وئیلو.

۲- د دوو شفعو په مینځ کښې به ئې دومره قدر قرآن وکتلو او یاد به ئې کړو څومره به ئې چې په دوو رکعتو کښې وئیل غوښتل. راوی دا وګڼل چې په مونځ کښې قرائت د قرآن د مصحف نه کوی. نو د دې وجې نه ئې همداسې نقل کړو. د انس ﷺ په روایت کښې **(فتح علیه)** هم په دې باندې حمل دې چې غلام به ورته د دوو شفعو په مینځ کښې غلطی ښودله

۳- د **(کان یقرا من المصحف)** مطلب دا دې چې په تراویحو کښې به ئې پوره قرآن نه لوستلو د قرآن بعضې حصه به یې لوستله. د دې نه مقصد دا بیانول دی چې په تراویحو کښې پوره قرآن لوستل فرض نه دی.

۴- د **(کان یقرا من المصحف)** مطلب دا دې چې په مونځ کښې به ئې پوره سورت نه لوستلو، د بیلو بیلو ځایونو نه به یې آیتونه لوستل. لکه څه رنګه چې په مونځ کښې پوره سورت لوستل او د بیلو بیلو ځایونو نه د مختلفو رکوع ګانو لوستل دواړه صورتونه د قاریانو معمول دی.

ترجیح ۱- چې په قول او فعل کښې تعارض وی نو ترجیح قول لره وی

۲- چې په حرمت او اباحت کښې تعارض وی نو ترجیح حرمت لره وی.

۳- د حضرت عمر ﷺ په قول کښې څه احتمال نشته. او د عائشې رضي الله عنها او د انس ﷺ په فعل کښې څو څو احتمالات دی. کمامر.

۴- د حضرت عمر ﷺ قول د یو حدیث سره هم معارض نه دې. او د عائشې رضي الله عنها او د انس ﷺ د فعل سره معارض دوه حدیثه موجود دی. کماسیاتی فی العبارات.

۵- د دې دواړو عمل د صحابۀ کرامو ﷺ د توارث خلاف دې

قال الحافظ العینی رحمه الله: قلت: اثر ذکوان ان صح فهو محمول علی انه کان یقرا من المصحف قبل شروعه فی الصلوٰة ای ینظر فیه ویتلقن منه ثم یقوم فیصلی وقیل: ما دل فانه کان یفعل بین کل شفعین فیحفظ مقدار ما یقرا من الرکعتین فظن الراوی انه کان یقرا ن المصحف فنقل ما ظن لیؤید ما ذکرناه ان القراءة من المصحف مکروهة ولا نظن بعائشة رضي الله عنها انها کانت ترضی بالمکروه وتصلی خلف من یصلی بصلوٰة مکروهة. (البنایة ج۲ص۰۰)

وقال شیخ الحدیث محمد زکریا رحمہ اللہ: والعجب من الجمهور بان نهی عمر رضی اللہ عنہ مقدم علی فعل عائشة رضی اللہ عنہا باعتبار الرجل والمرأة وباعتبار القول والفعل وباعتبار النهی والاباحة على انها فعلها رضی اللہ عنہا لیس بنص فی ذلک لما فیه من الاحتمالات الاتیة ویمکن عندی ان یستدل ایضا للامام ابی حنیفة رحمہ اللہ علی القائلین بالجواز بما فی ابی داود فی حدیث المسیء: فان ثم کبر فان کان معک قرآن فاقرأ به والا فاحمد الله عزوجل وکبره الحدیث فان کان القراءة بالنظر فهلا امره به ﷺ اذا لم یکن معه القرآن وفیه ایضا عن عبدالله ابن ابی اوفی رضی اللہ عنہ قال: جاء رجل الی النبی ﷺ فقال: انی لا استطیع ان آخذ من القرآن شیئا فعلمنی ما یجزئنی منه فقال: قل: سبحان الله الحدیث واوضح منه لفظ الترغیب فی هذه القصة: قال: یا رسول الله قد عالجت فلم استطعه الحدیث حجة ایضا هؤلاء علی القراءة فی الصلوة بخلاف الحنفیة فهلا امره ﷺ بالقراءة بالنظر وقد عالج القرآن فهل لم یمکن له القراءة بالنظر بعد المعالجة ایضا واما اثر عائشة رضی اللہ عنہا فمع ماتقدم من ترجیح اثر عمر رضی اللہ عنہ علیه لیس بنص فی الباب لما فیه من الاحتمالات قال السرخسی رحمہ اللہ فی مبسوط: لیس المراد بحدیث ذکوان انه کان یقرأ من المصحف فی الصلوة: انما المراد بیان حاله انه کان لا یقرأ جمیع القرآن عن ظهر القلب والمقصود بیان ان قراءة جمیع القرآن فی قیام رمضان لیس بفرض اهـ ومعناه انه کان یقرأ بعض القرآن لا کله ویحتمل ایضا ان یکون المعنی: کان یقرأ من القرآن ای الآیات منه لا سورة کاملة فی رکعة کما ان هذین الطریقین معروفان عند القراء لبعضهم یقرؤون فی کل رکعة سورة قصیرة وبعضهم الرکوعات المتفرقة ویحتمل ایضا ان یکون المعنی ان کان ینظر فی المصحف بعد الترویحة اذا تعایا علیه ثم یقرأها بعد ذلک فی الصلوة وهذا الطریق ایضا معروفة فان الحفاظ الذین لم یکن عندهم من یفتح علیهم اذا ارتج علیهم یسلمون فینظرون المصحف وهذه الطرق کلها معروفة بین الحفاظ وعلی کل منها یطلق القراءة والاسماع من المصحف (الی ان قال) واجاب عنه فی الفیض بانه مخالف للتوارث قطعا. (لامع الداری ج ۲ ص ۳)

آثار الصحابة والتابعین رضی اللہ عنہم

١ - عن سلیمان بن حنظلة البکری انه مر علی رجل یؤم قوما فی المصحف فضربه برجله

٢ - عن ابی عبدالرحمن انه کره ان یؤم فی المصحف

٣ - عن ابراهیم انه کره ان یؤم الرجل فی المصحف کراهة ان یتشبهوا باهل الکتب

٤ - عن ابراهیم قال: کانوا یکرهون ان یؤم الرجل وهو یقرأ فی المصحف

۵- عن مجاهد انه كان يكره ان يؤم الرجل في المصحف

۶- عن سعيد بن المسيب قال: اذا كان معه من يقرا رددوه ولم يؤم في المصحف

۷- عن الحسن انه كرهه وقال: هكذا تفعل النصارى.

۸- عن حماد وقتادة في رجل يؤم في رمضان في المصحف فكرهاه

۹- عن عامر قال لا يؤم في المصحف. (مصنف ابن ابي شيبة ج ۲ ص ۳۳۸) والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۸ جمادى الثانية ۱۴۱۴ هجرى

د زلزلې له کبله مونځ ماتول

سوال په جمات کښې که د جمعې په دوران کښې زلزله راشي يا څوک ځان له په کور يا په جمات کښې مونځ کوی او زلزله راشي، نو آيا امام له او ځان له مونځ کوونکی لره مونځ ماتول او د جمات يا کور نه وتل روا دی او که نه مونځ به سر ته رسوی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که دآبادئ د غورځيدو ويره وی نو مونځ ماتول روا بلکه واجب دی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويجب القطع لنحو انجاء غريق اوحريق.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: تحت قوله ويجب القطع الخ: (التتمة) نقل عن خط صاحب البحر على هامشه: ان القطع يكون حراما و مباحا و مستحبا و واجبا فالحرام لغير عذر و المباح اذا خاف فوت مال و المستحب القطع للاكمال والواجب لاحياء النفس. (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۴) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۱ صفر ۱۴۱۸ هجرى

د مونځ کوونکی مخې ته تيريدونکو لره منع کول

سوال که څوک مونځ کوی او د هغه مخې ته څوک تيريږی نو مونځ کوونکی ته څه کول پکار دی؟ تيريدونکې په لاس سره منع کول پکار دی او که نه؟ ځينی حضرات يو حديث بيانوی فليقاتله. د دې نه معلوميږی چې د هغه سره قتال کول پکار دی، اګرکه هغه قتل شي. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په زوره آواز سره دې تسبيح ووائی يا که د سری قرائت په مونځ کښې وی نو د يو آيت نه دې کمه حصه په جهر سره تلاوت کړی او که د جهری قرآة مونځ کښې وی نو د عام جهر نه دې لږ زيات په جهر سره تلاوت وکړی يا دې د لاس په اشارې سره حصار کړی. ليکن نه حصارول او خپل مونځ کښې مشغوله اوسيدل غوره دی. کوم حديث چې ذکر کړې شوې دې هغه منسوخ دې

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (ويدفعه) هو رخصة فتركه افضل بدائع قال الباقاني: فلو ضربه فمات لا شيء عليه عند الشافعي رحمه الله خلافا للشارح على ما يفهم من كتبنا (بتسبيح) وجهر قراءة (او اشارة) ولا يزاد عليها عندنا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله خلافا للشارح) اي ان المفهوم من كتب مذهبنا ان ما يقوله الشافعي خلاف قولنا فانهم صرحوا في كتبنا بانه رخصة والعزيمة عدم التعرض له فحيث كان رخصة يتقيد بوصف السلامة افاده الرحمتي بل قولهم ولا يزاد على الاشارة صريح في ان الرخصة هي الاشارة فقط وان المقاتلة غير ماذون بها اصلا واما الامر بها في حديث فليقاتله فانه شيطان فهو منسوخ لما في الزيلعي عن السرخسي ان الامر بها محمول على الابتداء حين كان العمل في الصلوة مباحا اه فاذا كانت المقاتلة غير ماذون بها عندنا كان قتله جناية يلزم موجبها من دية او قود فافهم (رد المحتار ج، ص—) والله سبحانه وتعالى اعلم. غره صفر ۱۴۱۹ هجري

پرله پسې د درېو حرکاتو په مفسد کېدو باندې د اشکال جواب

سوال تاسو په احسن الفتاوی (اردو) ج ۳، ص ۴۱۲ او ۴۱۷ کښې لیکلی دی چې درې خل د سبحان الله وئیلو د وخت په اندازه کښې درې خله د ضرورت د پاره ځان ګرول هم مفسد دی، حال دا چې د ګنګوهی صاحب رحمه الله په تقریر د جامع الترمذی (الکوکب الدری) کښې دی چې د درېو حرکاتو د مونځ د پاره مفسد کېدل په عامه توګه مشهور دی لیکن د دې څه ثبوت نشته د (الکوکب الدری) عبارت دا دې

فما فيه اشتغال عما هو غير الصلوة فان كان لاصلاحها كانا او لابقاء خشوعها وخضوعها لا يكون له فيه كراهة وان كان غير ذلك فلا يخلو عن كراهة واما ما اشتهر بينهم من كون الحركات الثلاث او الفعل بكلتا يديه مفسدا للصلوة فليس بشيء اذ يرده ما لا يمكن الكار وروده من الروايات (الكوكب الدري: ج، ص—)

تاسو په خدمت کښې دا درخواست دې چې په دې باندې غور وکړئ او د خپلې لوړې رائې نه مونږ مستفید کړئ. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د قلیل او کثیر عمل تر مینځه د فرق کولو په حقله د فقهاؤ رحمهم الله مختلف قولونه دی، د ټولو نه راجح دادې چې کتونکی ته په سرسری نظر سره دا معلومه شی چې دا سړې په مونځ کښې ندې. د پرله پسې درېو حرکاتو مونځ لره د مفسد کېدلو قول هم د همدې مطابق دې . په ډېرو مسائلو کښې په اصل مذهب کښې د رائ د مبتلی به (یعنی د هغه چا رائې چې څوک په دې مسئله کښې واقع شوې وی) اعتبار وی. لیکن په دې کښې د نظرونو اختلاف وی. د کومې نه چې وهم ترقی کوی او فیصله کول ګران وی. د دې وجې نه فقهاء رحمهم الله د مسئلې بنیاد په رائ د مبتلی به باندې د اینبودو په ځائ د وهم د لرې کولو او د فیصلې د آسانتیا د پاره

د یوې معتدلې اندازې په ذریعې د دې حد مقرر کړی دې او د دې ډیر مثالونه دی

۱. د ډېره اوبو اندازه نده معلومه. بلکه په اصل مذهب کښې د رائ د مبتلې به اعتبار دې. لیکن به دې کښې د آراؤ اختلاف کیدې شی. وهمی سړی ته نهر هم لږ معلومیږی او د غلیظ طبیعت مالک ته لږې اوبو هم ډیر ښکاری. د دې وجې نه فقهاؤ رحمهم الله د دې اختلاف نه د بچ کیدلو د پاره د لس په لس قول کړې دې. حال دا چې دا د اصل مذهب نه خلاف خبره ده.

۲ شرعی سفر په اصل مذهب کښې درې مرحلې دی. لیکن په دې کښې د لارې. د سوریدونکی. د سورلئ او د موسم د اختلاف په وجه اختلاف راځی. د دې وجې نه فقهاء کرامو رحمهم الله د دې حد په میلونو سره مقرر کړو. اګرچه په دې کښې هم اختلاف دې. خو دا اختلاف په یو قول کښې رابند دې. که دا حد نوې مقرر کړې شوې نو بیا به د اختلاف صورتونه غیر محدود وو

همدغه رنګه په دې مسئله کښې (چې په کومه مسئله باندې بحث شروع دې) ارجح قول دا دې چې په سر سری نظر سره کتونکی ته دا غالب ګمان راشی چې دا سړې مونځ نه کوی یعنی د مونځ نه بهر دې نو داسې عمل مفسد د مونځ دې. خو ممکنه ده چې د یو کتونکی په نظر کښې یو عمل کثیر وی او د بل په نظر کښې هغه عمل کثیر نه وی. دغه شان په خپله د مونځ ګزارو په رائې کښې هم اختلاف کیدې شی. د ځینو په خیال کښې ډیر زیات عمل هم قلیل وی لکه چې نن صبا د عربو څنګه حال دې. او د ځینو وهمی طبیعت لرونکو په خیال لږ شان عمل هم کثیر وی. یو مولوی صاحب رانه د مسئلې پوښتنه وکړه چې د خارښ د وجې نه مې یو ځل لاس اوچت کړو نو دې سره خو مې مونځ فاسد نه شو؟

هر څنګه حال چې وی خو د طبیعتونو د اختلاف. د زمانې او د مکان د اختلاف په وجه به په دې کښې ډیر سخت اختلاف وی. د دې وجې نه د دې هم یو حد مقرر کړې شو او پرله پسې درې حرکتونه د مونځ د پاره مفسد وګرځولې شو. د کثیر عمل په تعریف کښې راجح قول دا دې چې په سر سری نظر سره کتونکې ده لره د مونځ نه خارج وګنی. پرله پسې درې حرکتونه د دې سره نزدې نزدې ومونډلې شو نو ځکه دا (د درې حرکاتو) قول اختیار کړې شو. د صحیح طبیعت خاوند به هم دا ګنی چې دې په مونځ کښې ندې داخل شوې. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم** ۴ جمادی الثانیة ۱۴۲۰ هجری

په یو حرکت باندې د مونځ د راګرځولو په وجوب باندې د اشکال جواب

سوال تاسو په احسن الفتاوی (اردو) ج ۳. ص ۴۱۲ کښې لیکلی دی چې بغیر د ضرورت نه یو ځل هم ګرول مکروه تحریمی دی او د مونځ راګرځول واجب دی. ځینی علماء د ځینو فقهاؤ رحمهم الله د قولونو حواله ورکوی او دا وائی چې څنګه ښکاره دی چې دا کراهت د مونځ په بنیادی ارکانو کښې ندې نو د دې وجې نه مونځ راګرځول واجب ندی. په دې حقله د خپل خیال او تحقیق نه مونږ

خبر کړئ او مونږ ته د شکريې موقع راکړئ. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د فقهاء کرامو ﷺ د ليکنو دوه قسمونه دی. يو دا چې د نفس مسئلې تحقيق ئې مقصود وی. دويم دا چې د يو اشکال د حل کولو د پاره د عامې کليې خلاف د بحث په توګه يوه خبره ذکر کړی.

په دې صورت کښې د کليې خلاف صرف د اشکال د حل کولو د پاره د بحث په توګه د ذکر کړې شوې خبرې د اخستو په ځائ په عامه کليه کښې دننه اوسيدل پکار دی او د اشکال جواب لټول پکار دی او د دې د حل کولو څه کوشش کول پکار دی.

اوس د اصل مسئلې اړخ ته راځو. کليه دا ده چې په مونځ کښې بې د ضرورت نه يو حرکت هم کول مکروه تحريمی دی او فقهاء کرام ﷺ ليکی چې: **کل صلوة اديت مع الکراهة(التحريمية) تجب اعادتها.(ردالمحتار ج،ص)**

لهذا بې د ضرورت نه يو حرکت کولو سره مونځ راګرځول واجب ګرځی.

په دې باندې اشکال دا دې چې فاسق پسې مونځ کول مکروه تحريمی دی. او د حضرت عثمان﷜ خلاف د بغاوت په زمانه کښې به صحابهٔ کرامو﷜ باغيانو پسې مونځ کولو او د چا نه د دې مونځونو راګرځول ندی نقل کړې شوې. ورسره دا هم چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: **(صلوا خلف کل بر و فاجر)** دا نص دې او د دې مرسته شوې ده د صحابهٔ کرامو ﷜ په اجماع سره. د دې نه دا خبره ثابته شوه چې په فاسق پسې شوې مونځ سره ددې نه چې مکروه تحريمی دې راګرځول ئې واجب نه دی. په دې اشکال باندې ځينو فقهاء کرامو ﷺ بحث کړې دې او فرمائيلې ئې دی. چې په دې کليه کښې د کراهيت نه هغه کراهيت مراد دې کوم چې د مونځ په بنيادی ارکانو کښې وی. لکه د واجبو ترک کول. په دې سره مونځ راګرځول واجبيږی. او چې کوم کراهيت د مونځ په بنيادی ارکانو کښې نوی لکه په فاسق پسې مونځ کول او بې د حاجت نه لاس لړه حرکت ورکول، په دې سره مونځ راګرځول نه واجبيږی.

په دې بحث باندې دا اشکال دې چې د دې نظريې مطابق به فقهاؤ ﷺ نيغه خبره دا کړې وه چې د واجب په پريښودو باندې د مونځ راګرځول واجب کيږی. په کراهيت تحريمی سره تعبير کول او بيا د مونځ د بنيادی رکن د قيد لګولو په کښې څه ضرورت وو؟

د اصل اشکال صحيح جواب دا دې چې عامه قاعده خو داده چې **کل صلوة اديت مع الکراهة (التحريمة) تجب اعادتها.(ردالمحتار ج،ص او ج،ص)**

ليکن په فاسق پسې مونځ کول د دې قاعدې نه مستثنی دی. چې دليل ئې د حديث نص او د

صحابهٔ کرامو ﷺ اجماع ده

او عقلا هم دا استثنا ضروری ده.خکه چې که په دې وخت کښې دا قاعده مخې ته کیښودې شی نو ډیر زیات مونځونو به راګرځول واجب شی.خکه چې رومبې خو دا چې په عامه توګه د نیک امام تر لاسه کیدل ګران دی.دویمه دا که چیرې دا قاعده د امامانو او د علماؤ په حقله بیان کړې شی نو خلقو کښې به د علماؤ نه نفرت او لرې والې پیدا شی د کومې نه چې به د هغوی دین ته سخت نقصان ورسیږی.غرض دا چې د نیکو امامانو ذ نه ملاویدو او د علماؤ او د امامانو نه د نفرت او لرې والی نتیجه به دا راوخی چې خلق به په جمعې سره مونځ کول پریږدی او چې هر کله د جمعې سره مونځ نه کوی نو نور دین به د کوم ځائ نه زده کوی؟

دویم مثال: چې ورځ نیمائی شی نو په دغه وخت کښې چې نصف النهار ورته وئیلې شی مونځ کول مکروه دی.په دې باندې دا اشکال راځی چې نصف النهار هغې ته وائی چې کله د نمر مرکز د نصف النهار خط (لکیرې) ته ورسیږی ،د نمر مرکز او د نصف النهار د خط هغه جزء چې په کومې باندې به د نمر مرکز تیریدل کوی دا دواړه غیر متجزی (چې اجزا ئې نه وی یا نه قبلوی) نقطې دی. خکه چې د نمر مرکز به د نصف النهار په خط باندې په یو وخت کښې تیر شی چې په هغې کښې مونځ کول هډو مقصود ندی نو بیا د نهی کولو څه ضرورت دې؟

په علم کښې کچه خلقو د دې جواب ورکړې دې چې د نصف النهار شرعی او د نصف النهار عرفی د دواړو په وخت کښې مونځ مکروه دې.حال دا چې په ځینې علاقو کښې دا وخت اته یا لس ساعته هم وی.

د ذکر کړې شوی اشکال صحیح جوابونه دا دی:

۱- د شریعت په نظر کښې د فلکیاتو وړو وړو خبرو لره څه اعتبار نشته ،بلکه د سر سری نظر اعتبار دې په کښې. په سر سری نظر سره چې کوم وخت د نصف النهار معلوم شی په هغې وخت کښې مونځ کول مکروه دی. ظاهره ده چې دا به دوه یا خلور دقیقی وخت وی،چې په کښې مونځ کول مقصود دی.

۲ - د نمر مغرب اړخ ته د نصف النهار په خط باندې د رسیدلو نه واخله تر د نمر د مشرق اړخ ته د نصف النهار په خط باندې د تیریدو پورې مونځ کول مکروه دی یعنی د مرکز په ځائ باندې د نمر احاطه مراد واخستې شوه. په دې کښې د دوه دقیقو نه واخله تر پنځو دقیقو پورې وخت لږیږی.که عرض البلد کم وی نو وخت به پرې هم کم لږیږی.که عرض البلد زیات وی نو وخت به پرې هم زیات لږیږی.خکه چې بیا به د نمر مدار (د چکر ځائ)کوږ وی.

۳ په وخت د نصف النهار کښې د مونځ د مکروهه کیدو مطلب دا دې چې نصف النهار د مونځ

په مینځ کښې راشي.- والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱۰ جمادی الثانیة ۱۴۲۰ هجری

له وړاندې صف نه د چا وروسته د راښکلو حکم

سوال د جمعې په دوران کښې یو سړي د بهر نه راغلو په وړاندی صف کښې ځای نشته چې دا سړې هلته ودریږی .دې سړی د وړاندې صف نه یو بل سړې وروسته ته راښکلو او هغه ته ئې اووئیل چې وروسته راشه، دغه سړې د ده په وئیلو یا په راښکلو سره وروسته راغئ نو آیا د ده مونځ فاسد شو او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که د شریعت حکم ئې وګڼلو او وروسته شو نو مونځ ئې فاسد نه شو او که د راښکونکی د خاطره وروسته شو نو مونځ ئې فاسد شو.

قال ابن عابدین رحمه الله تحت (قوله:فهل ثم فرق)قال ط:لو قیل بالتفصیل بین کونه امتثل امر الشارع فلا تفسد وبین کونه امتثل امر الداخل مراعاة لخاطره من غیر نظر لامر الشارع فتفسد لکان حسنا.

(ردالمحتار ج،ص)والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۸ ربیع الثانی ۱۴۲۱ هجری

د مونځ په دوران کښې د بهر نه راتلونکی ته په صف کښې ځای ورکول

سوال : د مونځ په دوران کښې که یو سړې د بهر نه راشی او په صف کښې ودریږی.کوم خلق چې د مخکښې نه ولاړ دی د امام سره هغوی ده ته د ځای ورکولو دپاره د خپل ځای نه لږ لږ وخوزیږی دې د پاره چې دا سړې په اطمینان سره ودریږی او مونځ ادا کړې شی نو آیا د مخکښې نه چې کوم کسان ولاړ دی نو په حرکت کولو سره د هغوی مونځونه فاسد شو او که نه؟ دلته زمونږ وجه د اشکال دا ده چې د مونځ په دوران کښې د الله تعالی نه علاوه د بل چا حکم منل په ظاهره باندې د مونځ فاسدونکی معلومیږی،مهربانی وکړئ او مونږ ته تسلئ ورکوونکې جواب راکړئ.
بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د مونځ کوونکی د بهر نه د راتلونکی سړی د پاره د خپل ځای نه حرکت کول د دې د پاره چې هغه په صف کښې شامل شی او دغه راتلونکی سړی ته هم د صف د تش ځای د ډکولو اجر تر لاسه شی.او د رسول الله ﷺ د حکم تابعداری وشی.نو دا د اجر سبب ګرځی نه د مونځ فاسدونکې.

قال ابن نجیم رحمه الله :وینبغی للقوم اذا قاموا الی الصلوة ان یتراصوا ویسدوا الخلل ویسووا بین مناکبهم فی الصفوف ولا بأس ان یأمرهم الامام بذلك وینبغی ان یکملوا مایلی الامام من الصفوف ثم مایلی مایلیه وهلم جرا واذا استوی جانبا الامام فانه یقوم الجائی عن یمینه وان ترجح الیمین فانه یقوم عن یساره وان وجد

فی الصف فرجة سدها والا فلینتظر حتی یجیء اٰخر کما قدمناه وفی فتح القدیر وروی ابو داود والامام احمد عن ابن عمر انه ﷺ قال: اقیموا الصفوف وحاذوا بین المناکب وسدوا الخلل ولینوا بایدی اخوانکم لا تذروا فرجات للشیطان، من وصل صفا وصله الله ومن قطع صفا قطعه الله وروی البزار باسناد حسن عنه ﷺ من سد فرجة فی الصف غفر له وفی ابی داود عنه ﷺ قال: خیارکم الینکم مناکب فی الصلوة. و بهذا یعلم جهل من یستمسك عند دخول داخل بجنبه فی الصف ویظن ان فسحه له ریاء بسبب انه یتحرك لاجله بل ذلك اعانة له علی ادراك الفضیلة واقامة لسد الفرجات المامور بها فی الصف والاحادیث فی هذا کثیرة شهیرة اهـ(البحر الرائق: ج۱،ص۳۶۳) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ ربیع الثانی ۱۴۲۱ هجری

چې د مونځ گزار د یو اندام لاندې د چا جامې نښتې وی

سوال دوو کسانو نزدې نزدې مونځ کولو. یو په کښې د مونځ نه فارغه شو نو د هغه جامه یا دستمال د دویم مونځ کوونکی د پښې یا د پنډۍ لاندې گیر شوې دې. ده دا راښکلو. دویم هم د مونځ په حالت کښې د هغه دا دستمال پریښودلو نو آیا په دې سره به د هغه په مونځ کښې څه فرق راځی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که د شریعت حکم ئې وگنلو او جامه ئې ورته پریښوده نو مونځ ئې نه ماتیږی او که د جامې راښکوونکی سړې د خاطره ئې داسې وکړل نو په دې سره ئې مونځ فاسد شو. که د چا مونځ کوونکی جامه گیره شوه نو د هغې د پاره همدا حکم دې.

چا لره د تکلیف نه د خلاصولو د پاره د هغه جامه پریښودل هم د شارع په امر باندې راتگ دې.

قال ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: تحت (قوله: فهل ثم فرق) قال ط: لو قیل بالتفصیل بین کونه امتثل امر الشارع فلا تفسد وبین کونه امتثل امر الداخل مراعاة لخاطره من غیر نظر لامر الشارع فتفسد لکان حسنا. (ردالمحتار ج۱،ص۳۶۳) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ ربیع الثانی ۱۴۲۱ هجری

دمونځ کوونکی خپل ځان ته د قطب نما اینبودل

سوال په ریل گاډی کښې یا په الوتکه کښې د مونځ کولو په دوران کښې ځان ته وړاندې قطب نما اینبودل او ساعت په ساعت په هغې نظر اچول دې د پاره چې د قبلې ارخ معلوم وی داسې کول څنگه دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ساعت په ساعت په دې باندې نظر اچول د خشوع سره منافی دی او بل دا چې داسې کولو ته څه ضرورت نشته . شریعت چا لره د دې مکلف ندې جوړ کړې د دې

وجې نه داسې کول مکروه تنزیهی دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ ربیع الثانی ۱٤۲۱ هجری

چې کوم سړې په مونځ کښې نوی هغه دې دمونځ کوونکی مخ قبلې ته نه راګرځوی

سوال په ریل ګاډی یا په الوتکه کښې که یو سړې مونځ کوی او په دې دوران کښې د قبلې جهت بدل شو نو آیا بل سړې دمونځ کوونکی مخ راګرځولې شی او که نه؟ که چیرې بل سړې داسې وکړی نو مونځ کوونکې به د هغه تابعداری کوی او که نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: د بل سړی په نیولو او په مخ راګرځولو سره دې مونځ کوونکې خپل جهت نه بدلوی، که صرف د هغه په تابعداریٔ کښې ئې جهت بدل کړو نو مونځ ئې فاسد شو، او که د بل په وئیلو سره او بیا په خپله هم په سوچ کولو سره ئې جهت بدل کړو نو مونځ به ئې وشی.

قال ابن عابدین رحمه الله: قوله: فهل ثم فرق ... قال ط: لو قیل بالتفصیل بین کونه امتثل امر الشارع فلا تفسد وبین کونه امتثل امرا الداخل مراعاة لخاطره من غیر نظر لامر الشارع فتفسد لکان حسنا.

(ردالمحتار: ج، ص) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ ربیع الثانی ۱٤۲۱ هجری

مسائل زلة القاری

په قراءة کښې د فحش غلطئ د اصلاح نه پس د مونځ حکم

سوال تاسو په احسن الفتاوی (اُردو) ج۳.ص ۴۴۵ کښې ليکلي دی چې چا په قراءة کښې فحش غلطي وکړه او بيا ئې د هغې اصلاح وکړه نو مونځ ئې صحيح شو.او مفتی محمود حسن گنگوهی رحمه الله د دې په شان د يو سوال په جواب کښې ليکلي دی :

(کومه غلطي چې د مونځ سره منافی وی د هغې سره مونځ فاسديږی،که د معنې په بدليدو سره مونځ فاسد شوې وو نو بيا د دغې لفظ په صحيح توگه په ادا کولو سره مونځ نه صحيح کيږی، بلکې د مونځ راگرځول ضروری دی، ليکن د عالمگيری د يو روايت نه معلوميږی چې مونځ به په دې سره صحيح شی،زمونږ اکابر دا په نفلو او په تراويحو باندې حمل کوی) (فتاوی محموديه ج۱.ص ۲۴۳)

د يو بل سوال په جواب کښې هغوی فرمائی : (فاحشه غلطی هغه ده چې په هغې سره معنی کښې خرابوالې (فساد) راشی، مقصد ئې د قرآن نه خلاف شی.لکه چې په پوښتلې شوې مسئلې کښې ده. په داسې غلطئ سره فرض مونځ فاسديږی او په اصلاح کولو هم نه صحيح کيږی .

كذا فی منظومة ابن وهبان وان لحن القاری واصلح بعده اذا غير المعنی الفساد مقرر.

داسې مونځ دې بيا تر سره کړې شی.په تراويحو کښې دقرآن کريم ختم کول مقصود وی.په دې کښې د داسې غلطئ کيدل څه لرې نه دی.د دې وجې نه هلته په دې حکم کښې توسع ده.اود درمختار د عبارت محمل همدا دې.(فتاوی محموديه:ج ۱۲ .ص ۳۰۱)

تاسو ته دا درخواست دې چې په دې مسئله باندې دوباره نظر وکړئ او خپله فيصله راته وليکئ.بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې حقله عبارتونه مختلف دی،په هنديه کښې دی چې **ذكر فی الفوائد:لو قرا فی الصلوة خطا فاحشا ثم اعاده وقرا صحيحا قال:عندی صلوته جائزة.(عالمگيرية: ج،ص)**

او په طحطاوی کښې دی چې **وفی المضمرات:قرا فی الصلوة خطا فاحشا ثم اعاده وقرا صحيحا فصلوته جائزة قال ابو السعود:وهذا يقتضی عدم فسادها بالخطا فی القراءة مطلقا تغير المعنی ام لا.كان للكلمة التی وقع بها خطا مثل اولا.(حاشية الطحطاوی علی الدر: ج،ص)**

اوپه خانيه کښې دی چې **وان اراد ان يقرا كلمة فجری علی لسانه شطر كلمة اخری فرجع وقرا الاولی او**

رکع ولم یتم الشطر ان قرا شطرا من کلمة لو اتمها لا تفسد صلوته لا تفسد صلوته بشطرها وان ذکر شطرا من کلمة لو اتمها تفسد صلوته تفسد صلوته بشطرها وللشطر حکم الکل وهو الصحیح (الفتاوی قاضیخان بهامش الهندیة: ج۱ص۱۰۳)

په سوال کښې ذکر شوې د منظومه ابن وهبان جزئـه هم د دې مطابق د فساد په قراری باندې تصریح ده

د دې نه علاوه په عامو کتابونو د فقهې کښې هم د فاحشې خطا له کبله د فساد حکم ذکر کړې شوې دې. د اصلاح کولو حکم په کښې ندې ذکر کړې شوې.

د فقهې د کتابونو د دې عبارتونو د ظاهر نه هم د فساد په خپل ځائ باندې د پاتې کیدو مرسته کیږی. د دې نه علاوه دا احوط هم دې. د دې نه بغیر عدم فساد کښې وسعت دې. په عامو حالاتو کښې دې په احوط باندې عمل وکړې شی. او کله چې ضرورت وی نو بیا په اوسع باندې د عمل کولو اجازت شته. په تراویحو کښې د قرآن د ختم کولو په صورت کښې دا ضرورت ښکاره دې. د دې وجې نه په دې باندې عمل کیدې شی. او په نفلونو کښې او په وړو وړو سورتونو سره د تراویحو کولو په صورت کښې داسې ضرورت نشته او دفقهې عبارتونه مطلق دی هغه نفلو او تراویحو لره هم شامل دی. د فساد د نه راتلو چې کوم عبارتونه د هندیې او دطحطاوی علی الدر دی د هغې په نفلو او تراویحو باندې د حمل کولو څه قرینه نشته. د دې وجې نه د نفلو او د تراویحو په وړو وړو سورتونو سره کولو کښې به هم په احوط قول باندې عمل کولې شی

په دې باندې دا ونیلې کیدې شی چې په نفلو کښې په سورلې باندې گرځیدل او د قبلې نه د مخ د گرځیدو په صورت کښې مونځ نه فاسدیږی. چې په نفلو کښې د دې نه دومره وسعت ثابت شو نو بیا فاحشه خطا هم مفسد د مونځ ندی کیدل پکار. او تراویح هم د نفلو سره پیوسته یو عبادت دې. لهذا د دې هم همدا حکم کیدل پکار دې

د دې جواب دا دې چې په سورلئ د پاسه نفل کول او د قبلې نه د مخ گرځیدل غیر مفسد کیدل خلاف القیاس د نص نه ثابت دی. د دې وجې نه په دې باندې قیاس نه شی کولې **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

۹ محرم الحرام ۱۴۲۱ هجری

باب الوتر والنوافل

د سحر په وخت کښې د قضاء مونځ د راګرځولو په وجه به ورته د تهجدو ثواب ورکول کیږی

سوال د یو سړی په ذمه قضاء مونځونه پاتې دی. که چیرې دا سړې د سحر په وخت کښې قضاء مونځونه کوی نو د تهجدو د مونځ کولو د پاره ورته نور وخت نه پاتې کیږی. آیا دې سړی ته به د قضاء مونځ په کولو سره د تهجدو ثواب ورکول کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ده ته به د تهجدو ثواب ورکول کیږی.

قال ابن عابدین رحمه الله: (تنبیه) ظاهر ما مر ان التهجد لا یحصل الا بالتطوع فلو نام بعد صلوة العشاء ثم قام فصلی فوائت لا یسمی تهجدا وتردد فیه بعض الشافعیة. قلت والظاهر ان تقییده بالتطوع بناء علی الغالب وانه یحصل بای صلوة کانت لقوله فی الحدیث المار: وما کان بعد صلاة العشاء فهو من اللیل. (ردالمحتار: ج۱،ص ۳۰) والله سبحانه وتعالی اعلم یوم الترویة ۱۴۰۱ هجری

د نفل مونځ په دوران کښې که حیض راشی نو د قضاء حکم

سوال یوې ښځې نفل مونځ شروع کړو. د مونځ په دوران کښې ورته حیض راغی. آیا د پاکیدو نه پس د دې مونځ راګرځول واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د پاکیدو نه پس د دې مونځ راګرځول واجب دی

قال ابن عابدین رحمه الله: ولو شرعت فی النفل ثم حاضت وجب القضاء اه. (ردالمحتار: ج۱،ص ۳۳۲) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ شوال ۱۴۰۲ هجری

د جُمعې د فرضو نه ورستو په سنتو کښې د ړومبی تشهد نه پس درود او دعا لوستل روا نه دی

سوال تاسو د شامیې په حواله فرمائیلې دی چې د جُمعې د مونځ نه پس څلورو رکعته سنت په یو سلام سره کول ضروری ندی. د دې وجې نه په ړومبئ قعده کښې درود او دعا لوستل روا دی ((احسن الفتاوی (اردو) ج ۳،ص ۴۹۰)).

په دې حقله دا درخواست دې چې د علامه شامی رحمه الله دا عبارت د احادیثو او د فقهاء کرامو رحمهم الله د نصوصو نه هم خلاف دی او ورسره ورسره په نورو خایونو کښې په خپله هم د هغوی د

خپل تحقيق خلاف دې، هغه احاديث او د فقهاء كرامو ﷭ نصوص ستاسو په خدمت كښې وړاندې كوو (۱)عن علی ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يصلی قبل الجمعة اربعا وبعدها اربعا يجعل التسليم فی اخرهن ركعة. (اعلاء السنن: ج،ص بحواله طبرانی)

(۲)عن ابن عباس ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يركع قبل الجمعة اربعا و بعدها اربعا لا يفصل بينهن. پورتنی حواله)

(۳)عن ابی حنيفة عن حماد عن ابراهيم ﷫ انه قال: اربع قبل الظهر و اربع قبل الجمعة و اربع بعد الجمعة لا يفصل بينهن بتسليم. (كتاب الاثار للامام محمد ﷫: ص)

(٤)عن ابی هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من كان مصليا منكم بعد الجمعة فليصل اربعا.

قال ابو جعفر: فذهب قوم الى ان التطوع بعد الجمعة الذی لا ينبغی تركه هو اربع ركعات لا يفصل بينهن بسلام واحتجوا فی ذلك بهذا الحديث وقال فی اخر الباب: واما ابو حنيفة ﷫: فكان يذهب فی ذلك الى القول الذی بدانا بذكره فی اول هذا الباب. (شرح معانی الاثار: ج،ص)

(٥) قال الحافظ العينی ﷫: وقالت طائفة يصلی بعدها اربعا لا يفصل بينهن بسلام روی ذلك عن ابن مسعود وعلقمة والنخعی وهو قول ابی حنيفة واسحق ﷫ (الی قوله) وحجة الطائفة الثالثة ما رواه ابن عيينة عن سهيل بن ابی صالح عن ابيه عن ابی هريرة ﷺ مرفوعا: من كان منكم مصليا بعد الجمعة فليصل اربعا. (عمدة القاری: ج،ص)

(٦) قال الملا علی القاری والعلامة صدر الشريعة ﷫: وسن قبل الفجر وبعد الظهر و المغرب والعشاء ركعتان وقبل الظهر والجمعة وبعدها اربع بتسليمة. (شرح النقاية ج، شرح الوقاية: ج،ص)

(۷) وقال العلامة مجد الدين الموصلی ﷫: وقيل بعدها ستا بتسليمتين مروی عن علی ﷺ وهو مذهب ابی يوسف ﷫. (الاختيار: ج،ص)

(۸) وقال العلامة ابن نجيم ﷫: الرباعية المسنونة كالفرض فلا يصلی فی القعدة الاولى ولا يستفتح اذا قام الى الثالثة. وقال العلامة الحموی ﷫: (قوله الرباعية المسنونة كالفرض) اطلقه فشمل الاربع قبل الجمعة وبعدها فانها صلوة واحدة كالفرض. (الاشباه والنظائر: ج،ص)

(۹) وقال العلامة الحلبی ﷫: اما اذا شرع فی الاربع التی قبل الظهر او قبل الجمعة او بعدها ثم قطع فی الشفع الاول او الثانی يلزمه الاربع ای قضاؤها بالاتفاق لانه لم تشرع الا بتسليمة واحدة فانها لم تنقل عنه

الا كذلك فهي عنزلة صلوة واحدة ولذا لا يصلي في القعدة الاولى ولا يستفتح في الثالثة ولو اخبر الشفيع بالبيع وهو في الشفع الاول منها فاكمل لا تبطل شفعته وكذا المخيرة لا تبطل خيارها وكذا لو دخلت عليه امراته و هو فيه فاكمل لا تصح الخلوة ولذا يلزمه كمال المهر لو طلقها بخلاف ما لو كان نفلا اخر فان هذه الاحكام تنعكس.(حلبي كبير:ص۳۰۲)

(۱۰) وقال العلامة ابو السعود رحمه الله تحت(قوله:قبل الجمعة و بعدها اربعا)و ظاهر كلام المصنف ان حكم سنة الجمعة كالتي قبل الظهر حتى لو اداها بتسليمتين لا يكون معتدا بها. اي عن السنة و تكون نافلة. كما في الجوهرة.(فتح المعين: ج،ص۲۰)

(۱۱) وقال في الهندية:وقبل الظهر والجمعة و بعدها اربع. كذا في المتون والاربع بتسليمة واحدة عندنا حتى لو صلاها بتسليمتين لا يعتد به عن السنة.(عالمگيرية: ج،ص۱۱)

(۱۲) و قال العلامة الحصكفي رحمه الله:وسن مؤكدا اربع قبل الظهر و اربع قبل الجمعة و اربع بعدها بتسليمة فلو بتسليمتين لم تنب عن السنة ولذا لو نذرها لا يخرج عنه بتسليمتين وبعكسه يخرج.

و عن العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت(قوله:بتسليمة):و عن ابي هريرة رضي الله عنه انه ﷺ قال:من كان منكم مصليا بعد الجمعة فليصل اربعا رواه مسلم زيلعي زاد في الامداد: ولقوله ﷺ:اذا صليتم بعد الجمعة فصلوا اربعا فان عجل بك شيء فصل ركعتين في المسجد اذا رجعتم رواه الجماعة الا البخاري(قوله:لم تنب عن السنة)ظاهره ان سنة الجمعة كذلك و ينبغي تقييده بعدم العذر للحديث المذكور انفا. كذا بحثه في الشرنبلالية وسنذكر ما يؤيده بعد سطور فتدبر.(ردالمحتار ج،ص۲۰۲)

(۱۳) و قال بعد صفحتين:(قوله:ولا يصلي الخ)اقول:قال في البحر في باب صفة الصلوة:ان ما ذكر مسلم فيما قبل الظهر لما صرحوا به من لا تبطل شفعة الشفيع بالانتقال الى الشفع الثاني منها ولو افسدها قضى اربعا والاربع قبل الجمعة بمنزلتها و اما الاربع بعد الجمعة فغير مسلم فانها كغيرها من السنن فانهم لم يثبتوا لها تلك الاحكام المذكورة اهـ ومثله في الحلية وهذا مؤيد لما بحثه الشرنبلالي من جوازها بتسليمتين لعذر.(ردالمحتار: ج،ص۲۰۲)

(۱٤) وقال العلامة الشرنبلالي رحمه الله: ويقتصر المتنفل في الجلوس الاول من السنة الرباعية المؤكدة و هي التي قبل الظهر والجمعة و بعدها على قراءة التشهد فيقف على قوله:و اشهد ان محمدا عبده ورسوله و اذا

تشهدیقف علی قوله واشهد ان محمدا عبده ورسوله. واذا تشهد فی الاخر یصلی علی النبی ﷺ واذا قام للشفع الثانی من الرباعیة المؤکدة لا یاتی فی ابتداء الثالثة بدعاء الاستفتاح کما فی فتح القدیر. وهو الاصح کما فی شرح المنیة لانها لتاکدها اشبهت الفرائض فلا تبطل شفعته ولا خیار المخیرة ولا یلزمه کمال المهر بالانتقال الی الشفع الثانی منها لعدم صحة الخلوة بدخولها فی الشفع الاول ثم اتم الاربع کما فی صلوة الظهر. (مراقی الفلاح بهامش حاشیة الطحطاوی: ص۲۳)

(۱۵) وقال قبل صفحة: و منها اربع بعدها لان النبی ﷺ کان یصلی بعد الجمعة اربع رکعات یسلم فی اخرهن فلذا قیدنا به فی الرباعیات فقلنا: بتسلیمة لتعلقه بقوله: و اربع: وقال الزیلعی: حتی لو صلاها بتسلیمتین لا یعتد به عن السنة اه ولعله بدون عذر لقول النبی ﷺ: اذا صلیتم بعد الجمعة فصلوا اربعا فان عجل بك شیء فصل رکعتین فی المسجد و رکعتین اذا رجعت رواه الجماعة الا البخاری. (مراقی الفلاح بهامش الحاشیة: ص۲۳)

(۱۶) وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله: (قوله ولعله الخ) هذا مما تفرد به المؤلف بحثا وکلام اهل المذهب احق ما الیه یذهب (حاشیة الطحطاوی علی المراقی: ص۲۳)

یعنی په هر صورت کښې سنت په یو سلام سره دی، د عذر په وجه په دوو سلامونو سره چې کوم قول د علامه شرنبلالی رحمه الله دی دا دهغوی تفرد دی

اقول خینی نورو فقهاؤ هم د (بتسلیمتین لعذر) قول کړی دی او ټولو د دی روایت نه استدلال کړی دی (فان عجل بك شیء الخ) او حال دا دی چې دا حدیث ندی بلکه د راوی قول دی کماسافصله. علامه شامی رحمه الله خو په ج ۱. ص ۴۵۴ باندی د صاحب د بحر قول نقل کړی دی واما الاربع بعد الجمعة فغیر مسلم الخ

لیکن په ج ۵. ص ۴۲۷ کښې ئې دا فرق ندی نقل کړی بلکه د سنن ثلاثه ئې هم یو حکم لیکلی دی. ونصه (وقوله: فی السنن الرواتب) وهی ثلاثة: رباعیة الظهر ورباعیة الجمعة القبلیة والبعدیة وهذا هو الاصح لانها تشبه الفرائض واحترز به عن الرباعیات المستحبات النوافل.

او علامه شامی رحمه الله په ج ۱. ص ۴۲۴ کښې د علامه حلبی تحقیق قول په توله ذکر کړی دی او د دی سره ئې خپل څه اختلاف ندی ښکاره کړی. بلکه په منحة الخالق بهامش البحر ج۲. ص ۴۹ کښې ئې د صاحب د بحر دا تحقیق لیکلی دی او ورسره ئې اختلاف کړی دی او د علامه حلبی

تحقیق لره ئې ترجیح ورکړې ده. ونصه **واما الاربع بعد الجمعة فغیر مسلم (الی قوله) لکن ذکر فی شرح المنیة هذه السنن الثلاث وفرع علیه تلك الاحکام.**

علامه رافعی رحمه الله په تقریرات کښې په رومبی جلد کښې په دې باندې په دوه ځایونو کښې بحث کړې دې. په صفحه ۸۹ کښې او په ۹۲ کښې. د هغوی دا تحقیق قول فیصل دې چې که څرې د شفعې د ابطال په حق کښې دا وروستنی سنتونه په ځائ د دوو مونځونو شمار کړې شو. نو هغه صرف په دې عذر سره شمار کړې شو چې په دې کښې د مشتری د حق ابطال لازمیږی. او باقی پاتې په ټولو احکامو کښې دا سنتونه په ځائ د یو مونځ دی. ونصه **(قوله واما الاربع بعد الجمعة فغیر مسلم الخ) هم وان لم یثبتوا لها تلك الاحکام الا انهم اثبتوا لها انها کالاربع قبلها من جهة عدم الصلوة علی النبی ﷺ والاستفتاح فعلینا الاتباع والبحث عن وجه فرقهم ولعله ان ما ورد من جوازها بتسلیمتین بعذر یقتضی انها بمنزلة صلوتین حیث جوزت بهما فی الجملة وتاکدها بتسلیمة واحدة واتصالها و اتحاد التحریمة یقتضی انها صلوة واحدة فعملوا بالشبهتین فلم یثبتوا الشفعة للتردد بین الثبوت وعدمه وهی لا تثبت معه خصوصاً لما فیها من ابطال حق المشتری واما الصلوة والاستفتاح فنفوهما نظرا لضعف وجه کونها بمنزلة صلوتین والمشروعیة لا تثبت بالشك هذا ما ظهر متاملهم علی ان قوله: فانهم لم یثبتوا لها تلك الاحکام المذکورة یتامل فیه مع ما ذکره عن ح عند قوله الآتی: وقضی رکعتین لو نوی اربعا مما هو ظاهر فی اثبات احکام الاربع قبل الجمعة للاربع بعدها وذکر السندی هناك عن شرح المنیة ان هذه الاحکام مسلمة عند اهل المذهب فلذا اختار ابن الفضل قول ابی یوسف رحمه الله. (التحریر المختار: ج، ص۸۰)**

ما پورته دا خبره ذکر کړې ده چې دا دعذر او بې د عذره چې کوم فرق دې دا د سره بې دلیله دې. د راوی قول لره حدیث وګڼلې شو. صحیح مسلم کښې د دې ټول روایت د لیکلو نه پس ئې لیکلي دی **زاد عمرو فی روایته: قال ابن ادریس: قال سهیل: فان عجل بك شیء فصل رکعتین فی المسجد ورکعتین اذا رجعت. (صحیح مسلم ج، ص۲۸۸)**

او په ابو داود کښې هم د دې روایت د لیکلو نه پس بې لیکلي دی **قال سهیل: فقال لی ابی (ابو صالح): یا بنی! فان صلیت فی المسجد رکعتین ثم اتیت المنزل او البیت فصل رکعتین (ابو داود ج، ص۱۶۰)**

په مسند احمد کښې د ذکرکړې شوی روایت نه پس لیکلي شوي دی

قال ابن ادریس: ولا ادری هذا من حدیث رسول الله ﷺ ام لا. (الفتح الربانی ج، ص۱۰)

وقال العلامة ظفر احمد العثمانی رحمه الله: و توهم بعض الناس ان عمروا زاد ذلك فی الحدیث المرفوع ولیس

كذلك بل هو من قول سهيل صرح بذلك ابو داود في سننه.(اعلاء السنن: ج ،ص)

صاحب د فتح الملهم د امام صاحب رحمه الله نه روایت د فصل نقل کړي دي.خو ورسره ئي دا تصریح هم کړې ده چې دا روایت غیر مشهور دي.مشهور روایت هغه روایت دفصل دي.ونصه

و هناك قول اخر:ان يصلي بعد الجمعة اربعا يفصل بينهن بسلام روى ذلك عن ابن مسعود رضي الله عنه وعلقمة والنخعي وهو قول ابي حنيفة و اسحق. كذا نقله ابن بطال في شرح البخاري . قلت:ولعله رواية عن ابي حنيفة رحمه الله والمشهور من مذهبه ما قدمناه انهن اربع بسلام واحد(فتح الملهم ج ،ص ٣٣)

دا جواب على سبيل التنزل دي،اوکه نه نو حقیقت دا دي چې د امام صاحب رحمه الله نه د فصل څه روایت نشته دي. (يفصل بينهم بسلام) د چا کاتب سهو معلومیږي.صحیح عبارت (لا يفصل بينهن) دي. لکه چې په عمدة القاري.اعلاء السنن.اوجزالمسالک وغیره کښې لیکلې شوي دی،که چیرې دا الفاظ صحیح وي نو د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه .د علقمه او د نخعي دا قول به چیرته یو کتاب کښې نقل کړې شوې وو.او حال دا چې په کتلو او د درک لګولو باوجود هم د دې څه درک نه تر لاسه کیږي. او د دې په خلاف د وصل روایتونه پورته ولیکلې شو.

د کلام په آخره کښې دا ونیل غوارم چې د یو سلام تصریح د فقهې او د حدیث په کتابونو کښې نه په کثرت سره موندلې شی او د فقهاؤ رحمهم الله په نیزد دا محمول ده په تاکید باندې. د عدم تاکید څه صریح روایت چرته تر لاسه نه شو.

مع اني بذلت اقصى جهدي واستنفدت ما في وسعي في تفحصه لكن لما اظفر بشيء فيما عندي من الكتب نعم نقل الامام ابن ابي شيبة رحمه الله في مصنفه عدم التاكد عن ابي مجلز و حماد رحمهما الله لكن نحن بصدد حديث صحيح صريح لما يجديا هذا القول.

دا لیکنه رانه ډیره اوږده شوه تاسو نه دا طمع لرو چې په دې باندې به د یو نظر اچولو تکلیف کوئ او د دې به یا اصلاح کوئ او یا به ورته حق ته رسیدل واییئ **والاجر عند الله الكريم.**

الجواب باسم ملهم الصواب ستاسو تحقیق صحیح دي. زهٔ د فصل د جواز د قول نه رجوع کوم.

والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳۰ جمادی الاول ۱۴۰۸ هجری

په صلوة الكسوف کښې قرائت سری (پټ) دي

سوال په صلوة الکسوف کښې قرائت سری وی او که جهری؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په صلوة الکسوف کښې قرائت سری دي

قال ابن عابدين رحمه الله:قوله:ولا جهر وقال ابو يوسف:يجهر وعن محمد روايتان جوهرة.(ردالمحتار:ج

ج،ص ٣) . وفی الهندیة:و لا یجهر فی صلاة الجماعة فی کسوف الشمس فی قول ابو حنیفة رحمه الله. کذا فی المحیط والصحیح قوله کذا فی المضمرات اھ(عالمگیریة: ج،ص ١٣)

قال العلامة الطحطاوی رحمه الله:والصحیح قول الامام، کما فی المضمرات لما رواه اصحاب السنن و صححه الترمذی وابن حبان والحاکم عن سمرة: صلی بنا رسول الله ﷺ فی کسوف الشمس لا نسمع له صوتاً وما رواه احمد عن ابن عباس رضی الله عنه:صلیت مع النبی ﷺ الکسوف فلم اسمع منه فیها حرفاً.(حاشیة الطحطاوی علی المراقی:ص ٢)والله سبحانه وتعالی اعلم. ١٥ ربیع الاول ١٤٢٠ هجری

د صلوة الکسوف شرعی حیثیت

سوال آیا د کسوف مونځ کول سنت دی او که نفل؟ دا د جمعې سره په جمات کښې ادا کول پکار دی او که نه خان له کول پکار دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب. د کسوف مونځ ته خینی حضراتو واجب وئیلې دی او خینو ورته سنت وئیلې دی خو راجح قول ئې د سنتیت دې. دا مونځ په جمات کښې په جمعې سره کول مستحب دی. خانله کول ئې هم روا دی

لما فی المختار ج،ص ٣ وفی العینی:صلوة الکسوف سنة واختار فی الاسرار وجوبها.وفی الشامیة تحته:قلت:ورجحه فی البدائع للامر بها فی الحدیث لکن فی العنایة ان العامة علی القول بالسنیة لانها لیست من شعائر الاسلام فانها توجد لعارض لکن صلاها النبی ﷺ فکانت سنة والامر للندب وقواه فی الفتح اھ.

وفی الشامیة: ج،ص ٣:قوله یصلی بالناس بیان للمستحب وهو فعلها بالجماعة ای اذا وجد امام الجمعة و الا فلا تستحب الجماعة بل تصلی فرادی الخ والله سبحانه وتعالی اعلم ١٥ ربیع الاول ١٤٢٠ هجری

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱسْتَعِينُوا بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾

التوضیح

لروایات صلوة التسبیح

د صلوة التسبیح چې کوم روایات دی په هغه روایاتو باندې مشتمله یوه خانګړې لیکنه

د صلوة التسبیح شرعی حیثیت

سوال صلوة التسبیح لره ځینی حضرات مستحب ګنی. د دې فضائل بیانوی.د دې مونځ د کولو ډیر ترغیب ورکوی.او ځینی حضرات د صلوة التسبیح چې کوم حدیث دې هغې ته موضوعی وائي او د مونځ د اصولو نه مخالف ورته وائی او رد کوی ئې. ستاسو رائې په دې حقله څه ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب آیا صلوة التسبیح ثابت دې او یو مستحب عمل دې او که نه بې بنیاده او غیر مستحب دې؟ په دې حقله دواړه قسمه قولونه او دلیلونه موندلې شی چې څه لږ شان تفصیل ئې دا دې

د عدم ثبوت او د عدم استحباب وجوهات

۱ - د صلوة التسبیح په حقله چې څومره احادیث دی هغه د جمهورو محدثینو په نیزد ضعیف دی. ما سوا د روایت د ابن عباس رضی الله عنه نه چې په هغې کښې د محدثینو اختلاف دې (معارف السنن ج ۴.ص ۲۸۸)

۲- امام احمد .علامه ابن عربی.حافظ ابن تیمیه په یو قول کښې او حافظ ابن حجر رحمهم الله په (التلخیص الحبیر)کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت ته ضعیف وئیلې دی. (پورتنۍ حواله)

۳ - علامه ابن جوزی رحمه الله په (موضوعات)کښې او حافظ ابن تیمیه رحمه الله په (منهاج)کښې دې ته موضوعی وئیلې دی. (پورتنۍ حواله)

۴- حافظ ذهبی رحمه الله په دې روایت باندې د توقف اظهار کړې دې. (پورتنۍ حواله)

۵ - بل دا چې دا مونځ د مقرر شوو اصولو خلاف دې.لهذا د دې د ثبوت د پاره ښه ک

دلیلونه پکار دي. ولم توجد

۶- په لږ عمل باندې ډیر ثواب بر لاسه کیدل د موضوع کیدو علامه ده. کمال الاصول

۷ په یو عمل باندې د معین شوو کلونو د اجر وعده هم د موضوعي کیدو قرینه ده

۸ - هغه نفلي عبادتونه چې څه قید او شرط په کښې نوی او څه اختلاف په کښې هم نوی د هغې د پرېښودلو او په مشتبه او مختلف فیه عبادت کښې د مشغوله کیدلو څه حاجت دې؟

۹- چې د یو حدیث مضمون دا تقاضا کوی چې د صحابه کرامو ﷺ په زمانه کښې د دې شهرت ته رسیدل پکار وو او دې ته هغه حاصل نه شو نو دا د حدیث په علتونو کښې یو لوئې علت دې

په دې حدیث کښې په وړوکی شان عمل باندې د لوئې اجر وعده ده. او صحابهٔ کرام ﷺ خو د خیر په کارونو ډیر زیات حریصان او ډیر زیات عبادت کوونکی وو. په هغوی کښې دا فضیلت دتواتر یا کم نه کم د شهرت حد ته رسیدل پکار وو. معلومه نه ده چې د څومره زمانې نه پس دا د علماؤ او د صلحاؤ په معمول کښې راغئ او دې ته د قبولیت درجه ورکړې شوه

د دې مثال

شاه عبدالعزیز رحمه الله چې په (العجالة النافعة) کښې د شاه ولی الله رحمه الله نه کوم اصول د حدیث نقل کړی دی په هغې کښې دا اصول هم دی چې کوم حدیث ته د څلورمې صدئ نه پس شهرت حاصل شوې وی هغه حدیث د اعتبار قابل نه دې. ځکه چې د حدیث امامانو د حدیث په جمع کولو کښې ډیر د تحقیق. تدقیق او د باریک بینئ اهتمام کړې دې. هارون الرشید رحمه الله د محدثینو یوه ډله په خاص توګه په دې کار باندې مؤظف کړې وه

په هغه زمانه کښې چې یو حدیث مخې ته رانغئ نو یا خو هغه حدیث له سره نه وؤ او یا خو حدیث وو لیکن محدثینو هغه قبول نکړو. دا هم یو علت قادحه دې.

۱۰- که چیرې یو حدیث ته ځینی علماؤ حسن یا صحیح وه وئیلې نو دا څه دلیل قطعي ندې. د وبونکی د علم مطابق حسن یا صحیح دې. د دې وجې نه په تصحیح او په تحسین کښې د محدثینو ډیر سخت اختلاف راغلې دې. د صلوة التسبیح چې کوم حدیث دې د هغې په تصحیح او تحسین کښې هم سخت اختلاف دې

له همدې وجې نه په امام صاحب رحمه الله باندې د دې اعتراض جواب هم وشو چې دوی په دلیلونو کښې ضعیف حدیثونه وړاندې کوی. ځکه چې نه خو د امام بخاری رحمه الله شرطونه وحې ده او نه د امام صاحب رحمه الله شرطونه وحې ده. بلکه ټولو په خپل خپل اجتهاد سره شرائط مقرر کړی وو. او امام صاحب رحمه الله ته په محدثینو باندې د زمانې او د مرتبې وړاندې والې حاصل دې. او کوم فقه چې امام صاحب ته حاصل دې هغه بل چاته نه دې حاصل

د ثبوت او د استحباب تقاضا کوونکی وجوهات

۱- د صلوة التسبیح په حقله د تولو نه مشهور او د سند په لحاظ سره د تولو نه صحیح حدیث د ابن عباس ﷺ دې.چې لویو لویو د حدیث حافظانو د دې تصحیح کړې ده.لکه ابو علی بن السکن.ابن خزیمه.حاکم.ابن منده.ابو بکر الآجری.ابوبکر خطیب.د حافظ ابن حجر شیخ صلاح الدین العلائی او بدر الدین زرکشی ﷺ وغیرهم.(معارف السنن ج ۴.ص ۲۸۸)

۲- او دې حضراتو دې ته حسن وئیلې دې . امام بخاری شیخ علی بن مدینی،امام مسلم. حافظ منذری.حافظ ابن صلاح،علامه نووی،علامه تقی الدین سبکی ﷺ.

د دې نه علاوه حافظ ابن حجر ﷫ په (امالی الاذکار)کښې او په (الخصال المکفرة)دې ته حسن وئیلې دی . (پورتنئ حواله)

۳ - د صلوة التسبیح په حقله د لسو نه زیات روایتونه دی او په هر یو کښې څه نا څه ضعف خامخا موندلې شی لیکن د حضرت ابن عباس ﷺ د روایت کړې شوی حدیث نه د هغه تولو حدیثونو مرسته کیږی.

۴- علامه ابن جوزی ﷫ وغیره چې کوم حنبلیان دی هغوی د خپل عادت مطابق د سختئ نه کار اخستې دې او دې ته ئې موضوعی وئیلې دی.حال دا چې د امام احمد ﷫ نه د دې صرف ضعف نقل کړې شوې دې.او د دې ضعف د قول نه هم هغوی بیا رجوع کړې وه.حافظ ابن حجر﷫ په (اجوبه)کښې د هغوی د رجوع تصریح کړې ده.وهذا نصه

واما ما نقله عن الامام احمد﷫ ففیه نظر.لان النقل عنه اختلف ولم یصرح احد عنه باطلاق الوضع علی هذا الحدیث وقد نقله الشیخ الموفق بن قدامه عن ابی بکر الاثرم قال:سالت احمد عن صلوة التسبیح فقال:لا یعجبنی لیس فیها شیء صحیح ونفض یده کالمنکر.قال الموفق:لم یثبت احمد الحدیث فیها ولم یرها مستحبة فان فعلها الانسان فلا باس.

قلت:وقد جاءت عن احمد﷫ انه رجع عن ذلک فقال علی بن سعید:سالت احمد﷫ عن صلوة التسبیح قال:لا یصح فیها عندی شیء.قلت:المستمر بن الریان عن ابی الجوزاء عن عبدالله بن عمرو ﷺ فقال:من حدثک؟قلت:مسلم بن ابراهیم.قال:المستمر ثقة وکانه اعجبه. انتهی.

فهذا النقل عن احمد﷫ یقتضی انه رجع الی استحبابها.واما ما نقله عنه غیره فهو معارض بمن قوی الخبر فیها وعمل بها. (اجوبه ابن حجر علی رسالة القزوینی المندرجة فی المرقاة ج،ص)

وقال العلامة البنوری﷫:وفی اللالی المصنوعة(بعد ذکر سؤال سعید وجواب الامام)قال الحافظ ابن حجر﷫ :فکان احمد لم یبلغه الا من روایة عمرو بن مالک وهو النکری فلما بلغه متابعة المستمر

اجمعه لظاهره انه رجع عن تضعیفه. (معارف السنن ج.ص)

۵ امام بیهقی رحمه الله فرمائیلی دی چې عبدالله بن مبارک رحمه الله به دا مونځ کولو او نېکان نر اوسه پورې د بیل نه دا مونځ زده کوی راروان دی.د داسې حضراتو عمل د حدیث د قوی کیدو دلیل دی (معارف السنن ج.ص)

ابوالجوزاء اوس بن عبدالله البصری رحمه الله چې د ثقه تابعینو نه دی.دار قطنی د دوی نه په سند حسن سره نقل کړې دی.چې هغوی به د ماسپښین د اذان او د اقامت تر مینځه دا مونځ کولو (پورتنی حواله)

عبدالعزیز بن ابی داود رحمه الله چې د عبد الله بن مبارک نه هم وړاندې تیر شوې دې فرمائی من اراد الجنة فعلیه بصلوة التسبیح.(ایضاً)

ابو عثمان حیری زاهد فرمائی ما رایت للشدائد والغموم مثل صلوة التسبیح.(ایضاً)

۶ - د شافعی المسلک ډیرو فقهاؤ دې ته مستحب وئیلې دی.لکه امام غزالی.علامه جوینی. امام الحرمین رحمهم الله وغیرهم.(معارف السنن ج۴.ص ۲۸۴)

۷ - په احنافو فقهاؤکښې صاحب د قنیې.صاحب د حاوی قدسی.صاحب د حلبې او صاحب د بحر دا مستحب بنودلې دی.(پورتنی حواله)

۸ - علامه بنوری رحمه الله فرمائی وبالجملة لم یذهب احد من قدماء المحدثین الی وضعه وبطلانه وانما ذهب جمهورهم الی التصحیح او التحسین ولو کان ضعیفا لکفی حجة فی باب الفضائل ویقول ابن قدامة فی (المغنی) فی خاتمة بحث صلوة التسبیح: فالفضائل لا یشترط صحة الحدیث فیها الخ و فیما ذکرنا من القائلین باستحبابها مقنع للعالمین وسکینة للهائمین والله ولی التوفیق.(معارف السنن ج.ص)

۹ - او په دې باندې چې د دې شبهې د وجې نه د موضوعی کیدو اشکال کیږی چې دا د صلوة د معروفو اصولو نه خلاف دی او په قلیل عمل باندې په کښې د کثیر ثواب وعده ده.نو دا اشکال په هغه وخت پورې واقع کیدونکې دی چې تر څو پورې څه قوی دلیل تر لاسه نه شی.نو چې یو حدیث موجود دی چې تصحیح ئې هم کړې شوې ده او کم نه کم د حسن درجې ته خو رسیدلې دی نو اوس دا اشکال پاتې نه شو

خلاصه د کلام دا چې که څوک دا مونځ ثابت ګنی او کوی ئې نو هغه ته د غیرثابت عمل کوونکې او بدعتی نه شی وئیلې کیدې. او چې څوک دې لره ثابت نه منی نو په هغه باندې هم ملامتیا وئیل صحیح نه دی.ځکه چې په دې کښې د سلفو نه هم اختلاف نقل کړې شوې دی.والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۰ رجب ۱۴۲۱ هجری

فصل فی التراویح

د تراویحو د امامتۍ اجرت (تنخوا) اخستل

سوال په امامتۍ اجرت (تنخوا) اخستل روا دی. پوښتنه دا ده چې دا اجرت د جمعې د ورکولو دې او که د وخت د مصرف کیدلو؟ که یواځې د جمعې ورکولو اجرت وی نو لکه څه رنګه چې په تراویحو او د ثواب د پاره د قرآن په ختم او وئیلو باندې اجرت روا نه دې هم دغه شان په امامتۍ د اجرت اخستل ناروا کیدل پکار دی او که دا اجرت د وخت د حبس وی نو په تراویحو کښې هم د وخت حبس شته، نو بیا هلته هم اجرت اخستل ناروا کیدل نه دی پکار؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دا اجرت د وخت د حبس (بندولو) دې. چې د امامت د فرائضو د پاره روا دې. او د تراویحو د امامت د پاره روا نه دې. لعدم الضرورة. ځکه چې تراویح په وړو وړو سورتونو باندې هم کیدې شی. او که بغیر د اجرت نه درته امام تر لاسه نه شی نو ځان له یواځې ئې هم کولې شې او د فرض مونځ جماعت ضروری دې. واللہ سبحانه وتعالی اعلم. ۲۳ شوال ۱۴۰۳ هجری

په یو مسجد کښې د تراویحو څو جمعې

سوال: د جمات په بیلو بیلو حصو کښې په یو وخت سره یا دیوې جمعې نه پس بله جمعه د تراویحو لپاره کول روا دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د جماعت کولو ذکرکړې شوې دواړه صورتونه مکروه دی. په یو مسجد کښې دیرې جمعې کول په اتفاق سره مکروه دی او ددې په عموم کښې د تراویحو جمعه هم داخله ده . او د صحیح بخاری په روایت کښې دی چې حضرت عمر ﷺ په مسجد نبوی کښې صحابهٔ کرام ﷺ په بیلو بیلو ډلو کښې په تراویحو کولو ولیدل نو ټول ئې د یو امام په په اقتداء کښې راجمع کړل. د صحابهٔ کرامو ﷺ ټولو ډلو بې د څه اخوا دیخوا کولو نه په دې حکم باندې عمل وکړو. دغه شان په دې مسئله باندې د صحابهٔ کرامو ﷺ اجماع سکوتی قائمه شوه

عن عبدالرحمن بن عبد القاری انه قال: خرجة مع عمر بن الخطاب ﷺ لیلة فی رمضان الی المسجد فاذا الناس اوزاع متفرقون یصلی الرجل بنفسه ویصلی الرجل فیصلی بصلوته الرهط. فقال عمر: انی اری لو جمعت هؤلاء علی القارء واحد لکان امثل ثم عزم فجمعهم علی ابی بن کعب ﷺ ثم خرجت معه لیلة اخری والناس یصلون بصلوة قارئهم. قال عمر ﷺ نعم البدعة هذه والتی تنامون عنها افضل من التی تقومون. یرید اخر اللیل وکان الناس یقومون اوله. (صحیح البخاری ج۱،ص۲۶۹) واللہ سبحانه وتعالی اعلم

۹ رمضان ۱۴۰۷ هجری

د قرآن مجید د ختمولو طریقه

سوال تاسو چې د (الحال المرتحل) کوم تقریر فرمائیلې دې په احسن الفتاوی (اردو) ج ۳ ص ۵۰۸ کښې د هغې خلاف دې او هماغه مطلب لیکلې شوي دې کوم چې عام مشهور دې. د دې وضاحت زانه مطلوب دې. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب زما د رومبنۍ ورځې نه په (الحال المرتحل) باندې څه اشکالات دی

۱ چې په آخر د قرآن باندې ختم ونه کړې شو نو دلته بیا (حال) څنګه شو؟

۲ چې (حال) ونه شو نو د هغه ځای نه (مرتحل) څنګه شو؟

۳ چې په (المفلحون) باندې قرآن ختم کړې شو نو هلته (حال) شو. بیا په دویمه ورځ د هغه ځای نه مرتحل شو

۴ په تراویحو کښې د قرآن د ختم په صورت کښې په (المفلحون) باندې حال خو جوړ شو لیکن مرتحل پرې بیخی جوړ شوې ندې

۵ په مونځ کښې منکوسا (یعنی چې په دویم رکعت کښې د اولنی رکعت دلوستلې شوی آیت یا سورت نه وړاندې آیت یا سورت ولولې) قراءت کول مکروه دی. په داسې حال کښې چې د یوې جزئیې استثناء څه دلیل نه دې

۶ په مونځ کښې د یو سورت د شروع په حصه باندې اکتفاء کول مکروه دی. د دې علت د مونځ نه بهر په قراءت کښې هم موندلې شی

زما په خیال د (الحال المرتحل) مطلب له شروع نه دا را روان دې چې په معمولاتو باندې همیشه دوام وکړې شی. او قضا په کښې ونه کړې شی. د قرآن په تلاوت کښې هم دا معمول باید وساتلې شی چې د قرآن د ختمیدو نه پس په بیا شروع کولو کښې ناغه (قضا) رانه شی. بلکه د روزانه په تلاوت کښې دې هم د دې اهتمام وکړې شی دې دپاره چې په دویمه ورځ وړاندې تللو کښې ناغه نه شی. لیکن د مشهورې معنې د غیر معتبر کیدو دپاره زما په خیال کښې څه واضحه دلیل نه وو. بلکه په اتقان وغیره کښې د دارمی د روایت وغیره نه د دې مرسته کیدله. د ډیر زیات تحقیق موقع رانه تر لاسه نشوه. د دې وجې نه ما هغه مشهوره معنی په احسن الفتاوی کښې د ابن عابدین رحمه الله نه نقل کړه. اوس زما د زوړ خیال مطابق د حافظ ابن قیم رحمه الله تحقیق می تر لاسه شو نو ما د دې د تحقیق ضرورت وګڼلو. نو چې کتابونو ته د رجوع کولو نه کوم عبارتونه زما تر لاسه شو د هغې حاصل دا دی چې د حدیث (الحال المرتحل) نه د قرآن د ختمولو د رواج شوې طریقې اثبات کول صحیح نه دی. السنه په دې حقله د رواج شوې طریقې مطابق قرآن ختمولو په حقله نور روایات موندلې شی خو د عسانی قابل نه دی. خنو د دې روایتونو نه د دې رواج شوې طریقې استحسار

ثابت کړې دي، او ځینو ترې انکار ثابت کړې دي. لیکن عدم ثبوت ترې نه راجحه معلومیږي

قال الحافظ ابن القیم رحمه الله: وفی الترمذی عنه انه سئل ﷺ: ای الاعمال احب الی الله؟ قال: الحال المرتحل وفهم بعضهم من هذا انه اذا فرغ من ختم القرآن قرا فاتحة الکتاب وثلاث ایات من سورة البقرة. لانه حل بالفراغ وارتحل بالشروع وهذا لم یفعله احد من الصحابة ولا التابعین ولا استحبه احد من الائمة والمراد بالحدیث: الذی کلما حل من غزاة ارتحل فی اخری او کلما حل من عمل ارتحل الی غیره تکمیلا له کما کمل الاول واما هذا الذی یفعله بعض القراء فلیس مراد الحدیث قطعا وبالله التوفیق.

وقد جاء تفسیر الحدیث متصلا به ان یضرب من اول القران الی اخره کلما حل ارتحل وهذا له معنیان: احدهما انه کلما حل من سورة او جزء ارتحل فی غیره والثانی انه کلما من ختمه ارتحل فی اخری. (اعلام الموقعین: ج۴ص۴۰۶)

وقال ابن الجوزی رحمه الله: وقال الشیخ ابو شامة رحمه الله: ثم ولو صح هذا الحدیث والتفسیر لکان معناه الحث علی الاستکثار من قراءة القران والمواظبة علیها فکلما فرغ من ختمه شرع فی اخری ای انه لا یضرب من القراءة بعد ختمه یفرغ منها بل یکون قراءة القران دابه ودیدنه. انتهی. وهو صحیح لما انا لم ندع ان هذا الحدیث دال نصا علی قراءة الفاتحة الخمس من اول البقرة عقیب کل ختمة بل یدل علی الاعتناء لقراءة القران والمواظبة علیها بحیث اذا فرغ من ختمه شرع فی اخری وان ذلک من افضل الاعمال.

و اما قراءة الفاتحة والخمس من البقرة فهو مما صرح به الحدیث المتقدم اولا المروی من طریق ابن کثیر وعلی کل تقدیر فلا نقول ان ذلک لازم لکل قارئ بل نقول کما قال ائمتنا فارس بن احمد وغیره: من فعله فحسن ومن لم یفعله فلا حرج علیه وقد ذکر الامام موفق الدین ابو محمد عبدالله بن قدامة المقدسی الحنبلی رحمه الله فی کتابه المغنی ان اباطالب صاحب الامام احمد قال: سالت احمد اذا قرا (قل اعوذ برب الناس [ ]) یقرا من البقرة شیئا؟ قال لا فلم یستحب ان یصل ختمة بقراءة شیء. انتهی. فحمله الشیخ موفق الدین علی عدم الاستحباب وقال: لعله لم یثبت عنده فیه اثر صحیح یصیر الیه انتهی وفیه نظر اذ یحتمل ان یکون فهم من السائل ان ذلک لازم فقال: لا ویحتمل انه اراد قبل ان یدعو، ففی کتاب الفروع للامام الفقیه شمس الدین محمد بن مفلح الحنبلی رحمه الله: ولا یقرا الفاتحة وخمسا من البقرة نص علیه. قال لآمدی: یعنی قبل قبل الدعاء وقیل: یستحب فحمل نص احمد بقوله (لا) علی ان یکون قبل الدعاء بل ینبغی ان یکون دعاؤه عقیب

قراءة سورة الناس كما سهاني نص احمد رحمه الله: وذكر قولا اخر له بالاستحباب والله اعلم. (النهر في قراءات العشر: ج،ص)

د امام احمد رحمه الله د قول د جوابونو ضعف ښکاره دي

د دارمي د روايت تحقيق دا روايت د دارالافتاء علماؤ ته په دارمي کښې تر لاسه نه شو. دکتور حازم سعيد حيدر هم په تحقيق د شرح الهدايه کښې ليکلي دي چې هغوی ته د کتلو باوجود په دارمي کښې دا روايت په نظر رانغئ **ونصه**

نسبه السيوطي للدارمي بسند حسن اوقد تتبعت الدارمي فلم اجده فيه فانه اعلى واظر.(شرح الهداية ج،ص)

د جامع البيان والنشر د روايتونو تحقيق:

د جرحې او د تعديل په کتابونو کښې د دې روايتونو د راويانو حالات ترلاسه نه شو،په ظاهره دا معلوميږي چې محدثينو ته په دې روايتونو باندې علم وو او باوجود د دې ئې دا ندي قبول کړي

د فقهي روايتونو تحقيق:

د فقهې په کتابونو کښې چې د دې روايت د مبدې (چې د کوم ځاې نه دا روايتونه راخستي شوي دي) د کتلو کوشش وکړې شو نو (ولوالجيه) او (النهر الفائق) پورې خبره ورسيده خو دا دواړه کتابونه نه ترلاسه کيږي نو د دې دوجې نه په دې ځائ باندې وړاندې تړ ودريدلو **والله سبحانه وتعالی اعلم** ۲۵ ربيع الثاني ۱۴۱۷ هجري

په تراويحو کښې د قرآن کريم د ختم نه وروسته دعا کول

سوال په تراويحو کښې د قرآن د ختمولو په موقع باندې دعا روا ده او که ناروا؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : ځان له دعا کول د ختم په موقع باندې مستحب دی. په جمع د دعا کولو دا رواج شوې طريقه روا نده. په علماؤ او په اصلاح کوونکو باندې په ښه طريقې سره د دې اصلاح کول واجب دي

قال في الهندية: الدعاء عند ختم القران في شهر رمضان مكروه الكن هذا شي لا يفتى به. كذا في خزانة المفتي. يكره الدعاء عند ختم القران بجماعة لان هذا لم ينقل النبي ﷺ.(عالمگيرية ج،ص)

وقال الامام الكردي رحمه الله: ويكره الدعاء عند ختم القران في رمضان او بجماعة فارجة لانه لم ينقل عن الصحابة فقال الصفار: ولولا ان اهل البلدة يقولون انه يمنعهم من الدعاء لمنعتهم (بزازية بهامش الهندية ج،ص)

د لاندينو روايتونو نه په رواج شوی رسم باندې استدلال کول صحيح نه دی. ځکه چی د دی روايتونو د دې زماني د دې رسم سره هيڅ تعلق نشته دي

(۱) کان النبی ﷺ اذا ختم القران جمع اهله وولده فدعا لهم. اخرجه ابو عبید وابن الضریس من طریق ابی بکر بن ابی شیبة وسنده صحیح. (کتاب فضائل القرآن للفریابی مع تعلیقه: ص۳۳)

(۲) عن الحکم قال: کان مجاهد وعبدة بن ابی لبابة وناس یعرضون المصاحف فلما کان فی الیوم الذی ارادوا ان یختموا فیه القران بعثوا الی والی سلمة بن کهیل فقالوا: انا کنا نعرض المصاحف وانا نرید ان نختم الیوم فانه کان یقال الرحمة تنزل او تحضر عند ختم القران. اخرجه ابو عبید والدارمی وقال النووی: اسناده صحیح. (حوالہ بالا ص۱۳)

(۳) عن الحکم ارسل الی مجاهد فقال: انا دعوناك انا اردنا ان نختم القران فکان یقال ان الدعاء مستجاب عند ختم القران ثم دعا بدعوات. (حوالہ بالا ص۱۰)

(٤) قال (الامام احمد بن حنبل رحمہ اللہ) فی روایة یوسف بن موسی وقد سئل عن الرجل یختم القران فیجتمع الیه قوم فیدعون الیه قال: نعم رایت معمرا یفعله اذا ختم القران. (جلاء الافهام لابن القیم ص۳۷۰)
والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۹ شوال ۱٤۱۹ هجری

باب سجود السهو

كه د مسافر امام نه سهو وشوه نو د مقيم مقتدى د سهوې د سجدې حكم

سوال يو مقيم مقتدى په مسافر امام پسې مونځ كوى. امام سهو شو نو مقتدى به سجده د سهوې د مسافر امام سره ادا كوى او كه نه د مونځ په آخره كښې به ئې خان له ادا كوى؟ او كه د امام سره ئې ادا كوى نو سلام وګرځوى او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دده حكم په شان د حكم د مسبوق دې. امام سره دې سجده د سهوې وكړى خو سلام دې نه ګرځوى.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: والمقيم خلف المسافر كالمسبوق وقيل: كاللاحق.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: والمقيم الخ) ذكر في البحر ان المقيم المقتدى بالمسافر كالمسبوق في انه يتابع الامام في سجود السهو ثم يشتغل بالاتمام. (ردالمحتار: ج،ص) والله سبحانه وتعالى اعلم

٢١ صفر ١٤٠٤ هجرى

د مقيم خلف المسافر په باقى پاتې مونځ كښې د سجدهٔ سهوې حكم

سوال يو مقيم مسبوق خلف المسافر كه په باقى پاتې مونځ كښې سهوه شى نو هغه به سجده د سهوې كوى او كه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په علائيه او شامى كښې په باب المسافر كښې راغلى دى چې سجده د سهوې دې نه كوى. ليكن په شامى كښې په باب السجود كښې د بحر نه د وجوب د سجدې سهوې په حقله ترجيح نقل كړې شوې ده.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ذكر في البحر ان المقيم المقتدى بالمسافر كالمسبوق في انه يتابع الامام في سجود السهو ثم يشتغل بالاتمام واما اذا قام الى اتمام صلوته وسها فذكر الكرخى انه كاللاحق فلا سجود عليه بدليل انه لا يقرأ. وذكر في الاصل انه يلزمه السجود وصححه في البدائع لانه انما اقتدى بالامام بقدر صلوة الامام فاذا انقضت صار منفردا وانما لا يقرأ فيما يتم لان القراءة فرض في الاولين وقد قرأ الامام فيهما اهـ (ردالمحتار ج،ص)

د سجدهٔ سهوې د وجوب حكم د مبسوط ارخ ته دنسبت. د امام كاسانى رحمه الله له ارخه د دې د تصحيح. او د علامه ابن نجيم او د علامه ابن عابدين له ارخه د دې د تقرير نه پس د عدم وجوب د قول څه ځاى نه دې پاتې. ددې د تفصيل او د دې په حقله د حضرت مولانا خليل احمد سهارنپورى رحمه الله تحقيق زما په رساله (القول السافر عن حكم المسبوق خلف المسافر) كښې شته دا رساله به

احسن الفتاوی ج ۳ ،ص ۳۵۰ کښې موجود ده. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲ ربیع الاول ۱۴۰۱ هجری

که چا د فاتحې په ځای تشهد ولوستلو

سوال احسن الفتاوی (اُردو) ج ۴ ،ص ۳۵ کښې راغلی دی (که د فاتحې نه وړاندې چا تشهد د (ایها) د ها پورې ولوستلو نو سجده د سهوې پرې واجبه شوه، په ظاهره دا عبارت د لاندې جزئیاتو خلاف معلومیږی

قال فی الهندیة:لو تشهد فی قیامه قبل قراءة الفاتحة فلا سهو علیه و بعدها یلزمه سجود السهو وقال قبیله:ولو قرا التشهد فی القیام ان کان فی الرکعة الاولی لا یلزمه شیء وان کان فی الرکعة الثانیة اختلف المشائخ فیه والصحیح انه لا یجب کذا فی الظهیریة. (عالمگیریة ج ،ص)

وقال فی الخانیة: وافتتح الصلوة فقرا التشهد فی قیامه قبل ان یشرع فی الفاتحة عامدا او ساهیا لا سهو علیه. (الفتاوی الخانیة بهامش الهندیة ج ،ص).

په دې ذکر شوو عبارتونو باندې غور وکړئ او جواب راکړئ. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په احسن الفتاوی کښې چې کوم سوال او جواب دې هغه دواړه مطلق دی. تفصیل ئې دا دې چې د نفلو په رومبی او دریم کښې او د فرضو په رومبی رکعت کښې د فاتحې نه وړاندې او په فرضو کښې په دریم او څلورم رکعت کښې مطلقا سهوا د تشهد په لوستلو سره سجده د سهوې نه واجبیږی.

لان ما قبل الفاتحة فی الرکعة الاولی من الفرض والسنة والنفل والثالثة من النفل محل الثناء و اما اخیرتا الفرض فلخلوهما عن فرض القراءة

په سنتونو کښې د رومبی رکعت نه بغیر په نورو ټولو رکعتونو کښې د فاتحې په ځای سهواً د تشهد په لوستلو سره سجده د سهوې واجبیږی

قال الامام ابن الهمام رحمه الله:ولو قرا التشهد فی الرکوع او السجود لا سهو علیه ولانه ثناء وهما محله بخلاف القراءة القران فیهما فان فیه السهو ولو قرا فی القیام ان کان قبل الفاتحة لا سهو او بعدها فعلیه لان ما قبلها محل الثناء وهذا یقتضی تخصیصه بالرکعة الاولی. (فتح القدیر ج ،ص)

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله:ولو تشهد فی قیامه قبل الفاتحة لا سهو علیه لانه محل الثناء وبعدها علیه السهو لتاخیر السورة وهو الاصح اه ابو السعود للسید: و ینبغی تخصیصه بالاولی او بالثالثة من رباعیة النافلة للعلة المذکور. (حاشیة الطحطاوی علی الدر ج ،ص)والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۸ ذی القعدة ۱۴۰۵ هجری

په رکوع یا په سجده کښې سهواً تشهد ولوستلې شو

سوال که په رکوع یا په سجده کښې سهوا تشهد ولوستې شو نو آیا سجده سهوا واجب سو او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې کښې د فقهاء کرامو ؒ قولونه مختلف دی.امام ابن الهمام،امام زیلعی،علامه طحطاوی،او اکثر فقهاء ؒ د عدم وجوب قائل دی.برابره خبره ده که په قصد سره ئې لوستې وی او که په خطا سره ترې لوستلې شوې وی.

قال الامام ابن الهمام رحمه الله:ولو قرا التشهد فی الرکوع او السجود لا سهو علیه ولانه ثناء وهما محله بخلاف القراءة القران فیهما فان فیه السهو ولو قراه فی القیام ان کان قبل الفاتحة لا سهو او بعدها فعلیه لان ما قبلها محل الثناء وهذا یقتضی تخصیصه بالرکعة الاولی. (فتح القدیر ج،ص)

وقال العلامة شیخ زاده رحمه الله:وان تشهد فی القیام او الرکوع او السجود لا یجب لانه ثناء وهذه المواضع محل للثناء وعن محمد:لو تشهد فی قیامه قبل قراءة الفاتحة فلا سهو علیه وبعدها یلزم سجود السهو وهو الاصح کما فی التبیین. (مجمع الانهر ج،ص)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله:(و ان تشهد فی القیام)قبل القراءة قواما بعدها فیسجد هو الاصح.قال الشمنی(او الرکوع او السجود لا یجب)لانها محل الثناء والتشهد ثناء.(الدر المنتقی بهامش مجمع الانهر ج،ص)

وقال الامام الزیلعی رحمه الله:ولو تشهد فی قیامه او رکوعه او سجوده فلا سهو علیه لانه ثناء وهذه المواضع محل الثناء.(تبیین الحقائق: ج،ص)

وقال العلامة الکردری رحمه الله: وفی غریب الروایة:قرا ساهیا فی الرکوع او السجود او القیام التشهد لا یلزم. (الفتاوی البزازیة بهامش الهندیة ج،ص)

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله: او تشهد قائما او راکعا او ساجدا لا سهو علیه منیة المصلی. (حاشیة الطحطاوی علی المراقی ص)

وقال فی الهندیة:لو قرا التشهد قائما او راکعا او ساجدا لا سهو علیه هکذا فی المحیط. (عالمگیریة ج،ص)

لیکن امام قاضیخان ؒ سهوا د تشهد وئیلو په صورت کښې د سجدې د سهوې دوجوب قائل دې.او دا وجوب د سجدې د سهوې مستلزم دی دې خبرې لره چې د عمد په صورت کښې به مونځ راگرځول واجب وی. شیخ حلبی.علامه عینی.او امام طاهر بن عبد الرشید البخاری ؒ هم د عیون او محیط نه د دې مطابق قول نقل کړې دی.

وقال الامام قاضیخان رحمه الله: وان افتتح الصلوة فقرا التشهد فی قیامه قبل ان یشرع فی قراءة الفاتحة عامدا او ساهیا لا سهو علیه (وقال قبیله) ولو قرا الفاتحة او اية من القران فی القعدة او فی الرکوع او فی السجود او قرا التشهد فی الرکوع او فی السجود کان علیه السهو. (الفتاوی الخانیة بهامش الهندیة ج۱ ص۱۲۳)

وقال الامام طاهر بن عبد الرشید البخاری رحمه الله: و فی الفتاوی: لو قرا الفاتحة او اية من القران فی القعدة او فی الرکوع او فی السجود او قرا التشهد فی الرکوع او فی السجود علیه السهو. (خلاصة الفتاوی ج۱ ص۱۷۰)

وقال العلامة الحلبی رحمه الله فی شرح قول منیة المصلی (او تشهد قائما او راکعا او ساجدا لا سهو علیه) کذا فی المختار علی ما ذکره الاسبیجابی (الی قوله) واما التشهد فلانه ثناء والقیام والرکوع والسجود محل للثناء (الی قوله) وفی المحیط والعیون: ولو تشهد فی رکوعه او سجوده یلزمه السهو. (الشرح الکبیر ص۴۳۰)

وقال الحافظ العینی رحمه الله: و لو تشهد فی رکوعه او سجوده او القومة فلا سهو علیه (الی قوله) و فی المحیط والعیون: لو تشهد فی رکوعه او سجوده یلزمه السهو. (البنایة: ج۲ ص۷۳۳)

د بنده په خیال د امام ابن الهمام رحمه الله قول راجح دې ځکه چې رکوع او سجده محل د ثنا دی. د دې وجې نه اکثرو فقهاؤ رحمهم الله همدا قول اختیار کړې دې. په خپله امام قاضیخان رحمه الله هم د دې دلیل په وجه په رومبی رکعت کښې د فاتحې نه وړاندې د تشهد ویلو په صورت کښې د سجدې د سهوې د وجوب قائله نه دې. لیکن د تعجب خبره داده چې د عدم وجوب همدا وجه (یعنی محل د ثنا کیدل) په رکوع او په سجدو کښې هم ده او باوجود د دې په هغې کښې د سجدې د سهوې د وجوب قائل دې. د امام قاضیخان رحمه الله په نیز د دې فرق وجه داکیدې شی چې په بعضو خبرو کښې د تشهد د قرأت سره څه نا څه مناسبت شته. د دې وجې نه په حالت د قیام کښې چې هغه محل د قرأة دې په هغې کښې بې د تشهد لوستل وزغمل او په رکوع او سجده کښې نې ونه زغمل. لعدم الملائمة. والله سبحانه وتعالی اعلم

۸ ذی القعدة ۱۴۰۵ هجری

د سهوې یوه سجده سهوًا یا قصدًا پرېښودې شوه

سوال په سجدهٔ سهوه کښې دواړه سجدې واجب دی او که یوه؟ که یوه سجده په کښې پاتې شوه یا په قصد سره پرېښودې شوه نو د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دواړه سجدې واجب دی. یوه سجده که چرې په هېره سره پاتې شوه نو په سجدهو دې ادا کړې شی. د دې یوې سجدې د وړو سوالی په وجه لمه څه سجده په واجب نه کړی. که په قصد سره نې پرېښې وی نو سخت ګناهګار شو په دې باندې توبه او استغفار کول

په سر ضروري دی. چې په سهوې سره پاتې شوه او ادا نه کړې شوه نو په قصد سره پرېښودې شوه نه دې دوارو صورتونو کښې د مونځ راګرځول واجب دی. خو دومره خبره ده چې سهوًا پاتې کېدو سره پرې څه ګناه او تبول نشته

قال العلامة الطحطاوی رحمه الله: فلو اقتصر علی سجدة واحدة لا یکون اتیا بالواجب ولا شیء علیه ان کان ساهیا وان تعمد یاثم.

وفی البحر: لو سها فی السجود السهو عمل بالتحری ولا یجب علیه سجود السهو لئلا یلزم التسلسل ولانه یغتفر فی التابع ما لا یغتفر فی المتبوع. (حاشیة الطحطاوی علی المراقی ص۲۰۰)

وقال العلامة التمرتاشی رحمه الله: یجب له بعد سلام واحد سجدتان. (ردالمحتار ج۱ص۴۹۰)

وقال فی المتانة عازیا الی التهذیب: السهو فی سجود السهو لا یوجب السجود لانه لا یتناهی. (المتانة ص۴۰)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: بقی اذا سقط السجود فهل یلزمه الاعادة لکون ما اداه اولا وقع ناقصا بلا جابر؟ والذی ینبغی انه ان سقط بصنعه کحدث عمدا مثلا یلزم والا فلا. تامل. (ردالمحتار ج۱ص۴۹۰)

وقال العلامة الرافعی رحمه الله: (قوله: والذی ینبغی انه ان سقط الخ) سیاتی له عن النهر ان المقتدی اذا سها مقتضی کلامهم انه یعیدها لثبوت الکراهة مع تعذر الجابر اھ ومقتضاه الاعادة مطلقا ولو سقط بلا صنعه وهکذا قرره محمد هاشم السندی فیما یاتی کما نقله العلامة السندی عنه. (التحریر المختار ج۱ص۹۱) والله سبحانه وتعالی اعلم

۳۰ ربیع الثانی ۱۴۱۰ هجری

د مسبوق د سهوې حکم

سوال مسبوق د امام سره سجده د سهوې وکړه. بیا چې ترې نه کوم رکعتونه قضا شوی دی د هغې د کولو په دوران کښې داسې غلطی ترې نه وشوه چې سجده د سهوې پرې واجبېږی نو په ده باندې به بلکه سجده سهوه لازمېږی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په ده باندې سجده د سهوې لازمه ده

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والمسبوق یسجد مع امامه مطلقا سواء کان سهوه قبل الاقتداء او بعده ثم یقضی ما فاته ولو سها فیه سجد ثانیا.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله: ولو سها فیه) ای فیما یقضیه بعد فراغ الامام یسجد ثانیا لانه منفرد فیه والمنفرد یسجد لسهوه. (ردالمحتار ج۱ص۵۰۰) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۵ جمادی الثانیه ۱۴۱۰ هجری

د سهوې يوه سجده ئې وکړه او پنځم رکعت د پاره ودريدلو

سوال يو سړی باندې سجده د سهوې واجب شوه، هغه آخره کښې د سهوې د يوې سجدې د اداکولو نه پس پنځم رکعت د پاره ودريدلو او شروع ئې په کښې وکړه او د فاتحې د لوستلو نه پس ورته راياد شو چې دې د سهوې د يوې سجدې نه پس بيا ودريدلې دې. اوس به دې څه کوي؟ آيا د سهوې هغه يوه سجده ئې په خپل ځائ باقي پاتې ده او که نه بيا به ورله د سره دوه سجدې کول پکار وي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله: واصل اخر: ان السجدة اذا فاتت عن محلها لا تجوز الا بنية القضاء، و متى لم تفت عن محلها تجوز بدون نية القضاء، وانما تفوت عن محلها بتخلل ركعة كاملة و بما دون الركعة الكاملة لا تفوت عن محلها، لانه محل الرفض.

واصل اخر: ان زيادة ما دون الركعة الكاملة لا توجب فساد الصلوة و زيادة الركعة الكاملة توجب فساد الصلوة اذا كانت الزيادة قبل اكمال اركان الفريضة و معنى زيادة ما دون الركعة الكاملة زيادة ركوع او زيادة سجود و معنى زيادة الركعة الكاملة ركوع و سجود. (الفتاوى التتارخانية ج۱ص۳۰۰)

قال العلامة الطحطاوي رحمه الله في بيان سجود السهو: و يجب سجدتان كسجدتي الصلوة يجلس بينهما مفترشا و يكبر في الوضع و الرفع و يأتي بهما بتسبيح السجود (الى ان قال) فلو اقتصر على سجدة واحدة لا يكون اتيا بالواجب و لا شيء عليه ان كان ساهيا و ان تعمده يأثم. (حاشية الطحطاوي على المراقي ص۲۵۰)

د پورتنيو عبارتونو نه په علم کښې دا خبره راځي چې وړاندينئ سجده په خپل ځائ پاتې ده. دويمه سجده دې وکړي او خپل مونځ دې سر ته ورسوي. والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۵ ربيع الاول ۱٤۱۹ هجری

سجده سهوه ئې هيره کړه او وتر ئې شروع کړل

سوال يو سړی د ماسخوتن دوه رکعته سنت مونځ کولو. وروستئ قعده ترې نه هيره شوه او ودريدلو او بيا ئې دوه رکعته نفل وکړل او سجده د سهوې ئې ونه کړه. سلام ئې وګرځولو او د وترو نيت ئې وکړو. په وترو کښې ورته رایاد شو چې ما لره خو سجده د سهوې کول پکار وو. اوس ده لره څه کول پکار دي؟ د وترو مونځ مات کړي او سجده د سهوې وکړي او که د وترو نه د فارغيدو نه پس سجده د سهوې وکړي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب اوس د سجدې د سهوې څه صورت باقي نه شو. د دې وجې نه د وترو مانځل روا نه دي. د وترو نه پس دې دا سنت راوګرځوي

فی الدر المختار: ویفسدها انتقاله من صلوٰة الی مغایرها ولو من وجه حتی لو کان منفردا فکبر ینوی الاقتداء اوعکسه صار مستانفا.

قال ابن عابدین رحمه الله: قوله: ویفسدها انتقاله الخ ای بان ینوی بقلبه مع التکبیرة الانتقال المذکور. قال فی النهر: بان صلی رکعة من الظهر مثلا ثم افتتح العصر او التطوع بتکبیرة...... صح شروعه فی العصر. لانه نوی تحصیل ما لیس بحاصل فخرج عن الاول فمناط الخروج عن الاول صحة الشروع فی المغایر ولو من وجه فلذا لو کان منفردا فکبر ینوی الاقتداء او عکسه او امامة النساء فسد الاول وکان شارعا فی الثانی...... (ردالمحتار ج،ص) . قال ابن عابدین رحمه الله تحت قول صاحب الدر: ولو نسی السهو او سجدة صلبیة او تلاوية یلزمه ذلک مادام فی المسجد

تنبیه قال هنا: مادام فی المسجد وفیما قبله: مالم یتحول عن القبلة ولعل وجه الفرق ان السلام هنا لما کان سهوا لم یجعل مجرد الانحراف عن القبلة مانعا ولما کان فیما قبله عمداً جعل مانعا علی احد القولین وهو ما مشی علیه المصنف لما فی البدائع من ان السجود لا یسقط بالسلام ولو عمداً الا اذا فعل فعلا یمنعه من البناء بان تکلم او قهقه او احدث عمداً او خرج من المسجد او صرف وجهه عن القبلة وهو ذاکر له لانه فات محله وهو تحریمة الصلاة فسقط ضرورة فوات محله اهـ تامل. (ردالمحتار ج،ص) والله سبحانه وتعالی اعلم

٧ جمادی الثانیة ١٤١٩ هجری

په رکوع کښې ورته یاد شو چې قنوت ئې نه دې لوستې

سوال احسن الفتاوی (اُردو) ج ۴. ص ۲۳ کښې لیکلې شوې دی چې که قنوت چا نه پاتې شو نو د رکوع نه دې واپس نه څي قیام ته، صرف په آخره کښې دې سجده د سهوې وکړی. لیکن د واپس تلو په صورت کښې به ئې مونځ نه فاسدیږی. په دې صورت کښې دې رکوع بیا نه راگرځوی. سجده د سهوې دې وکړی. که چیرې بیا ئې رکوع وکړه نو څنګه چې معلومه ده چې دا په قصد سره تاخیر کول دی. ددې وجې نه د دې تدارک به په سجدې د سهوې سره نه کیږی. مونځ به بیا راگرځول واجب وی. والجهل عند.

په احسن الفتاوی کښې په سجدې د سهوې سره د نه صحیح کیدو ذکر کړې شوی او د راگرځولو دوجوب حکم کړې شوې دې. په دې حقله څه خبرې ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم

۱ په ردالمحتار کښې دویم رکوع ته د لغوې وئیلو باوجود یو خو کرښې وروسته صراحت دا خبره ذکر کړې شوې ده چې به سجدې د سهوې سره به تدارک وشی. علامه ابن عابدین رحمه الله خلور صورتونه بیان کړی دی. او په دې کښې ئې څه فرق نه دې کړې. د ټولو حکم ئې دا بیان کړې دې چې

په سجدې د سهوې سره به مونځ صحيح شي. دا کوم بحث چې شروع دې دا هم په هغه حلورو صورتونو کښې بوصورت دې. لهذا زما په فهم ناقص کښې د راګرځولو وجوب خو څه کوې چې جواز هم ګران ښکاريږي. او د علامه ابن عابدين رحمه الله په شان د لوئې محقق او کامل فقيه د شان نه دا خبره ډيره لرې معلوميږي چې هغوی په دې مسئله باندې بحث کوی او په دې کښې چې کوم صورتونه مخې ته راځي د هغې ذکر سره د تدارکه وکړی او په يو صورت کښې د راګرځولو د وجوب حکم وی او د دې باوجود ئې هغه بيان نه کړی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولو نسيه اى القنوت ثم تذكره في الركوع لا يقنت فيه لفوات محله ولا يعود الى القيام في الاصح لان فيه رفض الفرض للواجب فان عاد اليه وقنت ولم يعد الركوع لم تفسد صلوته لكون ركوعه بعد قراءة تامة وسجد للسهو قنت اولا لزواله عن محله.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: لكونه بعد قراءة تامة) اى فلم يرتفض ركوعه بخلاف ما لو تذكر الفاتحة او السورة حيث يعود و يرتفض ركوعه لان بعوده صارت قراءة الكل فرضا والترتيب بين القراءة والركوع فرض فارتفض ركوعه فلو لم يركع بطلت ولو ركع وادركه رجل في الركوع الثاني كان مدركا لتلك الركعة بحر ملخصا اى لان الركوع الثاني هو المعتبر لارتفاض الاول بالعود الى القراءة بخلاف العود الى القنوت حتى لو عاد وقنت ثم ركع فاقتدى به رجل لم يدرك الركعة لان هذا الركوع لغو و مانقله ح عن البحر وتبعه ط فيه اختصار مخل فافهم. قدمنا في فصل القراءة بيان كون القراءة تقع فرضا بالعود فراجعه.

(فرع) ترك السورة دون الفاتحة و قنت ثم تذكر يعود ويقرأ السورة ويعيد القنوت والركوع معراج و خانية وغيرهما (قوله: لزواله عن محله) تعليل لما فهم قبله من الصور الاربع وهي: مالو قنت في الركوع او بعد الرفع منه واعاد الركوع اولا وما اذا لم يقنت اصلا. كما حققه ح (ردالمحتار ج، ص ...)

۲- اکابرينو د ديوبند هم د علامه ابن عابدين رحمه الله د دې تحقيق مطابق د رکوع د راګرځولو باوجود صراحتاً په سجدې د سهوې سره د مونځ د صحيح کيدو فتوی ورکړې ده. د راګرځولو د وجوب حکم ئې ندې کړې. ځينې فتوی ګانې دلته نقل کولې شي

الف سوال په وترو کښې امام د قنوت د دعا وئيلو نه بغير رکوع ته لاړو او مقتديانو ولاړ وو حتی الله اکبر ئې اووئيلو نو امام واپس د رکوع نه راغلو او دعا د قنوت ئې ولوستله او واپس رکوع ته لاړو او په آخره کښې ئې سجده د سهوې وکړه نو د امام او د مقتدی د دواړو مونځ وشو او که نه؟

جواب راجع هم دا دی چې د ټولو مونځ وشو. کفاية المفتی ج ۳. ص ۳۴۲.

ب سوال که څوک په وترو کښې دعا د قنوت هيره کړی او رکوع ته لاړ شي بيا ورو سته ئې حيله ... وروستو د رکوع نه پس قنوت ولولی او بيا ئې دوباره رکوع وکړی او ... مونځ پوره کړی نو په دې صورت کښې به د هغه مونځ فاسد شي او که نه په سجدې د سهوې سره به مونځ ...

مونځ کامل سي؟

جواب مونځ ئې صحيح سو

كذا في الدر المختار: فان عاد وقنت الخ. (فتاوى دار العلوم ديوبند ج،ص)

ستاسو نه دا درخواست دې چې په دې مسئله باندې نو نظر بل وکړئ او د خپلې فيصلې نه مونږ خبر کړئ ستاسو نه ډېره مهرباني وي. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د احسن الفتاوي وړانديني جواب په دې مسئله د (عود الى القيام للقنوت) په صورت کښې په صحيح قول باندې يعنی د رکوع په نه راګرځولو باندې.ثانياً په ردالمحتار او طحطاوی کښې دويمې رکوع ته په لغو او حرام ونيلو باندې.ثالثاً د فقهي اهمې قاعدې جهل بحکم عمد، باندې مبنی وو.د مونځ کوونکی جهل په حکم د عمد کښې ګڼلی شوي وو او د مونځ د راګرځولو فتوی ورکړې شوې وه.د دې وجې نه چې په سجدې د سهوې کښې عمد نه وي. د دې مشروعيت د سهوې د وجې نه شوې دی.

ستاسو په راليږلی شوی ليک کښې په دې ضابطه او قانون باندې څه تحقيق نشته .خو بيا هم ستاسو د ليک د راتلو نه پس ما د سر نه په دې ضابطه باندې غور وکړو او تحقيق مې وکړو نو خبره راباندې واضحه شوه چې په مجتهد فيها مسئلو کښې جهل په حکم د عمد کښې نه وي

قال الشمس العلماء العلامة ابن نجيم رحمه الله: الجهل فی موضع الاجتهاد الصحيح او فی موضع الشبهة وانه يصلح عذرا او شبهة كالمحتجم اذا افطر علی ظن انها فطرته وكمن زنی بجارية والده او زوجته (الاشباه والنظائر مع شرحه للحموی ج،ص)

دلته هم د امام ابو يوسف رحمه الله نه په غير رواية اصول کښې دويمې رکوع ته د تللو قول نقل کړې شوی دی. د دې وجې نه هغه عامه ضابطه او قانون دلته صحيح نه راځی.لهذا په دې مسئله کښې نه د په سجدې د سهوې سره نقصان تر سره شی.د مونځ بيرته راګرځول واجب نه دی

قال الامام الكاسانی رحمه الله: واما حكم القنوت اذا فاته عن محله فنقول: اذا نسی القنوت حتی رکع ثم تذكر بعدما رفع راسه من الرکوع لا يعود ويسقط عنه القنوت وان كان فی الرکوع فكذلك فی ظاهر الرواية وروی عن ابی يوسف رحمه الله فی غير رواية الاصول ان يعود الی القنوت لان له شبها فی القراءة فيعود كما لو ترك الفاتحة او السورة ولو تذكر فی الرکوع او بعدما رفع راسه منه انه ترك الفاتحة او السورة يعود وينتقض رکوعه كذا ههنا (بدائع الصنائع ج،ص)

ستاسو راليږلی شوي ليک د دې تحقيق باعث وګرځيدلو .فجزاكم الله تعالی. وړاندې هم که په احسن الفتاوی کښې د په داسې څه خطا نه نظر راغله نو مونږ ضرور خبر کړئ . والله هو الموفق والمعين.

٦ ربيع الثاني ١٤٢٠ هجری

باب صلوة المريض

ځان له په قيام باندې د قدرت لرونکی په امام پسې په ناستې اقتداء کول

سوال په احسن الفتاوی (اُردو) ج ۴.ص ۵۲ کښې ليکلې شوی دی چې که د چا د جمعې نه بغير ځان له يواځې په مونځ کولو کښې په قيام باندې قدرت وی.د جمعې سره په اوږد قيام باندې قدرت نه لری نو ځان له دې مونځ کوی.په ناسته باندې په امام پسې به د دۀ مونځ نه کيږی.اوس پوښتنه دا کول دی چې که چا څه مونځونه په ناسته د امام په اقتداء کښې کړی وی نو د هغې راګرځول واجب دی او که نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب چې د امام سره په قيام باندې قدرت نه لری نو په دې صورت کښې درې قولونه دی

۱- امام سره دې په ناسته مونځ کوی.

۲ - امام سره د په ولاړه مونځ شروع کړی.بيا دې کښيني.بيا که د رکوع په وخت کښې ئې په ولاړه باندې قدرت وی نو په ولاړه دې رکوع وکړی

۳ - ځان له دې ودريږی او مونځ دې وکړی.امام سره که په ناسته مونځ کوی نو مونځ به ئې نه ادا کيږی. دا قول د مفتی به سره سره احوط هم دې

ليکن څنګه چې دا خبره معلومه ده چې د قولونو په اختلاف سره تخفيف راځی.د دې وجې نه په دې پوښتلې شوې مسئله کښې د مونځ بيرته راګرځول واجب نه دی. فقهاء کرامو رحمهم الله په دې باندې تصريح کړې ده

قال العلامة الحلبی رحمه الله :ولو صلی فی مكانه منفرداً يقدر علی الصلوة قائماً فانه يصلی وحده قائما عندنا لانه القيام فرض والجماعة سنة و به قال المالك والشافعی رحمهما الله خلافا لاحمد رحمه الله بناء علی ان الجماعة فرض عنده وقيل يصلی قاعدا مع الامام عندنا لانه عاجز اذذاك كذا ذكره فی المحيط وصححه الزاهدی قال:لان الفرض يقدر حاله عندالاقتداء ولا اعادة فی جميع ما تقدم بالاجماع (شرح الكبير ص ---) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۱ جمادی الثانية ۱۴۲۱ هجری

د مونځ د شروع کولو نه پس د امام سره په قيام باندې عاجزه شو

سوال يو سړی د امام سره په قيام کولو قدرت لرلو.د اوږد قيام نه ئې د عجز ويره نه وه. د دې وجې نه هغه ودريدلو او د امام اقتداء ئې وکړه.څه وخت پس د قيام نه عاجز شو او به ناسته نی. مونځ سره ورسولو نو د دې سړی څه حکم دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ده مونځ صحيح دی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولو عرض له مرض في صلوته يتم بما قدر على المعتمد

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: يتم بما قدر) اي ولو قاعدا مومئا او مستلقيا (قوله: على المعتمد) وعن الامام انه يستقبل لان تحريمته انعقدت موجبة للركوع والسجود فلا تجوز بالايماء، قال في النهر: والصحيح المشهور هو الاول لان بناء الضعيف على القوي اولى من الاتيان بالكل ضعيفا. (ردالمحتار ج،ص)

قال العلامة الحلبي رحمه الله: ولو قدر على بعض القيام لا كله لزمه ذلك القدر حتى لو كان لا يقدر الا على قدر التحريمة لزمه ان يتحرم قائما ثم يقعد. (شرح الكبير ص)

ذكر كړې شوې عبارتو په ظاهره دمنفرد سره متعلق دي. ليكن د ذكر كړى شوى علت له كبله د مقتدي هم دا حكم دي. والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲ جمادى الثانية ۱٤۲۱ هجرى

د اوږد قيام نه د عاجزه سړی بې د نيت نه په صف كښې ناسته جائزه نده

سوال يو سړي په اوږد قيام باندې قدرت نه لري. كه چيرې هغه د جمعې په صف كښې بې د مونځ د نيت نه كښيني. بيا ركوع ته نزدې ودريږي او نيت وتړي نو دا روا دى اوكه ناروا؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې نه په صف كښې ماتوالې (انقطاع) لازميږي. د دې وجې نه دا روا نه دی. د راجح قول مطابق داسې سړی لره خان له يو اخې په مختصر قيام سره مونځ كول پكار دی يا دې د كور خلقو سره د جمعې په كولو مونځ وكړی

قال رسول الله ﷺ: من وصل صفا وصله الله ومن قطع صفا قطعه الله. (ابوداود ج،ص)

قال الملا علي القاري رحمه الله: (ومن قطعه) اي بالغيبة او بعدم السد او بوضع شيء مانع. (المرقاة ج،ص)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله في مكروهات الصلوة: وتخصيص مكان لنفسه وليس له ازعاج غيره منه ولو مدرسا واذا ضاق فللمصلي ازعاج القاعد ولو مشتغلا بقراءة او درس. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: واذا ضاق الخ) اقول: وكذا اذا لم يضق لكن في قعوده قطع للصف. (ردالمحتار ج،ص)

د ... كه ... د جمعې د فضيلت تر لاسه كولو دپاره د صف نه يو خوا ته كښيني او ... د ... جمع ... سره ... نو دا روا دی والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۳ جمادى الثانية ۱٤۲۱ هجرى

باب سجود التلاوة

په روانه سورلئ باندې د سجدې آیت

سوال تاسو ته دا درخواست دې چې ما په روانه سورلئ باندې د سجدې د آیت په حقله یو سوال څلورو خایونو ته لیږلي وو.د یو ځائ نه راته جواب رانغلو او د نورو دریو ځایونو نه راته درې مختلف جوابونه راغلل. وروستو په خط او کتابت سره الحمد لله هغه اختلاف ختم شو. د ټولو اتفاق راغئ. اوس چې کوم متفق علیه جواب دې هغه ستاسو په خدمت کښې درلیږم.څکه چې د احسن الفتاوی اختلاف لا پاتې دې کیدې شي چې دا هم ختم شي نو دا مسئله به ډیره زیاته پخه شي، لهذا ستاسو په جناب کښې دا درخواست کوم چې د خپل وخت نه لږ شان وخت مونږ باندې پیرزو کړئ او په دې جوابونو کښې غور وکړئ او د نورو دلیلونو سره سره د شرح الوقایې د حاشیې دا عبارت هم په خیال کښې وساتئ او مونږ د خپل تحقیق نه خبر کړئ.

(ولى حكم الفلك المركب الدعائى الذى يسير بالمسافرين على الارض بقوة الدخان. ج،ص،)

أمید لرو چې تاسو به په مونږ باندې خپل شفقت او محبت قائم ساتئ او د دې جوابونو په حقله به مونږ د خپل تحقیق نه خبروئ چې په روانه سورلئ کښې د سجدې د آیت په تکرار باندې د وجوب څه حکم دې؟

په روان موټر کښې یو سړې د سجدې د آیت تکرار کوی نو د دۀ حکم د سجدې د آیت په واجبیدو کښې په شان د راکب علی الدابه دې او که په شان د راکب فی السفینه دې؟ او دا راته هم اوفرمایئ چې په دې کښې فرق څه دې چې په راکب علی الدابه باندې د آیت په تکرار سره تکرار د وجوب شته دې چې څو پورې د مونځ په حالت کښې نه وی او په راکب علی السفینه باندې د تکرار وجوب نشته دې؟

د خیر المدارس له اړخه جواب

الجواب حامداومصلیا

د دې نه وړاندې د دې مسئلې په حقله (چې په روان موټر کښې د سجدې د آیت په تکرار کولو سره څومره سجدې واجبیږی؟) په جواب کښې د سورلئ او د موټروان یو حکم لیکلې شوې وو. لیکن د فقهاء کرامو ﷭ د عبارتونو نه د موټروان او د سورلئ تر مینځه فرق معلومیږی. چې که کوم یو سړې د ګاډی ډاسې ډرائیور وی چې ټول اختیار ورسره وی یعنی ګاډی نیغ په نیغه د هغه په تصرف کښې وی نو د دۀ حکم د راکب علی الدابه دې.یعنی د مجلس په بدلولو باندې به په دۀ ډیرې سجدې واجبیږی،او چې کوم یو سړې عامه سورلئ وی یعنی ګاډی د دۀ په تصرف کښې نۀ،

وي نو د دهٔ حکم د راکب في السفينه په شان دې چې په دهٔ باندې به د مجلس د اتحاد له کبله سوره سجده واجبيږي

وفي البحر او كانت على دابة فوقفت بقي خيارها وان سارت لا واطلق المصنف في السير فشمل ما اذا كان الزوج معها على الدابة او المحمل ولم يكن معها قائدا ما اذا كانا في المحمل يقودهما الجمال لا يبطل لانه كالسفينة في هذه الحال.(ج،ص)

وفي عالمگيرية: وان كانت تسير على الدابة او في محمل فوقفت هي على خيارها.(ج،ص)

وفي المحمل يقودها الجمال وهما فيه لا يبطل.(ج)

وفي الدر المختار: والفلك لها كالبيت وسير دابتها كسيرها حتى لا يتبدل المجلس بجري الفلك ويتبدل بسير الدابة لاضافته اليه الا ان تجيب مع سكوته او يكون في محمل يقودهما الجمال فانه كالسفينة.(ج، مطلب تفويض الطلاق)

جواب له اړخه د دارالعلوم کراچۍ نه

الجواب ومنه الصدق والصواب

د فقهاء کرامو رحمهم الله د عبارتونو نه معلوميږي چې د مجلس بدليدل يا خو حقيقتاً د مکان د اختلاف له کبله وي يا د داسې کار په کولو د مجلس بدليدل وي چې هغه کار د رومبی کار د پاره قطع کوونکې وي. په دې دوو خبرو کښې که يوه خبره هم موندلې شي نو د اختلاف د مجلس او د تبدل د مجلس حکم به پرې تطبيق شي

په راکب على الدابه او په راکب على السفينه کښې فرق دا معلوميږي چې په دابه باندې په سوريدو کښې لکه څنګه چې معلومه ده چې د دې په ودريدلو او روانيدلو کښې د راکب د تصرف نفاذ وی د دې وجې نه د دې قوائم د راکب د پښو په شان وګڼلې شو او د مجلس د بدليدلو حکم پرې ولګولې شو لکه چې دې په خپله روان وی ګرځی.او بل خوا ته په رکوب على السفينه کښې د دې په ودريدلو او په روانيدلو باندې د راکب څه تصرف نشته. نو د دې تګ ته د راکب تلل نه شی ونيلې کيدې او د مجلس د بدليدلو حکم پرې هم نه لګولې کيږي

دا فرق که په ذهن کښې وساتلې شی نو چې کوم سړې په ګاډی کښې سفر کوی او دې ډرائيور نوی نو د دهٔ حکم د راکب في السفينه په شان معلوميږي.څکه چې د داسې سړی نه خو حقيقتاً اختلاف د مکان راځی.او نه د هغه نه داسې يو کار کيږي چې هغه د وړاندينی کار د پاره قاطع وګرځی او نه خو د ګاډی په ودريدو او روانيدو کښې د دهٔ څه تصرف شته.او د ګاډی د اختيارمند ډرائيور حکم د راکب على الدابه په شان معلوميږي څکه چې نه خو حقيقتاً د دهٔ اختلاف د مکان

راخي او نه د ده د لاسه داسې څه کار کيږي چې هغه د وړاندينې کار د پاره قاطع اوګرځي. ليکن د دې ګاډې په ودريدلو او په روانيدلو کښې د ده تصرف ته دخل شته. د دې وجې نه د راکب على الدابه په شان به په دۀ باندې هم د مجلس د بدلون حکم ولګيږي

في البحر: فالحاصل ان اختلاف المجلس حقيقي باختلاف المكان وحكمي باختلاف الفعل. (ج۲، ص۱۳۶)

في البدائع: والفرق ان قوائم الدابة جعلت كرجليه حكما لنفوذ تصرفه عليها في السير والوقوف فكان تبدل مكانها كتبدل مكانه كمصلي القراءة في مجالس مختلفة فتلزمه بكل تلاوة سجدة بخلاف السفينة فانها لم تجعل بمنزلة رجلي الراكب لخروجها عن قبول تصرفه في السير والوقوف ولهذا اضيف سيرها اليها دون راكبها الخ (ج۱، ص۱۸۱)

وفي المبسوط للسرخسي: فالسفينة في حقه كالبيت الا ترى انه لا يجريها بل هي تجري به قال الله تعالى (وهي تجري بهم في موج كالجبال) وراكب الدابة يجريها حتى يملك ايقافها متى شاء. (ج۲، ص۷)

الجواب باسم ملهم الصواب: د احسن الفتاوي د مسئلې د ليکلو په وخت کښې زمونږ توجه صرف د ډرائيور ارخ ته وه د دې وجې نه مو د دابې د راکب حکم وليکلو. د سورلۍ حکم هم هغه دې کوم چې په رااليږلې شوې فتوى کښې دې. جزاكم الله تعالى احسن الجزاء.

دارالافتاء والارشاد ناظم آباد ۲ صفر ۱۴۲۱ هـ

د سجدې د آيت د تکرار د مختلفو صورتونو حکم

سوال تاسو د احسن الفتاوى (اُردو) په ج ۴. ص ۲۷ کښې په سورلۍ باندې د سجدې د آيت د تکرار په مسئله کښې په جواب کښې ليکلى دى چې آس، اوښ، او په هرقسم ګاډې وغيره چې د خشکۍ (برى) سورلۍ دى که په دې باندې په مونځ کښې دننه دسجدې د آيت تکرار وکړې شو نو يوه سجده واجبيږي او بې د مونځ نه چې تکرار د سجدې د آيت وکړى نو تکرار د سجدو پرې هم واجبيږي. په کشتۍ کښې د سجدې د آيت په تکرار سره که دا تکرار په هر صورت کښې وى يعنى که مونځ کښې وى او که د مونځ نه بهر وى نو فقط يوه سجده واجبيږي په کشتۍ کښې د سجدې د تکرار د عدم چې کوم علت بيان کړې شوې دې د هغې نه دا څرګنديږي چې د اوبو د جهاز. او د الوتکې حکم هم د کشتۍ په شان دې. خو سره د دې په دې کښې سجده احوطه ده

تاسو په دې جواب کښې د ريل ګاډى او د موټر، بس وغيره حکم په مثل د دابې ليکلې دې او حال دا چې د کشتۍ سره د دې خيزونو قوى مشابهت دې د مشابهت وجوهات بې ډير دى

۱. په ريل ګاډى کښې يعنى په ډبه کښې د ناستې حالت هم هغــــې دې لکه څنګه چې په کشتۍ کښې د ناستې حالت وى

۲ - لکه څنګه چې د کشتئ مزل د کشتن ارخ ته مضاف کیږی دغه شانه د ریل ګاډی او د نورو ګاډو مزل د هغوی ارخ ته مضاف کیږی.لکه په ریل ګاډی کښې ناسته سورلئ داسې نه وائی چې زهٔ فلانئ ځائ ته ورسیدم بلکه داسې وائی چې ریل ګاډې فلانکی ځائ ته ورسیدلو

۳ - په کشتئ.ګاډی.الوتکه.او د اوبو په جاز کښې په ټولو کښې دا خبره ده چې په دې کښې کوم ځائ خلق کښینی نو په هغه مجلس کښې په مزل کولو یا په الوتلو څه تغیر(یعنی بدلون) نه راځی.بلکه په دې کښې د ماحول او د غارو په اعتبار سره تغیر راځی.

۴ - علامه شامی رحمه الله یوه قاعده لیکلې ده چې یو داسې ځائ کښې ودریږې چې د هغه ځائ نه د امام اقتداء صحیح کیږی نو دا دومره ځائ یو مجلس او مکان دې.لکه کشتئ او د ریل ګاډی ډبه دا دواړه د اقتداء په مسئله کښې یو برابر دی مطلب چې اقتداء په دواړو کښې صحیح کیږی،په خلاف د دابې چې د دې سره د ریل ګاډی یا د نورو لویو لویو ګاډو داسې څه قوی مشابهت نشته په فتاوی تتارخانیه کښې راغلی دی

واذا قرا ها فی السفینة - والسفینة تجری یکفیه سجدة واحدة اذ سیر السفینة مضاف الی السفینة لا الی راکبها شرعا و عرفا.قال تعالی (وهی تجری بهم)و یقال:سارت السفینة کذا و کذا مرحلة.واذا صار السیر مضافا الی السفینة فالمکان متحد فی حق الراکب وان اختلف فی حق السفینة و فی الدابة السیر مضاف الی الراکب عرفا.یقال:سرت کذا و کذا فرسخا الیوم و اذا صار السیر مضافا الی الراکب تبدل المکان حقیقة وحکما.(ج،ص۰۰۰)

وفی الشامیة:الخلاصة ان کل موضع یصح الاقتداء فیه عمن یصلی فی طرف منه یجعل کمکان واحد ولا یتکرر الوجوب فیه وما لا فلا. (ج،ص۰۰۰)

خو دا خبره ده چې د ریل ګاډی د مختلفو ډبو حکم د کشتئ په شان ندې پکار بلکه په مختلفو ډبو کښې د سجدې د آیت د تکرار نه د سجدې د وجوب تکرار پکار دې ځکه چې عرفا دا بیل بیل مجلسونه شمارلې شی.یعنې چې په یوه ډبه کښې یو آیت د سجدې ولولی نو یوه سجده لازمه شوه او چې همدغه آیت په بله ډبه کښې ولولی نو بله سجده به پرې لازمه شی.حاصل د خبرې دا چې ریل ګاډې او بس وغیره د کشتئ په حکم کښې کیدل پکار دی

دا زما یو طالب علمانه شبه وه ستاسو په خدمت کښې مې عرض کړه ستاسو نه دا طمع لرم چې تاسو به پرې غور کوئ.او که د دې عاجز غلطی وی نو ما به خبر کړئ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د سجدې د آیت په تکرار سره تکرار د سجدې په دوو صورتو کښې واجبیږی ۱ - د سجدې د آیت تکرار په مختلفو مکانونو کښې وی حقیقتا وی او که حکمه وی لکه پیاده تلونکې شو

۲ - د سجدې د آیت تکرار په مختلفو مکانونو کښې وی حکماً.لکه په وړه کمره کښې د ډیرو

مجلسونو په صورت کښې

د ریل گاډی دبې او الوتکه وغیره چې په روان حالت کښې وي نو که حقیقتا یو مکان ومنلې شی نو بیا هم حکما یو مکان ندې کوم چې د تکرار د وجوب د پاره شرط دې.خکه چې حکما د مکان د وحدت د پاره دا شرط دې چې د مزل اضافت دې د مرکوب اړخ ته وی لکه په سفینه کښې چې دی. کوم ځائ کښې چې شرعا او عرفا په دواړو اعتبارونو سره د مزل اضافت د مرکوب اړخ ته نه کیږی نو هلته به حکما د مکان وحدت نه وی ثابت.دې څیزونو «ریل گاډی وغیره» اړخ ته اګر چې عرفا د مزل اضافت موندلې شی لیکن شرعا دې ته د مزل اضافت نه شی موندلې لهذا د مکان وحدت به حکما نه وی.د دې وجې نه د احسن الفتاوی په ذکر شوی جواب باندې د یو ځلې بیا نظر اچولو نه پس د الوتکې او د اوبو د جهاز حکم هم په شان د دابې وګرځولې شو او د سجدې د تکرار د وجوب حکم په کښې ولیکلې شو .

شرعا دې څیزونو ته د مزل د اضافت نه کیدو وجه داده چې د دې تولو سورلو«بس،ریل گاډی وغیره» نه د قبضه کړې شوو څیزونو ضمان په راکب باندې واجبیږی،د کومې نه چې دا خبره په علم کښې راځی چې شرعا د دې اضافت د مرکوب اړخ ته نه کیږی اوکه نه نو د کشتئ په شان به دلته هم د قبضه کړې شوو څیزونو ضمان نه واجبیدلو .

خنګه چې معلومه ده چې حکما د مکان وحدت کیدلو مدار په دې باندې دې چې شرعا او عرفا د مزل اضافت مرکوب اړخ ته وشی.د دې وجې نه علامه ابن عابدین رحمه الله د اضافت او د عدم د اضافت فرق په وجوب د ضمان او په عدم د وجوب د ضمان سره بیان کړې دې.یعنی چې کوم ځائ کښې چې ضمان واجبیږی هلته په دواړو اعتبارونو سره اضافت موجود دې یعنی هم شرعا او هم عرفا، او چې کوم ځائ کښې ضمان نشته نو هلته شرعا او عرفا په دواړو اعتبارونو سره د مزل اضافت نشته .

قال ابن عابدین رحمه الله:لان سیرها مضاف الیه حتی یجب علیه ضمان ما اتلفته بخلاف سیر السفینة

(ردالمحتار: ج ص)

د تاتارخانیې د وړاندې کړې شوې عبارت په شروع کښې د سفینې په حقله د مزل د اضافت په بیان کښې د عرفا سره د شرعا تصریح هم موجوده ده .

د شامیې د نقل شوی عبارت تعلق د مکان د وحدت سره په حالت د مزل د نشت والی کښې خو کیدې شی، لیکن د حکمی وحدت سره بالکل د دې تعلق نشته.او نه د مزل په حالت کښې د حقیقی مکان سره د دې څه تعلق شته دې.والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۹ ربیع الثانی ۱۴۱۵ هجری

باب صلوة المسافر

د سفر په حد کښې د مزل تکرار لره اعتبار نشته

سوال د يوې پوښتنې دوه مختلف جوابونه ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم. د خپلې فيصلې نه مونږ خبر کړئ.

يو سړې په (قصور) نومې ښار کښې اوسيږي. دا سړې په دې ارادې سره د قصور نه اووتلو چې د (قادسيې) نومې علاقې نه به تير شي او په (خالق آباد) کښې به خپل کار په يوه ورځ کښې تر سره کړي. او بيا به په دغه لاره راواپس شي او قادسيې نه به توحيد آباد نومې ځائ ته لاړ شي. دا خبره د يادولو وړ ده چې قادسيه د قصور نه د درې ميله مزل په فاصله کښې پرته ده

اوس په دې کښې دوه صورتونه دي

يو دا چې د قصور نه خالق آباد او د قادسيې نه د توحيد آباده پورې چې څومره مجموعي مزل دې نو دا فاصله د سفر د حد نه کمه ده.خو که د خالق آباد نه د قادسيې پورې د واپس راګرځيدو چې کوم مزل دې دا ورسره حساب کړې شي نو دا به د سفر حد ته ورسيږي

دويم صورت دا دي چې د قصور نه تر خالق آباده پورې او د قادسيې نه تر توحيد آباده پورې چې څومره مجموعي مزل دې دا د سفر د مزل حد دې اګرکه د خالق آباد نه د قادسيې پورې د رواپس کيدو مزل په کښې شمار نه کړې شي ليکن د قصور نه د خالق آباده پورې چې څومره فاصله ده دا مزل د سفر د حد نه کم دې او دغه شان د قادسيې نه د توحيد آباده پورې هم چې کوم مزل دې دا هم د سفر دحد نه کم دې . په دې دواړو صورتو کښې د قصر حکم دې او که د اتمام (يعنې پوره مونځ کولو) يا په دواړو کښې کوم فرق شته

ړومبې جواب

واحلقه من قولهم رحمہ اللہ: ان يقصد مسيرة ثلاثة ايام ولياليها وقد يل كرون (مسافة ثلاثة الخ) فالظاهر ان مرادهم الطريق و موضع السير لا السير نفسه ويؤيده قول القائلين بالتقدير بالاميال والفراسخ حيث اعتبروا المسافة لا السير وكذا قوله ﷺ: لا تقصروا فى اقل من اربعة برد فاعتبر ﷺ المسافة لا السير والمسيرة فى الصورة الاولى تتم مسافة السفر باعتبار مجموع السيرين اعنى مسافة ما بين (القصور) الى (خالق آباد) ومسافة ما بين (القادسية) الى (توحيد آباد) وان وقع الفصل بين المسافتين بتكرار السير من (خالق آباد) الى (القادسية) ولم نعتبره

وفى الصورة الثانية مجموع المسافتين لا يتم مسافة سفر من غير اعتبار تكرار السير ولا يعتبر تكرار السير من (خالق آباد) الى (القادسية) لانه زيادة السير لا زيادة المسير فافترقت الصورتان فى الحكم والله اعلم

دویم جواب

الرجل اذا قصد بلدة والی مقصده طریقان احدهما مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها والاخر دونها فسلك الطریق الابعد کان مسافرا عندنا. (بحر ج۲ص۱۳۰ بحواله قاضیخان)

الجواب باسم ملهم الصواب څنګه چې د خالق آباد نه د قادسیې ارخ ته واپس راتلل د توحید آباد د لارې نه د خارجیدو له کبله معتبر نه دی. دغه شان قادسیې نه خالق آباد ته تلل هم د توحید آباد په لاره د نه واقع کیدو له کبله معتبر نه دی. لهذا په دواړو صورتونو کښې اتمام واجب دې

په دویم جواب کښې د ابعد الطریقین نه استدلال څکه صحیح نه دې چې د قادسیې نه خالق آباد ته تلل راتلل د توحید آباد د لارې په هیڅ قسم کښې بالکل داخل ندی. خو دا خبره ده چې که د خالق آباد نه د قادسیې ارخ ته د واپس راتلو په ځائ همد هغه ځائ نه چیرته په بله لاره توحید آباد ته تلې وې نو دا به لرې لاره (طریق بعید) شمارلې کیدله. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

یوم العاشوراء ۱۴۱۳ هجری

ښځه چې د خپل مور پلار کور ته لاړه شی نو قصر به کوی او که اتمام؟

سوال آیا د واده نه پس د ښځې د پلاره کور د هغې خپل کور وی. لهذا هغه به هلته اتمام کوی؟ او که هغه د خپل پلار په کور کښې میلمنه ده لهذا قصر به کوی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ښځه چې د واده نه پس د پلار کور ته راشی نه مسافره به وی. که د پنځلس ورځو نه د لږو ورځو پورې د حصاریدلو اراده لری نو قصر به کوی

قال العلامۃ الحصکفی رحمه الله: الوطن الاصلی هو موطن ولادته او تأهله او توطنه یبطل بمثله اذا لم یبق له بالاول اهل فلو بقی لم یبطل بل یتم فیهما لا غیر.

وقال ابن عابدین رحمه الله: قوله: او توطنه ای عزم علی القرار فیه وعدم الارتحال وان لم یتأهل فلو کان له ابوان ببلد غیر مولده وهو بالغ ولم یتأهل به فلیس ذلك وطنا له الا اذا عزم علی القرار فیه وترك الوطن الذی کان له قبله شرح المنیة. (ردالمحتار ج۱ص۷۳۱ وامداد الفتاوی ج۱ص۴۸۲) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۱ رجب ۱۴۱۵ هجری

د حائضې د اقامت نیت کول

سوال په جنتی کالی کښې داسې رغلی دی چې ایوه ښځه د سفر د حد په نیت سره روانه شوه چې خلور منزله شمارلې کیږی. رومبی دوه منزله د دې ښځې د حیض په حالت کښې تیر شو نو سا هم دا مسافره نه ده. او س دې ولامبی او پوره خلور رکعته مونځ دې وکړی. خو دا خبره ده که

چیرې د حیض نه د پاکیدو په وخت کښې اوس هم درې منزله مزل پاتې وی یا د روانیدو په وخت کښې دا ښځه پاکه وه خو په لاره کښې ورته حیض راغی نو په دې صورت کښې به بیا دا مسافره وی. مونځ به د مسافرو په شان کوی

په دې باندې په حاشیه کښې دا دلیل دې **طهرت الحائض وبقی لمقصدها یومان تتم فی الصحیح (شرح التنویر ج،ص)**

د دې نه دا خبره علم ته راغې چې د حائضې د سفر نیت کول معتبر نه دې. اوس سوال دا پیدا کیږی چې که حائضه د سفر په دوران کښې چیرته یو ځائ کښې د اقامت نیت وکړی نو دې لره به اعتبار وی او که نه؟ لکه یوې حائضې پنځلس ورځې په یو ځائ کښې د پاتې کیدو نیت وکړو. پنځه ورځې پس هغه پاکه شوه. اوس د هغې د اقامت لس ورځې پاتې شوې. که چیرې د حیض د ورځو په دوران کښې د هغې د اقامت نیت لره اعتبار وی نو دا به اتمام کوی او که اعتبار ورلره نه وی نو مسافرانه مونځ به کوی؟حکم په دې کښې څه دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د دوو وجوهو نه معلومیږی چې د حائضې د اقامت نیت لره اعتبار شته دې : ۱- فقهاء کرامو ﷺ چې د اقامت د نیت د معتبرولو د پاره کوم د شمیر شرطونه ښودلی دی په هغې کښې د طهارة من الحیض ذکر نشته او د فقهاؤ په کلام کښې د عدد مفهوم حجت او دلیل دې

۲ - د سفر د نیت د نه معتبریدو وجه دا ده چې په سفر کښې د فعل شروع کیدل (انشاء فعل) وی. لهذا د دې د پاره اهل کیدل ضروری دی په خلاف د اقامت چې په دې پریښودل د فعل وی. د دې وجې نه د دې د پاره اهل کیدل ضروری نه دی

په سفر او اقامت کښې د دې فرق مرسته د دې لاندینی عبارت نه هم کیږی

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وانما اکتفی بالنیة فی الاقامة واشترط العمل معها فی السفر لما ان فی السفر الحاجة الی الفعل وهو لا یکفیه مجرد النیة ما لم یقارنها عمل من رکوب او مشی کالصائم اذا نوی الافطار لا یکون مفطرا ما لم یفطر وفی الاقامة الحاجة الی ترک الفعل وفی الترک یکفی مجرد النیة کعبد التجارة اذا نواه للخدمة. (البحر الرائق ج،ص)ولحوه فی حاشیة الشلبی بهامش التبیین(ج،ص)والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۹ جمادی الثانیة ۱۴۲۱ هجری

باب الجمعة والعیدین

رائې وندړ ته نزدې په تبلیغی اجتماع کښې د جُمعې مونځ کول

سوال: تاسو ته دا درخواست دې چې په احسن الفتاوی (اُردو) ج ۴. ص ۱۵۴ کښې راغلی دی. چې د تبلیغی اجتماع د پاره داسې میدان د مصر په ضرورتونو کښې داخل دې. د دې وجې نه دا ځائ د مصر په آبادئ (فناء) کښې داخل دې۔ الخ او په صفحه ۱۲۳ کښې د مصر د آبادئ تعریف په دې الفاظو کښې شوې دې: فناء د مصر هغه مقام دې چې د ښار د ضرورتونو د پاره مقرر شوې وی. لکه د خزلو اونورې ګندګی د غورزولو د پاره یا د آسونو د زغلولو د پاره یا د جنګ د مشق یا د فوجې اجتماع د پاره چې کوم میدان وی ـ الخ

۱ ـ شبه دا ده چې هر کله فناء د مصر هغه مقام دې کوم چې د ښار د ضرورتونو د پاره مقرر کړې شوې وی نو بیا په هغه ځائې کښې د نورو اجتماعاتو نه منع نه ده پکار، حال دا دې چې د تبلیغی جماعت د اجتماعاتو نه علاوه د نورو اجتماعاتو د پاره د دغه ځائ د استعمالو بالکل اجازت نشته او دا ځائ د تبلیغی جماعت خپل ملکیت دې د دې وجې نه هغوی ته دا حق حاصل دې چې په دې ځائ کښې بله څه اجتماع منع کړی، په دې صورت کښې دا ځائ خو د ښار د ضرورتونو د پاره نهٔ شو. صرف د تبلیغی جماعت د ضرورتونو دپاره شو نو دې ته فناء د مصر وئیل صحیح نهٔ معلومیږی. فناء د ښار خو هغې ته وائی چې د ښار د ټولو ضرورتونو دپاره مقررکړې شوې وی او ټولو ته د دې د استعمالولو حق وی، تبلیغی اجتماع به وراندې په جمات کښې کیدله او د اجتماع د کثرت له کبله به اجتماع ته حاضریدونکی خلق دجمات نه بهر هم وو، په دې کښې څه قباحت نه وو دجُمعې مونځ به دغې کښې صحیح کیدلو. لیکن اوس څو کاله وشو چې د دغه ځائ نه اجتماع اخوا کړې شوه او تقریبا دوه میله لرې هغه د کرکروندې زمکه کښې دا اجتماع کولې شی کومه چې د تبلیغی جماعت ملکیت دې. دا مملوکه زمکه د ښار د ضرورتونو د پاره مقرره کړې شوې نه ده. بلکه د تبلیغی جمات مملوکه زمکه دد

۲ ـ د حج اجتماع د مکې معظمې د ضرورتونو نه ده او د عرفات میدان هم د دې اجتماع د پاره ښودلې شوې دې. لیکن هلته د جمعې مونځ کول صحیح نه دی

۳ ـ درسمه خبره داده چې ـه داسې حلاتو کښې چې د جمعې د مونځ د پاره د مصر د فناءچې کوم شرط دې هغه مشتبه کړی. آیاد تقوی خبره دا نده چې د ماپښین مونځ دې وکړې شی او که ـه دې ـندې عمل نه شی کیدی نو بـ کم ـه کم دا خبره خو ګرانه نده چې د جمعې د ورځې اجتماع دې ونه کړې شی ـ دې خبرې ـه دې ونه کتلې شی، چې په دې مسئله باندې عمل کیږی او که ـه

زمونږ صرف د مسئلې تحقیق مفصلا دې فقط

الجواب باسم ملهم الصواب (۱) د دې میدان د کومې نوعې دې نو د دې درې صورته دی

۱ - چې دا د هر قسم د تبلیغ د پاره وقف وی.یعنی د اهل حق نه هر سړی یا هرې ډلې ته هر وخت په دې کښې د سنتو مطابق د جمعې کولو اجازت وی. اگر که د دې ذمه دارکوم سړې چې وی هغه د تبلیغی جمات یو فرد یا ډیر افراد وی. یا عملی ذمه داری ورته ورکړې شوې وی یا دا ذمه داری ئې په وقف کښې شرط کړې وی

په دې صورت کښې دا میدان بې د څه شک او شبهې نه د مصر په فناء کښې داخل دې. زما په خیال کښې دا هم د دې نوعې میدان وو. په دې بنا باندې ما په دې کښې د جُمعې د صحیح کیدو فتوی لیکلې وه

۲ - دا د یو سړی یا د څو سړیو ملکیت وی او وقف نه وی.

په دې صورت کښې به دا بې د څه شک او شبهې نه د مصر په فناء کښې نوی داخل.لهذا په دې کښې د جُمعې مونځ نه دې جائز.

۳ - داوقف وی خو د تبلیغی جمات د پاره په کښې تخصیص شرط کړې شوې وی. یعنی د تبلیغی جمات نه بغیر بل چا سړی یا ډلې ته په دې کښې د تبلیغ کولو اجازت نه وی. اگر که دغه سړي یا ډله د اهل حق د ډلې نه وی او تبلیغ هم د سنت مطابق کول غواړي.او دا تخصیص د تبلیغ والا د پاره د واقف له اړخه ښکلې شوې وی

د دې په حکم کښې لا تر اوسه پورې ماته شرح صدر نه دې شوې.خو دې اړخ ته مې میلان دې چې پدې صورت کښې دا د مصر فناء نده. **وهوالاحوط**

(۲) په عرفات کښې د حاجیانو اجتماع د مکې مکرمې د ضرورتونو نه نده.بلکه وقوف په عرفات په خپله مقصود دې. د دې وجې نه هغې ته فناء د مصر نه شی وئیلې کیدې

(۳) د رومبی سوال په جواب کښې چې کوم درې اقسام ذکر کړې شوې دی نو که دا په کښې د دریمې نوعې دصورت مطابق صورت وی نو په دې کښې دې د جُمعې د مونځ کولو نه باید ځان وساتلې شی. **لان الاحتیاط فی باب العبادات واجب والله سبحانه وتعالیٰ اعلم** ۱۹ صفر ۱۴۰۵ هجری

تکبیرات د تشریق کله،کوم ځای او په چا باندې واجب دی؟

سوال ۱ - د تکبیراتو د تشریق شرعی حکم څه دې او په کلو کښې چې د دې د وجوب په حقله د امام ابو حنیفه او د حضراتو صاحبینو ﷭ کوم اختلاف دې.په دې مسئله کښې راجح او مفتی به قول د چا دې؟

۲ - زمونږ د علاقې په حقله د مقامي علماؤ کرام خیال دی، ځینې وایي چې د مصر حکم ورکوي، او ځینې ورته د کلي حکم ورکوي او دغه خلک ویلي چې دا دې د مصر کمو په حقله د کراچۍ د مصرونو نه زیات دی. په داسي علاقه کښې د تکبیراتو د تشریق څه حکم دی؟

په مداد لاحکم کښي دی چي د صاحبینو د قول مفتی به کیدل د اختلاف في الوقت په باب دی. په دې حقله اختلاف نشي چي دا به په چا واجبیږي او په چا به نه واجبیږي

مهرباني وکړئ تر په تفصیل سره په شرعي دلیلونو ثابته کړي ستوي جواب رته راکړئ

بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ۱ – ۲ تکبیرات د تشریق د هر فرض مونځ نه پس په هرچا سړي، ښځې، مسافر، مقیم، د ښار په اوسیدونکي او د کلي په اوسیدونکي باندې یو شان فرض دی. که دا فرض مونځ د جمعې سره وکړي او که خپل له ئي وکړي. او دا چي د امام صاحب او د صاحبینو اختلاف په وقت او من یجب علیهم، دواړو کښې دی. او په دواړو کښې د صاحبینو قول مفتی به دی. لکه چي لاندیني عبارتونه صراحتاً په دې دلالت کوي

قال الحصکفي رحمه الله: وقالا بوجوبه کل فرض مطلقا ولو منفردا او مسافرا او امرأة لانه تبع للمکتوبة الی عصر الیوم الخامس اخر ایام التشریق وعلیه الاعتماد والعمل والفتوی في عامة الامصار وکافة الاعصار.

وقال ابن عابدین رحمه الله: (قوله: لانه تبع للمکتوبة) فیجب علی کل من تجب علیه الصلوة المکتوبة بحر.

(قوله: وعلیه الاعتماد) هذا بناء علی انه اذا اختلف الامام وصاحباه فالعبرة لقوة الدلیل وهو الاصح کما فی آخر الحاوي القدسي وعلی ان قولهما في کل مسألة مروي عنه ایضا والا فکیف یفتی بقول غیر صاحب المذهب وبه اندفع ما في الفتح من ترجیح قوله هنا ورد فتوی المشائخ بقولهما بحر. (شامیة ج۱ ص۸۰)

قال العلامة الملا مسکین رحمه الله: (اختلفوا في مختتمه فقال ابن مسعود رضي الله عنه یقطع بعد صلوة العصر من یوم النحر وهي ثمان صلوات وبه اخذ الامام ابو حنیفة ابتداء وانتهاء وقال علي رضي الله عنه: یقطع بعد صلوة العصر من آخر ایام التشریق وهي ثلاثة وعشرون صلوة وبه اخذ الامامان ابتداء وانتهاء) لانه الاکثر والاحوط في العبادات وعنه رجع الامام قول ابن مسعود رضي الله عنه ولقد ذکروا ان ما تردد بین بدعة وواجب یؤتی به احتیاطا وما تردد بین بدعة وسنة یترك احتیاطا. محیط وغیره فهو یقتضي ترجیح قولهما ولهذا ذکر الاسبیجابي وغیره ان الفتوی علی قولهما وفي الخلاصة: وعلیه عمل الناس الیوم وفي المجتبی: والعمل والفتوی في عامة الامصار وکافة الاعصار علی قولهما. وقال بعد اسطر: (وقالا: هو علی کل من صلی المکتوبة) والفتوی علی قولهما في هذا ایضا بحر عن السراج لانه شرع تبعا للمکتوبة فیؤدیه کل من یؤدیها. (فتح المعین ج۱ ص۳۰)

وقال العلامة ابن نجيم: واما عندهما فهو واجب على كل من يصلي المكتوبة. لانه تبع لها فيجب على المسافر والمرأة والقروي. قال في السراج الوهاج والجوهرة: والفتوى على قولهما في هذا ايضاً. فالحاصل ان الفتوى على قولهما في اخره وقته وفي من يجب عليه. (البحر الرائق ج۲ص۱۶۳)

وفي الجوهرة: (قوله: وآخره عقيب صلوة العصر من يوم النحر عند ابي حنيفة. وقال ابو يوسف ومحمد: عقيب صلوة العصر من آخر ايام التشريق)

(والفتوى على قولهما. كذا في المصفى. وقال بعد اسطر: (قوله والتكبير عقيب الصلوات المفروضات) هذا على الاطلاق انما هو قولهما. لان عندهما التكبير تبع للمكتوبة فيأتي به كل من يصلي المكتوبة. واما عند ابي حنيفة لا تكبير الا على الرجال الاحرار المكلفين المقيمين في الامصار اذا صلوا مكتوبة بجماعة من صلوة هذا الايام وعلى من يصلي معهم بطريق التبعية (الى ان قال) وقال ابو يوسف ومحمد: التكبير يتبع الفريضة فكل من ادى فريضة فعليه التكبير والفتوى على قولهما. حتى يكبر المسافر واهل القرية ومن صلى وحده. (الجوهرة النيرة ج۱ص۱۱۳) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۱ ربيع الثاني ۱٤۲۱ هجرى

د عربۍ نه بغير په بله ژبه کښې د جُمعې د خطبې او د مونځ د اذکارو تحقيق

سوال په احسن الفتاوى (اُردو) کښې په ج ۴. کښې له ص ۱۲۰. نه تر ۱۲۴ پورې يوه مفصله فتوى ليکلې شوې ده چې په کښې ثابت کړې شوې ده. چې د جُمعې او د اخترونو خطبه د عربۍ نه علاوه په بله ژبه کښې لوستل روا نه دى. د امام صاحب رحمه الله طرف ته منسوب قول چې غيرقادر على العربية د پاره د عربۍ ژبې نه علاوه په بله ژبه کښې خطبه لوستل روا دى. قول مرجوع عنه دې. ورسره په امدادالفتاوى ج ۱.ص ۴۴۹. امدادالاحکام ج ۱.ص ۸۰۴. او په جواهر الفقه ج ۱.ص ۳۵۲ کښې هم داسې ليکلې شوې دى

د دې په عکس مولانا تقى عثمانى صاحب زيد مجدهم په خپله رساله (په غير عربۍ کښې د جُمعې خطبه کښې د تاتارخانية. درمختار. ردالمحتار. منحة الخالق. فتح المعين. السعاية او د تکملة النفس وغيره کتابونو تفصيلي حوالې ورکړې دى او دا ئې ثابت کړى دى چې د امام صاحب رحمه الله دا رجوع صرف د قراءة بالفارسية د قول نه ده. باقى پاتې نور ذکرونه لکه تکبير د ذبحې. تکبير تحريمه. د رکوع او سجدې تسبيحات. قنوت. تشهد او د جمعې خطبه وغيره مسئلو نو په دې کښې د امام صاحب رحمه الله رجوع ثابته نه ده. د فتوى په نيزد قادر على العربية د پاره هم دا ټول ذکرونه په غير د عربۍ کښې ادا کول سره د کراهت روا دى او د احنافو د فقهاؤ ښوى هم په دې ده

د احسن الفتاوې وغيره تحقيق د علامه بدر الدين عينى رحمه الله په قول ولاړ دى مسى دې. تسکر د

علامه رحمه الله نه په دې مسئله کښې تسامح شوې ده.صحيح مسئله هم هغه ده کومه چې نورو فقهاء کرامو رحمهم الله ليکلې ده

ستاسو په خدمت کښې دا درخواست دې چې په دې مسئله باندې يو وارې بيا نظر وکړئ او د خپلې فيصلې نه مونږ خبر کړئ.ځکه چې په امريکا وغيره کښې په بعضو ځايونو کښې په عربئ کښې د خطبې ويونکې څوک نوی د هغه ځائ مسلمانان د جُمعې د مونځ په حقله فريشانه دی چې آيا کيږی او که نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : دا خبره خو صحيح ده چې د اذکارو په حقله د امام صاحب رحمه الله رجوع ثابته نه ده، ليکن د هغوی د قول خو دا مطلب نه دې چې دا ذکرونه بغير د عربې نه په بله ژبه کښې سره د کراهيته روا دی،بلکه دهغې مطلب دا دې چې بغير د عربئ نه اگر چه ناروا او مکروه تحريمی دی ليکن د جُمعې او دمونځ د صحيح کيدو د پاره کافی کيږی، د مولانا تقی صاحب زيدمجده د تحقيق حاصل همدادې .

(د کراهت سره روا والې د دې عنوان نه د کراهيت تنزيهی د اخستو شبهه کيږی.او د امام اعظم صاحب رحمه الله په نيزد دا مکروه تحريمی دی او دمکروه تحريمی کول ناروا دی،که چيرته د کراهيت مطلق ذکر شوې وی نو هلته د دې نه مراد مکروه تحريمی مراد کيدل .

دويمه خبره دا ده چې د علامه عينی رحمه الله په عبارت کښې په اذکارو باندې د امام اعظم رحمه الله په رجوع باندې تصريح نشته.بلکه په دې کښې دا احتمال شته چې د رجوع تعلق دې صرف د قراءة د مسئلې سره وی او دا احتمال هم په کښې شته چې د رجوع تعلق دې د اذکارو او د قراءة دواړو سره وی. وهذا نصه: اما الشروع بالفارسية والقراءة بها فهو جائز عند ابی حنيفة رحمه الله مطلقا وقالا: لا يجوز الا عند العجز وبه قالت الثلاثة وعليه الفتوی وصح رجوع ابی حنيفة رحمه الله الی قولهما.

که چيرې د علامه عينی رحمه الله مقصد په دواړو مسئلو کښې د امام اعظم رحمه الله رجوع بيانول وی. لکه چې هم دا د هغوی د عبارت نه ذهن ته راځی نو دا د هغوی تسامح ده.د هغوی په تابعدارئ کښې ځينی فقهاؤ او اکابرو علماؤ رحمهم الله همدا قول اختيار کړو، چې د قراءة بالفارسية په شان د اذکار بالفارسية قول هم د امام صاحب رحمه الله مرجوع عنه قول دې. صحيح خبره دا ده چې د قراءة بالفارسية په عدم جواز او غيرمعتبر کيدو باندې د امام صاحب او د صاحبينو رحمهم الله اجماع وشوه. ليکن په قراءة بالفارسية کښې اختلاف تر اوسه پورې باقی دې، دا د صاحبينو رحمهم الله په نيز د قادر د پاره بالکل ناروا او غير معتبر دی.او د امام صاحب رحمه الله په نيزد ناجائز او مکروه تحريمی خو دی ليکن د جمعې د مونځ او د عام مونځ د صحيح کيدو د پاره کافی او معتبر دی

لهذا په امريکا وغيره کښې په عربئ باندې د قادر د پاره د عربئ ژبې نه علاوه په بله ژبه کښې

خطبه ونيل ناروا دي. همدغه رنګې په عربۍ کښې د خطبې ويونکي امام ښې د جمعې مونځ کولې شي نو د هغوي د تاره نه داسې امام او خطيب ښې د جمعې مونځ کول ناروا دي چې د عربۍ نه علاوه په بله ژبه کښې خطبه وائي

په دې مسئله باندې د ټولو نه واضحه او تفصيلي بحث حضرت مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله کړی دی چې هغه جامع دی د علامه عيني او د نورو فقهاء. کرامو رحمهم الله عبارت لره. د دې وجې نه مونږ د هغې ضروری حصه دلته رانقل کوو

و خلاصة المرام في المقام انه لم يقم دليل قاطع على اشتراط اللغة العربية في التكبير ليصح به التكبير بل ظاهر الآية والاحاديث مطلق لا يفيد الاشتراط الذكر المطلق والاحاديث الواردة في هذا الباب القولية والفعلية لا تدل على اختصاص التكبير بالعربي بحيث لا يجوز غير العربي بل غاية ما تثبت منه ان النبي ﷺ اكتفى عليه ورغب غيره اليه وهو انما يثبت الوجوب او السنية لا انه لا يجوز التكبير بالفارسية وان كانت الاحاديث دالة على اختصاص بالعربي اختصاصا بالغا الى حد الاشتراط فالآية معراة عن هذا الاشتراط ولا تصح اخبار الآحاد ناسخة لحكم الكتاب ولا مقيدة لاطلاق ما في الباب.

وليعلم ان بعض الفقهاء ذكروا رجوع ابي حنيفة رحمه الله الى قولهما في هذه المسالة ايضا. كمسالة القراءة وهو اولهم في ما نعلم العيني حيث قال في (رمز الحقائق شرح كنز الدقائق) اما الشروع بالفارسية والقراءة بها فهو جائز عند ابي حنيفة رحمه الله مطلقا وقالا: لا يجوز الا عند العجز وبه قالت الثلاثة وعليه الفتوى وصح رجوع ابي حنيفة رحمه الله الى قولهما. انتهى. لكنه ليس صريحا في اثبات الرجوع فيما نحن فيه بل يحتمل تعلق الرجوع بالقراءة فقط دون ما نحن فيه.

ومنهم الطرابلسي حيث قال في (البرهان شرح مواهب الرحمن): الاصح رجوعه اى الامام اليهما في عدم جواز الشروع في الصلوة بالفارسية لغير العاجز عن العربية وعدم جواز القراءة فيها بالفارسية وغيرها لغير العاجز عن العربية. انتهى.

وظاهر كلامه في الشرح يؤذن بانه لم يجد رجوعه الى قولهما في مسالة الشروع نصا صريحا وانما استنبطه من ثبوت الرجوع في القراءة استنباطا خفيا حيث قال بعد ما ذكر روايات الرجوع في القراءة: ويلزم من عدم جواز التلاوة بالفارسية عدم جواز الشروع بها انتهى.

وفيه نظر ظاهر فان عدم جواز التلاوة بالفارسية لكون المامور تلاوته هو القرآن الموصوف بكونه عربيا فليس القرآن الا عربيا لا فارسيا ولا تركيا ولا هنديا وليس المامور به فيما نحن فيه الذكر العربي بل الامر مطلق عن تقييد العربي فلا يلزم

من عدم جواز التلاوة بالفارسية عدم جواز الشروع بها ولا من اثبات الرجوع فی تلک المسالة اثبات الرجوع فیها.

ومنهم شیخ زاده حیث قال فی (مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر): ولو قال بدل التکبیر الله اجل او کبر بالفارسیة صح مطلقا سواء کان یحسن العربیة او لا عند الامام وعندهما لا. الا ان لا یحسن العربیة والاصح رجوع الامام الی قولهما. انتهی.

و منهم حسن الشرنبلالی حیث قال فی (مراقی الفلاح) شرح متنه (نور الایضاح) و یصح الشروع ایضا بالفارسیة وغیرها من الالسن ان عجز عن العربیة وان قدر لا یصح شروعه بالفارسیة و نحوها ولا قراءة بها فی الاصح من قولی الامام موافقة لهما. انتهی.

وقال فی موضع اخر: الثامن من شروط صحة التحریمة کونها بلفظ العربیة للقادر علیها فی الصحیح انتهی وقال فی موضع اخر: لا یصح الاقتصار علی الانف فی السجدة فی الاصح لامن علر بالجبهة لان الاصح ان الامام رجع الی موافقة صاحبیه فی عدم جواز الشروع فی الصلوة بالفارسیة وغیرها لغیر العاجز عن العربیة وعدم جواز القراءة فیها بالفارسیة وغیرها من ای لسان کان لغیر العاجز وعن جواز الاقتصار فی السجود علی الانف. انتهی. وقال فی شرح رسالته (در الکنوز) لا یصح شروعه بالفارسیة ولا قراءته بها فی الاصح من قولی الامام ان قدر علی العربیة انتهی.

والحق انه لم یرو رجوعه فی مسالة الشروع بل هی علی الخلاف فان اجلة الفقهاء منهم صاحب (الهدایة) وشراحها العینی والسغناقی والبابرتی والمحبوبی وغیرهم وصاحب (المجمع) وشراحه وصاحب (البزازیة) و(المحیط) و(الذخیرة) وغیرهم ذکروا الرجوع فی مسالة القراءة فقط واکتفوا فی مسالة الشروع بحکایة الخلاف وقد تنبه لذلک الحصکفی بعد ما تبع العینی فی (خزائن الاسرار شرح تنویر الابصار) حیث قال فی (الدر المختار شرح تنویر الابصار) قلت: وجعل العینی الشروع کالقراءة لا سلف له فیه ولا سند له یقویه بل جعله فی (التاتارخانیة) کالتلبیة یجوز اتفاقا فظاهره کالمتن رجوعهما الیه لا رجوعه الیهما فاحفظه فقد اشتبه علی کثیر من القاصرین حتی الشرنبلالی فی کل کتبه انتهی.

و کتب علی هوامش نسخة العینی علی ما نقله بعضهم: اعلم ایها الواقف علی هذا الکلام ان رجوع الامام انما ثبت فی القراءة بالفارسیة فقط ولم یثبت رجوعه فی تکبیرة الافتتاح بل هو کغیرها من الاذکار علی الخلاف کما حرره شراح (المجمع) و کتب الاصول وعامة الکتب المعتبرة وصرح هذا المتن یعنی الکنز یشهد کقامة المتون فلا علیک من العینی وان تبعه الشرنبلالی فی ! ـ کتبه. انتهی.

وقال ابن عابدين فی (رد المحتار علی الدر المختار) قوله: ولا سند له يقويه ای ليس له اصل يقوی مدعاه لان الامام انما رجع الی قولهما فی مسالة القراءة لان المامور به قراءة القرآن وهو اسم للنظم العربی المنظوم بهذا النظم الخاص المكتوب فی المصاحف المنقول الينا نقلا متواترا والاعجمی انما يسمی قرآنا مجازا ولذا يصح نفی اسم القرآن عنه فلقوة دليل قولهما رجع اليهما اما الشروع بالفارسية فالدليل فيه للامام قوی وهو كون المطلوب فی الشروع الذكر والتعظيم وذلك حاصل بای لسان كان نعم لفظ الله اكبر واجب للمواظبة عليه لا فرض.

قوله: ظاهر كلام المتن رجوعهما اليه كونهما رجعا الی قوله فی الشروع لم ينقله احد وانما المنقول حكاية الخلاف اما ما فی (التاتارخانية) غير صريح فی تكبير الشروع بل هو يحتمل تكبير الشروع والذبح بل الثانی اولی لانه قرنه مع الاذكار الخارجة عن الصلوة حيث قال: وفی (شرح الطحاوی) ولو كبر بالفارسية او سمی بالفارسية عند الذبح او لبی عند الاحرام بالفارسية او بای لسان كان سواء كان يحسن العربية او لا جاز بالاتفاق انتهی كلامه (آكام النفائس فی الاذكار بلسان الفارس: ص ۳ مندرجه مجموعه رسائل اللكنوی: ج ۲ ص ۳)

وقال فی موضع آخر: تنبيه: قد صرحوا فی بحث التكبير بان يكره الشروع بغير لفظ التكبير لثبوت مواظبة النبی ﷺ عليه بلفظ العربی وكذا صرحوا فی بحث القراءة انه يجوز ويكره بغير العربی وكذلك يقال فی سائر اذكار الصلوة انها وان جازت بغير العربية لكن لا تخلو عن الكراهية لان النبی ﷺ قد داوم علی العربية فی سائر الاذكار وكذا اصحابه الاخيار ومن المعلوم ان منهم من كان فارسيا و عجميا ومنهم من تعلم لسانا سريانيا ومع ذلك فلم ينقل عن احد منهم انه بدل ذكرا من اذكار الصلوة بالفارسية او بغيرها من اللغات الغير العربية فيكون المداومة عليها سنة مؤكدة فما يخالف السنة المؤكدة يكون مكروها اشد كراهة فاحفظ هذا فان اكثر الناس عنه غافلون ويقول الفقهاء (يجوز ويصح ويجزی واماثال ذلك) مغترون ولا يدرون ان نفس الاجزاء والصحة امر اخر والخلو عن الكراهة شیء اخر. (ايضا: ص ۳) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۱ ربيع الاول ۱۴۲۲ ہجری

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نُوۡدِىَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ﴾

ضميمة

النخبة فی مسئلة الخطبة والجمعة

حضرت مفتی عبدالرحیم صاحب

- د جمعې د پاره د مصر د شرط تحقیق او د مصر حد
- د مصر په تعریف کښې د فقهاؤ د مختلفو اقوالو وضاحت او تطبیق
- د افتاء د اصولو او د مذهب د قواعدو په رنړا کښې د مفتی به قول وضاحت
- د مختلفو فتاوو اصلاح او تنقید

****
****

ضمیمه

النخبة فی مسئلة الجمعة و الخطبة

سوال: د دین عالمان په دې مسئله کښې څه فرمائی چې د یو کلی آبادی تقریبا دوه زره ده او په همدغه کلی کښې اته جماتونه دی. چې په کښې درې لوئ جماتونه دی او په درې وارو جماتونو کښې خان له خانه له د جُمعې مونځ کیږی، د مذهبی اختلاف له کبله په یو ځائ په اتفاق سره د جُمعې مونځ نه ادا کوی. او د دې دریو نه په دوو جماتونو کښې د جُمعې مونځ کوونکی څه نا څه علمی قابلیت لری او په بل دریم جمات کښې چې کوم خلق د جمعې مونځ ادا کوی هغه بې علمه دی. اوصرف حافظان دی

ذکر کړې شوې کلې د پوخ سړک په غاړه دې چې د بسونو اوګاډو چلیدل پرې شپه او ورځ جاری وی. اته دکانونه پکښې د پرچون دی. دوه په کښې د جامو دی او یو په کښې د طبیب دې او په هفته کښې یوه ورځ حلاله پکښې کیږی. ډاکخانه په کښې هم شته

ناسو بنه د دليلونو سره د شريعت محمدي مطابق جواب وليکئ چې په ذکر شوي آبادئ کلي او جماتونو کښې د جُمعې مونځ ادا کيدي شي او که نه؟

خيني عالمان اختلاف کوي چې په دې کلي کښې جُمعه نه شي ادا کيدې. د ښار يا د لوئ کلي کيدل په کښې شرط دي. د دې وجې نه د دې کلي اوسيدونکي فريشانه دي. دلته چرته څه ښار هم نزدې نشته چې دوی هلته لاړ شي او د جُمعې مونځ ادا کړي. بينوا توجروا

رومبې جواب په کوم کلي کښې چې درې جماتونه آباد وي په هغه ښار کښې جُمعه صحيح ده او چې په کوم ښار کښې اته جماتونه وي نو په هغې کښې د جُمعې په جواز کښې به څه اختلاف وي؟ بالکل په کښې جُمعه صحيح ده. والله اعلم

دويم جواب د جُمعې د صحيح کيدو د پاره زمونږ احنافو علماؤ د مصر کيدل شرط کړي دي. په دې بناپه وړوکلو کښې به د جمعې جمع نه ادا کيږي، صرف په ښار کښې به جُمعه صحيح کيږي. د مصر په تعريف کښې چې د هغې نه د ښار او د کلو په مينځ کښې فرق راشي د احنافو په مينځ کښې ډير لوئې اختلاف موندلې شوې دې متاخرينو چې دمصر کوم تعريف کړې دې هغه دا دې

(درمختار ج۲ص۱۳۷ المصر وهو مالا يسع اکبر مساجده اهله المکلفين بها.)

يعنی مصر هغه ښار ته وائی چې د هغې په لوئې جمات کښې د هغې ښار بالغ خلق نه ځائيږي دا تعريف صاحب د تنوير الابصار کړې دې چې متن د درمختار دې.او همدغسې تعريف صاحب د وقايې کړې دې او په همدې د اکثرو فقهاء کرامو فتوی ده.

لکه چې په درمختار ج ۲.ص ۱۳۲ او په شرح وقايه کښې دی (وعليه فتوی اکثر الفقهاء)

او د دې علت هغوی دا بيان کړې دې چې (لظهور التوانی فی الاحکام)

يعنی په احکامو د شرع کښې د سستئ او ناراستئ د ظاهريدو له کبله

او علامه شامی د دې په مرسته کښې د علامه ابو شجاع ښائسته قول نقل کړې دې

(ردالمحتار ج۲ص۱۳۷ قال ابو شجاع: هذا احسن ما قيل فيه)

يعنی د مصر په تعريف کښې چې کوم څه ونيلې شوی دی دا په هغې کښې ډير ښه تعريف دې.

د دې د پاسه دا چې صاحب د ولوالجيې د دې تعريف صحت هم بيان کړې دې.او علامه شامی دا صحت هم نقل کړې دې (وفی الولوالجية وهو الصحيح)

ورسره دا چې علامه شامی د دې په مرسته کښې دا هم ونيلې دی (هذا صدق علی کثير من القری)

يعنی دا تعريف په ډيرو ښارونو باندې صادقيږي

په فتاوی دارالعلوم ج ۵ کښې هم د دې مرسته موجوده ده.د هغې عبارت دا دی خو چې

دې کښې کوم ځای یا کلي داسې وی چې په هغې کښې کم نه کم دوه زره انسانان اباد وی او په دې کښې بازار او دکانونه وی او عرفاً هغه ښار یا قصبه یا لوئی کلي ګڼلې کېږی نو په هغې کښې د جُمعې مونځ صحیح دي

دصاحب د درمختار تعریف **(مالایسع اکبرمساجده اهله المکلفین بها)** چې څنګه ډیر وسیع تعریف دي وړاندې په همدې پاڼه کښې فرمائی بهر حال هر څنګه چې وی چې کوم ځائ کښې هم د درمختار دا تعریف صادق شي او د ډیرو فقهاؤ د فتوې په بنا دغلته د جُمعې جمعه وکړې شي نو اجازت شته. **کمافی الدرالمختار وعلیه فتوی اکثر الفقهاء فقط.**

او د دې په مرسته کښې د مفتی اعظم مفتی کفایت الله صاحب فتوی هم موجوده ده.د هغوی نه د سوال او د هغوی جواب ورکول لاندې رانقل کولې شي

سوال آیا په کلی کښې د جُمعې د مونځ په کولو کښې ګناه نشته دې؟ او آیا د دې په کولو سره د ذمې نه د ماسپخین مونځ ساقط کېږی او که نه؟ او په شرح الوقایه کښې چې د مصر کوم تعریف لیکلې شوې دې هغه معتبر دې او که نه ؟

جواب که چیرې ستاسو په ځائ کښې د ډیر وخت نه د جُمعې مونځ کېږی او په ډیرو جماتونو یا د دوو نه په زیاتو جماتونو کښې کېږی او په دې کښې په لوئې جمات کښې د دغه ځائ په جُمعه باندې مکلف سړی نه ځائیږی نو دغلته د جُمعې د مونځ په کولو کښې څه خبره نشته.او فرض مونځ به د دوی د ذمې نه ساقط شي.د شرح الوقایې دا تعریف قابل د عمل دې. (کفایة المفتی ج ۳.ص ۱۸۲)

دمفتی کفایت الله صاحب نائب مفتی هم ددې مرسته کړې ده دیو سوال په جواب کښې فرمائی

جواب په پهلت نومی ځائې کښې د متاخرینو فقهاؤ د احنافو د فتوی په بنا د جُمعې مونځ روا دې. ځکه چې کوم تعریف د مصر متاخرینو فقهاؤ د احنافو کړې دې او معناً دا هم د اکثرو فقهاؤ په نیزد د مصر تعریف دې **(المصر وهو ما لا یسع اکبر مساجده اهله المکلفین بها. وعلیه فتوی اکثر الفقهاء(مجتبی)لظهور التوانی فی الاحکام) (تنویر الابصار والدر المختار علی هامش رد المحتار ج.ص۰۰)**

نو پهلت نومی ځائ باندې په ظاهره دا تعریف صادقیږی او که فرض کړه دا تعریف پرې نه صادقیږی نو هم د وړاندینو جمعو او د آخرونو د ښوو مونځونو له کبله دلته د جمعی مونځ بندول نه دی پکار بلکه جاری ساتل پکار دی

د پورتنی عبارتو په رڼا کښې کومه علاقه چې په سوال کښې ذکر شوې ده په هغې باندې د مصر تعریف صادق کېږی. لهذا په دې کښې د جُمعې مونځ صحیح دی

دریم جواب اختلاف کوونکی علماء صحیح وائی د قرآن مجید اسری دا دی

﴿وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ ﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا﴾
او په حديث شريف کښې راغلي دي (لاجمعة ولاتشريق الا في جامع)
يعنى د جمعې او د اخترونو مونځ صرف په جامع مسجد کښې کيږي
ذکر شوې ځاى نه خو ښار دې او نه د ښار په حکم کښې دې.چې آبادي په کښې د څلورو زرو نه کمه وى نو په هغه ځاى کښې د جُمعې او د اختر مونځ معاف دې،که چيرې ادا کوى ئې نو مکروه تحريمى به وى او د ماسپښين دمونځ په پريښودو به ئې گناه هم کيږي،په تولو باندې د ماسپښين مونځ کول فرض دى . که د چا شوق وى نو تقرير دى کوى خو مونځ دې څلور رکعته کوى
دا استفتاء چې په دريو مختلفو جوابونو باندې مشتمله ده ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم.مهربانى وکړئ د دې ښه په غور سره مطالعه وکړئ او مونږ ته ښه د تسلئ جواب راکړئ

الجواب باسم ملهم الصواب

د مرتب غرض

دا جواب د حضرت مفتى صاحب رحمه الله نائب او جانشين حضرت مفتى عبدالرحيم صاحب دامت برکاتهم ليکلي دې او حضرت مفتى صاحب رحمه الله د دې تصويب فرمائيلې دې بلکه د احسن الفتاوي په څينې مسئلو کښې ئې د دې حواله هم ورکړې ده. «دمرتب لغوا»

په کلو کښې د جُمعې د مونځ په حقله د فقيه العصر شيخنا العلام نفع الله المسلمين بطول حياته. ژور تحقيق په رساله (النخبة في مسالة الجمعة والخطبة) کښې راغلي دې چې دا د احسن الفتاوي (اُردو) په څلورم جلد کښې ليکلي شوې ده. ليکن دا خبره معلومه شوه چې سرسرى نظر په دې باندې د پوهې نه عاجزه دې، د دې وجې نه د دې تحقيق وضاحت او تسهيل سره د اضافاتو او د نورو حوالو نه وړاندې کولې شي.

اول د فقهاء کرامو عبارتونه بيا د هغې نه ثابتيدونکى حکمونه. بيا بعضې اصول د افتاء.او بيا په هرو دريو واړو جوابونو باندې د ضرورت مناسب بحث کول او په آخره کښې به خلاصه د کلام ليکلي شى. چې په کښې د اصل سوال مختصر غوندې جواب دې. والله الموفق

نصوص الفقهاء رحمهم الله

(۱) قال الامام الكبير شمس الائمة السرخسي رحمه الله: وظاهر المذهب في بيان حد المصر الجامع ان يكون فيه سلطان او قاض لاقامة الحدود وتنفيذ الاحكام وقال بعض مشايخنا رحمهم الله ان يتمكن كل صانع ان يعيش بصنعته فيه ولا يحتاج فيه الى التحول الى صنعة اخرى وقال ابن شجاع رحمه الله احسن ما قيل فيه ان اهلها بحيث لو اجتمعوا الى اكبر مساجدهم لم يسعهم ذلك حتى احتاجوا الى بناء مسجد الجمعة (المبسوط ج۲ص۲۳)

(۲) وقال الملك العلماء الامام الكاسانی رحمه الله: و روی عن ابی حنیفة رحمه الله ان بلدة کبیرة فیها سکك و اسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحشمه و علمه او علم غیره والناس یرجعون الیه فی الحوادث وهو الاصح. (بدائع الصنائع ج۱ ص۲۶۰)

(۳) وقال المحقق المجتهد الامام ابن الهمام رحمه الله: وقال ابو حنیفة رحمه الله: المصر کل بلدة فیها سکك واسواق وبها رساتیق و وال ینصف المظلوم من الظالم وعالم یرجع الیه فی الحوادث وهذا اخص مما اختاره المصنف قیل وهو الاصح وفسر قول صاحب الهدایة (وهو الظاهر) بقوله (ای من مذهب) (فتح القدیر ج۱ ص۴۰۹)

(٤) وقال شیخ الاسلام الامام المرغینانی رحمه الله: والمصر الجامع کل موضع له امیر وقاض ینفذ الاحکام و یقیم الحدود وهذا عن ابی یوسف رحمه الله و عنه انهم اذا اجتمعوا فی اکبر مساجدهم لم یسعهم والاول اختیار الکرخی وهو الظاهر والثانی اختیار الثلجی. (الهدایة ج۱ ص۱۴۸)

(٥) وقال الامام اکمل الدین البابرتی رحمه الله: والاول اختیار الکرخی وهو ظاهر الروایة وعلیه اکثر الفقهاء والثانی اختیار ابی عبدالله الثلجی. (العنایة بهامش الفتح ج۱ ص۴۰۹)

(٦) وقال العلامة فخر الدین الزیلعی رحمه الله: قال ابو حنیفة رحمه الله: المصر کل بلدة فیها سکك واسواق ولها رساتیق و وال ینصف المظلوم من ظالمه وعالم یرجع الیه فی الحوادث وهو الاصح. (تبیین الحقائق ج۱ ص۲۱۷)

(۷) وقال الامام المجتهد فی المسائل قاضیخان رحمه الله: ولا یکون مواضع مصرا فی ظاهر الروایة الا ان یکون فیه مفت وقاض یقیم الحدود و ینفذ الاحکام وبلغت ابنیته ابنیة منی. (الفتاوی الخانیة بهامش الهندیة ج۱ ص۱۷۱)

(۸) وقال العلامة زین الدین ابن نجیم المصری رحمه الله فی حد المصر المذکور: وهو ظاهر المذهب کما ذکره الامام السرخسی (الی ان قال) واسقط فی الظهیریة الامیر فقال: المصر فی ظاهر الروایة ان یکون فیه مفت وقاض الخ (الی ان قال) وفی حد المصر اقوال کثیرة اختاروا منها قولین: احدهما ما فی المختصر ثانیهما ما عزوه لابی حنیفة رحمه الله انه بلدة کبیرة (الی قوله) قال فی البدائع: وهو الاصح وفی المجتبی: وعن ابی یوسف رحمه الله انهم اذا اجتمعوا فی اکبر مساجدهم للصلوات الخمس لم یسعهم وعلیه الفتوی اکثر الفقهاء وقال ابو شجاع: هذا احسن ما قیل فیه وفی الولوالجیة: وهو الصحیح. (البحر الرائق ج۲ ص۱۴۰)

(۹) وقال الفقیه الشیخ ابراهیم الحلبی رحمه الله: ثم اختلفوا فی تفسیر المصر اختلافا کثیرا والفصل فی ذلك

ان مكة والمدينة مصران تقام بهما الجمعة من زمنه ﷺ الى اليوم فكل موضع كان مثل احدهما فهو مصر فكل تفسير لا يصدق على احدهما فهو غير معتبر حتى التعريف الذى اختاره جماعة من المتاخرين كصاحب الوقاية والمختار وغيرهما وهو ما لو اجتمع اهله فى اكبر مساجده لا يسعهم فانه منقوض بهما اذ مسجد كل منهما يسع اهله وزيادة ولم يعلم ان مكة والمدينة كانت فى زمن النبى ﷺ والصحابة اكبر مما هى الان ولا ان مسجدهما كان اصغر مما هو الان فلا يعتبر هذا التعريف وبالاولى لا يعتبر تعريفه بما يعيش فيه كل محترف (الى ان قال): والحد الصحيح ما اختاره صاحب الهداية انه الذى له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود وتزييف صدر الشريعة له عند اعتذاره عن صاحب الوقاية حيث اختار الحد المتقدم ذكره لظهور التوانى فى احكام الشرع سيما فى اقامة الحدود فى الامصار مزيف بان المراد القدرة على اقامة الحدود على ما صرح به فى تحفة الفقهاء عن ابى حنيفة رحمه الله انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق (الى قوله) هذا هو الاصح الا ان صاحب الهداية ترك ذكر السكك والرساتيق بناء على الغالب (الى قوله): فالحاصل ان اصح الحدود ما ذكره فى التحفة لصدقه على مكة والمدينة وانهما هما الاصل فى اعتبار المصرية. (الشرح الكبير ص ٥١١)

(١٠) وقال العلامة طاهر بن عبد الرشيد البخارى رحمه الله: وفى حد المصر الجامع اقوال: قال بعضهم: ان يعيش كل محترف الخ ثم ذكر ما روى عن ابن شجاع رحمه الله (الى ان قال) قال الامام السرخسى رحمه الله: فى ظاهر المذهب عندنا ان يكون فيه سلطان الخ. (خلاصة الفتاوى ج ١ ص ٢٠٠)

(١١) وقال المحقق عبد الرحمن المدعو بشيخ زاده رحمه الله: والمصر كل موضع له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود وهذا عند ابى يوسف رحمه الله فى رواية وهو ظاهر المذهب على ما نص عليه السرخسى وهو اختيار الكرخى والقدورى (الى ان قال) (وقيل) قائله صاحب الوقاية وصدر الشريعة وغيرهما (ما لو اجتمع اهله فى اكبر مساجده لا يسعهم) هذه رواية اخرى عن ابى يوسف رحمه الله وهو اختيار الثلجى وانما اورد بصيغة التمريض لانهم قالوا: (ان هذا الحد غير صحيح عند المحققين)

مع ان الاول يكون ملائما بشرط وجود السلطان ونائبه ومناسبا لما قاله الامام رحمه الله: المصر كل بلدة فيها سكك واسواق ولها رساتيق (الى قوله) وفى الغاية: هو الصحيح. (مجمع الانهر ج ١ ص ١٦٣)

(١٢) وكذا قال الامام الحصكفى رحمه الله فى (الدر المنتقى بهامش المجمع ج ١ ص ١٦٣) الا انه ذكر ايضا ان فتوى اكثر الفقهاء على قول ابن شجاع

(۱۳) وقال الشارح ملا مسکین رحمہ اللہ: (وهو كل موضع له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود) وهذا عند ابي يوسف رحمہ اللہ وهو الصحيح. (شرح الكنز لملا مسكين بهامش فتح المعين ج۱ ص۳۱۰)

(۱۴) وقال العلامة السيد محمد ابو السعود المصري رحمہ اللہ: (قوله وهذا عند ابي يوسف) وقال ابو حنيفة رحمہ اللہ: كل بلدة فيها سكك واسواق ولها رساتيق ووال ينصف المظلوم من ظالمه وعالم يرجع اليه في الحوادث وهو الاصح مظهر الحقائق (قوله: وهو الصحيح) وظاهر الرواية وعليه اكثر الفقهاء. حموي وفي النهر عن الهداية انه ظاهر المذهب. (فتح المعين ج۱ ص۳۱۱)

(۱۵) وقال الحافظ الملا علي القاري رحمہ اللہ الباري بعد ذكر تعريف تنفيذ الاحكام: قال في الهداية: وهو الظاهر اي من المذهب وعليه اكثر الفقهاء. وبعد ذكر تعريف عدم سعة اكبر المساجد اهله قال: وفيه اشكال حيث لم يصدق على المساجد الثلاثة: ثم اجاب بعد ما ذكره بقدح بشانه وقد اشار الى ضعفه حيث قال: اللهم (الى قوله) وعن ابي حنيفة رحمہ اللہ: كل بلدة لها سكك واسواق ووال لدفع المظالم وعالم يرجع اليه في الحوادث قيل: وهو الاصح الخ (شرح النقاية ج۱ ص[illegible])

(۱۶) قال العلامة السيد الطحطاوي رحمہ اللہ بعد ذكر تعريف ابن شجاع والثناء عليه من الولوالجية و برهان الشريعة: قال القهستاني بعد ذكر التعريف السابق (عدم سعة اكبر المساجد): الا انهم قالوا: ان هذا الحد غير صحيح عند المحققين. والحد صحيح المعول عليه انه مدينة تنفذ فيها الاحكام وتقام فيها الحدود كما في الجواهر اه (حاشية الطحطاوي على الدر ج۱ ص[illegible])

(۱۷) وقال العلامة الحصكفي رحمہ اللہ: المصر وهو ما لا يسع اكبر مساجده اهله المكلفين بها وعليه اكثر الفقهاء. مجتبى لظهور التواني في الاحكام وظاهر المذهب انه كل موضع له امير وقاض يقدر على اقامة الحدود (رد المحتار ج۱ ص[illegible])

(۱۸) وقال خاتمة المحققين العلامة ابن عابدين رحمہ اللہ: (قوله: وعليه فتوى اكثر الفقهاء) وقال ابو شجاع: هذا احسن ما قيل فيه وفي الولوالجية: وهو صحيح بحر وعليه مشى في الوقاية و متن المختار وشرحه وقدمه في الدرر على القول الاخر وظاهره ترجيحه وايده صدر الشريعة بقوله: لظهور التواني في احكام الشرع سيما في اقامة الحدود (قوله: وظاهر المذهب الخ) قال في شرح المنية: والحد الصحيح ما اختاره صاحب الهداية انه الذي له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود وتزييف صدر الشريعة له عند اعتذاره عن صاحب الوقاية حيث اختار الحد المتقدم لظهور التواني مزيف بان المراد القدرة على اقامتها على ما صرح به في التحفة

عن ابی حنیفة رحمه الله انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على انصاف المظلوم من الظالم (الى قوله) وهذا هو الاصح (قوله: يقدر الخ) وفى التعبير بيقدر رد على صدر الشريعة وفى شرح الشيخ اسمعيل عن الدهلوی: ليس المراد تنفيذ جميع الاحكام بالفعل اذا الجمعة اليمعة في عهد اظلم الناس وهو الحجاج وانه كان ينفذ جميع الاحكام بل المراد والله اعلم. اقتداره على ذلك اهـ وقال مثله فى حاشية ابى السعود عن رسالة العلامة نوح افندی (الى قوله) فتعين كون المراد الاقتدار على تنفيذ الاحكام الخ. (ج ا ص ٣٠)

(١٩) وفى فتاوى الهندية: ولاداءها شرائط في غير المصلى منها: المصر هكذا فى الكافى والمصر فی ظاهر الرواية الموضع الذی يكون فيه مفت وقاض يقيم الحدود وينفذ الاحكام وبلغت ابنيته ابنية منى هكذا فى الظهيرية وفتاوى قاضيخان وفى الخلاصة: وعليه الاعتماد كذا في التتارخانية ومعنى اقامة الحدود القدرة عليها هكذا فى الغياثية. (الفتاوى الهندية ج ا ص ٢٠)

(٢٠) وقال العلامة المحدوم محمد جعفر السندی رحمه الله بعد ذكر ما فى الهداية: فى الغياثية: قال شمس الائمة السرخسی: ظاهر المذهب ان المصر الجامع ما فيه جماعات واسواق التجارات وسلطان او قاض يقيم الحدود وينفذ الاحكام ای يقدر على ذلك. (المتانة فى مرمة الخزانة ص ٣٠)

(٢١) وقال خاتمة المحدثين امام العصر السيد محمد انور شاه الكشميری رحمه الله: اعلم ان القرية والمصر من الاشياء العرفية التى لا تكاد تنضبط بحال وان نص ولذا ترك الفقهاء تعريف المصر على العرف كما ذكره فى البدائع وانما توجهوا الى تحديد المصر الجامع بهذه الحدود كلها بعد كونها مصرا لان المصر الجامع اخص من مطلق المصر فقد يتحقق المصر ولا يكون جامعا.

ورايت فى عبارة المتقدمين انهم اذا يذكرون الاختلاف فى حدود المصر يجعلونه فى الجامع ويقولون: اختلفوا فى المصر الجامع الخ فتبين منه انهم لا يعنون به تعريف مطلق المصر والناس لما لم يدركوا امرهم طعنوا الى تلك الحدود

فمنها ما قال ابن شجاع: ان كان اهلها بحيث لو اجتمعوا الى اكبر مساجدهم لم يسعهم ذلك فقالوا: انه صدق على اكثر القرى ولا يصدق على المسجد الحرام. اعزه الله وادام حرمته. فنقضوا عليه طردا وعكسا ولم يتفقهوا مرادها لان هذا التعريف ليس للمصر الجامع.

وحاصله ان المصر الجامع هو الذی يكثر اهله بحيث لا تسعهم مساجدهم فيحتاجون الى بناء مسجد اخر

يسعهم و هو الذی بناه صاحب العناية فقال:قال ابن شجاع:احسن ما قيل فيه:اذا كان اهلها بحيث لو اجتمعوا فی اكبر مساجدهم لم يسعهم ذلك حتی احتاجوا الی بناء مسجد اخر للجمعة.وهذا الاحتياج غالب عند الجماع من علته الجمعة اه فتفكر فی لفظ حتی احتاجوا الخ ثم قال.واول الحدود ماروی عن ابی حنيفة رحمه الله:

كل بلدة فيها سكك واسواق ولها رساتيق الخ.(فيض الباری ج،ص)

(۲۲)وقال المحدث الجليل محمد بدر عالم الميرتی رحمه الله:

عن سفيان الثوری:المصر الجامع ما يعده الناس مصرا عند ذكر الامصار المطلقة.كذا فی البدائع.

وبالجملة الحدود كلها رسوم علی اصطلاح اهل العقول فهی اذن بالعوارض وتلك تتبدل بحسب الامصار والاعصار فلزم ان يختلف تعريف المصر ايضا وليس من قبيل الحدود المنطقية لتطرد وتنعكس فی الازمان كلها.والله تعالی اعلم بالصواب.(البدر الساری علی فيض الباری ج،ص)

(۲۳)قال العلامة الحصكفی رحمه الله:جازت الجمعة بمنی فی الموسم فقط لوجود الخليفة او امير الحجاز او العراق اومكة ووجود الاسواق والسكك.(ردالمحتار ج،ص)

(۲٤)وقال المحقق الامام ابن الهمام رحمه الله:ولهما انها ای منی تتمصر فی الموسم لاجتماع من ينفذ الاحكام ويقيم الحدود والاسواق والسكك قيل فيها ثلاث سكك الخ.(فتح القدير ج،ص)

(۲٥)وقال العلامة الاكمل البابرتی رحمه الله:ولهما انها تتمصر فی ايام الموسم لاجتماع شرائط المصر من السلطان والقاضی والابنية والاسواق.(العناية بهامش الفتح ج،ص).وكذا قال العلامة الحصكفی رحمه الله:

(الدر المنتقی بهامش المجمع ج،)

والعلامة ابن نجيم رحمه الله.(البحر الرائق ج،ص)

والعلامة الزيلعی رحمه الله.(تبيين الحقائق ج،ص)

والعلامة الشلبی رحمه الله.(حاشية الشلبی علی التبيين ج،ص)

(۲٦)وقال العلامة الرافعی رحمه الله:فانها (ای منی)تتمصر ايام الموسم ... تنقل ... الاسواق وتحضرها والی وقاض اه منح (التحرير المختار ج،ص)

(۲۷)وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله:وعبارة القهستانی تقع فرضا فی القصبات والقری الكبيرة التی فيها اسواق.(ردالمحتار ج،ص)

(٢٨) وقال البدر العيني رحمه الله: وعن ابي حنيفة رحمه الله: هو بلدة كبيرة فيها سكك واسواق الخ (البناية شرح الهداية ج،ص)

(٢٩) وقال العلامة الشرنبلالي رحمه الله: ولما كان الحد مختلفا فيه على اقوال كثيرة ذكرة الاصح منها فقال والمصر عند ابي حنيفة (كل موضع) اي بلدة (له مفت) يرجع اليه في الحوادث (وامير) ينصف المظلوم من الظالم (وقاض) مقيمون بها (الي قوله) (وبلغت ابنيته) الدر (ابنية منى) وهذا (في ظاهر الرواية) قاله قاضيخان وعليه الاعتماد (مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي ج ص)

(٣٠) وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله: (قوله: ولما كان الحد مختلفا فيه على اقوال كثيرة) الفصل في ذلك ان مكة والمدينة مصران تقام بهما الجمعة من زمنه ﷺ الى اليوم فكل موضع كان مثل احدهما فهو مصر وكل تفسير لا يصدق على احدهما فهو غير معتبر. كقولهم: هو ما لا يسع اهله اكبر مساجده.

(قوله: عند ابي حنيفة رحمه الله) صرح به في التحفة ورواه الحسن عنه في كتاب الصلاة كذا في غاية البيان وبه اخذ ابو يوسف رحمه الله وهو ظاهر المذهب. كما في الهداية واختاره الكرخي والقدوري وفي العناية: وهو ظاهر الرواية وعليه اكثر الفقهاء.

(قوله يقيم الحدود) المراد به القدرة على ذلك كما صرح به في التحفة عن الامام فاتزييف صدر الشريعة بظهور التواني في الاحكام لا سيما في اقامة الحدود في الامصار. مزيف كما في الحلبي (حاشية الطحطاوي على المراقي ص)

اصول الافتاء المتعلقة بالمسئلة

قال خاتمة المحققين العلامة ابن عابدين رحمه الله: ان الواجب على من اراد ان يعمل لنفسه او يفتي غيره ان يتبع القول الذي رجحه علماء مذهبه فلا يجوز له العمل او الافتاء بالمرجوح. (رسائل ابن عابدين ج ص)

وقال ايضا: وكلام القرافي دال على ان المجتهد والمقلد لا يحل لهما الحكم والافتاء بغير الراجح لانه اتباع للهوى وهو حرام اجماعا.

وقال ايضا: اتباع الهوى حرام والمرجوح في مقابلة الراجح بمنزلة العدم والترجيح بغير مرجح في المتقابلات ممنوع

وقال في كتاب الاصول لليعمري: من لم يطلع على المشهور من الروايتين او القولين فليس له التشهي

والحكم بما شاء منهما من غير نظر فى الترجيح

وقال الامام ابو عمر فى اداب المفتى: اعلم ان من يكتفى بان يكون فتواه او عمله موافقا لقول او وجه فى المسألة ويعمل بما شاء من الاقوال والوجوه من غير نظر فى الترجيح فقد جهل و خرق الاجماع (رسائل ابن عابدين ج.ص.)

وقال ايضا: فحيث علمت وجوب اتباع الراجح من الاقوال وحال المرجح له تعلم انه لا ثقة بما يفتى به اكثر اهل زماننا بمجرد مراجعة الكتب المتأخرة ثم قال ما معناه:

قال شيخنا صالح الجينينى: انه لا يجوز الافتاء من هذه الكتب (اى الدر المختار والنهر و شروح الكنز للعينى) الا اذا علم المنقول عنه والاطلاع على ماخذها هكذا سمعته منه وهو علامة فى الفقه مشهور والعهدة عليه (الرسائل ج.ص.)

وقال ايضا: قال العلامة الطرطوسى فى انفع الوسائل: ان القاضى المقلد لا يجوز له ان يحكم الا بما هو ظاهر الرواية لا بالرواية الشاذة الا ان ينصوا على ان الفتوى عليها انتهى (الرسائل ج.ص.)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله: ما خرج عن ظاهر الرواية فهو مرجوع عنه والمرجوع عنه لم يبق قولا للمجتهد كما ذكروه انتهى.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله بعد ما نقل ما فى البحر: وقدمنا عن انفع الوسائل ان القاضى المقلد لا يجوز له ان يحكم الا بما هو ظاهر الرواية لا بالرواية الشاذة الخ (مجموعة الرسائل ج.ص.)

وقال رحمه الله: الخامس ما اذا كان احدهما ظاهر الرواية فيقدم على الاخر. قال فى البحر من كتاب الرضاع: الفتوى اذا اختلفت كان الترجيح لظاهر الرواية وفيه من باب المصرف: اذا اختلف التصحيح وجب الفحص عن ظاهر الرواية والرجوع اليه اهـ (مجموعة الرسائل ج.ص.)

وقال فى ردالمحتار: فحيث علمت انه ظاهر الرواية و انه نص عليه محمد رحمه الله و رووه عن ابى حنيفة رحمه الله ظهر انه الذى عليه العمل وان صرح بان المفتى به خلافه (ثم قال) وقوله: لفظ الفتوى الخ قد يقال بمنع عمومه الخ (ردالمحتار ج.ص.)

وقال العلامة قاسم فى تصحيحه: ان الحكم والفتوى بما هو مرجوح خلاف الاجماع (الى ان قال) وقال صاحب البحر فى بعض رسائله: اما القاضى المقلد فليس له الحكم الا بالصحيح المفتى به فى مذهبه

(ردالمحتار ج۱ص۵۰)

وفی الفتاوی السراجية : ثم الفتوی علی قول ابي حنيفة ثم بقول ابي يوسف ثم بقول محمد رحمهم الله الخ (الفتاوی السراجية ص۷)

وفی شرح العقود: انهم اذا اختلفوا يقدم ما اختاره ابو حنيفة رحمه الله سواء وافقه احد اصحابه اولا الخ (شرح عقود رسم المفتي مطبع الرشيد)

وفی شرح المنية من فصل التيمم: فلله در الامام الاعظم ما ادق نظره و ما اسد فكره؛ ولامر ما جعل العلماء الفتوی علی قوله فی العبادات مطلقا. (شرح منية المصلي ۳)

د پورتنیو عبارتونو نه دا خبرې ثابتې شوې

۱ په حنفي مذهب کښې د جُمعې د مونځ د پاره ښاريه شرط ده لهذا په کلی کښې د جُمعې مونځ روا نه دي

۲ خو هغه کلي چې په هغې کښې د ښاریو په شان پاخه پاخه عمارتونو وي، لارې کوڅې وي، د ضرورت يول څيزونه په کښې تر لاسه کيدې سي، بازارونو کښې دکانونه دوه طرفه اويو بل سره پيوسته وي نو داسې کلي ښا په حکم د مصر کښې دي، لهذا هلته د جُمعې مونځ کول صحيح دي.

(قهستاني شاميه الشرح الکبير امداد الفتاوی عزيز الفتاوی امداد المفتين)

۳ د مصر اصل تعريف بعني حد تام دا دي چې هغه په عام عرف کښې ښار شمارلی کيږي

البدايع ... الهدى الساري القول البديع فی اشتراط المصر للتجميع امداد الفتاوی عزيز الفتاوی امداد المفتين)

... عام عرف کښې د ... د ښار ... د هغې ... لارې کوڅې وي، په بازار ... نی دو طرفه ... سره ... دکانونه وي، عمارتونه په کښې پاخه ... خيزونه په کښې تر لاسه کيدی شي

دا حقيقت ... هم ښکاره او منلي شوې دي چې د کومو الفاظو شريعت په خپله څه مخصوصه معنی نه ... کړي ... په اصل لغت او عام عرف باندې حمل کولی شي. رسول الله ... د مصر ... معنی ... مقرره کړې ... دي وجې ... دا لفظ په عام عرف باندې حمل کولی شي

۴ د مصر ... کښې ... چې کوم اختلاف دي ... محققينو په نيزد دا د عنوان اختلاف ... معنون ... لو ... هغه دا دي چې هغه په عام عرف کښې ... شمارلی کيږي ... هر

فقه د خپل خپل وخت او زمانې په اعتبار سره د ښار د علاماتو مشاهده وکړه او د تعريف د مقررولو او دعوامو د پوهې د پاره ئې هم د هغه علاماتو نه تعريف وکړو

د دې داسې مثال دې لکه چې اوونيلې شي ښار هغې ته وائی چې کوم ځائ کښې تانه او پوليس وی يا ښار هغې ته وائی چې کوم ځائ کښې ولايتی اوعلاقيی کار کيږی،

که چيرې د دغه ځائ نه تانه او پوليس ختم شی نو آيا دا به ښار پاتې نه شی؟. يا چې په کښې ولايت کار نه کيږی.لکه ستاسو په علاقه کښې شاهپور وړاندې ولايت وو اوس ولسوالی هم نه ده. د دې نه د دې ښار کيدل نه ختميږی

غرض دا چې د فقهاء كرامو ﷺ دا ټول تعريفونه رسوم دی حدود نه دی.رسوم او علامات په اختلاف د زمانې او مکان سره بدليږی رابدليږی.لهذا نه خو په دې تعريفونو کښې څه تضاد شته او نه د دې په وجود او عدم د وجود باندې د ښار کيدلو مدار موقوف دې (امداد الفتاوی،عزيز الفتاوی،امداد المفتين،القول البديع،فيض الباري،البدر الساري،الشرح الكبير،الدر المنتقى)

۵ - په ظاهر الرواية کښې د مصر تعريف داسې دې بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على انصاف المظلوم من الظالم الخ (جميع كتب الفقه المذكورة)

د دې نه اصل مقصد همدادې چې د اسواقو د رساتيقو او د سککو د وجود له کبله په عرف کښې دا ښار ګڼلې کيږی.په تعريف کښې ذکر کړې شوې نور څيزونه هم د رسومو د ډلې نه دی. لکه چې محققينو په دې باندې تصريح کړې ده

قال العلامة الطحطاوي رحمه الله: ولا يكون ان الا في بلد له رساتيق واسواق وسكك.(الطحطاوي على الدر ج ص) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله في تصريح ظاهر الرواية:والمراد القدرة على اقامة الحدود هو كون الموضع ذا سكك ورساتيق كما صرح به في التحفة.الا ان صاحب الهداية تركه بناء على ان الغالب ان الامير والقاضي شانه القدرة على تنفيذ الاحكام واقامة الحدود ولا يكون الا في بلد له رساتيق و اسواق و سكك، كذا قاله المصنف.(الدر المنتقى شرح الملتقى بهامش المجمع ج ص)

وقال الشيخ الحلبي رحمه الله: الا ان صاحب الهداية ترك ذكر الرساتيق والسكك بناء على الغالب الخ (الشرح الكبير ص)

څنګه چې معلومه ده چې د ظاهر الرواية تعريف : حدتام لازم اوغير منفک دې (يعنی د حدتام. يعنی د اصل تعريف سره داسې پيوسته دې چې نه جدا کيږی ترينه ـ مترجم) د دې وجې نه ټولو فقهاء كرامو ﷺ دې نه ترجيح ورکړې ده.د دې وجې نه (په منی کښې د جمعې د مونځ د روا والی علت ټولو وړو او لويو فقهاء كرامو ﷺ بازارونه اوكوڅې ښودلې دی)

(الهداية،العناية،فتح القدير،مجمع الانهر،الدر المنتقى،الدر المختار،ردالمحتار،التبيين،الشلبي،البحر،النهر،

(وغیرهامن کتب الفقه)

۲ . ...ني نفهو ﷺ دا تعریف (مالا یسع اکبر مساجد اهله الخ)

... رسومو او علامتونو نه له جملې څخه دي

کماصرح به في الفیض والبدر والقول وامدادالفتاوی وعزیز الفتاوی وامدادالمفتین.

که چیرې دا حقیقي حد ومنلې شي نو یو فقیه خو څه کوې چې په دنیا کښې هر هغه سړې چې په هغې کښې لږ شان عقل وی هغه دا په هیڅ درجه کښې صحیح نه شي ګڼلې. د دې تول تحقیق او تفصیل د . دویم جواب جائزه، تر عنوان لاندې راروان دي .

۷ . د پورتنیو عبارتونو نه ثابته شوه چې (د کوم کلي چې د سوال په صورت کښې ذکر کړې شوې دې. هغه د فقهاء کرامو ﷺ د تصریحاتو مطابق مصر نه دې. په خاص توګه دا چې دغلته په هفته کښې یو ځل حلاله کیږي دا داسې واضحه دلیل دې چې دې ځائ ته بالکل مصر نه شي وئیلې کیدې. لهذا دغلته د جمعې مونځ کول روا نه دی،

التنبيه لمن يريد كلام الفقيه

ښکه چې معلومه ده چې زمونږ دوه جوابونه د افتاء د اصولو او د فقهاء کرامو ﷺ د طبیعت نه په نا واقفیت باندې بنا دی د دې وجې نه چې د دې مسئلې سره کوم اصول متعلق دی د هغې وړاندې کول ضروری معلومیږی دې د پاره چې په حقیقت باندې په پوهیدو کښې څه مشکل رانشی. دا اصول د تیر شوی عنوان (اصول الافتاء المتعلقة بالمسئلة) لاندې چې کوم عبارتونه راغلی دی د هغې نه راخستې شوي دی

۱ . د مقلد د پاره په مرجوح قول باندې فتوی ورکول روا نه دی د دې وجې نه چې دا د نفس منل دی او دا حرام دی. (القرافي)

۲ . مرجوح قول د راجح قول په مقابله کښې له نیشت سره برابر وی. او په مرجوح باندې فتوی ورکول د اجماع خلاف دی. (قاسم بن قطلوبغا)

۳ . د کوم سړی چې دا نظریه وی چې د هغه فتوی یا عمل د یو قول سره بر ابرپاوخوری اګر که دا قول ضعیف هم وی نو داسې سړی جاهل او اجماع لره شلونکې دې (الامام ابو عمر)

۴ . د درمختار، نهر، شرح الکنز للعینی نه فتوی ورکول ناروا دی الا ان یعلم المنقول عنه. ویطلع علی ماخذه. (علامة الفقه الشیخ الحمیدی)

۵ . د مقلد د پاره روا نه دی چې هغه د ظاهر الروایه نه تیر شی او په بل یو روایت باندې فتوی ورکړی . الاان یصرحوا فانه یجوز بهر الط . (علامه طرطوسي)

۶ کوم قول چې د ظاهر الروایة نه بهر وی هغه به مرجوع عنه شمارلې کیږی او مرجوع عنه دول د مجتهد قول نشی گڼلې کیدې. (الامام ابن النجیم والعلامة ابن عابدین)

۷ - که چیرته په یوه مسئله کښې د مذهب د امامانو نه مختلف روایتونو نقل کړې شوې وی نو د امام په قول باندې فتوی کول واجب دی په خاص توګه په عباداتو کښې. (شیخ حلبی. علامه ابن عابدین)

۸ - که چیرې د ظاهر الروایة قول نه په مخالف قول باندې ځینو فقهاؤ فتوی ورکړې وی نو بیا به هم ظاهر الروایة ته ترجیح ورکولې شی. (علامه ابن عابدین)

۹ - قولین مصححین کښې به هم ترجیح ظاهر الروایة ته ورکولې شی. (مجموعة الرسائل)

په رومبی جواب باندې تبصره

قوله په کوم کلی کښې چې درې جماتونه آباد وی په هغه کلی کښې د جُمعې مونځ صحیح دې او چېپه کوم ښار کښې اته جماتونه آباد وی په هغې کښې د جُمعې د مونځ په کولو کښې نه څه اختلاف وی ـ الخ

اقول د دې جواب نه معلومیږی چې جواب ورکوونکې د افتاء د فن نه یواځې نا واقف نه بلکه بالکل د افتاء فن نه له سره نه پیژنی. (شرح عقود رسم المفتی) داسې ساقط جواب لیکل یه حقیقت کښې د دین د دومره لوئې او اهمې شعبې «افتاء» ده سره توقې کول دی. د دې وجې نه په دې جواب باندې نوره څه تبصره کول په خپل ذات کښې یو بې ځایه او بې معنی کار دې. په مسئلو کښې په دومره قدرې زړه ورتیا باندې چې څومره تعجب وکړې شی نو کم دې

قال النبی ﷺ: فأفتوا بغير علم فضلوا واضلوا. وقال ﷺ: من افتی بغير علم كان اثمه علی من افتاه (مشكوة) اجرؤكم علی الفتيا اجرؤكم علی النار. (دارمی)

په دویم جواب باندې تبصره

قوله متاخرینو علماء کرامو چې د مصر کوم تعریف کړې دې هغه دا دې **المصر وهو ما لا يسع اكبر مساجده اهله المكلفين ـ الخ.**

اقول د حضراتو فقهاء کرامو ﷭ د نصوصو نه ثابت کړې شو چې دا حد نه دې بلکه رسم دې او حضرت علامه انور شاه کشمیری ﷫ او نورو محققینو علماؤ فرمائیلې دی چې په عام عرف کښې څه نه ښار ویلې شی په عامه توګه د هغې حالت داسې وی چې هته لوئې جمات د مکلفینو د پاره نه چاپی کیږی. (حضرت سهارنپوری. حضرت تهانوی. حضرت مفتی عزیز الرحمن ﷫)

که چیرې دا حقیقی حد وګڼلې شی لکه څه رنګه چې جواب ورکوونکی ګڼلې دې. نو به دې باندې دا لاندینی اشکالات او نقضونه واردیږی

الاشکال الاول دا د ظاهر الروایه خلاف دی کوم قول چې ظاهر الروایه خلاف وی د هغې ته وزنه کېدل بلکه نسبت کېدل ورانديې له دلائلو سره سر شوی دی

الاشکال الثانی دا د امام شافعی رحمه الله مذهب دی او ظاهر الروایه چې کوم ی هغه د مذهب صاحب رحمه الله قول او مذهب دی. و د په مقابل کښې يو بل په وړاندې او راجح وی. او په خاص توګه چې کله دا د عبادتو سره تعلق ولري

الاشکال الثالث لا یسمع اکبر مساجده الخ نسبت خپلو خلقو په حرف د (عن) سره حضرت امام ابو یوسف رحمه الله ته کړی دی او ظاهر الروایة په کوم کښې چې د اسواق او د سککو ذکر کړې سوې دې د هغې نسبت نی دوی ته په توګه د مذهب کړې دې

کما قال العلامة الطحطاوی رحمه الله: وبه اخذ ابو یوسف رحمه الله. (حاشیة الطحطاوی علی المراقی ص۲۰۰)

د مذهب په مقابله کښې نور روایات او قولونه غیر معتبر وی لکه څنګه چې د فقهاء کرامو رحمهم الله تصریح سره شو

په کتلو او پلټنه کولو سره به په هر قسمه مسئله کښې قولونه تر لاسه شی لیکن د هغې په وجه د مذهب نه وتل روا نه دی. او که نه نو مذهب به د ماشومانو لوبو څیز جوړ شی هر یو به نفس غلام به یی د خپلې خوښې مطابق د ځان نه جوړوی او رواړی به نی او د مذهب په باغ کښې به ئې د کرلو کوشش کوی کوم چې په مذهب پسې تلل نه شو بلکه په خواهش او نفس پسې تلل دي

الاشکال الرابع حضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله د (لایسمع) ـ الخ . قول صراحتاً رد کړې دې او غیر معتبر ئې ګرځولی دې . په طحطاوی علی المراقی کښې دې ته (فهو غیر معتبر) په الشرح الکبیر کښې (فلا یعتبر هذا التعریف) په قهستانی. طحطاوی علی الدر او مجمع الانهر کښې (ان هذا الحد غیر صحیح عند المحققین) په شرح النقایه کښې (وفیه اشکال) او په فتاوی دار العلوم دیوبند کښې ئې په ضعیف سره ښکاره کړی دی

۷۱ **شکال الخامس** معتبرو او محققینو امامانو د فقهې رحمهم الله د ظاهر الروایه تعریف چې په کښې خوښ سوی ذکر دی په لاندینو ټوموټو او لفظونو سره تېښه کړې دی او ترجیح ئې ورکړې

هو قول ابی حنیفة رحمه الله ـــ وبه اخذ ابو یوسف رحمه الله .....وهو الاصح ـــ وهو الصحیح ـــ وهو المختار ..... وهو الظاهر ..... وهو ظاهر المذهب ـــ و هو ظاهر الروایه ......وعلیه الاعتماد ـــ و هو المعول علیه ......وهو اوفق الحدود ....وهو اصح الحدود ..... وعلیه اکثر الفقهاء.

په دې صورت کښې به چې د لایسمع ـ الخ . تعریف کوم حال وی هغه ښکاره دي

الاشکال السادس (لایسع اکبر مساجده هله. الخ) دا تعریف د رسول الله ﷺ د وخت نه واخله تر اوسه پورې په حرمینو شریفینو باندې صادق رانغلو. په یو وخت کښې هم په حرمینو شریفینو کښې د اوسیدونکو خلقو شمیر دومره ندی شوې چې دغه جمات دې ددوی د پاره کافی شوې نوی. او حال دا دې چې په مصریت او عدم د مصریت کښې چې کوم حد فیصل دې هغه حرمین شریفین دی. **کما قال في الشرح الکبیر والفیض وشرح النقایة والقول البدیع وحاشیة الطحطاوی.**

الاشکال السابع په منی کښې د جُمعې د مونځ د جواز د پاره یو فقیه هم د **(لایسع اکبر مساجده اهله)** تعریف ندې اخستی بلکه ټولو هلته د جُمعې د مونځ د جواز د پاره علت بازارونه او کوڅې شودلي دی د کومې نه چې ثابت شو چې د **(لایسع. الخ)** تعریف د ټولو فقهاؤ په نیزد یا خو رسوم دې یا غیر معتبر او ضعیف دې. وهو ظاهر

الاشکال الثامن که چېرې دا حقیقی حد وګرځولې شی نو دا خبره به لازمه شی چې په ښار به کښې دومره لوئ جمات جوړ کړې شی چې د ښار ټول مکلف خلق په کښې راتلې شی او په کلی کښې دې دومره وړوکې جمات جوړ کړې شی چې د کلی مکلف خلق به کښې نه شی ځائ کیدې نو په دې سره به د ښار نه کلي او د کلی نه ښار جوړ شی. **واللازم باطل فالملزوم مثله.**

الاشکال التاسع د **(لایسع)** چې کوم تعریف دې د هغې علت **(لظهور التوانی في الامور)** بیان کړې شوې دې او ټولو فقهاء کرامو ﷺ دا مردود ګرځولې دې. د علم خاوندان په دې خبره باندې پوهېږی چې د مذهب مدار او اعتماد په علت او دلیل باندې وی. د بنیاد د غورځېدو نه پس به عمارت او آبادی به هوا کښې ځنګه ولاړه پاتې شی؟

والدلیل للدعوی بمنزلة الشاهد للمدعی والشاهد هنا مجروح ومردود

قوله درمختار او به شرح الوقایة کښې دی **وعلیه الفتوی اکثر الفقهاء الخ.**

اقول ددې عبارت نسبت کول د شرح وقایې ارخ ته صحیح نه دی. دا یواځې په درمختار کښې ذکر کړې شوې دی. صاحب د درمختار دا د مجتبی ارخ ته منسوب کړې دې. لهذا د مجتبی حقیقت واضحه کول ضروری معلومیږی

مجتبی د زاهدی کتاب دې او دا معتزلی دی. د فن خاوندانو د دې په حقله په سختو الفاظو کښې خبرداری ورکړی دې چې د زاهدی تفرد په اتفاق سره مردود دې. وس د زاهدی حال و وری

قال العلامة عبد الحی اللکنوی رحمه الله: **وقد طالعت المجتبی شرح القدوری والقنیة فوجدتهما علی المسائل الغریبة حاویین ولتفصیل الفوائد کافیین الا انه صرح ابن وهبان وغیره انه معتزلی الاعتقاد حنفی الفروع وتصانیفه غیر معتبرة ما لم یوجد مطابقتها لغیرها لکونها جامعة للرطب والیابس. (الفوائد البهیة ص ...)**

وقال في النافع الكبير: متساهل في نقل الروايات. (النافع ص ۱۰)
وقال العلامة المولى بركلي رحمه الله في القنية للزاهدي: لكنها مشهورة عند العلماء بضعف الرواية وان مصنفها معتزلي الاعتقاد حنفي الفروع. (النافع الكبير ص ۱۰)
وقال العلامة الحصكفي رحمه الله: ما في القنية.....لا يعول عليه لان القنية ليست من كتب المذهب المعتمدة. حاشية الطحطاوي على الدر. (ص ۱۰)
وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: الحاوي للزاهدي مشهور بنقل الروايات الضعيفة ولذا قال ابن وهبان انه لا عبرة بما يقوله الزاهدي مخالفا لغيره (النافع الكبير: ص ۱۰ وعزاه الى تنقيح الفتاوى الحامدية)

قوله ددې په مرسته کښې ئې د علامه ابن شجاع بنائسته قول نقل کړې دې

اقول د دې تحسین د رسم کېدو په اعتبار سره دې. اوکه نه نو د جمهورو په مقابله کښې د یو سړی څوک آوری؟ دا خبره منلي شوې ده چې څوک څومره لوئي محقق هم وی او هغه د جمهور د قول خلاف قول وکړی نو د هغه اتباع روا نه ده. د جمهورو د مسلک اتباع واجب ده.

محقق ابن الهمام رحمه الله مجتهد فی المذهب دې. د دوئ د تفقه مقام یواځې د احنافو مشایخو نه بلکه په ټول عالم اسلام کښې منلي شوې دې. او سره د دې دا هم له منلي شوو خبرو نه ده چې د دوئ کوم تحقیقات د مذهب نه خلاف دی د هغې اتباع روا نه ده. (شرح العقود رسم المفتی ص ۱۰)

قوله صاحب د ولوالجیه د دې تعریف تصحیح هم کړې ده ـ الخ

اقول د هغوی تصحیح د خپلې زمانې مطابق د رسم د کېدو په توګه ده. د حد کېدو په لحاظ نه صاحب د ولوالجیې د دې تصحیح څه کړې وه چې په کوم سړی کښې لږ شان عقل وی هغه هم د دې د تصحیح په ځائ د دې تغلیط کوی

قوله ورسره علامه شامی د دې په مرسته کښې داسې هم وئیلې دی . هذا صدق على كثير من القرى يعني الخ

اقول د مصنف د ټول تحقیق نه څه لږه شان حصه نقل کول او د هغه فیصلې نه مخ اړول خیانت او په مصنف باندې دروغ تړل دی یا تنګ نظری ده ـ د خاتمة المحققین علامه شامی رحمه الله دا کلام نه تعریف (لا يسع اكبر مساجده اهله) باندې د مرستې په توګه ندې. په توګه د اعتراض دې یعنی چې په دې تعریف خو ډیر کلی بنارېې جوړیږیګ د دې وجې نه دا معتبر نه دې

په دې باندې واضحه دلیل دا دې چې علامه شامی رحمه الله هم دا تعریف مرجوح او ضعیف ګرځولی دې د دې نه علاوه په شامی کښې دا عبارت د طحاوی علی الدر نه نقل کړې شوې دې ... چې د ... د ... نه دا خبره واضحه ده او علامه شامی رحمه الله د دې تعریف دومره خلاف دې چې په دې ځائ نې د قهستانی دا قول نقل کړو انه الحد الصحيح عند المحققين

د دې نه علاوه په حاشیه د مراقی الفلاح کښې د تعریف عبر معتبر گرځولی شوی دی نه د سی صورت کښې به د خنگه ممکنه وی چې د عبارت دې د مرتبې د پرده وی. حاشا و کلا

قوله هذا صدق على كثير من القرى یعنی دا تعریف په ډیرو ښارونو باندې صادق کبری

اقول په دې مقام باندې د (قری) معنی په ښارونو سره کول صحیح نه دی

قوله په فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۵ کښې هم د دې مرتبه موندلی شی

اقول په همدې فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵، ص ۴۴ کښې دې تعریف ته ضعیف او په ص ۵۱ باندې دې ته منقوض او په یو دوو ځایونو کښې دې ته رسم وئیلې شوې دی او د یې سماره سوالونو په جوابونو کښې ئې دا عبارت لیکلې دې (ولتقع فرضا فى القصبات والقرى الكبيرة التى فيها اسواق)، فمثل هذا الواحد لا يزاحم الكثير فلا اعتداد به ولو اعتد فلا اكثر من ان يهمه التعارض و اذا تعارضا تساقطا على انه خلاف نصوص المذهب فيكون هباء منثورا.

د دې نه علاوه په رساله **القول البديع** (په کومې باندې چې د حضرت خلیل احمد سهارنپوری، حضرت تهانوی او د حضرت مفتی عزیز الرحمن ﷺ دستخطونه موجود دی) کښې ئې دې لره حد حقیقی گنړکو ته کم علمه، کم پوهه او د سرسری نظر خاوندان وئیلې دی. وهذه نصوصهم.

(د دې تفسیرونو نه علاوه ځینو فقهاؤ دا وئیلې دی. (ما لا يسع . الخ) ددې نه د سرسری نظر خاوندانو ته دا شبهه شوې ده چې ډیرو کلو ته ئې ښاریې وه وئیلې. نو په واقع کښې دا تفسیر هم حد حقیقی نه دې) (القول البديع ص ۱۱)

او فرمائی چې په احنافو باندې تعجب دې چې بې د څه وجې نه د خپل مجتهد خلاف کوی. پس د غور او فکر نه دوه خبرې د مخالفت معلومې شوې

۱ - د بې علمه واعظانو خپله ډله زیاتول او مالی فائده حاصلول

۲ - او د کم علمه او کم فهمه کسانو د ځینی فقهاء کرامو په دې عبارت کښې په شک او شبهه کښې غورځیدل (المصر ما لا يسع . الخ) لیکن په واقع کښې دا حد تام ندې. بلکه رسم ناقص دې، حاصل د تعریف دا دې چې په کوم ځای کښې ډیر جماتونه وی او په هغې کښې لوئ جمات دا سې شان والا وی. او ښکاره خبره ده چې دا خبره غالبا په ښاریو کښې کیږی، نه په کلو کښې. په دې اعتبار سره دا تعریف په توگه د پتې او آدرس ورکولو وکړې شو - الخ (القول البديع ص ۲۸)

قوله مفتی اعظم - الخ

اقول قدمر الجواب عنه مما يشفى العليل ويروى الغليل.

قوله او که بالفرض په دغه کلی باندې دا تعریف په صادقیږی نو سا هم د سرو شو: جمعو او

د اخترونو د مونځ له کبله دا سلسله نه دی ودرول پکار

اقول د دې خبرې باطلیدل بالکل ښکاره دی ځکه چې په هم دې صورت کښې د جمعې د مونځ کول ناروا دی او په ناروا باندې عمل کولو سره هغه نه روا کیږی

په دریم جواب باندې تبصره

قوله چې د خلورو زرو د آبادئ نه کم وی ـ الخ

اقول دا تعریف نه خو د فقهې په کتابونو کښې چیرته نقل کړې شوې دې او نه دا خه د عقل د قبولو قابل دې

حضرت مفتی محمد شفیع رحمه الله نه پوښتنه وکړې شوه چې هر کله دا تعریف نه منقول دې او نه معقول دې نو په امداد الفتاوی او په فتاوی دارالعلوم دیوبند وغیره کښې دا په کومه وجه ولیکلې شو؟ نو دوئ په جواب کښې اوفرمائیل دا په دې باندې مبنی دې چې په هغه زمانه کښې به د خلورو زرو خلقو د آبادئ علاقې ته په سرکاری توګه د ښارېې حقونه ورکول کیدل،

لهذا د جُمعې د مونځ د جواز د پاره دې لره یوه پیمانه ګرځول د مذهب او د عقل نه د خلاف کیدو سره سره بالکل باطل دی. که چیرې د فقهاء کرامو رحمهم الله په نیزد د خلورو زرو د آبادئ خه لږ اعتبار هم وې نو دا خو به چیرته یوفقیه په منی کښې دجُمعې دمونځ دجواز دپاره علت ګرځولې وو

خلاصه د کلام

په ذکر شوې کلی کښې د جُمعې مونځ ناروا او حرام دې. ځکه چې نه خو دا حقیقتاً مصر دې او نه حکماً. دلته د جُمعې مونځ کوونکی د دې ګناهونو کوونکی دی:

۱ - د ماسپښین د فرض مونځ پریښودل، چې دا ډیر زیات سخت حرام دې

۲ - د ماسپښین د جمعې مونځ پریښودل. (که چیرې خوک وروسته د ماسپښین مونځ وکړی)

۳ - د نفلو جمعه کول

۴ - د ورځې په نفلونو کښې جهر کول

۵ - د داسې نفلونو نه راګرځول، ځکه چې د ورځې په کومو نفلونو کښې په جهر سره تلاوت وکړې شی نو د هغې راګرځول واجب دی

۶ - د غیر لازم کار التزام کول. او دا بدعت دې ولله تعالیٰ اعلم وهو العاصم من اتباع النفس والهوی

عبدالرحیم

نائب مفتی دارالافتاء والارشاد

۲۶ جمادی الاولیٰ ۱۴۰۷ هجری

باب الجنائز

د حضرت علی ﷜ حضرت فاطمې ﷝ ته غسل ورکول

سوال حضرت ابوبکر ﷜ خپلې بی بی ته غسل ورکړې وو، په دې باندې دا اشکال راځي چې د وفات نه پس خو د ښځې اوخاوند دتعلق ختمیدو نه پس غسل ورکول ناروا دی، د دې جواب راکړئ ستاسو به مهرباني وی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د حضرت ابو بکر ﷜ په حقله داسې څه روایت نشته. خو د حضرت علی ﷜ په حقله داسې روایت شته او د دې دوه جوابونه دی

۱ - حضرت علی ﷜ فاطمې ﷝ ته غسل نه وو ورکړې بلکه د هغوی د غسل د پاره ئې انتظام کړې وو. له هغې نه په غسل سره تعبیر وکړې شو

۲ - دا د حضرت علی ﷜ خصوصیت دې. لورود الحدیث

قال العلامة ابن عابدین ﷫: (قوله: فلما الخ) قال فی شرح المجمع لمصنفه: فاطمة ﷝ غسلتها ام ایمن حاضنته ﷺ ورضی عنها فتحمل روایة الغسل لعلی ﷜ علی معنی التهیئة والقیام التام باسبابه ولئن ثبت الروایة فهو مختص به الا تری ان ابن مسعود ﷜ لما اعترض علیه بذلک اجابه بقوله: اما علمت ان رسول الله ﷺ قال: ان فاطمة زوجتک فی الدنیا والآخرة فادعاؤه الخصوصیة دلیل علی ان المذهب عندهم عدم الجواز اھ. (ردالمحتار ج۱ص۸۰۱) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰ ربیع الاول ۱۴۰۵ هجری

چې مړې وشلیږی نو د هغه د غسل او د جنازې حکم

سوال مړی لره د پرسیدو او د شلیدو په حالت کښې د غسل د ګرانوالی د وجې نه بې د غسل او د کفن نه خښول څنګه دی؟ او بل دا چې د جنازې د مونځ ئې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که مړې په داسې اندازه شلدلې وی چې اندامونه ئې بیل بیل شوی وی نو هغه ته به غسل هم نه شی ورکولې او د جنازې مونځ به پرې هم نه شی کولې. او که دومره اندازه نوی شلدلې نو په هغه باندې به بې د منښلو نه همداسې د پاسه اوبه وارولې شی او د جنازې مونځ به پرې کولې شی. او کفن خو به ورته به هر حال کښې ورکولې شی

قال الامام الکاسانی ﷫: اما بعد الثلاثة ایام لا یصلی لان الصلوة مشروعة علی البدن وبعد مضی الثلاثة ینشق او یتفرق فلا یبقی البدن وهذا لانه فی المدة القلیلة لا یتفرق وفی الکثیرة یتفرق فجعلت الثلاثة فی حد الکثرة لانها

مع والجمع ثم سمیلکثر قولان العبرة للمعتاد والغالب ان العادة ان بعض الثلاث بعد تفسخ ویتفرق اعضاؤه

والصحیح ان هذا لیس بتقدیر لازم لانه یختلف باختلاف الاوقات فی الحر والبرد وباختلاف حال المیت فی السمن والهزل وباختلاف الامکنة فیحکم فیه غالب الرای واکبر الظن.(بدائع الصنائع ج۱ص۳۰۳)

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله:(مالم یتفسخ)ای تتفرق اعضاؤه فان تفسخ لا یصلی علیه مطلقا لانها شرعت علی البدن ولا وجود له مع التفسخ.(حاشیة الطحطاوی علی المراقی ص۳۲۳)

وقال فی الهندیة: ولو کان المیت متفسخا یتعذر مسحه کفی صب الماء علیه کذا فی التتارخانیة ناقلا عن العتابیة.(عالمگیریة ج۱ص۱۵۸) وللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم ۱۷ ذی الحجہ ۱۴۱۲ ھجری

د لیونی د جنازې د مونځ دعا

سوال په بالغ مجنون باندې به کومه یوه دعاء لوستلې شي؟ که د ماشوم دعا پرې ولوستلې شي لکه چې د ردالمحتار د عبارت نه معلومیږي. نو د فتاوی رشیدیه. ص ۳۵۴ د هغه عبارت به څه جواب وي؟ «د مجنون د جنازې د مونځ دعا بې د څه زیاتي نه د صحت مند سړی د جنازې د مونځ په شان ده.لږ شان فرق هم په کښې نشته هم هغه د معمول په شان دعاګاني دي او د مونځ حکم ئې هم یو شان دي»

د دې نه علاوه که د بالغ دعا ولوستلې شي نو په دې کښې استغفار دې او د مجنون د پاره د استغفار څه مطلب شو؟ حال دا چې مجنون مرفوع القلم وي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کوم سړې چې د لیونتوب په حالت کښې بالغ شوې وی او لیونتوب ئې مستوعب وی یعنی چرته هم نوی روغ شوې. هغه د ماشوم په شان غیر مکلف دې.د دې و دې نه به په هغه باندې د ماشوم دعا لوستلې شي.او که د بالغیدو نه پس لیونې شوې وی یا کله کله ورته د لیونتوب نه روغ والې هم راځی نو په هغه باندې به د بالغ دعا لوستې شي.لیونی اکثر همداسې وی چې د بلوغ نه پس لیونې شوې وی یا کله کله روغیږی هم نو د دې وجې نه د فتاوی رشیدیې صورت هم د دې په حقله دې

قال العلامة الحصکفی رحمه الله:ولا یستغفر لصبی و مجنون و معتوه لعدم تکلیفهم بل یقول بعد دعاء البالغین:اللهم اجعله لنا فرطا.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله:(قوله:ولا مجنون و معتوه)هذا فی الاصلی لان الجنون والعته الطارئین بعد البلوغ لا یسقطان الذنوب السالفة کما فی شرح المنیة.(قوله:بعد دعاء البالغین)کذا فی بعض نسخ الدرر وفی بعضها:بدل

دعاء البالغین، هو کتب العلامة نوح علی نسخة بعد انها مخالفة لما فی الکتب المشهورة ومخالفة لقوله: ولا یستغفر لصبی ولهذا قال بعضهم: انها تصحیف من بدل اه وقال الشیخ اسماعیل بعدہ کلام: والحاصل ان مقتضی متون المذهب والفتاوی وصریح غرر الاذکار الاقتصار فی الطفل علی اللهم اجعله لنا فرطا الخ اه

قلت: وحاصله انه لا یأتی بشیء من دعاء البالغین اصلا بل یقتصر علی ما ذکر وقد نقل فی الحلیة عن البدائع والمحیط وشرح الجامع لقاضیخان ما هو کالصریح فی ذلک فراجعه وبه علم ان ما فی شرح المنیة من انه یأتی بذلک الدعاء بعد قوله (ومن توفیته منا فتوفه علی الایمان) مبنی علی نسخة بعد من الدرر فتدبر. (ردالمحتار ج۱ ص۲۳۸)

وقال العلامة الحلبی رحمه الله تعالی: والمجنون کالطفل ذکره فی المحیط وینبغی ان یقید بالجنون الاصلی لانه لم یکلف فلا ذنب له کالصبی بخلاف العارض فانه قد کلف وعروض الجنون لا یمحو ما قبله بل هو کسائر الامراض ورفعه للتکلیف انما هو فیما یأتی لا فیما مضی. (حلبی کبیر ص۵۸۸)

قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: (قوله: ولا یستغفر لصبی ولا لمجنون ویقول اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا اجرا وذخرا واجعله لنا شافعا ومشفعا)

کذا ورد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ولانه لا ذنب لهما. (البحر الرائق ج۲ ص۱۸۳) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۵ محرم ۱٤۱۵ هجری

په جمات کښې د جنازې د مونځ حکم

سوال د فقهې په عامو کتابونو کښې لیکلې شوی دی چې په جمات کښې د جنازې مونځ کول مکروه تحریمی دی، که مړې د جمات نه بهر کیښودې شی نو هم کراهیت تحریمی دې. په جنتی کالی کښې هم داسې لیکلې شوی دی. لیکن نن صبا دا عامه خبره ده چې د جمات نه بهر د محراب مخې ته دوکانچه جوړه کړې شی. مړې هم په هغې باندې کیښودې شی او مونځ کوونکی په جمات کښې دننه وی. دا خبره د فقهې د کتابونونه خلاف ده. د دې وضاحت وکړئ ستاسو به ډیره مهربانی وی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په جمات کښې د جنازې د مونځ کولو په حقله خلور قولونه دی

۱ په هر حال کښې مکروه تحریمی ده. برابره خبره ده که مړې د جمات نه بهر وی او که دننه

۲ د مکروه تحریمی نه کم او د مکروه تنزیهی نه زیاته ده. د دوارو ترمینځه یوه مستقله مرتبه ده چې ورته اساءة ویلې شی

۳ چې جنازه د جمات نه بهر وی نو د جنازې د مونځ په جمات کښې کولو کښې څه کراهیت نشته

۴ جنازه په جمات کښې دننه وی او که بهر په هر حال کښې مکروه تنزیهی ده

... ... په لحاظ ... د **کراهت تنزیهي** قول ... صحیح دی **(عل انه اوسط و اعدل و اوفق بالروایة المطلقة)** که څوک جنازه د جماعت نه بهر ... د دې قول په ... په کښې ... وسعت هم ...

... دې نه علاوه فقهاء کرامو ... دی چې د جماعت جوړولو په وخت کښې که د جماعت جوړولو د جنازې د مونځ د ... ... دې وکړی شو په دې جماعت کښې چې د کراهت د جنازې مونځ روا دې او ... هم په حکم د ... کښې دې

د دې قول په وجه لږ نور وسعت هم په کښې راځي

سره د دې نه بغير د سخت ضرورت نه د لاندینو مفاسدو له کبله چې خومره کیدي شي د دې نه دې ځان وساتلې شي

۱ - ډیر فقهاء کرام د مطلق کراهیت تحریمی قائل دی. د کراهیت تنزیهیه د قول په شان د کراهیت تحریمی د قول هم تصحیح شوي ده. لهذا احتیاط هم په دې کښې دې چې د دې نه چې خومره کیدې شي ځان باید وساتلې شي

۲ - په مکروه تنزیهی باندې د دوام او استمرار له کبله دا هم مکروه تحریمی ته نزدې شي

۳ - د کراهیت تنزیهیه وینا کوونکی هم په دې باندې متفق دی چې په جمات کښې د جنازې د مونځ په کولو سره اګرچې واجب خو ادا شي لیکن ثواب پرې نه تر لاسه کیږی. رسول الله ﷺ خبرداري ورکړې دې چې په جمات کښې د جنازې مونځ کوونکی د ثواب نه محرومه ساتلې شي

د دومره لوئي اجر نه محرومه کیدل څومره لویه د نقصان خبره ده

د ذکر شوو وجوهو له کبله په هر لحاظ سره احتیاط هم په دې کښې دې چې بغیر د سخت ضرورت نه دې په جمات کښې د دې مونځ کولو نه ځان وساتلې شي. رسول الله ﷺ د جمات نه ځان له یو مستقله جنازګاه متعینه کړې وه. او د جنازې د مونځ ئې همدغې جنازګاه کښې د ادا کولو د همیشه همیشه معمول وو. په جمات کښې یې کله چیرته په ژوند کښې یو ځل یا دوه ځل د جنازې مونځ کړې دې. د دې وجې نه فقهاء کرامو ﷺ دا په عذر باندې حمل کړې دې

نن صبا په عامه توګه چې عوام او خواص په جمات کښې د دې مونځ د کولو کوم سخت ضرورت نشته هغه په حقیقت کښې د دوی غفلت او بې لوئ بدعت کښې د اخته کیدو نتیجه ده.

شرعی حکم خو دا دې چې څنګه جنازه تیاره شي نو د مخې سره بې د څه وخت د ضائع کولو نه دې بهر مونځ وکړې شي او مړې دې ښخ کړې شي. تر دې چې د مکروه او د حرمو وختونو دې هم لحاظ ونه ساتلې شي. لیکن عوامو او خواصو د جنازې مونځ د فرضو مونځونو سره بې وسته کړې دې د کومې له کبله چې د جنازې جمات ته د راوړو ضرورت را پیښیږی

د دې ... ... په دوو ... ... دې

۱ ـ د ولي د زياتولو د فكر له كبله
۲ ـ خود غرضي.د آخرت نه بې پروا كيدل.او د دنيا هوس او خواهش
مطلب دا چې راشه او د فرض مونځ سره ترې خان خلاص كړه يعنى په يو غشي دوه ښكاره، وخت هم بچ شو او يواځې د جنازې دمونځ د پاره د اودس كولو نه او چرته بل ځائ ته د تللو د تكليف نه هم بچ شو. دا ښه د مړي حق ادا كول دي چې خپلې آسانتيا او آرام له د مړي په فائدې او آرام باندې بلكه مړي لره د تكليف د رسيدو نه په بچ كولو باندې ترجيح وركوي. د خان د پاره هم د دنيا د فائدې د پاره د آخرت نقصان كوي. د الله تعالى حكم او د مړي فائده او آرام لره په خپل خواهش. خود غرضئ او د دنيا په حرص باندې قربانوي.د مرگ په خپلو سترگو د مشاهدې باوجود د آخرت په فكر باندې يې د دنيا فكر غالب دې.

كه د شريعت د حكم مطابق د مړي په تياريدو سره د جنازې هتمام اوكړې شي نو په خپله د مړي د كور مخې ته يا په يو بل ميدان كښې د جنازې د مونځ په ښه طريقې سره انتظام كيدې شي،په دې صورت كښې به يواځې دا نه چې د جنازې د مونځ په جمات كښې د كيدلو د گناه نه به بچ شي بلكه د دې سره سره د جنازې په مونځ كښې د وروستوالى د گناه نه به نې هم حفاظت وشي.

غرض د خبرې دا چې اول خو دا بدعت له سره ختمول فرض دى،د ولې د زياتولو په ځائ دې دا اهم عبادت د شرعې د حكم مطابق ادا كړې شى، د شرعې د حكم مطابق دې يو څو كسان وكړى، دا په خپله د مړى د پاره د مړى د اهل دپاره او د نورو مسلمانانو د پاره د دې نه په څو چنده ښه خبره ده چې د ولې د زياتولو د پاره دې د شريعت نه خلاف كار وكړى او د خان د پاره او د مړى د پاره د قبر په سوال او جواب كښې نور هم گرانى پيدا كړى.

كه چيرې خلق د دې بدعت اصلاح نه كوى نو د جمات د جوړولو په وخت كښې دې د جمات نه بهر دجمات په حدودو كښې يو مستقل ځائ جوړ كړې شى.

كه د جمات په حدودو كښې د دې د پاره مستقل ځائ نه وى جوړ كړې شوې نو بيا بهر په عامه لاره دې دا مونځ د جنازې وكړې شى

دا خيال په كښې صحيح نه دې چې د لارې د بنديدو له كبله به تلونكو ته تكليف وى.ځكه چې دا مشاهده ده چې د جنازې په وخت كښې په لاره تيريدونكى د جنازې له كبله دغه تكليف نه دا چې په خندا او په خوشحالئ قبلوى بلكه عبرت هم ترې نه اخلى

خلق د رنگ رنگ ناروا كارونو د پاره پوره پوره شپه او ورځ بلكه كله كله د دې نه هم زيات وخت پورې لاره بند ساتى،په هغې باندې څوک دا اعتراض نه كوى چې لاره تيريدونكو ته به تكلف وى. ليكن د جنازې د پاره چې يو څو دقيقې سرک بند شى په دې باندې د خلقو په زړونو كښې اشكالات پيدا كيږى

حاصل د خبري دا چي د بدعاتو او د گناهونو نه به دي ډک دوزخ ... که چيرته د جنازې د مونځ په جماعت کښې په کولو باندي څوک ضد کوی نو د دي مونځ له د دې مونخونو سره د سوخانی کونو به عمل پکښې شامليدلېشی .د دي په خاطر د جنازې په مونځ کښې ورو ستو والې کول. د جنازې د مونځ په حقله د الله او د رسول الله ﷺ د صريحې حکم د ښکاره بغاوت کولو .او د رسول الله ﷺ د هميشه د جنازې د مونځ د جمات نه د بهر کولو کوم سنت متواتره چي د دي د مخالفت کولو .او په دې باندي د ضد او د هميش هميش د پاره د دي دکولو گناهونه به د مرى په اولياؤ او د جمات په منتظمينو باندې وی

حرمين شريفين

د حرمينو شريفينو د عالمانو عمل د هغوی په خپل مذهب باندي بناء دي.د هغوى په نيزد به جمات کښې د جنازې مونځ بې د کراهيته روا دي. په دي کښې نور حضرات هم د دي عذر په بنا شريکيدې شی د کومې تفصيل چې پورته وليکلې شو

خينى فقهاؤ مسجد حرام د دي نه مستثنی گرخولې دي :

قال الملا على القارى رحمه الله :و اما المسجد الحرام فمستثنى كما صرح به ابن الضياء اذ هو موضوع لاداء المكتوبات و الجمعة و العيدين و صلاة الكسوف و الخسوف و صلاة الجنازة و الاستسقاء و لعله بهذا المعنى جمع فى قوله تعالى (انما يعمر مسجد الله) او لكبيرة وسعة قدرة الخ (شرح النقاية ج ۱ ص ۱۲۳) والله سبحانه وتعالى اعلم وهو الموفق لكل خير والعاصم من فتن المبدع.

غرة صفر ۱۴۱۵ هجری.

په قبر کښې خوشبو شيندل

سوال په قبر کښې خوشبوئى شيندل څنگه دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مستحب دی

قال العلامة الطحطاوى رحمه الله :(قوله:و يجعل الحنوط) استحبابا و كذا يوضع فى القبر لانه عليه السلام فعل ذلك بابنه ابراهيم. ابو السعود عن الحموى (حاشية الطحطاوى على الدر ج ۱ ص ۳۸۰) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۱ صفر ۱۴۱۶ هجری

په خورو ورو اندامونو باندي جنازه کول

سوال په څه حدونه کښې د مړو سوو خلقو په خوړو ورو ټکي شنډلو شوو اندامونو باندي د جنازې مونځ کول روا دي او که نه روا ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که د شمې نښې نه زيات جسد وی برابره خبره ده که سر ورسره وی او که نه وی ـ سمه نه د سر سره وموندې شی نو په دې باندې به د جنازې مونځ کولی شی او که د سمې نښې نه کمه وی نو په دې باندې به د جنازې مونځ نه شی کولی. لهذا په خورو ورو اندامونو باندې د جنازې مونځ کول روا نه دی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وجد راس آدمی او احد شقیه لا یغسل ولا یصلی علیه بل یدفن الا ان یوجد اکثر من نصفه ولو بلا راس

وقال ابن عابدین رحمه الله: (قوله: ولو بلا راس) وکذا یغسل لو وجد النصف مع الراس بحر.(ردالمحتار ج ص) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲ ربیع الاول ۱۴۱۶ هجری

د امام الحی (دمحلې امام) جنازې ته د نه وړاندې کولو مفاسد

سوال د جنازې په مونځ کښې کله کله ډیر عالمان حضرات جمع شی. په داسې وخت کښې د مړی وارثان چې چا لره مناسب گنی هغه د جنازې دمونځ د پاره وړاندې کړی. کوشش نې دا وی چې کوم په کښې لوئ عالم وی هغه وړاندې کړی. او د کندی خپل امام موجود وی. او بل دا چې په وارثانو کښې د امامت اهل کسان خپله هم موجود وی. په دې کښې صحیح ترتیب څه دې؟ چا لره کله مقدم کول پکار دی. په تفصیل سره راته بیان وکړئ دې د پاره چې د صحیح مسئلې مطابق عمل وکړی شی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب اصل ترتیب دا دې چې که د جنازې د مونځ په وخت کښې خلیفة المسلمین مسلمان حاکم او شرعي ته برابر حکمران موجود وی نو امامت د هغه حق دې. او که نه نو د هغه نائب یا قاضی وغیره څوک د ښه عهدې یو اهل سړې دې د جنازې مونځ پرې وکړی (الدرالمختار وردالمحتار ج ص ـ وبدائع الصنائع ج ص)

که په ذکر کړې شوو خلقو کښې څو هم موجود نه وو. نو اوس په کښې درې قسمه خلق پاتې شول. د مړی وارث، امام الحی، او نور د علم او د فضل خاوندان. نو د ولی یا د امام الحی په موجودګئ کښې د نور ټول صاحب فضل او علم د جنازې مونځ ته په وړاندې والی کښې څه نصیب نشته. او د ولی په مقابله کښې امام الحی وړاندې کول افضل دی. خو فقهاء کرامو رحمهم الله د امام الحی د ولی نه په وړاندې کیدو کښې فضیلت به دی شرط سره لیکلې دې چې امام الحی د ولی نه علم او فضل کښې وړاندې وی

کما فی البحر ج ص: وفی شرح المجمع انما یستحب تقدیم امام مسجد حیه علی الولی اذا کان افضل من الولی ذکره فی الفتاوی وهو قید حسن

لیکن اکثرو فقهاء کرامو ﷭ دا قید لغوي ذکر کړي او راجح همدا معلومیږي چې مطلقاً امام الحی لره وړاندي کول افضل دي. چې دلیل ئې دا دي چې هر کله حضرت عمر ﷛ شهید شو نو د حضرت عثمان ﷛ او د حضرت علی ﷛ په شان د علم او د فضل خاوندان موجود وو او دغه شان د حضرت عمر ﷛ د اولیاء په موجودګئ کښي د هغوی جنازه حضرت صهیب ﷛ وکړه چې د حضرت عمر ﷛ له اړخه د جماعت امام وو

كما في اعلاء السنن عن هشام بن عروة عن ابيه قال: لما قتل عمر ابتدر علي و عثمان للصلاة عليه فقال لهما صهيب: اليكما عني فقد وليت من امر كما اكثر من الصلاة على عمر و انا اصلي بكم المكتوبة فصلى عليه صهيب اخرجه الحاكم في المستدرك و سكت عليه. (ج٨ص٢٣)

د دي حدیث د لاندي شیخ الاسلام حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی ﷫ فرمائی چې د حضرت صهیب ﷛ د دي حدیث نه معلومیږی چې لکه د صحابهٔ کرامو ﷛ په دي باندي اجماع وشوه چې امام الحی لره وړاندي کول افضل دي. **وهذا نصه:**

واما تقديم امام الحي على غير الوالي فقد ثبت باثر صهيب والرد عليه الخليفتان علي و عثمان ولم ينكرا عليه ولا احد من الصحابة الذين حضروا الصلاة على سيدنا عمر ﷛ عليه وهم لا يحصى عددهم فكان كالاجماع منهم على ان امام المكتوبة اولى بالصلاة على الميت من غيره من الاولياء و اولى الفضل اذا لم يحضر الوالي والله تعالى اعلم و به قال النخعي...... و علق البخاري عن الحسن قال: ادركت الناس واحقهم على جنائزهم من رضوه لفرائضهم. (اعلاء السنن ج٨ص٢٣)

په خاص توګه زمونږ په زمانه کښي د امام الحی د وړاندي کولو اهمیت نور هم زیات شوي دي. ځکه چې په دا سي نه کولو سره دا مفاسد راپیدا کیږی.

۱- په دي مسئله کښي جهالت عام دي. عالمان هم د دي نه ډیر کم خبر دی. که څوک د دي بوهي نه پس چې افضل دي په علم کښي اوکه ندي نو بیا هم دوی امام الحی نه وړاندي کوی نو جهالت به ئې ورځ په ورځ زیاتیږی. لهذا د دي مسئلي د خورولو د پاره د امام الحی وړاندي کول بکار دی

۲- په عامه توګه کوم خلق چې امام الحی نه وړاندي کوی او په هغې باندي د جنازې مونځ نه کوی نو د هغوی په زړه کښي په څه نا څه درجه کښي د امام الحی سپکاوي موجود وی نو دا سو دیرلوئې فساد دي

۳- په بولوئي یا مشهور عالم باندي د جنازې د مونځ په کولو کښي ځیني وخت کښي تفاخر وی. او دا چې بعضي وخت کښي د جنازې د پاره د مړی د تیاریدو باوجود د بو مشهور صاحب په

انتظار کښې په جنازه کښې وروستو والې کولې شی.او حال دا چې په شریعت کښې د تعجیل یعنې په تندئ دکولو حکم دې.**واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم.** یکم ذی الحجه ۱٤۱۸ هجری

د جنازې د اوچتولو مسنونه طریقه

سوال د مړی د کټ د اوچتولو او قبرستان ته د وړولو مسنونه طریقه څه ده؟ زمونږ په علاقه کښې چې کله د مړی کټ اوچت کړې شی نو مولوی صاحب د مړی د هرې یوې خپې د نیولو او اوچتولو نه پس لس لس قدمه شماری.هر کله چې څلویښت قدمه پوره شی نو بیا بس کړی. د دې نه پس د جنازې مونځ ادا کولې شی، ددې خبرې شرعا څه حکم دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د جنازې د اوچتولو مسنونه طریقه داده چې کم نه کم څلور کسان به د کټ ښپې ونیسی او په اوږه به ئې کیدی.د څلویښتو قدمونو د تلو فضیلت هم راغلې دې.بیا دې نور څلور کسان جنازه اوچته کړی او څلویښت قدمونه دې لاړ شی.او همدا طریقه دې د قبر پورې جاری وی

د څلویښتو قدمونو پورې د تلو ښه طریقه دا ده.چې هره یو ښپه دې د لسو لسو قدمونو پورې په دې طریقه اوچتوی چې ړومبې دې د وړاندې اړخ ښئ ښپه اوچته کړی بیا دې د وروستو لنګې اړخ ته ښئ خپه اوچته کړی بیا دې د وړاندی اړخ چپه ښپه او بیا دې د وروستو د لنګې د اړخ چپه ښپه اوچته کړی

قدمونه دې په خپله شماری او د دې د پاره سرسری شمیره هم کافی کیږی.که چیرې څه قدمونه په کښې زیات شی نو هیڅ خیره ده۔

عن عبد اللہ بن مسعود رضی اللہ عنہ قال:ان من السنة حمل الجنازة بجوانب السریر الاربعة،فما زدت علی ذلك فهو نافلة.قال محمد:وبه ناخذ،یبدأ الرجل فیضع یمین المیت المقدم علی یمینه ثم یضع یمین المیت المؤخر علی یمینه ثم یعود الی المقدم الایسر فیضعه علی یساره ثم یاتی المؤخر الایسر فیضعه علی یساره،وهذا قول ابی حنیفة رحمہ اللہ.(کتاب الاثار ص۸۰)

فی الدر المختار:واذا حمل الجنازة وضع مقدمها......علی یمینه عشر خطوات لحدیث(من حمل جنازة اربعین خطوة کفرت عنه اربعین کبیرة)ثم وضع مؤخرها علی یمینه کذلك،ثم مقدمها علی یساره ثم مؤخرها کذلك۔۔۔ قال العلامة ابن عابدین رحمہ اللہ:وفی شرح المنیة:ویستحب ان یحملها من کل جانب اربعین خطوة للحدیث المذکور،رواه ابوبکر النجار.(ردالمحتار ج۱،ص۶۳۰)

وفی الهندیة:ثم ان فی حمل الجنازة شیئین:نفس السنة و کمالها،اما نفس السنة فهی ان تاخذ بقوائمها

الاربع على سبيل التعاقب بان تحمل من كل جانب عشر خطوات وهذا يتحقق في حق الجمع واما كمال السنة فلا يتحقق الا في واحد وهو ان يبدا الحامل بحمل يمين مقدم الجنازة كذا في التتارخانية فيحمله على عاتقه الايمن ثم المؤخر الايمن على عاتقه الايمن ثم المقدم الايسر على عاتقه الايسر ثم المؤخر الايسر على عاتقه الايسر هكذا في التبيين. (عالمكيرية ج،ص ١٦٢) والله سبحانه وتعالى اعلم ٤ ذى القعدة ١٤١٩ هجرى

د جُمعې په ورځ د ګناه ګار نه د قبر د عذاب د پورته کېدلو تحقيق

سوال ما ته د شامي د عبارت په حقله يو لږ شان اشکال دې. اطمينان راوستلو د پاره ئې ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم **العاصي يعذب و يضغط لكن ينقطع عنه العذاب يوم الجمعة وليلتها ثم لا يعود.(ردالمحتار ج،ص ١٠٠ باب الجمعة)**

په احسن الفتاوى کښې هم د دې عبارت مطابق فتوى ليکلې شوې ده. دفتوې عبارت دا دې (په ګنهګار مؤمن باندې چې کله د جمعې شپه يا روژه راشي نو د هغه نه تر قيامته پورې عذاب اوچت کړې شي (احسن الفتاوى ج،ص ٢٠٠)

تاسو ته دا درخواست دې چې علامه ابن عابدين رحمه الله (ثم لا يعود) د علامه ابو المعين نسفى رحمه الله نه نقل کړې دى. د علامه نسفى قول ئې په (نبراس) کښې نقل کړې دې او په دې باندې ئې تبصره کړې ده چې د دې څه دليل پکار دې. حال دا دې چې د دليل نه د دې خلاف خبره ثابته ده په هغې کښې داسې دى

قال النسفى في بحر الكلام: المؤمن العاصى يعذب في قبره لكن ينقطع عنه يوم الجمعة وليلتها ثم لا يعود اليه الى يوم القيمة انتهى وقال السيوطى: هذا يحتاج الى دليل. قلت: السيوطى اعرف من النسفى بالاحاديث والاثار وفي الحديث ان النبى ﷺ سال جبرائيل وميكائيل في الرؤيا عن رجل يدق راسه بحجر فقالا: انه الرجل ياخذ القرآن فيرفضه وينام عن الصلوة المكتوبة يفعل به هذا الى يوم القيامة. (النبراس ص ٢٠٠)

دا حديث په بخارى ج ١ ص ١٥٨ کښې موجود دې زما د ناقص فهم مطابق (ثم لا يعود) بې دليل نقلى يا معتبر ... دى پکار. او په خاص توګه دا چې کله د دې خلاف صريح دليل موجود وى جناب عالى د دې په دې غور وکړى او ما عاجز ته په دې خبر کړى چې صحيح تحقيق په دې حقله څه دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د دې په حقله نورې پوښتنې هم راغلې دى. لهذا چې د دې پوره تحقيق وکړې شو نو ... خبره ښکاره شوه چې د نبراس تحقيق صحيح دې. په رومبى جواب باندې زه د

یومیٔ ورځې نه مطمئن نه ووم. ملا علی القاری رحمه الله د ابو المعین نسفی رحمه الله قول لره پي دلیله گرځولي دي ونصه: واما ما قاله الشیخ ابو المعین فی اصوله علی ما نقله عنه القونوی من ان عذاب القبر حق سواء کان (مؤمنا ام کافرا ام مطیعا ام فاسقا): ولکن اذا کان کافرا فعذابه یدوم الی یوم القیامة ویرفع عنه العذاب یوم الجمعة وشهر رمضان بحرمة النبی ﷺ (الی قوله): ففیه بحث لانه یحتاج الی نقل صحیح او دلیل صریح.

او بیا فرمائي الکلام حول بعض الاحادیث الواردة فی هذا الموضوع وقال القونوی: وان کان عاصیا یکون له العذاب وضغطة القبر لکن ینقطع عنه عذاب القبر یوم الجمعة ولیلة الجمعة ولا یعود العذاب الی یوم القیامة وان مات یوم الجمعة او لیلة الجمعة یکون له العذاب ساعة واحدة وضغطة القبر ثم ینقطع عنه العذاب ولا یعود الی یوم القیامة انتهی.

فلا یخفی ان المعتبر فی العقائد هو الادلة الیقینیة واحادیث الاحاد لو ثبتت انما تکون ظنیة اللهم الا اذا تعدد طرقه بحیث صار متواترا معنویا فحینئذ یکون قطعیا نعم ثبت فی الجملة ان من مات یوم الجمعة او لیلة الجمعة یرفع العذاب عنه الا انه لا یعود الیه الی یوم القیامة فلا اعرف له اصلا.

وکذا رفع العذاب یوم الجمعة ولیلتها مطلقا عن کل عاص ثم لا یعود الی یوم القیامة فانه باطل قطعا. (شرح الفقه الاکبر: ص۱۰۰،۱۰۱)

وقال ابن القیم رحمه الله: انه (عذاب القبر) نوعان نوع دائم سوی ما ورد فی بعض الاحادیث انه یخفف عنهم ما بین النفختین فاذا قاموا من قبورهم قالوا (یاویلنا من بعثنا من مرقدنا) ویدل علی دوامه قوله تعالی (النار یعرضون علیها غدوا وعشیا) ویدل علیه ایضا ما تقدم فی حدیث سمرة رضی الله عنه الذی رواه البخاری فی رؤیا النبی ﷺ وفیه: (فهو یفعل به ذلك الی یوم القیامة).

وفی حدیث ابن عباس رضی الله عنه فی قصة الجریدتین: (لعله یخفف عنهما ما لم تیبسا) فجعل التخفیف مقیدا برطوبتهما فقط وفی حدیث الربیع بن انس عن ابی العالیة عن ابی هریرة رضی الله عنه (ثم اتی علی قوم ترضخ رؤوسهم بالصخر، کلما رضخت عادت لا یفتر عنهم من ذلك شیء) وقد تقدم وفی الصحیح فی قصة الذی لبس بردین وجعل یمشی یتبختر فخسف الله به الارض: فهو یتجلجل فیها الی یوم القیامة.

وفی حدیث البراء بن عازب رضی الله عنه فی قصة الکافر: (ثم یفتح له باب الی النار فینظر الی مقعده فیها حتی تقوم الساعة). رواه الامام احمد وفی بعض طرقه: (ثم یخرق له خرقا الی النار فیاتیه من غمها ودخانها الی یوم القیامة). النوع الثانی الی مدة ثم ینقطع وهو عذاب بعض العصاة الذین خفت جرائمهم فیعذب بحسب جرمه ثم یخفف عنه، کما یعذب فی النار مدة ثم تزول عنه العذاب.

وقد ینقطع عنه العذاب بدعاء او صدقة او استغفار او ثواب حج او قراءة تصل الیه من بعض اقاربه او غیرهم الخ. (کتاب الروح: ص۱۰۰). والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۶ صفر ۱۴۲۲ هجری

كتاب الزكوة

فقير ته د نصاب د قدر نه زيات زكوة وركول

سوال : يو فقير ته په يو وخت كښې څومره اندازه د زكوة وركولې شي؟ د فقهاء كرامو په دې كښې خلاف دې

فقال ابراهيم النخعي: لو كنت انا كان ان اغني بها اهل بيت من المسلمين احب الي (كتاب الآثار للامام محمد: ص ٣) . وقال الحسن البصري: كانوا (الصحابة) يعطون الزكوة لمن يملك عشرة آلاف درهم الخ (بدائع الصنائع ج: ص ٣٠) . وقال محمد رحمه الله: وان يغني به انسانا احب الي (الجامع الصغير: ص ٣ طبع ادارة القرآن)

وقال السيد السابق في فقه السنة في مبحث الزكوة ما حاصله: ينبغي ان يغني به السائل ثم ذكر حديث قبيصة ﷺ حيث قال: اغنوهم بالصدقة.

وذكر العلامة وهبة الزحيلي مذهب الائمة في ذلك ما حاصله ان الحنابلة والشافعية قالوا: لا بأس باعطاء مال كثير الى الفقير كي يتجر فيها وقال الامام مالك: لا بأس باعطاء مال ما يكفي لسنة.

او د احنافو مذهب د دې په خلاف دې

قال العلامة ابن عابدين وكره اعطاء فقير نصابا او اكثر. (ردالمحتار: ج: ص ٣) وكذا قال العلامة الكاساني في بدائع الصنائع ج: ص ٣) وكذا في فتح القدير ج: ص ٣)

ليكن احنافو د دوو حالتونو استثناء كړې ده. يو دا چې فقير قرض دار وي. او دويم دا چې فقير د دومره لويې كورنئ مشر وي چې كه په دوى باندې دا تقسيم هم كړى نو هر يو ته د نصاب په اندازه حصه نه رسيږي

نو اوس د دې لاندې خبرو حل كول مطلوب دې

۱- ماسو په حسن الفتاوى اردو ج ۴. ص ۳۰۳ كښې ليكلې دي چې د نصاب نه مراد هغه نصاب دې چې هغه مانع عن اخذ الزكوة وي نو آيا په دې نصاب كښې د اصلي حوائجو نه چې كوم مال زيات وي هغې ته اعتبار دې او كه صرف د فقير صاحب د نصاب گرځيدلو ته. برابره خبره ده كه د حاجات اصليه نه زيات وي او كه نه؟

۲- ځنې د نصاب نه زيات وركول دومره چې څومره مكروه دې نو دا كراهيت د زكوة وركوونكي د پاره دې او كه د فقير د پاره اخستل مكروه دي؟

۳- ابراهيم نخعي رحمه الله، حسن بصري رحمه الله او د امام محمد رحمه الله د اقوالو د حنفي فقهي د كتبو د عبارت سره تعارض معلوميږي. د دې د تطبيق به څه صورت وي؟

۴: د نصاب مقدار ورکول چې کوم مکروه دی نو دا دې په کراهت د قرآن او د حدیث نه څه دلیل شته که نه صرف اجتهادي کراهت دی؟

۵: د کراهت تحریمي دی او که تنزیهي دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ۱: د حوائجو اصلیه نه زیاتیدلو له په کښې اعتبار نشته صرف صاحب د نصاب کیدل کافي دی

۲: کراهت د زکوة ورکوونکي په حق کښې دی لکه چې د (وکره الاغناء) نه ظاهره ده. **لان الاغناء صیغة مصدر من باب الافعال معناه جعل الفقیر غنیا.**

۳: په قولونو کښې څه تعارض نشته. د اغناء نه اغناء عن السؤال مراد ده. دا نه چې چا لره مالک د نصاب سره غني جوړ کړې شي

کما قال في التتارخانیه: قال في الجامع الصغیر: ولا بأس بأن یعطي اقل من المائتین وان یغني بها انسانا واحدا احب الي من ان یفرقها. ثم لم یرد بقوله: وان یغني بها انسانا الغنی المطلق وانما اراد به الغنی عن السؤال. (التاتارخانیه ج ص)

وکما قال العلامة محمود البابرتي رحمه الله: (وان تغني بها انسانا احب الي) هذا خطاب ابي حنیفة لابي یوسف رحمهما الله وانما صار هذا احب لان فیه صیانة المسلم عن ذل السؤال مع اداء الزکاة لقولهم قالوا: من اراد ان یتصدق بدرهم فاشتری به فلوسا ففرقه فقد قصر في امر الصدقة ومعناه الاغناء عن السؤال في یومه لا ان یملکه نصابا لان الاغناء مطلقا مکروه (العنایة بهامش فتح القدیر ج ص)

۴: د دې نه کراهت تنزیهي معلومیږي

کما هو ظاهر من اعتبار الفقهاء رحمهم الله بقولهم: کمن صلی ویقربه نجاسة فان الکراهة في المقیس علیه اعني الصلاة بقرب النجاسة تنزیهیة. کما قال الامام محمد رحمه الله في کتاب الاصل المعروف بالمبسوط: قلت ارایت الرجل یصلي وقدامه العذرة او البول او ناحیة معه هل یفسد ذلک صلاته قال: لا قلت: فان کان ناحیة من مقامه وعن موضع سجوده قال: لا یضره ذلک ولکنه احب الي ان یتنحی عن ذلک المکان (کتاب الاصل ج ص)

قال العلامة الحافظ ابن حجر رحمه الله: واشار بذلک الی الرد علی من کره ان یدفع الی شخص واحد قدر النصاب وهو محکي عن ابي حنیفة وقال محمد بن الحسن رحمه الله: لا باس به الخ. (فتح الباري ج ص)

او دا چې یوه قاعده ده چې د مطلق کراهت نه به کراهیت تحریمي مراد وي دا هم څه قاعده کلیه نه ده. بلکه علامه ابن عابدین رحمه الله د دې خبرې تصریح کړې ده چې فقهاء کرام رحمهم الله د مطلق

کراهت لفظ د کراهت تنزیهی د پاره هم استعمالوی.د دې وجې نه چې کله د مطلق کراهت لفظ استعمال شی نو د دې کراهت په دلیل باندې په غور کولې شی.که چیرې د دې دا دلیل خه نص وی خو ظنی وی نو د دې نه به بیا کراهتِ تحریمی مراد وی.او که چیرې د منع کولو داسې خه دلیل وغیره موجود نه وی بلکه پرېښودل د مفید وی او خلاف اولی وی نو بیا ترې نه کراهت تنزیهی مراد دې

كما قال ابن عابدين رحمه الله: وفي البحر من مكروهات الصلاة: المكروه في هذا الباب نوعان: احدهما ما كره تحريما وهو المحمل عند اطلاقهم الكراهة كما في زكوة فتح القدير وذكر انه في رتبة الواجب لا يثبت الا بما يثبت به الواجب يعني بالظني الثبوت، ثانيهما المكروه تنزيها ومرجعه الى ما تركه اولى وكثيرا ما يطلقونه كما في شرح المنية، فحينئذ اذا ذكروا مكروها فلا بد من النظر في دليله فان كان نهيا ظنيا يحكم بكراهة التحريم الا لصارف للنهي عن التحريم الى الندب فان لم يكن الدليل نهيا بل كان مفيدا للترك الغير الجازم فهي تنزيهية اهـ. (ردالمحتار ج۱ ص۳)

۵ - دا کراهیتِ اجتهادی دې.ځکه چې په دې کښې د دین داماماتو اختلاف دې لکه چې په خپله په سوال کښې هم دا خبره ذکر ده.او لکه څنګه چې امام الحافظ الحجة ابو عبیدة القاسم بن سلام رحمه الله المتوفی ۲۲۴ هجری فرمائی:

فاما مالك بن انس فلم يكن عنده في هذا حد معلوم وكان يقول: ارى على المعطي في ذلك الاجتهاد وحسن النظر. قال ابو عبيد: وقد تدبرنا الاحاديث العالية فلم نجدها تحد في ذلك بتوقيت، انما حدت السنة ما كان ملكا متقدما للمعطي من الاوقية وغيرها قبل العطية، واما اذا كان يوم يعطاها فقيرا موضعا للصدقة فانا لم نجد في الآثار دليلا على ذلك بل تدل على الفضيلة في الاكثار منها والاستحباب للملك. (كتاب الاموال ص۰۰)

دغه شان د ورکړې ظاهری نصوص هم مطلق دی.په دې کښې څه حد نشته

كما قال الامام ابوبكر الجصاص رحمه الله في احكام القرآن (ج۳ ص۳) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۹ جمادی الاخرة ۱۴۱۷ هجری

د خو کلونو د تیریدو نه پس نصاب هلاک یا مستهلک شو

سوال په نصاب باندې خو کلونه تیر شو او زکوة د دو کال هم ندې ادا کړې شوې.وروستنه بیا هلاک یا مستهلک شو.نو په دې باندې د تېرو شوو کلونو زکوة ورکول واجب دی او که نه او بیا دغه حالت کښې زکوة ورکول روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د هلاکیدو په صورت کښې نه د دې د ذمې نه د تیرو شوو کلونو

زکوة ساقط شي او د استهلاک په صورت کښې به دا زکوة د ده په ذمه فرض وي.او د دې ادا کول ضروري دي، او په دې وخت کښې که ده سره د هیڅ قسمه نصاب نه وي نو به دواړو صورتونو کښې ده ته زکوة ورکول صحیح دي

قال في التنوير وشرحه: (وسببه ملك نصاب حولي تام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد) سواء كان لله كزكاة

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله: كزكاة) فلو كان له نصاب حال عليه حولان ولم يزكه فيهما لا زكاة عليه في حول الثاني وكذا لو استهلك النصاب بعد الحول ثم استفاد نصابا آخر وحال عليه الحول لا زكاة في المستفاد لاشتغال خمسة منه بدين المستهلك اما لو هلك يزكي المستفاد لسقوط زكاة الاول بالهلاك بخبر المطالب هنا السلطان تقريراً. (الشامية ج۲،ص۳) والله سبحانه وتعالى اعلم

۸ رجب ۱٤۱۷ هجری

په پلاټینم او په سپینو زرو باندې د زکوة مسئله

